# نیمه پېړۍ یون



## څلورم ټوک

(یونلیکنې)

**محمد اسمعیل یون**

۱۳۹۶ل

---



**نیمه پېړۍ یون**

څلورم ټوک (یونلیکنې)

(څوارلس ټوکه)

**۴**

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱۴۱)

---

## په دې څوارلس ټوکیزو کلیاتو کې

**لومړی ټوک (پنځونې او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهیر (۱- ۹۶۹) مخونه.
**دویم ټوک (راټولونې):** هیلې، نیمګړې ارمانونه، د لوونو فصل، سیندونه هم مړي او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.
**درېیم ټوک (راټولونې):** د نازو انا یاد، د استاد الفت نثري کلیات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.
**څلورم ټوک (یونلیکنې):** د اماراتو سفر، که یون دی یون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملین په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.
**پنځم ټوک (یونلیکونه):** د ډیلي تخت هېرومه، درې ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.
**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساینسي پرمختیاوې، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، د کتابونو په وړمو کې (۵۳۲۰- ۶۱۳۳ )مخونه.
**اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زیانونه، مرکه او مرکې، کلتوري یون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (۶۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.
**اتم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** بېړنۍ لویه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سیاسي کړکېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.
**نهم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** که نړیوال ماته وخوري؟، نجات څلی، د زماني په کړکېچ کې، ملي هویت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰۶) مخونه.
**لسم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ویلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)

---

## یون څوک دی او څه یې کړي؟

پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې یو زړور ملي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي شخصیت دی، د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه یې د ژوند نیمه پېړۍ پوره کړه او دېرش کاله یې پخه لیکوالي وکړه. د خپلو نورو همفکره ملګرو په مرسته یې په ټولنیز ډګر کې تر (۱۰۰۰) زیات بېلابېل ګټور کارونه ترسره کړل، په سیاسي برخه کې یې د ملي تحریک بنسټ کېښود، تر (۸۰۰) بېلابېلې غونډې او تر (۵۰) زیاتې سوله ییزې مظاهرې یې وکړې. په فرهنګي ډګر کې یې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار ټولنې ته وړاندې کړل، تر (۱۲۰۰) عنوانو زیاتې لیکنې، مرکې او وېناوې یې وکړې، د درېو مجلو مدیریت یې وکړ، د نورو لیکوالو تر (۲۰۰) عنوانو زیات اثار یې ایډیټ کړل، تر (۴۰۰) عنوانو زیاتو ته یې د چاپ زمینه برابره کړه او تر (۱۱۰۰) زیاتې فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړل. د (ژوندون) په نامه یې یو رسنیز مرکز پرانیست او د (کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې یې اساسي نقش ولوباوه، د (افغانیت او اسلامیت) د ملاتړ لپاره یې زړوره مبارزه وکړه او د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په مقابل کې لکه سپر ودرېد.

اوس چې تاسې دا (۱۴) ټوکه او نړدې (۱۴) زره مخه کلیات ګورئ، دا د یوه ډېر ستړي خو هدفمن ژوند ثمره ده. دې ته کولای شو د نړۍ په کچه څکه یو ریکارډ ووایو چې زموږ په څېر په بل هېڅ بې ثباته هېواد کې داسې یوه بېلګه نه شته. زه له څلور دېرشو کلونو څخه یون له نږدې پېژنم، زما هېڅکله یاد ته نه راځي چې هغه دې کومه ژمنه او خبره وکړي او بیا دې عملي نه کړي. په تېرو دېرشو کلونو کې د هغه فکري او عملي مبارزه زموږ د دې خبرې ښه ثبوت دی. زه نه غواړم د یون پر شخصیت زیاتې خبرې وکړم، دا اثار په خپله د یون د پېژندنې تر ټولو ښه وسیله ده. یون یو څو اړخیز شخصیت دی، ډېر دردېدلی، کړېدلی، سوځېدلی، خو یو هوډمن، مصمم او هدفمن شخصیت، د فکر او نظر، د خبرې او عمل سړی دی، زه خو یې چې ګورم، نو د وزیر محمد ګل خان مومند او ستر خوشال مینه مې پرې ماتېږي. نیمه پېړۍ یون خو یې ډېر ویاړمن و، خدای دې وکړي چې دا بریمن ژوند یې پوره سلیزې ته ورسېږي.

درناوی
ډاکټر شېر ولي شېر
جرمني- کولن

**HALF CENTURY JOURNEY**

**By: Prof. Mohammad Ismael Yoon**

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱۴۱)

---

**یوولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ لسانس- ماسټرې):** د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه کتنه، خوشال په خپل ایډیال ، افغاني اوسنۍ رسنۍ (۱۰۳۵۰- ۱۰۸۲۲ )مخونه.
**دولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ دوکتورا):** کتاب الشعر، د خادم نړۍ لید (۱۰۸۲۳- ۱۲۰۵٦) مخونه.
**دیارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنیار- پوهندوی):** د پښتو شعر هندسي جوړښت، اندیال خوشال، پښتو لیکنی سمون (۱۲۰۵۷- ۱۲۵۷۱ )مخونه.
**څوارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنوال- پوهاند):** کره کتنه، ادب تاریخ (۱۲۵۷۲- ۱۳۵۹۸ )مخونه.



**منته او کوروداني**

د افغانستان ملي تحریک له قدرمن مشر او فرهنګپال شخصیت
**ښاغلي علي محمد مجبور**
څخه د زړه له کومې منته کوې چې ددې اثر د څلورم ټوک د چاپ لګښت یې پر غاړه واخیست. یو ځل بیا ورڅخه منته کوو او کور ودانۍ ورته وایو
درنښت یې په برخه شه

**د پښتۍ ډیزاین:** سپین سهار
**چاپځی:** اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

# نیمه پېږی یون

## څلورم ټوک

## (یونلیکنې)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ لمریز کال

بسم الله الرحمن الرحيم

# نیمه پېړۍ یون

## څلورم ټوک

**(یونلیکنې)**


لیکوال: **محمد اسمعیل یون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

ډیزاین: **فیاض حمید**

چاپکال: **۱۳۹٦ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۴۱)**

وېبپاڼه: **www.melitahrik.com**



**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**


**۳۲۱۱**

# ډالۍ:

# د افغانیت، اسلامیت او انسانیت

# رښتینو لارویانو ته!

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۳۲۱۸ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ۳۲۳۴ |
| | **د اماراتو سفر** | |
| ۱ | ددې اثر پر دویم چاپ څو ټکي | ۳۲۴۴ |
| ۲ | د خپرندوی یادښت | ۳۲۴۷ |
| ۳ | د اماراتو سفر | ۳۲۴۹ |
| ٤ | انځوریزه برخه | ۳۳۸۳ |
| | **که یون دی یون دی** | |
| ۱ | یادښت | ۳۳۹۳ |
| ۲ | سریزه | ۳۳۹٦ |
| ۳ | د سفر هدف | ۳٤۰۲ |
| ٤ | د سفر تیاری | ۳٤۰۷ |
| ۵ | د دوبۍ پر لوري | ۳٤۱۰ |
| ٦ | د فرانکفورت پر لوري | ۳٤٤۲ |
| ۷ | د غریب صیب د کور پر لوري | ۳٤۵٤ |
| ۸ | د کولن پر لوري | ۳٤٦۸ |
| ۹ | کونړ سیند مشاعره | ۳٤۸۵ |
| ۱۰ | د حاجي صیب فضل الرحمن کور | ۳٤۹۵ |
| ۱۱ | د پاریس پر لوري | ۳۵۱۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | د بلجیم پر لوري | ۳۵٤۱ |
| ۱۳ | یوه غرمه له باوري صیب سره | ۳۵٤۷ |
| ۱٤ | د هالنډ پر لوري | ۳۵۵٦ |
| ۱۵ | یوه شپه د مجبور صیب په کور کې | ۳۵٦۹ |
| ۱٦ | له ولسوال صیب سره یو سباناری | ۳۵۷۹ |
| ۱۷ | د ډنمارک پر لوري | ۳۵۸۵ |
| ۱۸ | پاوکم یو ساعت په یوه بېړۍ کې | ۳۵۹۱ |
| ۱۹ | یوه شپه د هېواد دوست صیب په کور کې | ۳۵۹٦ |
| ۲۰ | د ډاکټر شېرشاه مېلمستیا | ۳٦۱۲ |
| ۲۱ | د بېکسیارصیب د شاعرۍ په ویاړ یو ادبي ماښام | ۳٦۱۵ |
| ۲۲ | د سویډن پر لوري | ۳٦۲۱ |
| ۲۳ | په ډنمارک کې د موسیقۍ یوه شپه | ۳٦۲۹ |
| ۲٤ | له ډنمارکه د جرمني پر لوري | ۳٦۳۷ |
| ۲۵ | د افغانستان معلوماتي مرکز کې یوه ناسته | ۳٦۳۹ |
| ۲٦ | له ډاکټرصیب همایون همت سره خبرې اترې | ۳٦۵۷ |
| ۲۷ | یوه غرمه له ډګروال صیب حضرت رسول سره | ۳٦٦۰ |
| ۲۸ | دوه ساعته دانځور صیب په کور کې | ۳٦٦۲ |
| ۲۹ | له فرانکفورت څخه د دوبۍ پر لوري | ۳٦۸٤ |
| ۳۰ | له دوبۍ څخه د کابل پر لوري | ۳٦۸۷ |


## د پنتهاګون تر څنډو


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | یادونه | ۳٦۹۹ |
| ۲ | سریزه | ۳۷۰۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳ | د سفر موخه | ۳۷۰۳ |
| ٤ | د سفر تیاری | ۳۷۰٦ |
| ٥ | له کابله تر دوبۍ | ۳۷۱۰ |
| ٦ | له دوبۍ تر واشنګټنه | ۳۷۱٥ |
| ۷ | د ښه راغلاست لپاره یوه ماښامنۍ | ۳۷۲۷ |
| ۸ | د سیمینار لومړۍ ورځ | ۳۷۳٥ |
| ۹ | د سیمینار دویمه ورځ | ۳۷٦۱ |
| ۱۰ | د سیمینار درېیمه کاري ورځ | ۳۷۹۲ |
| ۱۱ | د سیمینار څلورمه ورځ | ۳۸۱۷ |
| ۱۲ | پنځمه ورځ ( په واشنګټن کې د ځینو ځایونو کتنه ) | ۳۸٤٥ |
| ۱۳ | د سیمینار شپږمه ورځ | ۳۸٦٥ |
| ۱٤ | د سیمینار اوومه ورځ | ۳۸۷۱ |
| ۱٥ | د سیمینار اتمه ورځ ( د کانګرس کتنه ) | ۳۸۷۸ |
| ۱٦ | یوه شپه له فرهنګي اشنایانو سره | ۳۹۱۳ |
| ۱۷ | د سیمینار نهمه ورځ | ۳۹۳۹ |
| ۱۸ | د سیمینار وروستۍ ورځ | ۳۹٤۷ |
| ۱۹ | یو بل ماښام له منشي صیب سره | ۳۹٥٦ |
| ۲۰ | د مارچ ۷مه ( په امریکا کې زموږ وروستۍ ورځ ) | ۳۹٦۲ |
| ۲۱ | له واشنګټنه د دوبۍ پر لوري | ۳۹٦٦ |
| ۲۲ | له دوبۍ څخه د کابل پر لوري | ۳۹۷۰ |


## د کرملین په زړه کې


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | دا یونلیک او یو څو خبرې | ۳۹۸۱ |
| ۲ | د یون زیار او نوښت | ۳۹۸٤ |
| ۳ | د یون بل یون | ۳۹۸۹ |
| ٤ | شالید | ۳۹۹۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ٥ | پیلامه | ٤٠٠٠ |
| ٦ | د سفر تیاری | ٤٠٠٤ |
| ٧ | له کوره تر هوايي ډګره | ٤٠٠٦ |
| ٨ | له کابله د مسکو پر لوري | ٤٠٠٨ |
| ٩ | د مسکو هوايي ډګر | ٤٠٢٣ |
| ١٠ | د مېلمستون پر لوري | ٤٠٢٥ |
| ١١ | د مېلمستون لومړۍ ننداره | ٤٠٣٠ |
| ١٢ | د لومړۍ ورځې لومړی ماښامی | ٤٠٣٤ |
| ١٣ | لومړی ماښام لومړنۍ ناسته | ٤٠٣٨ |
| ١٤ | په مېلمستون کې لومړۍ شپه | ٤٠٥٢ |
| ١٥ | د کنفرانس یا جرګې لومړۍ ورځ | ٤٠٥٦ |
| ١٦ | د فضايي څېړنو مرکز | ٤٠٥٨ |
| ١٧ | د راډیو پر لوري | ٤٠٦٨ |
| ١٨ | د مسکو څو یادګاري ځایونه | ٤٠٧٦ |
| ١٩ | یوه ماښامنۍ په افغاني سفارت کې | ٤٠٨٣ |
| ٢٠ | له نیوزویک اوونیزې سره ناسته | ٤٠٨٧ |
| ٢١ | د روسیې د مشرانو جرګې له هئیت سره کتنه | ٤٠٩٥ |
| ٢٢ | له انټرفاکس سره په خبري کنفرانس کې ګډون | ٤١٠٧ |
| ٢٣ | یوه غرمنۍ په کباب فیستوال هوټل کې | ٤١١٤ |
| ٢٤ | د مخدره موادو د کنټرول اداره کې غونډه | ٤١١٦ |
| ٢٥ | عمومي غونډه | ٤١٢٨ |
| ٢٦ | یوه غرمه د مسکو په پرزېډنټ هوټل کې | ٤١٥٧ |
| ٢٧ | ګروپي کار | ٤١٦٠ |
| ٢٨ | یوه ماښامنۍ په ققفاز هوټل کې | ٤١٧٤ |
| ٢٩ | له سوداګرو سره غونډه | ٤١٧٨ |
| ٣٠ | د پرېکړه لیک لومړی متن | ٤١٩١ |
| ٣١ | د کرېملین پرلوري | ٤١٩٢ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۲ | یوه غرمنۍ په میش پیش هوټل کې | ٤٢١١ |
| ۳۳ | د روسیې پوځي موزیم | ٤٢١٣ |
| ۳٤ | یوه ماښامنۍ له افغان سوداګرو سره | ٤٢٢٢ |
| ۳٥ | د پرېکړه لیک وروستی متن | ٤٢٣١ |
| ۳٦ | په مسکو کې یوه پخوانۍ کلیسا | ٤٢٤٠ |
| ۳۷ | د روسیې له یو انټرنېټي ټلویزیوني چینل سره مرکه | ٤٢٤٧ |
| ۳۸ | د مسکو ښار یوه شپه | ٤٢٥٠ |
| ۳۹ | د مسکو نړیوالو اړیکو انستیتیوت | ٤٢٥٣ |
| ٤٠ | د روسیې اطلاعاتو او کلتور وزارت له مرستیال... | ٤٢٥٥ |
| ٤١ | په مسکو کې وروستۍ غرمنۍ | ٤٢٥٨ |
| ٤٢ | په بهرنیو چارو وزارت کې کتنه | ٤٢٦٠ |
| ٤٣ | د کابل پر لوري د تګ تیاری | ٤٢٧١ |

# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر څنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروبانښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی ویاند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱-زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴٦ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زیږېدلی دی. یون لا د شپږم ټولگي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یون پر (۱۳۵۳ل)کال د الینګار ولسوالۍ د (سلینګار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولګي کې شامل شو، یون یو کال د سویې ازموینه ورکړه او یو ټولګی یې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د یون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفینو له خوا وسوځول شو، یون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابل په (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال تر یې په دویمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال تري اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانګې کې د کدر ازموینه ورکړه، په یاده ازموینه کې بریالی او پر همدې کال د (نامزد پوهیالي) په رتبه د پښتو څانګې د کدر غړی شو. یون پر

(۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ماسترۍ پروګرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلوده، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال

ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لېسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې له یو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلودله او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کې د تحصیل پر مهال هم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شمېر نورو فرهنګي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پر (۱۳٦٦ل) کال یې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال یې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولګه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شعرونو ټولګه (نیمګړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې یې (هیله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمنې کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې) استازی هم و.

محمــد اســمعیل یــون د طالبــانو د نظــام تــر ړنګېــدو وروســته پــر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کــې د ملګـرو ملتونـو د مرسـتو د ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یـادو ولایتونـو کـې د ښېړنۍ لویې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنـده هـم پـه ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د ښېړنۍ لویې جرګه چې نږدې (۱٦۰۰) تنـو پـه کې له ټول افغانستان څخه ګډون درلود، غړی و، د جرګې د مشرتابه لپـاره ټاکنې وشـوې او یـون د رایـو پـه اکثریـت سره د ښېړنـۍ لـویې جرګـې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو، د منشیتوب دنـده یـې هـم پـه ښـه ډول ترسره کړه او بیا یې د یادې جرګې په باب (ښېړنۍ لویه جرګـه- ولسـواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانګړی اثر هم ولیکه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تـر مـنځ د (امـن ګـډې جرګې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یـې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رییس حامـد کـرزي د یـوه ځـانګړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو د رییس په توګـه غـوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رییس حامـدکرزي تـه یـې په ډېرو ملي او فرهنګي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

**یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنګسالارانو او فسادګرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت له امله له خپلې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریک) په نامه د یو ازاد، فرهنګي، مدني، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسټ کېښود.**

## ۴-کورنی ژوند:

**استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کال له (اریـن مومند) سره واده وکړ، اوس ځلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سوله او ودان). (هیله) او (سمسور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پر لوړو زده کړو بوخت دي، (سوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو منتخبه استازې ده.**

## ۵- فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې: یون له (۱۳٦٦ل)کال څخه بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، په یاده موده کې یې په سلګونو زرو هېوادوالو سره لیدنې کتنې کړي دي، په سلګونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړې، د خلکو مشکلاتو ته یې ځان رسولی، د نورو ملګرو او ملي تحریک د ملګرو په مرسته یې مصیبت ځپلو خلکو ته مرستې وررسولې. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننګرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کې**

یې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنګ ځپلو او نورو مصیبت ځپلو هېوادوالـو ته د ملي پانګوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خیریه ټولنو پام یې هغو ته وراړولی او لـه دې لارې یـې خلکـو تـه پـه مسـتقیم او نامسـتقیم ډول د میلیونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمینه برابره کـړې ده. د مصیبت ځپلـو خلکو لپاره یې لوی رسنیز کمپاینونه هم ترسره کړي او دا کـار ددې سـبب شوی چې هم دولت او هم خیریه ټولنې غمځپلو سیمو ته ځـان ورسـوي. د جګړې ټپیانو ته د وینې د ورکړې لپاره یې څو پروګرامونه جوړ کـړي او همدارنګه یې د خلکو مدني او اعتراضیه غونډو ته لاره هواره کـړې ده. د مسجدونو او کلینیکونو په جوړونه کې یـې ونـډه اخیسـتې، د صـحي اوبـو لپاره یې د ژورو څاګانو په کیندنه او د چاپېریال د پـاک سـاتلو لپـاره یـې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجمـوعي ډول د ټولو هغو خیریه او ټولنیزو کارونو شمېر چـې یـون پـه تېـرو (۳۰) کلونـو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) ګټورو او مرستندویه کارونو زیاتېږي.

**ب- سیاسي برخه کې:** محمد اسمعیل یون سره له دې چې لـه کوم سیاسي ګوند سره تړاو نه لري او نه یې غړیتوب لري، خو په خپله یـې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په ګډه (د افغانستان ملي تحریک) په نامـه د یو ملي، مدني، خدماتي، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسـټ ایښـی دی. ددې تحریک له لارې یې په هېواد کې یو شمېر سـیاسي فعالیتونـه تـرسره کړي دي.

یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېـواد کـې د ولسـواکۍ د ټینګښـت، د جنګسـالارانو او فسـادګرو د زور کمـونې، لـه منځـه وړنـې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کـړي او پـه ځینـو نـورو دا ډول مظـاهرو کـې یـې ګـډون کـړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاریونونـو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو  شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبـارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان  له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم  غلط رنګ  او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه  یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي،

منفي غبرگونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع گټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرگونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنگو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنگي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنگي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول گورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنگي کارونو سربېره د گڼو فرهنگي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توگه هم خپل فرهنگي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنگي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنگ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توگه د بېلابېلو لیکوالو په لسگونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلگونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلگونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

په رسنیزه برخه کې یې د (ژوندون) په نامه یو رسنیز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډیو ټلوېزیون په کې فعالیت لري، دا راډیو ټلوېزیون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلایټ او وېبسایټ له لارې یې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډمیکه برخه کې یون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرګونو محصلین لري، دغه راز  د یو شمېر خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو په جوړونه کې یې هم مرسته کړې ده. یون د (هیلې، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدیر په توګه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره یې د بېلابېلو لیکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمینه برابره او د یو شمېر نورو د سمون چارې یې هم پر مخ وړي دي.

په سیمه ییزه او ملي کچه یې د (۳۰) کلونو په بهیر کې تر (۱۱۰۰) زیاتې ادبي، علمي او فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار یې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|

- مټکور (لومړۍ شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- په اورونو کې سندرې (دویمه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ب- راټولونې:

- هيلې (ګډه شعري ټولګه) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نيمګړي ارمانونه (د حيران شعري ټولګه) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا ياد (د سيمينار د ليکنو ټولګه) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کليات (د الفت نثرونه) درېيم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سيندونه هم مري (د اسحق ننګيال شعري منتخبات) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي ميراثونو ته يوه کتنه (د نينسي دوپرې اثر) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنايتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهير (د استاد افغانيار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- يونليکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو يونليک) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که يون دی يون دی (د اروپا يونليک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دپنټاګون ترخنډو (د امريکا يونليک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملين په زړه کې (د روسيې يونليک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډيلي تخت هيرومه (د هند يونليک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.

- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنګي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په وړمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ(څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات خلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارګ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړی لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، تړو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنګه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولګي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولګي څخه بیا تر دولسم ټولګي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ درونډ مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولګي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړۍ ثمر (هیلې) ګډه شعري ټولګه چاپ کړه. د ژوند دربیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترڅ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمګړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د ګڼو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د ګڼو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې مور یې دمخه یادونه وکړه.

که یوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې مـوږ د استاد یون له خـوا تـول لیکـل شـوي، ژبـاړل شـوي او راټـول شـوي اثـار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا کـه دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر ووېشو نو د ورځې لږ تر لـږه یـو نـیم مـخ کـار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بـې لـه لیکـوالۍ نـه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې پـه سـلګونو بېلابېـل لیکـل شـوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، مناظرې او لکچرونـه لا پـه دې کمیـت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظـاهرې، ټـولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا لـه دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا ټـول کارونـه سره محاسـبه کـړو، نـو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هـر چـا پـه وس پـوره نـه دي. هغه چا چې استاد یـون سره لـه نـږدې کارونـه کـړي وي، هغـو تـه د استاد د کار اوسپله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هـم نه شي کولای، یو ستړی، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لـري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یـې ماتـه تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چـې افغانسـتان کـې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخـت هـم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پـر وړانـدې چـا سـونې هـم نـه شـو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یـې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطـر کـې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سـترو ارزښـتونو د لیکلـو

مخنیوی کېده، خو استاد یون او ملګرو یې د اسلامیت او افغانیت غږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هم د دې رسا غږ او داعیې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چې افغانستان پردیو ایډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینو نورو شخصیتونو برکت و چې د ملي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولولې تر هرې بلې ایډیالوژۍ زیاتې ځلېږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبارزه دده په فعالیتونو او همدارنګه د استاد په ټولو اثارو کې انځورېږي. خو ددې څو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چې زموږ راتلونکی نسل د استاد د ملي او فرهنګي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلوېزیون

(۱۳۹۶ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به گوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کیڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم گوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې څورېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولگي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي همکاري پیل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پیل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مینه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هیلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو لیکوالو یوه تذکره یا غورچاڼ برابر کړ او پر (۱۳٦٦ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نیمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (مټکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (۱۳٦٦ل) کال څخه بیا تر (۱۳۹٦ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دایرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووایم چې یوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه یم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهیر کې ځینې سیاسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحمیل شوي او ځینې ټولنیز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټینګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (۱۳۸۵ل) کال زه د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو رییس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسیزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سیاسي او ټولنیزو کارونو پر وړاندې چې ما یې د سرته رسولو هیله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضیاءالرحمن ضیاء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري یې هم کم دي، تنګنظره سیاسي اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په

ترڅ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې مو ړ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملګرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینګلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي یانې اثار یې لیکلي دي، باید په خپله یې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه یې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله یې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړۍ مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد ایښی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب،

کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو ګوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې بڼه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنګي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جګړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جګړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم چې جګړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرګ مې د پرونۍ ورځې د ترخې خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.

نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.

ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و

چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، څو شپې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو گرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې ایښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرگ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په پښو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توگه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالېږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور پښو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترگې مې ورته ښکل کړې، سترگې یې رڼې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

له خپلو خوږو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار ګاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولګي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې ګام پر ګام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملګرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وګاللې او زما فرهنګي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.


له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوګه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنګي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه

ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
د اماراتو سفر
(یونلیک)
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# د اماراتو سفر

## یونلیک

## محمد اسمعیل یون


# بسم الله الرحمن الرحیم


کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د اماراتوسفر |
| لیکوال: | پوهنمل محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۸٤ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال پرله پسې نومره: | (۱۹) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۱۹) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

# د دې اثر پر دویم چاپ څو ټکي

«داماراتو سفر» زما لومړنی یونلیک دی. د ژوند په اوږدو کې مې ډېر سفرونه کړي، خو په دې نېت مې نه دي کړي، چې زه به یې خاطرې لیکم. دځینوسفرونو حوادث په لیکلو نه ارزي، خو ځینې سفرونه بیا داسې هم وي، چې خاطرې لیکل یې خورا ضرور وي. یونلیکنه له کلونو راهیسې په پښتو ادب کې دود ده. البته د




یونلیکنې محتویات طبعاً توپیر کوي، کېدی شي، یونلیک یوازې د ادبیاتو په شان یوه واحده موضوع راونغاړي یا بېلابېلې ټولنیزې، سیاسي او نورې موضوعګانې. خو مهم ټکی په کې دا دی، چې لیکوال پېښې لکه څنګه چې دي، همغه شان ثبت کړي

که بل ډول؟ کوم پیغام په کې پروت دی که نه؟ اوکه نه څه شی چې پرې تېر شوي یوازې د همغو خاطرو یو تصویر یې کاږلی دی؟

ددې یونلیک له لیکلو څخه زما هدف دا و، چې دوه بېلابېلې او ان مختلفې ټولنې سره پرتله کړم، یوه داسې ټولنه، چې ډېره ځپل شوې او ډېره شاته پاتې ساتل شوې ده او بله هغه چې ډېره پرمختللې او لا هم پرمختلونکې ده. دا چې زه په دې لیکنه کې څومره بریالی شوی او یا اوو ورځو کې د څومره لیکنې ظرفیت او څه ممکن وو، دا قضاوت درنو لوستونکو ته پرېږدم. ددې کتاب تر چاپ وروسته هغو خلکو، ځوانانو په تېره بیا هغو کسانو، چې دا ډول سفرونه یې کړي وو او یا د سفر نیت یې درلود او داکتاب یې لوستی و، ماته تلیفونونه وکړل او ددې اثر ستاینه یې وکړه، ځینو وویل موږ ته یې ځکه خوند راکړ، چې موږ هم د سفر پر وخت له ځینو دا ډول ستونزو او پېښو سره مخامخ شوي یو. په هر حال د لیکوال دنده د یوه اثر لیکل دي او پاتې کارونه په نورو خلکو پورې اړه لري، دا دی زه دا اثر یو ځل بیا، په داسې حال کې خپروم، چې زما یو بل یونلیک هم چاپ ته تیار دی، تر دې یونلیکه، زماپه دې نوي یونلیک کې تجربه یو څه زیاته شوې ده، هیله لرم تر چاپ وروسته د لوستونکو خوښ شي، زه له رڼا خپروندی مرکز، په تېره بیا له ښاغلي حاجي صیب ظاهر قدیر څخه منندوی یم، چې دا اثر یې د لومړي ځل لپاره چاپ کړ او تر دې دویم چاپ پورې یې موږ ته راورساوه. له درنو لیکوالو څخه مې هم هیله ده، چې دسفر پر وخت قلم او یادښت کتابچه له ځانه سره ولري، د خپل سفر مهمې

خاطرې ولیکي، کېدی شي داسې مسایل په کې وي، چې ګټه یې زموږ ولس او ټول بشر ته ورسېږي.

په همدې هیله

محمد اسمعیل یون

ارګ- دجمهوري ریاست ودانۍ

کابل- افغانستان

د ۱۳۸۷ ل کال د کب ۴مه نېټه

# دخپرندوی یادښت

رڼا علمي مرکز دټول هېواد په کچه یو علمي او فرهنګي مرکز دی چې دخپل جوړښت په ډېره لنډه موده کې یې ګڼ شمېر، علمي، فرهنګي او رغونیز کارونه تر سره کړي دي، ددې مرکز په هڅو تراوسه پورې دبیا رغونې تر لسو زیاتې لویې پروژې تکمیل شوي، دکرنې په برخه کې ځو نمونه یې فارمونه او باغونه جوړشوي، په لغمان او ننګرهار کې د اوبو ځو سربندونه رغول شوي او د بدني روزنې په برخه کې سپورتي کلپونه جوړ شوي او مسابقې تر سره شوي دي، دې مرکز کلتوري چارو ته هم زیاته توجه کړې، رڼا انستیتیوت په نامه یې دننګرهار دښوونې او روزنې په پوهنځي کې یو روزنیز انستیتیوت جوړ کړی چې ژر به پر فعالیت پیل وکړي، دا انستیتیوت په یوه کال کې دیونیم زر زده کوونکو دروزنې ظرفیت لري، په دې انستیتیوت کې به زده‌کوونکي دکمپیوټر، انګلیسي ژبې او منجمنټ زده کړې کوي، دا زده کړې به زده کوونکو ته وړیا وي.

رڼا مرکز ځو علمي غونډې، مشاعرې او سیمینارونه هم جوړ کړي او ځینو علمي او روزنیزو مرکزونو سره یې مرسته هم کړې ده. دغه راز (د دستار سړی) دشهید حاجي عبدالقدیر دشخصیت

په باب یو اثر، (علامه عبدالشکور رشاد په ننګرهار کې) د استاد رشاد په اړه دمقالو یوه ټولګه، (پرېوتې څېرې) دحفیظ الله تراب دتلویزیوني ډرامو یو اثر یې هم په مستقل ډول خپاره کړي دي. دغه راز د دانش خپرندویې ټولنې په ګډو هڅو یې انګلیسي ـ پښتو قاموس په (۱۳۱۸) مخونو کې خپور کړی، چې دا د چاپ شویو پښتو کتابونو په تاریخ کې یوه ښه او غوره بېلګه ده.

رڼا مرکز ویاړي چې دخپلو خپرنیو هڅو په لړ کې دهېواد دنامتو لیکوال ښاغلي پوهنمل محمد اسمعیل یون (د اماراتو سفر) چې په زړه پوري یونلیک دی او دده د سفر خاطرې دي، خپروي. رڼا مرکز ښاغلي یون ته ددې کتاب دچاپ له امله مبارکي وایي او دنورو بریو هیله یې کوي، دغه راز له ټولو افغان لیکوالو سره ژمنه کوي، چې رڼا مرکز به تر خپله وسه هڅه او کوښښ وکړي، چې د نورو لیکوالو علمي، څېړنیز او هنري اثار هم خپاره کړي، هیله من یو، یوبل سره فرهنګي همکاري وکړو او ټول دهېواد فرهنګ ته دخدمت جوګه شو.

په فرهنګي او هېوادني مینه

حاجي عبدالظاهر قدیر

د رڼا مرکز عمومي مشر

# د اماراتو سفر

د (۲۰۰۲م) کال پر نومبر په جرمني کې د افغانستان په اړه یو علمي سیمینار جوړ شوی و، ددې سیمینار نوم و: " مدني ټولنه او د هغې په جوړښت کې د اساسي قانون رول" زه دیو شمېر نورو افغانانو په جمله کې دې سیمینار ته بلل شوی وم، دا تر افغانستانه بهر، زما لومړی سفر و، چې پر جرمني سربېره ډنمارك، هالنډ او بلجیم هېوادونه مې هم په کې وکتل، البته پاکستان ته ډېر تللی او راغلی یم، کوټه، لاهور، کراچۍ او اسلام اباد ته مې سفرونه کړي او پېښور کې، خو بیا میاشتې او کلونه پاتې شوی یم، خو پاکستان او ایران د اکثرو افغانانو په نظر د خارج په جم کې نه حسابېږي.

کله چې له جرمني څخه بېرته راتلو، نو ویل کېدل، چې د الوتکې یو تمځای په (دوبۍ) کې دی او دوبۍ ډېر ښکلی او زړه راکښونکی ځای دی. دا هم ویل کېدل، چې الوتکه دلته درې څلور ساعته تمېږي او مساپر کولای شي په هوایي ډګر کې له مارکېټ څخه د خپلې خوښې وړ سودا ترلاسه کړي، ما ډېره هیله لرله، چې له دې سفر څخه ګټه پورته کړم او دوبۍ> لکه څنګه چې خلك یې ستاینه کوي، وګورم، خو هغه وخت د الوتکې الوتنې

تغیر وخوړ، موږ له فرانکفورت څخه استانبول، بیا تهران او له تهرانه کابل ته لاړو.

له هغه وخته بیا دوه کاله تېر شول، په دې وخت کې مې هیله لرله، چې یو ځل دوبۍ ته لاړ شم، خو ټولنیزې، سیاسي او فرهنګي بوختیاوې دومره زیاتې وې، چې هغه د چا خبره سرګرولو ته یې هم نه پرېښودلو. په دې موده کې څو ځله ځینو اندېوالانو په تېره بیا حاجي صیب ظاهر قدیر یادونه وکړه، چې ما سره دوبۍ ته لاړ شه او ښه چکر به درباندې ووهم، خو زه په خپلو کارونو کې دومره مصروف وم، چې یو ځل مې هم ددې چانس ترلاسه نه کړ، کله چې د اساسي قانون لویه جرګه پای ته ورسېده، د جمهوري ریاست ټاکنې هم ترسره شوې او څو میاشتې لا پر دې تېرې شوې، نو یو څه نسبي فرصت پیدا شو، چې ځان سفر ته تیار کړم، یوه ورځ حاجي صیب ظاهر قدیر بیا وویل: یون صیب پاسپورت تیار کړه، چې کله مې درباندې غږ وکړ، نو (نه) به په کې نه وې او ته به تیار یې، ما ویل حاجي صیب پاسپورت تیار دی، خو وېزه وخت غواړي، هغه وویل: د ویزې مېزې کیسه کې مه اوسه د اماراتو وېزه درته زه په دوه ساعتو کې اخلم، څو ورځې لا تېرې نه وې چې بیا یې راته وویل چې سبا دې پاسپورت عاجل د انجنیر صیب اکرام په ادرس کابل ته ولېږه چې یوه ورځ کې حرکت دی.

ما خپل پاسپورت په همغه ورځ د ښاغلي رحمت الله خان په لاس، چې تازه کابل او بیا له کابله ګردېز ته روان و ور ولېږه، رحمت الله خان په ګردېز کې دیوناما ددفتر دسیاسي چارو مرستیال و، رحمت الله خان پاسپورت په کابل کې زما اخښي ډاکټر مروان او هغه بیا اول الرحمن رودوال او رودوال صیب پر همغه ورځ انجنیر صیب اکرام ته ور تسلیم کړ، انجنیرصیب اکرام ماته پر همغه سبا چې د (۲۰۰۵م) کال د فبرورۍ (۲۱) نېټه کېدله، وېزه اخیستې وه. ما ته یې په ټیلفون کې وویل چې زه دوبۍ ته روان یم تاسې خپل پاسپورت یا زما له دفتر او یا هم له سفارت څخه ترلاسه کولای شئ.

حاجي صیب ظاهر ته مې وویل چې وېزه، خو یې اخیستې اوس نو په تا پورې اړه لري چې څه وخت ځو. هغه وویل ته کابل ته ځان رسوه او زه درپسې درځم، زه کابل ته لاړم لومړی مې د انجنیر صیب اکرام دفتر ته مراجعه وکړه، ددفتر ملګرو یې وویل پاسپورت په سفارت کې دی، بیا انجنیرصیب عباس یو شخص موظف کړ او له سفارت نه یې زما پاسپورت راوړ، پاسپورت کې دیوې میاشتې لپاره یاني د فبرورۍ له (۲۱) د مارچ تر (۲۰)مې نېټې پورې د زیارت (سیاحت) وېزه لګېدلې وه. څو ورځې مې په کابل کې تېرې کړې، حاجي صیب ظاهر ته مې ټیلفون وکړ، چې وېزه مې واخیسته، هغه وویل ته منتظر اوسه زه درځم، څو ورځې نور هم پاتې شوم، خو چې د هغه پته ونه لګېده، نو زه هم بېرته ننګرهار ته لاړم، البته په دې وخت کې یې کابل کې یو ځل ماته

ټېلفون وکړ چې کېدی شي زه یو څو ورځې نور هم وځنډېږم که تاسو یوازې ځئ، نو ما به هلته ټول سهولتونه برابر کړي وي.

کله چې په کابل کې وم، نو له کرزي صیب سره مې په یوه اوونۍ کې درې ځله ملاقات وشو او پر څو مهمو مسایلو مې ورسره خبرې وکړې، په دې مسایلو کې یو هم د ایران کلتوري یرغل و، چې په کابل کې یې د خپلو لاسپوڅو او د فرهنګي چارو ددولتي چارواکو په واسطه عملي کوي، همدې چارواکو نه یوازې په دولتي خپرونو لکه: کابل راډیو ټلویزیون او نورو کې پښتو برخه خواره کړې ان د بندیز تر بریده کوښښ کوي د پښتو ژبې حق ضایع کړي، دغه راز دوی غواړي له بېلابېلو وسیلو څخه کار واخلي چې نوی پښتو چینل (AVT) خیبر هم په کابل کې بند کړي، د اطلاعاتو او کلتور وزیر سیدمخدوم رهین ټولو کېبلي خپرونو ته خبر ورکړی و، چې (خیبر چینل) خپور نه کړي، دغه راز طلوع ټلویزیون هم د خیبر پرضد یو پروګرام جوړ او نشر کړی و. کرزي صیب ته ما دا ټول مسایل وویل، چې له خیبر ټلویزیون سره ددوی مخالفت په دې نه دی، چې دا ولې د پاکستان له خوا نشرېږي، بلکې د اختلاف ټکی یې دادی چې دا پښتو دی.

کرزي صیب خیبر ټلویزیون ښه چینل وګاڼه او د هغوی نوې خپرونې او سندرې یې وستایلې، فقط دومره یې وویل، چې افغاني موسیقي په ځانګړي ډول زړه افغاني موسیقي لکه د ګلزمان، قدیم، استاد اولمیر، قمرګلې او نورې سندرې هم باید

نشر کړي، دې وخت کې یې جاوید لودین ته ټیلفون وکړ او ورته یې وویل، چې هېڅوك حق نه لري ددې ټلویزیوني چینل پرضد نشرات وکړي، هرڅوك که غواړي مطرح شي باید د خپلو پروګرامونو کیفیت ښه کړي، موږ نه غواړو د ټلویزیونونو ترمنځ جنګ پیل شي.

دې وخت کې ما کرزي صیب ته وویل، چې زه خیبر ټلویزیون دیوې مرکې لپاره دعوت کړی یم، که تاسو څه پیغام لرئ زه یې ور رسولای شم. کرزي صیب وویل فقط سلامونه مې ورته ورسوه او بل افغاني سندرې باید کېږدي چې هغه زموږ لویه پانګه ده.

له کابله بېرته جلال اباد ته لاړم او حاجي صیب ظاهر مې له نږدې وکوت، کله چې یې زه ولیدم، نو په خندا شو تر روغبړ وروسته مې سملاسي زموږ دیوه دولتي مشر یوه کیسه ورته وکړه، "هغه داسې چې زموږ یو دولتي مشر خپل یو انډیوال ته ویلي وو که زه ددولت مشر شوم، نو ته چې هرڅه غواړې هغه به درکړم، ننګرهار ولایت غواړې، کابل ولایت، هرات ولایت که وزارت، هغه شخص ددولت له مشر سره له دعاګانو نیولې تر عملي منډو ترړو پورې هرڅه وکړل، په پای کې شخص ډېر انتظار وویست، چې څه نن او سبا به مې وغواړي خو کله چې شپې ډېرې تېرې شوې، دسړي حوصله تنګه شوه، په خپله یې په ډېر تکلیف لاره چاره پیدا کړه او ځان یې تر ولسمشر ور ورساوه، هغه سره ځانته په یوه خونه کې کېناست، د روغ او رنځور تر حال احوال او

پوښتنې وروسته دې شخص په ډېر احترام عرض وکړ، چې رییس صیب که یاد دې وي یو وخت تر ولسمشر کېدو وړاندې هغه یوه ورځ چې ځانته په یوه موټر کې ناست وو، تاسو وویل چې که زه جمهور رییس شوم، نو که ته ننګرهار ولایت او یا کابل ولایت غواړې او که وزارت، نو درکوم یې، اوس خو نه ولایت شو، نه وزارت، عادي ملازمت هم نه شته دا څنګه چل شو؟ ولسمشر ورته په ډېره خوږه لهجه وویل قربان دې شم د زړګي سره تاته به زما یو خواص معلوم نه وي هغه دا چې ما سره چې څوك وعده وکړي هغه مې تر مرګه نه هېرېږي او زه چې چا سره وعده وکړم هغه مې شېبه پس هېره وي، نو اوس پوی شوې، سر دې پرې خلاص شو، هه واخله دا یو چاکلیټ خوله دې پرې خوږه کړه، راځه چې ځو چې ما ته ډېر خلك منتظر دي."

ما چې کله حاجي صیب ظاهر ته دا خبره وکړه هغه کړس کړس وخندل، یاره ښځکه چې لغمانی یې سخت دنښې منځ دې ووېشت، په یوه غشي دې دوه مرغۍ ښکار کړې، خو خبره چې له ټوکو وباسو والله که مې یوه شېبه هم هېر وې، خو تاته د ننګرهار حالت ښه معلوم دی. دلته هره لحظه یوه ستونزه راولاړېدی شي او زه چې دلته نه یم سخت مشکلات پیدا کېږي. همدا اوس به کابل ته ټیلفون وکړم، چې دوه ټکټه بوك کړي، ما ویل نه زه اوس یو ځل اسلام اباد ته ځم، خیبر ټي وي سره مرکه لرم، کله چې راستون شوم، بیا به ګورو. زه د خیبر ټي وي خبریال (نورحمن شېرزاد) سره اسلام اباد ته لاړم او له خیبر ټلوېزیون سره مې

ژوندۍ مرکه وکړه، د مارچ پر (۱۳) مه نېټه بېرته راستون شوم، کله چې مې پاسپورت ته وکتل، نو ګورم چې ایله (۷) ورځې په کې پاتې دي. حاجي صیب ظاهر سره مې مشوره وکړه. ما ویل چې ددې وېزې وخت نور په ختمېدو دی، هغه وویل که ته ځې ځه لاړ شه، زه درپسې درځم.

له جلال اباده مې کابل کې د تجارت وزارت مرستیال ښاغلي پوهنمل محمدنبي فراهي ته ټیلفون وکړ، نبي فراهي د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد او زما ډېر نږدې ملګری دی. هغه ویل څه وخت کابل ته راځې، چې سره وګورو، ما ویل همدا نن در روان یم، خو کېدی شي یو ځل لنډ سره وګورو، ځکه زه دوبۍ ته روان یم، فراهي صیب وویل خیر چې دوبۍ ته ځې، نو ټکټ به زه درته بوك کړم او که هلته ځای نه وي، نو چې زه درته په هوټل کې د اتاق غم وخورم، زموږ تجارتي اتشه هم روان دی، هغه سره به یو ځای لاړ شې، ما به درته په کام ایر شرکت الوتکه کې ټکټ تیار بوك کړی وي. کله چې مازیګر کابل ته ورسېدم، نو فراهي صیب ته مې ټیلفون وکړ، هغه وویل سبا سهار (۸) بجې زما او ستا وعده ده، سهار به زه تجارتي اتشه هم راوغواړم او ټکټ به یې هم راوړی وي. د شپې زه او زما بل ملګری ډاکټر محمداکرم خپلواك د انجنیر صیب اکرام دفتر ته لاړو، هغه تازه له دوبۍ نه راستون شوی و، هغه ته مې وویل چې تاسو زما پاسپورت وګورئ، چې څومره وخت لري؟ هغه وویل چې ستاسو وېزه کې ډېر کم وخت پاتې، فکر نه کوم چې په دې

وخت تاسو هلته داخلېدو ته پرېږدي، ما ویل ټکټ مې هم سبا نه بل سبا یانې د مارچ (۱۸) بوك کړی هغه وویل دا ډېر کم وخت دی، زه نه پوهېږم چې څنګه به شي، تاسو لږ صبر وکړئ زه دوبۍ ته ټیلفون وکړم، چې پوره احوال واخلم. کله چې یې دوبۍ کې کوم شخص ته ټیلفون وکړ هغه وویل چې دی راتللای شي، له همغه تاریخه دده وېزه محاسبه کېږي چې دخول نېټه په کې ووهل شي، خو دی باید د مارچ تر شلمې دمخه ضرور داخل شي، دې کار ما سره تشویش پیدا کړ، هسې نه چې لاړ شم او بېرته مې راستون کړي.

سهار چې (۸) بجې سوداګرۍ وزارت کې د فراهي صیب دفتر ته لاړم، نو تر لږو خبرو اترو وروسته تجارتي اتشه هم راغی، موږ یې یو بل ته معرفي کړو، دهغه نوم (بسمل علوي) و، یو بل ته مو د ټیلفون نومرې ورکړې، بیا مې پاسپورت ور وښوده او د وخت د کمي ستونزه مې ورته بیان کړه، هغه وویل چې تاسو یو ځل پرې داخلېدی شئ خو د مارچ تر شلمې وروسته پرتاسو باندې د ورځې تر (۲) ډالرو زیاته جریمه راځي، خیر تاسو خو لاړ شئ، هلته به د قونسلګرۍ له لارې کوښښ وکړو، چې وخت تمدید شي. ډېر تشویش ورته مه کوه.

فراهي صیب دتجارتي اتشې د مسئول په باب ماته معلومات هم راکړل، چې دی د پخواني وزیر (مصطفی کاظمي) د تره زوی دی، علوي له څېرې څخه رښتیا هم کاظمي ته پاتې کېده، تر دې

دمخـه هـم ماتـه پتـه وه، چـې پـه سـوداګرۍ وزارت کـې د ښـاغلي کاظمي په وخت کې له یوې مخې هزاره ګـان مقـرر شـوي، ماتـه دا پتـه هـم وه چـې د تجـارت وزارت پـه (۲۴) ریاسـتونو کـې د (۱۳) ریاستونو رییسـان هـزاره ګـان د (۷) تاجکـان وو د (۲)دوو پښـتانـه او د یو ازبك او د بل هم ترکمن دی.

دغه راز له هېـواده بهـر د افغانسـتان پـه (۲۳) تجـارتي اتشـو کـې یـوازې د یـوې تجـارتي اتشـې مسـئول پښـتـون دی، ددې تجـارتي اتشو د ټولو کارکوونکو شمېره (۷۳) تنه دی، چـې لـه هغـې جملـې څخه (۵۳) تنه هزاره ګان، بیـا تاجکـان او پـاتې نـور بیـا پښـتانـه او نـور قومونـه دي، نـو فراهـي صـیب ماتـه څکـه لـه کـاظمي سـره د علوي د خپلوۍ اړیکي په ګوته کړل، هسـې نـه چـې پـه لاره کـې پـه تجـارت وزارت کـې د پخـواني وزیـر لـه خـوا د رامنځتـه شـوې نـا انډولۍ په بـاب څـه ونـه وایـم. د مـارچ (۱۶) مـه د سـهار (۹) بجـې فراهي صیب خپل سکرتر ته وویل، چې د یـون صـیب ټکـټ نـه دی راغلـی، هغـه وویـل" حـالا تعقیـب اش میکـنم" لـږه شـیبه وروسـته راغی او ویې ویل ټکټ یې د کام ایر د ټکټ پلورنې پـه غرفـه کـې دی، څـوك نـه شـته چـې را یـې وړي کـه دی خپلـه هلتـه ځـي، نـو ورتسلیم به یې کړي.

ما ویل ټیك ده لاړ به شم، فراهـي صـیب وویـل نـه ممکنـه نـه ده، خپل سکرتر ته یې بیا وویـل ورتـه ووایـه چـې همدلتـه یـې راوړي، هغه بیا ټیلفون وکـړ هغـوی ورتـه ووېـل، چـې سـل فیصـده مطمـین

اوسئ ټکټ به در ورسېږي. ما دې وخت کې فراهي صیب ته وویل، زه به یو ځل پوهنتون ته لاړ شم حاضري به امضاء کړم او بېرته به راشم، تر هغه به ټکټ راغلی وي، هغه ویل بېخي سمه ده.

پوهنتون ته لاړم حاضري مې لاسلیك کړه او بېرته پوره یوولس بجې د فراهي صیب دفتر ته راغلم، د ټکټ پوښتنه مې وکړه سکرتر وویل تر اوسه نه دی راغلی، ما ویل که تکلیف نه وي ټیلفون وکړه، اخوا د ېخوا یې ټیلفون وکړ خو ټیلفوني تماس یې ټینګ نه شو. فراهي صیب ته مې وویل چې ټکټ نه دی راغلی او تماس هم ټینګ نه شو، زه به ورپسې لاړ شم، هغه بیا ټینګار وکړ، ویې ویل نه تاسو مه ځئ، بیا یې خپل سکرتر راوغوښت ویې ویل ژر یې راورسوه یو څوك ژر ورپسې ولېږه، هغه یو ډریور په ټکټ پسې ولېږه (۱۵) کم یوولس بجې وې، چې ډریور له اخوا ټیلفون وکړ، چې د کام ایر شرکت پر ضد مظاهره ده او اخوا ټوله لاره بنده ده، د شرکت دفتر تړلی څنګه چل وکړم، د شرکت خلك وایي چې د مارچ پر(۱۸) د پنجشنبې ورځې پرواز د شنبې ورځې ته معطل شو او مساپرین یې ټول رخصت کړي، زه ډېر زیات خپه شوم، فراهي صیب وویل، خیر نو اوس څه وکړو، ما وویل ونه شو تېر به شو تړې، د شنبې تر ورځې زما د وېزې وخت ختمېږي بیا تګ نه کېږي، همدا بحث مو کاوه چې د جمهوري ریاست د تشریفاتو د څانګې مرستیال ښاغلي (بلال احمدزی) چې زما او دفراهي صیب دواړو ملګری و، له خپلو څو

تنو ملګرو سره راننوت، ستړي مشي مو سره وکړل، فراهي صيب لږ خبرو کې مصروف شو، بلال احمدزی زما ترڅنګ کېناست، تر حال احوال وروسته مې ورته وویل، څنګه دي حالات؟ هغه وویل حالات خو به تاته معلوم وي چې پټ پټ ملاقاتونه کوې، ما ورته وویل چې د تشریفاتو مسئول ته یې او معلومات ما سره دي؟ عجیبه ده، همدې خبرو کې وو، چې ده وویل زه والله نن اسلام اباد ته روان یم، ما ویل زه هم اماراتو ته تلم، خو ټکټ پیدا نه شو، شنبې ته معطل شو او شنبه زما وېزه ختمېږي، کام ایر خپل سبانی پرواز کنسل کړ او شنبې ته پاتې شو، بلال وویل (اریانا) کې لاړ شه، نن شارجې ته پرواز لري، ما ویل اوس (۱۲) بجې دي کله ممکنه ده، هغه وویل ورور ته دې ووایه دا څه خبره ده، همدا اوس اریانا ته ټیلفون کوم، ژر یې ټیلفون وکړ، تر لږ مصروفیت وروسته ټیلفون رخ شو. د اریانا یوې ښځمنې چارواکې سره یې خبرې وکړې او ورته یې وویل، چې زما یو نږدې دوست دی غواړي اماراتو ته لاړ شي عاجل د شارجې یو ټکټ ورته ورکړئ، له اخوا اواز راته او ویې ویل چې ټکټونه خلاص دي، خو ستاسو په خاطر به دده یوه چاره وکړو را دې شي. دې وخت کې مې بلال احمدزي ته وویل اندېواله که غواړې ټکټ راته واخلې، نو راسره لاړ شه، دا ټکټونه په ټیلفونونو نه کېږي، هغه ویل ځم درسره، خو دې فراهي صیب سره مې یو پټ کار دی دلته ډېر خلك دي او دی هم سخت مصروف دی، ما ویل دده کار دې پر ما ، همدا اوس یې

درته وزګاروم او هلته به په بل اتاق کې ورسره پټ کېني او خپله خبره به خلاصه کړي، ده وویل فقط لس دقیقې.

ما فراهي صیب ته وویل، دبلال درسره فقط لس دقیقې مخفي کار دی چې ده سره ځان ته وګورې او ستا تر کتنې وروسته یې زه ځان سره بیایم، چې د اریانا ټکټ راته واخلي، هغه وویل اریانا نن پرواز لري؟ بلال وویل هو! زه ورته ټکټ اخلم، دې وخت کې فراهي صیب وویل دا دی مفت ټکټ کې دې نصیب نه و، اوس به دا پیسې دربانديې راځي، دې سره یې ټوکې وکړې ویل یې ځه ددې ټکټ قصور به بیا زه په وچه درکړم.

بلال او د هغه ملګرو فراهي صیب سره څو دقیقې وکتل او نور زه، بلال او د هغه نور ملګري د هغه په موټر کې له تجارت وزارت څخه د وزیراکبرخان مېنې په نیت په موټر کې سواره شو.

کله چې د طلایي زنبق څلورلارې ته راورسېدو، نو لاره سخته بنده وه، بلال وویل نن د امریکا د بهرنیو چارو وزیره (مېرمن کاندولیزارایس) راځي او دا لاره یې د هغې په خاطر بنده کړې ده. له همدې څلور لارې دنوي ښار پر لوري لاړو او بیا د شېرپور په نویو جوړو شویو کورونو کې مو په سختۍ سره ځان د ماشوم روغتیا روغتون ترڅنګ ورسوه، هلته نو لاره سخته بنده وه او بلال له خپلو ملګرو سره خدای پاماني وکړه او د شاندیز هوټل مخامخ راډیو ټلویزیون شمالي دروازې ته یې چې په همدې کونج کې د اریانا افغان هوایي شرکت دفتر دی، ځان ور ورساوه، پوره

یوه بجه وه، د د فتر ور تړلی و، بلال دروازه ټك ټك کړه، یو چا ور ببرته کړ، دې وخت کې یو شخص چې د اریانا د ټکټ مدیر و، د بلال مخې ته راپورته شو او هغه سره یې ښه ګرم روغبړ وکړ، هغه ورته زه معرفي کړم او ویې ویل چې عاجل ټکټ په کار دی، هغه وویل: لست پوره دی، خو ده ته به یو هوایي ټکټ ورکړم توکل پر خدای. ډېر ژر یې راته ټکټ ولیکه ویې ویل دوه طرفه که یو طرفه ما ویل یو طرفه؟ سملاسي یې تعرفه راکړه، چې پیسې تحویل کړم، دخزانې شعبې ته چې ورغلم د هغې شعبې مدیر ته یې زه ور معرفي کړم هغه تر ما هم زړه خوږینی و او د ترانسپورت وزارت له وزیرښاغلي (قاسمي) څخه یې ډېر سر ټکاوه، ویل یې په زړه بین سره پښتون نه پرېږدي او تقاعد شوي هزاره ګان یې بیا مقرر کړل، دا زما عرض به کرزي صیب ته ورسوې، د خدای لپاره چور روان دی چور. ما ویل ښه به وي چې تاسو خپله کرزي صیب سره وګورئ، هغه وویل، کاشکې ما ورته څوك بوځي چې زه یې سر خلاص کړم. دې وخت کې بلال څخه ما د ټکټ د پیسو پوښتنه وکړه مسئول مدیر ماته وویل، ډالر یا افغانۍ؟ ما ویل ما خو افغانۍ او ډالر کور کې کېښودل، ځکه چې ما ویل نن به ټکټ ونه شي خو اوس راسره جیب کې د یو چا څه امانت کلدارې دي، هغه ویل کلدارې خو نه اخلو، خو ستاسو په خاطر به اوس چاره وکړو، حساب یې وکړ ټولې لس زره کلدارې شوې. ټکټ یې راکړ، دې وخت کې زه او بلال د هغې مېرمن شعبې ته لاړو چې ده ورته (۱۲) بجې ټلیفون کړی و، ښه لوکسه ښایسته ښځه وه،

هغې ته یې وویل: چې دادی ټکټ مو واخیسته، هغې ویل ښه شو، دې وخت کې ما وویل پرواز څو بجې دی، هغې وویل څه همدا اوس ځان رسوه، بلال وویل پنځه بجې پرواز دی، نو اوس څه کوې؟ هغې ښځې وویل (۲) بجې ځان ورسوه چکن کېږي، بلال نه مې خدای پاماني واخیسته، له همدې ځایه د شش درك پر یوې پلې لار روان شوم، پر لاره مې پیربخش او حاجي صیب ظاهر ته تلېفون وکړ، چې په دوبۍ کې ضروري نمبرونه راکړي، حاجي صیب ظاهر راته وویل چې خپل فلایټ نمبر او وخت راته راکړه، کله چې څې هلته به میدان کې سړی درته ولاړ وي. پیربخش د خپل ورور حبیب نمبر راکړ او ویې ویل چې تر تګ دمخه یې یو ځل چك کړه.

یوه نیمه بجه مې حبیب ته ټلیفون وکړ، هغه وویل چې ماته حاجي صیب ظاهر ټلیفون کړی و، په خیر راشې موږ درته منتظر یو. نیم ساعت کې مو دریشي، بیك او نور شیان منظم کړل او د سفر خرچه مې ببله کړه، نږدې (۱۵۰۰) ډالر. خپل اخښې مروان ته مې وویل تر هوایي ډګر راسره لاړ شه، کله چې له کوره بهر شو، نو د شش درك څلورلارې کې بیا موټر ولاړ دي او لاره بنده ده، ګومان کېده چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیره له دې لارې تېرېده، تر څو دقیقو انتظار وروسته لاره بېرته شوه، یوه ټکسي راغله، چلوونکي ته مې وویل، چې تر هوایي ډګره به په څو لاړ شي؟ هغه وویل پنځوس افغانۍ، موټر ته وختلو تر څو دقیقو څنډ وروسته هوایي ډګر ته ورسېدو، تر لومړۍ چك پوستې تېر شو،

خو هوايي ډګر ته لا نه وو رسېدلي، چې بيا پوليسو ودرولو ويل يې اجازه نه شته، ټکسيوان ته مو پيسې ورکړې او هغه مو رخصت کړ، خو کله چې مو غوښتل ترمينل ته داخل شو عسکرو وويل پرواز نه شته اجازه نه شته، دې وخت کې دوو کسانو نورو چې غالباً د پکتيا له سيمې به وو، هم ډېر فرياد کاوه او ويل يې، چې ورورره موږ ته يې ويل چې دوه بجې راشئ او اوس دوه نيمې بجې دي، ته وايې چې پرواز نه شته، که موږ له پروازه پاتې شو زموږ تاوان څوك راکوي؟

دې وخت کې دې پوليس ته ما وويل صاحبه ته پټکه مه کوه ته اول خبرې ته غوږ کېږده، نن پنځه بجې پرواز دی، دا ټکټ ته وګوره، اوس دوه نيمې بجې دي، څو چې دا خلك ترمينل ته داخلېږي ددوی شيان او اسناد چکېږي پنځه بجې کېږي داسې خو نه دی چې پنځه بجې پرواز دی او دا خلك فکس پنځه بجې حاضر شي، موږ ته يې (۲) بجې وويل اوس لا ان دوه نيمې بجې دي.

دې وخت کې دهوايي ډګر يو بل پوليس راغی او دې نورو پوليسو ته يې وويل: دا پرېږدئ چې ځي هلته خپل مالونه او اسناد چك کوي او کله چې پنځه بجې پرواز وي دوی تيار وي، داسې خو نه کېږي چې د پرواز په وخت کې دوی تاسو پرېږدئ، همدې سره يې اول ماته بيا دې نورو ته اجازه ورکړه، ما له مروان سره خدای پاماني وکړه او خپل موبايل ټلفون مې هم هغه ته

ورتسـلیم کـړ، (۲۵) کـم درې بجـې ترمینـل تـه ور داخـل شـوم، د (جدې) او (شارجې) پرواز مشترك و او بل پرواز اسلام اباد تـه و، چې اکثره بهرنیان په دې پرواز کې وو، د جدې او شـارجې پـه لـین کې اکثـره کاروبـاري خلـك یـا هغـه کـاریګر وو، چـې پـه امـاراتو او سعودي عربستان کې یې کار کاوه، جامې یې پـاکې نـه وې، عینـاً داسـې لکـه پـه افغانسـتان کـې، چـې تـازه لـه کـوم کـارځي څخـه راستانه شوي وي، خو د یو نـیم پـه کـې پـاکې او سـپینې جـامې پـه تن وې، یو څو تنو لا پـه کـې احرامونـه هـم تـړلي وو. زه د(جـدې) پـه لین کې ولاړ وم، خو په دې لیکـه کـې یـو چـا راڅخـه پوښتنه وکـړه چې شارجې ته ځې که جدې ته؟ ما ویـل شـارجې تـه، نـو ویـې ویـل هغې بلې غرفې ته لاړ شه، چې فرصت په کې دی، هغه د شـارجې غرفه ده، ربښتیا هلته چې لاړم څوك نـه وو، ژر یـې زمـا پاسـپورت او ټکټ وکتل او د الوتکې دسیټ یو ټکټ یې هم راکړ. ښي لاس ته یوه بله غرفه هم وه، په هغې کې یوه پاڼه وه، چـې تـر وتـو دمخـه باید هغه ډکه شوې وای، په هغې کې نوم، د مېـرمن نـوم، کورنـۍ نـوم، د پاسـپورت نـومره، د وېـزې نـومره لـه کومـه ځایـه ویـزه اخیستل شوې او کـوم ځـای تـه ځـې؟ دا فورمـه مـې ډکـه کـړه، دې وخت کې یو ږیرور دریشي کړی سړی د همدې غرفې دمېز تـر شـا ولاړ و، پاڼې یې ډکولې، ما فکر وکـړ چـې دی رسمي مـامور دی، مـا ویـل مـدیر صیب دا زمـا پاڼـه واخلـه، هغـه فکـر وکـړ، چـې زه غوارم په ده پاڼه ډکه کړم په ډېر غرور یې وویل زه وروره مـامور نـه یم په بل چا یې ډکه کړه، مـا ویـل پاڼـه مـې ډکـه کړې دا وایـه چـې

چاته يې وسپارم؟ هغه يوې بلې غرفې ته اشاره وکړه دوه تنه په کې ناست وو، د دواړو مخې ته کمپيوټر ايښي و او پوليسي درېشۍ يې اغوستې وې، زما پاسپورت، ټکټ او پاڼه درې واړه يې وغوښتل، پاڼه يې وکتله يوازې دپاسپورت د اخيستو ځای ننګرهار ولايت يې په کې زيات کړ، پاڼه يې راستنه کړه، پاسپورت کې يې خروجي ټاپه ولګوله، همدې سره دترمنيل بهرني هال ته لاړم، چې ګورم دوه دوه نيم سوه کسان په کې ناست او څه ولاړ دي، همدلته يو کوچنی کانتين هم شته او په يوه وړوکي پارتيشن يې د لرګي په کړکيو جلا کړی، په دري ژبه پرې ليکل شوي چې د انټرنيټ اسانتيا شته، خو دا وخت په واقعيت کې دا اسانتيا نه وه، په دې کانتين کې د شيانو بيه د بازار تر نرخه يو نيم چند زياته وه، يوه پياله چای او نا الکولي مشروبات، وچ چپس، نخود او د خارج لپاره پسته او بادام په کې پيدا کېدل، پر چای د خلکو رش زيات و، نيم ساعت انتظار چې مې وويست، نو لږ تږی شوم، کانتين والا ته مې وويل، چې يو ګيلاس چای به وي، هغه وويل چای خلاص شو، مجبور شوم پيپسي مې واخيسته، دا وخت په کابل کې هوا داسې وه، چې پيپسي چنداني ښه نه لګېده. په زور مې وڅښله، ددې هال سور او اوږدوالی تقريباً مساوي و (۱۵×۱۵) متره به و، تر اوسه چې ما د نورې نړۍ کوم هوايي ډګرونه ليدلي ان د (کويټې) او (ترمز) له هوايي ډګر سره هم د پرتلې وړ نه و، پېښور، اسلام اباد،

کراچۍ، تهران، کوپنهاګن، فرانکفورت او نور هوايي ډګرونه خو لا څه کوې.

په دې ترمینل کې ټول (۳۰۰) تنو په شاوخوا کې په ولاړه او ناسته ځایېدی شي. ځلور بجې شاخوا به وې چې اسلام اباد ته دملګرو ملتو (UN) د ځانګړي الوتکې د الوتنې وخت راورسېد، اکثره بهرنیان همدې پرواز ته منتظر وو، هغوی په نوبت سره له ترمینله ووتل او په یوه مخصوص (۳۰۲) ته ورته سرویس کې د الوتنې تر ځایه ورسېدل، نیم ساعت به لا تېر نه و، چې په ترمینل کې یو پولیس او یو هم بل البته مسئول شخص اواز وکړ: د شارجې او جدې مساپرین دې تیار شي، اعلان له لوډسپیکر پرته و، اشخاص همداسې ګرځېدل، دې وخت کې زیات خلك په لین کې ودرېدل، خو یو نیم په کې بې نوبتي او وارخطایي هم کوله، یو څو تنه لا پر خپلو څوکیو غلي ناست وو، دې وخت کې ما له یو تن څخه پوښتنه وکړه، چې د الوتکې څوکۍ نومرې نه لري که څنګه چې دا ځیني خلك داسې وارخطا دي؟ پر څوکۍ یو ناست سړي وویل، دا کارونه خو زموږ د افغانانو عادت دی، والله که خو یې اصلاح کړي.

زه هم په لین کې ودرېدم، کله چې له ترمینل نه وتلو، نو زموږ ټکټونه یې چکول، د الوتکې د څوکۍ ټکټ یې په نیمه نیماوه او د نومرې برخه یې مساپر ته ورکوله، سم لاسي یو اوږد ګاډی راغی، څوکۍ په کې کمې وې، خو د ودرېدو لپاره یې ځایونه ښه

وو، پاس د لاس د نیولو ځایونه او تسمې په کې وې، تر یوې نیمې دقیقې مزله وروسته د اریانا افغان الوتکې وروستۍ برخې ته ورسېدو، ټول مساپر یې په لین کې ودرول او دوو پولیسو په منظم ډول د اسنادو پر چکولو پیل وکړ، د هر چا ټکټ وېزه او پاسپورت یې چکول او بیا یې الوتکې ته د جګېدو اجازه ورکوله، الوتکې ته د ختو همدا یوه لاره وه، نورې لارې بندې وې، پر الوتکه لیکل شوي وو، (۷۲۷) بوینګ، د الوتکې تخنیکران څو ځله تر الوتکې ګردچاپېره وګرځېدل، د الوتکې وزرونه، ټایرونه او شا یې ټول چك کړل، هر ځای به یې په لاس ډباوه او بیا به یې کاته، له لاندې یې پاس خوا ته ښه ډېر وکتل، ټول په نوبت کې ولاړ وو، کله چې زما نوبت راورسېده، نو تر ما دمخه شخص په وېزه کې لکه چې وخت کم پاتې و، یو تن پولیس وویل چې ستاسو وېزه ختمه ده، مساپر وویل درې ورځې پاتې دي، هغه پاسپورت پولیس ته ورکړ، ورته یې وویل چې زه خو وایم چې وېزه ختمه ده او دی وایي چې پاتې، ته وګوره چې څنګه ده؟ هغه پولیس چې پاسپورت ته وکتل ویې ویل ربښتیا ددې وېزه کې وخت شته دا دی ویې ګوره، دې وخت کې دې پولیس هغه بل ته ټوکه وکړه ویې ویل ترڅو به زه درته ژوندی یم او د وېزې چلونه به درښیم، دواړه پولیس پښتانه وو او مساپرین هم تقریباً په سلو کې (۸۰) پښتانه وو، الوتکې ته وختو، په لین کې ودرېدلو به ټول (۱۰) دقیقې وخت نه وي نیولی، کله چې الوتکې ته پورته شو، خپل ټکټ مې ښکاره کړ یو مساپر راته وویل، مخکې لاړ شه (۱۴)

ډېر مخکې دی، زما د ټکټ نومره (۱۴) وه، ښه وړاندې تقریباً د الوتکې له لومړۍ برخې سره نږدې مې د الوتکې دسیټونو له مسئول شخص نه پوښتنه وکړه هغه وویل دغه دی کېنه. هر لین کې درې څوکۍ وې، یوه د الوتکې د کړکیو بله په منځ کې بله ددهلېز خوا ته، ما ته یې وویل چې په منځ کې کېنه، هلته بل مساپر و ما ویل چې دلته خو بل څوك دی، هغه چې خپل ټکټ ښکاره کړ هغه هم (۱۴) و، مسئول شخص وویل هو والله ډبل راغلی، دا خو اوس ټولې څوکۍ غلطېږي، دې وخت کې ما ورته وویل وروره زه جنجالي سړی نه یم، ددې په خاطر چې ټولو مساپرو ته جنجال پیدا نه شي، همدا اوس ماته بل سیټ پیدا کړه، دا غلطي هم همدا اوس حل کړه چې ټول بېغمه شي.

دې وخت کې یو بل کارکوونکی راغی، هغه ماته وویل خیر دی پروا نه کوي، نور به نه غلطېږي همدا یو ټکټ ډبل شوی، هغه بل مساپر ته یې وویل ورو ره ته ددې شیشې خوا ته سیټ کې کېنه دی به خپل سیټ کې کېني مشکل حلېږي، موږ کېناستو زما د ښي لاس سیټ خالي و، تر لږ ځنډ وروسته یو بل ځوان چې یو بیك او په دسمال کې غوټه شوي کالي ورسره وو، همدې مسئول ته راغی او ویې ویل: زما څوکۍ چېرته ده؟ هغه زما ترڅنګ کېناوه، خیرنې او خولو وهلې جامې یې پر تن وې، له روزګاره ډېر ستړی ښکارېده، ستړي مشي یې راکړل، ما ورته وویل بیك او جامې دې پاس کېږده او خپله ارام کېنه، کالي یې ځای پر ځای کړل، زما ترڅنګ کېناست، ما ته یې وویل پښتون یې؟ ما ویل

هو، د کوم ځای یې؟ د لغمان، چېرته ځې؟ شارجې ته، څه کوې؟ خپـل دوسـتان او انـډیوالان ګـورم، دولتـي یـې کـه شخصـي؟ شخصي، ښـه ده ډېره ښـه ده، مـا ویـل چـې مـوږ غونـدې مزدورۍ پسې سرګردان یې کـه څنګـه، دا څنګک تـه دې لکـه چـې پاړسیبان دی؟ ما ویل هو دی فارسي وایي.

ما ویل ښه ځوانه اوس ته ځان معرفي کړه، د کوم ځای یې چېرتـه ځې او څه کار کوې؟ اصل نوم مې سمعیل (اسمعیل) دی، خو پـه پاسـپورت کـې مـې نـوم (نیازمحمـد) دی، ان پـلار مـې هـم پـه نیازمحمد نه پېژني.

دا ځکه چې زه څو کاله مخکې دطالبانو په وخت کې سعودي تـه تلم، نو د پاکستان پـه پاسپورت لاړم، هلتـه مـې نـوم بـدل ولیکـه، اوس چې مې پلار نه پوښتنه وکړې چې نیازمحمد پېژنې هغـه یـې قـران کـه وپېژنـي، جـدې تـه ځـم هلتـه کـار کـوم، کوهیـان وباسـم. کوهیانو کې ګټه شته؟ پخوا ښه وه دا سخت کار دی یـو کـوهی بـه مـو پـه زر یـو نـیم زر ریالـه وېسـته، خـو اوس بـرمې راوتـي دا دلـه ګـان ټول اوس برمې وهي، خو بیا هـم خپـل قسـمت را رسېږي، مـا او نیازمحمد خپلې کیسې کولې، چې دې کې د الوتکې د پیلوټ له خوا انانس ورکړ شو چې الوتکه پرواز ته تیاره ده، پـوره (۵) کـم پنځه بجې پرواز پیل شو، پیلوټ وویـل زه هاشـمي ستاسـو پیلـوټ یم زموږ پرواز پیلېږي تـر شـارجې پـورې بـه دوه سـاعته او پنځـوس دقیقې مزل وي، په شارجه کې به لنډ توقف او بیا بـه لـه هغـه ځایـه

جدې ته په خیر سره پرواز وي، پیلوټ خپل انانس په دریو ژبو پښتو، دري او انګلیسي ورکاوه.

پیلوټ وویل په الوتکه کې دحرارت درجه په نورمال حالت ساتل کېږي، زموږ پرواز به د بحر تر سطحې څخه (۲۸۰۰) فټه لوړ وي. کله چې الوتکه دکابل له هوايي ډګره والوته، نو پر کابل ښار يې څو دورې وخوړې، نیازمحمد چې کله لاندې کابل ښار ته وکتل ویې ویل های، های کابله بیا به مړیم که ژوندی چې ودې ګورم؟ دې وخت کې یې بیا وویل کابل ښه ښار دی، ښې ډېرې اوبه لري خو ډېر ناپاکه او له ختو ډك دی. دسعودي ښارونه څومره پاك دي، جده، ریاض څومره پاك دي.

ما ویل هغوی خو کار کړی، هغوی خو پیسې لري دلته څه دي جنګونه دي او مرګونه، ده ویل رښتیا وایې والله چې نیازمحمد یو ځل بیا یو سوړ اوسیلی وکښ، خدای خبر چې بیا به خپل وطن ته راشم، اوس مې هم له موره پټ راغلم، ښځه مې هم خبره نه کړه، یو وړوکی زوی لرم ډېر راباندې ګران دی، زه چې به چېرته دباندې تلم هغه به هم راسره ته، یوه شېبه یې یوازې نه پرېښودم، دا جامې ګوره دا ولې داسې خېرنې دي؟ له کوره پټ راوتی یم، که مې مور خبره شوې وای، چې په دې نېټه زما د تګ وخت دی نو ډېر به یې ژړلي وای، ما دهغې ژړا نه شوه زغملای نو ځکه پټ راغلم، نور خو په هر ترتیب، پلار او کوچني ورونه، خو مور او کوچنی زوی مې ډېر یادېږي. دې وخت کې یې دخپل کوچني زوی

تصویر راوویست نږدې و، چې دنیازمحمد سترګو کې اوښکې راشي، خو ما یې لاس ټینګ کړ او غوښتل مې خبره په بله واړوم، څه ځوانه په ژوند کې دا سختې په هر چا راځي په زوی دې تعلیم وکړه ته اوس پیسې وګټه همدا دې دګټې وخت دی، دځوانۍ قوت هر وخت نه وي. نیازمحمد بیا خبره واخیسته ګټه مټه نه شته، پس له دریو کلونو کورته راغلی وم، هغه داسې نه چې په خپله خوښه راغلم، په کوهي کې مې کار کاوه له پاسه رابانډې ډبره راګوزاره شوه، په ورانه کې مې پښه ماته شوه، همالته سعودي کې یې پښه راته وتړله_ په تیاره کې یې واچولم، په څوکۍ کې نه، هلته د تیارې په شا کې په یو ځای کې پروت وم، خوست ته لاړم دا یو کال کور کې وم همدا اوس چې مې پښه ښه شوه دادی بېرته روان یم، ګټه مټه نشته، څه پیسې هغه چاته ورکوم، چې زه یې بیولی یم، څه پیسې هلته عرب ته ورکوم چې هغه ما تصدیقوي، چې ماسره کار کوي، څه پیسې د اتاق او ډوډۍ شي، کله اوزګار پاتې شم دتیارې ټکټ (۲۸۰۰۰) روپۍ دی دچا پلار به یې پوره کړي، زړه مې دی، چې دا ځل درې کاله تېر کړم او خپل قرضونه ټول خلاص کړم، نور بېرته خپل وطن ته لاړشم، مېرمن دمسافرۍ... مسافري ډېر سخت شی دی، خدای دې جمله مسلمانان ترې وساتي.

دنیازمحمد د نیاز او رازکیسې خورا اوږدې وې، خو په همدې مې ورته تسکین ورکړ، چې خیر دی کار کوه، خو په زوی دې ضرور تعلیم وکړې او ده هم راسره ومنله. نیازمحمد وویل، یاره

چې دا یو زوی یې راسره پرېښی وای بیا به مې هم دومره زړه نه تنګېده، خو دکافر زامن دي والله که ماشی تېرولای شي. ما او نیازمحمد به دخپلو خبرو په بهیر کې کله کله لاندې ځمکې ته هم کتل، الوتکه یو وخت دلوړو غرو پر سرو روانه وه لاندې، سپیني واورې وې، ما دخپل ښنګ ملګري نه پوښتنه وکړه، چې دا کوم ځای دی؟ هغه وویل سالنګ است کوهای هندوکش، ټول غرونه په واورو پوښلي وو او د ښیرازه راتلونکي زېری یې ورکاوه، نور، نو الوتکه دومره لوړه وه، چې ترې لاندې د ورېځو او ګرد له امله هېڅ نه معلومېدل. یو وخت زما د ښنګ بل ملګري وویل به خاك ایران داخل شدیم، تر څو دقیقو مزله وروسته دبحر څنډه معلومه شوه او یو ځای کې درڼا ځرك، کله چې الوتکه ټیټېده، نو رڼا ګانې نورې هم زیاتېدلې، څو شېبې وروسته پیلوټ غږ کړ: اوس موږ د ایران بندر عباس ته نږدې کېږو او (۲۰-۲۵) دقیقې وروسته به په خیر سره د شارجې هوایي ډګر ته ورسېږو. ربښتیا هم شل دقیقې به نه وې تېرې شوې، چې دبحر تر غاړې د رڼاګانو څرکونه ولګېدل، هرې خواته رڼاګانې، دبحر تر غاړې په منظم ډول درڼاګانو دومره څراغونه بل وو، چې اټکل یې نه کېده. دا څراغونه داسې د بحر تر غاړې راتاو لکه د ناوې په غاړه کې چې امېل وي. دبحر ټولې خواوې ځل وبل وې څو شېبې وروسته دشارجې هوایي ډګر ته ورسېدو، پیلوټ غږ کړ، الوتکه دکوزېدو په حال کې ده، لطفاً خپل کمربندونه وتړئ الوتکه په هوایي ډګر کې تر یو څرګند ټکان وروسته کښته شوه، سملاسي یو موټر د

الـوتكې تـر كښتــه كېـدو وروســته راورسـېد ، پيلـوټ غـږ كـړ، دشارجې مسافرينو ته ښه راغلاست وايـم او د جدې لـه مسـافرينو څخه هيله كوم، چې پر خپلو څوكيـو كېني، الوتكه ديـوه ساعت لپاره توقف كوي او بيا له خيره جدې ته پرواز كوي، وخت دماښام (۷) بجـې او (۴) دقـيقې وې، مالــه نيازمحمـد او دخپـل څـنګك ملګري څخه خداى پاماني واخيسته، دې وخت كې بسـمل علـوي صـيب (د افغانسـتان تجـارتي اتشــه) راباندې غـږ كـړ، چـې يـون صـيب يكجا ميرويم، كله چې پـه كابـل كې زه الـوتكې تـه پورتـه شوم، نـو علـوي صـيب هم ناست و روغبړ يـې راسره وكړ او ويې ويل چې كام اير پرواز كنسل شو، نو ځكه زه هم دلته راغلم او ښـه شو، چې سره يو ځاى شو، بيا به دكښته كېدو پـه حالـت كې سره وګورو ماويل سمه ده.

زه، علـوي او پـه الـوتكې كـې دشـارجې نـور مسـافرين ترمينـل تـه ورداخل شو. دپاسپورټ او وېزې چك ځانګې مخې تـه پـه لـين كـې ودرېدو، دهر چا نوبت چې ورته، نو لومړئ يـې پـه يـوه مخصوصـه كامره كې چې دېوال كـې يـې نصب كـړې وه دښـي سـترګې عكـس اخيستل كېده، په چپه سترګه بـه دې لاس ايښـوده او ښـي سـترګه به دې دكمرې دايـرې تـه برابرولـه، خارجيـان او نـور مسـافرين څـو ځلـه سـهوه شـول، خـوزه يـو ځـل سـهوه شـوم او بيـا زمـا تصـوير واخيسـتل شو.

پاسپورت مې غرفه کې مسئول شخص ته ورکړ. یو ځوان عرب په سپینو جامو کې ناست و، مخې ته یې کمپیوټر ایښی وی، زما پاسپورت یې واخیست، کمپیوټر کې یې څه ولیکل، تر لږ ځنډ وروسته یې ټاپه کړ، یانې دخولي یې ووهله او بیا یې راکړ، له ترمینل نه زه او علوي بهر شو، علوي ماته وویل څوك نه دي راغلي، ما وویل کېدی شي راغلي وي، خو هغه زه په څېره نه پېژنم، کېدی، شي تلیفون ورته وکړو، علوي خپل تلیفون راواخیست ما دحبیب نومره ورکړه هغه لاتر څو نومره دایرولـه چې زما مخې ته په سپینو جامو کې یو تن صوفي زما نوم (اسمعیل یون) په سپین کاغذ لیکلی او ولاړ دی، ما علوي صیب ته وویل دغه دی ولاړ دی، ما وویل زه اسعمیل یون یم. هغه روغبړ راسره وکړ له علوي صیب نه مې خدای پاماني واخیسته، هغه وویل که څه مشکل وي بیا ته ماته تلیفون وکړه، ما ویل نه مننه اوس مې خلك پیدا کړل.

په تلیفون کې ماته حبیب وویل، چې یا به دلاجان درته میدان ته درشي او یا هم تاج ولي، کله چې ټکسي کې کېناستو، نو دلا جان ته مې وویل تاسو خو تاج ولي نه یې؟ هغه وویل نه زه دلاجان یم، تاج ولي او حبیب سخت مصروف وو، نو ځکه زه راغلم. دلاجان سره په خپل راوړي موټر کې کېناستم، کله چې له هوایي ډګره وتلو د ټکس غرفې ته لاړو، کمپیوټر پاڼه ورکړه او ده خپل ټکس تحویل کړ، پاټك جګ شو او روان شو، دلاجان وویل: چې دلته ټکس د وخت له مخې دی څومره چې دلته درېږې همدومره ټکس به

ورکوي، نو له دې لارې دوی ته ډېر عایدات راځي. دلا جان ته مې وویل چې دې ته کوم ځای وایي؟ هغه وویل: چې دې ته عرب (شارقه) او نور بهرنیان ورته (شارجه) وایي، د متحده عرب اماراتو یو امارت دی، چې د ابادۍ او اقتصاد له مخې په اماراتو کې (څلورمه) درجه کې راځي، د اقتصاد له پلوه اول دوبۍ چې تجارتي مرکز دی بیا ابوظبۍ چې مرکز دی بیا الاین بیا شارجه او نور دي ټول اوه امارته دي.

دلاجان چې ښه صوفي او دینداره مسلمان شخص معلومېده، وویل چې دشارجه د امیر یو ښه کار دادی چې دلته یې فحش ښځې منعه کړي، دلته شریعت چلېږي، شراب خوري، بداخلاقي او نورو ناوړه کارونو ته اجازه نه شته. ماچې دشارجې ښار ته کتل، نو په رښتیا ډېر ښکلی راته معلوم شو، واړه، لوړ، او منځني هر ډول تعمیرونه، دښار څلورلارې، مسجدونه، د اوبو فوارې او نورې ودانۍ رښتیا ډېرې ښکلې وې، سړی چې د اماراتو نور ښارونه نه وي لیدلي، نو رښتیا هم داسې تصور کوي، چې تردې نو بالا زیاتې ابادۍ ته ضرورت نه شته او نه امکان لري، تر څو دقیقو مزله وروسته هغه ځای ته راورسېدو، چې ماته ځانګړی شوی و. دلاجان وویل یو ځل به ځای وګورې، بیا دې خوښه چې ماسره ځې ګرځې او که استراحت کوې، وروسته تاج ولي او نور ملګري هم راځي. زه یې الیاسین پلازا ته چې تر (۱۰۰۰) زیات پلاټونه یا اپارټمانونه په کې دي، بوتلم، لفت کې وختلو، څلورم منزل (۶۰۸) نمبر پلاټ، ژر مې د پلازا

نوم او د پلاټ نمبر یاداشت کړل، په دې پلاټ کې دوه خوب خونې، یو صالون، دوه تشنابه او یو پخلنځی شته، چپرکټ او بستره او نور لوازم یې ټول پوره وو، تلویزیون هم په صالون کې پر مېز ایښی او دکېبل لین ورته راتېر و،دلاجان زما بیك په اتاق کې کېښود، ماته یې وویل: دغه ځای دی خوښه دې استراحت کوې او که ماسره ځې؟ ما وویل: چې استراحت وکړم ښه به وي بیا به سبا سره ګورو، فقط ماته تشناب راوښیه او دا تلویزیون که راته چلان کړې خبرونه مبرونه به واورم، هغه تشناب راوښود، تلویزیون کې یې ګوتې متې ووهلې اخر یې وویل: دده په چلانولو والله نه پوهېږم ما مخ ولاس ومینځه او همداسې په چپرکټ کې پرېوتم، خوب وړی وم یو وخت مې د دروازې زنګ ترغوږو شو، ور مې بېرته کړ، چې ګورم دوه تنه ځوانان راغلل، او روغبړ یې راسره وکړ. یو تن تاج ولي و او بل هم د هغه ملګری، تاج ولي وویل موږ ته حاجي صاحب ظاهر هم تلیفون کړی و، چې تاسو ته هوټل کې ځای ونیسم، ماځکه دا ځای مناسب وګاڼه، چې زموږ خپل ځای دی موږ هم وخت پر وخت راتلای شو او پوښتنه دې کولای شو هوټل داسې ځای وي چې بل بلدي شخص در سره نه وي، باندې به هم وتلی نه شې او زړه به دې په کې تنګ شي، ما ویل نه دا تر ټولو ښه ځای دی، دې وخت کې هغه په یو دیګي کې چرګك غوښه پخه کړې راوړې وه او هم ډوډۍ او هم یو بوتل پیپسي او اوبه ورسره وې. ډوډۍ یې تیاره کړه، ډوډۍ مو وخوړه، تاج ولي سره مې یوه شېبه ګپ ولګاوه، هغه ویل، زه خپله میدان

ته درتلم، خو نن دلته ددې بلاك شاته د كركټ ميدان دی، دلته زموږ او د نورو ترمنځ دكركټ مسابقه وه زه هغې ته تللی وم او همدا څو شېبې مخکې ترې راخلاص شوم، اوس مې دا ټول وجود همداسې درد کوي ما ويل دا ووايه چې لوبه چا وګټله؟ ده وويل لوبه والله هغوی وګټله ما ويل اوس، خو به دې وجود ضرور درد کوي، که تاسو ګټلې وای بيا کېدی شو درد يې نه وای معلوم شوی، هغه په خندا شو هو همداسې ده.

څو دقيقې تاج ولي او ملګري سره يې ناست وو، هغه وويل: دلته دخلکو دکار وختونه فرق کوي دسيل او استراحت وختونه هم بېل بېل دي، ددې ځای شيخان يوازې يوولس بجې خپل کارځي ته ځي، هلته هم دخپلو نورو کاروباريانو دليدو په خاطر يوه شېبه چاسره په موبايل خبرې وکړي او يا دخپلې معشوقې تپوس وکړي، نور بېرته لاړ شي، دماسپښين تر لمانځه وروسته بيا د خوب وخت وي، تر مازيګر وروسته بيا د چکر وخت وي، البته هغه عرب چې په رسمي دفتر کې کار کوي هغوی سهار تر اتو بجو دمخه خپلو دفترو ته ځي تر (۲) کار کوي، د افغانانو دکار ټايمونه هم مختلف دي.

تاج ولي تلويزيون راته چلان کړ او چل يې هم راوښود، ويې ويل چې دلته تلويزيوني چينلونه هم کنټرولېږي او دولت ناوړه چينلونو خپراوي ته اجازه نه ورکوي، دا کېبل هغه تلويزيوني چينلونه را اخلي چې اخلاقي فساد نه خپروي، تاج ولي وويل: زه

درځخه اوس ځم سبا بـه انشـاء الله چېرتـه لـړې لاړ شـو او چکـر بـه ووهو. ماوویل ټیك ده.

یـو څـو شـېبې تلویزیـون تـه کېناسـتم، اکثـره عربـي چینلونـه وو، دپاکستان تلویزیوني چینلو په مقدار ازادي یـې لرلـه، ځیـنې لا تـر هغـو هـم تېـز وو، څـو شـېبې مـې دهسـپانیي او ایټـالیي تـرمنځ دفوټبال یوه جالبه مسابقه وکتله او بیـا ویـده شـوم، سـهار چې لـه خوبه پاڅېدم، نو تشناب کې مې سر او ځان ووینځـه، دریشـي مـې وکـړه، تـر یـو څـه ځنـډ وروسـته، چـې مـې سـاعت تـه وکـتلې د افغانسـتان پـر وخت (۸) بجې وې، مـافکر کـاوه چې اوس بـه تـاج ولي دوی راشي، یو څو شېبې انتظار مې وویست څوك رامعلـوم نه شول، له کړکۍ نـه مې بهـر وکتـل، پـر سـړکونو ګڼـه ګـوڼـه ډېـره کمه وه، تېر ماښام چې مـا پـر دې سـړکونو کومـه ګڼـه ګـوڼـه لیـدلې وه دهغـې نیمـه برخـه هـم نـه وه، وروسـته راپـه یادشـوه، چـې نـن دجمعې ورځ ده، همدې وخت کې د دروازې زنـګ راغـی، ور مـې ببرتـه کـړ، یـو څـوك راننـوت السـلام علـیکم، مـا ویـل، وعلـیکم السلام، نورې خبرې یې ونـه کـړې، دوه ترمـوزه چـای او یـوه غـوړه ډوډۍ یې له کاغذه راخلاصه کړه او پر مېز یې کېښودل، ماته یـې ویل "یی هی تمارا چای" زه پوه شوم چې دا کوم اردو ژبـې دی او تـاج ولـي ورتـه د سـهار د چـای سپارښتنه کـړې ده، ده ماتـه چـای کېښـود پـه پخلنځـي کـې یـې ټـك ټـوك وکـړ او نـور لاړ، مـا چـای وڅښــه، څــو شــېبې وروســته رابانــدې خــوب راغــی، همداســې دریشــۍ کــې پــر چپــرکټ ویــده شــوی وم، چــې د دروازې زنــګ

راغـی، ګـورم چـې تـاج ولـي او درې تنـه ورسـره نـور ملګـري دي، ماته يې وويل يون صيب تيار يې چې ځو چكرته، ما ويـل: هو، دوی وويل: نن جمعه ده اول به لاړ شو د جمعې مـونځ بـه وكـړو بيـا به لاړ شو چكرته، ما ويل خير يو څو دقيقې وخت راكړئ چې زه اودس وكړم، اودس مې وكړ، ما ويل ځئ چې ځو، كلـه چـې دهلېـز كې له څلورم پوړ څخه په لفت كې كښته كېدلو يو تن پـه دوی كـې ماته وويل يون صيب عمرزيوال پېژنئ؟ ما ويل عمرزيـوال خـو ډېـر دي كوم يو ښيې؟ يو خو هغـه شـاعر عمرزيـوال دی، دوی ويـل: نـه هغـه نـه ښـه يـم، مـا ويـل: هسـې خـو زه ډېـر پېـژنم دلغمـان ولايـت پخوانی مستوفي صيب پېژنم دهغه ټوله كورنۍ، دې وخت كـې ده وويل هغـه زمـا خپلوان دی، مـا ويـل خيـر بيـا بـه ساپي صيب هم پېژني هغه وويل هغه مې مامـا دی مـا ويـل بيـا بـه دزرينـي اسـتاد زوی يې كـه څنګـه؟ ده وويـل بېشـكه دهغـه زوی يـم مـا ويـل څېـره كې هم استاد زرينـي تـه ورتـه يـې، ده وويـل زمـا نـوم عبـدالحفيظ دی، زه سـتا نـوم سـره ډېـر اشـنا وم، تـا زه نـه پېژنـدلم ، خـو مـا تـه پېژنـدلې، پـرون چـې تـاج ولـي وويـل يـون صـيب راځـي نـو زه ډېـر خوشاله شوم، ځكه زه هم ورسره راغلم، عبدالحفيظ نـه مـې دكـور په اړه پوښتنه وكړه، چـې اسـتاد اوس هـم پـه هالنـډ كـې دی كـه بـل چېرته تللی؟ هغه وويل: پلار مې په هالنډ كې دی، خو مـور او دوه ورونـه مـې پـه پېښـور كـې دي، سـاپي صـيب او كورنـۍ يـې پـه استراليا كې دي او زه دلته په اماراتو كې دسپېرپاټو كاروبار كوم زما او د عبدالحفيظ خبرې په موټر كې تر ناستې پورې تمـامې نـه

شوې، په موټر کې زه مخکې سیټ کې عبدالحفیظ او دوه نور ملګري شاته کېناستو، تاج ولي د موټر جلو ته کېناست، په موټر کې مې عبدالحفیظ ته وویل: چې استاد ماشومان څه وخت بیایي؟ هغه وویل: وخت کم پاتې انشاء الله چې لاړ به شي، خو اوس دهالنډ حکومت مهاجرو ته دتګ شرایط ډېر سخت کړي دي، نو ځکه خو دومره ټال شول، که نه وختـه بـه تللي وو، عبدالحفیظ ته مې وویل، چې څنګه ستا پښه خوږې چېرته بنده کړې نه ده هغه وویل: ولې نه دساپي صیب (لطف الرحمن ساپي) له لور سره مې کوژدن شوې، دې وخت کې ما وویل: خېر نو بیا تاسو خو نور هم خپلوان شوې، دې وخت کې ټولو وخندل له شارجې نه د اجمان پر لورې به مو (۲۵-۳۰) کیلومتره مزل کړی و، چې تاج ولي موټر یوه مسجد ته تاو کړ، ساعت ته یې وکتل (یوه بجه) او خدای دې وکړي چې جمعه راڅخه تېره شوې نه وي، ټولو ویل: خدای دې وکړي، چې جمعه نه وي تېره شوې، چې یې موټر ودراوه، نو له مسجده خلك راووتل، زموږ یو تن ملګري وویل اوه جمعه خلاصه شوه، ډېر بد کار وشو، خیر ټولو ویل: چې راځئ خپل لمونځ به وکړو، مسجد ته وختو، ځینو خلکو لا سنت نه و خلاص کړي، په مسجد کې څلور پنځه ایرکنډیشن لګېدلي وو، ډېر ښکلی فرش په کې غوړېدلی و او دلمانځه لپاره ټول سهولتونه په کې برابر وو.

ما مسافرانه او دوی خپل مقیم لمونځونه وکړل، په لمانځه کې ګڼ شمېر افغانان، پاکستانیان او هندیان لیدل کېدل، خال خال

عرب هم په کې وو، دمسجد په برنډه کې کوم شیخ څو کارتنه اوبه راوړې، په پلاستیکي ګیلاسونو کې داسې ایښودل شوې او پوښل شوې وې، لکه بازار کې چې څوك دګیلاسونو مکمل سیټ اخلي، همداسې هر چا دخپلې خوښې مطابق یو ګیلاس را اخیسته او اوبه یې څښلې، تاج ولي هم دوه ګیلاسه راواخیستل یو یې ماته راکړ او یو یې هم خپله وڅښه.

بېرته موټر کې سواره شو او د اجمان پر لورې وخوځېدو، تاج ولي وویل اجمان د اماراتو یو بل امارت دی، خو دا دومره پیسه دار او پرمختللی نه دی، پرمختللي یو دوبۍ، ابوظبۍ، العین دي، دې نه وروسته بیا ام القوین راځي، هغه هم دومره مالدار نه دی، تر هغه وروسته راس الخیمه ده او تر هغه وروسته بیا الفجیره ده.

که نن خدای کول موږ به دا ټول ګورو، رښتیا اجمان نه خو په دې لاره لاره ووتو، دسړك دواړه غاړې ښې ابادې وې، خو بیا هم ډېرې دښتې او ناابادې ځمکې په کې وې، چې تراوسه لا چاورته لاس نه و وروړی، دسړك له دواړو غاړو څخه د شل شل مترو په اندازه دسیمونو محافظوي دیوال راتاو و، چې کوم حیوان سړك ته داخل نه شي او د کومې ناوړه ترافیکي پېښې سبب نه شي. کله چې له ام القوین څخه د راس الخیمې پر لورې روان وو، نو دلارې په دښتو کې مو یو زیات شمېر اوښان او د اوزو رمې تر سترګو شوې، اوښان خو دومره زیات وو، چې د چاخبره رمې یې

ګرځېدلي، په دښتو کې یوه نیمه ونه او ځیني بوټي هم تر سترګو کېدل، دسړك ځیني غاړو کې واښه هم راټوکېدلي وو او په ځینو ځایونو کې ګلان غوړېدلي وو ما ویل والله عجیب ګلان دي، دې وخت کې تاج ولي ویل: دا د قیامت علامې دي، پیغمبر صېب ویلي وو، د قیامت یوه علامه دا ده، چې د عربو په صحرا کې به ګلان وغوړېږي، ما ویل دعربو صحرا کوم ځای دی؟ هغه وویل همدا ده که نه ؟ ما ویل بیا خو نو کډې بارکړئ، دا خو نو ګلان غوړېدلي دي، دې وخت کې یو بل ملګري وویل قیامت نور څه ته وایي، دلته په عمر کې باران نه دی شوی او سږکال په کې واوره ورېدله امارات وګوره او واوره، همدا دقیامت علامې دي که نه؟ دا ګلان او بوټي چې غوړېدلي دا دهمدې باران له امله دي، که نه پخوا دا ځایونه دومره سپېره وو چې حد نه لري.

په همدې بحث کې راس الخیمې ته ورسېدو، راس الخیمه ښه ښایسته ځای و، البته موږ ته چې دوبۍ، ابوظبۍ او العین مې نه وولیدلي، ډېر ښایسته ښکارېده، خو زموږ نورو ملګرو ویل: چې راس الخیمه هم ډېر رسېدلی نه دی، ځکه چې دومره تجارتي ارزښت نه لري او ددې ځای شیخان هم دومره تکړه نه دي.

مخکې مې دراتګ پر مهال له دلاجان څخه د اماراتو د داخلي روابطو په هکله پوښتلي وو، چې ددوی ټولې پیسې یوه بانك ته راټولېږي او که نه؟ دوی ګټه او لګښت خپل خپل دي که بېلابېل، هغه ویلي و، چې د هر امارت ګټه خپله ده، یوازې په

پوځ، پولیسو، خارجي سفارتونو کې ددوی لګښت مشترك دی، هسې په نامه عربي متحده امارت دي که نه هر یو بېل بېل دي، البته ځینې هغه امارتونه، چې کمه ګټه لري دهغو نورو لکه دوبۍ او ابوظبۍ له خوا چې ډېره ګټه لري، یو څه ناڅه کمك ورسره کېږي.

نو ځکه خو دیو امارت نه بل ته د تګ پر وخت تفاوت اوچت معلومېږي، له شارجې نه تر راس الخیمه پورې دسړك دواړه غاړې شنې نه وې او بوټې په کې نه و کرل شوي، ځای ځای دسرې بخنې شګلنې خاورې غونډۍ معلومېدلې، چې باد به ترې ځای نیم ګرد هم پورته کاوه، داسې لکه دلغمان دسرخکانو دسیند هغه غاړه، چې شګې بادېږي او کله کله سړك هم بندوي، البته دوی سړکونه ډېر جګ او اساسي جوړ کړي دي، ټول سړکونه دوه طرفه وو، درې موټر و، یوې خوا او درې بلې خوا تګ کولای شو، منځ کې دبرېښنا ستنې او دڅلور پنځو مترو په اندازه حایله سیمه وه، چې تراوسه په کې څه نه و کرل شوي، دموټر تګ په نورمال ډول (۱۲۰) کیلو متره په ساعت کې وو، تقریباً تر یو ساعت مزله وروسته راس الخیمې ته ورسېدو، ځای نیم کینې لاس دبحر تر څنډو هم تېر شو او یو ځای په کې داسې هم راغی، چې یو نوی هوایي ډګر په کې جوړ شوی و او څو لویې ترانسپورتي الوتکې په کې ولاړې وې، د راس الخیمې مرکز ته لاړو، دستې سنټر یا دښار دمرکز په نامه په کې یوې لویې مغازې ته لاړو، چې یو لوکس هوټل هم په کې وو، لومړی مو موټر پارك کړ، دستې سنټر

مخې ته لوکس پارکنګ و، چې په سوونو موټر په کې ودرېدلای شول، بيا ډوډۍ ته لاړو د افغانستان پر وخت څلور څلورنيمې بجې به وې، دغرمې ډوډۍ ته کېناستو، په اماراتو کې خلک خصوصاً عرب دورځې يوولس بجې له خوبه پاڅېږي دماسپښين ترلمانځه وروسته ډوډۍ خوري يا ويده کېږي اوبيا ترماښام دمخه کارځي ته ځي او دشپې تر ناوخته (۱۱-۱۲) بجو کار کوي. دعبدالحفيظ خبره عرب د ورځې خوب کوي او د شپې خپلې عياشۍ، هسې خدای ورکړې ده، نو...

تاج ولي وويل څه خورئ، فرمايش ورکړئ، تاج ولي نو نام خدای په اماراتو کې ښه بلد و عربي، اردو او انګليسي يې ښې زده وې او کاروبار يې هم ښه دی، ما ويل وروره موږ ددې ځای په غذا نه پوهېږو، څه چې دې زړه غواړي او کله دې خوړلي وي همغه به راوړې، هغه ويل دلته عربان کارکوي، ډېره ښه عربي غذا تياروي، همدا عربي غذا به ورته ووايو، موږ وويل ښېخې ټيک ده، وروسته غذا تياره شوه، هوټل ګارسون نه درلود هر چا په خپله ډوډۍ راوړله، عبدالحفيظ او تاج ولي لاړل ډوډۍ يې راوړه، غوښه، چپس او نور ډول ډول شيان په کې وو، چې پښتو کې يې لا تر اوسه نوم نشته او زه پرې نه پوهېږم، له يو يوګيلاس پيپسي سره، ډوډۍ يې ډېره خوندوره وه په بهر کې د افغاني غذا پوره مينه او تونده پرې ماتېده، تر ډوډۍ خوړو وروسته ماته تاج ولي وويل که سودا مودا کوې، چې همدلته يې واخلو، دلته هر څه پيداکېږي دا سوپر مارکيټ دی، ماويل نه اوس ضرورت نه

شته سودا بیا اخره کې کوم. په هوټل کې دننه د اوبو فواره لګېدلې وه او په ښکلي ډول یي اوبه پاشلې، دفوارې ترڅنګ یو نر او یو ښځه پولیس ولاړ وو، ډېر ځنډ یې خپلمنځي خبرې کولې، نارینه پولیس جګ قدی او ښځه پولیس ټیټ قدې، خو ټنډه منډه او نمکي معلومېدله، داچې څه به یې ویل، خو پته نه لګېده، خو دومره، معلومېده، چې خبرو یې یو بل ته خوند ورکاوه، په هوټل کې ځای ځای څوکۍ ایښې وې او خلك به پرې کېیاستل، دهوټل کارکوونکي اکثره عربان وو، خو چا چې دلته ډوډۍ خوړله هغه د بېلابېلو هېوادونو او د بېلابېلو نسلونو خلك وو، خو یو نیم به په کې د سپینو جامو ځوان عربان هم ښکاره کېدل، کله چې له هوټل څخه راوتلو، نو عبدالحفیظ یو تورې څوکۍ ته اشاره وکړه ماته یې وویل استاده دا ګورې! ما ویل هو! ترڅنګه یې دسکه انداز په شان یوه ستنه هم ولاړه وه، دوه تنه پرې تاوېدل، ماته یې ویل دې ستنه کې ماتې پیسې (سکې) اچویي، داڅوکۍ سره راټولېږي او سړی چاپې کوي، ښه ما ویل پکه دادې لا بله سپکه، اوس نو دچاپې کولو کار هم څوکیو ته ورسېد، دا ښځې به څه کوي... عبدالحفیظ په خندا شو هغه به نور کارونه کوي....

له دې ځایه ووتلو، تاج ولي وویل راځه چې اوس دربانډې د اماراتو غرونه هم وګورم، مخکې تر دې چې موږ د راس الخیمې مرکز ته راشو له لرې څخه مو په لرې پرتو سپېرو غرونو سترګې ولګېدې، تاج ولي ویل دا د اماراتو غرونه دي، همدلته به که

خدای کول ځو، دا غرونه داسې ښکاره کېدل لکه دتورخم له لویې لارې څخه چې چپ لاس سین نه اغاړه دلالپورې او کامې ترمنځ غرونه ګورې. د اماراتو پلازمېنه ابوظبی ده، خو مرکزي سیمې یې شارجه او دوبی دي، راس الخیمه او ام القوین د اماراتو شمال ته واقع دي، ابوظبی جنوب او الفجیره شمال شرق ته!

د راس الخیمې له ستېي سنتر څخه شمال خواته دغرونو پر لوري وخوځېدو، دسړك دواړو غاړو ته پرېمانه ابادۍ شوې وې، ځای ځای واړه واړه کلي هم راتلل، چې لوکس او نوي جوړ شوي وو او ځای نیم په کې شنه باغونه هم وو، چې اکثره په کې همدا د خرما ونې وې، هر ځای مو اوزې او مېږې لیدلې چې شاوخوا به ګرځېدلې، ددې ځای سړکونه هم ښه وو، خو هغومره پلن نه چې مخکې مو یادونه وکړه ددې ځای عمومي لارې دوه سړکه وې یوه خوا او بله خوا منځ کې یې حایله سیمه چې دګروپونو لپاره ستنې په کې ودرول شوې وې څومره چې غرو ته نږدې کېدو، سړکونو خپله ښه اړوله یو ځای کې بیا سړك دوه طرفه و، خو د یو یو موټر په اندازه او ځای بیا داسې هم راغی چې یوازې یوسړك و او حایل یې نه درلود. دغرونو منځ کې مو کړېږ وړې لارې ووهلې، دسړك دواړو غاړو ته ډېر کورونه ودان وو، چې اکثره یې نوي ښکارېدل، د هر کور مخې ته دوه درې موټر ولاړ وو. ارامه ارامي او چوپتیا خوره وه تابه ویل، چې دې کورونو کې بنده کس نه اوسېږي، ما تاج ولي څخه پوښتنه وکړه، چې دا ولې داسې خاموشي ده؟ هغه وویل، یو خو نن دجمعې ورځ ده، بل دا ددې

شـیخانو کلیـوالي تفریحـي کورونـه دي، کلـه کلـه یـې چـې زړه وغواړي دسیل لپاره له خپلې کومې ملکرې سره ورته راشي او که نه نور نو کوم مزدور په کې اوسي او بس، دهر کور مخې سیوري ته به اوزې کتار پنډې وې او شخوند به یې واهه، تا بـه ویـل دکـور پهرداران اصلاً دوی دي.

غرونه یې داسې وو چې نـه یـې کـاڼي درلـودل، نـه خـاوره وه هېـڅ داسـې بـل قسـم بـې ثمـره خـاوره وه، چـې دهېـڅ بـوټي دښېـرازۍ امکان په کې نه وو، مـا تـاج ولـي تـه وویـل چـې دا څـه قسـم غرونـه دي، لـه دې غـرو څخـه، خـو هېـڅ ګټـه نـه اخیسـتل کېـږي، د افغانستان غرونه خو ډېر ګټور دي هم ونې په کې زرغونېږي اوهـم بوټي، هغه وویل ته رښتیـا وایـې دې تـه عربـان (رمـل) وایـي. رمـل پـه عربـي کـې هغـې خـاورې تـه وایـي، چـې ګټـه تـرې نـه اخیسـتل کېږي، خدای پاك ته حیران یم، چې دې خاورې سره یـې دې خلکـو ته هر څه برابر کړي، اصلاً خبره داده، چې پیغمبر صیب دې عربـو ته دعا کړې چې خدای بـه یـې نـه خواروي، نـو دا دهغـه د دعـاوو برکت دی.

ما ویل کاشکې لږ دعا خو یې مـوږ تـه هم کړې وای، چـې لـږ خـو مـو لـه ژونـد نـه خونـد اخیسـتی وای، هـو دځینو ملایـانو پـه وینـا پیغمبر صیب ویلي دي، چې زما دین به په ټولـو ځـایونو کـې ختـم شـي، خـو افغانسـتان کـې بـه نـه ختمېږي، هغـه خلك بـه زمـا دیـن راټینګوي او بیا به یـې ټولې دنیـا تـه خـوروي، دې وخـت کـې تـاج

ولي وویل: ریښتیا ، چې افغانان په دین کې ډېر ټینګ دي. مزل مو کاوه د وړو وړو غرونو تر منځ ځینې خوړونه هم وو، ما پوښتنه وکړه، چې دلته سیلاب راځي؟ تاج ولي وویل دلته باران ډېر کم کېږي، خو ددې غرونو په خوړونو کې کله چې باران وشي، لږ سیلاب راځي، خو هسې نوم یې دسیلاب وي. همدې خبرو کې وو، چې داسې یو ځای ته ورسېدو، چې نور نو پوخ سړك ختم شو، پنځه سوه متره وړاندې کورونه ښکاره کېدل، خو چې نور په اخوا کلي او کورونه و که نه پته نه لګېده، له همدې ځایه بېرته راستانه شو، بېرته په خپله لاره راغلو په لاره کې مو یوه داسې کلا ولیدله لکه خیبر دره کې لویي کلاګانې له دې خوا مو هم ولیدله، خو بحث مو پرې ونه کړ، دې وخت کې تاج ولي وویل هغه ده دختو کلا ځنګه ښه ښکاري، چې ورنږدې شو دختو کلا نه وه، ښه پخه کلا وه، خو هسې دختو کاګل یې ورکړی و یوه پوځي چونۍ په کې وه، له هغه ځایه همداسې په شمال شرق د الفجیرې خواته وخوځېدو، عمومي هایوی (لویې لارې) ته ووتلو موټر په (۱۲۰) کې روان و، دا لاره هم نوې جوړه شوې وه او شاوخوا اوس هم ماشینونه لګیا وو کار یې کاوه، دا لاره همداسې ځینې ځایو کې سمندر ته نږدې له ځینو برخو تېرېږي او زموږ دملګرو په وینا سعودي او د فارس خلیج ته رسېږي، له همدې عمومي لارې بیا یوه بله لاره د الفجیرې خواته ځي چې هغه هم لویه او ښکلې لاره ده.

دغرونو منځ کې ځای ځای شنه او اباد کلي چې اکثره پکې دځو وروستیو کلونو ښکاره کېدل، ودان وو، مازیګر شو په لاره کې تاج ولي د یو مسجد ترڅنګ موټر ودراوه، دمسجد دروازې ته چې نږدې شو تاج ولي وویل دا دښځو مسجد دی، دې بلې دروازې باندې ځو، هغې بلې باندې لاړو، دوی اودسونه تازه کړل، دا وړوکی دلارې سر مسجد و خو ډېر ښکلی و د اوداسه لپاره یې ښه پوره ځای او اوبه درلودل ما او زموږ دسفر بل ملګري خان محمد اودس درلود، موږ مسجد ته ورددننه شو، ترمسجد دباندې برنډه کې فکر کوم شین ایرانی فرش غوړېدلی و، لږ څه تور شوی و، زه ځکه وایم چې ایرانی فرش و چې څوکاله مخکې ما همداسې ایرانی فرش اخیستی و، یو کال وروسته تور شو او بیا له منځه لاړ او هم مې د تکړه لیکوال عبدالغني هاشمي صیب درخت په دوکان کې همدا ډول فرش لیدلی و، چې خپل رنګ یې له لاسه ورکړی و تور شوی و، خو دننه په مسجد کې بل ډول لوکس فرش چې دهر لمونځ غاړې د ودرېدو، حد په کې معلوم و او د محراب شکل یې درلود، هوار و، دا ډېر پاك و، سره له دې چې اوس هوا دومره ګرمه نه وه، خو بیا هم په هرې کړکۍ کې چې عرض او طول به یې (۸×۱۲) کې و درې نیشنل ایرکنډیشنونه لګېدلي وو او سړي دراحت احساس کاوه.

کله چې ما لمونځ خلاص کړ، نو باندې په برنډه کې کېناستم، دې کې یو عرب راغی، زه یې چوپ ولیدم، ویې ویل السلام

علیکم، ما وویل: وعلیکم السلام ډېر خوند یې وکړ، ما فکر وکړ، چې عرب راسره پښتو خبرې وکړې که څنګه؟

دې وخت کې هغه دپښتون حاجي کیسه راباندې وشوه، چې حج ته تللی و او بېرته چې کله راستون شو، نو خلك به ستړي مشي ته راتلل او ځینو به دبیت الله شریف په هکله پوښتنې کولې او ده به په ځواب کې وویل، چې هلته ټولو خلکو په قران شریف خبرې کولې، یوازې اذان پښتو و او یوازې سپیانو پښتو غپلې او بس.

یوه شېبه مې ځان سره غلی وخندل، دې کې تاج ولي، عبدالحفیظ او عصمت الله هم لمونځ خلاص کړ او وویل ځئ چې ځو په خېر.

په موټر کې چې کېناستو ما تاج ولي ته وویل، دلته دښځو لپاره ځانته مسجدونه دي که څنګه؟ په افغانستان کې خو نه شته یوازې دننګرهار په اډه کې دنجیب زراب په مرسته یو ډېر لوکس مسجد جوړ شو، هغه دښځو لپاره ځانګړی ځای لري، هغه هم یوازې دتراویح لمانځه کې راځي او بس. تاج ولي وویل: دلته اکثره مسجدونه دښځو لپاره ځانګړی ځای لري، خو دلارې دسر مسجدونه، ځکه ښځې او نارینه چې په سفر کې وي، نو دلته موټر ودرېږي نارینه خپلې برخې ته او ښځې خپلې برخې ته ځي، لمونځونه کوي او بیا سفر کوي.

سفر ته مو دوام ورکړ. په لاره کې یو ځای داسې راغی چې ما فکر کاوه تر کمکي خیبر نه پورته د تورخم دلویې لارې چړاهي ده. تاج ولي وویل دا کوم ځای ته ورته دی؟ ما ویل، خیبر نه پورته چړاهي، ده ویل بېشکه ما همدا اوس درته ویل، ما ویل که لږ نور لاړشې کېدی شي (ګردی) هم ترسترګو شي، دې کې ټولو وخندل. سفر ته مو دوام ورکړ، دې وخت کې تاج ولي، عصمت او خان محمد ته وویل: هلکانو اسناد مو راخیستي که نه؟ هغوی وویل نه پولیس ملیس نه شته، موږ نه دا څوکاله چا پوښتنه نه ده کړې، تاج ولي وویل هسې نه چې چکر راباندې خراب کړئ، څو کیلو متره مزل به نور وهلی وي چې دې کې یو ځای دپولیسو چك پوست را ورسېد، موږ چې پولیس ولیدل نو تاج ولي ماته وویل یون صیب کمربند وتړه جریمه نه شو ژر دې کمربند وتړه په اماراتو کې دا قانون دی، چې په موټر کې کېنې، نو کمربند به تړې او که نه پولیسو ګیر کړې جریمه کېږې.

پولیسو زموږ موټر ته لاس ورکړ اول یې عصمت الله او خان محمد نه اسناد وغوښتل، چې هغوی دواړو نه درلودل، بیا تاج ولي او عبدالحفیظ خپل اسناد ورښکاره کړل، مانه یې اسناد نه غوښتل، خو ما خپله جیب ته لاس کړ او پاسپورت مې ورکړ، زما پاسپورت یې وکوت، ماته یې ویل زیارت زیارت (سیاحت) ما ویل هو کې زیارت ماته یې پاسپورت بېرته راکړ، تاج ولي

ورکښتـه شـو او پولیسـو تـه یـې خپـل کـارت وښـود، چـې زه دلتـه شرکت لرم او دا کسان ماسـره کـار کـوي، نـن دجمعـې ورځ ده، نـو ځکـه دا خلـك پـه چکـر راوتـي او اسـناد یـې دفتـر کـې دي. عبدالحفیظ دپولیسو پـه غوښتنـه موټر لـه سرکه لـرې پـه یـو ځـای کې ودراوه او خپله له موټر کښتـه شو دپولیسو څنګ تـه ورغـی، پولیسو خپله دفکس نمبر ورکړ او تاج ولي تـه یـې وویـل، چـې پـه دې نـومره دې ستاسـو شـرکت مـوږ تـه فکـس وکـړي چـې، داخلـك خوشـې کـړو، کـه نـه یـې خوشـې کـوو، تـاج ولـي او عبـدالحفیظ ټلیفونونـه سـر کـړل او پولیسـو تـه یـې وویـل: چـې اوس بـه فکـس وکړي، څنګه چې دفتر رخصت او اسناد په الماری کې دي، نو یـو بـل سـړی مـو لـه کـوره راوغوښـت، چـې تاسـو تـه لـه دفتـره فکـس وکړي، دا سړی، چې څو دفتر تـه ځـي، دې کـې وخت لګـي، دوی یو څو شیبې انتظار ویست، کله چې پولیس په دې پوه شول، چـې دا خلك دروغ نه وایي عبدالحفیظ ته یې لاس وخوځوه او ورته یـې وویل ځئ! بېرته ټول موټر کې سواره شو او دالفجیرې پر لـورې مـو حرکت وکړ، خان محمد دې وخت کې ویل دا پنځه کاله کېـږي، زه دلته په اماراتو کې اوسم دجمعـې لمونځ هم مـا څخـه نـه دی قضـا شوی، نن راڅخه جمعه هم لاړه دا ټول دلمانځه قصور دی.

تـاج ولـي ویـل: څـو ځلـه مـو درتـه ویـل، چـې اسـناد ګرځـوئ، دا دغسې کله کله راوځي بیا به یې افغانستان ته استولي یاست بیـا نـو ګرځـئ، خـان محمـد وویـل، پـه دې لاره لـه ایـران څخـه ځینـې قاچاقي کسان تېرېږي، ځکه دوی دلته سخته تالاشي کوي کـه نـه

نورو ځایونو کې دومره تنګول نه کوي. تر لږ مزله وروسته تاج ولي وویل، دلته به لږ موټر ودروو څه شی به وخورو، پښتې به مو هم وغوړېږي، دلارې پر سر دهندوانو دچایو ځای و، یو یو ګیلاس چای مو وڅښه، ښه دمه یې راوسته او بېرته موټر کې سواره شو، بیا مو چې یو څه مزل وکړ لاره کې دتازه مېوو دخرڅولو یو پلورنځی راغی، تاج ولي وویل، دلته به تازه مېوه وخورو، ټولو وویل اشتیاه نه شته ، تاج ولي وویل یون صیب زه او ته به جوار وخورو، دکټوې وخورو که په اور سور کړي؟ ما ویل څه دکټو سهي دي، دوه دکټوي جوار دانه دري درهمه شول، جوار پخوونکی هندو و ماته یې ښه ډېره مالګه او ده ته یې ښه ډېر مرچ واچول او په کاغذ کې تاو کړل، ما چې خولې ته کړ، نو دخامۍ وږم په کې و، خوند یې رانه کړ غلی مې کاغذ کې تاو کړ، خو تاج ولي، چې لږ وخوړ نو دمرچو سرې اوبه یې پر کالیو وڅڅېدې، هغه هم ژر بس کړ، دواړو په پلاستیك کې واچول او خان محمد ته مو وویل: چې کله موټر چېرته څنډې ته شو، نو له لرې یې ګوزار کړه، موټر الفجیرې ته ورسېد ، الفجیره دلارې پر سر پرته وه، دشارجې په شان ښکلې نه وه او نه دومره لویه وه، خو شاوخوا یې شینوالی زیات و داسې شینوالی نه لکه د جلال اباد پشان بلکې تر ام القیوین او راس الخیمې نه لږ زیاته شنه وه، ماښام ماښام شارجې ته ورسېدو.

اول مو د تاج ولي د شرکت دفتر وکوت، چې نږدې یو جریب ځمکه یې نیولې وه او ټول دموټرو له سپرپاټ سامانه ډك و، په

یوه اوږده کانتینر ورته ځای کې یې دفتر او همداسې یوه اوږده کوټه کې یې دناستې لپاره ځای جوړ کړی و. زه او عبدالحفیظ ترې جلا شو. تاج ولي، خان محمد او عصمت الله همدلته پاتې شول، عبدالحفیظ لومړی ماته خپل دوکان، چې هغه هم دسپرپاټو و د تاج ولي دې دفتر سره نږدې و، وښود او بیا دواړه په همغه موټر کې دشارجې دښار د مرکز پر لورې رهي شو.

دا ځای (روله) نومېږي، په لسګونو زره پاکستانیان، هندیان او په دربیمه درجه کې افغانان به هلته وګورې، دښار په پارکونو کې دومره هندیان او پاکستانیان دي، چې سړی فکر کوي دپېښور په جناح پارك یا هم دلاهور او یا ډهلي په کوم پارك کې ګرځې خصوصاً دجمعې ورځ چې درخصتۍ ورځ وي، دوی پارکونو ته راوځي او ځینې یې شپه هم دلته تېروي اکثره په ونو مصروف وي، ځکه چې دجمعې پر ورځ په کې په سلو کې دېرش فیصده تخفیف وي، عبدالحفیظ راته وویل: چې دلته ټول تجارت ازاد دی، خو دمواصلاتو یانې شبکه د دولت په لاس کې ده، چې هېڅ کمپنۍ ته په کې د ګډون حق نه ورکوي. په همدې وجه دلته په کې درغلي ناممکنه ده، دشارجې دښار د منځ (رولې) ترافیکي نظام پاکستان ته ورته وو، چې چا د اشارې ډېر خیال نه ساته، ارنډونه هم ډېر زیات وو او خلك هم چې اکثره د نورو ملکونو وو د اشارې خیال نه ساته او همداسې له موټره مخکې کېدل، عبدالحفیظ وویل چې دلته په اماراتو کې دلیسنس اخیستل ډېر سخت دي، دسړي زړه خولې ته راولي، دنورو ملکونو لکه

افغانستان، ایران، پاکستان او نورو لیسنس دلته نه منل کېږي، ځو چې دوی خپله درنه امتحان وانه خلي او مطمئین نه شي، رشوت مشوت هم دلته کار نه ورکوي، ترافیك او پولیس درسره کېني او ټول ښار کې دې ګرځوي، په پای کې دا یو وایي ښه و بد نه و کامیاب دې شي هغه بل بیا ځان په قهر کړي نور کار هم غواړي خام دی لنډه دا چې زړه به درته شین کړي.

بله خبره دا ده چې که دلته چا څوك په موټر وواهه او مړ شو که دا شخص مړی (مقتول) مسلمان وي (۱۵۰۰۰۰) زره درهمه جریمه به ورکوي او که نا مسلمان وي نو (۸۰۰۰۰)، البته دا قانون په شارجه کې دی، په دوبۍ کې بیا داسې نه دي، په دوبۍ کې دمسلمان او نامسلمان مړي ترمنځ تفاوت ډېر کم دی، ما ویل دې نه معلومېږي چې په شارجه کې اسلامي شریعت قوي دی، عبدالحفیظ وویل هو که نه، شارجه کې څوك شراب نه شي څښلای که مسلمان یې وڅښي (۲۰۰) ورځې قید دی او څو دُرې یې وهي او که کافر یې وڅښي دهغه قید لږ څه کم دی خو شریعت پر ټولو تطبیقېږي، دغه راز په شارجه کې زنا کاري او نور بد فعلونه ټول منع دي. دلته په ټوله شارجه کې یو بوتل شراب هم نه خرڅېږي، خو هلته چې موږ او تاسې اجمان ولیده، هلته یې کارخانې دي او تولیدېږي ما ویل، دا څنګه یو امارت دی او بېل بېل قوانین؟ ده وویل دا نو دهر امارت په شیخ پورې اړه لري، چې هغه څنګه قانون تطبیقوي، پاتې شوه دوبۍ هغې ته فري زون وایي، چې هلته هر څه ازاد دي، فحاشي بداخلاقي،

شراب خوري اونور... د دوبۍ له شیخ نه چا پوښتنه وکړه، چې ستاسو په اسلامي امارت کې ولې دومره فحاشا ده؟ هغه ورته په ځواب کې ویل: " په دوبۍ کې یو نیم میلیون مجردان اوسېږي، چې له بېلو بېلو هېوادونو څخه راغلي او دلته کار کوي داټول ځوانان دي او ښه مکلفه غذا خوري، که دوی ته کومه لاره خلاصه پرېنښودلای شي، نو دا خو به ټول زموږ دعربو پر ښځو راودانګي واله که خو یوه هم ترې روغه وګورې، نو دوی ته هم باید یوه لاره وي دوی پوهېږي او بهرنیان، دې مسلې ته باید په عادي نظر ونه کتل شي.

ما او عبدالحفیظ د شارجې دښار زیاتې برخې وکتلې بیا ما هغه ته وویل دلته که چېرې صرافي وي ماسره یو څه ډالر دي هغه به درهم کړو، عبدالحفیظ وویل په شارجه کې دکانداران ډالر نه اخلي، بند دي یو درهم چلېږي مګر دوبۍ کې درهم او ډالر دواړه چلېږي ځکه هغه فري زون دی او اکثره پکې خارجیان دي او کاروباري مرکز دی یو ځای کې مو موټر پارك کړ، یوې صرافۍ ته داخل شو عبدالحفیظ وویل دلته صرافي او د سرو زرو نرخ فکس دی، دلته که درهم د ډالر په مقابل کې څه پورته کېږي هغه هم په میاشتو کلونو کې یو ځل دی هغه هم دکومې پیسې په اندازه چې موږ ورته پول وایو، صراف اردو ژبی و، عبدالحفیظ سره یې پېژندل موږ سره یې ښه روغبړ وکړ داصرافي فدرال صرافي نومېده، څلور سوه ډالر مې ورکړل، یو ډالر (۳،۶۶۸۰) درهم په مقابل کې تبادله شو، ټول (۱۴۶۷) درهمه شول، له

صرافۍ نه راووتلو ما عبدالحفیظ ته وویل کله چې اوزګار شو لږه سودا به هم وکړو. هغه وویل اوس چکر ووهه سودا به په اخر کې وکړې او ښه شو پلار ته به مې هم وکړم او ستا احوال به هم ورکړم، هالنډ کې یې زریني صیب ته وکړ او ویې ویل یون صیب هم راسره دی هغه ویل هله هغه ته تلیفون ورکړه ما استاد زریني سره روغ او بړ وکړ دواړه ډېر خوشاله شو، هغه ویل له بي بي سي او نورو راډیو ګانو سره دې مرکې اورم ډېر زیات خوشحالېږم، له دوستانو سره دې هر وخت په غورو او مجالسو کې یادوم پر ټولو ډېر ګران یې، خو ګوره چې ځان سره به ډېر احتیاط کوې، چې دا خلك ( مقصدیې شمال ټلواله و) دسړي زامن نه دي، چې خدای مه کړه، رانه ژوبل دې نه کړي، ډېر احتیاط به کوې، ګوره هالنډ ته هم راغلی وې او زموږ پوښتنه دې ونه کړه، ما ویل د شپې تللی یم او ټکور صیب سره مې شپه کړې، سهار وختې بېرته راغلی یم، هسې نوم مې دهالنډ شو نور مې لیدلی هم نه دی، هغه په خندا شو او ویل ګوره دا ځل چې راغلې ضرور به ماکره راځې، ښه لوی حویلی مې نیولې ساعت به دې ښه تېر شي ګوره عبدالحفیظ دې ګرځوي که نه، ما ویل، هو دې بېچاره راسره له کاره وتی استاد ویل: لکه عسکر غوندې به امر پرې کوې هو.

استاد نه مې خدای پاماني واخیسته، هغه بیا عبدالحفیظ سره خبرې وکړې او فکر کوم زما په اړه یې پرې ډېر تاکید وکړ، له استاد زریني نه چې له خبرو راخلاص شو عبدالحفیظ وویل: ودرېږه، چې ساپي صیب ته ټلېفون وکړو، ډېر کوښښ یې وکړ خو

رخ نه شو، بیا مو خپل چکر ته دوام ورکړ ما یادونه وکړه دوبۍ له شارجې نه ډېره لرې ده که څنګه؟ عبدالحفیظ وویل نه بابا لـه دې ځایه ایله (**۲۵**) دقیقې لاره ده. سهار کې ګڼه ګوڼه وي موټر لـږ پـه ځنډ رسېږي، خو ماښام کې دومره ګڼه ګوڼه نـه وي. بـل د دوبـۍ ترافیکي نظام لکه دشارجې هغسې نه دی، هلته ټول ترافیکي قوانینو سره سم حرکت کوي، څنګه زړه دې نه دی، چې لاړ شو بیا که وخت پیدا شو بیا به لاړ شو او که نه اوس ښه فرصت دی، چې لاړ شو، ما ویل که ته ستړی نه یې لاړ به شو هغه ویل نه بابا څه چې ځو موټر ته یې پښه ورکړه، عبدالحفیظ وویل د دوبۍ او شارجې ترمنځ سرحد مرحد نه شته کله چې شارجه ختمه شي پوه به هم نه شې په دوبۍ به ورداخل یې، رښتیا هم تر شل پنځه ویشت دقیقو وروسته بلې نړۍ ته ورسېدو پراخ پراخ سړکونه چې دموټرو پنځه لینه په یوه خوا او پنځه په بله خوا لکه د جوجو ماجوجو په شان روان دي او په لسګونو رڼا ګانې سره تېر وبېر کېږي، یوه بله نړۍ وه، چې زما په تصور کې هم نه ګرځېده یو تعمیر تر بله لوړ او یو تربله ښکلی، عقل کار نه کوي چې څنګه او څه ډول انجنیرانو دا نقش او نګار کړی، ژوند په دومره چټکۍ سره روان دی چې دسترګو په رپ کې پناه کېږي، دشپې او ورځې هېڅ تفاوت نه کېږي او که رېښتیا وویل شي شپه یې تر ورځې ډېره ښایسته ده.

عبدالحفیظ وویل دوبۍ خو ټوله د کتو ده بیا به یې په فرصت کې وګورو، خو اوس به یو څو مشهور ځایونه وګورو، چې په هغو

کې یو هم د دوبۍ برج نومېږي چې دننه په بحر کې اباد شوی دی او ددنیا تر ټولو قیمتي هوټل همدلته دی.

د دوبۍ برج ته لاړو ترهغه ځایه چې موټر یې دسیل د تلو اجازه وه هلته لږه شیبه تم شو، عبدالحفیظ وویل هغه دتعمیر له څوکې نه راکښته کاسه ګورې ما ویل هو، ده ویل دلته هیلوکاپتر کېناستلی شي او دنړۍ ډېر خاص خاص مېلمانه چې راځي هغه په هیلوکاپتر کې دلته راځي ما ویل څنګه دلته هیلو کاپتر کېني عجیبه ده؟ ده ویل دا لوی ځای دی دجلګې چمن او ګلان په کې دي له دې ځایه وړوکی ښکاري، عبدالحفیظ وویل د دنیا قیمتي هوټل همدلته دی، په یوه شپه کې یې دیوه اتاق کرایه له (۶۰۰۰ - ۱۲۰۰۰) ډالرو پورې ده. ما ویل ولې دومره قیمته؟ ده ویل د دنیا څه نعمتونه چې شته او څه شی چې غواړې هغه دلته شته، ما ویل څنګه نعمتونه؟ هغه ویل نور خپله پوه شه نو...

عبدالحفیظ وویل زموږ او ستاسې د بهرنیو چارو وزیر ډاکټر عبدالله هم همدلته راغلی و او شپه یې تېره کړې ما ویل نه به وي هغه ویل نه رښتیا ده ما ویل نه شي کېدی له دې هوټل څخه د شپې اسناد او بېل ترګوتو کړې نور یې بیا ماته پرېږده چې زه له دې اسنادو څه جوړوم؟ هغه ویل والله مشکله ده ددې هوټل اکثره شیان سکریټ (مخفي) دي دنړۍ اکثره مشران دلته راځي فکر نه کوم دوی دې د چا اسناد چاته ورکړي. عبدالحفیظ ماته په لاره کې ویل ددوبۍ برج نقشه یو عیسوي انجنیر جوړه کړې وه او له

داسې مهارت نه یې په کې کار اخیستی، چې د وچې له خوا ګورې دتعمیر نقشه ده، خو چې دبحر له خوا وربانددې راشې په داسې حال کې چې هم تعمیر دی، خو دصلیب بڼه هم لري او صلیب ترې جوړېږي، دې انجنیر بیا چیرته ویلي، چې زما ارمان پوره شو او عیسویانو ته یې ویلي و، چې تاسې غم مه کوئ، ما د اسلام په زړه کې ستاسو صلیب ودرولی دی، د عبدالحفیظ دا خبرې ډېرې جالبې وې، ما غوښتل هغه خپلې خبرې نورې هم وغځوي، هغه وویل: کله چې مسلمانان په دې خبر شول، نو دسعودي شیخانو او پیسه دارو د دوبۍ امیر ته وویل، چې داتعمیر چپه کړه، موږ د ددې ټول لګښت درکوو او له سره بل نوی جوړ کړه خو د دوبۍ امیر ونه منله او وې ویل چې دا مهمه ده، چې د دنیا ډېر قیمتي او لوکس هوټل د دوی په سیمه کې دی.

کله چې مو د دوبۍ برج کاته نو ښي لاس ته یوه بله لویه کلا ته ورته ودانۍ وه، چې دغرنیو ډبرو څه غونډۍ هم په کې جوړې شوې وې، عبدالحفیظ وویل دلته یو ډېر لوی حوض دی، نر او ښځې په کې په ګډه لامبي څه بندیز نه شته سل درهمه یې ټکټ دی او ښه د سیل ځای دی.

له هغه ځایه راووتو پرسړك چې تلو نو ښي لاس ته یو ځای راغی جګ او ښکلی دېوال ترې تاو و اوږد والی یې نږدې دوه کیلو مترو ته رسېده، عبدالحفیظ وویل، چې دا د دوبۍ د امیر کور

دی. دومره لوی او دومره لوکس دی، چې په نړۍ کې يې ساری نه شته، څوك ورته نه پرېږدي ددوی ښځې او کورنۍ ډېرې سترې وي. عبدالحفيظ زياته کړه زموږ او تاسي (حبيب) ماته ويل، چې زه د دوبۍ امير کور ته ديوه کار له خاطره ورغلی وم، داسې يو ډول ابادي په کې ده او داسې شيان په کې وينې، چې د سړي د سر ويښتان ورته له حيرته پورته کېږي، خپل سفر ته مو دوام ورکړ، په لاره کې دبرېښنا پر ستنو ډول ډول اعلانونه ځوړند و، په يوه اعلان کې يو ډېر لوی او لوړ سپين تعمير چې د انګلستان لوړو تعميرونو ته ورته ځوړند و، ما ويل دا څه شی دی، عبدالحفيظ وويل يوه (زړه دوبۍ) ده يوه (بره دوبۍ) او يوه هم اوس نوې جوړېږي هغې ته نيو دوبۍ ( نوې دوبۍ) وايي همدا اوس پرې کار روان دی دغه اعلانونه چې ته ګورې دا ټول ددې نوې دوبۍ دي ډېر ژر به دا جوړه شي، ځينې برخې يې په بحر کې جوړېږي، ځينې په وړو وړو ټاپوګانو او ځينې هم لږ څه وړاندې دښته کې فقظ يو څو کاله مخکې دغه (بره دوبۍ هم وچه دښته وه او شګې په کې بادېدلې اوس وګوره دا بڼه يې خپله کړه بيا چې له خيره سره راځې، نو نوې دوبۍ به وګورې دلته چې يوه جمعه راشې يو تعمير په نښه کړې، بله جمعه بيا هغه نه شې پيداکولای، بل يې څنګ ته جوړ شوی وي، دا نوی تعمير د دوبۍ برج نومېږي، چې دا به په دنيا کې تر ټولو لوړ، لوی او لوکس تعمير وي او س په ماليزيا کې د دنيا تر ټولو لوی تعمير دی، خو دا به تر هغه هم لوړ وي، ددې تعمير بله خاصه داده چې دنور

لوړوالي قابلیت هم لري یانې دا به دنیا کې ریکارډ وي که بل چا تر دې لوړ جوړ کړ، نو دا به تر هغه نور هم لوړېږي انجنیریې نقشه داسې جوړه کړې، چې هر وخت وغواړي نور یې هم لوړولای شي یانې دا تعمیر تر ځانه پورته تعمیر نه مني.

په لاره کې د ډېرو نورو تعمیرونو او تاونونو نقشې ځړېدلې وې چې هر یو مو کاته، تا ویل چې تخیل کې یې ګورم، ماچې به کله دا حالت له افغانستان سره پرتله کړ، نو له ډېر تعجب او حیرته به خندا راغله، هغه د حمید بابا خبره هسې مالره له غمه خندا راغله، د دوبۍ د ښار بېلابېلې سیمې مو وکتلې د شپې یوولس بجې به وې، په ښار کې دښځو دومره ازادي وه، چې جرمنې، هالنډ او ډنمارك کې مې هم نه وه لېدلې، افریقایانې، اروپایانې، هندیانې د دنیا د هر نسل ښځې په هر ډول جامه کې چې یې غوښتل ګرځېدلې، مجرد او بې حوصلې سړی که له داسې یو حالت سره مخ شي، نو وار او پار ترې خطا کېږي، عبدالحفیظ وویل موټر به پارك کړو لاړ به شو ډوډۍ ته، ما ویل ټیك ده، موټر یې تر یو تعمیر لاندې ځمکني پوړ کې پارك کړ او دواړه د لفت په ذریعه له تعمیره ووتو، ما ویل کوم افغان هوټل به نه وي، ده ویل په ټوله دوبۍ کې دوه افغاني هوټله دي. یو یې دلته نږدې دی هغه ته به لاړ شو، هلته لاړو دا هوټل (افغان کباب هاوس) نومېږي، چې د ښار په منځ کې د الغازي مسجد مخامخ موقعیت لري، پر افغانانو سربېره د نورو هېوادونو ګڼ شمېر اتباع هم ورته

راځي او عرب هم ورته راځي، هوټل وړوکی دی خو کش یې زیات دی، دویم پوړ ته پورته شو، هوټل همدا دوه پوړه لري.

عبدالحفیظ ورسره دري وویله، د هوټل شاګرد پښتو وویله دا په داسې یوه لوی ښار کې لومړی ځل و، چې ما دهوټل داسې یو شاګرد ولید، چې له دري نه یې پښتو ته ترجیح ورکړه، سړی ښه شڼل پښتون معلومېده، موږ ته یې دوه خوراکه کباب او یو خوراك وریجې راوړې ډوډۍ خصوصاً کباب یې ډېر خوندور و. ډوډۍ مو په خوند خوند وخوړه، فکر کوم ټولې پیسې څه کم شپېته درهمه شول او مخ په شارجې مو حرکت وکړ، دشپې دولس دولس نیمې بجې خپل ځای ته ورسېدو، عبدالحفیظ زه دخپل استوګنځي مخې ته کوز کړم او دی روان شو، خو تر روانېدو دمخه یې راته وویل سبا زه ځینې کارونه لرم که دې زړه وي ماسره لاړ شې زه به خپل کارونه وکړم او ته به ځایونه وګورې ستا خو مقصد هسې هم د ځایونو کتل دي، ما ویل سهي ده، سبا ته درځم، ده ویل دیوولسو بجو شاوخوا ته راځه ما ویل سهي ده.

د مارچ (۱۹) دشنبې ورځ وه زه او عبدالحفیظ بیا د شارجې مرکز (رولې) ته لاړو، ده غوښتل افریقایي هېوادونو ته له تاج ولي سره یو ځای سفر وکړي، دجنوبي افریقا دهېواد (یوګانادا) د ویزې د اخیستلو لپاره په کار وه، چې د اماراتو بهرنیو چارو وزارت دسندونو څانګه دلته دده دکاروبار اسناد تصدیق کړي، هغې شعبې ته لاړو ټولو ځوانو عربانو په کې کار کاوه ډېره لوکس

او لـوړ پـوړه ودانـۍ ده اول پـوړ کـې یـې د تصـدیقونو ځانګـه وه، عرب مامور ورته وویل د ویـزې او د پاسـپورټ فوتـو کـاپي راوړه، ده یـوتعمیر تـه اشـاره وکـړه، هلتـه چـې لاړو فوتـو کـاپي ماشـین ایښـی وه، پـرې خپـل اسناد فوتـو کـاپي کـړل او بېرتـه راغلـو، دې ځـانګې بانـدې ډېـره ګڼـه ګوڼـه وه، اکثـره کسـان هنـدوان وو، چـې خپـل کاروبـاري اسـناد یـې تصـدیقول، نـیم سـاعت انتظـار بـه مـو کـړی وي، چـې د عبـدالحفیظ اسناد ټاپـه شـول او پنځـوس درهمـه یـې ورځیـنې واخیسـتل، پـه تصـدیق کـې د ویـزې دپـاڼې پـر شـا لیکل شوي وو: صرف دشرکت دمالـك امضـا تصـدیق شـوه او نـور مسئولیت نه لرو.

په اماراتو کې هر څوك چې شرکت پرانیزي باید لـه یـو عـرب سـره ملګری شـي جـواز د عـرب پـه نامـه اخیسـتل کېـږي او هېـڅ بهرنـی حق نه لري، چـې خپلـه پـه خپـل نامـه جـواز تـر لاسـه کـړي، خـارجي اتبـاع بیـا عربـو امتیـاز والـو تـه هـره میاشـت معینـه انـدازه پیسـې ورکوي او کله لا دټـول کـال پیسـې یـو ځـای ورکـوي، عبـدالحفیظ خپله ویل چې موږ هم کال کې څو زره درهمه یـو عـرب تـه ورکـوو، د جواز بل مشکل دادی چې کال پر کال به یي نـوی کـوې او اکثـره عربـان چـې دویـم ځـل سـتا کـار تصـدیقوي پـه دې کـې هـم پیسـې زیاتوي، لنډه دا چې سخت جنجال دی.

له هغه ځایه د اماراتو دبانك پر لوري راغلو، موټر مـو پـارك کـړ، بانك ته ننوتـو، دوه ورې ورې پېغلـې چـې غـالبـاً لـه فلپـین یـا چـین

څخه بـه وې کمپیـوټر تـه ناسـتې وې، عبـدالحفیظ نـه یـې پوښتنـه وکړه، چې څه غواړې؟ هغه وویـل پـه دوه تېـرو میاشـتو کـې دخپـل حسـاب ریکـارډ غـواړم او همدارنګـه څـه پیسـې مـې چـې ایسـتلي دهغو راته یو فارم راکړه! دې وخت کې یـې ماتـه وویـل یـون صـیب ته راته تر څو د نوبـت ټکټ را واخلـه، زه دوه ګامـه وړانـدې شـوم، یـو سـړی د ماشـین تـرڅنګ ولاړ دی، د چاچې نـومره پـه کـار شـي نـومره ورکـوي مـا ورتـه پـه انګلیسـي وویـل نمبـر غـواړم، هغـه لـه ماشـینه نمبـر راوویسـت (۳۳۸) عبـدالحفیظ تـه مـې ورکـړ، هغـه وویـل څـه وخـت شـته تـر څـو بـه دخپـل حسـاب تېـر دوه میاشـتنی ریکارډ معلوم کړم فورمه یې ډکه کړه هغوی ته ورکړه، هغـو ورتـه دتېـرو دوه میاشـتو ریکـارډ راوویسـت او (۹۰) درهمـه یـې پـرې چـارج کـړل، عبـدالحفیظ وویـل دا ډېـرې زیـاتې دي، هغـوی ورتـه دوه درې پاڼې ورکړې ورته یې وویـل، دا ډکـې کـړه تـردې وروسـته یې په انټرنیټ غواړه، موږ به یې درلېږو چارج به پرې نه راځي.

د پیسـو اخیسـتلو نوبـت کـې ځلـور پنځـه غـرفې شـمارې لـرې، دهـرې شـمارې لپـاره یـو تـن ناسـت و، بـره پـه دېـوال کـې یـوه سـره اشاره لګېدلې وه، چې کمپیوټر به دشخص نومره او د غرفې نمـره ښودلـه، شـل (۲۲۲-۳) یـانې (۲۲۲) دې (۳) غـرفې تـه مراجعـه وکړي، همداسې دهر شخص نمبر یـوې مشخصـې غـرفې تـه راجـع کېـده پـه دې ډول ډېـر ژر کـار خلاصـېده، پـه نـیم سـاعت کـې عبـدالحفیظ خـپلې پیسـې تـر لاسـه کـړې او لـه بانکـه بهـر شـو، عبدالحفیظ وویل افغانستان کې به بـانکي سیسـتم څه وخت دي

حالت ته ورسېږي؟ ما ویل فکر نه کوم، موږ یوازې سلو کالو کې دې سلیقې او پاکۍ ته نه شو رسېدلای، پاتې خو لا دې کار ته! کله چې موږ بانك ته ننوتو نو دیوه مېز تر شا یوه ځوانه ښځه ناسته وه، توري جامې یې پر تن وې یوازې دمخ کاسه یې ښکارېدله، مخې ته یې کمپیوټر ایښی و خوله یې له خندا ډکه وه، ګوتې یې په کمپیوټر ډېرې چټکې خوځېدلې دومره ښایست خدای ورکړی و، چې هغه د چاخبره په یو ځل کتو یې سړی چپه کاوه، شاعرانو همېشه دښکلو نجونو سترګې د هوسۍ له سترګو سره تشبه کړي دي، ما ویل دابه هسې ګپ وي، خو کله چې مې ددې پېغلې سترګې ولیدې دهوسۍ ورته هم کمې وې، همغسې یې ډکې ډکې توري کړې هم وې، په تور لباس کې ډك سپین مخ او توري سترګې دښکلا یوه عجیبه طبعي ننداره وه، یانې چې پیرمحمدکاروان غوندې نازك مزاجه شاعر وای، همدلته یې ورته په شعر لیکلو پیل کاوه، له بانك نه د وتو پر وخت یوه پښتون موږ ته د راوتو بله لاره وښوده او ویې ویل، چې هغه لاره د ډوډۍ درخصت له امله بنده شوه، ماته یې ډېر خوند ځکه راکړ، چې یو پښتون هم دې حد ته ځان رسولی، چې د اماراتو په بانك کې کار کوي. له بانك نه د راوتو پر مهال تاج ولي وکړ، چې ډوډۍ ته دفتر ته راشئ، دفتر ته ورغلو، شاوخوا په زرګونو سپرپات سامان پروت و، سړي ته یې د تورخم بازار یاداوه، عصمت، خان، تاج ولي، دلاجان، عبدالحفیظ او دحاجي صیب پیرمحمد یو زوی په ګډه ډوډۍ وخوړه، تر ډوډۍ لږ شېبه وروسته تاج ولي

وویل یون صیب ځئ، چې ځو د لمانځه وخت دی، ما ویل درځه، کله چې له سړکه پورې وتلو یو تور بینز موټر ودرېد ، دحاجي صیب دین محمد کشری زوی (خلیل) له خپلو ځو تنو نورو ملګرو چې دحاجي صیب عبدالحق مشر زوی (عبدلمجید) هم په کې و، راکښته شول، ټول ښه لوکس سمارت ځوانان وو، ما سره یې سترې مه شي وکړل، نور نو تاج ولي سره وپېژندل، تاج ولي خبرې هغوی سره کولې او ماته یې هم کتلې، بالاخره تاج ولي راغی ماته یې وویل ځه چې ځو مانځه ته ناوخته کیږي، له سړکه پورې وتو، ما ویل دا د حاجي صیب دین محمد زوی نه و؟ تاج ولي وویل ولې نه کشری زوی یې دی، ما ویل څه یې ویل، ده ویل څه یې ویل بیا یې چا سره جنګ کړی او ماته وایي راسره لاړ شه دا یې راته وویل چې یون صیب ته ونه وایې، ځکه هغه مې د پلار انډیوال دی، چې بیا ورته ونه وایې مسجد ته لاړو، ما اودس وکړ او بیا پر جمع ودرېدو، دهر ملك خلك په جومات کې و، په جومات کې ایرکنډیشنونه لګېدلي او د مسجد داخل هوا یې ښه کړې وه، مخکې تر دې چې مسجد ته داخل شو، تاج ولي وویل بوټان دې ځان سره واخله داخل کې ځای شته، خو ما راوانه خیستل، ماتصور وکړ، چې دلته دبوټانو غلا نه شته، زما داخیال دی هر کله چې په اسلامي ټولنه کې دمسجد ترمخه دبوټانو غلا ورکه شوه، هغه ټولنه د اصلاح پر لورې روانه ده او اصلاح شوې، په افغانستان کې په مسجد کې د بوټانو غلا له سوونو کلونو راهیسې روانه ده، په افغانستان کې داکثرو لمونځغاړو فکر د

خدای د ذکر پر ځای خپلو بوټانو ته وي، چې ترلمانځه وروسته به پر کوم برخلیك اخته کېږي؟ ښه مې په یاد دي د استاد رباني دحکومت پر وخت په داسې حال کې چې کابل هره ورځ د دواړو لوریو له خوا په سوونو څه چې په زرګونو توغندي خوړل، خو بیا هم چې کله ورځ نیمه وقفه وه او یا به توغندي لږ کم وو، نو استاد به د اسلامي دولت دقیام تمثیل کاوه، په همدې وخت کې یې یوه ورځ د ایران او بنګله دیش سفیران هم مېلمانه وو، دلمانځه د اداکولو لپاره د وزیر اکبرخان مسجد ته لاړل بوټان یې له معمول سره سم دمسجد دروازې مخې ته وایستل، کله چې له لمانځه څخه خلاص شول چې بېرته راوتل د بنګله دیش او د ایران د سفیر بوټونه چا غلا کړي و، ځکه چې دا لږ قیمتي او تر نورو ښکلي و، بیا یې ژر دواړو ته خپل غم وخوړ او دهغوی بوټان بیا ترننه پورې چا ونه لیدل.

نو ما هم دا تجربه کوله، چې دلته بوټان ورکېږي که نه؟ دبوټانو د ورکېدو داستان عام دی. نواب امیرزی د خوست ولایت د اتاقونو رییس او په بېړنۍ لویه جرګه کې دخوست دخلکو وکیل و، دعجیب منطق خاوند دی.

هغه د افغانستان دجمهوري ریاست لپاره په انتخاباتو کې دکرزي صیب په ګټه کمپاین کاوه، په خوست کې که څه هم مطلق اکثریت دکرزي صیب پلویان وو، خو دملایانو له جملې څخه به یو نیم پر کرزي صیب انتقاد کاوه چې په دې تېرو دوه نیمو دریو

کلونو کې یې څه وکړل، غل غدوی توپکسالار یو هم ورك نه شول، نو بیا چې انتخاب شي څه به وکړي؟ نواب امیرزی یو ورځ ستېج ته وخوت او خپل کمپاین یې شروع کړ: عزیزانو! ملایان پر ما ډېر ګران دي، دوی واقعاً ددین ستنې او دپیغمبر صیب وارثان دي که ملا نه وي نکاح به څوك تړي او دجنازې مونځ به څوك اداکوي؟ دیني علما زموږ دسر سترګې او ډېر قدردان خلك دي، ددوی ځینې کله کله په خپلو خبرو کې وایي چې کرزي نو په دې تېرو درې کلونو کې څه وکړل؟ چې لا وروسته به یې وکړي، نه یې غل ورك کړ نه غدوی؟ اوس هم همغه غله دي هر ځای کې واکمن دي زه خو وایم چې دملا صاحبانو خبره دې په ګل بدله وي، خو زه دوی نه هم یو تپوس کوم څوارلس سوه کاله کېږي، چې ملا دمسجد پر ممبر واعظ او نصیحت کوي دوی تراوسه دمسجد دڅپلو غل ورك نه کړ، نو کرزی صیب به څنګه په دې څو کلونو کې دا غټ غټ غله ورك کړي، تراوسه پورې دمسجد فضا دڅپلیو دغلو له لاسه دلمانځه لپاره ارامه او مساعده نه ده، دغسې کرزي صیب ته هم وخت په کار دی چې دا غله ورك کړي دا دیوې ورځې کار نه دی.

مسجد کې لمونځ ډېر خوند وکړ، کله چې له مسجد نه راووتلو بوټان مو پرخپل ځای وو، چا نه وو وړي، نو هله ماته پته ولګېده، چې دلته دفقر مخه نیول شوې او لږ تر لږه دلمانځه لپاره ارامه فضا برابره شوې ده.

بېرته د تاج ولي د دفتر پر لوري لاړو، کله چې دفتر ته لاړو دحاجي صیب دین محمد زوی سره له خپلو ملګرو تاج ولي ته منتظر وو، یو پکې پاکستانی پنجابی عیسوي هم و، غاړه کې يې دصلیب علامت پروت و، ټولو ځانونه د سپورتمینانو په توګه ښکاره کول، تاج ولي ورته وویل جنګ ونه کړئ، چې ټول به له اماراتو نه وباسي، تحصیل به هم درنه پاتې شي او په غضب به ککړ شئ، موږ به هم ځان سره درپه در کړئ، ددې ځای قانون بدماشي نه مني، خو هغوی ډېر ټینګار کاوه چې موږ سره لاړ شه، بیا تاج ولي ورته وویل، چې زه به پولیس ته تلیفون وکړم یو پولیس زما اشنا دی، خو دوی نه منل نه موږ جنګ نه کوو هسې خپل ځان هغوی ته ښیو، تاج ولي ورسره لاړ نه شو، خو عبدالحفیظ ورسره لاړ، یو څو دقیقې وروسته عبدالحفیظ بېرته راغی پوښتنه مو ترې وکړه، چې څنګه چل و، هغه ویل هغه پنجابیان وو، وچ ډنګر سوي سکاره او په بدلعنت، کله چې یې موږ ولیدو په زاریو یې شروع وکړه، چې موږ خو هېڅکله جنګ نه کاوه، معافي غواړو موږ هم ترې بېرته راغلو، موږ ویل څه ښه شو چې جنګ ونه شو.

عبدالحفیظ وویل اوس اوزګار شوم، څه چې ځو، تاج ولي وویل چېرته ځو، موږ ویل یوازې العین او ابو ظبۍ پاتې، که دواړه مو ونه شو کتلای، نو یو خو به وګورو، هغه ویل والله ډېر تکړه یاستئ په درې ورځو کې مو ټول مملکت وکوت، زه هم درسره تلم خو زه لږ مصروف یم، کله چې دتاج ولي له دفتره راوتلو، نو

عبدالحفیظ خپل دوکان ته ټلیفون وکړ (ژوندون) په دوکان کې یې؟ هغه وویل، هو، جامې دې پاکې دي؟ هو! ځان تیار کړه، چې چېرته ځو، ژوندون له عبدالحفیظ سره په دوکان کې کار کوي ددوی خپلوان دی او له لغمان څخه دی، درې کاله کېږي اماراتو ته راغلی، عبدالحفیظ وویل احمدشاه به دوکان کې کېني موږ دوکان ته راځو، ته ځان تیار کړه، ژوندون مو ځان سره پورته کړ، په موټر کې مې ورته وویل ژوندونه څنګه دی ژوندون دې؟ هغه ویل ښه دی بد نه دی، ما ویل پوښتنه مې ځکه درڅخه وکړه چې اکثره نومونه او تخلصونه په عمل کې هسې نه دي، بلکې سرچپه دي تخلص به یې ګړندی وي خپله به سست وي نوم به یې دانش وي خپله به بې علمه وي، تخلص به یې یون وي او خپله به ولاړ وي، په دا ډول تخلصونو باندې رفیع صاحب یوه لیکنه هم کړې، نو ځکه مې درڅخه پوښتنه وکړه چې په ژوندون کې دې ژوندون شته که نه؟ هغه ویل هو بد نه دی، ښه دی.

دشنبې ورځ دمارچ (۱۹) نېټه د افغانستان پر وخت دمازیګر (۶) بجې له شارجې څخه د العین پر لوري روان شو، موټر لویې لارې (های وی) ته شو.

هر شل دېرش متره بعد دسړك په حایله سیمه کې درڼا ستنې لګېدلې، او دسړك دواړو لوریو ته یې رڼا ورکوله های وې (لویه لار) داسې وه، چې پر یوه وخت په کې څلور موټر یوه خوا او څلور

بله خوا تللی شول، یانې د اسلام اباد غونډې جوړې شوې های وې په شان، خو ترهغې هم یو څه پراخه او لوکس.

دسړك په منځ حايله سيمه کې، چې درې څلور متره پلنوالی يې درلود او د سړك دواړو غاړو ته رنګارنګ بوټي، ګلان ونې کرل شوې وې، چې خرما بوټي په کې د معمول په شان تر بل هر هغه ډېر وو، دسړك دواړه لوري يې زرغون کړي وو او دسړك دواړو خواو ته چې کله کله لرې او نږدې کلي او ودانۍ راتلل نو شينوالی به هم ورسره مل و.

کله چې موږ له راس الخيمې څخه الفجرې ته تللو، نو په لاره کې مو له تاج ولي څخه وپوښتل چې دلته اوبه په څو مترو کې وځي، هغه وويل: په دوه درې مترو کې، ما ويل چې په دومره لنډه فاصله کې اوبه وځي، نو دا خلك ولې کوهيان نه باسي او ولې په دې دښتو کې باغونه نه جوړوي؟ تاج ولي وويل: اوبه خو لنډې وځي، خو دا اوبه تروې دي دبحر اوبه مالګه لري او سختې تروې دي حتی کله چې په کې خلك لامبي پوټکی يې سوځوي، دبحر غاړو ته چې کله خلك ولامبي بيا ځانونه غوړوي تر هغه وروسته هملته تشنابونه دي په پاکو تصفيه شويو اوبو ځان وينځي، دا شنه بوټي او ونې چې اوس يې ګورې دا ټولې دنل په واسطه شنې دي، که نلونه نه وي دا څو ورځو کې وچېږي، دلته يې د اوبو نلونه تېر کړي بيا يې هرې ونې او بوټي ته جلا پلاستکي نل تېر کړی او هغه کې د هرې ونې لپاره د هغې په

اندازه اوبه راځي، وګوره هغه د ونو بېخو ته چې د برق د لېنونو په شان تور تور څه ښکاري دا ټول نلونه دي.

له شارجې نه د العین په ټوله (۱۵۰) کیلو متره لاره کې د سړك دواړه غاړو او حایلې سیمې کې همدا تور تور نلونه غځېدلي وو، دسړك دواړه لوري یې ان دشلو مترو په اندازه شنه کړي وو او هرې ونې یا بوټي ته به دې، چې کتل تربیخ یې د تور نل یو سر ښکاره کېده.

له شارجې نه تر العین پورې یوازې د رڼا ستنې تر زرګونو اوښتې، چې یوه هم ویجاړه نه ښکارېده او یوه ونه هم بې نله نه معلومېده، ما چې کله د اوبو د نلونو دا حال وکوت بیا مې نو جلال اباد او کابل ښار را په یاد شو، څنګه ښه د اوبو سیستم لري؟ که سړی یې پرتله کړي، نو تر زرګونو ځله هم زیات تفاوت دی، کابل او جلال اباد کې لا اوبه تصفیې ته ضرورت نه لري که ددې په شان یې اوبه مالګینې وای نو څه حال به وو؟

عجیبه یو حالت دلته و، نو ته تصفیه کړې اوبه رسېږي، خو هلته انسانانو ته عادي نا تصفیه کړې اوبه نه رسېږي. پر لاره دسړك په حایله سیمه او ځینو ځایو کې په دواړو خواو کې په خاصو ځایونو کې کمرې لګېدلې وې، چې د موټر سرعت یې کنترولاوه، موټر ته اجازه نه وه، چې په یو ساعت کې تر (۱۲۰- ۱۲۵) کیلو مترو زیات مزل وکړي، هر کله چې به دې سرعت اوچت شو، کمرې به اوتومات دموټر عکس اخیست، داعکسونه

دومـره دقیـق وي، چـې دمـوټر نمبـر او ان دمـوټر وان عکـس او د سورلۍ عکسونه هم دقیقاً په کې معلومېږي بیا نـو دا عکسـونه د ترافیکو دفتر ته ځي او هغو په متخلف موټر پسې جریمه رالېږي، چې تر یو عکس تر دوو سوو درهمو کمه نه وي.

عبدالحفیظ وویل چې داکمرې ډېرې په ګټه کې روانې دي، هم د موټر سرعت کموي او هم ګټه کـوي، ځکه چې پـه یـوه عکـس د دوی ډېـر کـم لګښـت راځـي، عبـدالحفیظ تـه دځینـو کمـرو د ایښودلو ځای معلوم و، ښه به یې سرعت زیات کړ، چې هلتـه بـه ورسېده سرعت به یې (۱۲۰) ته راکم کړ، خو بیـا هـم دوه ځلـه دده عکس واخیستل شو، اول کې خو عبدالحفیظ وویـل ورك کـه ورو ورو به ځو چې جریمه نه شو هغه پیسې چې په جریمـه کـې ورکـوو، هغه به بل ځه پرې واخلو، څه زمـوږ عجلـه خـو نـه شـته، مـا ویـل: زموږ هدف دځایونو لیدل دي څومره چې ورو تللی شې لاړ شه.

عبدالحفیظ لا دا هم وویـل چـې ځینـې کمـرې دشـاله خـوا عکـس اخلي، ځکه اکثره بلدي موټروانانو ته د کمرې ځایونـه معلـوم دي، ترهغې به چې تېر شول نو سرعت به یې بېرته زیـات کـړ نـو بیـا یـې داسې کمرې ورته ورولګولې چې کله موټر تېر شي او سـرعت یـې زیات وي عکس یې اخلي، ما ویل چې داسې ده نـو بیـا خـو هېـڅ چل ورسره نه کېږي ښه ده چې د قانون مطابق ورسره لاړ شـې. دې وخت کې عبدالحفیظ خپل تلیفون راواخیست، ویـل یـو ښـه وخـت دی چـې سـاپي صـیب سـره خبـرې وکـړو، اسـترالیا تـه یـې تلیفـون

وکړ، استاد ساپی له خپلې کورنۍ سره لرې یو چېرته د یو افغان فاتحې ته روان و، مېرمن یې وویل، هغه اوس موټر ته ناست دی او تلیفون کې خبرې نه شي کولای، لږ وروسته تلیفون وکړئ، عبدالحفیظ ورته وویل، چې استاد اسمعیل یون راسره دی هغه غواړي خبرې ورسره وکړي، هغې وویل نیم ساعت وروسته که بیا تلیفون وکړئ موږ به ځای ته رسېدلي یو، نیم ساعت وروسته عبدالحفیظ بیا تلیفون وکړ، استاد ساپی د استاد شاپور احمدزي د ورور په فاتحه کې ناست و، استاد شاه پور دکابل پوهنتون استاد و، ماهم ورسره پېژندل، استاد ساپي سره تر روغبړ وروسته هغه وویل، دغه دی تلیفون استاد شاپور ته ورکوم، دتلیفون له لارې یې فاتحه واخله او تسلیت ورتهووایه، استاد شاه پور احمدزي ته مې دتلیفون له لارې د ورور دعا وکړه او تسلیت مې ورته ووایه، استاد شاه پور ډېر خوشاله شو او ویې ویل پر موږ ټولو ډېر ګران یې هر وخت دې په مجلسو کې یادوو او ټول وایو، چې هم دا یو سړی دی، چې ځان یې دې حالاتو ته ټینګ کړی دی، موږ ته که دلته څه خدمت وي امر وکړئ، ما ویل، نه استاد ډېره مننه دعاګانې کوم، خدای دې مرحوم ته جنتونه ورکړي، که کابل، ننګرهار او مجموعاً افغانستان کې څه خدمت وي، پر موږ امر کولای شئ ما ویل اوس درڅخه خدای پاماني اخلم، ځکه چې تاسو ته به فاتحه کې خلك ناست وي، هغه ویل ډېره مننه ټولو دوستانو هېوادمل صیب او نورو ته مې سلامونه ورسوه، تلیفون بېرته استاد ساپي واخیست هغه ویل ښه

دا وایه چې دوبۍ ته د څه لپاره راغلی یې؟ ما ویل وېزه مې لرله وخت یې تېرېده، ما ویل څه دوستان به هم وګورم او سیاحت به هم وکړم، هغه ویل ښه ما ویل، چې کوم رسمي سیاسي سفر دی، ځکه چې ته خو په دې تور او سپین کې ډېرې ګوتې وهې ما ویل، چې هغوی رالېږلی یې، ما ویل نه استاده شخصي سفر دی، استاد ساپي ویل ګوره موږ دې مرکې اورو او افتخار دربانده کوو، خو ګوره چې دا خلك دې رانه ژوبل نه کړي، دا ډېر کچه خلك دي، د استاد ساپي مقصد هم لکه د استاد زریني په شان شمال ټلواله و. ما ویل نه اوس یې دومره وخت پاتې نه دی کمزوري کېږي، انشاء الله ورځ په ورځ، استاد زما دټول ژوندانه او ماشومانو پوښتنه وکړه، دخېر او خیریت ډاډ مې ورکړ، دغه راز استاد ته مې ویل، که افغانستان ته راځې، زه به هېوادمل صیب سره خبرې وکړم، چې د دولت له لارې رسمي راشې، هغه ویل بیا به په دې باب فکر وکړو، استاد وویل څنګه دې عبدالحفیظ دې ګرځوي که نه؟ ما ویل هو ګرځوي مې ده وویل که نه وي، چې غوږونه یې پرې تاو کړم، ما ویل ټوله ورځ راسره همدی ګرځي، ما استاد سره خدای پاماني وکړه او تلیفون مې عبدالحفیظ ته ورکړ، هغه تر لنډو خبرو وروسته خدای پاماني وکړه.

خپل مزل ته مو دوام ورکړ، په لاره کې عبدالحفیظ دلارې یو دوکان څخه چې (مسترحه) څه پرې لیکل شوي وو، خوراك لپاره چپس او پیپسي راواخیستل، هر څو کیلو متره وروسته یو

(مسترحه) وه، چې دعمومي سړك پر سر به يې لوحه لګېدلې وه او (۵۰۰) متره مزل به چې دې وکړ، نو بيا به دسړك ترڅنګ يو سړك ورڅخه بېل شوی او هلته به ښه پوره لوی دوكان و او دضرورت وړ ټول شيان به په كې پيدا كېدل، ماښام د العين ښار مركز ته ورننږدې شوو، عبدالحفيظ ديو لوی مسجد ترڅنګ موټر پارك كړ، ژوندون او عبدالحفيظ د اودسونو ځای ته لاړل او زه مسجد ته ورداخل شوم، جمع ولاړه وه، يو ركعت راڅخه تېر شوی و كله چې مو لمونځ خلاص كړ ،نو عبدالحفيظ او ژوندون هم مسجد ته راننوتل هغوی پر لمانځه ودرېدل او زه دمسجد په ننداره شوم، ښه لوی مسجد و، دكابل تر پلخشتي مسجد نه لوی او دننګرهار د اډې صيب له نوي جوړ شوی مسجد سره به برابر و نږدې اته نهه زره لمونځاړي په كې ځايدلای شول، ښه لويه برنډه او د مسجد مخې ته يې دموټر ښه لوی او منظم پاركنګ درلود، ترڅنګ يې دلوبو يو سټډيوم هم و، چې دبرېښنا په دنګو دنګو ستنو يې د سټډيوم ټوله خواوشا رڼا كړې وه، دموټرو پاركنګ كې ښې ډېرې ځوانې خرما ونې ولاړې وې، ټول پاركنګ ښه صفا و هغه د چا خبره چې مړی دې په كې تولې كړې وای، نه سپېره كېدله، مسجد كه څه هم ښه لوی و، خو دا وخت په كې ايله ټول (۱۵-۲۰) كسه په جمع ولاړ وو، كله چې عبدالحفيظ او ژوندون له لمانځه راخلاص شول، ما ويل، څنګه چل دی، دومره لوی مسجد او دومره كم خلك، داسې ښكلي جومات، چې په افغانستان يا پاكستان كې وای دلمونځ غاړو به په كې ځای نه و،

څنګــه چــل دی دا خلــك دلمانځــه شــوق نــه لــري کــه څنګــه؟ عبدالحفیظ وویل نه داسې نه ده په العین کې شریعت نافذ دی او خلك يې ډېر لمونځ ګوزار دي اصلاً دا مسجد چې دی دلارې پر سر او خاصتاً ددغه ستهوډیوم لپاره جوړ شوی دی، کله چې دلته کومه لوبه یا مسابقه وي، نو بیا په دې مسجد کې ډېر بیروبار وي. په لاره کې چې موږ څومره د العین خواته نږدې کېدلو، نو شینوالی زیاتېده، خپله د العین ښار زیاتې برخې شنې وې، له لرې مو د العین دخلیفه، د شیخ زاید، شیخ خلیفه کور هم ولید، چې ګڼو ونو او رڼاګانو پوښلی و، له بهره چې دومره ښکلی و، نو دننه به څه حال و!!.

عبدالحفیظ وویل العین کې تر څلورو پوړو لوړ تعمیرونه نه شته، کله چې موږ له شارجې نه اجمان، راس الخیمې او الفجرې ته تلو، نو هر هر ځای مو د شیخ زاید بن سلطان پر لویو او وړو تصویرونو سترګې لګېدلې، چې اکثره په څلور لارو، هوټلونو او د تجمع په مرکزونو کې په ډېر اساسي او ښکلي شکل جوړ شوي او لګېدلي وو، شیخ زاید بن سلطان همدا څو میاشتې دمخه د (۷۴) کالو په عمر وفات شو او د جنازې په مراسمو کې یې د افغانستان د ولسمشر حامدکرزي په ګډون د نړۍ ګڼو مشرانو په تېره بیا د اسلامي هېوادونو مشرانو برخه اخیستې وه، عبدالحفیظ وویل ماته ښکاري د دولت له خوا پر لوړ پوړو تعمیرونو بندیز دی، ما ویل کېدی شي داکار یې دښار د پراخوالي په نیت کړی وي.

په لاره کې ماته عبدالحفیظ وویل چې په العین کې د سیل ځایونه ډېر زیات دي، خو ( جبل خفیت) دلته ډېر مشهور ځای دی دا یو لوی جګ غر دی، چې د اماراتو شیخ ورته په ډېر زیات لګښت سړك ور پورته کړی او هلته یې یو لوی تخت جوړ کړی دی، دغه راز د اماراتو شیخ د خپل ځان لپاره دغره په منځ کې یو ډېر خصوصي کور هم جوړ کړی، چې ان خپلې مېرمنې ورته هم نه راولي دا دده د ساعت تېرۍ ځای دی او کله چې یې زړه وغواړي دلته (ویرجن) (باکرې) پېغلې له خارج څخه په الوتکه کې راوړي، کله چې تلو بیا به دا ځای هم وینو او هلته نور هوټلونه هم شته.

دالعین مرکز ته ورسېدو، عبدالحفیظ له خپل یو ملګري څخه چې پښتون و او دا شل پنځه ویشت کاله په العین کې اوسېده د تلیفون له لارې پوښتنه وکړه، هغه ویل زه به هم درسره تللی وم، خو زه اوس په ډیوټۍ یم، عبدالحفیظ هم په تلیفون خبرې کولې او هم یې دلارې پر سر لارښوونو ته کتل، عبدالحفیظ غونډې یو تکړه بلدي شخص چې هم دلته ښه بلد و، هم په ژبه پوهېده او هم یې ترافیکي لیسنس اماراتو کې اخیستی و، بل شخص ته په دومره ګڼ ښار کې هغه هم د شپې له خوا دلارې پیداکول څه اسان کار نه و، سره له دې چې هلته شپه او ورځ یو شان ښکارېده خو بیا هم شپه شپه وي او ورځ ورځ، له څو ګڼو سختو لارو څلور لارو، درې لارو او دوه لارو تېر شو او ځان مو د جبل خفیت دغره لورې ته برابر کړ، ما عبدالحفیظ ته وویل دلته څه ټکس مکس اخلي او څه ممانعت شته او که نه؟ هغه ویل دلته داخبرې نه

شـته، نـه پـولیس شـته او نـه دا ټکټونـه، دغـره ببـخ تـه ورسـېدو، دسړك دواړه غاړې پـه ګروپونـو رڼا شـوې وې، عبـدالحفیظ وویـل لاره له دې ځایه بېلېږي، ښه لـوی او پراخـه سـړك چـې د دوه مـوټرو دتـګك راتـګك لپـاره پـه کـې خطونـه اچـول شـوي وو، خـو دهـر خـط ترڅنګك دومـره نـور سـړك هـم و چـې یـو بـل مـوټر پـه کـې ودرېـدلی وای، یانې داچې څلور مـوټره پـر یـو وخـت پـه کـې چلېـدلای شـول، یانې دسړك ټول متن به د (۱۲) مترو په شاوخوا کې و، خـو پـه تېـز رفتار کې یوازې دوه موټرو ته چې لیکې ورتـه شخصـي شـوې وې اجازه وه.

هغه نورې برخې اکثره دمـوټرو خرابېـدو پـه حالـت کـې دپارکنګك او ودرېـدو لپـاره وې. ټـول سـړك مـخ پـر ځـوږ و او مـارپېچ ښه یـې درلوده، لکه دملکنـډ دسـړك پـه شـان همداسـې مـخ پورتـه بـه روان وې، ډېر مزل مو ووهه، هغه ځای ته ورسېدو، چـې دامـاراتو امیـر په کې ځانګړی کور جوړ کړی و، عبدالحفیظ راته وویـل دغه ځای دی ما چې درته ویل، دسړك ښـي لاس تـه دغـره پـه منـځ کـې دکـور ځینې برخې ښکارېدې، چې دځانګړي ښکلا استازي یـې کولـه، په لږې مسافي سره ترې چپ لاس ته دغره پـر سـر یـو هوټـل و، چـې دا هم دمعتبرینو لپاره و، ما عبدالحفیظ ته وویل دا خلك ملامـت نه دي، دومره پیسې چې هندو سره هم وي عیاش کېږي، پاتې خـو لا عربو سره. څو کیلو متره مزل مـو نـور هـم وکـړ چـې دغـره اخـري حد یانې تخت ته ورسېدو په لاره کې ماتـه عبـدالحفیظ ویـل، کلـه چې موږ او تاسې غره ته راوختلو، نو هلته ښي لاس ته یوه بله لاره

ده، هلته دغـره لـه منځـه يـوه ژرنـده اوبـه راوځـي او دومـره ګـرمې دي، چې سړی په کې ودرېږي پښـې يـې سوځي، عربـان دې چيـنې ته دمتبرکې چينې په سترګه ګوري، اوړی او ژمی ددې چينې اوبـه ګرمې او جـاري وي هېـڅ کمی پـه کـې نـه راځـي، ماخپلـه دې اوبـو کې لامبلـي لـږ شـان تـروې دي، خـو دبحـر د اوبـو پـه شـان تـروې نـه دي، کمې تروې دي، بيا به هلته هم لاړ شو، ما ويل ټيك ده.

کله چې دغره تخت تـه وختلـو رښتيـا هـم ښـه دسيـل ځـای و، ټـول العين ترې ښکارېده، العين او عمـان سره نږدې پراتـه دي لـه دې، ځايـه دعمـان مرکز(مسـقط) هـم لـه ورايـه ښکارېـده، چـې ګڼـو او منظمو رڼاګانو ښار ته يوه عجيبه منظره ورکړې وه سړی چـې کلـه نه وي راغلی، نو داسې فکـر نـه شي کـولای چـې پـه اسلامي نـړۍ کې دې هم د رڼاګانو دومره ښکلي ښارونه وي. دغـره پـر سـر تخـت د (۷۰) مترو مربع پـه شـاوخوا کـې مسـاحت درلـود يـانې تقريبـاً د کابل دحضوري چمـن نيمـايي بـه و، دموټرو د پـارکنګ لپـاره يـې منظم ځايونه په نښه کړي وو، دتخت متن په داسې خښتو يـا ډبـرو پوښل شوی و، چـې منظمـو ليکـو يـې يـوه برخـه لـه بلې جلا کولـه دتخت ګرد چاپېره دسړي قد په اندازه د اوسپنی يـوه کټـاره راتـاوه شــوې وه او دوه درې متـــره لـــرې تـــرې لانـــدې ژور ګړنګونـــه معلومېدل، عبدالحفيظ وويل چې داکټاره مخکې نـه وه، خوکلـه چې دلته يو ماشوم له ګړنګه ولوېده نو بيا د العين شيخ امر وکـړ، چې کټارۍ ترې راتاوکړئ، ځکه دلـته دسيـل لپـاره زيـاتې کورنـۍ هـم راځـي، چـې ماشـومان هـم ورسـره وي، مـا ويـل والله د العـين

ښاروالي خو ښه ده، د کتهارې پیسې خو لري ماته په جلال اباد کې یو فلز کار وویل، چې د جلال اباد ښاروالۍ د یوه پارك د محافظت لپاره د (۵۰) مترو کتهارۍ فرمایش راکړ، شل متره مې جوړه کړه او لا لګولې مې نه وه، چې ښاروال ځواب راولېږه، نورې کتهارۍ مه جوړوه، چې پیسې خلاصې شوې، دې وخت کې عبدالحفیظ او ژوندون ښه په کړس کړس وخندل، عبدالحفیظ وویل استاده دې خلکو سره دومره پیسې دي، چې حیران دي په څه یې مصرف کړي.

عبدالحفیظ زیاته کړه، استاده العین کې ډېر زیات پښتانه اوسېږي، وزیر، مسید، اپریدي، پکتیاوال خوستیان او نور کله چې اختر شي تر لمانځه وروسته همدلته هغه غټ غټ ځونډي داره ډولونه راوړي او په دې تخت کې اتڼ کوي او عالم د خدای پرې راټول وي، داټوله سیمه خوځوي. یو څو شېبې هلته ودرېدو، عبدالحفیظ ته مې وویل، چې یوه کمره والا به پیدا نه شي چې عکس واخلو، هغه وویل ته صبر وکړه، چې هغه کانتین ته لاړ شم وګورم چې شته که نه؟ دلته هغه کمرې هم کله وي چې یوځل استعمالېږي او بس. کانتین د تخت په برنۍ برخه کې دغره دڅوکې تر څنګ و، کله چې یې پوښتنه وکړه، کمره نه وه، د تخت په کونجونو کې ګرځند کنارابونه هم ودرول شوي وي، چې مسافرو دضرورت پر وخت ترې ګټه پورته کولای شوه، څو شېبې دلته وګرځېدو او نور مې عبدالحفیظ ته ویل ځوبه په خیر له هغه ځایه مو حرکت وکړ د چیني پر لوري. عبدالحفیظ ته مې د تخت

پر سر وویل: څو کیلو متر دی؟ قید یې کړه، چې د غره تر بېخ پورې څومره لاره ده؟ هغه کیلومتر قید کړ، کله چې دغره بېخ ته راورسېدو، نو عبدالحفیظ کیلومتر چك کړ ویې ویل (۷) میله ، دغره تخت ته ختل ټول مخ پر لوړه و خو په نامستقیم ډول لوړه، حتی ډېر نوي او قوي موټر هم په لاره کې پاتې کېږي او یو څنګ ته ولاړ وي.

له هغه ځایه دچینې پر لوري وخوځېدو، دغره له بېخه به مو تر (۱۵-۲۰) کیلومتره مزل کړی وي، یو ځای کې د غره له سره لکه دماهیپر دبر سر داوبو په شان اوبه راتوېږي، ما عبدالحفیظ ته وویل دا څه دي؟ ده ویل دا همغه چینه ده، چې فکر کوم دوی یې اوبه دې حد ته رسولي. خو چینه خپله لرې ده. دغرونو منځ ته لاړو ډېر لوړ دنګ غرونه نه وو عادي غرونه وو ټول غرونه په څراغونو روښانه وو، ګورو چې دغرونو لمنې شنو کبلو نیولې، ما عبدالحفیظ ته وویل دا کبلې نه دي هغه وویل: ولې نه، دوی اوس غواړي داغرونه او دغرو لمنې ټولې شنې کړي دلته یې دتفریح لپاره ډېر لوکس ځایونه، حوزونه، فوارې او هوټل جوړ کړي دي. لږ چې نور وړاندې لاړو په اصطلاح د څو غرونو منځ دی نسبتاً یو (۱۵-۲۰) جریبه اواره ځمکه هم شته خو نورې وړې وړې غونډۍ دي، دټولو پر سر څراغونه لګېدلي، داسې نلونه یې تېر کړي چې څو ثانیې بعد پر جلګې باندې اوبه پاشي او چې کله ورنږدې شو، نو دغرو لمنو ته هغه چې خاوره یې دبوټي د راشنه کولو وس لري، لکه دلاس دګوتو په شان تور پلاستیکي نلونه

غځولي البته دغر پر سر دلویو لویو نلونو او د اوبو د ډیګیو ځرك هم لګېده، چې کېدی شي له همغو څخه راجلا شوي وو، لیدل کېدل، مین مین سوري په کې وو او کله چې به یې اوبه پرې راخوشې کړې نو له دې سوریو څخه به دباران دڅاڅکو په شان اوبه هرې خواته غورځېدلې، دلته هر رنګ واړه بوټي او ګلان هم وو چې ټولو ته نلونه راتېر وو. عبدالحفیظ وویل چې دې ټولو بوټو ته تصفیه کړې اوبه راځي چې دمالګې ځرك په کې نه وي، لږه شیبه وروسته عبدالحفیظ خپل بوټان او جرابې وایستل او په یوه لښتي کې چې دواړه غاړې یې پخې شوې وې او نږدې یوه ژرنده اوبه په کې روانې وې ودرېد، ما او ژوندون ته یې غږ کړ استاده راځئ، هغه چینه داده، راشه وګورئ چې څومره ګرمه ده، سړی په کې نه شي ودرېدلای، موږ هم ورکښته شو، ریښتیا هم ډېرې ګرمې اوبه وې، دسړي پښې یې سوځولې، خو تر لږ طاقت وروسته سړی ورسره عادي کېده بیا تودې نه لګېدې، ما لږ اوبه خولې ته کړې لږ تروې وې عبدالحفیظ ته مو ویل تروې دي، لږ تروې دي خو دبحر په شان نه، ما ویل داخو لښتی دی، خپله چینه چېرته ده چې اوبه ورڅخه راوځي؟ هغه ویل هغه بره دغرو ترمنځ ده، پلان داسې دی، چې داغرونه به ټول شنه کوي، شیخ زاید بن سلطان النهیان د اماراتو امیر ما همدلته لیدلی و، موږ تصادفاً سیل ته راغلي وو او موږ چې کله ورغلو نوره نو بیا لاره بنده شوې وه او خلك یې نه پرېښودل، هغه همدلته ګرځېده، چې موږ ولید، هغه دتفریح داځای شروع کړی و او اوس یې زوی

تعقیبوي ما ویل ددې چینې له اوبو څخه دبوتو په شنه کولو کې ګټه نه اخلي که څنګه دا خو هم ډېرې اوبه دي، عبدالحفیظ وویل نه دا دوی ته د مقدسو اوبو حیثیت لري، دبوتو او جلګې لپاره خو هغه دغره پر سر ګوره دوی له کومه کومه ځایه په لکونو ډالرو اوبه راتېرې کړي، تصفیه کړي اوبه دي له هغو څخه کار اخلي، هغه وړاندې تعمیر ګورې؟ یو سل متره وړاندې یو تعمیر و منځ کې یې ګڼې ونې ولاړې وې، ده ویل: دا چینه یې هغه ځای ته سیخه کړې، هلته یې یو حوض په کې جوړ کړی خو یوازې دښځو لپاره دی او نارینه و ته په کې حق نه شته. دعربو ښځې دلته راځي دې غونډیو کې شپې هم تېروي سیل هم کوي او بیا ددې چینې د اوبو په حوض کې لامبي.

ددې ساحې شاوخوا کې ګڼ شمېر تعمیرونه جوړ شوي وو، هر ځای وړې وړې کېږدۍ هم ولاړې وې ما عبدالحفیظ ته وویل چې دا خېمې دڅه لپاره دي، ده ویل دلته چې خلك دتفریح لپاره راشي فامیلي وي او که غیر فامیلي، دشپې دا کېږدۍ په کرایه نیسي او شپه په کې تېروي، په خیمه کې ژوند عربو ته ډېر خوند ورکوي او ددوی تېر ژوند ورته ور په یادوي.

رښتیا هم چې مو وکتل څو فامیله وو، چې موټر یې تر خېمو لر لرې ودرولي وو او ماشومان یې دخېمې مخې ته ولاړ وو، لر وړاندې یوجګه مصنوعي غونډۍ وه، چې خاورې یې هم له بل ځای نه ورته راوړې وې، شاوخوا یې ټوله شنه وه او منځ کې یې د

اوبو یوه لویه فواره لګېدلې وه. له دې ځایه ډېرځایونه ښکارېدل، دغرونو او غونډیو ډډې ټولې شنې معلومېدلې، درڼا څراغونه یې دغونډو سینو ته داسې مخامخ برابر کړي وو، چې جلګه په کې دشپې له خوا هم شنه معلومېدله او سړي فکر کاوه، چې رڼا ورځ ده، ما عبدالحفیظ ته وویل: زما داټکل له مخې دا یو تار جلګه دوی ته په څو ډالره تمامېږي او همدارنګه دیوې ونې کلنۍ لګښت دیو افغان تر کلني عاید څخه زیات برېښي، هغه ویل بېشکه چې همداسې ده.

عبدالحفیظ وویل: استاده اوس، خو راغلي یو راځه چې ابوظبۍ ته هم لاړ شو، ځکه مونږ کېدی شي دوه ورځې وروسته سویلي افریقا ته لاړ شو، بیا به داسې څوك نه وي چې تاسو وګرځوي، ما ویل که ستړی نه یې، نو ځو او که ستړی یې نو بېرته ځو شارجې ته، ځکه ډریوري سخت کار دی سړی له حده باده باسي، هغه وویل نه ستړی نه یم، ددې ځای ډریوري چې اصول دي زده وي نوره سخته نه ده، ما ویل ځئ چې ځو نو.

څومره لار به وي؟ ده وویل: له العین نه یوه لویه لاره ابو ظبۍ ته تللې چې نږدې (۱۵۰) کیلومتره کېږي، خو ښه لاره ده، له العین نه د ابو ظبۍ پر لوري چې د اماراتو مرکز دی، روان شو، پر لاره تر یوې معمولي تېروتنې وروسته عمومي لارې ته برابر شو....

لکه څنګه چې دمخه مو ویل؛ العین دشارجې، ام القوین، الفجیرې په تناسب ډېر شین و، دغسې دالعین او ابوظبۍ ترمنځ

هـاي وی (لویـه لاره) نـا اتکلـه ښکلـې وه، دسـړك دواړه غـاړې او دمنځ حایله برخه په ونو پوښل شوې وه، دشارجې او العـین تـرمنځ له لویې لارې سره یې تفاوت دا و، چې دهغـه سـړك ونـې او بـوټي ښکاره کېـدل، چې نـوي کـرل شـوي او سـاحه یـې هـم محـدوده وه، شـاوخوا یـې باغونـه نـه و، خـو د العـین او ابوظبـی تـرمنځ د سـړك شـاوخوا ګڼې ونـې او بـوټي وو او پاخـه بـوټي او ونـې معلومېـدل. دغـه راز دسـړك دواړو غـاړو تـه بـې شـمېره باغونـه وو، چـې خرمـا ونې په کې تر هر څـه زیـاتې وې، تقریباً هـر (۱۰) کیلـو متـره بعـد یوه لاره سړك مزرع(باغ) ته بېله شوې وه او پرې لیکلي و چې دباغ یـا مـزرع لاره ده، عـرب بـاغ تـه (مـزرع) وایـي ان تـر ابوظبـی پـورې چـې نـږدې (۱۴۰) کیلـومتره لاره ده، همـدې حالـت دوام پیـداکړ، عبدالحفیظ وویل چې د اماراتو ډېره اباده او شنه سیمه همدا ده چې بې شمېره باغونه پـه کـې دي، سربېره پـر دې دمیـوو د تصـفیه کولو ډېرې زیاتې فابریکې هم همدلته دي او دخرما وو ډېـر زیـات باغونه همدلتـه دي، خرمـا همدلتـه پاکېـږي، دهمـدې فـابریکو پـه واسطه تصـفیه کېـږي او پـه کـارتونو کـې اچـول کېـږي، ددې ځـای پرباغونو سربېره له نورو هېوادونو څخـه و چـې میـوې راځـي، هغـه هـم دلتـه پـه فـابریکو کـې صـفاکېږي او تـازه میـوو څخـه ډول ډول مرباګانې او نورشیان جوړوي.

له العین څخه بیا تر ابوظبی پورې دسړك په حایله برخـه کـې چـې پـه سـتنو کـې کـوم لـوی لـوی څراغونـه نصـب وو او دسـړك دواړو لوریو ته، چې هره خلا کې پر یوه وخت تقریباً څلـور مـوټرو حرکـت

کولای شو، رڼا ورکوله، دټولو شمېر لسګونو زرو ته رسېده او همدارنګه دښـي او چـپ لاس سـړکونو دواړو غـاړو تـه نـور پـه لسګونو زره فرعي او واړه ګروپونه بل وو، زه ډېر زیات متوجه شوم، چې کوم داسې ګروپ وګورم چې دنورو ترمنځ ویجاړ یا خراب وي او رڼا نه کوي خو تر ډېر تعقیب پورې ما پیدا نه کړای شو.

ماسختن لس بجې به وې، چې عبدالحفیظ ښي لاس د تېلو یو ټانك ته موټر ودروه، ویل یې تېل به هم واچوو او ډوډۍ به هم وخورو، دتېلو دا سټېشن او سوپر مارکیټ د (ادنوك) په نامه یادېده او ډېر ښکلی او لوکس جوړ شوی و. ادنوك یوه ډېره پانګوره او پرمختللې کمپنۍ ده چې په ټول اماراتو کې یې په یوه شکل او یوه ډیزاین پمپ سټېشنونه او ترڅنګ سوپر مارکیټونه جوړ کړي دي. په سوپر مارکیټ کې لوکس هوټل او د انټرنیټ سهولت وي او د ضرورت وړ ټول شیان په ثابت نرخ په کې پیداکېږي، د ډوډۍ فرمایش مو ورکړ، همبرګر چې دچرګ له غوښې نه په کې کار اخیستل شوی، یو ګیلاس پیپسي او چپس یې راوړل، تر څو چې ډوډۍ تیارېده ما عبدالحفیظ ته وویل تلیفون دې راکړه چې حاجي صیب ظاهر ته زنګ ووهم، حاجي صیب ظاهر سره مې تلیفون کې خبرې وکړې ما ویل د العین نه اوس ابو ظبۍ ته ځو، عبدالحفیظ او تاج ولي جنوبي افریقا ته ځي، زه هم درځم، که پرواز مې له دوبۍ څخه وي نو مجبور یم، چې شپه نیمه هلته وکړم، حاجي صیب وویل زه تاج ولي ته

تلیفون کوم چې تاسو ته ټکټ بوك کړي او هم درته په دوبۍ کې په یوه هوټل کې ځای ونیسي تر څو چې دې پرواز وي هملته اوسه، حاجي صیب ویل کله چې دوبۍ ته راغلې، کورته او ملګرو ته به دې هم همدلته سودا وکړې، زه به تاج ولي ته ووایم چې تاسو ته اته سوه ډالره د سودا لپاره درکړي، ما ویل نه دسودا پیسې راسره شته که زه همداسې روان یم، نو پیسې مې کفایت کوي، فقط خبره دا وه چې ما له اخوا یو طرفه ټکټ اخیستی دټکټ اخیستل ماته ځکه سخت دي، چې نابلد یم او دغه راز د هوټل ریزرف، هغه ویل هغه نه بېغمه اوسه دا کار به وشي. تر ډوډۍ وروسته عبدالحفیظ وویل چې ته ودرېږه چې عبیدالرحمن سیلاب ته هم تلیفون وکړم، هغه سره هم خبرې وکړه اکثره وخت دې یادوي، عبیدالرحمن سیلاب دلغمان دپخواني مستوفي عبدالرحمن ساپي زوی او د پلوشې ساپۍ ورور دی، دکابل په خدایداد لېسه کې زه او سیلاب یو کال همصنفیان وو، سیلاب دعبدالحفیظ دترور زوی او اخښی هم دی، دعبدالحفیظ خور (صفا) سیلاب ته ناسته ده، صفا دکابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، پښتو څانګه کې مورږ سره همدوره او د ملوك رغون دې ټولګیواله وه، ښه تکړه پښتنه او دجرئت خاونده وه.

سیلاب بیا پیلوټ شو او د ډاکترنجیب دنظام تر سقوط وروسته په ډېره سختۍ او زړه چاودۍ ناروې ته لاړ او څو کاله بعد یې خپل مېرمن(صفا) دوه زامن او یو لور یانې ټول فامیل هم بوته، عبیدالرحمن سیلاب د ډېر ساده زړه خاوند او ډېر صادقه انسان

و، کله چې عبدالحفیظ په تلیفون کې ورته زما وویل ډېر زیات خوشاله شو او ویل لږ صبر وکړه، زه خپله درته تلیفون کوم، له اخوایې تلیفون وکړ او ډېر زیات خوشاله شو، چې پس له کلونو درسره خبرې کوم، له راډیو ګانو دې اواز اورم په همغه مو تسلي کېږي، که رښتیا درته ووایم دلته ډېر زیات خفه شوی یم، خپل وطن مې ډېر یادېږي، دلته موږ داسې کارونه کوو، چې که افغانستان کې یې چاته ووایې درپورې وبه خاندي، ډېر زیات خوشاله شوم، چې اواز مې دې واورېده دغه دی صفا هم غواړي خبرې درسره وکړي، صفا خور تر روغبړ وروسته زما دمېرمن(ارین) تپوس وکړ او دماشومانو احوال یې واخیست وې ویل د ارین د تلیفون نمبر او ایمیل ادرس راکړه، چې زه ورته بیا تلیفون کوم، دتلیفون نمبر مو ورکړ او خدای پاماني مو وکړه، بیا یې خپل ورور عبدالحفیظ او دماما زوی ژوندون سره هم خبرې وکړې، او په دې کې موږ دلارې ډېره فاصله هم لنډه کړې وه.

په لاره کې مو څو ځله کوښښ وکړ چې په ابوظبي کې د افغانستان سفیر فرید ذکریا ته هم تلیفون وکړو او که چېرې هغه پرځای وي، چې ورسره وګورو. فرید ذکریا دلغمان دی، پښتون دی خو پښتو یې چندان زده نه ده. نور ښه دکار سړی دی په بېړنۍ لویه جرګه او د حاجي ظاهر په کور کې مې لیدلی، دحاجي ظاهر ښه نږدې ملګری دی او ماسره هم ښه پېژني ما ویل، چې اوس اماراتو ته راغلی یم، نو دهغه کتل هم ضروري دي، عبدالحفیظ ډېر زیات تلیفونونه وکړل، خو تلیفون ځواب ورنه

کړ، بیا یې خپل یو اندېوال ته تلیفون وکړ، چې د سفیر بله نومره ترې واخلي او یا یې پته ولګوي خوهغه عبدالحفیظ ته وویل، چې سفیر اوس افغانستان ته تللی دی.

نو دې سره دهغه دلیدو تمه بېخي قطع شوه، خپل سفر ته مو دوام ورکړ، په لاره کې چې عبدالحفیظ دو ه درې ځله له خپل عادي ټاکلي سرعت څخه ورواوښت، نو کمرو یې عکسونه واخیستل ما ویل دومره خلاف ورزي دې وکړه، چې دسفر تر لګښت څخه به د جریمې پیسې زیاتې شي، عبدالحفیظ وویل کله کله دې کمرو کې هم مشکل وي، کله فلش ووهي، خو فلم په کې خلاص وي یا کله یې عکس سم نه وي اخیستی، خو په هر ترتیب موټروانان یې سخت کنترول کړي دي.

دشپې یوولس بجې به وې، چې د ابو ظبۍ ښار ته ورداخل شو، ښار دومره ښکلی وو، دومره پاك او دنګ تعمیرونه په کې وو، چې تابه ویل یا په نیویارك او یا هم په هانك كانك کې ګرځم، یو تعمیر نه و چې لوړ و، په لسګونو وو او سوونو.. ځو لوړ منزلو شیشي تعمیرونو ته، چې دې کتل هغه دچاخبره دسرې خولۍ ورته له سره غورځېدله، له حیرته به دې ورته خندا راغله، د ځو تعمیرونو ښکلا چې ما وکتله ما عبدالحفیظ ته دهغه ساده کلیوال خبره وریاده کړه، چې کابل ښار ته راغلی و او چې سینما پامیر یې لیدلی و، نو له بېخ او سره یې شمېرلای و، ځوارلس، ځوارلس منزله یې پوره کړي وو، بیا یې نو ویلي وو چې یاره

يولك افغانۍ به يې پرې لګولې وي، ما عبدالحفيظ ته وويل څنګه پر دې به يې هم يو لك افغانۍ لګولې وي او كه كمې به لګېدلې وي، هغه سخت وخندل يو لك افغانۍ، هه يو لك افغانۍ، بيا مې ورته د يو بل افغاني كيسه وكړه، چې نوى پخوانى شوروي اتحاد لېننګراد ښار ته تللى و دلېننګراد ښار يو زيات شمېر تعميرونه ځوارلس، پنځه لس شل (۲۱) يوويشت منزله دي، نو ده چې ورته كتلي وو، ويلي يې اوه اوه دلته څومره ډېر سينما پاميرونه دي، اوس نو ابوظبۍ هم ټول سينما پاميرونه دي، عبدالحفيظ او ژوندون سخت وخندل او ويې ويل استاده سخت مثالونه وركوې.

ابو ظبۍ رښتيا هم ډېره ښكلې وه او ډېره رسېدلې او پاكه، د اماراتو دنورو ټولو ښارونو په پرتله يې ښكلا زياته وه، سره له دې چې دوبۍ دتجارت له پلوه ډېره مشهوره ده او ورځ پر ورځ پراخېږي او ښكلې كېږي، خو ابو ظبۍ د اماراتو د مركز په توګه لازياته ښكلا او ځلا لري، ترافيكي سيستم، دښار لوى او واړه واټونه به ډېر ماډرن او منظم ډول جوړ شوي او دګرد څرك هم په كې نه شته دښار سړكونه دومره پاك او صفا دي لكه د غوا بچى چې غوا نوى څټلى وي، عبدالحفيظ وويل په ابو ظبۍ كې، چې هر څومره ګرځو ټول همدغه شى دى، چې ګورې يې خو ښه به وي، چې دښار مركز ته يې لاړ شو او همدغه يو ځاى وګورو دښار منځ (كرنش) نومېږي. كله چې دې ځاى ته رسېدو، نو دښار په يوه څلور لارې كې مو د شيخ زايد بن السلطان النهيان يو ډېر

ښکلی تصویر ولید ، چې په خورا زیات لګښت جوړ شوی او لوړ والی به یې اټکل ۶×۱۰ مترو کې و، ښي لاس ته پر یوې بلې ځلور لارې وګرځېدو، چې هلته هم د زاید بن السلطان عکس و، چې شاوخوا یې ترې نور ځوانان چې شمېر به یې (۱۵-۱۸) تنو ته رسېده ولاړ وو، ما ویل دانور څوك دي؟ چې دشیخ زاید شاته ولاړ دي، هغه وویل دایې ټول زامن دي، ما ویل دا څه کوې دا خو یې خوشال بابا نه هم اړولي، عبدالحفیظ وویل چې دې کې خو یې ټول نه دي راغلي نور هم شته. ما ویل، چې دومره زامن څوك ولري او دومره پیسې والله که د چا پلار ترې پاچاهي ونیسي.

لږ نور مزل چې مو وکړ، نو دبحر یوې ترانګې ته ورسېدو، چې د ښار منځ ته راننوتې او شاوخوا یې په سوونو لوړ پوړي تعمیرونه ولاړ او په رڼاګانو پوښلي وو، دتعمیرونو رڼاګانې او تصویرونه په اوبو کې سرچپه معلومېږي او که تصویر یې له پورته واخیستل شي، نو د اوبو له منځه هم دښار راسته تصویرونه ترلاسه کېدی شي، همدلته یې دتفریح او سیل لپاره ځای او دموټر پارکنګ هم جوړ کړی او موټر ښه وړاندې ځای ته ور رسېدلی شي، تر اوبو لږ په جګه ارتفاع د پلي مزله لپاره سرك دی چې لاندې دبحر غاړه یې په غټو خښتو او ډبرو چې غالباً له بل ځایه راوړل شوي، پوښل شوې، دلته دناستې لپاره څوکۍ ایښودل شوي، پر اکثرو څوکیو نارینه او ښځې جوړه جوړه سره ناست وو، دې ځای ته اکثره هغه خلك راځي چې د راز او نیاز مشترکې شېبې ولري، همداسې یو حالت دلته روان و، څو شېبې مو دلته تېرې کړې او

نور ترې را روان شو لږ چې راغلو عبدالحفیظ وویل، چې استاده دا د ابو ظبۍ سټې سنټر دی دا د اماراتو دهر امارت په مرکز کې یو وي، چې هر څه په کې پیداکېږي، که څه سودا کوې چې ورکښته شو ما ویل نه سودا وروسته کوو، دا غیر له هغه نه هسې هم ټول په یوه نقشه دي، یو چې دې ولید لکه ټول چې دې ولیدل.

له هغه ځایه مخ پر شارجې راروان شو، دښار دواړه غاړې تعمیرونه مو له نظره تېر کړل، یو تربل ښکلی زیات شمېر شیشه یې تعمیرونه هم په کې وو، چې اوس نوې په کابل کې هم رواج شوي دي، له ښاره ووتو او موټر وې ته شولو، دا لاره راساً له ابوظبۍ نه شارجې ته راغلې، چې دنورو لویو لارو په شان ښه پوره، کره او عصري لاره ده، شل دېرش کیلو متره مزل مو لانه و کړی، چې عبدالحفیظ وویل استاده ښې لاس ته هغه خړبخن مسجد ګورې؟ ما ویل هو ګورم یې ده ویل دا هغه مسجد دی چې شیخ زاید یې په خپله د جوړولو امر کړی و او وخت پر وخت به ورته راته، خو دامسجد لاتکمیل شوی نه و، چې دی وفات شو اوس یې په همدې مسجد کې ښخ کړی دی، کرزی صیب هم همدلته جنازې ته راغلی و. له ابو ظبۍ نه تر شارجې پورې نږدې دوه نیم سوه کیلو متره لاره مو په زیاتو کم دوو ساعتونو کې ووهله او څه کم یوه بجه به وه، چې دشارجې یاسمین پلازا کې خپل پلاټ ته ستانه شو، عبدالحفیظ او ژوندون راڅخه رخصت واخیست او زه پلاټ ته پورته شوم.

عبدالحفیظ وویل سبا زه (۱۲-۱) بجې راځم بیا به لاړ شو دوبۍ ته، زه چې دیکشنبې ورځې سهار دمارچ (۲۰) له خوبه پاڅېدم، نو دیادښت کتابچه مې راواخیستله او دیونلیك پر لیکلو مې پیل وکړ، هغه یادښتونه چې مې د دوو ورځو او شپو په بهیر کې اخیستي وو له هغو څخه مې ګټه پورته کړه او نږدې شل مخه یونلیك مې ولیکه، یوه بجه عبدالحفیظ راغی او دواړه دتاج ولي دفتر ته لاړو، عبدالحفیظ ماته په لاره کې وویل، چې سبا شپه ۳ بجې زما او د تاج ولي پرواز دی، نور نو موږ درڅخه ځو، ما ویل داسې پروګرام به جوړ کړو، چې زما هم دلته شپې زیاتې نه شي، نن شپه چې زه دوبۍ ته لاړ شم، سبا به سودا وکړم، نو بل سبا به زه هم لاړ شم، په دې وجه به زما کارونه هم خلاص شي، ده ویل ښه درسته ده، زه ودی د تاج ولي دفتر ته لاړو، هلته مو د غرمې ډوډۍ وخوړه، اماراتو کې خلك دغرمې ډوډۍ ډېره وروسته خوري، ځکه چې اکثره خلك ایله (۱۱) بجې له خوبه پاڅېږي.

د ډوډۍ پر وخت تاج ولي عبدالحفیظ ته وویل، چې ته یون صیب سره دوبۍ ته لاړ شه او په هوټل کې ورته اتاق ونیسه او دلاجان استاد به ورته دسبا نه بل سبا یانې د سه شنبې ورځې لپاره ټکټ جوړ کړي، زه او عبدالحفیظ د ددوبۍ پر لوري را رهي شو، ماښام به و، چې دوبۍ ته راغلو، لاره کې مو حبیب ته تلیفون وکړ، هغه وویل، اول دلته دفتر ته راشئ بیا هغه نه وروسته هوټل کې اتاق ونیسئ. موټر مو یو ځای کې پارکنګ کړ

او د حبیب د شرکت پر لوري وخوځېدو، حبیب تجارتي شرکت خپله دحبیب په نامه دی او د دوبۍ ښار منځ کې په یو تعمیر کې چې لوحه یې له عمومي سړك څخه ښکاري موقعیت لري، دفتر په لومړي او دویم پوړ کې دی. دحبیب څنګك ته چې لاړو هغه ډېر مصروف و، خو موږ سره کېناست موږ ته یې ویل څه شی، چای، مېوه او که د میوې جوس؟ موږ ویلې هېڅ مو زړه ته نه کېږي، بیا یې دخپل دفتر یو چا باندې غږ وکړ دمېوې جوس راوړئ. هغه لاړ دمېوې جوس یې راوړ، حبیب سره مو د افغانستان، ننګرهار او په تېره بیا د ګردي غوث په اړه ښه بحث وکړ، حبیب ته مې ویلې چې ګردي غوث کې خو بیا څه مشکل پیدا شوی داڅنګه معامله ده چې هېڅ خلاصی نه لري، دا لګښت خو والله که پر دې ځای ارزي چې کله مو کوچیانو سره پرې جنجال وي او اوس په کې دشینوارو خبره هم پیدا شوه، هغه ویل والله چې زه هم حیران یم په دوبۍ، امریکا او ناروې یې ګټو او پر ګردي غوث لګوو که دا پیسې موږ پر بل ځای لګولې وای اوس به پرې څلور پنځه ګردي شوي وای. حبیب زیاته کړه چې څو ځله مې حاجي صیب (خپل پلار پیر محمد حاجي)ته وویل، چې تېر شه ترې، هغه ویل، چې موږ خو ترې تېر یو، خو خلك مو نه پرېږدي، کله یو غاړه کې راچوي او کله بل. ما لا ورته دګردي د ارزښت په اړه یو کیسه هم وکړه چې ویل کېږي، دګردي یوې مخورې ښځې یو وخت کې کابل کې خپل یو اندېوال ته دګردي غوث ډېره ستاینه وکړه، چې دا داسې ځای د غرونو لمن کې پروت دی لاندې ترې عمومي

سړك او بیا لاندې ترې د کابل کونړ عمومي سیند بهیږي، مقصد یې دا و، چې خپل ملګری تشویق کړي، چې دده ست او مېلمستیا ومني او ده سره ګردي ته لاړ شي، له ورځو نه یوه ورځ د ده ملګری ګردي ته راغی او دده مېلمه شو کله چې مېلمه ګردی وکوت، نو خپل ملګري ته یې مخ راواړوه، چې ((مدیر صیب دلته خپله راغلي یاست که دولت اچولي یاست)). مېلمه فکر وکړ، چې داخلك یې جزایي دولت دلته راوړي دي، ځکه په داسې سخت او وچ ځای کې خو ځوك په خپله خوښه نه اوسېږي، حبیب هم ډېر وخندلې، حبیب بیا عبدالحفیظ ته مخ راواړوه چې یون صیب ته کوم هوټل کې ځای نیسې؟ فایو ستار، فور ستار کوم یو، ما ویل موږ (ستار والا) نه یو مقصد داسې یو ځای وي، چې نن شپه او سبا شپه په کې تېره شي او بېرته ترې ووځو، حبیب په خندا کې وویل، وه یون صیب دلته ګوره هوټلونه ډېر خطرناك دي چې راځخه خراب دې نه کړي، سم روغ جوړ پاك ستره سړی یې چې دوبۍ کې رانه خراب نه شې ما ویل والله شارجه کې ښه پاك ستره پلاټ کې اوسېدم خو دا ځوانان روان دي او سخت مصروف دي نور یې له کاره نه باسم، حبیب وویل دوی ته خو ما وظیفه ورکړې چې یون صیب سره به ګرځئ که نه دا دومره دتورې نه دي که نه وخته به یې پرې اینبی وای، ما ورته وویل چې زه په دې ځو ورځو کې سخت بند یم نو تاسې باید یون صیب وګرځوئ حبیب وویل زما نن شپه پاکستان ته پرواز دی، د معدې تکلیف راته پیداشوی او سخت په تکلیف یم، کله چې ځوکۍ کې کېنم نو

معده مې جوش وکړي، چاراته وویل، چې په لاهور کې دمعدې یو ډېر ښه ډاکټردی، هلته لاړ شه، نو اوس فقط دهمدې مرض لپاره ځم، ما ویل وایي چې طب کې هندوستان ډېر مخکې دی هلته نه ځې؟ هغه وویل زموږ ځو نور ملګري چې دمیدې تکلیف یې درلود همدې ډاکټر ته ورغلي وو او اوس ښه شوي دي دغسې لږ تجربه شوی غوندې ډاکټر دی نو توکل په خدای نو بیا یې عبدالحفیظ ته وویل چې سم ځای کې اوسم هوټل کې ورته اتاق ونیسه، چې بازار ته نږدې وي او وخت پر وخت راووځي، هوټل کې هم متواتر د خلکو زړه تنګېږي. زه او عبدالحفیظ ووتلو ځو هوټلونه مو وکتل سخته ګڼه ګڼوڼه، کړنګ او کړونګ په کې و، هغه ته مې وویل دې کې به دچا پلار خوب وکړي، ځینو هوټلونو سنګل بېډ نه درلود او د ډبل بېډ یې په شپه کې څلور سوه درهمه اخیستل، ما عبدالحفیظ ته وویل دا خو سخته قیمتي ده، ما فکر وکړ، چې څلور سوه ډالر یادوي، خو وروسته راته هغه وویل، چې نه درهم یادوي، بیا دریو هوټلونو نورو ته لاړو چې په سینګل بېډ یې دوه سوه او یونیم سل درهمه اخیستل، دهغوی اتاقونه مو چك کړل ښه و بد نه و، خو په ځو وم منزل کې وو، ما ویل، موږ ځو د لفت سیستم او نورو ضروریاتو سره بلد یږو زړه به یې راچولی وي، هر هوټل له استثنا پرته نایټ کلب او ډسکو کلب درلود او اوازونه ترې پورته کېدل، عبدالحفیظ هغوی ته دنه او هو خبره ونه کړه او ویې ویل چې بېرته راځو اخر په لاره کې یو بل هوټل ته ورغلو له بهر څخه ډېر لوکس معلومېده، ځو منزله و،

کلیفورنیا هوټل نومېده، عربان هوټل نه فندق وایي په عربي نوشته و .( فندق کلیفورنیا ) او په انګرېزي (CALIFORNIA HOTEL) نوشته و.

ریسپشن ته ننوتو، ښه پاك معلومېده ریسپشنستان یې اکثره هندیان وو انګرېزي اردو میکس خبرې یې کولې، عبدالحفیظ وویل ځه دوی سره خبرې اسانې دي، که انګرېزۍ کې بندېږم اردو وایم که اردو کې بندېږم انګرېزي ورسره وایم.

هغوی نه یې دسینګل بیډ پوښتنه وکړه چې شته که نه؟ هغوی وویل هو شته، په څو په شپه کې؟ دوه سوه درهمه، عبدالحفیظ وویل لیدی یې شو؟ هغوی وویل هو، یو تن یې راسره کړ، کله چې په لفت کې ودرېدو نو د اول منزل تکمه یې ووهله په لفت کې خوشبویي لګېدلې وه، کله چې مو دلفت ولاړو غاړو ته وکتلې، نو دهندي او ایراني ډسکو ګانو عکسونه په کې لګېدلي وو، عبدالحفیظ ته مو وویل له دې شیانو لکه چې خلاصی نه شته، اعلان خویې ان په لفت کې لګېدلی دی، هغه ویل دلته په هوټلونو کې دا وي، خو ته ودرېږه چې اتاق یې وګورو چې سم دی او که نه اوازونه ورته راځي چې بیا به دې د شپې خوب ته نه پرېږدي، اتاق ته چې لاړو یو چپرکټ، تلویزیون، څو څوکۍ، مېزونه، الماري او یخچال په کې و، اتاق یې هم ښه پاك او ستره و، عبدالحفیظ وویل استاده تردې نور پاك نه شو پیداکولی، که دې خوښه وي، همدا به بوك کړو او بیك به ورته راوړو، بیا به زه

او ته ووځو، که سوداکوې او ډوډۍ به هم وخورو، دلته دې هوټل کې څوك ډوډۍ نه خوري. ما ویل سهي ده ریسپشن ته لاړو د دوو شپو لپاره مو اتاق ونیو او عبدالحفیظ څلور سوه درهمه تحویل کړل.

بیك مې په اتاق کې کېښود، چې بېرته وتلو دهوټل په چپ لاس کې سره او شنه ګروپونه بلېږي، عبدالحفیظ وویل ته درځه چې سر وردننه کړو چې څه حال دی، هغه چې سر وردننه کړه ویل درځه پرېږده یې چې لاړ شو خپل کارونه خلاص کړو، عبدالحفیظ بېرته راووت، ماته یې وویل د ایران ډسکو وه او ایرانۍ سندرې یې په کې ویلې، ما په لاره کې ورته ویل چې دا سندرې مفتې وایي او که پیسې اخلي؟ ده ویل نه سندرې مفتې دي، خو څوك چې هلته کېني، هغوی پیپسي څښي، یاالکولي مشروبات څښي اوخوراك خوري هغه پرې دومره لوړ حسابوي چې دټولو قصور په کې وځي.

تر هغه وروسته زه او عبدالحفیظ ښار ته لاړو، د دوبۍ د طلا بازار صفت مو ډېر اورېدلی و او خلکو به ویل چې دلته په طلاو کې هېڅ تقلب نه وي، ما عبدالحفیظ ته وویل چې کېدی شي یو دوه ګوتمۍ واخلو، هغه وویل د دوبۍ هسې نوم دی، که نه دې نه سره زر افغانستان او پاکستان کې ښه تمامېږي، دا صحیح ده، چې دلته په سرو زرو کې درغلي نه وي، خو دوی داسې نورې لارې راوباسي دمیکنګ چارج ( دجوړولو لګښت) په نامه

اونورې، څرنګه چې دلته دمزدور معاش لوړ دی، نو چې داپرې حساب کړي ډېر قیمته کېږي، بلـه خبره داده چې دلته اکثره بهرنیان راځي، پر هغوی باندې چې دوی هر څومره میکنګ چارج کښنود تېرباسي یې، لاړ به شو بازار به وګورو که دې خوښ شول وابه یې خلې او که نه زمانې چې په کابل او پېښور کې یې واخلې ښه به وي، هلته یې شیپونه هم ښه وي، دلته اکثره داسې شیپونه دي چې غربیان یې خوښوي، خو بیا هم لاړ به شو وګورو که څه دې خوښ شول وابه یې خلو، د دوبۍ طلا بازار دنړۍ دسرو زرو له لویو بازارونو څخه یو دی، چې په سلګونو لوی او واړه دکانونه لري او هر دکان په رڼا او طلا باندې لکه دلمر شغلې داسې ځل وبل کوي، څو دکانونو ته ورپورته شو هر دوکان کې دومره ګڼه ګوڼه وه چې سړي په اسانۍ نه شو کولای په دوکان کې ټول ایښودل شوي سمپلونه او شیپونه دقیقاً له نظره تېر کړي، په ډېرو ګڼو شیپونو کې سړي نه دخپلې خوښې نښه هم ورکه شي، څو دکانونه مو همداسې له نظره تېر کړل، یو بل دکان ته هم پورته شو یوه خوا له سپینو زرو جوړ شوي شیان ایښودل شوي وو، څنګ ته یې یو تك تور او وچ هندو ولاړ و.

ما له عبدالحفیظ څخه پوښتنه وکړه دلته دسپینو زرو کاربار هم کېږي؟ هغه وویل: دلته تر سرو زرو سپین زر ډېر قیمته دي، ما ویل په افغانستان کې خو سپین زر ډېر ارزانه دي دلته ولې دومره قیمته دي، هغه وویل میکنګ چارج قیمت ډېر ګران کړی دی، دې وخت کې هندو په سپوره لهجه عبدالحفیظ ته وویل: دا مه

بېرته کوئ تاسې یې هسې هم اخیستلای نه شئ، هسې یې ګورئ دلته تاسې غوندې ډېر راغلي او تللي، څوک چې دا شیان اخلي هغه له ورایه معلومېږي، عبدالحفیظ وربرګك شو په اردو ژبه یې ورته وویل: څنګه یې نه شو اخیستلای؟ ته په دې قواره دلته ولاړ یې او دکانداري کوې او زه یې نه شم اخیستلای، هندو بیا په (سوي تبسم) ډول وویل دا الماس دي، عبدالحفیظ وویل الماس دي که سره دي که سپین که د چا خوښ شول ضرور به یې اخلي، چې خوښ یې نه شول، هغه هېڅ ارزښت نه لري، هندو بیا خپلې خبرې ته زور ورکړ، نه یې شې اخیستلای، عبدالحفیظ بیا ورتاو شو، قوارې ته دې وګوره اخلاقو ته دې وګوره ته غواړې په دې شکل یو څوك په غیرت کې راولې او خپل مال پرې خرڅ کړې، عبدالحفیظ زیاته کړه زه هم دوکان لرم، خو په تاغوندې بدو اخلاقیو په چا څه نه خرڅوم، زه پوهېږم چې په دې دوکان کې پردی مزدور یې او د څو روپیو په مقابل کې دلته په دوو پښو ولاړ یې، اول د دوکانداری اخلاق زده کړه بیا دوکان وکړه پوه شوې که نه؟ عبدالحفیظ نور هم وربرګك شو او غوښتل یې هندو ښه بې عزته کړي، ما ورته وویل راځه څه یې کړې همدا به یې اخلاق وي، ده ویل نه دا اخلاق زه ورته ورښیم، عبدالحفیظ مې په زوره له دوکانه راوویست، څو دوکانونه مو نور هم وکتل، خو دتېر هندو په شان وضع بیا چا تکرار نه کړه، خو بالاخره موږ ته د خپلې خوښې غوږ والۍ، غاړکۍ او ګوتمۍ په نظر رانغلې له هغه ځایه راووتلو، عبدالحفیظ وویل راځه چې

لاړ شو د عطرو دوکان ته څو دوکانو کې مو عطر بیه کړل، دیو دکان بیه تر بلې ډېره کښته او پورته وه، ما ویل ولې دلته په دوکانونو کې دومره تفاوت شته، عبدالحفیظ وویل دلته یوازې په سوپر مارکېټونو کې قیمتونه فکس دي، نور نو دهر دکاندار زړه وي، چې خپله سودا په څو خرڅوي، دلته اکثره بهرنیان راځي او هغوی خپلو کورونو ته تحفې وروړي قیمتونه ورته معلوم نه وي دوی چې پرې هر څه په هر څو خرڅ کړل دا ددوی خپله خوښه ده، مسافرینو سره وخت هم کم وي او ځینې یې په ژبه هم سم نه پوهېږي، نو ځکه دا دوکانداران ډېره ګټه کوي، بیا دعطرو څو مخصوصو دوکانونو ته لاړو، هلته قیمتونه تر نورو نسبتاً ارزانه وو، ما ویل دوی به نور قیمتونه نه راټیټوي خو عبدالحفیظ به دکابل له دکاندارانو سره چې جګړه کوي دومره جنجال ورسره وکړ نو قیمت به یې ان په سلو کې (۳۰) سلنه راټیټ کړ، همدلته مو دوه درجنه عطر په ښه بیه ترلاسه کړل تقریباً یو متوسط بوتل ښه عطر په (۱۵) درهمه چې تردې دمخه دوکانو کې همدا په (۳۰) درهمه خرڅېدل، واخیستل، تر هغه وروسته عبدالحفیظ وویل، نوره څه سودا کوې، ما ویل سبا به څه سودا وکړم، هغه ویل خیر نو چې داسې ده څه چې ځو همغه افغاني هوټل ته هغه هوټل ته لس یوولس دقیقې پلې لاره وه، هلته لاړو، په افغان کباب هاوس کې مو کباب وخوړ، د افغانانو تر څنګ دنورو هېوادونو ګڼ شمېر اتباع هم دلته د ډوډۍ لپاره راغلي وو چې عرب شیخان هم په کې وو. دشپې یوولس بجې به وې چې بېرته

هوټل ته لاړم، عبدالحفیظ رانه خدای پاماني واخیسته او ویل یې چې سبا یوولس بجې به دې لیدو ته درشم، سبا شپه زما پرواز دی او مازیګر به زه درنه خدای پاماني واخلم.

د دوشنبې ورځ (د مارچ ۲۱)مه نېټه عبدالحفیظ سهار (۱۱) بجې هوټل ته راغی، موټر کې سواره شو او سودا پسې لاړو، ماغوښتل دکور لپاره ځینې شیان واخلم، څو دکانونو ته لاړو، غوښتل مو د عکاسۍ یوه کمره، دماشومانو دخوښې سامان، دثبت یا یادښت یو ماشین او ځینې نور شیان واخلو. څرنګه چې عبدالحفیظ خپله دوکاندار و، نو د بازار او دوکان په ژبه ډېر ښه پوهېده، په نرخونو کې یې دومره سختي کوله چې دلته په کابل کې یې هم څوك له کوم دوکاندار سره نه کوي، دښار زیات شمېر دوکانداران هندیان او پاکستانیان وو، دعبدالحفیظ اردو هم ښه زده وه، بلاخره په یوه دکان کې مو یوه دعکاسۍ ډیجیټل کامره خوښه شوه، یوولس سوه درهمه یې بیه کړه، خو د عبدالحفیظ د زیات ټینګار او جنجال له امله مو په (۷۰۰) درهمه واخستله، دیادښت دثبت ماشین مو په درې سوه درهمه او ځینې نوره وړه غټه سودا مو هم وکړه، بیا مو یو لوی سفري بکس او دوه نور واړه لاسي بکسونه واخیستل، سودا مو په کې واچوله او موټر کې مو کېښوده، بیا عبدالحفیظ وویل: راځه چې دبحر غاړې ته لاړ شو، لږ وخت شته، هلته به وګرځو، لږ نور ځایونه به هم وګورې، نیم ساعت زیات وکم مزل به مو کړی و، چې د بحر غاړې ته ورسېدو، موټر مو د سړك غاړې پارکینګ کې ودراوه، دا داسې مهال دی، چې نوې ګرمي لګېدلې او خلك دبحر غاړې ته دلمبلو لپاره راتلل، عبدالحفیظ نوې کامره چې همدا اوس

مو اخیستي وه له موټره راواخیستـه او ویـې ویـل راځه چې دلتـه یـې ټیسټ هم کړو، دبحر غـاړې تـه ورڅېرمـه د سل متـرو لـرې پـه واټـن تشنابونه وو چې ځینو خلکو په کې جامې بدلولې او ځینـو پـه کـې پـر ځان اوبه تېرولې، مـا لـه عبدالحفیظ څخه پوښتنه وکړه، چې هلتـه بحر کې لامبي نو بیا دې تشنابونو کې ولې پر ځان اوبه تېروي؟ هغـه وویـل دبحـر اوبـه تـروې دي، کلـه چې سړی پـه کـې ولامبـي او پرځـان پاکې تصفیه شوې اوبه تېرې نـه کړي، نـو وجود یـې سوخت کـوي او پوستکي ته یې سخت زیان رسوي.

نو ددې تشنابونو اوبه چې دي تصفیه شـوې دي، پـه همـدې وجـه څوك چې هلته بحر کې ولامبي، نـو دلتـه یـو ځـل بیـا پـر ځـان اوبـه تېروي چې جلد یې له خطره بچ شي.

دبحر تر غاړې تفریح ځای کې خرما ونې کرل شوې وې، خو اوس هم کارګران لګیا وو ګڼې خرما ونـې یـې نهـالولې، دا داسـې خرمـا ونې وې، چې بل ځای کې کرل شوې وې او ثمر ته نـږدې وې، اوس پـه عربـو کـې دا دود چـې پـه خپلـو کورونـو او بـاغونو کـې خرمـا نهالګي کري او کله چې ثمر تـه ورنـږدې شـي، نـو دولـت تـرې هغـه اخلي او بیا هغه د ښار په واټونو او تفریح ځایونو کې کري چې ژر ورسېږي. دلته یې هم داسې په لسګونو نوې خرمـا ونـې راوړې وې او کرل کېدې.

لږ څه وړاندې پر هغـې بلـې لارې وخوځېـدو چـې شـاوخوا پـه غټـو ډبرینو تیږو پوښـل شـوي وه، داسـې ښکارېـده چـې دا تیـږې یـې لـه

کوم لـرې غـره ځخـه راوړې وي، پخـه لاره تقریباً دسـلو متـرو پـه اوږدوالي دبحر تر سینې پورې ورغځېدلې وه.

پـر همـدې لاره تـر پایـه پـورې لاړو، ځـو قطعـي عکسـونه مـو واخیسـتل بیـا کـینې لاس تـه دبحـر ترغـاړې پلـې روان شـو، ځیـنې نارینـه لـه خپلـو مېرمنـو سـره پـه شـګه کـې ناسـت او ملاسـت ښکارېدل، ځینو لـه خپلو مېرمنو او ماشومانو سره پـه بحـر کـې لامبل، د ژغورنې عمله هم ځای ځای تر سترګو کېـده، پـه بحـرکې د لامبلو دمصونیت (خوندیتوب) برید معلوم و، تـر هغـه اخوا یـې دخطر علامې ایښې وې، هغـه چا تـه دا ډول صحنې ډېرې جـالبې وې چې یا یې بحر نه وي لیدلی او یـا بهـر تـه کلـه نـه وي تللی، تـر ځـو دقیقـو مزلـه وروسـته بېرتـه راغلـو او مـوټر کـې سـواره شـو، عبدالحفیظ وویل چې داسې به لاړ شو ځو نوې کالونۍ بـه وګـورو چې دحکومت له خوا نوې جوړ شوې دي او خپلو خلکو تـه یـې پـه قسـط ورکـوي، یـوه کالونـۍ مـو وکتلـه، ټولې ودانـۍ یـې پـه یـوه ډیـزاین جـوړ شـوې وې، ټـولې دوه پـوړیزه وې، لـه ډېـرې ښـې معمـارۍ ځخـه پـه کـې کـار اخیسـتل شـوی و، زمـا یـې ډیـزاین او رنګ ډېر خوښ شول، ماعبدالحفیظ تـه وویـل دا رنـګ یـې ډېر ښایسـته او سـنګینه نـه دی؟ هغـه وویـل دلتـه خـو ډیکوریشـن تـه زیات ارزښت ورکوي، دکور د بهرنـي اړخ ځانتـه متخصصـین دي چې هغه دکور تر تـرمیم وروسـته رنـګ ورتـه غـوره کـوي، دا خلـك دومره رسېدلي چې هر ځه تـه یـې پـام دی، بـل پیسـې لـري ډېـرې زیاتې، ټول کار پـه پیسو کېږي، لږ چې وړانـدې لاړو هلتـه هـم یـوه

بلـه کالونـۍ وه چـې لسـګونو بلاکونـه پـه کـې ودان شـوي وو دا هـم اکثـره دوه پـوړيزه وو، خـو ډيـزاين او ډيکوريشـن يـې تـرهغې بلـې کالونۍ بشپړ تفاوت درلود، خو دومـره ښکلـې وه، چـې دچا خبـره نندارہ يې کېدله نندارہ، له هغه ځايه راغلـو يـو سوپرمارکيټ تـه، غوښتل مو دغاښو برس، کريم، صابون او ځينې نورشيان واخلـو، ځينې سوپرمارکيټونه داسې دي چې قيمتونـه پـه کـې فکس وي، څـوك يـې پـه قيمـت کـې بحـث نـه کـوي، کلـه چـې مـارکيټ تـه ورننوتـو، ښکلـي لاسـګاډي او پلاسـتيکي کڅوړې دا ټول پـه کـې وو، دا کڅوړې او لاسګاډي داسې دي، چې شيان په کې راټولـوي بيـا يـې پـه پـای کـې د کمپيـوټر تـرڅنګ وروړي، پـر شـيانو بانـدې خپل خپل قيمتونه ليکل شوي، مسئول مـامور، هغـه قيمتونـه لـه ماشينه تېروي او کمپيوټر درتـه پـه پـای کـې بـل درکـوي، مـا نـا دا چې هېڅ ډول درغلي په کې نه کېږي، که احياناً څوك غـواړي کـوم مال چې د قيمـت مـارك پـرې لګېـدلی وي، همداسې لـه ځان سره يوســي، نــو هلتــه کمپيــوټر اواز کــوي، د دوبــۍ پــه ټولــو سوپرمارکيټونو کې دا سيستم فعال نه دی، خو په ځينو کې شته، دلته مو سودا وکـړه تقريباً د (۴۰۰) درهمو بـل يـې راکـړ، تـر دې سـوپرمارکيټ چـې راووتـو، نـو عبـدالحفيظ وويـل راځـه چـې نـن دربانـدې سياره ډوډۍ وخورم، مـا ويـل سـهي ده، مـوټر يـې داسـې يو ځای ته ودرواوه چې تا فکر کاوه د تېلو ټانـك دی، د تېلـو ټانـك نـه و، خـو هغـه تـه ورتـه و! چـپ لاس تـه تعميـر و، څـو تنـه لـه يـوې کړکۍ څخه ښکاره کېدل، هغوی عبدالحفيظ ته دخپلې غـوښتنې

پـه اړه وویـل، هغـوی خپـل بـل ورکړ او پیسـې یـې تحویـل کـړې، اشاره يې وکړه چې هغه بلې غرفې ته لاړ شئ، یـو اوه اتـه متـره پـه فاصله موټر هغه بلې غرفې ته لاړ، هلتـه یـې زمـوږ غـوښتي شـیان تیار کړي وو، بل مو ورکړ او هغه شیان یې تیـار پـه پلاستـیك کـې تاو کړي وو، راته رایې کړل، همبرګر، چپس او پیپسي او څـه نـور شیان په کې وو، موږ چې ډېر وږي شوي وو، نـو ژر مـو پـه خـوراك پیل وکړ، موټر ورو ورو دحرکت په حـال کـې و ډوډۍ مـو پـه خونـد خونـد وخـوړه او د هوټل پر لـوري رهـي شـو، پـه لاره کـې مـوټر یـو ځای کې ځمکتلي یا زیر زمیني کې ننوت، اټکل پنځـه سـوه متـره مزل به یې کړی و عبـدالحفیظ ماتـه وویـل چـې دا بحـر لانـدې لاره ده او بیا یې د داسې یوه پله یادونه هم وکړه چې ویل یې د بحـر لـه پاسـه تېـر شـوی کلـه چـې ضـرورت وي د پلـه دواړه غـاړې سـره وصلېږي او پل تر جوړېږي موټر پرې ځي، خـو کله چې کښتـۍ لـه دې ځایـه تېرېـږي پـل سـره بېرتـه جـلا شـي او لاره کښتـۍ تـه اواره شي.

مازیګر نږدې و، چې خپل مقیم هوټـل تـه ورسېدو، عبـدالحفیظ راسره سودا تـر اتاقـه پـورې ورسـوله، زه ورسـره راکښتـه شـوم او د هوټـل رسپشـن (هرکلیـوال) تـه یـې وویـل چـې کـه څـه ضـرورت و مرسـته ورسـره وکـړه، عبـدالحفیظ لـه مـا څخـه خـدای پامـاني واخیسته او زه بېرته هوټل تـه لاړم. کلـه چـې هوټـل تـه لاړم دلاجـان تلیفون وکړ چې سبا سه شنبه سـتا پـرواز معطـل شـو ټکـټ نـه شـته (اریانا) خو بېخي بله اوونۍ پرواز لري خو (کـام ایـر) کـې دجمعـې

پر ورځ امکان شته، نو که خوښه دې وي چې هغه ټکټ بك کړم. ما ویل بل امکان نه شته هغه وویل نه، ما ویل، نو مجبور یو دکام ایر ټکټ بك کړه، هغه همداسې وکړل. دټکټ په معطلۍ ډېر خفه شوم.

په همدې چرت کې وم چې خوب راغی او ویده شوم، یو وخت چې بیدار شوم، ساعت ته مې وکتل، د افغانستان پر وخت دشپې یوولس بجې وې، تشناب ته ننوتلم، مخ و لاس مې ومینځل د موسیقۍ اوازونه مې تر غوږو شول، کړنګهار شېبه په شېبه زیاتېده او توندېده، کمره مې ځان سره واخیسته او لاندې رسیپشن ته کوز شوم، هغوی نه مې د خپل پارسپورټ د اخیستلو هیله وکړه، هغوی وویل پاسپورت خو اصولاً موږ سره وي، خو ماته یې د خپل هوټل بزنس کارتونه راکړل چې ادرس او تلیفون هر څه په کې وو، ما ویل پولیس به پرابلم پیداکړي، هغوی وویل چې هېڅ خبره نه شته دا کارت خپله سند دی، هرڅه مشکل چې پیدا شو په همدې نومره موږ ته تلیفون کولای شې، هغه کارتونه مې په جیب کې کېښودل او تر هوټله په دې نیت بهر شوم چې که کوم افغاني، پاکستانی او یا هم ایرانی رستورانت پیداکړم، افغان هاوس خو مې لیدلی و، خو ډېر لرې و او زما په شان دیوه نابلده شخص لپاره یې پیدا کول هم څه اسانه کار نه و.

په همدې وجه له هوټل څخه ښي لاس مخ بره وګرځېدم، پر یوه پاکستاني هوټل مې سترګې ولګېدلې، نو زړه مې وغوړېده کله

چـې ځـوك بهـر؛ مقصـد لـري اروپـايي هېـواد تـه لاړ شـي، نـو پاكســتانی، هنــدی او ایرانــی هــم ورتــه ډېــر قریــب او عزیــز معلومېږي، هوټل ته پورته شوم، همغه دلاهور فضا خوره وه، خو دومره وه چې دلته غذا او فضا دواړه پاك وو.

دچرګك یوه ټوټه او یوه پیپسي مې راوغوښتل، ډوډۍ مې ښه په مړه خېټه وخوړه، دهوټل خزانه دار ته مـې وويـل څو روپۍ شوې؟ هغه وويـل (۷) درهمـه، هغـه مـې ورکـړل او بېرتـه دهوټـل پـر لـوري روان شـوم، کلـه چـې دسړك پـر غـاړه روان وم، نـو هـم دخلکـو ګڼه ګوڼه او هم د موټرو تګ راتګ ډېر زيات و، دلته ماته هغـه دخپـل ملګري خبره رایاده شوه، چې عرب د ورځې خوب کوي او د شپې عياشي، نو ډېر شيخان مې له ښځو سره وليـدل چـې ګرځېدل خو بيا هم تر كورنيو عربو بهرنـي خلك، ښځې او نـر زيـات ګرځېـدل، خصوصاً په تور لباس کې سپينې ايرانۍ مېرمنې، کلـه چـې هوټـل ته لاړم، نو يو ځل بيا مې دلاجان ته له ريسپشن څخه تليفـون وکـړ او دټکټ پوښتنه مـې وکـړه، هغـه وويـل د جمعـې ورځ امکـان لـري سبا به درته ټکټ راوړم.

له ريسپشــن څخـه تليفـون ډېـر قيمتـه و، تقريبـاً يـو تليفـون پنځـه درهمـه تمامېـده مـا څـو تليفونونـه وكـړل پـه همـدې وجـه بلاخـره ريسپشن راته وويل چې تليفون كارت واخله او له خپل اتـاق څخه يې ډايل (داير) كړه داسې ارزانه تمامېږي، بيا مې همداسـې وكـړل د شلو درهمو كارت مې واخيست او ښايسته كار يې راكړ.

څو دقیقې دهوټل په ریسپشن کې ناست وم او چرت وړی وم، په دې وخت کې راپه یاد شول چې سبا ته خو دهوټل وخت هم پوره کېږي، نو بایده دي چې ددریو شپو لپاره نور هم اتاق بک کړم، ریسپشن ته مې وویل چې زه درې شپې نور هم پاتې شوم، هغه زما کارت راوویست او درې شپې یې نورې هم په کې زیاتې کړې او شپږ سوه درهمه بل مې تحویل کړ، دې وخت کې بېرته پر څوکۍ کېناستم، تر لږ ځنډ وروسته دمو سیقۍ بېلابېلو اوازونو ته متوجه شوم، ښي لاس د ایراني موسیقۍ او سندرغاړو اوازونه وو او چپ لاس دهنـدي، پـردې وخـت دهنـدي ډسـکو خـونې ور چاپېرته کړ ډېر خلك ناست وو، لـه خونې شاوخوا د سګرتو لوګي له ورایه ښکارېدل پر مېزونو ښځې او نر ناست ښکارېدل، ما چې دسګرتو دا حال ولید نو ان له لرې مې ترې بد راغلل، الکولي څښاك، څکاك او نشه کوونکي څښاك سره زما له ډېرې پخوا ورانه ده، دخدای(ج) فضل دی د هېڅ ډول نشه کوونکي څښاك او څکاك عادت او عمل نه لرم، له شرابو او نورو نشه کوونکو توکو سره خو مې ځکه ورانه ده، چې د انسان دفکر دثقل مرکز له منځه وړي او له نورمال حالته یې باسي، زه غواړم چې په فکري ثبات دخپلې ټولنې ناخوالې له منځه یوسم او اسلام هم چې دا شیان حرام کړي دي د انسان د دې او هغې نړۍ دواړه ګټې یې تضمین کړي دي.

له سګرټو سره مې له پخوا ورانه وه، خو هغه وخت مې ورسره حساسیت لا زیات شو، چې په (هیله) مجله کې مې دسګرتو او له

هغو څخه د راولاړېدونکو ناروغیو په باب دښاغلي پوهندوی ډاکټر بشیر نورمل څو پرله پسې مقالې خپرې کړې. ښاغلي بشیر نورمل په یوه مقاله کې دیوه لوی او پرمختللي هېواد په باب لیکلي وو، چې په کال کې د اتو ملیاردو ډالرو په ارزښت سګرټ څکوي او تر دې زیاتې پیسې بیا له هغو څخه دراولاړو شویو ناروغیو دتداوۍ لپاره لګوي، داپیسې چې ماتولې محاسبه کړې، د افغانستان تقریباً دپنځوسو کالو بودجه جوړوي، ماته دا تصور پیدا شو چې زمونږ دمملکت دپنځوسو کلونو د بودجې په اندازه یو بل هېواد په کال کې په سګرټودوړه کوي، کله چې مې ښي لاس ته وکتل، دلته د ایرانۍ سندرو غږ راته، دا هغه ځای و چې عبدالحفیظ ورته پر اوله ورځ سر ورداخل،کړ خو بېرته ترې راووته.

ما ویل راځه دې سندرو ته خو به کېنو چې څه وایي که دخوراك یا څښاك ست یې وکړ، نو ورته به ووایم چې د چرګ یوه ټوټه او یوه پیپسي راوړئ او بس. کله چې دې ځای ته ورداخل شوم، نو په دروازه کې هرکلیوال ماته ښه راغلاست ووایه، هال ته یې د ورتګ بلنه راکړه، هال ته ورداخل شوم، یو څو ایرانۍ جونې دهال په اخره برخه او یو دوه شیخان دهال په بله برخه کې ناست وو، ګڼه ګوڼه ډېره نه وه، خو ورو ورو د ښځو او نارینه وو تعداد زیاتېده، وخت تقریباً دشپې دولس نیمې بجې وې، دستېج پر سر یو ځوان ایراني هلك په فارسي ژبه سندرې ویلې او نورو دموسیقۍ الې لکه جاز او نور غږول، اوازونه دومره تېز وو چې

دځنګك سړي خبره دې هم نه شوه اورېدلای، زه تر ټولو لرې د یوه تش مېز خواته کېناستم، له ناستې سره سمې دوه چیني جونې (ګارسونې) چې په قد ټیټې او خورا بدرنګې وې زما ځنګك ته راغلې، دیوې لاس کې قلم او کاغذ او د بلې لاس کې مینو وه، سره له دې چې زه ښه موړ وم، خو چې هوټل کې کېنې او مفته موسیقي اورې، نو ضرور به یو څه خورې او څښې، ماته یې ځان رانږدې کړ دومره پوه شوم چې وایي څه غواړې اوڅه څښې، ماخپلو غوږو ته لاس ونیو او بیا مو ستېج ته چې څه نه اورم اوازونه ډېر لوړ دي، مانا دا چې مینو کېږده چې زه یې خپله په کې خوښ کړم، مینو یې کېښوده، چکن پیس او یوه پیپسي مې ورته فرمایش ورکړ، هغوی هغه مینو ځان سره یوړه لومړی یې راته پیپسي او یوه قاب کې دجوارو پولۍ راوړې، ما چې دې دواړو چیني نجونو ته وکتل، ما ویل زموږ شاعرانو هم موږ ډېر غولولي یو، موږ ته یې د چین دختن دښاپېریو څومره صفتونه کړي دي که دا دهغه ځای ښاپېرۍ وي، نو له ښاپېرو نه به هم دخلکو زړه تور شي.

د استاد الفت هغه خبره هم راپه یاد شوه، چې د پښتنو شاعرانو په باب یې کړې وه او ویلې وو، دوی پښتانه غولولي دي، چې تاسې ډېر غیرتي، توریالي او جنګیالي یاستئ، علم و معرفت ته یې نه دي تشویق کړي، جنګك او جګړې ته یې هڅولي دي، مقصد دا چې شاعران هم له (نه) شي څخه یو شی جوړولای شي.

د پولـۍ یـوه یـوه دانـه مـې خوړلـه او موسـیقۍ تـه غـوږ وم، څـو دقیقې وروسته یې د چرګک یوه سره کړې ټوټه او لږ وچه ډوډۍ هم راوړه، ډوډۍ مـې هـم لـږ لـږ خوړلـه او موسـیقۍ تـه هـم متوجـه وم د (ګل مریم) سندره یې هم وغږوله، خو چندان په زړه پورې سندرې نه وې یا یې ماته خوند نه راکاوه، څو شېبې لا نـه وې تېـرې شـوې چې یو شیخ راننووت، سپینې جامې پر تـن او چلتـار پـر سـر، ښـه چـاغ او ودان سـړی ښکارېـده، ښـه پـوره نشـه و، کلـه چـې ایرانیـو نجونو هغه ولید، نو دهال لـه وروسـتۍ برخې ورتـه راپورتـه شـوې او مخې ته ورته راغلې، له لاسه یې ونیو، شیخ یـوه جلـۍ لـه لاسـه ونیوه او د سټیج لاندینۍ برخه کې یې له ځان سره تاوه کړه، ټولـو وخنـدل بیـا شـیخ لـه هغـې جلـۍ سره هلتـه لـرې دیـوه مېـز تـر شـا کېناستل، موسیقي چالان وه، دې وخت کـې زمـا زړه نـور راتـنګ شو، خپلې کمرې ته مې پام شو، ما ویل راځه یو عکس خـو واخلـه او نور به ځم، زړه کې مې دا هم وګرځېدل هسې نه چې عکس منع نه وي. خو زړه مې وکړ کمره مې دمېز پر سر عیاره کړه او د سټیج پـر سـر چـې کـوم ایرانـي سـندره ویلـه د هغـه او سـټیج عکـس مـې واخیست، دکمرې فلش دومره تېز و چې ټول هال یـې خبـر کـړ، دې وخت کې یو دم دا چیني جینـۍ راغلـه او پـه ډېـره تونـده لهجـه یـې وویل ډونټ ټیك پیکچر! (تصویر مه اخله!) ما ویل ولې؟ دا بیـا پـه قهـر شـوه، دې سـره د سـټیج پـر سـر موسـیقي هـم غلـې شـوه، سندرغاړی زما څنګ ته راغـی او رانـږدې شـو وې ویـل، اغـا اهـل کجایي؟ ما ویل، افغانم، چرا تصویر ګرفتي، ما ویـل چـرا تصـویر

ممنوع است؟ ده ویل چرانی ممنوع یه، ماته یې وویل تصویر دې له کمرې لرې کړه، ما چې کوښښ وکړ، تصویر مې ډیلیټ (لرې) نه کړای شو، ما ورته وویل ورورە دا کمره نوې ده زه یې هم د تصویر په صفا کولو نه پوهېږم، که ته پوهېږې، مهرباني وکړه نو زما نور تصویرونه به نه خرابوې خپل تصویر دې لرې کړه، هغه کمره واخیسته ګوتې یې په کې ووهلې خو خپل تصویر یې ډیلیټ نه کړای شو، بیا یې کمره واخیسته بل چا ته یې یوړه، خو بالاخره تصویر یې ترې لرې کړ او کمره یې بېرته ماته راوړه او راته یې وویل وګوره خپل مخکې تصویر دې په کې شته.

یو څو شېبې نور هم کېناستم، موسیقي ورو ورو بېرته چالان شوه، دخلکو ګڼه ګوڼه هم زیاتېده یو نیم شیخ بل هم رازیاتېده، خو ما هغې چیني جلۍ ته اشاره وکړه چې بل راوړه، هغې بل راوړ (۴۵) درهمه یې په کې لیکلي وو، پیسې مې ورکړې او نور بې خونده له هاله را بهر شوم، څو شېبې مې په اتاق کې دهمدې یونلیک پر لیکلو تېرې کړې او نور ویده شوم.

سهار چې کله پاڅېدم نو یو څو شېبې مې پر یونلیک لیکلو تېرې کړې، بیا راباندې خوب راغی، کله چې راویښ شوم ساعت ته مې وکتل یوولس بجې وې، ریسپشن ته مې تلیفون وکړ، چې چای راته راوړي، هغه لکه چې زما په خبره سم پوه نه شو، نیم ساعت ووت، خو چای رامعلوم نه شو، بیا مې تلیفون وکړ، دا ځل غوړېږ بل شخص جګه کړه هغه راته وویل لومړي منزل ته لاړ

شـه، هلتـه چـای تیـار دی، لومـړی منـزل مـې پیـدا نـه کـړ، لاندې ریسپشـن تـه لاړم، هغـه راتـه وویـل لفـت کـې د لومـړي منـزل بټـن ووهه چای هلته ښبي، هلتـه لاړم، چـای هم اخر و، یـوازې یـو څو تنـه ناسـت و، چـای یـې ښبـه، یـوه هـم پـه کـې یـوه تـوره افریقـایي مېرمن وه چې هغه د چا خبره پوره نندارە یـې کېدلـه او کـه پـر کـوم ډارن سـړي دشـپې لـه خـوا ورغلـې وای نـو زړه بـه یـې پـرې بـوټ کښلی وای. هر چا پـه خپلـه ځـان تـه چـای اچـوه، یـوه دېګـك کـې لـږ شان سره کړې غوښه، یو بل ځای کې لږ پنیر او وچه ډوډۍ ایښـې وو، دوو ترموزونـو کـې ګـرمې اوبـه وې چـې ورسـره ښـنګـك تـه وچ چـای، قهـوه او بـوره ایښـې وو، مـا د شـین چـای یـوه ټوټـه راجګـه کړه، ګیلاس مې له اوبو ډك کړ او چـای مـې پـه کـې وواهـه، چـای مې وښبه او بېرته خپل اتاق ته لاړم.

څو شبې مې بیا پر یونلیك تېرې کړې، خـوب رابانـدې راغـی تـر یــو ســاعت خــوب وروســته پاڅېــدم لمــونځ مــې وکــړ او بیــا د پاکســتاني هوټـل پـر لـوري رهـي شـوم، خـو مخکـې تـر دې چـې پاکستاني هوټل ته لاړشم، داخـل مـې نـو یـو دوه درې کـوڅې اخـوا دېخوا هم قدم وواهه او په اصطلاح لږ مې ځان نور هم بلد کړ، خـو دا مهـال دګرمـۍ زور ورو ورو زیاتېـده، نـو ځکـه خلـك چنـدان پـر سړکونو او واټونو نه ښکارېدل، هلته هسې هم دود دی، چې خلـك د ورځـې خـوب کـوي او د شـپې چکـر وهـي تـر مـازیګر وروسـته مابنام نږدې څخه دخلکو ګڼه ګوڼه زیاتېږي او ټوله شپه خلـك کـار وبار کوي، پـه حقیقـت کـې ټـول امـارات پـه تېـره بیـا دوبـۍ دشـپې

ښار دی، او دښار ښکلا هم دشپې لـه خوا د ورځې پـه انـډول څو ځله زیاته ده.

ډوډۍ مې په پاکستاني هوټل کې وخوړه او بیا همداسې پـه دې نیـت پـه واټونـو کـې ګرځېـدم کـه کـوم افغـان هېـوادوال چېرتـه پیـداکړم، پـه لاره کـې ځینـې ځېـرې راتـه اشـنا ښکـاره شـوې، خـو دخبرو اترو جرئت مو ونه کړ، یو ځای کې مې له یوه افغان څخه د امـاراتو دبېلابېلـو سیمو څـو پوسـتکارتونه واخیسـتل، هغـه کلـي بندونـه، پوسـتړونه انتیـك زنځیرونـه خرڅول او د سړك پر سر یـې کـار وبـار کـاوه. لـه هغـه څخـه مـې پوښتنـه وکـړه چـې د ورځـې څـو روپۍ ګټې هغه وویل، همداسې (۵۰-۶۰) روپـۍ ګټـم کلـه زیـاتې کله کمې، مقصد ګوزاره ده روانه کړې موده، څه وکړو، چـاره څـه ده؟ ډېر مې زړه و چې داسې کوم افغان پیدا کړم چې وزګـار وي او ماسره وګرځي او دا پاتې سفر راسره تمام کړي، خو څوك مـې پیـدا نـه کـړل، کمـره هـم راسـره وه، د ښـار پـه مـنځ کـې مـې دعکسـونو داخیستلو ډېره هڅه ځکه نه کوله ماویل چـې هغـه دهوټـل معاملـه تکـرار نـه شـي. پـه لاره کـې یـوه سـوپر مـارکیټ تـه پورتـه شـوم، دڅوندانه هر ډول سامان په کې خرڅېده او داسې منظم او پـه خونـد خوند یې سره ایښي وو چې د سړي دومـره اشـتاه راولـي چـې جیـب دې له پیسو ډك وي نو ته وایي چې ټول راونیسم.

داسوپر مارکیټ مې پـه ننـه کـړ، مـا ویـل څـه بلـه ورځ بـه پـه کـې ځینې شیان واخلم، قیـمتونه خو یې هسې هم فکـس دي او درغلـي

په کې نه شته. ماښام ماښام به و، چې کالیفورنیا هوټل ته راغلم، دریشي مې وایستله او جامې مې واغوستلې، لمونځ مې وکړ او ځو شېبې مې بیا پر یونلیك تېرې کړې، تلویزیون مې چالان کړ، کیبل تلویزیون و، یوازې اوه اته چینلونه یې نیول، چې اکثره یې خپله له همدې اماراتو خپرېدل او نور ټول هغه چینلونه چې اخلاق خرابوي سانسور شوي وو، ځو شېبې مې خبرونه واورېدل او د یوسپورتي چینل ننداره مې وکړه، بیا رابانديې خوب راغی. په اتاق کې سړي باندې ځکه خوب راته چې بهر ته به ووتلې نو ګرمې هوا دې دمخ پوټکی سېزه، داچې یو څه پلی مزل، دې هم وکړ او وجود به دې خولې شو، نو چې بېرته ته به اتاق ته راغلې، وجود به دې یخ شو په اتاقونو کې دایرکنډیشن داسې سستمونه لګولي وو چې هډو فکر دې نه کاوه چې اوړی هم شته که نه، دشپې له خوا به مې دومره یخ وشو چې کمبله به مې پر ځان راکاږله دشپې مې همداسې یخ وشو، د ایرکنډیشن د درجې په کمولو هم نه پوهېدم، ایرکنډیشن هم نه معلومېده چې چېرته دی، خو کله چې مې پاس چت ته وکتل، نو پاسني چت او د لاندې ورختلي دېوال ترمنځ دیوې لوېشتې په ارتفاع او دځلور اینچو په اوږدوالي یخه هوا راچلیدله، شاوخوا مې وکتل چې ریموټ کنترول پیداکړم، د دېوال په یو تاق کې ریموټ نصب و ځو ځله مې راواخیست، خو پر سستم یې پوه نه شوم، بیا مې رسپشن ته تلیفون وکړ یو تن راولېږه، هغه تنکی ځوان هندو، هغه ته مې په ګوډه ماته اردو وویل چې ای سي ډېره لوړه ده، هغه کنترول کړه

او بیا یې چل راته راوښود ، تر هغه وروسته نو په اتاق کې هوا ډېره نورماله وه.

له خوبه چې پاځېدم، ساعت ته مې وکتل، نو د افغانستان پر وخت دشپې (۱۲) بجې دي او ددې ځای د ماسختن د ډوډۍ وخت دی. مخ و لاس مې ومینځل چې بیا مې دموسیقۍ اواز تر غوږو شو، چې اوازونه نور هم ګرم شول، کله چې مې په ریسپشن کې بیا ښې لاس ته وکتل، نو ایراني موسیقي هال کې ښه ګڼه ګوڼه جوړه وه، خو زما چې تېره خاطره راپه زړه وه، همداسې بهرته لاړم او دپاکستاني هوټل پر لوري رهي شوم.

په پاکستاني هوټل کې مې بیا دمعمول په شان ډوډۍ وخوړه او بېرته په کالیفورنیا هوټل کې دخپل استوګنځي پر لوري راروان شوم. په اتاق کې تر یو څه مطالعې او لیکنې وروسته ویده شوم، سهار چې له خوبه پاځېدم نوپلان مې دا و چې دا ځل ضرور کوم افغان پیدا کړم چې ماسره په دې پاتې یوه ورځ کې چېرته وګرځي، دخپل یادښت کتابچه مې راوکښله خو دا زما د تلیفون دیادښت نوې کتابچه وه، چې ماپه کې دخپلو دوستانو دتلیفون نمبرونه اخیستي وو، زما زړه کتابچه چې تقریباً له درېیو کلونو راهیسې زما دبېلابېلو ملګرو خصوصاً دبهرمېشتو ملګرو تلیفون نمبرې په کې دي، هغه راسره نه وه، په هغه کې په اماراتو او دوبۍ کې زما ډېر داسې دوستان وو، چې له دې ځایونو به یې هیلې مجلې ته، لیکونه، شعرونه او مضامین رالېږل او موږ به

خپرول، ان جلال خپلواك خو په اماراتو كې دهيلي مجلې استازی هم و. خو نوې یادښت کتابچه کې مې په دوبۍ کې د هېڅ بلدي افغان ادرس او تلیفون نمبر پیدا نه کړ. لږ چې هوا بهر ته د وتلو شوه، نو له هوټل څخه بهر شوم کمره مې هم ځان سره واخیسته، تر یوه ځایه چې لاړم، په لاره کې دعمومي سړك پر غاړه دیوه جګك تعمیر سیوري ته درې تنه افغانان چې یو تن سره یې لاس ګاډی هم دی، ناست دي او خپلو منځو کې پښتو خبرې کوي، زړه مې و چې وګرځم، خو بېرته ټکنی شوم، ما ویل هسې نه چې له کاره روزګاره یې وباسم، همداسې مې خپل مزله ته دوام ورکړ، هغه سوپرمارکیټ ته لاړم، چې مخکې مې په ښښه کړی و او قیمتونه یې فکس وو.

مارکیټ ته وختلم، دماشومانو دلوبو ځینې سامان، دکور د پخلنځي ځینې شیان او ځینو اندیوالانو ته مې څو بوتله عطر، شامپو او ځینې نور شیان واخیستل، لس کم درې سوه درهمه بل یې راکړ، پیسې مې ورکړې او بېرته د اتاق پر لوري رهي شوم، ساعت نیم به په اتاق کې ناست و، چې بیا د ډوډۍ په نیت پاکستاني هوټل ته لاړم، داځل ډوډۍ ډېر خوند وکړ، ځکه چې زه ډېر پلي ګرځېدلی وم او ډېر ستړی شوی وم.

تر ډوډۍ وروسته مې یو څو واټونه نور هم تر پښو لاندې کړل، خو ډېر به خپل ځای ته متوجه وم چې راڅخه ورك نه شي. تر

ګېنتې نیمي مزله وروسته بېرته خپل اتاق ته راستون شوم او تر دریشي بدلولو ساعت وروسته ویده شوم.

دپنجشنبې ورځ زما دسفر وروستۍ ورځ ده، نور نو دوبۍ ماته په زړه پورې ځای نه دی، دسهار چای مې وڅښه، نو یو ځل بیا مې دیونلیك پر لیکلو پیل وکړ، څو شېبې لا نه وې تېرې شوې، چې خوب راباندې راغی، کله چې له خوبه پاڅېدم، نو بیا پخه غرمه وه، ډوډۍ مې وخوړه او داځل مې ځان سره پرېکړه وکړه، پرون چې کوم درې تنه افغانان لیدلي، چې یوه سره یې لاس ګاډی هم و، ټیك به همغه ځای ته ځم، دهمغه ځای په نیت روان شوم، خو په لاره مې په یوه درملتون سترګې ولګېدلې، راپه یاد شول، چې لږ څه درمل ته هم ضرورت دی، ورم کال چې زه جرمني ته تللی وم، نو زما ملګري شېرولي شېر ماته ډېره زیاته دوا درمل راکړل، په دغو درملو کې دلوړ فشار او ټیټ فشار لپاره هم پرېمانه درمل وو، کله چې ما هغه کور او یا لغمان ته یوړل، نو ځینو ناروغانو ته هغه دچاخبره ټك و پټری شول، ځکه چې ځینو دلوړ فشار له امله سرټکاوه او ځینو د ټیټ او ما ددې دواړو لپاره ښه جرمني دوا راوړې وه. نو بیا به هم ډېرو خپلوانو راڅخه هیله کوله چې که چېرته بیا خارج ته لاړې، نو موږ ته به هغه اصله دوا راوړې، نو ځکه درملتون ته ښه نیولی شوم، زړه مې وکړ، چې ورداخل شم، هسې خو ماته په دوبۍ کې پته لګېدلې چې اوله ژبه په کې اردو، دویمه انګریزي، بیا عربي، فارسي او پښتو، ما ویل چې مشکل به خپل حل کړو.

کله چې درملتون ته ننوتم، نو له اټکل سره سم هندوانو په کې کار کاوه، (پاناډول) ګولیو پاکټ ته مې لاس ونیو ما ویل( پور پاکټ سي ضرورت هی) هغه څلور پاکټه راکړل، بیا مې ورته وویل: های پریشر اور ډاوون پریشرکیپسول کی ضرورت هی، خو هغه هندو زما په خبره سم پوه نه شو، دې وخت کې یوه ښځه چې همدې درملتون کې یې کار کاوه، او سپینه چپن یې پرتن وه، راغله، ما ورته خپله خبره تکرار کړه، هغې سر وخوځوه او دوه وړې قوطۍ یې راته راکړې او ویې ویل چې یوې کې دلوړ فشار لپاره دي او بلې کې د ټیټ، دحساب په ماشین یې راته حساب کړې ما پنځه سوه درهمه ورکړل، هغوی ترې څلوښت درهمه وګرځول او نورې یې بېرته راکړې.

دپنجشبې ورځ دمارچ (۲۴) مه په دوبۍ کې زما وروستۍ ورځ وه، نور نو ډېر په تنګ شوی وم. همغه تکراري حالت و، له هوټله ووځه، یو څو واټونه وګوره او بیرته راشه، بیا له هوټله ووتلم، پرهمغه سړك لاړم چې دمخه مې څو تنه افغانان چې لاس ګاډی هم ورسره وو او دکار په تمه ناست وو، لیدلي وو. ګورم چې همغه کسان بیا ناست دي او خپلو کې پر خبرو بوخت دي، سلام مې پرې واچوه، هغوی سلام ته وعلیکم والسلام وویل، ما ویل ورونو تاسو کې څوك لږ وزګار نه شته، چې ماسره دلته څو دقیقې وګرځي، زه نابلد یم، خیر دی داچې تاسې له کار روزګاره وځئ، دهغه به زه درته همغومره اجوره درکړم، چې تاسې یې په دې وخت کې ګټئ، دې وخت کې درې واړه رابرګك شول نه وروره دا

څه خبره کوې، موږ درې واړه درسره ځو، پیسې څه شی دي، د پیسو خبره مه کوه، پښتو خرابېږي، ته پښتون یې چې هر چېرته غواړې موږ درسره ځو، بغیر له هغه نه هم اوس موږ خپله اتاق ته تللو، ما ویل نه درې واړو ته ضرورت نه یوازې یو تن، چې ستاسو هر یو غواړئ، دې وخت کې یوه وویل: میرولي څه ته ورسره لاړ شه او ښه یې وګرځوه، میرولي خپل لاس ګاډی هغو نورو اندېوالانو ته ورتسلیم کړ او زه و دی رهي شو، میرولي ته مې وویل اول ځان راته معرفي کړه، دکوم ځای یې دلته څه کاروبار کوې او ګوزاره دې ځنګه ده؟ ده وویل نوم مې میرولي دی، دپکتیا ولایت څخه یم او دلته داڅه کم درې کاله کېږي، چې اماراتو کې کار کوم، بیا مې په پکتیا کې دځینو مشرانو او مخورو په باب پوښتنه ورڅخه وکړه، ده ځیني پېژندل او ځیني یې نه پېژندل، میرولي ته مې خپل ځان ورمعرفي کړ، هغه وویل بس استاده ومې پېژندې له بي بي سي او ازادۍ رادیو مې دې مرکې اورېدلي او زموږ د اتاق ټولو ملګرو ځو ځو ځله داخبره کوله، چې دا یون څومره تکړه او زړور دی، چې په هېڅا رایه نه وهي، خدای دې سرته ورته خیر کړي...

خیر نو استاده ښه چې ځان دې راوپېژنده اوس خو به نو ماسره ضرور اتاق ته ځې، هغه زموږ نور اندېوالان چې تا ووینې څومره به خوشحاله شي سبا به کار ته نه ځم او ښه ډېر به دې وګرځوم، ما ویل نه زما یوازې همدا یوه شپه پاتې او سبا ته په خیر روان یم، دلته به هغه وړاندې ځای کې په کالیفورنیا هوټل کې اوسم او

نن مې پنځمه شپه ده، هغه وویل هوټل څه کوې راځه چې ځو، کالي به دې هوټل ښخه واخلم او لاړ به شو اتاق ته، څومره ښې غورې به وکړو، موږ لس دولس تنه په یوه اتاق کې اوسو، ښه ساعت به دې تېر شي، ما ویل نه همدا یوه شپه پاتې او سبا سهار وختي روان یم، میرولي وویل سبا سهار وختي به دې موږ میدان ته ورسوو ما ویل نه که بیا بل ځل راغلم نو ضرور به ستاسو ځنګ ته درځم، له میرولي څخه مې تلیفون نمبر هم واخیست، میرولي ښایسته ټینګ ست وکړ، خو ما خپل ټینګار وکړ. میرولي ته مې وویل چې لومړی به دلته یو څه پیسي ماتې کړو او بیا به ګرځو چکر به ووهو! میرولي فکر وکړ چې زه غواړم افغانستان ته څه پیسي حواله کړم، نو په ډېرو کړو وړو لارو یې څو کوڅې اخوا دېخوا دیوې ودانۍ دویم پوړ ته پورته کړم، هلته یو پاکستانی پښتون، په یوه وړه خونه کې غلی ناست و او لاندې ترې رخت پلورنځی و، ظاهراً داسې فکر کېده چې دا خلك د رخت کاروبار کوي، میرولي ورسره پېژندل، هغه ته یې زه معرفي کړم، هغه ته یې وویل چې څه ډالر ورسره دي، ځنګه به شي، هغه وویل چېرته یې حواله کوې، ماویل نه حواله کوم یې نه، زه غواړم ډالر په درهمو بدل کړم، او بیا دلته څه سودا وکړم،کې میرولي هم یوه شو، خیر نو چې داسې ده راځه نو چې صرافي ته ځو، له هغه شخص څخه مو رخصت واخیست او صرافي ته لاړو، څلور سوه ډالر مو په درهم بدل کړل او دښار بېلابېلو واټونو ته دچکر په نیت ووتلو، میرولي زه بېلابېلو ځایونو کې وګرځولم. ماهم ترمخه ښه

خوب کړی و او د پلي مزله ښه شیمه راکې وه، میرولي ته مې وویل ستړی کېږي خو نه، هغه وویل نه بابا ټوله ورځ لاس ګاډی چلوم اوس خو لاتش ګرځم. میرولي څخه مې پوښتنه وکړه چې څنګه دی روزګار دې او دنورو افغانانو څه حال دی؟ هغه وویل هسې نوم یې د دوبۍ دی او خلك فکر کوي چې پلانکی په دوبۍ کې دی او سختې پیسې به یې ګټلې وي، خو موږ چې دمیاشتې هر څومره زور ووهو تر اته نهو زرو کلدارو زیاتې نه شو بچت کولای، ټولې زر یوولس سوه درهم ګټو، چې دا څه د اتاق خرچه شي، څه هغه چاته ورکړو، چې زموږ تصدیق کوي، کله اوزګار هم پاتې کېږو، خو دا نور ټول مصارف چې ترې وباسو په پای کې همدا اوه اته، نهه زره کلدارې پاتې کېږي، نورڅه نه کېږي، ما ویل چې دومره پیسې خو اوس افغانستان کې هم هر څوك ګټلای شي، هغه وویل زه هم خبر شوی یم، که ماته کوم داسې کار پیداشي، زه یوه ورځ هم دلته نه تېروم، خو چې هلته کار دایمي وي، خبر شوی یم چې په پوځ کې خلك نیسي او ښه ډبل معاشونه ورکوي، ما ویل له هره څه سره کېدی شي همدومره برابر شي، همدې خبرو کې وو، چې میرولي دښار منځ یو واټ ته بوتلم راته یې وویل چې استاده راځه دلته به یو څو عکسه واخلو، زه ودرېدلم دا یوه لویه څلور لارې وه، مېرولي مې عکس واخیست دا دشپې اته بجې وې شاوخوا رڼاګانو سیمه دومره روښانه کړې وه، چې له ورځې سره یې تفاوت نه کېده، میرولي تر عکس اخیستلو وروسته اخوا دېخوا کتل، ما ویل څه خبره ده؟ ده ویل

دلته په دې ځای کې یو ډېر برېتور سړی ولاړ وي، ډېر غټ او اوږده برېتونه لري، ډېر خلك راځي او ده سره یادګاري عکس اخلي، لس دي که څو درهمه بیا دی ترې غواړي، د ورځې په لسګونو خلك له ده سره یادګاري عکسونه اخلي، ما ویل دا ده دبرېتو حق الزحمه او ګټه، داخو د ورځې تر زرو درهمو زیاتې پیداکوي، میرولي وویل هو که نه! له هر ځایه خارجیان راځي، ښځې او نر ده سره عکسونه اخلي، ښه نمونه یي سړی دی، خو نن فکر کوم نه دی راغلی که څنګه درك یې نه لګي.

میرولي بیا وویل استاده! که سترې نه یې لږ څه وړاندې هلته بحر راغځېدلی او ښار منځته رارسېدلی، ډېر ښه دسیل ځای دی، راځه هغه به هم وګورو، ما ویل درځه چې ځو، لس پنځه لس دقیقې مزل به مو کړی وي، هلته چې لاړو په سوونو خلك راټول وو، وړې وړې تفریحي بېړۍ په بحر کې ګرځېدې راګرځېدې، ماښوګځان یې اکثره هندیان او پاکستاني پنجابیان وو، څو تنه به یې په کښتۍ کې سواره کړل او تر اوه اته دقیقو مزله او چکر وروسته به یې بېرته همدې ځای ته راوړل، دیو تن پر سر یې څو درهمه اخیستل، دخلکو ګڼه ګوڼه دومره زیاته وه، چې یوه بېړۍ هم څو دقیقې وزګاره نه پاتې کېده، یانې دماښوګانو بازار ښه تود و، میرولي وویل استاده که زړه دې غواړي، سواره به شو، ما ویل نه همدا لیدل یې کفایت کوي، دوه یخې پیپسیانې مو هلته دبحر تر غاړې له کانتین څخه راواخیستې، وموڅښلې او نور بېرته دبازار پر لوري را رهي شو.

میرولي وویل: که سودا کوې وبه ګرځو، ما ویل سودا مې کړې که بیا هم څه داسې انتیك شی وي سړی یې واخلي، ښه به وي، هغه وویل دوبۍ کې، خو نو ډېر شیان د وړلو دي، خو ځینې شیان له دې ځایه افغانستان کې ارزانه دي هسې نوم د دوبۍ ډېر مشهور دی، دلته خلکو سره پیسې زیاتې دي، خو نرخونه ډېر اوچت دي. میرولي وویل دلته کندهاري دکانداران یو ډول لوکسې چرمي څپلۍ خرڅوي هغه ډېرې کلکې او ښې دي، هلته لاړو دڅپلیو یوه دوه درې دوکانه وو، دکانداران یې کندهاریان وو، عیناً لکه دکابل دڅپلیو خرڅولو بازار، همغه صحنه یې ذهن کې تداعي کوله، خو دلته ځل وبل، پاکي او صفایي زیاته وه که نه نور خو دکندهاري هټیوال په لهجه کې ګرد سره تغیر هم نه و راغلی، دڅپلیو ځینې شیپونه مو وکتل، خو زموږ په کې څه خوښ نه شول، له هغه ځایه یو بل دوکان ته لاړو، دکالیو یو اتو مو په پنځه ویشت درهمه واخیست، وخت نور دشپې یوولس بجې وې، میرولي ته مې وویل چې نور به درنه رخصتېږم، هغه یو ځل بیا ډېر ټینګ شو چې ماسره اتاق ته لاړ شه، ما ویل نه دشپې خپلې غوټې تیارومه او سهار وختي حرکت دی په خیر، میرولي ته مې دېرش درهمه په زوره ورکړل چې زما له خوا پرې خپلو انډیوالانو ته یو څه مېوه واخله، هغه پیسې نه اخیستلې، خو ما په زوره ورته ورکړې او زه دهوټل پر لوري ترې را رهي شوم.

یوځل بیا پاکستاني هوټل ته لاړم، ډوډۍ مې وخوړه او بیا خپل اتاق ته لاړم، دهوټل ریسپشنیست ته مې وویل چې سبا ته زما

پرواز دی، سهار شپږ بجې به ما ته زنګ ووهي او که تر هوايي ډګره دټکسي غم راته وخوري، نو ډېره به ښه شي، هغه وويل ټيك ده څه مشکل نه شته، دشپې مې په اتاق کې خپله کړې سودا په يوه لوى او دوو وړوکو بيکونو کې منظمه ځاى پر ځاى کړه، دريشي مې وکښله، جامې مې واغوستې اودس او لمونځ مې وکړ، يو څو شېبې مې تلويزيون چالان کړ او بيا ويده شوم، سهار وخته پاڅېدم، تر لمانځه وروسته مې دريشي وکړه او کله چې مې ساعت ته وکتل نو لس کم شپږ بجې وې، ما ويل ودرېږه چې ريسپشن نه تلېفون راځي که نه؟ دوه درې دقيقې شپږو ته پاتې وې چې زنګ راغى او ماته يې ويل چې ځان تيار کړه! ما ويل تيار يم، يوبيك مې اوږه کې يو يو لاس او بل په لاس کې ونيول او لفت کې راکښته شوم، له ريسپشن څخه مې خپل پاسپورټ او هغه بل تر لاسه کړل چې څو ورځې په کې زما لګښت ليکل شوى و، له هغوى مې خداى پاماني واخيسته، دوه تنه يې راسره کړل، چې زما بکسونه ټکسي ته انتقال کړي، څو شېبې دهوټل مخې سړك ته ورسېدو، خو ټکسي راښکاره نه شوه، بيا هغوى وويل لږ وړاندې به هغه عمومي سړك ته چې يو پنځوس متره لرې و، لاړ شو، هلته چې ورسېدو، نو يوه يو سيټه ډاټسن زموږ مخې ته ودرېده، ډريور يې پښتون و، ما ورسره هم سملاسي پښتو خبرې پيل کړې، ما ويل هوايي ډګر ته به مې بوځې، هغه ويل صحيح ده، زما بيکونه يې شاته په موټر کې واچول دهوټل له کاريګرو سره مو خداى پاماني وکړه او دهوايي ډګر پر لوري رهي شو، په

لاره کې مو له ډریور څخه پوښتنه وکړه چې دکوم ځای یې او دلته دې ګوزاره څنګه ده؟ هغه وویل دپکتیا یم او ګوزاره مو شکر دی فضل دخدای دی همدغه موټر چلوم ګوزاره مو پرې کېږي، دې موټر کې څه وړې راوړې؟ دې کې مال او سامان وړم راوړم. دا مهال تر رسمیاتو دمخه وخت و، پر سړکونو ګڼه ګوڼه ډېره کمه وه، په خبرو خبرو کې هوایي ډګر ته ورسېدو، ډریور زما بیکونه کښته کړل، ما ویل استاذه څو روپۍ شوې، هغه ویل نه وطندار یې پیسو ته حاجت نه شته، ما ویل نه ضرور به یې اخلې، بیا یې وویل خیر نو شل درهمه راکړه هغه ته مې شل درهمه ورکړل او ما یوه ټایر لرونکی لاسګاډی چې لږ وړاندې په ګڼ شمېر کې ولاړ وو، رابېل کړ او خپل بیکونه مې په کې کېښودل، لږ وړاندې مې دهغو خلکو پر لوري حرکت وکړ، چې له ورایه افغانان معلومېدل، هغوی ته ورسېدم، سلام مې واچوه، ځینو سره مې په لاس روغبړ وکړ، دپرواز پوښتنه مې وکړه ټولو ویل په ټکټ کې خو یې نهه بجې لیکلي دي.

تر هغه پورې ایله چکن مکن خلاص شي، څو شېبې انتظار مو وویست چې دترمینل داخل ته یې دننوتو اجازه راکړه، ټول په منظم ډول له خپلو لاس ګاډو سره ترمینل ته داخل شو، د دوبۍ هوایي ډګر د دنیا له لویو هوایي ډګرونو څخه یو دی، چې دوه نړیوال ترمینلونه لري، موږ دویم ترمینل ته راغلو، کله چې ترمینل ته ورداخل شو، نو خپل بیکونه مو تر چك کوونکي کمپیوټره تېر کړل او دې سره د ودانۍ هغې برخې ته ورداخل شو،

چې دلسګونو هوايي شرکتونو سر لوحې دهرې یوې ټاکلې غـرفې له پاسه ځړېدلې وې، دا هال دومره لوی و، چې سلګونه مسـافرین په کې هېڅ معلومېدل هم نه، کله چې کمپیوټر چك ځخه تېر شو، نو زموږ پر هر بیك یې یوه نـومره ووهلـه، یانې دبیـك پـه تسـمې پورې یې ونښلوله، بیا هر مسـافر دهغـه هوايي شـرکت دلـوحې پر لورې ورته چې ټکټ یې ورځخه اخیستی و، ما د(کام ایر) دهوایي شرکت پر لوري حرکت وکـړ، هلتـه دوه درې تنـه ولاړ وو، دلـتـه یـې ټکټ کاته او چك کاوه یې او هم یې سامان وزن کاوه، دچا چـې بـه سـامان تـر ټـاکلي حـده زیـات و، نـو هغـه تـه بـه یـې د اضـافي بـار دمحصـول دتحویلۍ پاڼه ورکولـه او تقریباً شـل متـره وړانـدې بیـا هلته په یوه بله غرفـه کې دمحصـول پیسـې تحویلېـدلې او دپیسـو درسېدو سند یې ورکاوه، خو اکثره افغانان چې د سفر له شـرایطو او کړاوونو سره اشنا دي، هغوی همېشـه پـه دوو یـا درېـو بیکونـو کـې خپـل سـامان تنظیمـوي، یـوغټ بکـس چـې ټـول وزن یـې تـر یوویشت دوه ویشـت کیلـو زیـات نـه شـي، بـل داسـې یـو بیـك چـې اوږه کې یې وي او ټول وزن یې تر لس پنځه لس کیلـو وانـه وړي او بل هم داسې یو لاسي بیك یابکس چې پـه لاس کې ونیـول شـي او ایلـه اوه اتـه کیلـو بـار پـه کـې ځـای شـي، دې دوو وړو بیکونـو تـه اجازه ورکوي، چې ځان سره یې الوتکې تـه پورتـه کـړې او هغـه بـل بیا دالوتکې دبار وړنې برخې (شاته) دوی خپله انتقالوي.

مـوږ خپـل بیکونـه یـو یـو دتـول لپـاره وړانـدې کـړل، زمـا خـو تـر ټاکلي وزن کم و، نو ژر یې نومرې پرې ووهلـې او دا نـومرې داسـې

وي، چې یوه برخه یې ترې شلوي مسافر ته یې ورکوي او بله برخه یې دبیك په تسمې پورې نښلوي. زما ټکټ یې ټاپه کړ او یوه پاڼه یې چې دڅوکۍ نمبر په کې لیکل شوی و، هم په کې کېښوده، لاسي وړوکی بیك مې په دې بل متوسط بیك کې کېښود او اوږې ته مې کړ، خو مخکې تر دې چې زه حرکت وکړم، یوه مسافر افغان د زیاتي بار پر سر دکام ایر شرکت له مامور سره خبره تاوه کړه، خو بلاخره مامور پر زیاتي بار سترګې پټې کړې او لانجه غوڅه شوه.

زه په هغه لین کې ودرېدم، چې مسافرین دترمینل داخلي برخې ته ورداخلېدل، دلته وروستی چك و، پاسپورت او ټکټ یې کتل او په پاسپورت کې یې خروجي ویزه وهله، خو بیکونه یې تر هغه دمخه یو ځل بیا له کمپیوټر چکه تېرول، ما مخکې خپل بیك دکمپیوټر په لین کې کېښود، بیك له کمپیوټره تېر شو، خو مسئولې ښځې زما بیك بلې خواته کېښود، پر کتلو یې پیل وکړ، ټول شیان یې ترې راوکښل، خو څه یې په کې پیدا نه کړل، ما ورنه دلاس په اشاره پوښتنه وکړه چې څه خبره ده؟ هغې په ګوتو دبیاتي اشاره وکړه او د کمپیوټر سکرین ته یې متوجې کړم، په کمپیوټر کې یې بیاتي ښکاره کوله، چې په سره لیکه ترې چلیپه راتاوه وه، ما بیك ته لاس کړ او بیاتي مې ترې راوکښله او ماموري ته مې ورکړه، هغې بیاتي ستنه کړه او ما ته یې دتګ اجازه راکړه، هلته ماته پته ولګېده چې الوتکې ته له ځان سره ان د واړه چاقو او وړې بیاتي د وړو اجازه هم نه شته. تر دې تالاشۍ

وروسته هغې غرفې ته په لین کې ودرېدم، چې پاسپورټ یې چکاوه او خروجي ویزه یې وهله، غرفه کې دوه عرب مېرمنې ناستې وې په قد او ښکلا متوسطې وې، توري جامې یې پر تن وې، یوازې دمخ کاسه یې ښکاره کېدله او بس، پاسپورټ مې دغرفې په ښیښه یې سوړه کې ورداخل کړ، زما پاسپورټ یې واخیست کمپیوټر کې یې ثبت کړ او تر یو دوه دقیقو ځنډ وروسته یې راته ټاپه کړ، یانې خروجي ویزه یې ووهله او بېرته یې راکړ، هلته یولس ګامه لرې یو پولیس ولاړ، هغه ته لاړم خپل پاسپورټ مې ور وښود، هغه پاسپورټ ولید او تر کتلو وروسته یې دترمینل بهرنۍ برخې ته، چې مسافر په کې د الوتنې لپاره منتظر وي، اجازه راکړه. هغه نو ښه لوی هال و تقریباً دوه درې سوه متره پراخوالی به یې درلود، دناستې لپاره په کې په سلګونو عصري او نرمې څوکۍ ایښې وې، یوه خواکې یې سوپر مارکیټ هم و، چې مسافرو په کې ځان ته سودا کوله، البته دې سوپر مارکیټ کې اکثره انتیك شیان وو، چې خپله د اماراتو محصول ګڼل کېدل، دالماسو، سرو زرو او سپینو زرو ګوتمۍ او غوږوالۍ هم په کې پیدا کېدلې، د اماراتو په باب بېلابېل مصور او تشریحي کتابونه، پوسترونه او لنډه داچې هر څه دې غوښتل دلته دې کتلای او اخیستلای شول، خو دې سوپر مارکیټ کې شیان دومره قیمته وو، چې دبازار تر نرخه دوه درې ځله پورته اټکلېدی شول، وړاندې یو لوکس کرولا ته ورته موټر هم دسمپل (نمونې) په توګه ولاړ و او داسې ښکارېدله چې ډېر قیمتي موټر

دی، چې په دې حساس ځای کې یې ځای ورته جوړ کړی دی. څو شپې په سوپر مارکېټ کې وګرځېدم، دامـاراتو څـو پوست کارتونه مې واخیستل او د اماراتو په باب کتاب مې هم وکوت، چې د اماراتو دبېلابېلو ښارونو نقشې، تصویرونه او انکشافي بهیر په کې راغلی وو، دکتاب دپښتی پر څنډه لیکل شوي وو، (پنځوس درهمه) هغه مې بېرته کېښود، یوازې نهه لس پوسترونه مې واخیستل چې ټول شل درهمه یې راڅخه واخیستل، په دې سوپر مارکیټ کې اکثرو ښځینه کارکوونکو کار کاوه، لـه څېرو یې ښکارېدله چې له فلپین او یا چین څخه به وي.

تر لږ ګرځېدو راګرځېدو وروسته پریوې اوږدې څوکۍ کېناستم او کمره مې له بیکه راوکښله، ما ویل چې څو عکسونه واخلم، دې وخت کې یو دریشي کړی سپینکی هلك ماته مخامخ ناست دی، راته موسك او رانږدې شو، استاده په خیر! لاس یې راکړ، ما ویل په خیر، ویل یې استاده دلته څه ته راغلی یې؟ ما ویل هسې! ده وویل رسمي راغلی یې که شخصي؟ ما ویل نه د دوستانو لیدو ته راغلی یم، ده ویل زه دې ونه پېژندم، ما ویل نه والله چې که ځان راته معرفي کړې، نو ډېره به ښه شي، ده ویل زه به دې په یاد کې پاتې نه یم، زه تقریباً درې کاله وړاندې دپېښور ګل حاجي پلازې ته له حنان حبیبزي سره درغلی وم، زه د بغلان یم نوم مې محمد نسیم دی او تاسو هغه وخت ماته ډېر زیات کتابونه هم راکړل چې بغلان کې یې پښتنو ته ورسوم او ما بیا هغه کتابونه ټول بغلان ته یوړل او ډېرو ښو خلکو ته مې ورکړل.

ما ویل ښه نو ته دلته څه کوې؟ ده ویل زه یو کال دمخه دلته شارجې ته راغلی وم، شپږ میاشتې دمخه پولیسو ونیولم او بندي شوم، همدا پرون له زندانه راخلاص شوم او نن مې دا دی له اماراتو رسماً باسي، ما ویل ولې بندي شوی وې؟ دلته خو ټول افغانان قاچاقي راځي صحیح اسناد نه لري، زه هم په همدې ډول راغلی وم، شپږ میاشتې مې کار وکړ بیا پولیسو ونیولم او اوس دادی په ډېر تکلیف له زندانه راخلاص شوم، ډېر نور افغانان لا په زندان کې شپې تېروي او خپلوان یې په تمه دي، چې دوی به دلته پیسې ګټي! محمد نسیم د زندان ډېرې اوږدې او ترخې کیسې وکړې، دې وخت کې مې مخامخ له چت نه پر راځوړند شوي سکرین باندې سترګې ولګېدلې، چې بېلابېلو هېوادونو ته د الوتنو ټایمونه په کې دقیقه په دقیقه لیکل کېدل او مسافرو دخپلې الوتنې وخت په کې کتلای شو، دکابل پرواز ته متوجه شوم دوبۍ- کابل لس بجې لیکل شوی، ساعت ته مې وکتل یو ساعت وخت پاتې و، محمد نسیم ته مې وویل وخت ډېر پاتې څه کوو؟ هغه وویل کمره درسره ده راځه چې څو قطعې یادګاري عکسونه واخلو، ما ویل ټیك ده هغه زما څو قطعې عکسونه واخیستل، ما دهغه عکس واخیست او بیا مو په ګډه یو قطعه عکس واخیست، دترمینل په دې برخه کې مو ورو ورو پر قدم وهلو پیل وکړ، یو ځل بیا سوپر مارکیټ ته لاړو او شیان مو بیا له نظره تېر کړل، محمد نسیم وویل دلته شیان څو چنده قیمته دي، ما ویل هو ما مخکې بیه کړل، محمد نسیم په اماراتو کې یو څه

وخت تېر کړی و، دعربو پرخوی بوی يو څه بلد و، نو ځکه يې دعربانو دکلتور او د پانګوالو داخلاقو په باب ډېرې ښې او بدې خبرې وکړې، تر لږ ځنډ وروسته ما يو ځل بيا سکرين ته وکتل، محمد نسيم ته مې وويل لکه چې د الوتنې وخت رانږدې کېدونکی دی، هغه وويل هو وخت کم پاتې، شل دقيقې به پاتې وي چې مساپرين له ترمينل نه هوايي ډګر ته د وتو پر لاره ليکه شول، هر کس چې تر ترمينله وته نو ټکټ يې ديو پوليس له خوا په نيمه څيرېده، او هغه برخه چې نومره يې لرله مسافر ته ورکول کېدله، ټول مسافرين له ترمينله ووتل نو دوه (۳۰۲) موټر راغلل او موږ په کې سواره شو، تر يو دوه دقيقې مزله وروسته يې دکام اير الوتکې تر سينې لاندې کوز کړو، الوتکې ته دختو په نيت په لين کې ودرېدو، دوه درې دقيقې به لا وتې نه وې چې ټول الوتکې ته وختو او هر سړی پر خپلې څوکۍ کېناست، له نېکه مرغه چې دمحمد نسيم او زما څوکۍ څنګ په څنګ شوې، زه دښيښې خواته کېناستم او ژر مې دالوتکې له ښيښې څخه په کمره د هوايي ډګر يو څو قطعې عکسونه واخيستل، ما ويل ځه څو چې الوتکه الوتنې ته چمتو کېږي، داعکسونه خو به واخلم، کله چې الوتکه الوتنه کوي، نو يو عمومي اعلان کوي، چې الکترونيکي او مخابراتي وسايل لکه تلېفون، کمره او مخابره ټول بايد ګل وي چې داټول الوتنې ته ستونزه راولاړوي.

پوره لس بجې به وې، چې دالوتکې ځرخونه وځرخېدل، دالوتکې عملې لومړی په الوتکه کې له معمول سره سم دکمربندونو د

ترڅلو، دخطر په حالت کې له الوتکې د خروجي دروازې څخه د وتلو لارې او له اکسیجن څخه دګټې اخیستنې لارې چارې په ګوته کړې، په لوکسو الوتکو کې دا چارې په الوتکه کې دلګېدلو تلویزیونو له لارې ښودل کېږي، خو په معمولي الوتکو کې دا چارې خپله دالوتکې دعملې له خوا د وسایلو په ښودلو او دلاس په اشارو تر سره کېږي، تر لارښوونو وروسته الوتکه په نوبت سره دالوتنې عمومي کرښې یا رنوې ته برابره شوه، د دوبۍ هوایي ډګر دومره لوی دی، چې پر یوه وخت دالوتنې څو لیکې لري چې داټولې په کې بیا پرخپل وخت مصروفې وي، دلته له دې کرښې څخه هم په دقیقه کې دوه درې پروازه کېدل، الوتکې د الوتنې پر کرښې ځغاسته پیل کړه، تر یوې دقیقې چټکې ځغاستې وروسته الوتکه له ځمکې پورته شوه، کله چې الوتکه یا له ځمکې پورته کېږي او یا کېني نو دسړي زړه ډېپ لوېږي، داسې لکه په خوب کې چې څوك له بامه اویا هم لوړ ځایه راولېږي، زړه یې ودرزېږي، خو ژوبل نه شي او بیا پوه شي چې دا خوب دی او رښتیا نه دي، یاهم داسې لکه د مهترلام- سرخکانو پر سړك په ګړندي حالت کې چې موټر یو دم په خوړ کې کښته شي او یا هم دکابل – جلال اباد لویه لاره چې موټر په خوړ کې کښته شي، دسړي زړه ډېپ ولوېږي، دالوتکې دالوتنې او ناستې پر وخت هم همداسې یو حالت رامخې ته کېږي.

الوتکه د دوبۍ پر سر وڅرخېده کله چې دې لاندې کتل، نو په زرګونو موټر په واټونو کې تېر وبېر کېدل، نو هلته سړي ته پته

لګېدله، چې دلته ژوند څومره ګرم او په تېزۍ سره روان دی، لاندې پاك، لوړ او ستره تعمیرونه چې دې کتل، عقل ورته کار نه کاوه، چې په څه ډول دا جوړ شوي دي. نو هلته سړي ته هغه د استاد الفت دا شعر ورپه زړه شي چې:

ډېـر تفاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ
واړه مشغول دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي

دې وخت کې ماته په دوبۍ کې هغه د دوو افغان قومندانانو خبره هم رایاده شوه، چې په جنګ او دځاني ګټو په ترلاسه کولو کې یې ډېر مهارت درلود، ټول ذهن یې د ورانۍ په باب مصروف و او د عمران هېڅ فکر ورسره نه و. دا دواړه قومندانان په دوبۍ کې ګرځېدل پر یوه لوړ شل پوړېزه شیشه یي تعمیر یې سترګې لګېدلې وې، نو یوه بل ته یې ویلي وو: یاره چې له دغې زاویې (کونج) څخه یې وولې نو په یوه ډز سره ټول چپه کېږي، قومندان صیب په ویشتلو او چپه کولو کې ډېر مهارت دلود، خو په ودانۍ نه پوهېده، ما ویل خدای(ج) به کله هغه وخت راولي چې زموږ د هېواد ټول خلك د ورانۍ پر ځای د ودانۍ په فکر کې شي.

همدې چُرت کې وم چې الوتکه له وچې دبحر تر غاړې تېره او بلې فضا ته داخله شوه، دبحر ترغاړې پر اوږده لیکه بې شمېره ودانۍ تر سترګو کېدې او په سلګونو بېړۍ ورته را روانې ښکارېدې، الوتکې ورو ورو خپله ارتفاع لوړوله، خو بیاهم په بحر کې لویې لویې بېړۍ د وړو وړو کښتیو په بڼه ښکارېدې،

بلاخره الوتکه دومره لوړه شوه، چې یوازې دبحر د اوبو شنه سطحه ملعومېدله اوبس، تر څه کم نیم ساعت مزله وروسته داسې ښکارېدله، چې الوتکه د ایران د بندر عباس بندر له لارې د ایران خاورې ته ورداخله شوه، دلته هم څه ناڅه ابادي تر سترګو کېده، خو تر یو څو دقیقو مزله وروسته تر الوتکې لاندې یوازې یوه سپېره دښته معلومېدله او بس، کله کله به یوه توره نرۍ لیکه هم ترې تر سترګو کېدله غالباً چې عمومي سړك به و، ډېر لرې لرې په دښتو کې کلي ودان ښکارېدل، خو نه دومره ودان چې شینوالی یې د سړي زړه راکاږي، الوتکې همداسې د سپېرې دښتې له پاسه مزل کاوه، چې ماباندې لږ تنده راغله د اوبو بوتل ته مې لاس کړ، ګورم چې اوبه په کې لږ کمې شوې دي، کله چې مې دبوتل سر خلاص کړ نو چس هوا ترې ووته، محمدنسیم راته وویل چې دلته اوبه کمېږي، اکسیجن له لاسه ورکوي او ماته بیا په مکتب کې دکیمیا د استاد خبره رایاده شوه، چې اوبه له دوو عناصرو، اکسیجن او هایدورجن څخه جوړې شوې دي، نو دلته زه پوه شوم چې یو یې په لوړه ارتفاع کې په غاز بدلېږي، نو ځکه په بوتل کې اوبه کمې شوې دي، تر اوبو څښلو وروسته راباندې خوب راغی، نیم ساعت خوب به مې کړی وي، چې بیدار شوم، کله چې مې لاندې وکتل له یو خړ ګرد پرته نور څه نه معلومېدل، ما اول فکر وکړ چې دا ګنې ورېځې دي، خو وروسته متوجه شوم چې له دښتو څخه راپورته کېدونکی ګرد دی، دافکر کوم د افغانستان او ایران ترمنځ سرحد یانې دنیمروز او د ایران د بلوچو

سیمه ده، محمدنسیم وویل چې له همدې لارې اکثره افغانان ایران ته په قاچاقي ډول راځي او مخدره مواد هم له همدې لارې قاچاق کېږي، دلته قاچاق وړونکي اکثره وسلوالې ډلې لري او دپولیسو پرې هم چندان زور نه رسېږي، خو بیا هم د دواړو غاړو ترمنځ سختې نښتې کېږي او ډېر پولیسان او قاچاق وړونکي په کې وژل کېږي، ډېر افغانان هم، دې لارې وخوړل.

همدې خبرو کې وو، چې دالوتکې په دهلېز کې له یوه ګرځنده یخچال ته ورته لاس ګاډي څخه هرې څوکۍ ته ډوډۍ وېشل کېدله، یوې ښځینه کارکوونکې یو یو پتنوس چې څو خونې یې درلودې دهر چا دڅوکۍ دمخه پر مېز چې دمخنۍ څوکۍ له شاتنۍ برخې سره وصل و او د اړتیا پر وخت به بېرته کېده او تړل کېده، ایښوده، دپتنوس په یوه خونه کې وریجې، په بله کې لږ سره کړي کچالو او همدارنګه په وړو وړو پاکټونو کې درومیانو مایع او یو څه وچه ډوډۍ البته روټ ته ورته وچه ډوډۍ، پلاستیکي قاشغې او کاشغېنجې او په یوه خونه کې دپیپسي لپاره یو پلاستیکي ګیلاس ایښودل شوي وو. ډوډۍ یې ډېره خوندوره نه وه، خو بیا هم د افغانستان په شان یو هېواد لپاره دا هم مناسبه غذا وه، په الوتکه کې به ټول دوه سوه شاوخوا مسافرین ناست وو، ماته الوتکه روسي ساخت معلومېدله، پیلوټان یې هم روسان وو، په الوتکه کې غرس هم زیات و، یانې د اریانا افغان هوایي شرکت تر اوسنیو الوتکو یې سرویس لږ کښته و، خو غذا یې په دې ډول ترتیب کړې وه، چې افغانانو او

بهرنیـانو دواړو تـه دمنلـو وړ وه، یـاني د دواړو تـرمنځ وه، پـه دې الوتکه موږ سره ګڼ شمېر بهرنیان هم وو، چې کابـل تـه رااروان وو. ددې ډوډۍ پتنـوس او سـامان یـوازې یـو ځـل د اسـتعمال وړ و او بس. لږه شېبه وروسـته یې چای هم راوړ او چا چې غوښتـه خپـل ګیلاس یې ورنیوه او کـارکوونکې ورتـه ډکـاوه. تـر ډوډۍ وروسـته چې مـې لانـدې وکتـل نـو یـو نـیم ځـای کـې بـه دشـینوالي څـرك ولګېـده او چرتــه دلــوړو غــرو پــر ســر بــه د واورو ســپین څــادر غوړېدلی ښکـاره شـو، الـوتکې بیـا خپـل مزلـه تـه دوام ورکـړ، یـو وخـت پیلـوټ غـږ کـړ چـې الوتکـه کابـل تـه نـږدې کېـدونکې ده، انشاءالله چې (۲۰-۲۵) دقیقې وروسته به الوتکه دکابل پر نړیـوال هوایي ډګر کښته شي، لاندې ټوله فضا ورېځو نیولې وه، هېـڅ نـه ښکارېدل، کلـه چې بـه الوتکـه پـه وريـځـو کـې ننوتـه، نـو سـخت ټکان به یې وخوړ، مـا محمـد نسـیم تـه وویـل: څو مـوده دمخـه پـه همداسې حالت کې دکام ایر شرکت یوه الوتکه دکابل دخاك جبار په غرونو کې راولوېده، چې بیا خدای مه کړه هغه حالت تکرار نـه شي. هغـه وویـل ځـه خدای(ج) مهربانـه دی. الـوتکې یـو دوه دورې ووهلې او خپله ارتفاع یې راکمه کړه، تر وریځو راکښتـه شـوه، نـو لاندې دځمکې سطح راڅرګنده شـوه، الوتکـه چې څومره ټیټېدلـه نو لاندې ځمکه ښه لیدل کېده، دالوتکې وزرو ته مې پام شو چې د باران څاڅکي پرې ورېدل، څو شېبې وروسته پیلوټ پـه درېیـو ژبو: پښتـو، دري او انګلیسـي اعـلان وکـړ چې الوتکـه ناسـتې تـه چمتـو ده، هیلـه ده چې خپـل کمربندونـه وتـړئ! الوتکـه دکابـل پـر

نړیـوال هـوایي ډګـر کېناسـتله او مـوږ تـرې پـه نوبـت کښـتـه شـو، همدې وخت کې مې لـه الـوتکې څخـه دهـوایي ډګـر یـو دوه قطعـې عکسونه واخیستل او له الوتکې کښتـه شـوم، دالـوتکې تـر څنګ دوه (۳۰۲) تـه ورتـه مـوټر ولاړ وو او مـوږ یـې تـر ترمینلـه پـورې ورسـولو، زمـوږ غـټ بیکونـه یـې پـه یـوه بـل مـوټر کـې ترمینـل تـه راوړل، پـه ترمینـل کـې بیـا یـوه اوږده انتظـار وځورولـو، نـږدې یـو ساعت کې ایله زموږ د دخولي ویزې کار خلاص شو، یانې دا چې اول مو پاڼه ډکه کړه، بیا په لین کې ودرېدو او هغـې ټاکلې غـرفې ته چې تر څو رسېدو ساعت راباندې تېر شو. د دخولي ویزې تـر وهلو وروسته چې دې بلې برخې تـه راتېـر شـو، نـوهر څـوك دخپـل بکس په لټه کې و، ما مخکې یو پولیس تـه دبکس نمبر ورکړی، هغه زما بکس وختـي پیـدا کـړی، چـې یـوه تسـمه یـې لا د واره پـه همدې ټېل ماټېل کې شلېدلې وه. څنګ تـه یـې دګمرك دچك یـوه دروازه هم وه، چې کمپیوټر په کې ایښـی و او خپـل بیکونـه بـه دې دلتـه هم چك کول، ماخپل بیکونه کېښودل، ژر یې تېر کړل او څـه یې ونه ویل، خو ځینو نـورو مسـاپرو سره یـې جنجـال و، کلـه چـې مـې پوښتنـه وکـړه، یـو تـن وویـل دا د ګمـرك محصـولي غرفـه ده، ځینې خلك له خارج څخه قیمتي شیان لکه سره زر او نـور راوړي، دا بایـد دلتـه وکتـل شـي او محصـول شـي، نـو دا غرفـه دهمـدې قیمتي شیانو د محصول لپاره ده.

دلتـه نـو دهمـدې ځـای ډېـر زیـات جوالیـان ولاړ دي، چـې لـه دې ځایه لږ څه وړاندې یانې دسلو مترو پـه واټـن ټکسـي پـورې درسـره

په لاس ګاډي کې شیان ور وړي، خو د مزدورۍ په نامه نه، بلکې دشیرینۍ په نامه در څخه ډبلې پیسې اخلي، اکثره افغانان چې له بهر څخه راځي نو دوی سره افغانۍ نه وي، نو دوی چې درې څلور ډالره هم ورکړي، دوی ته ډېر شی دي. زما بیکونه یې په لاس ګاډي کې واچول، زه، محمد نسیم او یو بل په یوه ټکسي کې سره کېناستو، ټکسیوان ته مې وویل لومړی به ما (شش درك) او بیا به دوی خپل خپل ځای ته ورسوې، پر سړك ښه باران شوی و، دختهو او ناپاکیو هېڅ کمی نه و، نیم ساعت کې شش درك ته راورسېدو، محمد نسیم او هغه بل ملګري ته مې ښه ټینګك ست وکړ، خو هغوی راسره پاتې نه شول، موټروان ته مې پنځه ډالره ورکړل ما ویل چې دا دې کرایه، هغه خوشحاله شو او زه له خپل سامان سره کور ته ور دننه شوم، په کور کې تر روغبړ او ستړي مه شي لږ وروسته یې راته چای کېښود، چای مې څښنه چې همداسې چُرت یوړم، کابل او دوبۍ، افغانستان او امارات مې سره مقایسه کړل، بیامې سره پرتله کړل، دیوې اوونۍ سفر مې ټول له نظره تېر کړ، دواړه هېوادونه او سیمې هېڅ دپرتلې نه وو، یو ځل بیا چُرت کې ډوب شوم ما ویل چې زه هېڅ هلته تللی نه یم او دا هر څه چې مې لیدل دا هسې یو خوب او خیال و او بس.

# انځورونه



حاجي دلاجان




عبدالحفيظ زريني




تاج ولي




یون په دوبۍ کې د بحر تر غاړې




د دوبۍ طلا بازار





TEFAL



یون د عرب برج ته ورخېږمه



د عربو د عنعنې یو تصویر


Dubai







د دوبۍ د هوايي ډگر ترمينل





د دوبۍ ښار بيلابيلې منظرې


DUBAI
د دوبۍ یو جامع جومات


یون د دوبۍ د هوايي ډگر په ترمینل کې


په راتلونکي کې د دوبـــۍ د ماســـتر پلان یوه بـــرخه، په دې تصویر کې
د هغه تعمیر تصویر گورئ، چې په پلان کې ده د دنیا تر ټولو لوړ، قـــیمتي
او لوکس هوټل بـــه وي، ددې تعمیر یوه ځانگړنه دا ده، چې تر ځانه لوړ
بـــل تعمیر نه مني، که چېرې په نړۍ کې تر دغه تعمیر بـــله لوړه ودانۍ
جوړه شي، نو دا تعمیر ددې وړتیا او ظرفیت لري، چې ځان تر هغه لوړ کړي
DUBAI
دبـي


Yoon Cultural Foundation
که یون دی
یون دی
(د اروپا یونلیک)
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ ل کال

# که یون دی یون دی

## (د اروپا یونلیک)

## محمد اسمعیل یون

# يادښت

ليکوال خپل نوی تخليق شوی اثر تر چاپ مخکې يو بل ليکوال ته د يو څه ليکلو لپاره سپاري، چې نړدې دغه کار د ټولو ليکوالو ترمنځ د يو دود بڼه غوره کړې ده. د ليکوال پر قوي ليکنه رايه ورکول، خپل نظـــر څرګندول، مثبت او منفي ټکي يې په ګوته کول، دا هغه څه دي، چې د اثر ليکوال يې هيله لري. دا هيله بايد په پوره انصاف او ژورې کتنې سره ترسره شي، چې د ليکوال باور له زخمي کېدو څخه خوندي شي. مـــا د خپل ګران ملګري يون صاحب د اوږده او له خاطرو ډک سفر يونليک د کمپوز پر وخت وکوت او پر دې مهال يې د څه ليکلـــو پـــه نيـــت ماتـــه راوسپاره، د پاڼو د سپارلو پر وخت يې راته سپارښتنه وکړه، چې په املا، انشا او ژبې پسې يې مه ګرځه. کېدی شي، چې د يون صاحب به کوم څه په زړه کې ګرځېدلي وي؛ خو ما له ځانه سره وويل، د يون صاحب لکه، چې پر ما يا دومره ډېر کړاو پېرزو نه دی او يا هم کېدی شي، چې يـــون صاحب په ما کې ددې صلاحيت نه ليده، چې د هغه په ليکنه کـــې څـــه بدلون او يا هم کمی او زياتی راولم؛ ځکه يون صاحب زموږ د ژبې او ټبر د معتبرو ليکوالو په کتار کې راځي.

په هر حال، يو يا دوه څيزونه، چې ماته د يون صاحب د غوښتنې پـــه توګه څرګند وو، يو دا و، چې زه له ښاغلي يون صاحب سره د سفر تـــر ټولو ډېر نږدې ملګری وم او يون صاحب دا هيله لرله، چې کېدی شي د

سفرنامې د لیکلو پر مهال ځینې مهم شیان پاتې وي، چې زما په ذهــن کې راځي، وریاد به یې کړم او دویم یې د ده لورینه بولم، ځکه لیکوال په ډېره خوارۍ د خپل زړه په وینو لیکلی اثر هغه چاته سپاري، چې بــاور پرې لري او زه یې مننه کوم.

ما د یون صاحب لیکنه په پوره دقت ټکي پر ټکي ولوستله، په ډېــره خوړه او روانه ژبه لیکل شوې وه، له وړیا تجربو نیولې بیا تر ګڼو فرهنګي او سیاسي تودو بحثونو پورې، ټوکې او سیاسي طنزونه په کې له ورایــه ښکاري، چې دا د یون صاحب د ذهن او قلم ظرافت څرګندوي، خو یــو نیم ځای په کې تر پولو هم اوښتی، لږ شانتې د اروپایي کولتور تاثیر پــه کې تر سترګو کېږي.

په یونلیک کې هغه څه، چې ما د ښاغلي یون د لېونۍ مینې او له خپل وطن سره دده د بې کچې لورینې په توګه ولیدل، د یــون صــاحب پــر اروپایانو او دوبۍ والو باندې زړه راښکونکې منظرې او ښایسته ودانۍ نه دي پېرزو، هر چېرې یې چې ښایسته منظره او ودانۍ ترسترګو شــوې؛ غواړي د خپلې لېونۍ مینې په کرین یې اوچتې او بیا د لغمــان او یــا د هېواد په کوم بل کونج کې کوزې کړي.

دا چې دا کار څومره امکان لري او که نه؟ د هغــه نیــت زمــا لپــاره د ستاینې وړ دی.

یون صاحب ځکه د ستاینې وړ دی، چې زموږ د ټول سفر په اوږدو کې ما یو ځل هم دی ونه لید، چې قلم او کاغذ یې اخیستی وي او د ســفر

خاطرې او سیمې له ځانه سره د یادښت په توګه خوندي کړي. یون صاحب ټول سفر په خپل ذهن کې خوندي کړی دی. د ملکونو او ملګرو نومونه، په غونډو کې خبرې اترې، ټوکې ټکالې، د سیمو حالات، د هېوادونو او سیمو ترمنځ د لارو واټن... بالاخره ټول سفر یې په خپل واړه، خو کاري سر کې ساتلي دي، چې ماته د کمپیوټر د فلش په بڼه ځرګند شو او یا هم کېدی شي د لغمان هغه مشهور فلش (...) ورسره مرسته کړې وي او یا خو به یې کوم بل چل کړی وي، ځکه د سفرنامې د لوستلو پر مهال ماته ډېر هغه څه رایادېدل، چې زما له ذهن څخه وتلي وو. د مثال په توګه د لارو فاصلې او د سفر په بهیر کې ډېرې پېښې او ښکاره خبرې.

په هر حال د خپل خواږه او ګران ملګري یون صاحب ددې سفرنامې خوږه او روانه ژبه او کمپیوټري ذهن ستایم، چې دا سفرنامه یې له ټولو خاطرو او تجربو سره له کمښت پرته لیکلې. ده ته د نورو داسې له کیسو ډکو سفرونو په هیله.

لوستونکي په مینه او اوسېله د کتاب لوستلو ته وربولم، چې په وړیا توګه د ښاغلي یون صاحب له تجربو څخه ګټه پورته کړي.

په درنښت

محمدعاشق غریب

# سریزه

ژوند یو سفر دی، له بابا ادمه تر دې دمه ژوند ټول په سفر کې روان دی او په سفر کې تېرېږي، که ژوند حر کت او سفر، ونه کړي، ژوند ودرېږي او چې ژوند ودرېد د ژوند پای شي، د ژوند د پای یو نوم مرګ دی او مرګ هم داسې حق دی، چې: "منکر پرې اعتراض کولای نه شی" که مرګ نه وای ژوند به خوند نه لرلای او که سفر او ستړیا نه وای، سکون او سوکالي به مانا نه لرله، ژوند ددغسې اضدادو یوه مجموعه ده او په پای کې به د الله(ج) د حکم مطابق: ((هر ژوندی د مرګ مزه څکي))، خو ژوند له دومره بې وفایو او بدرنګیو سره سره بیاهم خوږ دی، ارزښت لري او ((ښه خو دا چې د چا نوم په کې یادېږي- په فاني دنیا به نه وي ژوندي تل څوك)) د ژوند خوږلني هغه وخت زیاتېږي، چې د مینې او عواطفو په مزي وتړل شي او بختور هماغه څوك دي، چې ژوند یې د مینې خوږلنیو ته وقف کړی دی او که څوك خپل لنډ تنګ ژوند ته وګوري، نو کېدی شي د

کینې پر لمن لاړې تو کړي او د خپل ژوند یوه شېبه هم د کینې او نفرت باد ته پرې نه ږدي. هغه د شاعر خبره:

دا ژوند خو زمـوږ کـم د مـحبت لـپاره هم دی
حیرانېږم چې نفرت ته وزګارېږي خلك څنګه؟

زه هم د هغو انسانانو په جمله کې یم، چې غواړم د ژوند پر رموزونو او اسرارو پوه شم، له هغې ورځې، چې مې ښـي او کیڼ لاس پېژندلای، نو د سکون او خوځون په لټه کې یم، څـه شـی د انسـان د سـکون وړ دی، دعقایـدو ناپایـه او ناڅرګند جهان؟ د کائیناتو د خالق د رازونو ډکه دنیا؟ جغرافیایي حدودو او د قومي احساساتو پالنه؟ او نورو نورو څیزونو ته پناه ور وړل او پر هغوی ډډه لګول؟ کـه د انسان او ټولو ژوندیو موجوداتو د ژوند او حق درناوی او نور...؟ انسان که په دې ټولو کې هر یو د خپل ځان د سوکالۍ او د خپل روح د ارامۍ وسیله ګڼي، ګڼي به یې، خو دا پوښتنه به ضرور ورسره پیداکېږي، چې دا کار او زیار او یا هم د مذهبونو په اصطلاح ریاضیت به له کومه پیلوي؟ له نور جهانه او که له خپل ځانه؟ دې پوښتنې ته به هر سړی خپل ځواب لري، خو زه فکر کوم، چې کـه انسان ځان ته متوجه شي، خپلو خوبونو او تعبیرو ته او بیا هغو ته پام وکړي، نو فکر نه کوم د نورو ځورونې او ټکونې ته وخت

پیداکړي. زه د هغو کسانو له جملې څخه یم، چې ډېر سفرونه کوم، هر سفر مې په ژوند کې یوه نوې تجربه را زیاتوي، تجربه د انسانانو د مسلسلو او تکراري عملونو او پېښو یو نچوړ دی او انسان ته په خورا قیمت تمامېږي او کله کله ددہ د ژوند په نیمايي قیمت. هره تجربه د ژوند له سختو پړاوونو تېرېږي او د پوخوالي پوړۍ ته رسېږي، متلونه، اصطلاحګانې او کنایې د ولس د اوږدو تجربو یو نچوړ دی، ددې تجربو زیان هغه چا اوچت کړی، چې تجربه پرې تېره شوې ده. یوه ورځ له پېښوره د کابل پر سفر وم، د هېواد پر اکثرو سیمو د طالبانو د واك څپې چلېدې، په موټر کې د ژوند سفر او د ژوند د تجربو یو بحث راغی، یوه سړي وویل: ما یوه تجربه په یونیم لك روپو (کلدارو) واخیسته، نورو وخندل، یوه بل وویل: یو نیم لك روپۍ څوك سړی نه اخلي، پاتې لا تجربه، دې وخت هغه لومړي سړي بیا وویل: دا چې دې وطن کې څوك سړی په یوه روپۍ نه اخلي دا خو دا چې دلته د سړي قدر نه شته، خو ماته خپله یوه تجربه په یونیم لك روپو تمامه شوې، سړي وویل: دا کیسه ځکه تاسې ته کوم، چې تاسې باندې داسې کار ونه شي، چې یوه تجربه په دومره لوړ قیمت راونیسئ. سړي ادامه ورکړه: ما خپل یو ډېر نږدې دوست سره یو نیم لك روپۍ د دوو اوونیو لپاره په داسې حال کې امانت

کېښنودې، چې د بل چا وې او ما باید دوه اوونۍ وروسته هغوی ته ورسپارلې وای، دوه اوونۍ وروسته چې مې دوست کره ورغلم او د پیسو مې ورته وویل، هغه وویل: والله هغه خو ما پر کار اچولې، لږ صبر وکړه. څو ورځې وروسته به یې درته پیدا کړم، ما ویل دا خو مې ځکه تا سره کېښنودلې، چې دا پردۍ پیسې وې ما ویل، چې پر لاره یې ځوك راځخه ونه وهي دوه اوونۍ وروسته دا خلك راځي، زه باید د هغوی پیسې ورته ورکړم، خو ده بیا ټینګار وکړ؛ ځه بابا خورم خو یې درځخه نه، در به یې کړم، لږ صبر وکړه، دومره یې ګرمه مه خوره، دې کې میاشتې ووتې، میاشتې کلونه شول، دا یې څلورم کال دی، چې د پیسو درك نه شته، دومره یې دې پیسو پسې ستړی کړم او دومره مې پرې نورې ولګولې، خو پیسې مې را ونه کښلې، دې سړي وویل: دا دکاندار زما نږدې خپلوان دی، خبره زموږ د کورنیو خفګانونو ته ووته، خو پیسې مې خپلې نه شوې، له ما څخه هغه نور دوستان هم خفه شول او دا دوستان هم او پیسې هم لاړې، نو اوس زه ډېر احتیاط کوم او خپلو خپلوانو سره د ډېرو پیسو معامله نه کوم، خو اوس تاسو ووایاست چې ماته دا تجربه په یونیم لك کلدارې تمامه شوې که نه؟ ټولو وویل: هو والله! دا تجربه هغه سړي ته په دومره پیسو پرېوتې وه، خو په موټر کې ناستو خلکو ته ډېره

ګټهوره او وړیا ځکه تمامه شوه، چې لګښت یې بل چا پرېکړی و، خو نور به ترې په راتلونکي کې په وړیا ډول ګټه اخلي.

که دغه سړي دا کیسه په سفر کې نورو ته نه وای کړې، نو کېدی شي ددې تجربو د قیمت بار په ژوند کې پر دې نورو هم راغلی وای، نو د سفر یوه ګټه دا وه، چې له دومره لویې تجربې څخه مو په وړیا ډول ګټه واخیستله.

نو زه چې دا کرښې لیکم هم دا هدف لرم، چې د خپل سفر تجربې او په سفر کې د نورو ترلاسه شوې تجربې نورو ته انتقال کړم.

انسان کولای شي بېلابېلو هېوادونو او سیمو ته د سفر له لارې د هغوی له ژوند دود، کلتور، جغرافیایي جوړښت او علمي پرمختیاوو او اندود څخه خبر شي او د بېلابېلو اثارو او یونلیکونو له لارې نور خلک د هغو د ژوند له حالاتو خبر کړي. یونلیکلونه په حقیقت کې د دوو بېلابېلو ټولنو د پېژندنې یوه ښه وسیله ده، د تاریخي یونلیکونو له لارې موږ د بشري تمدن او د هېوادونو پخوانۍ بنګه کتلای شو. اوسني یونلیکونه د خلکو ژوند اوسنۍ بڼه منعکسوي

او طبیعي خبره ده، چې زموږ اوسنی تاریخ د سبا ورځې، منځنی او د بل سبا ورځې پخوانی تاریخ جوړوي.

زما ددې یونلیك غټه برخه په اروپا کې د مېشتو افغانانو فرهنګي ژوندانه ته ځانګړې شوې، ددوی فردي، ټولنیز او فرهنګي ژوند رانغاړي، د هېواد پالنې او ملتپالنې روحیه یې منعکسوي او د ژوند ستونزو ته یې نغوته کوي.

ددې یونلیک ځینې برخې ما د سفر تر ګرځېدو وروسته په الوتکه، ځینې په دوبۍ او ځینې بیا څه مهال (څو میاشتې) وروسته په کابل کې لیکلې، نو کېدی شي ځینې مسلې مې لکه څنګه چې ښايي هغه شان نه وي منعکس کړې، خو دې سره سره هیله من یم هغه څه چې ما لیدلي او لیکلي له واقعیت سره منطبق وي او نورو هغو افغانانو ته، چې اروپا ته ځي او راځي د هغو لپاره د رڼا د یوه څرك حیثیت غوره کړي.

په درنښت

پوهندوی محمد اسمعیل یون

ارګ- د جمهوري ریاست ودانۍ

د ۱۳۸۷ل کال د کب (۲۲)مه

# د سفر هدف

زه تر دې سفر دمخه دوه ځله جرمني ته تللی یم، خو دواړه ځله په رسمي سفر. یو ځل د افغانستان د اساسي قانون تر جوړېدو دمخه د " افغانستان، اساسي قانون او مدني ټولنه" په نوم په بن ښار کې د یوه اووه ورځني سیمینار او بل ځل د جرمني په (ګارمېش) ښارګوټي کې د تروریزم په اړه د یوه لس ورځني ورکشاپ ګډونوال وم. خو دا دواړه رسمي سفرونه وو، چې په لومړي کې یې ګڼ شمېر افغانانو او په دویم کې یې څلور تنو افغانانو او د نړۍ د نېږدې پنځوسو هېوادونو استازو ګډون کړی و، پر اول ځل مې هم تر سیمینار وروسته څو ورځې تېرې کړې او پر دویم ځل هم، پر لومړي ځل مې په جرمني، ډنمارك او هالنډ کې یو شمېر افغان لیکوالو او فرهنګیانو سره وکتل، خو لا په تفصیل سره خبرې ونه شوې او پر دویم ځل خو مې یوازې انځور صیب، غریب صیب، نجیب احمدزي صیب او ډاکتر شېرولي سره ولیدل او پر ګڼو مسایلو مو خبرې ورسره وکړې، خو نور افغانان مو ونه شو لیدلای. نو لومړی ځل چې ما جرمني ولیده، هم ډېر خفه شوم او هم ډېر خوشاله، خفه په دې شوم، چې زموږ هېواد په کومه کچه دی او دا هېوادونه کوم حد ته رسېدلي دي،

د افغانســتان کنــډوالې، دوړې، وچکــالي او ګردونــه او د جرمنــي ودانی، شینوالی او پاکي، یو له بله ډېر واټن درلود.

یو وخت یوه لیکوال موږ ته کیسه کړې وه: ((جرمني دومره اباد او پاك هېواد دی، چې سړی فکر کوي په اوبو یې مینځلی وي.)) کله چې زه جرمني تـه راغلم، رښتیا هـم دې خلکو زیات زحمت کښلی او خدای(ج) ورته هم ښـه طبیعت پـه برخـه کړی دی. خدای تعالی خو موږ تـه هم ښـه طبیعت را پـه برخـه کړی و، دا چې مـوږ ونه شو ساتلای، ګناه د طبیعت نـه، بلکې ټولـه ګناه زمـوږ خپلـه وه، رښتیـا هـم جرمنـي دومـره پـاك او صـفا و، لارې، کـوڅې او سړکونه یې دومره پاك وو او داسې ښویې ښکاره کېدل، لکـه غـوا چې هر سهار خپل بچی څټي او پر وجود یـې هېـڅ ویښتـه ببر نـه پرېږدي، جرمنـي هـم لکـه د غـوا د بچـي پـه شـان ښـویی و. هغـه ایډیـال چـې زمـا پـه ذهـن کـې و او زمـوږ شـاعرانو د خپـل وطـن د ابادۍ لپاره هغه په شعرونو کې انځورلی، جرمنـي پـه همغـه شـان جوړ و، نو ما ویل، چې ټول مـې جـګ کړی وای او پـه خپـل وطـن کې مې ایښی وای، خو جرمني سره مـې رخـه او کینـه ځکـه نـه وه، چې له افغانانو سره داسې یو تصور دی، چې جرمنیـان خپـل نـژاد ګڼي او زړه کـې ورسـره ژوره خواخـوږي لـري، جرمنـي هغـه هېـواد دی، چـې د افغانســتان پـه تېـر دوه نـیم لسـیز سیاسـي بحـران کـې

ناپېیلی پاتې شوی او د کومې جنګي ډلې ملاتړ یې نه دی کړی، خیر په هر ډول هغه سفرونه داسې وو، چې موږ ډېر څه ونه شو لیدلای او څه مو چې ولیدل، که څه هم ډېر مهم وو خو د هغو د لیکلو چانس پیدا نه شو. له تېرو څو میاشتو راهیسې د ګڼو اروپا مېشتو فرهنګیالو افغانانو، په تېره بیا د المان مېشتو افغانانو له خوا ګڼ شمېر لیکني او ځینې ګړنیي بلنلیکونه راورسېدل، چې یو ځل باید هلته سفر وکړم او له نږدې څخه افغان فرهنګیانو سره وګورم. ددې افغانانو د لېوالتیا یو علت دا و، چې په تېرو څو کلونو کې د هېواد له پرمختیاوو، په ژوره توګه ځان خبر کړي. له مالي پلوه او هم د سفر د رسمي اسانتیاوو له مخې زه په داسې دریځ کې وم، چې د دوی ستونزې مې نه درنولې. له سیاسي پلوه هم داسې یو څوک وم، چې دوی ما سره په ازاده فضا کې د زړه خواله کولای شول، نو ځکه خو یې د هېوادنۍ مینې او ولولې پر اساس زما پر ورتګ ټینګار کاوه، یو ځل هالنډ مېشتو افغان فرهنګیانو، د یوه علمي سیمینار لپاره ماته رسمي بلنلیك راولېږه، په کابل کې د هالنډ سفارت ته د هغه بلنلیك په ورتسلیمۍ کې زما له خوا څو ورځې ځنډ پېښ شو، نو ځکه د ویزې امکان پر وخت میسر نه شو، نو په سیمینار کې د ګډون جوګه نه شوم او خپله لیکنه مې (( د افغانستان اوسنۍ رسنۍ))

تر سرلیك لاندې، په هالنډ کې د افغانستان کلتوري ټولنې ته ولېږله او د ډېر هڅاند لیکوال ښاغلي عبدالله احسان له خوا هلته ولوستل شوه.

خو عبدالله احسان او په هالنډ کې نورو دوستانو سره مې ژمنه وکړه، چې کله هم زه د اروپا کوم هېواد ته درشم، ضرور به ستاسې لیدو ته درځم. په جرمني کې د افغانستان کلتوري ودې ټولنې لا پخوا دوه ځله بلنلیك رالېږلی و، خو ماته د وخت تنګسیا وه، دا ځل د ډېرو دوستانو هیله وه، چې بهرمېشتي افغانان زیاته علاقه لري، د افغانستان له روانو حالاتو که څه هم خبر دي، خو په داسې ډول خبر شي، چې پر واقعیتونو په ناپېیلي ډول رڼا واچول شي ، نو دوی ځکه له ما څخه ډېره هیله کوله، که څه هم زه د حکومت په یو حساس ځای کې کار کوم، خو دوی باور درلود، چې زما دولتي موقف د واقعیتونو د بیان پر وړاندې خنډ نه شي جوړولای او نه زه داسې یو څوك یم، چې د دولت په خوږو د واقعیت پر ترخو پرده وغوړوم. نو اروپا مېشتو افغانانو، په تېره بیا فرهنګیانو ته، په افغانستان کې د تېر اووه کلن بهیر د بریاوو او نیمګړتیاوو څېړنه او ارزونه مهمه وه او په دې اړه د دوی د نظرونو او وړاندیزونو راټولول هم خورا مهم وو، سربېره پر دې په کابل کې یو شمېر روښنفکرو ځوانانو هیله لرله، چې په کورنۍ

او بهرنۍ کچه د افغاني میډیا یو داسې سیستم رامنځته شي، چې هم د افغانستان ضد میډیا زهر له منځه یوسي او هم هېوادوالو کې د مینې، صمیمیت، ورورولۍ، هېوادپالنې او ملتپالنې ولولې او روحیې پیاوړې کړي، په دې برخه کې یو څه جزیي کار هم شوی، خو د یوې هر اړخیزې او ځواکمنې میډیا د رامنځته کولو لپاره بهر مېشتو افغان لیکوالو، فرهنګیانو او د نظر د خاوندانو سره سلا مشوره او د هغو د تجربه ییزې او مانیزې پانګې راجلبول، یو ډېر ضروري کار دی، زما لپاره دا خبره هم په دې سفر کې ډېره مهمه خبره وه. نو دغو دوو مسلو د هېواد د حالاتو تشریح او د مثبتې رسنیو رامنځته کول، زما د سفر محتوایي برخه جوړه کړه.

# د سفر تیاری

کله چې مې د سفر نیت پوخ شو، نو د سفر د امکاناتو پر برابرولو مې لاس پورې کړ، د دفتر له مشرانو سره مې مشوره وکړه، د هغوی موافقه مې ترلاسه کړه، د ۱۳۸۶ل کال وروستیو ورځو ته مې خپل سفر برابر کړ، ما د همدې کال رخصتي هم نه وه اخیستې، خو دفتر زما له قانوني رخصتۍ پرته هم زما له تګ سره ځکه موافقه وکړه، چې له بېلابېلو افغاني فرهنګي کړیو سره ملاقاتونه او د هغو په سیمینارونو او ورکشاپونو کې ګډون زما د کار یوه اساسي برخه ده. دفتر ماته د افغانستان پر بهرنیو چارو وزارت، زما د پاسپورت د تمدید او له جرمني سفارت څخه د وېزې د اخیستلو مکتوب راکړ. مکتوب مې د دفتر د مسئول مامور (عنبري صیب) په لاس بهرنیو چارو وزارت ته ولېږه او ورته مې وویل چې د بهرنیو چارو وزارت دې د جرمني سفارت ته د خپل مامور په لاس مکتوب نه ورلېږي، ځکه زما د سفر دقیقه نېټه معلومه نه ده، عنبري صیب ته مې وویل چې مکتوب تاسې ورڅخه راوړئ، موږ به یې خپله یوسو، هغه همداسې وکړل، یوه ورځ وروسته مکتوب راغی، د مارچ لومړۍ ورځ وه، ما او (جمال

رحمن) چې اوس د جمهوري رياست د مقام په دفتر کې مشاور دی دواړو مکتوب د جرمني سفارت د ويزې دفتر ته ورتسليم کړ، هلته مو دوه فورمې هم ډکې کړې، هغوی موږ ته وويل چې د ځومره وخت لپاره او پر کومه نېټه ځئ! موږ ليکلي وو: ((د دوو اوونيو لپاره او د مارچ پر (۱۵) نېټه)) هغوی وويل: تاسو چې جرمني کې کومې ټولنې دعوت کړي ياست دهغو ادرس او يو مکتوب هم په کار دی، خو ځومره ژر چې وي وخت کم دی، نو موږ به ستاسو کارونه په جريان کې واچوو، خو تاسې کولای شئ د هغې ټولنې مکتوب درې څلور ورځې وروسته هم راولېږئ، ما په جرمني کې انځور صيب ته ټلېفون وکړ، چې د افغانستان کلتوري ودې ټولنې يو مکتوب هم په کار دی، هغه وويل: ((زه خو همدا اوس کابل ته در روان يم، څو دقيقې وروسته مې پرواز دی، خو زه به د ټولنې سرپرست ډاکتر صيب صابر ته ووايم، چې هغه يې په برېښناليک درولېږي.))

د ډاکتر صيب صابر زوی (محمد نسيم صابر) ماته په ايميل بلنليک راولېږه، دا وخت انځور صيب هم کابل ته رارسېدلی و، هغه لاسليک کړ او د مارچ پر (۳) مه نېټه مو د المان سفارت ته ورتسليم کړ، د مارچ پر لسمه د المان سفارت د ويزې دفتر موږ ته ويزه راکړه او د مارچ له (۱۲-۲۵) نېټې پورې يې اعتبار

درلود. مخکې تر دې چې زه د ویزې کارونه خلاص کړم، بصیر بهرامي چې زما نږدې ملګری دی، جرمني کې اوسي او فعلاً په مالیه وزارت کې د پارلماني چارو مشاور دی، ماته ویلي وو چې د مارچ پر میاشت زه هم ځم، کوښښ وکړه، چې سفر مو سره یوځای شي.

د مارچ پر (۱۵)مه په جرمني کې یوه مشاعره هم وه، نو ځکه باید د مارچ پر (۱۵)مه زه هلته تللی وای. کله چې مې ویزه واخیسته بهرامي صیب ته مې وویل چې دی باید خپل ټکټ بدل کړي، هغه همداسې وکړل، ما مخکې د دوبۍ ټکټ درلود او د جرمني مې نوی واخیست، د دوبۍ ټکټ مې بدل کړ د مارچ پر (۱۲) مه برابر کړ او د مارچ پر (۱۴) مه له دوبۍ څخه فرانکفورت ته د اماراتو په الوتکه کې مې ټکټ واخیست او د مارچ له (۱۴)مې سره مې برابر کړ. د بهرامي صیب ټکټ مو هم له همدې نېټې سره سم کړ.

# د دوبۍ پر لوري

د مارچ پر (۱۲)مه لـه کابلـه د دوبـۍ پـه نیت وخوځېـدو.د مارچ (۱۲)مه سهار دفتر ته لاړم، له دود سره سم مې مېرمن له قران شریفه درې ځله تېر کړم، قران مې پـه سـترګو مـچ کـړ او لـه کـوره ووتـم، سـره لـه دې چـې مېـرمن مـې پـر کورنیـو او بهرنیو سفرونو نه خوښېږي، خو چاره څه وي؟ پـه تېـره بیـا دا چې سفر دې د ژونـد یـوه برخـه شـي، سـهار دفتـر تـه لاړم، لـه ملګـرو او انـډیوالانو مـې خـدای پامـاني واخیسـته، بهرامـي صیب وویل: زه درته (۱۲) بجې په پښتني بانك کې له دیـاني صیب ( د بانك رییس) سره منتظر یم، له دې ځایه بـه ځـو، زه لس بجې له دفتره د پوهنتون پر لـوري د دې لپـاره لاړم، چـې هلته د علمي ترفیع پـه بـاب یـوه اسـتاد سـره وګـورم، یـوولس بجې هلته ورسېدم، تر دوولسو بجو مې ورسره خبرې وکړې، دولس نیمې بجې د پښتني بانك ریاست تـه ورسـېدم، ډوډۍ مو دیاني صیب سره وخوړه، هغه وویل: زه هم دوبـۍ تـه ځـم،

جمال رحمن او ځو تنه نور مېلمانه هم وو، یوه بجه د هوايي ډګر پر لوري وخوځېدو، د (VIP ) دروازې له لارې هوايي ډګر ته ورداخل شو.

خپل پاسپورتونه مو د خروجي ټاپي لپاره يو مامور ته ورکړل، څو شېبې وروسته هغه بېرته راوړل، ويې ويل: تاسې بايد د (VIP) کارت ولرئ، پر دې وخت بهرامي صيب پرې په قهر شو، ته يون صيب نه پېژنې، چېرته کار کوې؟ مانه پېژنې، چټك يوسه چې اوس به (VIP) دروښيم، هغه مامور په خندا شو، ژر لاړ او زموږ کار يې په پنځه دقيقو کې خلاص کړ، بيا کله چې د چك له وروستۍ دروازې څخه وتلو د سړي سر پنځه سوه افغاني اخلي، ما زر افغاني ورکړې؛ د دوو کسو، بهرامي صيب وويل پيسې مه ورکوه، زه دلته هېڅکله پيسې نه ورکوم، ما ويل خير دی پرې چې زموږ د حکومت بوديجه قوي شي.

الوتکې کې کېناستو، تقريباً دوه نيمې بجې مو پرواز وکړ، په الوتکه کې مو هغه د چا خبره ښه ګپ ولګاوه، نږدې دوه نيم ساعته وروسته دوبۍ ته ورسېدو، بهرامي صيب ته

مې وويل دوبۍ کې زما هم ډېر اندېيوالان دي او ستا هم، خو هېڅوك نه په عذابوو، يو عادي هوټل ته ځو او شپه کوو او که سبا زمينه برابره شوه يو نيم اندېيوال به وګورو، هغه وويل: دوبۍ کې نو ستا کار نه شته، هغه زما کار دی، چې چېرته ځو او چېرته نه ځو. کله چې د دوبۍ هوايي ډګر ته کښته شو، ميدان ته لا رسېدلي نه وو، ده وختـه چاتـه زنګ وواهه، چې موږ ته اتاق او ځای وزګار کړه، هغه ورته وويل چې کيلي هلته د هوټل له کارکوونکو سره شته، پلاټ خالي دی، نن شپه ټول پلاټ ستاسو په واك کې دی او سبا شپه سهار وختي يو بل څوك هم راځي، چې کېدی شي يو اتاق هغه ته پرېږدئ.

کله چې د دوبۍ هوايي ډګر ته ورسېدو، نو ما ترانزيت ويزه نه لرله، د اماراتو سفارت نه مې ځکه د ويزې غوښتنه ونه کړه، چې يو خو ما يوه دوه مياشتې دمخه يوه ويزه اخيستې وه، د هغې وخت تېر شو، خو زه لاړ نه شوم او بله خبره دا وه چا راته ويلي وو، څوك چې اروپايي هېوادونو ته سفر کوي او تر (۱۲) ساعتونو زيات په دوبۍ کې معطلېږي، نو د پنځوسو ډالرو په مقابل کې وېزه ورکوي، بله خبره دا وه،

چې جرمني ته د تګ پرمهال دا معلومه نه وه، چې زه به دلته پاتې شم كه نه؟ خو خير په هر ترتيب كله چې د ترانزيت وېزې غوښتنه مو وكړه، نو د يوې شپې لپاره دوى تقريباً يو سلو اويا ډالره محاسبه كړي وو، د دوى دليل دا و، چې دوى د يوه پكيج په شكل ترانزيت وېزه وركوي. بهرامي صيب كه څه هم ډېر استدلال ورسره وكړ، يو څه ځاى يې ونيو، خو ډېر نه، په پاى كې يې ماته د دوه شپو وېزه ولګوله او يو زردرهم يې راڅخه واخيستل، دې پروسې تقريباً دوه ساعته وخت ونيو، له هوايي ډګره بهر شو او د هغه هوټل پر لوري په ټكسي كې رهي شو، چې بهرامي ته په ګوته شوى و. له ميدانه به مو يو شل دقيقې مزل كــــړى وي، ټكســي ته چې وختلو أرېور يې پښتون و،

بهرامي ورسره ګپ شپ شروع كړ، موټروان وويل: موږ چې كله له ميدان څخه سورلي اخلو، نو شل روپۍ (درهمه) پرې له ميدانه اتومات چارجوو او نور د كيلو ميټر په حساب، په يوه كيلو متر يو درهم اخلو، كله چې هوټل ته ورسېدو د كيلو متر ستن څلوېښت درهمه ښودل، هغه مو وركړل، هوټل ته ورداخل شو، دا د دوبۍ يو ډېر لوكس هوټل و، چې نږدې نيمايي دوبۍ ورڅخه

ښکارېدله. دا هوټل (فیرمونټ) هوټل نومېده، چې په زرګونو پلاټونه یې لرل،له ریسپشن څخه بهرامي صیب، لکه له پخوا چې ورسره پېژني، کیلي واخیستله او په لفټ کې په ډېره ارامه توګه (۲۳) پوړ ته پورته شو (۲۲۰۴) نمبر اپارتمان،دې پلاټ یا




اپارتمان د صالون یوه لویه خونه، دوه خوبخونې، یو پخلنځی او د ځان وینځلو درې تشنابونه درلودل. ښه پاك ستره اپارتمان، چې د ژوند څومره اسانتیاوې غواړې، هغه په کې وې. دا اپارتمان د ایشان نشنل (د افغانستان د یوه سوداګر دی)، چې بهرامي صیب سره اندېوالي لري او د بهرامي صیب په وینا یو ملیون ډالر یې اخیستی دی، ماښام تیاره مهال و، ما بهرامي صیب ته وویل،

چې زه خو یوه سترګه خوب کوم، بیا به پر ځان اوبه تېرې کړم، بیا به لاړ شو، ډوډۍ به وخورو. هغه هم راسره ومنله، سترګه چې مو غړوله، نږدې لس بجې وې، دمه مو ښه راسته شوه، ما بل تشناب کې ځان ووینځه او بهرامي صیب بل تشناب کې، بهرامي صیب وویل: لاندې هوټل کې به ډوډۍ وخورو، ما ویل ددې هوټل له ډوډۍ سره چې زموږ مزاج برابرېږي ډېر وخت غواړي، ده ویل څه کوې؟ ما ویل د افغانانو هوټل به پیدا نه شي؟ او یا راځه چې د ترکانو او یا هم د ایرانیانو کوم هوټل ته ولاړ شو، خو ده راته وویل: خیر راځه یو ځل د هوټل مهم ځایونه وګورو، ده وویل چې ما په دې هوټل کې ډېرې شپې کړي دي. د عوامو په شان مې د هوټل د منزلو پوښتنه ونه کړه، خو ما د (۴۰- ۵۰) منزلو په شاوخوا کې اټکل کړ. د ساعترۍ، شرابو، کبابو او نڅا ګرو ټولې اسانتیاوې ورسره وې، دومره مصنوعي ښکلا یې لرله، چې دفعتاً د یو افغان لپاره د هغه هر څه هضمول شوني نه وو، بهرامي صیب ته مې وویل: زه خو چې هرڅه په بل ځای کې ښکلي وګورم وایم چې له بېخه مې جګ کړي او په خپل وطن کې مې ایښي وای! د شپې مې له همدې تعمیره شاوخوا نور په سلګونو تعمیرونه ولیدل، چې هغه د چا خبره د هر تعمیر ځان ته ننداره کېدله او که له لاندې ورته وګورې، نو د عوامو په اصطلاح

خولۍ دي له سره غورځېدله، بهرامي صیب وویل: ((د ترکانو ښه هوټل به اوس پیدا نه کړو، خو ځه چې د ایرانیانو یو ښه هوټل دی او ډېره ښه غذا ورکوي، زه له دې هوټل څخه ډېره ښه خاطره لرم، خاطره)) یې هم ماته ددې لپاره بیان کړه، چې ډېره خوږه وه، خو زه نه غواړم پر هغې دلته څه ووایم، دویم منزل ته پورته شو، موسیقي چالان وه، خو ډېرو کمو خلکو ورته غوږ ایښوده، موږ په یوه ګوټ کې کېناستو، د ډوډۍ مینو یې راوړه، وریجې، مېوه، ترکاري او د مېوې جوس مو راوغوښتل، ډېره خوندوره ډوډۍ وه، له افغاني ډوډۍ سره یې توپیر نه درلود، خو په پاکۍ او کیفیت کې ډېره لوړه وه، دومره ډوډۍ مو وخوړه، چې نور نو د خوځېدو نه و، مینې وریجې یې په افغانستان کې تر مینو وریجو ډېرې اوږدې وې او ښې نرمې یې پخې کړې وې، څو شیبې وروسته یې د ډوډۍ بل راوړ، (**۲۵۵**) درهمه، هغه مو ورکړل او له هوټله بهر شو، بهرامي صیب ته مې وویل: اوس نو لږ پلې ګرځو، چې دا ډوډۍ هضمه کړو، بهرامي صیب وویل: چېرته ځو؟ ما وویل: درې کاله دمخه زه دلته راغلی وم، په کلیفورنیا هوټل کې مې یوه اونۍ تېره کړه، راځه هلته به لاړ شو، که موسیقي اورې، هندي، ایراني او بنګالي په کې شته او که نه تر هغه ځایه به لاړ شو، چې ډوډۍ مو هضمه شي بیا به له هغه ځایه ټکسي

کې بېرته خپل ځای ته لاړ شو. په ګرځېدو ګرځېدو ډېر ستړي شو، له یوې کوڅې بلې او له یوه سړك بل ته، خو په پای کې مو پیدا کړ، بهرامي صیب وویل: دا څه پس کوچه یې هوټل دی؟ تا خو ویل چې دا خو لوکس هوټل دی، ما ویل څلور کاله دمخه په دې سیمه کې تر دې ښکلی هوټل نه و، خو اوس دوبی دومره بدلون کړی، چې دا ټوله سیمه ورته بدرنګه ښکاري، کله چې د هوټل ریسپشن ته وختلو نو خوند یې رانه کړ، بهرامي ترې وپوښتل ایراني موسیقي شته؟ هغوی وویل: هغه بل هوټل کې، څنګ ته نږدې یو هوټل دی هلته تللي، بهرامي ته مې وویل: څه چې څو نور به نو له موسیقۍ نه تېر شو، پښو کې مو حرکت نه شته، هغه وویل راځه نو دغه هوټل به وګورو که موسیقي وه که نه وه د تازه مېوې جوس به وڅښو نور به څو، ما وویل سمه ده، یو پنځه دقیقې پلی مزل به مو کړی وي، (کینګ ستې هوټل) ته ورسېدو. دننه د موسیقۍ اواز راته، بهرامي ته مې وویل، دغلته تازه جوس راوغواړه، چې ویې څښو او نور لاړ شو، په هوټل کې کېناستو، یو نجلۍ مینو راوړه او وروسته یوې بلې ورسره د تازه مېوې جوس راوړل، فارسي خبرې یې کولې، بهرامي صیب ورسره سم له لاسه شجره وکښله، هغوی وویل: موږ د ازبکستان یو، فارسي مو زده کړې ده د یوې خو لږه پښتو هم زده وه، ارته

ارتـه یـې ویلـه. د جـوس تـر څښلـو وروسـته نـور نـو د خـوب څپـه راغلــه، د جــوس او مېــوې مــو تقریبــاً ســل درهمــه ورکــړل او د اپارتمـان پـر لـوري رهـي شـو. څلوېښـت درهمـه مـو ټکسـي والا تـه ورکړل او د شپې تر دوو بجو وروسته مو پـه فیرمـونټ (Fairmont ) هوټل (۲۲۰۴) اپارتمان کې ارامه خوب وکړ.

سهار مو چای په همدې اپارتمان کې وڅښه، په پخلنځي کـې د هر څه سهولتونه وو، بهرامي صیب ښه چای تیـار کـړ، د چـای تـر څښلـو وروسـته پـه دوبـۍ کـې د افغانسـتان د سـوداګرو د ټـولنې رییـس؛ حـاجي صـیب عبیـدالله ټېلېفـون راغـی، بهرامـي صـیب ورته وویل چې یون صیب راسره راغلی، هغه وویـل: زه د هوټـل پـه لومړي پوړ کـې ناسـت یم، تاسـې تـه انتظـار باسم راځـئ چـای بـه یوځای وڅښو.

حــاجي صــیب عبیــدالله ســره مــا پــه غیــاب کــې پېژنــدل، د افغانستـان- پاکستان امن ګډې جرګې ته، له دوبۍ څخـه د افغـان سـوداګرو پـه اسـتازۍ هـم راغلـی و او نـور هـم د ښـه پاخـه ملـي او ټولنیز دریځ څښتن دی، هغه د کندهاریانو په اصطلاح پـر هـر څـه یې سرخلاص دی. هغه د هوټل پـه لومړني پوړ کـې ناسـت و، مـوږ چې ورغلو تر روغبړ وروسـته یـې د چـای د راغوښتلو لپـاره سـړی راوغوښت، موږ وویل: چای مو څښلی، هغه ډېر ټینګ ست وکـړ،

خو موږ وویل چای نه څښنو هغه خپل ځان ته څه تازه جوس او د خوړلو څه راوغوښتل او د خوراك څښاك تر څنگك یې موږ سره خبرې اترې هم کولې، ماته یې وویل: یون صیب له لیدو دې ډېر خوښ شوم، په امن جرگه او نورو چارو کې ستاسو له فعالیتونو خبرېږم، مرکې مو اورم ډېر خوښېږم، نه یوازې ستاسو مرکې او فعالیتونه تائیدوم، بلکې د وریندارې (مېرمن ارین یون) مرکې او نظرونه هم زموږ د تائید وړ دي، په امن جرگه کې مو سره وکتل، له جرئت او خبرو یې ډېر متاثره شوم. حاجي صیب عبیدالله په افغانستان کې د تجارت د اوسني حالت، اقتصادي مافیا، د بانکونو حالت او په دې برخه کې د ځینو رسمي او نارسمي چارواکو د لاسوهنو په اړه هر اړخیزه رڼا واچوله او له ځینو اشخاصو یې سر وټکوه، حاجي عبیدالله په افغانستان کې د تصنعي تاجرانو او اصلي سوداگرو په باب هم هر اړخیزې خبرې وکړې او ویې ویل چې په دوبۍ کې مې د افغانستان سوداگرو د ټولنې ریاست ځکه قبول کړی، چې خلك له دې پوست څخه سیاسي گټه پورته نه کړي، ده هغو کړیو ته هم اشاره وکړه، چې غواړي د پښتنو سوداگرو پانگه محدوده او له ستونزو سره مخامخ کړي. په کابل کې ترور، تښتونه او وېره د همدې پروگرام یوه برخه ده. د افغاني سوداگرو په هکله د حاجي عبیدالله خبرې ډېرې خوندورې او له معلوماتو ډکې وې، خو هغه وویل چې اوس

وخت کم دی نن ماښام زه موټر همدلته درلېږم تاسې دواړه مې مېلمانه یاست او یون صیب سره غواړم د سیاسي او فرهنګي مسایلو په هکله هر اړخیزې خبرې وکړم، ټیک اته بجې به په یو هندي رستورانت کې زموږ او ستاسو وعده وي. ما وویل: حاجي صیب داسې ځای ته مو بوځه، چې ترنګ او ترونګ په کې نه وي، چې خبرې په کې وکړو. هغه وویل همداسې ځای به وي. له حاجي صیب عبیدالله سره مو خدای پاماني وکړه، د سهار لس بجې به وې، بهرامي صیب وویل: راځه پلي وګرځو، چې ستړي شو بیا به ټکسي کې د دوبۍ د هغو ښکلو هوټلونو سیل ته لاړ شو، چې د دنیا تر ټولو ښکلي هوټلونه دي، خو ده وویل راځه چې تر هر څه دمخه یو بانك ته لاړ شو، چې یو څه ډالر په امارتي درهم واړوو، یو بانك ته ورننوتو خو ما ورته وویل چې ماسره تقریباً درې زره درهم دي، پیسو بدلولو ته هیڅ ضرورت نه شته، بهرامي صیب مې له پیسو بدلولو منع کړ. یو څه پلی مزل مو وکړ، ګرمي هم دې حد کې وه، چې پر سړي ښه نه لګېده، د پلي مزله پر مهال مو د سړك له پاسه د اورګاډي هغه لیکه هم ولیدله، چې د سړك له پاسه د هوایي پله په بڼه جوړېدله او د دوبۍ اکثره برخې یې یوه له بلې سره نښلولې، دالیکه به شپږ میاشتې وروسته بشپړېږي او له چلوونکي پرته به په اتومات ډول کار

کوي. دوبۍ کې د ترافیکو ګڼه ګونه دومره زیاته ده، چې د دوه اړخیزو څلور لیکو سړکونو تر څنګ اوس میترو او د هوایي پلونو په بڼه د اورګاډو منظمو لیکو ته هم اړتیا لیدل کېږي، د دوبۍ د هر لوی تعمیر ترڅنګ چې د زرګونو خونو لرونکی دی، د څو ځمکتل پوړو او څو تر ځمکتلو پورته پوړونو تعمیرونه هم لیدل کېږي چې د موټرو د پارکینګ لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کېږي. په هغه هوټل کې چې تېره یوه شپه مو تېره کړې، شاوخوا ګڼ لوړ پوړي تعمیرونه لیدل کېدل او د هر لوړ پوړي ترڅنګ په کابل کې د ساپي لنډمارک (کابل سټي سنټر) په شان یو یا دوه، د منځنۍ کچې لوړ پوړې ودانۍ هم داسې وې، چې دا یوازې د موټر د پارکنګ لپاره وې، دا چې د دوبۍ هره ودانۍ به د موټرو د ودرېدو لپاره ځمکلاندې څو پوړونه درلودل دا معلومات راته حاصل نه شول، خو د یوې ودانۍ پوړونه مې ټول حساب کړل، لس منزله وو، په هر منزل کې یې موټر ولاړ و، اخر منزل یانې چت یې هم له موټرو ډک و او د وروستي منزل په چت کې یې د اوبو یو حوض هم لیدل کېده. موږ څو دقیقې پلې وګرځېدو، خو بهرامي صیب وویل: راځه دلته یو ځای دی کښتۍ لري، هغه به مو لږ په بحر کې وګرځوي او د ښار ځینې ښندې به راوښیي، ما ویل څه ورکوه یې کښتۍ نه به تېر شو. تر لږ مزله وروسته بهرامي صیب


یون ((جمیرا)) هوټل ته ورځېرمه

ټکسي ودروله، ورته یې وویل: ((جمیرا هوټل ته لاړ شه!)) شل – دېرش دقیقې وروسته هلته ورسېدو، د هوټل هر کلیوالو هر کلی وایه، بهرامي صیب وویل: دې هوټل ته زه یو ځل له خپلو ماشومانو سره راغلی وم، دلته مې تقریباً پنځه لس شپې وکړې، دا اوه ستوریز هوټل دی، ټول بهرنیان او معتبر خلك دلته راځي، ډېره ښه غذا ورکوي، د


بهرامي ((جمیرا)) هوټل ته ورځېرمه

هر چا د هر کلتور د خلکو په طبیعت برابره، د بوفې سیستم لري، هر سړی په خپله خوښه ځانته غذا را اخلي، خو مخکې تر دې چې ډوډی وخورو، راځه ددې ځای دکانونه وګورو، ما ویل موږ غیر

له هغې هم څه شی نه اخلو، نو څه کړو دکانونه؟ ده وویل راځه بلد به شې، هر دکان ته چې وردننه کېدلو، هټیوال یې اکثره ښځې وې، پر شیانو خپل خپل قیمتونه لیکل شوي وو، چنه وهل په کې رواج نه و، ساعتونه، قلمونه، لباس، بوټونه او د ژوند د ضرورتونو اکثره څیزونه په کې وو. بهرامي صیب چې به هټیوالې سره خبرې پیل کړې، په دوه دقیقو کې به داسې ورسره ازاد شو، تا به ویل، چې ټول عمر یې پېژني، زه خو به کله دومره تنګ شوم چې د دکان مخې ته به ورته ودرېدم، څو چې ددوی ((ضروري)) خبرې خلاصې شي. یو دکان ته خو دري ځله ورپسې ورننوتم، یوې هندۍ او یوې مراکشۍ په کې کار کاوه، ده لومړی هندۍ سره د خپلې پېژندګلوۍ شجره کښلې وه؛ مراکشۍ ته یې چې د مراکش د څو ځایونو نومونه واخیستل، هغې هم ورسره په خوند خبرې شروع کړې اخر ما ورته وویل: هر چاته خدای(ج) یو نعمت په برخه کړی، تاته یې دا علم درکړی، چې خلکو سره څنګه په څو ثانیو کې مناسبات جوړ کړې اصلاً خو دې له دولتي دندې څخه په دې کې ګټه ډېره ده، چې خلکو سره له کوم لګښت پرته اشنا کېږې، ده وویل: خارجیان داسې خلك ډېر خوښوي، چې خوشبرخورده وي، بهرامي صیب یو څو نور دکانونو ته هم سر وردننه کړ، خو زما په ټینګار نور له دکانونو رابهر شو، له هوټل

ځخه یوه لاره لاندې بحر ته غځېدلې وه، یوازې هغو کسانو او کورنیو حق درلود، چې له دې لارې لمباځي او نورو تفریحي ځایونو ته لاړشي، چې په همدې هوټل کې اوسېږي. خو بهرامي صیب په خپلې چالاکۍ د هوټل له سیکورټي اجازه واخیسته او موږ له همدې لارې د بحر تفریحي ځایونو ته لاړو. د هوټل ترمخه د لمبا یو ښکلی حوض و، چې لویان، کوچنیان، ښځې او نارینه په کې لمبلای شي، د ځان وچولو ځایونه، د ملاستې کټونه او نورې ژوندنۍ اسانتیاوې یې لرلې، سل ګامه وړاندې بیا د بحر غاړې یوه لوري ته، تفریحي ببړۍ، لمباځایونه او بل لوري ته لمبا ځایونه او لمرناستې ځایونه یا پیتاوي وو، چې ځای ځای یې سر سیوری هم درلود او یو شمېر خلک (ښځې او نارینه) دا مهال هم هلته راغلي وو. اکثره یې د یوې کورنۍ غړي په دې ښکارېدل، چې ماشومان هم ورسره وو، ښځې او نارینه جوړه وو، د پاخه او زاړه عمر ښځې او نر په کې زیات وو، چا اوبو کې لامبل، چا لمر ته ځانونه غوړولي وو او ځوك هم د یو بل د بدن پر غوړولو بوخت و، هغه چا چې د لومړي ځل لپاره یې د بحر غاړه او دا حالت لیدلی وي، د خوند نیمه دنیا ده، خو هغه ځوك چې له داسې لارو څو ځله تېر شوي وي، هغوی ته چندان زړه راکښونکې صحنه نه ده. لږ وړاندې یو غځېدلی سړك دی، چې درې سوه

متره په بحر کې ورېاندې تللی، یو موټر وار ځای لري، خو یو ډول ځانګړي واړه موټر، لکه دلته چې له امریکایي پوځیانو سره دي، ځینې خلک چې پلی مزل نه شي کولای هغه په کې تګ راتګ کوي او هغه هوټل ته یې وړي راوړي، چې د همدې غځېدلې لارې په وروستۍ برخه کې واقع دی او د بحر زړه ته یې لاره کړې.

دوه پوړیزه هوټل دی، پر دې ورځ یې هوټل پاکوه او په زینه کې فرش شوي لرګي یې په تېلو غوړول، په هوټل کې څوك نه وو، داسې ښکارېدل چې هوټل یا نن کار نه کوي او یا هم دا مهال یوازې د شپې مېلمانه منلای شي. د هوټل په داخل کې ډول ډول ښیښیي حوضونه وو، چې رنګارنګ کبان په کې ګرځېدل. په ښیښیي ویترین کې د کبانو ډول ډول غذا لیدل کېدله، داسې ښکارېدله چې یوازې کب غذا په کې خرڅېږي. هوټل یو ښه تخت بام هم درلود، چې کتاري ترې راتاوې او څوکۍ په کې ایښې وې او نږدې د سترګو په لید ټول بحر ترې ښکارېده، له هغه ځایه بېرته راوګرځېدو، د سل مترو په واټن د دوبۍ تر ټولو مشهور تعمیر (برج عرب) ته مخامخ کېناستو، دې ځای له برج عرب څخه نږدې د دوه سوو مترو په واټن فاصله لرله.

دا برج د نړۍ له معاصرو شهکارونو څخه یو دی، چې په وروستي پوړ کې د الوتکې د ناستې ځای لري او د نړۍ د سترو

واکمنـو، پـانګوالو او نـامتو خلکـو لپـاره مخـتص شـوی دی، د کینګك نایټ (King Night) ( د پاچا شپه) په نامه ځانګړي اتاقونه پـه کې شته، چې د یوه اتاق کرایـه یـې د یـوې شـپې لپـاره دولـس زرو امریکایي ډالرو ته رسېږي او هوټل والا په دې شـپه د مېلمـه ټـولې غـوښتني او ضـرورتونه پـوره کـوي، هغـه خلـک چـې د ژونـد لـه اساسي نعمتونو بې برخې دي کېدی شي دا شپه پـه خـوب کـې هـم ونه ګوري او یا یـې تصـور هـم نـه شـي کـړای. وایـي چـې دې هوټـل کې افراط دې حد ته رسېدلی، چې پانګوال کولای شي پـه شـیدو یا پیو هم ځان ووینځي دا چې په پیو ځان وینځل بـه د شـرعیت لـه مخـې څـومره مجـوز ولـري، پـر دې ملایـان او دینپوهـان ډېـر ښـه

پـوهېږي، خـو پـه هـر ترتیـب پـر دې سـربېره د بشـري هوسـونو د سرېښت ټول سهولتونه دلته میلاو ېدی شي. دې هوټـل تـه مخـامخ مو څو عکسوه واخیستل او د غـرمې ډوډۍ لپـاره د جمیـرا هوټـل پر لوري رهي شو، په لاره کې مو بیا پر څو داسې صحنو سترګې




ولګېدې، چې د ملایانو په اصطلاح لیدل یې مکروه وو. د جمیـرا هوټل لومړي پوړ کې خوړنځی و، یـوه مېـز تـه کېناسـتو، شـاوخوا ټـول هغـه بهرنیـان وو، چې پـه دوبۍ کې هم بهرنیـان ښکارېـدل، یانې اکثره د ژېړو او سپینو وېښتانو او څېرو ښځینه وو، زیـاتره یې اروپایان او امریکایان ښکارېدل، له ځینو سره خپلې مېرمنې یـا انـډیوالانې او ځینـو سـره د کـور نـور غـړي وو، پـر یـوه مېـز

کېناستو، سم له لاسه خدمتګار راوړاندې شو او د ډول ډول مشروباتو ست يې وکړ، موږ د نا الکولي مشروباتو ورته وویل، د مېوې جوس يې راوړل تر څښلو وروسته د ډوډۍ د اخیستلو لپاره لاړو، د بوفې سیستم و، یو ځای کې ډوډۍ، غوښه، کبابونه، کړايي يا سره کړې غوښه او نور ایښي وو، بل ځای کې ډول ډول وريجې، بل ځای کې ډول ډول ډول قورمې، بل ځای کې رنګارنګ سلات، بل ځای کې تازه مېوې، خو لنډه دا چې د ملايانو په اصطلاح " طعامونه وو لذيذ چې پرې همواره وو هرې خواته" هر چا چې هر څومره له هر ډېک څخه خوړلای شول، خپل قاب يې ورڅخه ډکاوه، بيا خپل مېز ته ته او که اشتها يې وه بیا راته، ما خو په یوقاب کې لږ سلات، زیتون راواخیستل او یو ډول عربي کباب چې تازه تازه تیارېده هغه مې راواخیست او وچه ډوډۍ مې ورسره راواخیسته، د کابل په نوي ښار کې شینواری کباب هاوس هم دا ډول کباب پخوي، خو هغه د عربي هغو په شان پاك او خوندور نه دي، دا چې مو وخوړل نو ډېر خوند يې راکړ او موږ هم شوم، بهرامي صیب وویل: څه چې نور راواخلو، ما ویل یاره بس دی موږ شوم او نور شرم هم دی، هغه وویل: دلته شرم نه شته، دلته څومره چې خورې خوره يې، که لږ وخورې که ډېره پیسې يې همغې دي، راځه چې سمه ډوډۍ وخورو، بیا لاړو،

بیا مې همدا عربي کباب راواخیست، بهرامي صیب وویل: راځه لږ وریجې هم راواخلو، لږ وریجې مو هم په قاب کې واچولې، کله چې پر مېز کېناستو، ما چې کله وریجو ته وکتل دومره اوږدې وې ما فکر وکړ چې دا ماهیچې دي، دې سره مې په لغمان کې د یو سړي یوه کیسه هم راپه یاد شوه: ((لغمان ته د ماهیچو ماشین نوی راغلی و، یو چا خپل مېلمه دوست ته ماهیچې پخې کړې وې، هغه چې ماهیچې خوړلې وې، نو تر اخره نه و پوه شوی چې ماهیچې دي که وریجې، نو خپل کوربه دوست ته یې ویلي وو، چې وریجې خو ښې وریجې وې، خو دا ووایه چې تخم دې له کومه کړی و؟ چې زه یې هم اینده کې وکرم!)) بهرامي صیب ته مې وویل: دا خو د ماهیچو په شان اوږدې دي! هغه وویل: د دنیا تر ټولو ښې او اوږدې وریجې دلته راځي، تر ډوډۍ وروسته مو لږه تازه مېوه وخوړله او خدمتګار ته مو اشاره وکړه، هغه په قاب کې ایښی بل راوړ (۵۵۵) درهمه یې لیکلي وو، هغه مو ورکړل او په ټکسي کې بېرته خپل موقت استوګنځي ته لاړو، هلته چې لاړو نور نو د خوځېدو نه وو، بهرامي صیب په یوه خونه او زه په بله کې ویده شو، ښه د مزې خوب مو وکړ. تر خوبه وروسته مو پر ځان اوبه تېرې کړې، پر دې وخت د بهرامي صیب یو ایراني اندیوال ټلیفون وکړ، چې په لاندې پوړ کې درته منتظر یو، هلته

چې لاړو، ایرانـي سـره يـې خپلـه مېـرمن هـم وه. دی خپلـه سـپين ږيری و خو ښځه يې ډېره ځوانه ښکارېدله، مېـرمن يـې پـه جرمنـي کې اوسېدله او دی خپله زياتره په دوبۍ، جرمنـي او نـورو ځـايونو کـې پـر تجـارت بوخـت و. خپلـه مېـرمن يـې مـوږ تـه معرفـي کـړه او بهرامـي صـيب زه هغـوی تـه. دې ايرانـي غوښـتـل چـې د ايـران د حکومـت هغـه پيسـې ترلاسـه کـړي، چـې افغانسـتـان تـه دمرسـتې لپـاره بېلـې شـوې دي. ده د نـږدې (۶۰) مليونـو ډالـره ادعـا لرلـه، چې مـا پـه افغانسـتـان کـې پانګـه لګـولې او يـا يـې لګـوم، د ايـران حکومت بايد ماتـه ددې پيسـو د انتقـال جـواز راکـړي. ده پـه کابـل کې د ځينو وزارتونو اسناد هم لرل، چـې دده د پـانګې تصـديق يـې کاوه. ده بهرامـي صـيب سره پـه دې اړه خبـرې کـولې، خـو مـا پـرې چنـدان سـر ونـه ګـراوه، پـر دې وخـت بهرامـي صـيب او د ايرانـي مېرمن ددې هوټل په باب پر خبرو مصروف شول او ايرانـی مـا سـره سم له لاسه پر سياسي خبرو بوخت شو. اول خو يې دا رانه وپوښتل چې امريکايان څه وخت پر ايران حمله کوي؟ ما ويل نه يم خبر، ده ويل د ايران خلك خو نور له دې اخونـدانو نـه تـر پـوزې راغلـي دي. ايرانی سخت دملايـانو مخـالف ښکارېـده، ده وويـل چـې ايـران پـه اقتصادي لحاظ دومره کمزوری شوی، چـې يـو داخلـي انفجـار تـه نږدې دی، امريکايان ايران دې حالت ته رسوي، چـې کلـه دوی يـو

ډز وکړي، نو په خپله له هرې خوا د خلکو بغاوتونه پورته شي، ددې ایراني په وینا د ملګرو ملتونو بندیزونو د ایران پر اقتصاد دومره ناوړه اغېز کړی، چې پر دې باندې یوازې اقتصاد پوهان او هغه څوك پوهېږي، چې تجارت کوي، دده په وینا هره ورځ ایران په سلګونو ملیونو ډالره زیان زغمي او دا ټول ددې اخوندانو له لاسه، ده وویل دا د (...زامن) داسې نسخه او ادرس خلکو ته ورکوي، چې هېڅوك ترې بېرته نه دي راغلي، چې صحیح دي او که غلط، خو لنډه دا چې له ایراني اخوندانو یې سخت سر وټکوه او ویې ویل چې د ایران خلك له لوږې مري، دوی افغانستان، لبنان، عراق او فلسطین کې خپلو ګوډاګیانو ته پیسې او وسلې ورلېږي، دی په دې هم ډېر په قهر و، چې ایراني اخوندانو یې تجارت ته سخته صدمه رسولې وه، خو له فکري پلوه هم د اخوندانو ځکه مخالف ښکارېده، چې دی یو ازاد طبیعته سړی و او کېدی شي ځوانۍ کې یې ښې شپې تېرې کړې وي، پر دې وخت یې ښځې وویل: راځئ ستاسې اپارتمان وګورو او که خوښ مې شو بیا به پرېکړه وکړم، زړه یې و چې مېړه سره یې مطرح کړي، چې دېته یې هم واخلي.

کله چې په لفت کې پورته کېدلو، نو بهرامي صیب ته مې وویل: ددې اغا او بي بي ترمنځ ډېر تفاوت نه دی؟ هغه وویل: دی

وایي چې ښځه مې ده، خو کېدی شي انډیواله یې وي او هلته المان ته چې ځي کېدی شي دې سره اوسي، دی ډېرې پیسې لري، نو کېدی شي د پیسو په خاطر یې ورسره واده کړی وي. موږ ګرد سره اپارتمان ته وختلو، پخلنځی، صالون او نور اتاقونه یې ټول وکتل، خوښ یې شول، بهرامي صیب ورته وویل چې دا زما یو افغان تاجر ملګري دایمي اخیستی، کېدی شي تر یو ملیون ډالرو په لوړ قیمت یې اخیستی وي. د ایرانۍ مېرمنې خوښ شو ویې ویل " خیلی قشنګ است" لږه شېبه وروسته بېرته لاندې کښته شو، بهرامي صیب ورته د هوټل ځینې نورې برخې هم وروښودلې، پر دې وخت حاجي صیب عبیدالله خان د خپل دفتر یو کارکوونکی او یو ډرېور رالېږلي وو او موږ ته منتظر وو، د ماښام اوه نیمې بجې به وې. لږه شېبه وروسته مو له ایرانۍ او له مېرمنې یې رخصت واخیست او د حاجي صیب عبیدالله موټروان او د دفتر کارکوونکي سره د ټاکلي موخه ځای پر لوري وخوځېدو. اته نیمې بجې به وې چې د دوبۍ ښار په زړه کې د هندیانو یو هوټل ته ورسېدو، حاجي صیب عبیدالله راته د هوټل په ریسپشن کې منتظر و، تر روغبړ وروسته دویم پوړ ته پورته شو، د موسیقۍ غږ راته، ما ویل حاجي صیب دلته خو خبرې نه شو کولای، موسیقي به مو ډېر په تنګ کړي، موږ باید له کم

وخت ځخه زیاته ګټه پورته کړو، هغه وویل: دا موسیقي ارامه ده سړی نه په تکلیفوي، ډوډۍ به وخورو بیا به لاندې ځای کې کېنو، خبرې به وکړو، د دوی په موسیقۍ کې هم وقفه راځي، خبرې به وکړو، موږ ته یې د موسیقۍ ستېج ته ورځېرمه ځای ریزرف کړی و، هغه د چا خبره له سندرغاړي سره خوله په خوله وو، د سندرغاړي هندي جامې پر تن وې او تر څنګ یې د موسیقۍ نوره ډله او یوه هندوه پېغله هم ناسته وه، شاوخوا یې د هندي شاعرانو د شعرونو دېوانونه یو پر بل انبار ایښي وو، له سندرغاړي سره د شعرونو یوه ځانګړې کتابچه وه، چې غالباً دده دخوښې د بېلابېلو شاعرانو شعرونه به په کې وو، هغه د کتابچې له مخې شعرونه ویل (سندرې کولې یې) دوی نږدې ټوله هندي کلاسیکه موسیقي غږوله، لکه د ځینو نورو په شان یې د سړي د غوږونو پردې نه شلولې، د ډېرو مشهورو هندي شاعرانو د شعرونو مشهورې سندرې یې ویلې، خو پېغلې هندوې، چې له ځېرې ډېره ښکلې ښکارېده، هندي پنجابي جامې یې پر تن او په هندي ګاڼه پسوللې وه، فکر کوم د ښکلا په زور چلېدله، هغې هغه سندرې ویلې، چې مخکې تر مخکې د موسیقۍ په یوه اله کې خوندي شوې وې او دې به ورسره یوازې د خولې شونډې خوځولې او د نڅا حرکات به یې اجرا کول، یانې لبسنګ به یې کاوه، د ناستو خلکو اکثره پام نارینه سندرغاړي ته و، چې راساً

یې له کتابچې څخه شعرونه انتخابول او سندرې یې ویلې، په ناستو خلکو کې اکثره بهرنیان وو، هندیان په کې ډېر کم ښکارېدل، یوازې همغه خلك هندیان ښکارېدل، چې د هوټل خدمتګاران ګڼل کېدل، نور اکثره اروپایان او نور نا مسلمان بهرنیان ښکارېدل، عربان هم په کې تر سترګو کېدل، څو عربې کورنۍ هم ورته راغلې وې، پر دوو مېزونو مې عربي کورنۍ ولیدلې، چې هندي غذا یې خوړله او څو ځله یې مېرمنو، هندي سندرغاړي ته د سندرو فرمایش ورکړ، د ځوانانو په انډول دې هوټل کې د زړو او محسنو خلکو تګ راتګ زیات ښکارېده. حاجي صیب عبیدالله سره د هوټل ډېرو خدمتګارانو پېژندل، داسې ښکارېدل، چې ده خپلو ډېرو سوداګرو انډیوالانو او نورو ملګرو ته همدلته ډوډۍ ورکړې او مېلمه پالنه یې کړې ده، حاجي صیب راته وویل: د خوراك لپاره څه غواړې؟ ما ویل: هندي ډوډۍ خوندوره ده په هند کې مې ډېره وخوړله، خو د اوبو په زور مې تېروله، ځکه چې دومره مرچ په کې اچوي چې سړی نه پوهېږي مرچ یې په کتغ کې اچولي او که کتغ یې په مرچو کې اچولی. ما ویل تاسو خپله یو څه انتخاب کړئ، خو ډېر زیات نه ځکه چې موږ غرمه دومره ډوډۍ خوړلې، چې نور نو په لاره نه شو تللای. حاجي صیب فرمایش ورکړ، هغوی څو ډوله هندي کباب،

کړايي او نور خوراکي شيان راوړل، ما ويل اوبه هم ورسره راوړه چې د مرچو زور کم کړي، هندي پتيرې ډوډۍ بيا لا بل خوند لري او که زموږ د لغمان بزګرانو ته يې کېږدې، نو کېدی شي دوه سوه ډوډۍ يې يو خوراك شي. هندي ډوډۍ دومره غټې نه دي، چې دلته يې خلك ګوري، زه او مېرمن مې (ارين يون) تېر کال هندوستان ته تللي وو، کله چې زما ملګري موږ ته هوټل ريزرف کړ، نو ماسپښين و، وږي شوي وو، هغه وويل: ډوډۍ به راوغواړم، ددې ځای چکن کړايي (چرګ کړايي) مشهوره ده، هغه به راوغواړم، خو څو ډوډۍ ورسره راوغواړم؟ ما وويل: يوه يوه ډوډۍ، هغه وويل يوه کله بس کېږي، ما ويل موږ کور کې په دوو تنو نيمه نه خورو، نو دلته به څنګه تر يوې زياته وخورو؟ هغه چرګ کړايي راوغوښته او شپږ ډوډۍ يې هم راوغوښتې، کله چې مو ډوډۍ وليدله، هلته پوه شو، چې دا ډوډۍ نه ده بلکې مړۍ ده، البته د (ډوډۍ) او (مړۍ) ترمنځ د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې توپير شته؛ په لغمان کې (ډوډۍ) د وچې ډوډۍ يوې دانې ته وايي او هم په عامه مانا کارول کېږي (مړۍ) د وچې ډوډۍ د يوې دانې څو ومې برخې ته وايي، خو په ځينو نورو سيمو کې (مړۍ) د (ډوډۍ) په عامه مانا کاروي. نو هندي ډوډۍ د لغمانيانو په اصطلاح "مړۍ ګانې" دي نه ((ډوډۍ ګانې)) په هند کې بيا ځيني داسې ډوډۍ شته، چې يوازې يوه يا دوه مړۍ کېږي

او ځيني نورې يې بيا لږ غټې دي، چې د غټ سړي دوه يا درې مړۍ کېږي، نو دا يادونه مې ځکه وکړه چې کله هم څوك هندوستان ته ځي او يا چا کره مېلمه وي، چې نهر پاتې نه شي.

تر ډوډۍ خوړلو وروسته مې حاجي صيب ته وويل: د خبرو لپاره به يو بل ارام ځای ته لاړ شو، څو شېبې وروسته لاندې منزل ته کښته شو، په يوه کونج کې د ناستې لپاره څوکۍ ايښې وې، د هوټل ريسپشن هم په همدې پوړ کې و، چای يې راوړ، بيا مو پر يو لږ سياسي مسايلو بحث پيل کړ، په اوسني حکومت کې مو د بېلابېلو تنظيمونو په اړه خبرې وکړې، حاجي صيب عبيدالله هم د زړه وينې وڅښلې او ما هم د زړه غوښې وخوړې، حاجي صيب عبيدالله وويل: سره له دې چې جمهور رييس حامدکرزی ښه سړی دی، پر افغانستان باندې يې زړه ډېر دردېږي، خو پر حکومت حاکم نه دی... موږ پر هغو ارقامو او واقعيتونو هم بحث وکړ، چې په اوسني حکومت کې څوك څومره دي، سره له دې چې ځينې کړۍ دا حکومت هم د پښتنو حکومت په نامه نوموي، خو حقيقت دادی چې په دې حکومت کې پښتانه دومره محروم دي، لکه فلسطينيان چې په خپل وطن کې د اسرائيلو تر بريدونو او ظلمونو لاندې دي. په دې حکومت کې د قومي وېش له مخې شپږ شپېته اعشاريه شپږ (۶۶،۶) سلنه تاجك، پنځه ويشت

اعشـاریه دريِ (۲۵،۳) سـلنه پښتانـه، څلـور اشـعاریه درېِ (۴،۳) سلنه هزاره او پاتې نور قومونـه دي، نـوم پـه کـې د پښتنو بـد دی، خـو امتيـاز يـې نـور اخلـي، مسـئولیت پښتنـو تـه راجـع کېـږي او نعمت يې نور اخلي، دا ارقام د ټول دولت په کچه دي، په پوځ؛ د کورنیو چارو، دفـاع وزارتونـو او ملـي امنیت ریاست کـې حال تـر دې هم خراب دی. په دې ارګانونو کې د تاجکانو عمومي شمېر نږدې (۷۱) سلنې ته رسېږي، خو له دې شمېر سره سره د هغوی د حقوقو مدعیان بیا هم قانع نه دي او جمهور رییس حامد کرزی، د " قـوم ګـرا " پـه نامـه تورنـوي، جمهـور رییس، نـو چـې د دنیـا څـه امتیازونـه لاس تـه ورغلـي، د جمعیـت، نظـار شـورا او شـعیه ګوندونو پـه خولـو کـې يې اچولي، خـو هغـوی يـې بیـا هـم قـانع نـه کړل، پر دې مسایلو مو ډېر بحث وکړ، خو په پای کې دې نتیجې ته ورسېدو، چې شکایت د حل لاره نه ده، باید داسې یوه حل لاره وسنجول شي، چې اوسنی حالت سمې خواته بوځي.

زمـوږ د دواړو پـه نظـر د افغانسـتان د روان حکومـت غټـه ستونزه له دوو مخالفو جبهو سره پـر یـوه وخت مخامېدل دي، لـه مخـالفې حکـومتي جـبهې او لـه بلـې خـوا مخـالفې نـا حکـومتي جبهې سره. په کار دي چې په حکومت کې حکومت مخالفه ډله نـه وي، حکومت باید یو واحد ټیم وي، که چېرې یـوه مخـالفـه ډلـه پـه حکومت کې د تحمل وړ وي، نو بلـه ډلـه هم بایـد لـه دې حالـت نـه

ګتـه واخلـي. زمـوږ پـه شـان د یـو شـمېر نـورو افغانـانو تشـویش دادی، چـې یـو شـمېر حکومـت ضـد حکـومتي ډلـې نـه یـوازې د حکومـت مخـالفې دي، بلکـې د افغانسـتان لـه ملـي جوړښـت، هویت او ځمکنۍ بشـپړتیا سره هم مخالفې دي، نـو کـه چېـرې د حکومت نا حکومتي مخالفینو تـه پـه حکومـت کـې د ګډون او یـا هم د سولې عامه بهیر د تطبیق زمینه برابره شي، نو حکومت ضـد او افغانسـتان ضـد حکـومتي ډلـه لـه خپـل اوسـني زیـات واك و ځـواک لوېـږي او د افغانسـتان د تجـزیې مخـه نیـول کېـږي. زمـا شخصي نظر خو دا و، چې که چېرې د ګلبدین حکمتیـار اسلامي حـزب لـه حکومـت سره یوځـای شـي د افغانسـتان پـه شـمال کـې د زیـات مـذهبي او قـومي بیـز لـه املـه کـولای شـي د افغانسـتان د تجزیه غوښتونکو ناوړه هیلـې لـه ناکامـۍ سره مـخ کـړي، سره لـه دې چـې زه شخصـاً د حکمتیـار او د هغـه د اسـلامي حـزب لـه افکارو، تېرو او یا هم اوسنیو فعالیتونو سره موافق نه یم، خو کـه چېرې د افغانستان ملي ګټو تـه پـام کـوو، نـو سړی بایـد پـر خپلـو ذاتي غوښتنو او افکـارو هم پښـه کېـږدي، مـا څـو ځلـه لـه جمهـور رییس حامدکرزي سره پـه دې اړه خبرې کړې وې او ویلـي مـو وو، چې زه په افغانستان کې د سولې د یوه عادلانه فورمول پلوی یـم، یـا دې هېـڅ جنګـي ډلـې او د هغـو مشـرانو تـه امتیـاز نـه ورکـول کېـږي او د محـاکمې لاره دې ورتـه اواره شـي او کـه چېـرې د مصلحت خبـره مطـرح وي، نـو بیـا دې دا فورمـول پـر ټولـو تطبیـق شي، دا عادلانه نه ده، چې ځینې تنظیمونه او شخصیتونه چې یـو ډول خصوصیت او ماهیت لري، یو دې د جنایت په تـور تـورن شـي

او بـل تـه دې د اتلـولۍ او دولتـي څوکیـو امتیـاز ورکـړای شـي، جمهور رییس که څه هم زمـا لـه خبرو سره موافـق و، خـو لا ډېرې داسې ستونزې شـته، چې د یـوې واقعـي سولې پـر وړانـدې پـرتې دي. حـاجي صـیب عبیـدالله هـم ماتـه ورتـه نظـر درلـود، هغـه د حکمتیـار نـږدې خپلـوان دی؛ خـوری یـې دی، خـو لـه سیاسـي او نظریـاتي پلـوه د حکمتیـار لـه نظریـاتو څخـه لـرې دی، هغـه یـو ماډرن، دیموکرات او پراخ نظره سړی ښکاري او پـه دوبـۍ کـې خپـل سوداګریز کاروبـار لـري، هغـه وویـل: زه سره لـه دې چـې د حکمتیار له سیاسي نظریاتو سره موافق نـه یم، د هر چا نظریات خپل دي، خو که موږ د افغانستان د خاورې د بشپړتیا غم کوو، نو اوسني حکومت ته په کار دي، چې لـه حکمتیـار سره تفاهم تـه ورسېږي، ځکـه هغـه ډلـې چـې د افغانسـتان د تجزیـې او ورانـۍ غوښتونکي دي، حکمتیار یې پر ایمـان ښـه پوهېـږي، خـو زه فکـر کـوم د اوسـني حکومـت مشـرتوب ددې وس نـه لـري، چـې لـه حکمتیـار او طالبـانو سـره واقعـي خبـرې پیـل کـړي، ځکـه هلتـه اساسي واك له نظار شورا سره دی. زما او د حاجي صیب عبیدالله خبـرې ډېـرې اوږدې شـوې، خـو نتیجـه دا وه کـه هـر څـوك پـه افغانسـتان کـې د سـولې لـه بهیـر سره رښتیـني خواخـوږي ولـري، بایـد لـه ټولـو ښکېلـو غـاړو سـره د خبـرو اتـرو لـړۍ پیـل کـړي، افغانسـتان کې بایـد د یوې سیمې د خلکو او یـوې ډلـې نامشـروع حاکمیت پای تـه ورسېږي او هـره ډلـه یـا شـخص د خپـل کمیت او کفایـت لـه مخـې پـه حکومـت کـې خپلـه ونـډه ولـري. مـا او حـاجي صـیب عبیـدالله پـه دې هـم خبـرې وکـړې، چـې پـر اوسـني وخـت یـو

قوي ملي او نړیوال پښتو ټلویزیوني چینل ته اړتیا ده، چې په افغانستان کې د وطن پلورونکو او نورو جنایتکارانو څېرې بربنډې او د ایران د کلتوري او مذهبي یرغل مخنیوی وکړي، ایران دا مهال په افغانستان کې په اصطلاح ازاده میډیا انحصار کړې او ګڼ شمېر چاپي او لیدنیو رسنیو ته پیسې ورکوي، هېڅ هېواد په افغانستان کې دومره پراخه فرهنګي، ژبنۍ او مذهبي مداخله نه کوي، لکه ایران یې چې ترسره کوي. حاجي عبیدالله د داسې یو ټلویزیون د جوړولو لپاره د هر اړخیزې مرستې ژمنه وکړه او ویې ویل چې نور افغان سوداګر به هم دې کار ته وهڅوم.

حاجي صیب سره مو خبرې ښه په خوند پای ته ورسېدې، بیا یې زه او بهرامي صیب تر هوټله پورې ورسولو، د حاجي صیب موټر هم له قیمتي موټرو څخه و، په لاره کې یې وویل: په دوبۍ کې د موټرو طلایي نمبرونه لکه (۱۱۱) او (۲۲۲) او نور یو رقمي نمبرونه ډېر قیمت وي، څو موده دمخه د یو موټر دا ډول یو نمبر په یو نیم ملیون ډالر وپلورل شو. حاجي صیب دا هم څرګنده کړه، چې په اماراتو کې نمبر پلیټونه د شخص په نامه دي، له یو موټره یې بل ته انتقالولای شي او پر بل چا یې هم پلورلای شي، د افغانستان په شان نه دي، چې نمبر پلیټ د موټر د انجن او نورو ځانګړتیاوو تابع وي.

د شپې نږدې ۱۲ بجې وې، چې خپل استوګن هوټل ته ورسېدو، بهرامي صیب له رسپشنست (هرکلیوال) څخه وغوښتل، د سهار پر ۴ بجو مو پاڅوي، چې هوایي ډګر ته لاړ

شو. اتاق ته د ختلو پر مهال مې بهرامي صيب ته وويل: رايه مه وهه زه خپله د ساعت په شان يم، ټيک پر ځلورو بجو به دې پاڅوم، تاکل شوې ده سهار وختي همدې اتاق ته يو بل مېلمه افغان سوداګر هم راشي، نو په همدې خاطر بهرامي صيب (هرکليوال) ته وويل، چې هغه هم راځي، نو خيال ورته وکړه. کله چې اتاق ته ورسېدو، نور نو د حرکت نه وو، زه په يوه او بهرامي صيب په بله خونه کې پر ارام خوب ويده شو.

# د فرانکفورت پر لوري

د مارچ (۱۳)مه نېټه وه، سهار له کوک شوي ساعت سره سم شل کم څلور بجې له خوبه پاڅېدلم، په تشناب کې مې پر ځان اوبه تېرې کړې او د ښاریانو په اصطلاح ځان مې (فریش) کړ، دریشي مې واغوستله او ځان مې منظم کړ، پر بهرامي صیب مې غږ وکړ، چې ځان تیار کړه. کمره مې راواخیسته او له همدې (۲۳)تم پوړه مې د دوبۍ د رنګینـــې شـــپې ځینې تصویرونه واخیستل، بهرامي لا تشناب کې و، چې څلــور بجــې شوې، له لاندې رسپشنه ټلېفون راغی او د خبرتیا احوال یې راکړ، لږه شېبه وروسته افغان سوداګر هم ور بېرته کړ او له بهرامي صیب سره یې تر روغبړ وروسته ما سره هم ستړي مشي وکړل، بهرامي صیب موږ یـــو بل ته معرفي کړو. لس شل دقیقې به لا تېرې نه وې، چې ښاغلی افغان سوداګر په کابل کې د افغانستان د سوداګرو پر وړاندې پرتو ستونزو ته اشاره وکړه، هغه وویل: ((په کابل کې د جوزا د (۸) او د (سرینا) پېښې افغان او بهرني سوداګر ډېر اندېښنمن کړل، له ما سره پخوا ګڼ شـــمېر بهرني سوداګر افغانستان ته لاړل او ټولو هیله لرله، چې افغانستان کې پانګه واچوي، خو اوس اکثره مایوسه دي، خدای دې افغانستان ته خیر کړي...)) لږه شېبه مو نور هم ده سره سیاسي- تجارتي بحث وکړ او بیا

مو ورته وویل چې تاسو له کاناډا څخه راغلي یاست ستړي یې، تاسو دمه شئ، موږ به درڅخه رخصت شو، اجازه مو واخیسته، د هوټل مخې تــه ټکسي تیاره ولاړه وه، دقیقه په دقیقه ټکسي راځي، پنځه لس دقیقې وروسته ټکسي هوایي ډګر ته ورسولو، د لومړي ترمینل له لارې داخل شو، ګڼه ګوڼه دومره نه وه، زموږ بیکونه هم دومره درانه نه وو، تر لومړي چکه چې په وجود کې د یوې ستنې په کچه اوسپنه هم نه شي زغملای، تېر شو، یوې ولاړې ټلېفوني غرفې ته ورته یــوې غرفــې تــه ودرېــدو، بهرامي صیب له ما څخه هغه ټکټ چې ما په کابل کې ترلاسه کــړی و واخیست، دا ټکټ یوه سپینه پاڼه ده، چې د ټکټ عمــومي نمبــر او د شخص خط و سیر په کې لیکل شوی، په دې غرفه کې یې زما د ټکــټ نومره ووهله، اتومات زما ټکټ راولوېد، چې بشپړ نوم او د څوکۍ نومره په کې لیکل شوې وه، تر لږ ځنډ وروسته له دویم چک څخه هم تېر شو او ورپسې بیا د ترمینل هغې برخې ته لاړو، چې مسافرین ترې بهر وتل، هلته نږدې یو ساعت منتظر پاتې شو. اکثره بهرنیان وو، اروپایان په کې زیات ښکارېدل، پر څوکۍ کېناستو، ترڅنګ مو یوه مېرمنه، چــې دوه درې غوټې ورسره وې، هم کېناسته، په دري یې خبرې پیل کړې، ماته یې وویل: ستا څېره راته اشنا ده! چېرته مې لیدلی یې؟ ما ویل کېــدی شي، ویې ویل: وظیفه دې، ما ویل په کابل پوهنتون کې استاد یــم او د ملي امنیت شورا دفتر کې هم کار کوم، دې وویل: په دې دفتر کې زما یو خپلوان هم دی، نوم یې واخیست، ما وپېژنده، ما ویل اوس لکه چې بهر

ته تللی دی، توربخنه جګ قدې مېرمن وه، بهرامي ورسره خبرې شروع کړې، بهرامي لکه چې په پيل کې مې يادونه وکړه، له ښځو سره د خبرو او جذب خاص مهارت لري، د دوی مرکه ګرمه شوه، شــجره يــې ســره وکښله، دا مېرمن په هامبورګ کې اوسېدله، د څو ماشومانو مور وه، څو کاله دمخه له کابل پوهنتون څخه فارغه او بيا جرمني ته راغلې وه، اوس په جرمني کې اوسېدله، نيمچه کابلۍ - مزارۍ وه، بهرامي يې کابل ته د راتګ او ژوند د نورې شجرې پوښتنه هم وکړه، هغې وويــل: مــور مــې وفات شوې وه، نو ځکه کابل ته راغلم، پروسږ کال مې ماشــومان هــم راسره راغلي وو، خو په تنګ او مريضان شول، نو ځکه ډېر ژر بېرته لاړو.

بهرامي صيب يې د مور پر وفات داسې ژور خفګان ښکاره کړ، لکه د ډېرو نږدې خپلوانو په څېر. دوی پر خبرو مصروف وو، ما پر قدم وهلــو پيل وکړ، ښايسته شېبه وخت نور هم تېر شو، چــې د الــوتنې شــېبې راورسېدې. الوتکې ته د ختو پر مهال بهرامي صيب له دې مېرمنې سره د غوټو په انتقال کې مرسته وکړه، تر وروستي چک وروسته الوتکې ته د ختو پرمهال مېرمنې له بهرامي څخه هيله وکړه، چې که څوکۍ نمبر يې له مورږ سره نږدې شي،دې وويل: پنځه شپږ ساعته ډېر مزل دی، زړه مې تنګېږي، بهرامي ورته وويل چې دا اسانه خبره ده، څوکۍ به دې چا سره بدله کړم.

کله چې موږ پر خپلو څوکیو کېناستو، زه د ښیښې خواته بهرامــي صیب مې ترڅنګ د منځ څوکۍ کې کېناست او بیکونه مــو پــاس پــه اصطلاح د الوتکې ټول بکس کې کېښودل، پر دې وخت د بهرامي صیب ترڅنګ څوکۍ والا شخص هم راورسېد، هغه ته یې سم له لاسه وویل: هیله ده څوکۍ دې له هغې مېرمنې سره بدله کړې، هغه لکــه همــدې خبرې ته چې منتظر وي، بې له کوم سوچ او چورته یــې قبولــه کــړه، بهرامي صیب دا مېرمن راوستله او ترڅنګ یې کېنولــه، ښــځه ډېــره خوشاله شوله، بیا دواړو ته د شجرې د اوږدولو او خبرو د تفصیل لپاره ډېر وخت په لاس ورغی، دوی خپل مجلس کاوه، الوتکې خپل مزل، تر یو څه مزله وروسته پر ما خوب راغی، زما یو عادت دادی، چې په موټر او الوتکه کې راباندې ښه خوب راځي، تر سترېا وروسته لږه شېبه خوب، بیا سترېا او بیا خوب، دې کار زه ددې جوګه کړی یم، چــې لــه کــومې ستونزې پرته اوږده مزلونه وکړم. دوه وخته ډوډۍ او کله کله د الوتکې حرکتونو د خوب څپې راماتې کړې، هڅه مې وکړه چې تر ښیښې لاندې څه ووینم، خو څه نه ښکارېدل، زه کوښښ کوم په سفرونو کې لانــدې ځمکې او ساحې ووینم او په دې ډول د هغې طبیعي او مصنوعي ښکلا او د خلکو کار او زیار معلوم کړم. یوې ساحې ته ورســېدم، د الــوتکې لارښود ترکیې هېواد ساحه ښودله، لاندې ځمکه لږ لــږ ښــکارېدله، د ځګو غرو لړۍ، ابادۍ، د غرونو ترمنځ د سړکونو او تمدن نښې په کــې ښکارېدلې، تر یو څه مزله وروسته ډېره شنه ساحه را څرګنده شوه، د

کوم اروپایي هېواد برخه به وه، لاندې تکه شنه بخملي ځمکه او له پاسه د ورېځو پاغوندې، ځای نیم به د ورېځو لــه لاســه لانــدې ځمکــه نــه ښکارېده، خو وروسته به بیا شنه ځمکه ښکاره شوه، الــوتکې ورو ورو خپله ارتفاع کموله، څومره چې ارتفاع کمېدله د ځمکې د لید ســاحه زیاتېدله، دشنو نښترو ګڼ ځنګلونه، د برېښنا ستنو او ســړکونو غــاړه غړې او ترڅنګ یې د اورګاډو غځېدلې لارې راڅرګند شول، له الوتکې څخه اټکل کېدلای شو چې خلکو پر لاندې ځمکې څومره کار کړی دی، الوتکه د فرانکفورت نړیوال هوایي ډګر پورې د ټیټېدو په حال کې شوه، د اماراتو ایرلاین الوتکې مسافرو ته د کمر بند تړلو او د ناستې خبر ورکړ، لس پنځه دقیقې وروسته الوتکه د ځمکې پر مخ کېناسته، د معمول په شان نوی باران شوی و، ځمکه پاکه او ښویه وه او د ځغاستې لیکه هم پاکه او سوتره وه. الوتکه خپل ټاکلي ځای ته ورسېده، مسافر په نوبت له الوتکې کښته شول، له یوه چکه تېر شو، د دخــولي وېــزې ځــای تــه ورسېدو، تر هغه دمخه پولیس ولاړ وو، یو یو مسافر یې له نظره تېراوه، غنم رنګو او تور وېښتانو ته یې ډېر کتل، تر ما دمخه خو یو ږیرور، چــې غالباً مسلمان به و، سم له واره یې ودراوه او پاسپورټ یې ورته چک کړ، زه چې ورنږدې شوم، نو د نورو مسافرو له منځه یې ماته اشاره وکړه، زه که څه هم په دریشي کې وم، ږیره مې هم نه وه، خو د څېرې او وېښتانو له امله دوی ته پردی ښکارېدم، پاسپورټ یې زما څو ځله واړوه را واړوه، عکس ته یې ځیر ځیر وکتل، خو دا چې زه دوه ځله دمخه هم جرمنــي

ته تللی وم او په پاسپورټ کې مې زړې وېزې هم وې، نو د پولیس چک لږ سست شو، زه خو ځکه په ارام زړه ولاړ وم، چې په رسمي وېزه تللم، نو ځکه مې په اوړو کې شګه نه وه، بهرامي صیب ورتــه رانــږدې شــو، پولیس ته یې وویل چې زما مېلمه دی، بهرامي صیب خو هسې هم پاو بالا جرمني ځکه دی، چې خپله هم په ښه پخه جرمني خبرې کوي، د هغه هېواد پاسپورټ هم لري او مېرمن یې هم جرمنۍ ده، پولیس بېرته زما پاسپورټ راکړ او ویې ویل: مهرباني وکړئ! د دخولي وېــزې دروازو لیکو ته مو ځانونه برابر کړل، د وېــزې دوه غرفــې یــا لارې وې، یــوه د بهرنیانو لپاره، یوه هم د جرمنیانو لپاره، د بهرنۍ دروازې په لیکه کــې ودرېدو، بهرامي صیب دې بلې کورنۍ لیکې ته لاړ، د کورنیو هغو کار ژر خلاص شو، موږ یو دوه دقیقې معطل شو، بهرامي صیب دې دروازې ته ځان راورساوه، ما خپل پاسپورټ د وېزې ښځینه مامورې ته تسلیم کړ، ډېر ژر یې ټاپه کړ، بهرامي صیب بیا ورته وویل: زما مېلمه دی، ښځې یوه خوله خندا وکړه او همداسې له دروازې ووتلو. فرانکفورت هوایي ډګر نه یوازې د المان، بلکې د نړۍ له ډېرو لوکسو هوایي ډګرونو څخه دی، چې نږدې  په هره دقیقه کې پرې یوه الوتکه کوزېږي، کله چې څوک سهار یا مازیګر د فرانکفورت د هوایي ډګر فضا ته ګوري، نو الوتکې داسې لــین راروانې وي، لکه د زانو کتارونه او یا هم لکه په لوی سړک چې موټر تــر یوې ټاکلې فاصلې وروسته په منظم ډول راروان وي، دلته هم په هوا کې تر یوې کمې فاصلې وروسته الوتکې یوه پر بلې پسې راروانــې وي. دې

هوايي ډګر کې د ترانسپورټ او ژوند نورې ټولې اسانتیاوې په پام کــې نیول شوي دي. تر ځمکې لاندې څو پوړیز پارکینګونه او پــه دویــم او درېیم پوړ کې د اتومات اورګاډي لیکه، د هوایي ډګر مهم ضرورتونه پوره کوي، دا برېښنایي ګاډی په اتومات ډول له ډرېــور پرتــه چلېــږي او د لومړي او دویم ترمینل ترمنځ تګ راتګ کوي. اوس لا هم پرې کار روان دی. هوايي ډګر لکه د المان د نورو ودانیو په شان داسې یو نازک پولادي رنګ او بڼه لري، چې د باران پر وړاندې مقاومت لري او د سړي زړه نــه وهي، د ډهلي، اسلام اباد او کراچۍ هوايي ډګرونو غوندې نه دی، چــې بېلابېل او تېز رنګونه يې د سړي ذهن ستړی کړي، دا یو ارام رنګ دی. څو شېبې هلته پر یوې څوکۍ کېناستو، هغه افغان مېرمنه چې شــېبه دمخه یې له موږه خدای پاماني اخیستې وه، بېرته زموږ څنګ ته راغله او بهرامي صیب ته یې وویل: له ما خو لاره غلطه شوې ده. بهرامي صیب ورسره مرسته وکړه، ورسره لاړ، ماته موقع په لاس راغلــه، د بهرامــي صیب له لاسي ټلېفون څخه مې غریب صیب (محمد عاشق غریب) ته، چې زموږ ډېر پخوانی ملګری او د سختو ورځو یار دی، ټلېفون وکړ، هغه ته چې انځورصیب  لا دمخه له کابله زنګ وهلی و، موږ ته منتظر او تیار پر ماشه سپور و، په ټلېفون کې مې ورسره روغبړ وکړ، هغــه وویــل: زه همدا څو دقیقې وروسته دررسېږم، یو وړوکی سوزکي تــه ورتــه مــوټر راسره دی. دا موټر د غریب د لور (مینې) وړوکی موټر و، چې هغه په کې خپل پوهنتون ته تلله، څو شېبې وروسته بهرامي صیب راغی، ما ورسره

ټوکه وکړه، چې دې مېرمنې سره خو دې ډېرې منډې ووهلې څه (کوچ) دې ترې حاصل کړل که نه؟ هغه په خندا شو او یو ډز یې راته په سـینه کې راکړ:ای زهر خوره، ډېر وران یې.

بهرامي صیب وویل: اوس به ریل ګاډي کې ځو او له هغه ځایـه بـه موټر کې خپل کور ته ځو، شپه به ما سره کوې، بیا بـه نـور انـډیوالان خبروو. ما وویل: نه شپه تا سره نه کوم، ته هم ښه ستړی یې، د ډېر ځنډ مسافر یې، ته به نن خپل کور ته لاړ شې، ماشومان به دې درته په طمع وي او ((شریعت)) به تطبیق کړې، د شریعت پر مانا بهرامي پوهېده، بیا یې په سینه کې یو ډز راکړ، ډېر وران یې ډېر زهر خور یې. ما ویل غریب صیب ته مې ټلېفون کړی، هغه راځي، زه به هغه سره لاړشم، هغه وویل نه غریب دې پیدا کړ؟ ما ویل هو! ده بیا ویل: ډېر وران یـې څنګـه دې پیدا کړ؟ ما ویل دغه ستا په ټلېفون مې ورته زنګ وواهه، ده بیا وویل ته راکړه نمبر یې، ما ویل ستا ټلېفون کې شته، هغه بیا غریب صیب ته زنګ وواهه، تر ستړي مشي وروسته هغه ورته وویل: زه در روان یم، بهرامي صیب ورته ځای وښود چې دغه ځای کې به ودرېږي ( ۱۵مه) دروازه. بیا زه او بهرامي صیب دویم پوړ ته پورته شـو، اورګـاډی راغـی، پـه کـې کېناستو، تر څلور پنځه دقیقو مزله وروسته، همغـه ټـاکلي ځـای تـه ورسېدو او له میدانه بهر شو. کوم ځای چې غریب صیب موږ ته ښودلی و، هلته ودرېدو، خو د غریب صیب پته نـه وه. غریـب صـیب نـو پـه

فرانکفورت او په تېره بیا هوایي ډګر کې دومره بلد دی، چې د چا خبره د میدان مامورین به هم دومره نه وي بلد، ده تقریباً دیارلس کالــه لــه داسې یوې کمپنۍ سره، چې مشر یې یو افغان پانګوال و، کار کړی او د هغو کار ګرانو مشري یې کوله یا منیجر و، چې د فرانکفورت د هــوایي ډګر او په فرانکفورت کې د ځینو خاصو هوټلونو خــدماتي چــارې یــې پرمخوړلې، د غریب تخلص غریب دی، خو په مانا کې مقدم دی تر هــر چا، نو ډېرو کاریګرو، چې اکثره یې افغانان وو، دده تر لاربښوونې لاندې کار کاوه، خو پر دې وروستیو وختونو یې د افغاني غیرت جام ډک شوی و او په نه خبره یې د کمپنۍ مشر سره خبره تاوه کړې وه، مخکې تر دې چې هغه ورته د کار د پرېښودلو ووایي، ده خپله ورته دنده ورپرېښې یې او څادر یې پر اوږه کړی و، نو دې ورځو کې دی ښه د مــزې وزګــار و او ماغوندې د فکر او اندېښنې مېلمه یې په پیسو رانیوه، څو شېبې هلته ولاړ وو، بیا مو ورسره په ټلیفون خبرې وکړې، د موټر رنګ او نښانې یې چې وویل، نو پیدا مو کړ، یو کوچنی موټر لکه د اورلګېدو د قوطي پــه شان، یوازې د موټروان ترڅنګ یو تن او یونیم تن هم شاته ځایېــدلای شو، تر اخلاصمند روغبړ وروسته مې غریب صیب ته وویــل: دا دې لــه کومه کړی دا خو دې له موزیم څخه سمپل نه دی راوړی؟ هغه په خندا شو ویې ویل: دا موټر یې د لور (مینې) دی د ا موټر دلته ډېر عــام دي، اکثره محصلین همدا موټر کاروي، زه خو اوس وزګار یم، هغه د کمپنــۍ موټر مې هم ورتسلیم کړ. تېر کال چې زه جرمني ته د یو سیمینار لپاره

تللی وم، نو غریب صیب یو ډېر ګړندی موټر درلود، لــه (فرانکفــورت) څخه تر (ګارمیش) پورې تقریباً اووه-اووه نیم سوه کیلو متره مزل یې ما پسې وکړ، انځور صیب، ډاکتر شېرولي او نجیب احمدزی هــم ورســره ملګري وو، هلته راغلل، زه او زما بل د سفر ملګری نجیب طهماس یې، چې په امنیت شورا دفتر کې د بهرنیو چارو رییس دی، له ځــان ســره بوتللو، بیا مو نږدې اته سوه کیلو متره مزل په شپه کې وواهه، ډېروري خپله غریب صیب کوله، داسې د خوند چکر مو وواهه، چې حال د ویلو لایق نه دی، په لاره کې مو د سیاسي، ټولنیزو او ادبي مسایلو په بــاب تاوده بحثونه وکړل، په زړه کې مو هېڅ خبرې پرېښنبودې. هغه د چکــر لپاره ښه مناسب موټر و، شاته ټول بکس کې یې ډېر شیان ځایېدل، ښه نوی او کاري موټر و، د ډرېور ترڅنګ یو او شاته درې کسان ځایېدل، خو زه (یون)، ډاکتر شېرولي، نجیب احمدزی او طهماس د جرمني د قانون خلاف (څلور کسان) شاته کېناستو، ما هغه وخت هم هغوی سره یــوه ټوکه وکړه، چې افغانستان کې هسې هم دروند سړی نه چلېږي، زه پــه نیم حساب یم، که ترافیک راغلل جریمه کولو یې، نو هــر ســړی دې د خپل وزن مطابق جریمه ورکوي، هغوی ټولو وخندل، خو هغه وخت موږ دوه ورځې او دوه شپې په هغه موټر کې وګرځېدلو، ترافیــک رابانــدې برابر نه شول.

**دا ځل چې مې د غریب صیب دې موټر ته وکتل، نو د غریبۍ بــوی ترې راغی، ما غریب صیب ته وویل: څنګه چــل دی؟ مــوټر کـــې دې د غریبۍ څرک لګېږي! هغه وویل: ما خو درته وویل، چې دا موټر د (مینې) دی. هغه په کې پوهنتون ته ځي او د کور لپاره سودا مودا هــم راوړي، بس د کور مشکلات پرې حلوو.**

**غریب صیب دمګړۍ د کابل اندېوالانو، انځور صیب، باوري صــیب، ډاکتر مخان شینواری او نورو پوښتنه وکړه، ما ویل ټــول ښــه دي، لــه مېلمستیاوو هېڅ نه وزګارېږي. پر دې وخت بهرامي صیب غریب صیب ته وویل: ما د موټر تمځي ته بوځه، زه درځخه کور ته ځم، غریب صیب ورته ست وکړ، خو ما ورته وویل: دی پرېــږده چـــې ((شــریعت تطبیـــق کړي)) غریب هم د شریعت پر مانا پوهېده، ویل یې ((څه نــو چـــې دی عمومي حمام ته هور اچوي)) نو بیا یې تر خپل کوره رســوم. عمــومي حمام ته اور اچول هم یوه کیسه لري، چې که وخت یې راشي بیا به یې بیان کړم. بهرامي صیب که څه هم ټینګار وکړ، چې زه خپله ځم، خــو غریب صیب پر موټر خپله پښه کېکاږله، د بهرامي صیب کور نږدې اتیا کیلو متره لرې و، غریب په یو سلو شلو کې روان و، څه کم ساعت مزل یې وکړ، خو موږ دومره په ګپ شپ کې مصروف وو، چې ګرد سره بېخي پوه نه شو، چې څنګه او چېرته روان یو.دې کې د بهرامي صیب کور ته ورسېدو، د بهرامي صیب او د هغه د خسر کور په یــوه کوځــه کـــې و،**

لومړی یې د خسر کور ته لاړ، چې د خپلــې مېرمنــې او زوی پوښــتنه وکړي، خسر یې راووت، بهرامي صیب موړ ورته معرفي کړو، سپین ږیری جرمنی د شاتو او ګلانو شوقي سړی و، موړ سره تر روغبړ وروسته یــې ست وکړ، موړ ویل ځو، ویې ویل خیر لږه شېبه صبر وکــړئ، کــور تــه ننووت، دده د خپلو روزل شویو مچیو دوه بوتله شات یې راوړل، غریب صیب ته یې ورکړل، چې دا زما له خوا ستاسو د ماشومانو لپــاره دي، د مننې ترڅنګ مو ترې خدای پاماني هم واخیسته، د بهرامي صیب کور د کوڅې بل سر کې و، هغه ته لاړو، د بهرامي صیب په ډېر ټینګار د هغه کور ته ورپورته شو، دوه پوړیزه ودانۍ وه، مېرمن یې وظیفه کې وه، خو کوچنی زوی یې، چې (۸-۱۰) کلن به و، په کور کې و، ور یې موړ ته بېرته کړ، بهرامي صیب خپل زوی په غېږ کې ونیو، ښکل یې کړ، پلرنۍ مینــه یې پرې ماته کړه، خو زوی یې هغسې نه و لکه د افغانستان ماشومانو په څېر، چې له مور او پلاره ګرد تاوېږي. زوی یې موړ ته لومړی خپله پیشو وښودله، چې یوه درې پوړیزه اوسپنیزه زانګو یې ورته جوړه کړې وه او په هر پوړ کې یې ورته نرم ځای جوړ کړی و، په وروستي پوړ کې پیشــو لکه د کور د مېرمن په شان ناسته وه، بیا بهرامي صیب موړ ته دخپــل کور بېلابېلې خونې او وړوکی کتابتون را وښود او د تازه مېوې جوس یې راوړ، هوا یخه وه، نو ځکه جوس د چای په شان خوند نه کاوه، څو شېبې بهرامي صیب سره کېناستو زوی یې له پلاره اجازه واخیسته او پورتــه لاړ، زه او غریب صیب د غریب صیب د کور پر لوري رهي شو.

**د غریب صیب د کور پر لوري**:تر نږدې یوه ساعت مزله وروسته هېڅ پوه نه شو، چې د غریب صیب کور ته څنګه ورسېدو، په سفر کې چې د طبعې یاران وي او د سیاسي داستان یوه لړۍ شروع کړې، نو پر مزله نه پوهېږې. غریب صیب لا مخکې تر مخکې کور ته خبر ورکړی و، دی د فرانکفورت په مربوطاتو کې و، په یوه درې پوړیز کور کې اوسېده، په دې سیمه کې اکثره کورونه دوه پوړیز وو، داسې ښکارېده، چې نوي نه دي جوړ شوي او کېدی شي پنځوس شپېته کاله پرې تېر شوي وي، خو داسې هم نه لکه د انځور صیب کور، چې په تاریخي ابداتو کې حساب شوی او تر سلو کلونو زیات عمر یې خوړلای دی. په جرمني کې هره ودانۍ چې سل کاله پرې واوړي، په تاریخي اثارو کې شمېرل کېږي، ښاروالي نه یوازې هغه نه ورانوي، بلکې د ساتنې او پالنې لپاره یې لګښت هم ورکوي. غریب صیب هم لکه د نورو ګڼو افغانانو په څېر په کرایي کور کې ژوند تېروي، که څه هم د کور کرایه یې لوړه ده، خو دده د استوګنې اړتیاوې یې پوره کړي دي، غریب صیب د میاشتې (دولس سوه) یورو کرایه ورکوي، چې دا د افغانستان په انډول لوړه کرایه ده، جرمني کې ډېر افغانان له لوړې کرایه سر ټکوي، افغانستان کې هم هغه مامورین چې په کرایه کورونو کې ناست دي، همدا فریاد کوي، چې د معاش میاشت ژر نه رارسېږي، خو د کرایې هغه ژر ژر راځي. په جرمني کې افغانان چې څه پیسې ګټي، هغه ترې بیا څه په کور کرایه

یا هم برېښنا لګښت، څه ترې په بیمه کې او نورې په نورو ډول ډول ټکسونو کې لاړې شي، د میاشتې په پای کې ورته یوه ټنګه هم پاتې نه وي، په افغانستان کې بیا ځینې خلک داسې فکر کوي، چې اروپا کې ځوړندې ډوډۍ دي بس خوره او څښه حساب مه منه، خو په اروپا کې بیا یوه اصطلاح غوندې ده، چې: ((دلته پیسه د فیل تر پښې لاندې ده.)) یانې یو انسان باید څومره زور ولري، چې د فیل پښه پورته کړي او پیسه ترې راجګه کړي، هلته خو کار هم د افغانستان په شان ازاد نه دی، له دې ځایه چې د متوسط عمر یو افغان هلته لاړ شي، تر څو چې ژبه زده کوي او د قانوني کار لیسانس ترلاسه کوي، په خوله کې به یې یو غاښ پاتې نه وي.

غریب صیب کره ورسېدو، مېلمستون کې کېناستو، ورینـدار، (سمین) دغریب صیب زامن او لونې ټول ستړي مشي ته راغلل، د کابل د ټولو دوستانو او زمونږ د کورنۍ د حال او احوال پوښتنه یې وکړه، پـه تېره بیا زما د مېرمنې (ارین یون) تپوس یې وکړ، ویل یې مرکې یې پـه راډیوګانو او ټلویزیونونو کې اورو، ډېر پرې خوشالېږو او وایـو دخـدای شکر دی داسې څوک شته، چې زمونږ د پښتنو غـم ورسـره دی، خـو کاشکې هغوی دې هم راوستي وای اوس خو ژمـی دی، پارلمـان هـم رخصت دی، ما ویل مونږ دواړه یوځای سفر نه شو کولای، یو باید کور کې یو او یو بهر کې، ماشومان مو یوازې دي، هغوی کېدی شي بیا په خپـل

رسمي سفر راشي، چې دلته راغلل، ضرور به ستاسې پوښتنې ته راځي. څو شېبې وروسته چای راوړل شو، وطني چارمغز، کشــمش او د کابــل نوره وچه مېوه ورسره مله وو، چای مو وڅښنه دمه مو ډېره راسته شوه، مخامخ د لرګي یوه الماري وه، ډېره ښکلې عیناً لکه له وطني لرګي څخه چې جوړه وي، خو ډېره ډېله هم ښکارېدله، د کور انتیک شیان او نــور لوښي په کې له ورایه ښکارېدل، ښي لاس کې ټلویزیون ایښی و، کلــه چې یې ټلویزیون چالان کړ، نو اریانا ټلویزیون په کې بــل شــو، غریــب صیب وویل: دلته اوس یوازې همدا اریانا نړیوال چینــل نیســي، ملــي ټلویزیون او نور لا تراوسه نه دي پیل شوي، خو داسې اوازه ده، چې ملي ټلویزیون به هم ژر پیل شي، د اریانا ټلویزیون په لیدو سره طبعاً د وطن یو څه مینه ماتېږي، خو په اریانا نړیوال چینل کې زیاتره خبرونه د بیات صیب د مرستو په باب وو، البته نور خبرونه هم پــه کــې وو، خــو ددې خبرونو سپېرونی یو څه زیات و. غریب صیب وویل: اریانا ټلویزیون دلته ډېر لیدونکي لري خو زیاتره پروګرامونه یې په فارسي ژبه دي، ما ویــل هلته خو یې په خپرونو کې د پښتو او دري ژبو که تــوازن نــه وي، نــو تناسب خو یې تر یوه حده ساتلی، خو غریب صیب وویل چې موږ هــم همدا هیله لرله، چې دلته به هم همغه شان وکړي، خو دلته داسې نه ده، د دوی نړیوال چینل له داخلي چینل سره توپیر لري، نړیوال چینل تــه همغه مطالب را اخلي، چې اکثره په دري ژبه وي، بیات دلته په افغانانو کې ښه نوم ګټلی دی، خو که دلته پښتانه دا احساس کړي، چې دی هم

**لکه د نورو په شان د تعصب پر مرض ککړ دی، نو بیا کېدی شي پښتانه ورته په هغه درنه سترگه ونه گوري، لکه اوس چې یې درناوی کوي. څو شپې لا په دې خبرو کې وو، چې له کولن څخه د غریب صیب ټلېفون ته د حاجي صیب فضل الرحمن ټلېفون راغی، تر روغبړ وروسته یې زما پوښتنه وکړه، غریب صیب ورته وویل: دادی خبرې ورسره وکړه، حاجي صیب سره مې ستړي مشي وکړل او د کور د ټولو غړو وړو پوښتنه مـې وکړه او هغه هم زما د کورنۍ او په کابل کې د ټولـو دوســتانو هــر یــو پوښتنه وکړه، راته یې وویل: موږ خو دا دوه ورځې کېږي درته په تمه یو، تشویش مو شو چې ولې رامعلوم نه شوئ، ما وویل: دوه ورځې په دوبۍ کې پاتې شو او دا دی نن ماسپښین قضا راغلو، حـاجي صــیب وویــل: شېرولي دې متواتره پوښتنه کوي، هغه اوس په دنده دی (روغتون) کې نوکري دی، ماته یې وویل چې هر وخت دوی راورسېدل ماته بــه خبــر راکړې، دا دی زه اوس ورته ټلېفون کوم، ما وویل: اوس ورته تکلیف مه ورکوه، سبا ته به سره وگورو، حاجي صیب وویل: سبا ضرور غونډې ته راشئ، ټول تاسو نه خبر شوي، ډېر به درته خوشاله شــي، ټــول درتــه منتظر دي، شېرعلي خان، عبدالولي او نور ټول دې پوښتنه کوي. حاجي صیب فضل الرحمن د کونړ لــه مطرحــو سیاســي، قــومي او ټــولنیزو شخصیتونو څخه دی، د ځمکې، جایداد، فکر او نظر خاوند دی، نــږدې شل کاله کېږي، چې زه ورسره انډیوالي او ملگرتیا لــرم، شــېرولي پــه خوشال خان لېسه کې زما ټولگیوال و، د یوه اتاق او یوه ټولگي ملگري**

وو، درس يې کم وایه، خو لیاقت يې زیات و، لیک يې ډېر ښایسته و، په خوشال خان لېسه کې يې شعرونه هم لیکل، خو بیــا چــې کلــه طــب پوهنځي ته لاړ، نو شاعري يې پرېښوده، په خوشال لېسه کې به مو کله کله په ټولګي کې مشاعره کوله، ده به د مشاعرې د دود پر خلاف، کله چې شعر وایه، نو ددې پرځای چې موږ ورته ووایو: بیا يې ووایه، ده به په خپله ویل چې بیا يې ووایم؟ موږ ویلې نه اول ځل دې مزه نه وه ته يې لا بیا وایې او کله چې به موږ ورته ویل چې یو ځل بیا يې ووایه، نو ده به ویل: ولې مو اول غوږ نه ایښوده، چې اوس يې بیا راباندې وایئ، نو پــه دې ډول به مشاعرې طنزي بڼه غوره کړه، شېرولي نو زما داسې ملګرى و، چې د ملګرتوب ډېر رازونه مو ورسره شریک وو، ښه مې په یــاد دي یوولسم ټولګي کې وو، دی هغه مهال پر هغه چا مین و، چې اوس يې د ژوند ملګرې ده او نږدې خپلوانه يې وه او ډېر ارمان به يې ورپسې کاوه، ویل به يې یاره چې دا کار وشي، نو ځومره خوند به وکړي، ما ویل کېږي وارخطا کېږه مه، تراوسه لا کوچنی يې ډېر وخت درته پاتې دی، نو کله چې به ښار ته ووتو، چکر به مــو واهــه نــو ده بــه د مینــې ځــانګړې ترمینالوژي کاروله، ده به ویل یوه مینه ده، چې هغه ډېره پاکه وي او یوه یارانه ده، په یارانه کې خو هر څه روا دي، خو په مینه کې نه! ولې نه دې دي اورېدلي چې په یارانه کې بنګړي ماتېږي، دا نو د ځوانۍ د وختونــو شېبې وې اوس چې يې سړی یادوي ځان ته يې خندا راشي، لکه په یوه خلا او خوب کې چې روان وي. حاجي صیب بیا راته وویل: سباته ګورئ

پر خپل وخت راشئ، چې د (کونړ سیند) مشاعره ده. ما وویل: ضرور به درځو، څو شېبې لا وتې نه وې، چې شېرولي هم ټلېفون وکړ، تر روغبړ وروسته یې راته وویل : سره له دې چې ما دنده نوې پیداکړې، خو بیـا هم د دندې دومره کیسه کې نه یم، زه هوایي ډګر ته درتلم، خو چې خبر شوم غریب صیب درپسې ورځي، نو ما ویل څه هغه هلته هم نږدې دی او هم ښه بلد، نو درنغلم او بل دې نوې دندې والا ته به هــم ډېــر بــې مسولیته ښکاره نه شم، نن شپه نوکري یم، سهار وختي کور تــه ځــم، سبا موږ ټول درته په طمع یو، چې پر خپل وخت راشې. غریب صیب ته پوره ادرس معلوم دی، ما ویل سمه ده درځو، ټوکه مې ورسره وکړه، چې له کونړ سیند نه مو هلته څه خیر لیدلی، چــې اوس یــې لا دلتــه هــم یادوئ، هغه بیا ویل د لغمان تر سینده خو ښه دی، نور یې څه کوې؟ دا مشاعره د کونړ د ځوانانو په نوښت جوړه شوې، چې دلته یوه ځانګړې کلتوري ټولنه لري، ما وویل ډېره ښه ده درځو. د خان ولي او عبدالولي پوښتنه مې وکړه، دا دده کشري ورونه دي خو په فرهنګي، اجتماعي او ملي مسایلو کې خورا فعال او د اور بځري دي، ده ویل خان ولي فرانسې ته تللی د ستاژ پړاو یې دی او عبدالولي همدلته دی.

کله چې د شېرولي ټلېفون خلاص شو، نو څو شېبې وروسته ډوډۍ هم تیاره شوه، ډوډۍ لپاره دسترخوان وغوړېده، له کوچ څخه پر ځمکه کېناستو، پر دسترخوان د ملایانو خبره: ((هر ډول طعامونه وو لذیز لذیز

چې پرې هموار وو هرې خواته)) زموږ ورینداري موږ ته کټ مټ افغاني غذا (سپینې وریجې، قورمه، غوښه، افغاني ډوله ترکاري) تیاره کړې وه، د تازه مېوې خو هېڅ کمی نــه و، ســړي تــه یــې د کابــل د معتبرینــو مېلمستیا یادوله، خو تر هغې هم صــفا او پاکــه. پــه جرمنـــي او نـــورو هېوادونو کې چې چاته د خپل وطن خوراک برابر شي، نــو دا خــو بیــا بختور سړی دی، ورینداري او د غریب صیب ټولو اولادونو موږ سره پــه ګډه ډوډۍ وخوړه، ما داسې احساس ونه کړ، چې زه په بهر کې یم، فکر مې وکړ چې په کابل کې د خپلوانو په کوم کور کې یم. تر ډوډۍ او مېوې خوړلو وروسته یو ځل بیا چای تیار شو، د غریب صیب د ټولو اولادونــو پوښتنه مې وکړه چې څوک څه کوي او په کوم ټولګي کې دي. غریــب صیب وویل:

ــ مینه د فرانکفورت پوهنتون په حقوقو پوهنځي کې محصله ده.

ــ اوږۍ د فرانکفورت پوهنتون په حقوقو پوهنځي کې محصله ده.

ــ سلګۍ د فرانکفورت پوهنتون په انجنیري پوهنځي کې محصــله ده.

ــ سور ګل د (۱۲) ټولګي زده کوونکی دی.

ــ بابر د (۹) ټولګي زده کوونکی دی.

ــ حمید جان د (۲) ټولګي زده کوونکی دی.

یوازې زه او مور یې څه نه لولو او د کور کارونه کوو. غریــب صــیب وویل: مینه او اوږی شعرونه هم لیکي، څوموده دمخه یې (ښځې) ته یو شعر لیکلی دی، پر دې وخت یې (مینې) ته غږ کړ، هله بچیه! یون کاکا ته دې خپل شعر راواخله، هغې خپل شعر واوروه، ازاد شعر و، خو ډېره ښکلې او نوې محتوا یې درلودله، شعر یې ماته قرائت کړ، ډېر ښکلی او طبیعي و، ما ویل که چاپ کړی دې نه وي، نو ماته یې راکړه، چې چاپ یې کړم، بیا مې غریب صیب ته وویل: ډېر به ځــان غریــب غریــب نــه تراشې، پرېږده چې دوی هم خپل تحصیل وکړي او هم شاعری ته دوام ورکړي، په پښتو ښځینه شاعری کې مونږ ډېر کمی احساسوو، نو پرېږده، چې همدا خویندې په خپل استعداد دا کمی پوره کــړي، تــر دې مــونږ اوچتې تحصیل کړې پښتنې نه شو پیدا کولای، چــې زمــونږ د ادبیــاتو نیمګړې خواوې بیا راپوره کړي، هغه وویل: زه تنګنظره نه یم، زه ددوی استعدادونو د غوړېدو لپاره هڅه کوم، زه هغه څوک نه یم، چې د منفي کلتور د اسارت له امله د خپلو اولادونو استعدادونه وژني. مونږ بایــد دا منفي کلتور مطلق بدل کړو، څو شېبې مو ددې شعر په باب بحث وکړ او بیا مو چای وڅښه، د چای تر څښلو وروسته غریب صیب ماته وویل: که ستړی نه یې راځه موټر به واخلو، لاړ به شو د فرانکفورت ښــار ځینــې برخې به وګورو، سبا هسې هم کولن ته ځو، بیا خدای خبر چې وخــت

درسره پیدا کېږي او که نه؟ فرانکفورت په شپه کې ډېر خوند کوي، دلته خو هسې هم د شپې او ورځې توپیر نه شته او بل تاسو باید ماته خپل پروګرام هم راکړئ، چې زه د سفر لیکه او وخت وسنجوم، بیا همغسې خپل مهالوېش برابر کړو. ما وویل: وګورو چې په اروپا کې څومره ځایونه یا ملکونه کتلای شو، اصلي هدف مې  د اکثرو افغان فرهنګیانو لیدنه کتنه ده او له دې سره د راتلونکو فرهنګي کارونو  او ستراتیژۍ په اړه بحث او خبرې اترې دي. فرانسې ته  باید لاړ شو، هلته زما اخښی (فیصل محمدي) په سفارت کې کار کوي، هغه په فرانسه کې د ستمیانو له فعالیتونو څخه ډېر تشویش څرګندوي، هغه باید وګورو او همدارنګه استاد روستار تره کی او که وشول ډاکټر اکبر وردګ او نور افغان لیکوال، ډنمارک ته باید لاړ شو، بېکسیار صیب، هېواد دوست دوست، ممتاز ارمان او نور ملګري باید وګورو، مشوره ورسره وکړو او که نورو ځایونو؛ هالنډ، بلجیم او سویډن ته تللای شو، ښه ده که نه ددې ځای د فرهنګیانو احوال به هم په یوه نه یو ډول واخلو، ښه به شي، بیا خدای خبر زموږ او د دوی دیدن کېږي که نه؟ وخت هم ټول څه کم لس ورځې دی.

غریب صیب چې زما نظریات واورېدل، نو ویې ویل: دا اوږد سفر دی او وخت هم کم، خو زه درته یو پلان جوړوم، ته به په کې څه نه وایې، ځکه چې ددې ځای پر کارونو زه ښه پوهېږم، د پروګرام منیجر به زه

خپله یم، ته به فقط د یوه مېلمه په شان چلند کوې، اوس نو راځه چې وځو، هم به چکر ووهو، هم به په موټر کې د سبا ورځې پلان جوړ کړو. له کوره یې د کور هغه وړوکی موټر راواخیست، چې د موټروان په شـــمول ایله درې تنه په کې ځایېږي، د اورلګېدو ډېبي غوندې و، خو ښه ښایسته او انتیک، که افغانستان ته راشي، هر سړی به ورتــه ګـوري، اوس خــو سړکونه ښه شول که پخواني سړکونه وای نو مجبور دا بــه دې پــر اوږه کاوه او تر جمپونو به دې اړوه، ځکه که شګه یې هم تر ټایر لاندې کېدله، د اوښتو امکان یې و. لکه دمخه مو چې یادونه وکړه دا د غریب صیب د لور موټر و، چې پوهنتون ته د تګ لپاره هم کارېده او د دوی د کور اړتیا یې هم پوره کوله، فکر کوم لګښت یې هم ډېر لږ و، خو تــګ کــې ښـــه ګړندی و.

غریب صیب کور کې وویل: چـــې د کـــور د لـــویې دروازې کیلـــي د دروازې تر مخې فرش لاندې کېږدئ، هر کله چې موږ راغلو، تاسې بـــه بېغمه اوسئ! هلته کورونه داسې نه وي، چې څلور دېوالونه ترې تاو وي، ځینې هېڅ انګړ نه لري او تر ځینو د لرګیو یوه کټاره تاوه وي، چې هم د انګړ او هم د پارکینګ کار ورکوي، د غریب صیب تر کوره هم د لرګیـــو یوه نازکه کټاره تاوه وه، چې موټر همدلته ولاړ و، له کوره ووتـــو، ټولـــه ځمکه باران وینځلې وه، هوا پاکه سوتره، خو لږ شان یخه وه، چې موټر کې ناست یې پر یخنۍ او ګرمۍ نه پـــوهېږې، غریـــب صـــیب وویـــل: د

فرانکفورت د بېلابېلو ځایونو تر څنګ د فرانکفورت سیند، چې د ښار له منځه تېرېږي او ښار ته یې ډېره ښکلا ورکړې، د هغه پر غاړه به وګرځو، ځینې ودانۍ به وګورو، څه به وخورو او که ډېر یخ دې نه کېده، یو څه به پلي هم وګرځو، هر کله چې سترې شوې بیا به بېرته راځو، ما وویـل: د کار منیجر خو ته یې، زه خو اوس مېلمه یم. د ښار په بېلابېلو واټونو کې وګرځېدو، ډېرې لوړ پوړې ودانۍ مو ولیدې، پاکې سوتره لکه د سګرت قوطۍ چې دې څنګ په څنګ ایښي وي، خو دا لوړ پـوړې ودانـۍ پـه ټاکلي واټن یوه له بلې څخه جوړې شوې وې، د دوبۍ په شان نه دي چې پر یوه لیکه په لسګونو لوړ پوړې ودانۍ جوړې شوې وي. غریب صیب نه مې وپوښتل، چې دلته لوړ پوړې ودانۍ شته، خو د دوبۍ په شان زیاتې او یوه له بلې سره نږدې نه دي، علت یې څه دی؟ غریب صیب وویل: د دوی هر کار په پلان دی، فرانکفورت نه یوازې د جرمني، بلکې د دنیا یو لوی تجارتي مرکز دی، د دنیا ډېره غټه پانګه دلته پرته ده او فرانکفورت کې د دنیا لوی هوایي ډګر دی، خو دا سنجش دوی کـړی، چــې دلتــه څومره پانګه ده؟ څومره خلک کار و بار لري؟ او د څومره خلکو کار پــر څومره وخت خلاصېږي؟ دې خلکو اداري بیروکراسي یا کاغــذ پرانــي ختمه کړې، نو ځکه د چا کار ډېر نه ټالېږي او په ښار کې د ګڼې ګــوڼې سبب نه ګرځي، مانا دا چې دوی له دغو ودانیو څخه پر ډېر کم وخت څو ځله کار اخلي. د فرانکفورت له منځه تېر شوی سیند مو وکوت، ډېر ارام و، د شپې خو یې د حرکت مسیر هم ښکارېده، چې کومې خواتــه روان

دی، ما غریب صیب ته وویل: چې دلته د دوی سیندونه هم ډېر سړیتوب لري، وګوره هېڅ ورانی نه کوي، ده وویل: دلته سیندونه طبعاً هم یو څه ارام دي، خو دوی خپله هم مهار کړي او ارام کړي دي، نو ځکه یې اوس د خطر احتمال ډېر کم دی، د سیند پر دواړو غاړو وګرځېدو، شپه هــم داسې وه لکه ورځ، ان په سیند کې دې خپل تصویر هم کتلای شــو، د موټرو رڼاګانې خو په کې داسې تېروبېر کېدلې، تا به ویل چې خپله موټر په کې ځغلي، غریب صیب د فرانکفورت د نورو ځانګړنو ترڅنګ دا هم وویل چې دا د دنیا د هغو ښارونو له جملې څخه دی، چې ډېره ازادي په کې ده، نو ما غریب صیب ته وویل، چې یو افغان پر ډېرو سختو لارو تــر ډېرو کړاوونو وروسته جرمني ته راغلی و، هلته هم ډېرې لوږې او فقــر ځپلی و، نو کله چې جرمني ته راغلی و، څو ورځې وروسته یې د لوبو پر یوه شنه چمن سترګې لګېدلې وې، چې شنه جلګه په کې ټوکېدلې او باران هم ښه وینځلې وه، نو دده ورته سخته اشتهاه راغله او په اصطلاح د فقر جذبې پرې غلبه وکړه، نو د څنګ ملګري ته یې وویل: ((یاره دې جلګې ته چې سړی غویی وای...))

نو د فرانکفورت ازادي هم د هغه چا لپاره ده، چې ډېرې پیسې ولري، ځواني یې وي، د شریعت حدود او بندیزونه ونه پېژني، د دوزخ لمبو ته ځان ټینګ کړي او سل و زر خطرونه نور هم پر ځان ومني، هــر څــوک داسې کارونه نه شي کولای، هغه مرغه چې ښکار کــوي مښــوکې یــې

چنګې وي، غریب صیب وویل: له ازادۍ څخه زما مطلب افراطي ازادي ده، هر څه کې چې افراط تر حده زیات شي، خوند یې له منځه ځي او د هغې موضوع ارزښت کمېږي، ما وویل: نه داسې بې بریده ازادي، چــې دلته ده او نه هم هغسې بندیزونه چې هلته د مذهب په نامــه د خنــدا وزرونه هم درباندې تړي. دا افراط او هغه تفریط دواړه د نورمال ژوند پر وړاندې ستونزې راولاړوي. یو بل کار که شــوی وای، چــې هغــه زمــوږ افراطي ملایان یې د دې ځای له دې افراطي بلاوو سره مخامخ کړي وای، معلومه شوې به وه، چې کوم طرف یې ماتوه، فکر کوم کېدی شي ملایانو ته یې زیات زیان اړولای وای، ځکه چې د هر مسلمان پر څټ یو شیطان لاس ایښی وي او ځینې ملایان وایي، چې د ملا شیطان هم ملا وي یانې تر ټولو هوښیار او چالاکه وي، نو که د هغه ځای ملایانو شیطان، له دې انساني شیطانانو سره لاس یو کړي، نو بیا خو هر ملا ته دوه شــیطانان رسېدل او د دوو شیطانانو وړاندې پر یوه وخت مقابله اسانه نه برېښي، خو که دا افراط او هغه تفریط سره یوځای شي، ددې ټکر په نتیجه کې کېدی شي یو څه اعتدال رامنځته شي، هغه د یوې کلیوالې ښځې خبره چې ژمی او اوړي دېره په تنګ کړې وه، نو ویل یې: ((خدایه له قدرتونو دې ځارېږم که دې اوړی او ژمی سره یوځای کړي وای، نو څه نرم موسم به ترې لاسته راغلی وای)) تر یو څه ګرځېدو وروسته غریــب صــیب وویل: راځه یوڅه وخورو لږ قدم به ووهو، بیا که دې زړه و لږ به نور هم وګرځو، که دې زړه نه و نور به ځو، استراحت به وکړو، سباته بیــا ســفر

لرو، په یوه ځای کې مو د موټر پارکینګ پیدا کړ، کښته شو یو سل متره مزل به مو کړی وي، چې یخ راباندې بد ولګېده، غریب صیب تــه مــې وویل: همدومره چکر مو بس دی، هغه ویل لږ صبر وکړه، چې لــږ ګــرم چپس پیداکړم، موټر ته به یې یوسو بېرته به ګرم شو او نور به ځو، هغه همداسې وکړل، چپسو له پیپسي سره په موټر کې ډېر خونــد وکــړ او همداسې د کور پر لوري رهي شو، تر نیم ساعت ځنډ وروسته به کور ته رسېدلي یو، غریب صیب له ټاکلي ځایه کیلي راواخیســـته او د خــوب ټاکلې کوټې ته د استراحت لپاره لاړو، سهار تر چای څښلو وروسته مو د سفر ترتیبات ونیول.

# د کولن پر لوري

د مارچ (۱۵)مه نېټه وه، په سیمه ییز وخت به یوولس بجې وې، چې زه (یون)، غریب صیب او سیمین ورینداار له کوره ووتو او د بارګین پر لوري رهي شو، غریب صیب له بارګین څخه زموږ د خلکو په اصطلاح یو غواګۍ (سراچه) ډوله موټر کرایه کړ، خو د کرایې څومره والی یې له ما پټ کړ، زه او غریب صیب په موټر کې کېناستو او ورینداارې (د غریب صیب مېرمن) څخه مې خدای پاماني واخیسته، د موټر د حرکت پر وخت هغې پر غریب صیب غږ وکړ، چې موټر ورو چلوه او په لاره کې ډېر احتیاط وکړئ! ما و غریب صیب حرکت وکړ، باران ټوله ځمکه داسې وینځلې ده، چې د ګرد څرک هم چېرته نه ښکارېده، ډېره صافه او پاکه هوا وه. غریب صیب وویل: راځه داسې د سیند پر غاړه به لاړ شو، که څه هم دا لاره ډېره اوږده ده، نو زما او ستا څه کار دی، هم به چکر ووهو او هم به دا سیمې وګورې، ما ویل بېخي سمه ده. په ژوند کې خوږې او ترخې خاطرې د سړي نه هېرېږي او همدارنګه په ژوند کې خاص پړاوونه او خاص ملګري، د عسکرۍ، سفر، زندان، ښوونځي او پوهنځي اندیوالان د سړي له یاده نه وځي، غریب صیب هم د سفر ښه ملګری، ډېر خدمتګار، غریبپار او غریبنواز دی. د سفر بله ځانګړنه یې داده، چې

ډېر ښه موټر چلوي، كه څه هم ډېر تېز يې چلوي، خو د قانون مطابق يې ځغلوي او سړی ورسره د وېرې احساس نه كوي، په ادرس پيداكولو كې هم تر ډېره حده دقيق او پر ځان باوري دی، كه څه هم كله كله تېروتنه كوي، خو بيا هم د چا خبره نه مني او پرځان باور يې نور هم غره كوي. كله چې د ښار له څنډو عمومي اتوبان يا لويې لارې ته ووتو، نو يو ځل مو د سياست د غيبت باب پرانيست، د سياست يو پړاو مو لا څېړلی او څنډلی نه و، چې نږدې سل كيلو متره مزل مو وهلای و، د جرمني په اكثرو سړكونو كې اعظمي سرعت قيد نه دی، احتياط كاری ډرېور هم په يوسلو شلو كې روان وي، كله چې مو د سياست څپركی تر يوه حده ورسوه، نو هغه باب راڅخه خطا شو، د سيند پرغاړه دواړو خواو ته پر ونو او بوټو چې مو سترګې ولګېدې، نو د سياست كرغېړن بحث يې له موږ هېر كړ.

**د راين پرغاړه:** د سياسي بحث تر شلېدو وروسته مو د راين سيند ته پام شو، داسې چې تا به ويل، هېڅ حركت نه كوي، لويې او وړې بېړۍ په كې دواړو لوريو ته په حركت كې وې، غريب صيب ته مې وويل: يو ځای كې يې ودروه، چې دا سيند وګورو، چې كومې خواته روان دی؟. غريب صيب وويل: لږ صبر وكړه چې كوم خوراكه پلورنځی يا هوټل پيدا كړو، چې څه ترې را واخلو، ما ويل څه لږ به پلي هم وګرځو، چې پښې مو هم وغوړېږي، يو ځای يې د سيند پرغاړه په يو وړوكي بازار كې موټر

پارکینګ پیدا کړ، کله چې کښته شو، نو د هوټل پر دروازه لیکل شوي چې دولس بجې خلاصېږي، څه مو پیدا نه کړل، خپل مزله ته مــو دوام ورکړ، غریب صیب وویل: اوس ژمی دی، په اوړي کې ددې سیند پرغاړه پرتو هوټلونو کې د پښې ایښودلو ځای نه وي او د دنیا او جرمني له ګوټ ګوټ څخه دلته خلک راځي او د رخصتۍ شپې ورځې تېروي، هغه مهال دا هوټلونه څلېریشت ساعته خلاص وي، خو اوس ګوره پر ټاکلي وخت بېرته کېږي. لږ نور هم وړاندې لاړو، د سیند پر غــاړه یــوې کــاپۍ تــه ودرېدو، یو وړوکی خو ښکلی هوټل و، زموږ د اشتها ګراف هم ښه پورته شوی و. غریب صیب وویل: ته پر څوکۍ کېنه، زه به یو څــه راواخلــم، چپس او همبرګر یې له پیپسي سره را واخیستل، پر خوراک مــو پیــل وکړ، خو دې سره سره مو د سیند پر غاړه د سیند ننداره هم کوله، هلته پوه شوم، چې سیند کومې خواته روان دی! په لسګونو کښتۍ په کــې کښته او پورته کېدلې، په لویو کښتو کې د ډېرو سکاره او نور درانه مواد بار وو، ځینې کښتۍ له کانتینرونو ډکې وې، د بار وړونکو کښتو ترڅنګ د سورلۍ او سیاحت کښتۍ هم په کې ښکارېدلې، ما چې دا ســیندنی ټرانسپورټ ولید، نو د جرمني ځمکنی او هوایي ټرانسپورټ مې له یاده ووت، دې سره نه هوایي او نه هم ځمکني ټرانسپورټ ســیالي کــولای شوه.

ما غریب صیب ته وویل ګوره که نه د دوی سیند هم پـر سـړیتوب پوهېږي، وګوره څومره ارام روان دی، هېڅ ورانی نه کوي، زموږ کونړي سیند ته خو وګوره، چې څومره په شتاب تېرېږي، تر ګټې یې زیان زیات دی، په همدې خاطر خو ورته کونړي خونړی وایـي نـه ژونـدنی؟ او دا وګوره څومره ارام دی. دومره اوبه چې زمـوږ پـه سـیندونو کـې وای، وطنونه خو به یې لاندې کړي وو وطنونه! غریب صیب وویل: ددې ځای طبیعت همداسې ارام دی، دلته هر څه ارام دي، خو د طبیعت ترڅنګ ددې ځای خلکو او حکومت هم ډېر کار کړی او دا سیندونه یې هم رام




کړي دي، دلته د هر څه لپاره یو قانون شته، همدې قانون دا ټولنه مهار کړې او لا نرمه کړې ده. دوی ددې سیند شاوخواوې داسې جوړ کـړي،

چې خطر نه پېښوي او د سیند په ځینو برخو کې یې هـم داسـې کـار کړی، چې اوبه شله کېدو ته نه پرېږدي.

په همدې بحث کې مو چپس او برګر ښه په مزه وخوړل او بېرته مو د سفر لمن ونیوه، په لاره کې مو د سیند پرغاړو پر جګو غونډیو ځای ځای ډېرې تاریخي ودانۍ ترسترګو کېدلې، چې د یوه پخواني مدنیت او ځایي پاچاهیو اثار یې په ګوته کول. غریب صیب وویل: دا ودانۍ چې ګورې دا اکثره د منځنیو پېړیو ودانۍ دي، پر دوی باندې هم په منځنیو پېړیو کې



غریب د «راین» پر غاړه

د جګړو او وحشت یوه څپه تېره شوې، خو نه لکه زموږ په شان چې هر څه یې پوپناه کړل، دا ودانۍ ګورې، اکثره یې اوس هم جوړې دي او بیا بیا ترمیم شوي دي. دا نه یوازې همغه وخت د وړو پاچایانو او شهزادګانو مانۍ وې، بلکې داسې جوړې شوي، چې د جنګي او عسکري چوڼیو کار

هم ترې اخیستل کېږي. نو ځکه يې د ځينو ځينې برخې د همغه وخت د جګړو له امله ويجاړې شوې هم دي.

په همدې بحثونو کې مو خپل مزل هم لنډوه. دا مهال غريب صيب په تېرو پنځو کلونو کې په هېواد کې دفرهنګي بهير په بـاب پوښـتنه وکړه، چې څنګه دي حالات، کارونه څنګه روان دي، څوک کار کـوي، څوک خبرې، څوک قرباني ورکوي، څوک غيبتونه او شخصي رقابتونه؟. ما ورته وويل: سره له دې چې په هېواد کې په ځينو برخو کـې تيـت و پرک پرمختګونه رامنځته شوي، خو لکه څنګه چې په سياسي برخه کې عدالت نه شته، دغسې په فرهنګي برخه کې هم د پښتنو برخه خواره ده او نه يوازې دا چې د ودې لارې چارې ورته نه برابرېـږي، بلکـې پـه ځينو برخو کې يې په قصدي ډول هم مخه نيول کېږي. په مجموع ډول په فرهنګي برخه کې د حکومتي او ځينو بهرنيو ځواکونو نيت پښتنو ته ښه نه دی. پښتانه هم په ټوليز ډول داسې کوم منظم پـلان او دقيقـه ستراتيژي نه لري، چې د هغو پر بنسټ خپلــې فرهنګــي غوښـتنې او ضرورتونه مطرح کړي او پرمخ لاړ شي، ځينې يې په شخصي غرضونو او مرضونو هم ککړ دي او کوم د کار پښتون چې پيدا شي، د هغه هم پښې وهي. زه خپله خو پر دې تېرو څو کلونو، زيات پر سياسي چارو مصروف وم او يا پر دې چارو اخته کړای شوم، خو اوس ګورم چې خپلې ژبې ته څه کولای شم، خو هغه شان منظم کار، چې موږ پخوا په پېښور کې کاوه

او په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې او نـــورو فرهنګـــي ټولنو کتابونه مو د یو منظم پلان له مخې چاپول، هغه لـــړۍ اوس هغـــه شان نه شته، خو بیا هم ځینې فرهنګي ټولنې او اشـــخاص لګیـــا دي، خپلې هلې ځلې کوي، خو څومره ازادي او امکانات چې اوس شته، ددې امکاناتو په انډول فرهنګي کار په ډېر خوند روان نه دی، غریب صـــیب وویل، د فرهنګیانو د شخصي مشکلاتو او عقدو یادونه دې وکړه، پښتانه خو همدغو بدمرغیو تباه کړل، ددې علت څه دی دا ولـــې نـــه اصـــلاح کېږي، بلاخره دوی څه غواړي او څه کوي؟

ما ورته وویل: علتونه خو به یې ډېر وي خو اساسي علت دادی چې دا ډول خلک کوم اساسي فطري او کسبي استعداد نه لري، چې په روان فرهنګي بهیر کې خپل ځان په جوت ډول مطرح کړي، نو ځکه پـــر دې دعوو دنګلو وخت تېروي، د نورو مخه هم نیسي او خپل وخت هم ضایع کوي. دوی نورو ته د زیان په انډول، ځان ته ډېر زیان پېښوي، د دوی د کینې زهر خپله دوی ته ډېر خطرناک دي. د اروا پوهنې په کتابونو کې راغلي دي: ((ماران چې کله له سختۍ او تنګسیا سره مخامخ شي، لوږه او تونده یې ووهي، نو په خپل وجود کې یو ډول غوسه او قهر تولیدوي، مار ددې قهر د زېرمې لپاره یو ججوري یا کڅوړه لري، چې هلتـــه یـــې راټولوي، دا ججوری په خوله کې له غاښونو سره ارتباط لري، د مار پـــه غاښونو کې بیا نري نري سوري دي، کله چې مار انسان وچیچي، نـــو د

غاښونو له همدغو سوریو څخه بیا هغه قهر، چې زهــر ګڼــل کېــږي، د انسان بدن ته انتقالوي او انسان ته سخت زیان رسوي. پوهان وايي چې انسان هم لکه د مار په شان زهر او قهر لري، خو انسان ورته لکه د مار هغه غوندې ججوری یا کڅوړه نه لري، چې زېرمه يې کړي، نو ځکــه دا قهر یا زهر د غم، غوسې، خپګان او تنګسیا پر وخت د انسان ټول وجود ته لېږدي او هغه کمزوری کوي)).

اروا پوهان د کینه ګرو اشخاصو په باب همدا نظر لري او وايي چې د دوی زیان تر نورو خپل ځان ته زیات دی، نو دا ډول په اصطلاح ځینــې لیکوال چې موږ لرو، د لیکوالۍ اثارو او کار يې څرک نه لګي، خو چغو، فریادونو او منفي شهرت يې بیا دنیا نیــولې وي. زمــوږ پــه فرهنګــي چاپېریال کې ددې ډول اشخاصو شــمېر د ګوتــو پــه شــمار دی، خــو فرهنګي محیط ته يې څه نا څه زیان اړولی او خلک فکر کوي، چې ټول فرهنګیان پر دې ناروغۍ اخته دي، خو حقیقت کې داسې نه ده، که دا ټول راټول کړو، نو یو دوه تنه په ننګرهار کې، یو نیم په خوست او یو نیم په کندهار کې تر سترګو کېږي، نور اکثره پښتانه لیکوال خپل ملــي او کلتوري مسولیت ته متوجه دي او خپل کار کوي. زه خپله په دې نظــر یم، چې دې ډول خلکو ته هېڅ توجه ونه کړم او خپل وخت پرې ضایع نه کړم، له دې خلکو څخه د خلاصون لاره داده، چې ښه ډېر فرهنګي او علمي کار وکړو، خپل ځانونه ښه ورسوو، چې زموږ د فرهنګي چاپېریال

دوستان ډېر خوشاله او دا ډول کينه ګر نور هم د خپلې کينې په اور کې وسوزي. پر دې وخت غريب صيب وويل: زمـا هــدف همــدا و چـــې دا مرضونه د څو تنو کينه ګرو ترمنځ محدود پاتې شـــي او نــورو پښــتنو ليکوالو ته سرايت ونه کړي. غريب صيب زياته کړه: له دې ډلې څخه يو تن، چې د سواد کچه يې ماته ډېره لوړه نه ښکاري، په پېښور کې زموږ او ستاسو د ګډ فرهنګي کار په بهير کې همدا شکايتونه کول، ليکونه بــه يې رالېږل، ايميلونه به يې کول چې تاسو اروپا مېشتي فرهنګيان څــه کوئ؟ دلته پېښور کې يو تن ته مارکونه او ډالرې ورلېږئ، هغوی پــرې عيش او عشرت کوي، دا پيسې بايد يوې کمېټې ته لاړې شي، د هغوی تر چاڼ وروسته په شفاف ډول مصرف شي، داسې خو نه کېــږي، چـــې تاسو دلته پيسې راولېږئ او هلته يې يوازې يو څوک مصــرف کــړي. دا ليکونه او احوالونه دومره ډېر شول، چې موږ يې نور تر پوزې راوســـتلو، اخر مو ورته وويل چې وه سړيه، نه موږ سره دومره پيسې شــته، چـــې چاته يې ولېږو او نه هلته څوک داسې دي، چې په دې پيســـو عــيش و عشرت وکړي، دا پنځه پنځه لس لس مارکه چې موږ ټولوو، دلته يې هم حساب او کتاب معلوم دی او هلته هم ، نو که ددې دومره فرهنګي کار ترڅنګ په دې پيسو عيش او عشرت کېږي، نو خو راشــه دا عــيش او عشرت ته وکړه، خو همداسې کار به کوې لکــه دا اوس چـــې روان دی، موږ ته هغه وخت ددې ډول شخص يا اشخاصو پته لا ښه ولګېدله، چې ده به په هر ليک او هر احوال کې د پيسو خبره يادوله، نو موږ پوه شو،

چې دی بېچاره اقتصادي فقر ځپلی او غـوارۍ پـه دې شـکل خپلـه اقتصادي عقده مرفوع کړي، پر پیسو بانـدې دده ډېـر ټینګـار، دده د اقتصادي عقدې زېږنده و، خو دی بېچاره پر دې نه پوهېده، بیا مـو تـر هغه وروسته ټولو جرمني مېشتو افغان لیکوالو ته وویـل، چـې زمـوږ فرهنګي کار باید ددې ډول عقده منو اشخاصو د عقدې ښکار نه شي، موږ به خپل همدې راپیل کړي فرهنګي کار ته دوام ورکوو او همداسې مو وکړل، نتیجه یې هغه ده تاسو خپله ولیدله چې ډېره مثبته وه او پر دې دومره لنډ و تنګ وخت دومره کتابونه چاپ شول، چې ان په دومره لنډه موده کې حکومتونو هم نه دي چاپ کړي. نو له دې خبرو څخه مې هدف دا دی، چې تاسې هلته خپل فرهنګي کار کوئ، د چا په کیسه کې مه اوسئ! ما ویل نه بابا موږ ځان ته یو هدف او ستراتیژي ټاکلې، هغه د افغانستان ژغورنه، هر اړخیزه بیا ودانونه او د خلکو سوکالي ده، په دې لاره کې مو د غټو خنډونو پر وړاندې مبارزې ته ملا تړلې ده، یو نیم کس خو به دلته او هلته خامخا پیداکېږي، په هره ټولنه کې هر ډول مکروبونه وي، زموږ په فرهنګي چاپېریال کې هم دا یو ډول مکروب دی، خو پـه زیات فرهنګي کار، زغم او لویو ارمانونو ته په ډېر کار سره وقایه کېږي. زموږ یو ځوان لیکوال افضل ټکور چې یو وخت له دې ډول ستونزې سره مخامخ شوی، نو بیا یې نورو لیکوالو ته نصیحت کړی چې: ((که غوارۍ پښتو ژبې او ادب ته کار وکړئ، نو مخکې به ځئ او مخکې به ګورئ، که دې شاته وکتل نو له څټه دې رانیسي...)) نو دا خبره ډېره پخه او د کاڼي

کرښه ده، ددې پرځای چې په دغه او یا هغه ولایت کې له یو نیم نیمچه لیکوال او یا هم شفاهي لیکونکي سره خپله انرژي ولګوو، هغه بایــد د هېواد د دښمنانو او هغو اشخاصو پر وړاندې وکاروو، چــې همــدا اوس زموږ ملت ته خطرونه زېږوي، دسیسې جوړوي او د هېواد د ملي هویت او ځمکنۍ بشپړتیا مخالف دي.

غریب صیب فرهنګي بحث نور هم وغځاوه او ویــې ویــل: اوس پــه فرهنګي برخه کې څه کول په کار دي؟ څه باید وشي چــې مــوږ لویــو فرهنګي هدفونو ته ورسېږو؟ ما ورته وویل: دا عامه او لویه پوښتنه ده چې اوږد ځواب غواړي، خو زه دومره وایم که موږ غواړو زیات فرهنــګ کار وکړو او هېواد د پردیو له دې رنځوونکي فرهنګي تاثیر څخه وژغورو، نو اساسي لاره یې خو داده، چې سیاسي برلاسی او یاواک ترلاسه کړو. تر هغه چې موږ دې مرحلې ته ونه رسېږو، ډېره ســخته ده، چــې مــوږ اساسي کار وکړو. د پښتنو د یو سیاستوال په وینا: ((سیاست قومندان دی))، چې امر کوي او امتیاز اخلي او واک ورسره دی، ترڅو چې په یوه ټولنه او هېواد کې سیاسي واک درسره نه وي، لویې ملت جوړونکې او هېواد رغاندې پروژې نه شې عملي کــولای. لیکــوال بــه د زړه وینــې وخوري، قلمونه به ستړي او فکرونه به ویلي کــړي، خــو کلــه چــې د سیاست یوه څپه پرې راغله، ټوله خواري به یې پر سیند لاهو شــي او ټول ثمر به یې له لاسه ووځي. استاد قیام الدین خادم وایي: عالم په یوه

کرونده کې کښت وکري، شاعر یا لیکوال هغه په خپلو خولــو خــړوب کړي، ویې پالي خو کله چــې یــې د ثمــر وخــت راشــي، نــو وړی یــې سیاستمدار یوسي. نو که موږ غواړو اصلي ثمر ترلاسه کړو، باید سیاسي واک او د سیاسي واک کیلي مو پــه لاس کــې وي. د سیاســـي کــار او لیکوالۍ هڅې د پښ او زرګر مثال لري، پښتو کې متل دی (( زر تــک د زرګر یو تک د اهنګر)) خو په پښتنو لیکوالو کــې اوس مشــکل دادی، دوی ته چې د سیاست نوم واخلې، نو ګبنۍ یې ونیسي، ته به وایې چې دا کومه بلا ده که څنګه؟ که څه هم د دوی په خپلو شعرونو او لیکنــو کې تر هر چا زیات سیاست  او سیاسي رنګ ځلیږي، خــو چــې کلــه د عملي سیاست خبره ورته وکړې، نو یوازې دا چې مني یې نــه، بلکــې مخالفت یې هم کوي. زموږ پر ځینو لیکوالو هغه خبره ښه تطبیقیــږي، چې: (( د جنګ خبرې خوږې دي خو عمل یې ډېر تریخ دی)) دوی هم سیاسي خبرې او هم سیاسي لیکنې کوي، سیاسي محتویات او نظریات خپروي، خو کله چې د عملي سیاست وخت راشي، نو بیا یې سور کفــر ګڼي، د وېرې او وهم دغه شمال له نږدې دېرشو کلونو راهیسې زموږ پر فرهنګیانو خور دی، خو تراوسه لا موږ په پښتنو کې دا وهم نه دی مات کړی. که څه هم دا اوس بیا هم پښتانه له سیاسي ژغورنې پرته بله لاره نه لري، خو اکثره پښتانه په تېره بیا پښتانه لیکوال د سیاست د پیل پر پړاوونو سم نه پوهېږي، مرحوم استاد قیام الدین خادم ته یــوه خبــره

منسوب ده، هغه وايي: ((پښتانه سیاست په خلکیتوب شــروع کــوي، لیکوالي په شعر او... په... زده کوي)).

نو تر څو چې پښتانه د ټولنې د کنټرول اساسي کونجي ترلاسه نــه کړي، په دا زرګري جنګونو موږ خپل هېواد نه ساتلای او نه کنټرولولای شو. که څه هم هر شی  پر خپل ځای او پر خپل وخت ضروري او ګټــور دی، خو داسې چې د ټولنې عمومي بستر جوړ او مصئون وي، چې بیا دا نور څیزونه په همدې جوړ چاپېریال کې وده او پرمختګ وکړي. که څه هم له بابا ادمه تر دې دمه چې موږ د پښتنو- افغانانو شاهان او واکمن ګورو، نو اکثره یې د تورې ترځنګ د قلم څښتنان هم وو، یانې دا چــې هم لیکوال وو او هم سیاستوال: امیر کروړ، سوري، غوري، لودي شاهانو، پیر روښان، خوشال خان، میرویس نیکه، احمدشاه بابا او تــر دې دمــه نورو اکثرو توره او قلم دواړه چلولي دي، خو په وروستیو څو لسیزو کې ځینو پښتنو لیکوالو سره داسې یو تاثر پیداشوی، چې لیکوال باید لــه سیاسته لرې وي، په دې کې د ځینو علت شاید دا وي، چــې دوی نــه غواړي، خپلې هنري پنځونې (تخلیقات) یې د سیاست تر سیوري لاندې راشي او مېوه یې پیکه شي، خو که دلته دا کار د هنر د ابتذال دمخنیوي په خاطر وي او یو شاعر نه غواړي ((شعر)) یې د ((شعار)) تــر ســیوري لاندې راشي، نو دا خو بیا ښه نظر دی، چې شــاعر او لیکــوال یــوازې شاعري او لیکوالي وکړي او په عملي سیاست کې ګوتې ونــه وهــي، د

خپل هنر له لارې د خلکو ذوق او شوق خړوب او د خلکو د فکر کچــه اوچته کړي، خو که خبره د ټولنې هر اړخیزه وده او ټولنیزه سوکالي وي، نو دا بیا له سیاسته پرته یوازې په څو نورو چارو نه شي ترسره کېدلای. زما په فکر یوه عمومي غمیزه دا ده، چې پښتانه د پخواني شوروي پــه یرغل سره ډېر وځپل شول، نه یې په سیمه کې دوست پیدا شو او نه په نړۍ کې، د هېواد په داخل کې هم یو شمېر نور مصــنوعي ســیمه ییــز پوځي او سیاسي قوتونه ورته جوړ شول، اقتصاد یې هم کمزوری شو او له تحصیلي پلوه هم په ډېر خراب دریځ کې واقع شول، د مذهب د ناوړه تعبیر پر اساس یو شمېر داسې مذهبي ګوندونو چې په ســر کــې یــې پښتانه وو، هغوی د پښتنو ملي او خپلواکه روحیه له مــذهبي افکــارو سره د تصادم په پلمه وځپله، نو په نتیجه کې پر ټولنې یــو ډېــر ناســم حالت حاکم شو. لیکوال چې د خپلې ټولنې او محیط بچی دی، طبعاً په ټولنه کې له دې حاکم بهیر څخه خپل تاثر اخلي، نو ځکه خو په نتیجه کې داسې یو حالت رامنځته شو، چې پښتانه په پیل کــې پــه دفــاع او وروسته بیا تر هغې نه هم ټیټې کچې ته راپرېوتل، دې حالت د پښتنو د سیاسي جرئت وزرونه کمزوري کړل، نو که اوس په کې یــو نــیم هــم د سیاست له لارې د ډېرو سترو کارونو د سرته رسونې هیله لري، د نورو له ښکاره او پټو، مستقیمو او نا مستقیمو مخالفتونو سره مخامخېږي...

د سياست دې بحث مورِ څخه د لارې په اوږدو کې ښکلې منظــرې پناه کړې وې، مورِ فکر نه کاوه، چې د جرمني پر ښکلو سړکونو سفر کوو او يا هم د راين سيند پرغاړه روان يو، جرمني او نوره اروپا داسې نه ده، چې په لاره کې دې کومه يوه وداني مخې ته راشي او يا هم کوم ښکلی ځای، نو بيا لکه څنګه چې زمورِ په هېواد کې دي هغه ځای پــه همغــه نامه يادېږي، هلته ټول وطن ودان دی، نو ته به يې کوم يو ژر ياد کړې، سړکونه يې داسې جوړ کړي، لکه د لاس ورغوي پــه شــان پــاک صــفا ښکاري، څرنګه چې هلته وخت پر وخت باران کېږي، نو د اوبو د وتلــو لارې يې ټولې په پام کې نيولي، د اور ګاډي پټلۍ، پلې لارې او د بايسکل سورو لارې ټولې په پام کې نيول شوې دي. د اکثرو لويو لارو پــه دواړو څنډو کې د شل متره په واټن کې داسې اوسپنيزې جالۍ غځول شوي، چې سړک ته د حيوان د راوتلو، ډبرو د لوېدو او نورو احتمالي خطرونو مخنيوی کوي، مانا دا چې په ارام زړه سفر کولای شــې، ســړکونه يــې داسې ښکلي جوړ کړي، چې مزل درته په کې خاص خوند درکوي. لنډه دا چې څه دې په زړه کې ګرځي چې خپل هېواد په ايډياليز يا تصــوري لحاظ هغسې جوړ کړې، هغه ټول کارونه دوی کړي دي، په زړه او  ذهن کې دې داسې څه نه پاتې کېږي، چې ته ووايې داشی نيمګړی دی. پــر داسې سړکونو نو سفر عجيب خوند کوي، هغه هم چې غريــب صــيب غوندې د طبعې يو ملګری هم درسره وي. غريب صيب به نو مــوټر تــه پښه ورکړه، خدای خبر، چې په څوو کې به يې ځغلوه، خــو مــورِ دواړو

سیاسي بحثونو دومره ګرم کړي وو، چې لارې او موټر ځغاستې ته مــو هډو خیال نه و، زموږ خبرې لا خلاصې شوې نه وې، چې غریب صــیب وویل، نور نږدې شوي یو، ودرې  چې یو ځل ټلېفون وکړم، چې پروګرام چېرته او څــو بجــې دی؟ غریــب صــیب پوښــتنه وکــړه د مشــاعرې تنظیمونکو وویل، چې مازیګر د څلور بجو شاوخوا کې مشاعره شــروع کېږي، اوس یو څه وخت شته، ما ویل څه تر هغه به مــوږ ټــک و پــک کارونه وکړو، ما پر دې مهال د کونړ ولایت والي ښاغلي سید فضــل الله وحیدي ته ټلېفون وکړ او ورته ومې ویل چې نن د کونړ د ځوانــانو پــه نوښت دلته ((کونړ سیند)) مشاعره جوړېږي، نو که تاسې څه پیغام لرئ، چې هغه ورته ورسوم! وحیدي صیب وویل: پر سلامونو او نېکــو هیلــو سربېره مې ورته دا پیغام ورسوه، چې المان مېشتي کونړیان باید له کونړ مېشتو کونړیانو سره هر اړخیزه مرسته وکړي، په تېره بیا په فرهنګــي ډګر کې، وحیدي صیب زیاته کــړه: پــه کــونړ کــې یــو شــمېر مثبــت پرمختګونه راروان دي، له هغې جملې څخه، ده وویل: پــر راتلــونکي ، ۱۳۸۷ل کال به په کونړ کې تر شلو ښوونځیو د زیاتو هغو ودانۍ جوړې شي، د کونړ پر سیند به څلور لوی پلونــه جــوړ شــي، دغــه راز د څــو کلنیکونو، روغتیایي مرکزونو او د برېښنا د څو پروژو یادونه یې وکړه، په هر حال د کونړ والي د کونړ پرمختګونو ته هیله من او خوشاله برېښېده. پر دې وخت د کافۍ یو دکان ته ننوتلو، چای مو وغوښته، غریب صیب خپل ټلېفون چارج ته کېښوده، نیم ساعت به دلته ناست وو، چای مــو

وخښبه، ستړیا مو ښه ووته او د غریب صیب ټلیفون هم چارج شو. پر دې وخت د مشاعرې له تنظیموونکو څخه یو تن  موږ پسې راغــی، غریــب صیب ورته همدا ځای ادرس ورکړی و او هغه سره یو ځای د مشــاعرې هال ته لاړو.

# کونړ سیند مشاعره

**له معمول سره سم د پښتنو دا ډول ادبي غونډې پر خپل وخت نــه پیلېږي، خو موږ ته دا وخت هم ښه غنیمت په دې و، ډېر دوستان چې**




**کلونه کلونه له ماځخه لادرک وو، هلته مې ولیدل او ډېــر زیــات پــرې خوشاله شوم.**

**په تېره بیا د خوشال خان لېسې د زده کړو په بهیر کې زمــا هغــه کونړي ملګري، چې موږ ورسره په خوشال خان لیلیه کې ډېرې خوږې شپې ورځې تېرې کړې وې. په خوشال خان لېسه کې زما ډېره ناســته**

پاسته له همدې کونړیو ورونو سره وه. ان ځینو لا دا توپیر هم نــه شــو کولای، چې زه د کوم ولایت یم، د کونړ که د لغمان؟ یوه ورځ یوه کونړي او یوه لغماني په خوشال خان لېسه کې په دې شرط تړلــی و، لغمــاني ویلي وو چې زه (اسمعیل) د کونړ یم او کونړي ویلي وو چې اســمعیل د لغمان دی، خو په پای کې لغماني شرط بایلولی و. په خوشال خان لېسه کې به مو د شپې تر کــورنۍ دنــدې وروســته د کــونړ د پېچوالــو پــر ((هوښیارۍ)) او د لغمانیانو په ((سادګۍ)) ډېــرې ګپــې شــپې ســره ویشتلې، هغه شپې چې اوس راپه یاد کړم، نو لکه د خوب په شان راته ښکاري. پر دې وخت ماسره ګڼ شمېر هغه دوستان راټول شوي وو، چې زموږ د تعلیمي دورې د ګپ او شپ ملګري وو. د کونړ سیند مشاعره د کونړ د ځوانانو په نوښت جوړه شوې وه. کونړ ځوانان په رښتیا هم ډېــر بیداره ځوانان دي، ان په فرهنګي او نورو ټولنیزو چــارو کــې د کــونړ مېشتو ځوانانو لاسنیوی هم کوي، په کونړ کې څو چاپ شوي کتابونه او د مجلو څو ګڼې د همدې ځوانانو په مرسته چاپ شــوي دي. د (کــونړ سیند) مشاعرې جوړېدل هم ددې ځوانانو یــو بــل نوښــت و. پــه دې مشاعره کې نه یوازې یو زیات شمېر المان مېشتو افغانانو او فرهنګیانو ګډون کړی و، بلکې د جرمني له ګاونډیو هېوادونو، ډنمــارک، بلجــیم، ناروې، هالنډ او سویډن څخه هم یو شمېر افغان لیکوالو برخه اخیستې وه.

مشاعره له معمول سره سم د قرآن کریم دځو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه او تر هغه وروسته څو تنو خبرې وکړې او زه یې هم د خبرو لپاره وبللم، ما پر تېرو څو کلونو په افغانستان کې پر ترسره شویو فرهنګي پرمختیاوو رڼا واچوله او هم مې په کونړ ولایت کې دتعلیمي ډګر غوړېدو ته اشاره وکړه.



شور صیب، غریب صیب، مجبور صیب، یون او حاجي صیب فضل الرحمن د مشاعرې په لومړۍ لیکه کې.

وروسته مشاعره پیل شوه، چې نږدې شلو کسانو په کې خپل شعرونه ولوستل. په داسې مشاعرو کې شعرونه طبعاً یو څه شعاري رنګ لري، دلته د شعار ډولو نظمونو بېلګې وې، ان ځینې شعرونه چې د کونړ سیند په اړه وو، څه کمزورۍ هم په کې لیدل کېدلې، یوه نظم کې کونړسیند له ښامار سره تشبه شوی و، سړی نه پوهېده چې په دې نظم

کې د کونړ سیند ستاینه کېږي که غندنه؟ خو دې سره سره د مجبــور صیب شعر، د غریب صیب شعر او دوه درې نورو شعرونو ماته خوند راکړ. ما فکر نه کاوه، چې مجبور صیب هم شعرونه لیکي، دا اول ځل و، چې ما د هغه شعر واورېد. تر دې دمخه هم ما مجبور صیب پېژنده، خو د یــوه سیاسي، پوځي شخص او قومي مخور په توګه. مجبور صیب زما د خسر متقاعد ډګروال عبدالله خان محمدي ډېر نږدې ملګری و، کله چې بندي و نو د زندان د سختو شپو کیسې یې زما خسر ماته ټولې کړي دي.

مجبور صیب زما خسر سره نږدې څلوېښت کلنه انډیوالي لــري، د عسکرۍ انډیوالان د سړي هېڅکله نه هېرېږي، نو دا زما درېیم ځل دی، چې جرمني ته راځم، نو هر ځل ما باندې ډګروال عبدالله خان محمدي ډېر ټینګار کوي، چې مجبور به حتماً ګورې او زما سلامونه او احترامونه به ور رسوې. مجبور صیب چې کله خبر شوی و، زه جرمني ته راغلی یم او دې مشاعرې ته راځم، نو له هالنډه یې ځان رارسولای و. د مشاعرې په بهیر کې مجبور صیب ماته وویل: هالنډ ته به ضرور راځې او زه درته سترګې په لاره یم، ما ویل ملګرو سره به مشوره وکړم. دمشاعرې په پای کې څو تمثیلي ټوټې وړاندې شوې، چې خپله کونړ ځوانانو یې په تمثیل کې برخه اخیسته، دې ټوټو اکثره ټولنیز انځورونه کاږل، سیاسي مسایل په کې ډېر مطرح نه وو، د سړي هنري تونده یې ماتوله، په دې تمثیلــي ټوټو کې یو لوبغاړی ښاغلی خسرو و، چې د تحصیل پر وخت ما سره په

مرکزي لیلیه کې یو ځای اوسېده، خسرو د تحصیل پر وخت هم د درس دومره مېړنی نه و، خو له تمثیل او هنر سره یې هغه وخت هم زیاته علاقه وه، د کونډې زوی سریال په کومه صحنه کې هم لکه د برېښنا په شان ظاهر شوی و، نو په دې خاطر هغه مهال د راډیو ټلویزیون تمثیل ځانګې ته معرفي کړی و.

تر تمثیلي ټوټو وروسته، د موسیقۍ وار راورسېد، څو اماتورو سندرغاړو سندرې وویلې، په سندرو کې یې وطني احساسات ډېر زیات وو، نو ځکه یې پر خلکو تاثیر وکړ، که څه هم له هنري پلوه په کې طبعاً نیمګړتیاوې ښکارېدلې. د موسیقۍ تر پیل دمخه ښاغلي ډاکتر ملکزي خپل څلور کلن زوی د ستېج مخې ته ودراوه، ډاکتر ملکزی د روښانه ذهن او ضمیر خاوند دی، هغه وویل: پښتانه موسیقي خوښوي، خو خپل اولاد نه پرېږدي، چې موسیقي زده کړي او سندرغاړی شي، خو زه د هغو پښتنو په شان نه یم، چې د خپل اولاد ذوق ومروړم. څه شی چې د دوی زړه غواړي زه ورته د هغو زمینه برابروم، راشئ وګورئ، که موږ د خپلو اولادونو د استعدادونو مخه ډب نه کړو، نو دوی د دنیا هر لوړ کار ترسره کولای شي، بیا یې د موسیقۍ یوه اله راوړه، چې غالباً (ارګن) یې بولي، پر مېز یې کېښوده، دې ماشوم چې پر هغې ګوتې کېښودې، نو یوه خوږه نغمه یې ترې پورته کړه، ټولو حاضرینو ورته چکچک وکړ، لږه شېبه وروسته یې بله سندره هم په کې وغږوله، دا هم ډېره ښکلې وه، که څه

هم دوه لنډې سندرې يې په کې وغږولې خو ډېرې خوږې يې وغږولې، هغه وخت زما پر زړه دا خبره وګرځېده  چې زموږ په هېواد کــې بــه د څومره ماشومانو او ځوانانو هنري استعدادونه تر خاورو لاندې شوي وي او څومره نور به ناسپړلي پاتې شــوي وي!؟ مشــاعره، تمثيلــي ټــوټې، موسيقي او نور پروګرامونه ټول پای ته ورسېدل، د مشاعرې له حال سره سمه مناسبه ډوډۍ هم ټولو ته ورسېده، تر هغه وروسته نــو بيــا هغــو افغانانو ما سره روغبړ وکړ او ستړي مشي يې راکړل، چې تر دې دمه مې ورسره ستړي مه شي نه وو کړي، ډاکتر صيب شېرولي او حاجي صيب فضل الرحمن، چې د مشاعرې په پيل کې مې ليدلي وو، لا په پيل کــې يې راته ويلي وو، چې د شپې چا سره وعده ونه کړې، کور ته ځــو، نــور پلان به بيا له هغه ځايه جوړوو. له هاله ووتو، قدرمنې خور زرغونې ژواک سره مې وکتل، هغې په مشاعره کې هم شعر ولوست او هم يې په کــې خبرې وکړې، زما په ذهن کې يې د مرحوم ژواک صيب يــاد تــازه کــړ، ژواک صيب پښتو ادب ته تر خپلې وروستۍ وسې خدمت کړی، په يوه دوديزپاله ټولنه کې د کلتوري پرمختګ لپاره هر څه چې يې له وسه وو ويې کړل، د هغه ، هغه خبره مې تراوسه په ياد کې ده، چــې د کونــډې زوی سريال کې يې دمنفي کرکټر د رول اداکولو په برخه کې کړې وه،چا ورته ويلي وو، چې د ډېر منفي کرکټر رول دې اخيستی دا دې ښه کار نه دی کړی. ژواک صيب ورته ويلي وو: (( زه يو سنت شکن يم، زه چې دا منفي دود مات نه کړم څوک يې نه شي ماتولای، نو ځکه مې دې رول ته

غاړه کېښوده...)) ډېر دوستان زما څنګ ته راغلل، ډاکتر صیب ملکزی راغی، ګیله یې وکړه او ماته یې وویل چې کابل ته درغلی وم، په ټلېفون کې مې درسره خبرې وکړې، خو ودې نه پېژندم.

ما ویل ټلېفون کې خو تراوسه لا څېره نه راځي، له غړه د ټولو خلکو پېژندل ګران دي، ځان به دې معرفي کړی و، خو کله چې پوه شو، چې ما رښتیا نه دی پېژندلی بیا یې وویل: ((اوس مې نــو د زړه غوټـه اواره شوه ما ویل هسې نه چې اوس غټ سړی شوی وې او موږ نه پېژنې...)) ما ورته ویل نه بابا: لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم. تغیر مې نــه دی


یون او ډاکټر صیب ملکزی

کړی او بل داسې خاص موقف کې هم نه یم یو مامورګی یم، ځم راځم، نور نو کوم واک و ځواک نه شته، دا چې کوچنی ماشوم دې موسیقۍ ته تشویق کړی و او د ژواک صیب په شان د حاکم منفي کلتــور د تنــګ ذهنیت دېوالونه دې نړولي دي، مننه درڅخه کوم، هغه هم ډېر خوشاله

شو. دې وخت کې حسن شور صیب، ډاکتر صیب شېراغا حرکت او څو نور دوستان راغلل، راته یې وویل، بیا به دې پیدا کړو که نه، ښه به وي، چې دلته یو څو دقیقې د پښو پر سر ودرېږو او لږ پر سیاسي مسایلو هم بحث وکړو. ما ویل دا ځای به د بحث لپاره مناسب نه وي، ډاکتر صیب یحی وردګ راته تر مشاعرې دمخه وویل، ښه به وي د سیاسي مسایلو او د افغانستان د کورنیو پرمختګونو په اړه دده په دفتر (افغان معلوماتي مرکز) کې یوه غونډه جوړه کړو، هلته به ددې خبرو ټولو افغان مینوالو ته بلنه ورکړو، نو که د چا خوښه وه، هلته به راشي، ازاد بحث به وکړو، ما ورسره ومنله، خو د وخت په باب مې وویل چې هغه به له نورو ملګرو سره په مشوره ترتیب کړو. نو ځکه مې حرکت صیب ته وویل، چې کــه هلته پر دې مسایلو بحث وکړو، ښه به وي، خو دوی وویل چې دلته بــه هم څو دقیقې خبرې وکړو. ما ویل سمه ده، څلور پنځه تنه سره ودرېدو.

**یوځنګزنی بحث:** ډاکتر شېراغا حرکت، حسن شور، ډاکټر صیب صابر او یو دوه تنو نورو دوستان پــه دې بحــث کــې راټالــه وو. دا ډول بحثونه، لکه څنګه چې د دې شپږو کلونو په بهیر کې د دې حکومت پر کړنو باندې له انتقاده راپیلېږي، بیا هم پر حکومت په تېره بیا پر جمهور رییس کرزي باندې له انتقاده پیل شو، یو تن وویل: کرزي نو په دې تېره موده کې څه وکړل؟ ټول یې همغه غله او داړه ماران راوستل، چې کابل یې لوټ کړی و ، حرکت صیب هم دې ته ورته نظر درلود خو په لږه نرمه

ژبه، خو په دې بحث کې ټول ولاړ کسان په یو نظر نه وو.یوه بل وویل که کرزی صیب غواړي په افغانستان کې رښتیا سوله راشــي، نــو اوســني امنیتي ارګانونه دې ټول بدل کړي او د پخواني حکومت ټــول صــاحب منصبان، چې تجربه لري ببرته دې پر کار وګوماري او ټول صلاحیت دې هغوی ته ورکړي، نو هله به له دې غلو څخه خلاص شي. په دې منځ کې نور لوی او واړه انتقادونه هم وشول، خو د انتقادونو غټه برخه همدا وه، چې د دې تېرو څو کلونو په بهیر کې کوم اساسي کار نه دی شوی او ان هېڅ نه دي شوي، امنیتي ارګانونه هم باید ټــول د پخــواني حکومــت (ډاکتر نجیب الله) د حکومت پوځیانو یا صاحب منصبانو ته وسپارل شي او...

دوی ته ما دومره وویل: دا یو اوږد او هر اړخیز بحث دی، زه نه غواړم، ستاسې پوښتنې رد یا تائید کړم، دا سمه ده زه د جمهوري ریاست پــه یوه دفتر کې کار کوم، خو زه نه غواړم زما دنده د حقایقو د تحریف سبب شي. زه په لنډیز سره دومره وایم، چې د تېرو څو کلونو په تــرڅ کـــې د افغانستان په سیاسي، ټولنیزو، کلتوري او د خلکو د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې یو لړ پرمختګونه رامنځته شوي، خو دا پرمختګونه د متوازن پرمختګ پر اصولو ولاړ نه دي، په سیاسي برخه کې هم څه پرمختګونه شوي، خو دلته عدالت تر زیاته حده تر پښو لاندې شــوی دی. اوســنی حالت ایډیال حالت نه دی، که له ډېر سیاسي تدبیر څخه کار اخیستل

شوی وای، نو د افغانستان حالاتو تر دې ډېره ښه وده کولای شــوه، د تدبیر په برخه کې نړیواله ټولنه او د افغان دولت ټول لوړ پوړي چارواکي طبعاً مسولیت لري، خو په اوسني حکومت کې دا پرله پسې نیمګړتیاوې په هېڅ وجه ددې مانا نه لري، چې موږ او یا په مجموع کې د افغانستان خلک، تر دې دمخه بیا تر (۱۳۵۷ل کال) پورې د کوم حکومــت ارمــان وکړي. دا چې په پوځ کې دې داسې چورلټ بدلون راوستل شي او ټول پخواني صاحب منصبان دې بېرته پر کار وګومارل شي، جهادي او نیمه جهادي ډلو ته دې په کې هېڅ برخه ور نه کړل شي، دا هم همغه شان یو نظر دی، چې افغانستان کې یې جهادي ډلې او ځینې نور اشخاص یــې لري، یانې ددې برعکس نظر. که موږ غواړو خپل هېواد اباد کړو اول باید دغه ذهني فاصله ختمه او د انطباق حد ته ورسوو. موږ په تېــر دېــرش کلن بهیر کې د رفع کولو او دفع کولو ښې پخې تجربې لرو، موږ باید دا تجربې بیا تکرار نه کړو. اوس افغانستان د ګرمــو ذهنونــو او نظرونــو د سرېښت په مرحله کې دی، دا بېړۍ باید په ښه ډول خپله لاره ووهي او تر دې وروسته د یو ایډیال نظام د جوړولو په فکر او لټه کې شو. دولت جوړونه او د هغه استحکام یوه اوږده پروسه ده، چــې بایــد پــه دقــت وارزول شي.

**زموږ ددې بحث په بهیر کې په لسګونو نورې مختلفې، همشکله او هم مانا پوښتنې مطرح شوې، خو ددې بحث سرخي تر ډېره حده همدا وه، چې پورته مو ورته نغوته وکړه. موږ لا د سیاسي بحث لـه دې ګــرم**



د مشاعرې د برخوالو یو یادګاري انځور

**حالته نه وو راوتلي، چې ډاکتر شېرولي غږ کړ: یون صیب راځئ چې ځو ډېر ناوخته شو. ددې بحث ملګرو برخوالو څخه مو هیله وکړه، ښه بــه وي دې ډول بحثونو ته په افغان معلوماتي مرکز کې چې ډاکتــر صــیب یحیی وردګ یې مشري کوي، دوام ورکړو، ټولو وویل سمه ده.**

## د حاجي صیب فضل الرحمن کور:

**لکه څنګه چې دمخه مې یادونه وکړه، حاجي صیب فضل الرحمن د کونړ یو مخور سیاسي، ټولنیز او قومي شخصیت دی. رســمي دنــدې یــې هــم اجــرا کــړي او ازادې**

بوختیاوې یې هم لرلي دي. د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ پـر وروســتیو کلونو یې د کونړ دمرستیال والي په توګه هم دنده اجــرا کــړې، خــو د رسمي کارونو په انډول دی په ولسي او ټولنیزو چارو کې زیات مصروف پاتې شوی دی.


حاجي صیب فضل الرحمن او یون

په کونړ کې د ښې ځمکې، شتمنۍ او نامه څښتن دی، خو جرمني کې هم پر دې بریالی شوی، چې ځان ته د پېښوریانو په اصــطلاح یــوه ((فقیرخانه یا اشیانه)) جوړه کړي. د حاجي صیب د ژوند د بــري راز د هغو په اوږدو تجربو کې نغښتی دی. خو ددې ترڅنګ یې که د شېرعلي خان، ډاکتر شېرولي، عبدالولي او خان ولي په شان د ځلورو تحصــیل کړو زامنو منظم ژوند پلان او اندود نه وای، نو خدای خبر چې حــاجي صیب به په یوازې ځان په جرمني کې دومره ستر کارونه کړي وای، خو

که د حاجي صیب مدبرانــه ژونــد، ولســي پوهــه او د ټــولنیزو چــارو سمبالښت نه وای، نو څلورو غبرګو زامنو یې هم دومره منظم او اوډلی ژوند نه شو جوړولای. د حاجي صیب په زامنو کې مشر؛ شېرعلي خان تر (۱۳۵۸ل) کال وروسته جرمني ته مهاجر شوی و، فکر کوم دی دهغو لومړنیو مهاجرینو له جملې څخه دی، چې دا مهال جرمني ته راغلي وو، شېرعلي خان تر دې دمخه د جمهوري ریاست په کومې برخې کې کــار کاوه، کله چې جرمني ته راغی، نو ورو ورو یې پر تجارت پیل وکړ، تقریباً پنځه لس کاله وروسته، چې په افغانستان کې حالات نور هــم خــراب شول، نو حاجي صیب فضل الرحمن له خپلې کورنۍ سره جرمنــي تــه مهاجر شو، تر مهاجرت څو کاله وروسته یې بیا دا کور واخیست، چــې همدا اوس په کې اوسېږي. دا کور تقریباً شل کــوټې لــري او د حــاجي صیب ګڼ غړي کورنۍ او د هغه همېشنیو مېلمنو ته ایلــه کــه کفایــت وکړي. دا کور که څه هم نږدې څلوېښت کاله دمخه جوړ شوی، خو پــه دومره عصري ډول جوړ شوی، چې ته فکر کوې کال دوه دمخــه جــوړ شوی دی. ګنې کوټې، لمبا حوض، د کور شنه ساحه او ګنې اسانتیاوې لري، ټوله ساحه یې نږدې دوه جریبه ځمکه کېــږي. پــه جرمنــي کــې کورونه او دکانونه ډېر ټکس لري، کله چې څوک په خپل کور کې اوسي، ددې ټکس کم راځي، خو که څوک بیا همدا کور په کرایه ورکوي، ټکس یې طبعاً زیاتېږي، دا ټکس بیا دومره زیات وي، چې که کور خاوند یــې همداسې حکومت ته پرېږدي، نو هغه د چا خبره ورته په ګټه پرېــوزي.

ددې کور لومړني خاوند دا کور هغه وخت پر خپله ځمکه د ځان لپـاره جوړ کړی و، چې د غړو شمېر يې زيات وو، لونې او زامـن يـې ورسـره اوسېدل، کله چې هغوی لوی شول او پر خپل کور شول، نو دومره لوی کور ساتل او ټکس ورکول، ده ته ګران شول، همغه و، چې د خرڅون په لټه کې شو. حاجي صيب فضل الرحمن بيا دا مهال همداسې يو کور ته اړتيا لرله، چې خونې يې زياتې وي او دده يوه کورنۍ چې اوس واقعيت کې څو کورنۍ وې، سره يوځای په کې ژوند وکړي، د تقدير کارونه دي، دا کور دوی واخيست، اوس دوی ټول په کې راټول دي او ښـه لـوی او پراخ کور دی، نه يوازې د حاجي صيب کورنۍ په کې سوکاله ده، بلکـې ديوه فرهنګي مرکز کار هم ورڅخه اخلي، په جرمني کې چې د پښتني فرهنګ د ودې لپاره کوم کارونه شوي او يا کوم پلانونه جوړ شوي، نـو نقشې او طرحې يې اکثره له همدې او د انځور صيب له کـوره جـوړې شوې دي. حاجي صيب فضل الرحمن، چې کله په جرمني کې استوګن شو، نو بيا يې د يوه ځانګړي پلان له مخې د کونړ ځوانـانو تـه خاصـه پاملرنه وکړه، هغو ځوانانو او د هغو کورنيو سره يې مرسته پيل کړه، چې يا جرمني ته د تګ پر لاره وو او يا هم په کونړ کې وو، خو غوښتل يـې جرمني ته لاړ شي، د هغو لپاره يې په احسن پور د پيسو پيداکول، بيا په جرمني کې د هغو کنټرول او له بې لارۍ څخه د هغوی مخنيوی، له خپلو کورنيو سره د هغوی د ارتباط ټينګښت، په کونړ کې د هغو کورنيو ته د پيسو انتقال، دا ټول يې د يوې ستراتيژۍ له مخې پلان کړل او ددې

ټولو کارونو لارښونه دده پر غاړه وه. په نتیجه کې ګڼ شمېر کونړ ځوانان جرمني ته لاړل، په تېره بیا له (وټه پور) کلي څخه، خبره ان دې حد ته ورسېده، چې د انټرویو پر وخت به جرمنیانو فکر کاوه چې ((وټه پور)) کوم لوی ښار یا ولایت دی او کونړ د هغه کومه وړه برخه، نو بیا به یې چې چانه پوښتنه وکړه، چې د کوم ځای یې؟ هغه به چې له افغانستانه کونړ او بیا له کونړه وټه پور ته رسېده، د مرکه کوونکي به تلوسه وه چې ورته وواییي: په وټه پور کې د کوم ځای یې؟ د کونړ یې که د بـل ځـای؟ هغوی ملامت نه وو، د وټه پور د لویوالي او ښار ګنلو لپاره قرینــه هــم موجوده وه، لکه بهاولپور، هرپپور او داسې نور. اوس چې جرمني کــې څوک د افغانستان د ټولو ولایتونو د خلکو ټبر محاسبه کوي، نو د کونړ شمېر په کې زیات ښکاري، په تېره بیا په کولن کې. کولن تــه بېخــي د کونړو ښار ویل کېږي، په تلفظ کې هم کولن او کونړ سره نږدې دي، تــر دې نږدې پنځه کاله دمخه زه جرمني ته تللی وم، همدې کــولن تــه، د اختر ورځ وه، د اختر لمانځه لپاره د ترکانو یو جومات ته لاړو، تر لمانځه وروسته د خدای په فضل دومره کونړیو سترې مشي او اختــر مبــارکي راکړل، چې ما فکر نه کاوه، زه په جرمني کې یم. کله چې له هغه ځایــه رخصت شو، نو د حاجي صیب تر کوره پورې تقریباً په نیم ساعت کــې ورسېدو، حاجي صیب لا تر موږ دمخه راغلی و. زه (یون)، غریب صیب او شور صیب له شېرولي سره کور ته راغلو، په مېلمستون کې له حــاجي صیب سره تر روغبړ وروسته ډوډۍ تیاره شوه، د افغانستان پر وخت به

د شپې یوولس بجې وې، حاجي صـیب د کـور د ټولـو لویـو وړو، پـه افغانستان کې د خپلو اندیوالانو او نورو حالاتو پوښتنه وکړه، څه کم یو ساعت به ناست وو، حاجي صیب وویل: ځئ تاسې لاړ شئ، اسـتراحت وکړئ، ستړي به یئ، نور مجلس به سباته سره کوو. بیا شـېرولي مـوږ خوبخونو ته بوتلو، خو خوب ته یې پرې نښودو، هلته مو نو هغـه ګـپ چالان کړ، چې د سپین ږیرو او رسمي خلکو مخکې نه کېده. موږ فکـر کاوه، چې بیا یا خوشال خان لېسه ده او یا هم کابل پوهنتـون، غریـب صیب سره خو پخوا بلد وم، خو ما فکر کاوه چې شور صیب داسې غلی غوندې سړی دی، دی به ډېر ګوز موزی وي، خو چې کله یې مجلس ته کېناستم، داسې سړې او مړې ټوکې به یې کولې، چې سړی یې ورو ورو خندوه، دی شور و خو یو غلی شور. (غلی شانته انقلاب دی بـدلوي د زمانې رنګ) د ده ګپ به ورو ورو د مجلس رنګ بدلاوه، شورصیب ته مو وویل: اندیواله هر چېرته چې یې زموږه یار یې، خو تر څو چې زه دلتـه یم، له موږ جلا کېدلی نه شې، هغه وویل: زه مو کله پرېږدم، ته خو داسې یې لکه د پوډریانو درمل، یو ځل چې څوک درسره کېني، بیا لکه معتاد درنه خلاصېدی نه شي، موږ دې اوس په خپل مجلس معتاد کـړي یـو، فقط یوازې سبا راته اجازه راکړئ، چې زه هلته خپل کارونه منظم کړم او رخصت واخلم، بیا نو چې څو دلته یې زه در سره یم. ما ویل سـبا خـو غریب صیب هم ځي؛ سفارت کې یې د بچو د پاسپورټونو مسله ده، هغه خلاصوي بل سبابېرته راځي، شور صیب وویل، زه خو فکر کـوم، چـې

تاسو هالنډ ته هم حتماً راځئ، ځکه مجبور صیب سره دې هلته وعــده وکړه، زه به درسره هلته یوځای شم. مورې وویل ښځي سمه ده. همــدې ګپ ګپ کې مو شپه خوب ته جوړه کړه. سهار تر چای مهــال وروســته غریب صیب په خپله مخه لاړ، شور صیب په خپله، شېرولي خپلې دندې ته لاړ، خو ماته یې وویل: چې تاپسې لړه شېبه وروسته ســیداغا مامــا راځي، هغه به دې ښه وګرځوي، مازیګر ماښام به زمونږ (هالې) ته راشې، هغه ځای به هم وګورې، مونږ ټول بیا هلته یو، تر هغه چې ســیداغاماما راځي، حاجي صیب به درسره وي.

**د کولن ښار د ځینو برخو کتنه:** ما لا حاجي صیب سره خپلو خبرو ته دوام ورکاوه، چې ګلالــۍ خــور د (ډاکتــر شــېرولي مېــرمن) مېلمستون کې زماستړي مشي ته راغله او زما د مېرمنې او ماشــومانو پوښتنه یې وکړه. ګلالۍ خور وویل چې ټلیفون کې مې څــو میاشــتې دمخه ارین (مېرمن یون) سره خبرې کړې وې، هغــې ویلــي وو، چــې ماشومانو سره یوځای درځو، کاشکې ټول مو راوستي وای، ما ویل ټول په منډو رامنډو کې یو، دواړه همزمان بهر ته سفر نه شو کولای، یو تــن باید کور کې وي، ماشومان مو هم یوازې دي، نو ځکه خو مې هغوی رانه شو وستلای. حاجي صیب سره مې مجلس کاوه، هغه وویل، زه هم پــه نږدې ورځو کې پېښور او بیا کابل ته درځم، بیا به سره وګورو، ما ویــل ښځي ښه ده، پر همدې وخت سیداغا ما ما راغی، تر روغبړ وروسته یوه

شپېبه کېناست، چای یې وڅښه، ما ته یې وویل که تیار یې نو څه چې ځو! ما ویل زه خو تیار یم، حاجي صیب نه مې رخصت واخیست او له کوره ووتلو!

سیداغا ماما وویل: چېرته دې زړه دی چې لاړ شو؟ وخت لرو، ما ویل هر چېرته چې ستا زړه وي، هغه وویل نه زه ستا لپاره راغلی یم، شېرولي خان نوې وظیفه اخیستې، هغه ماته ویلي چې زما تر راتګه پورې یون صیب درنه یوازې پاتې نه شي او نه یې چې چاسره پرېږدې، نو چېرته چې دې زړه غواړي، هملته ځو، ما ویل خیر نو چې داسې ده، که له دې ښاره ووځې د کلیو او اطراف پر لوري لاړ شې، ښه به وي، ځکه د دوی ښارونو کې خو د (خو) خبره نه شته، چې دا کلیوالي ژوند یې هم وګورو، چې دا څنګه دی؟ ده ویل ښېخي سمه ده.




نیم ساعت مزل به مو کړی وي، باران خو د معمول په شان پر تږله

ځمکه ورېده، ټوله ځمکه يې داسې پاکه او صفا وينځلې وه، لکه ښيښې چې په لاس پاکې کړې، ژوند په ډېر سرعت سره پرمخ روان و، په دقيقه او ان په ثانيه کې دې موټر له څنګه تېرېده، سيداغا ماما وويـل: راځــه لومړی دغه وړاندې ځای ته لاړ شو، دلته يوه تاريخي ودانۍ ده، لومړی به دا وګورو.

ودانۍ ته نږدې لاړو، موټر مو د ودانۍ ترمخه پارکنګ کې پارک کړ، کله چې موټر نه کښته شو، نو يخ وششنولم، ما ويل دا خو والله سخت يخ دی، موږ موټر کې وو، نه پوهېدلو، سيداغاماما راته خپل بالا پــوښ راکړ، هغه وويل زما يخ نه کېږي، زه ددې ځای له اب و هوا سره اشنا يم، دا مې ستا په خاطر د احتياط لپاره راواخيست. بالاپوښ مې واغوسته،


سيد اغا ماما د تاريخي مانۍ مخې ته

ځان مې په کې ډېر راحت احساس کړ، د ودانۍ مخې ته لاړو عيناً لکه د

**دارالامان مانۍ، جوړښت یې دا شان و، خو رنګ یې لکه د کابل د شـاه دوشمشېره مسجد په شان ژېړ او سپین و. ودانۍ نسبتاً پر لـوړ ځـای جوړه شوې وه، شاوخوا یې د اوبو لوی نهرونه ایستل شوي وو، کېـدی شي د منځنیو پېړیو د تاریخي ودانیو به دا عامه ځانګړتیا وه، چـې پـر ودانۍ باندې د یرغل د مخنیوي لپاره د دښمن د عسکرو پر وړاندې دا ډول مورچلې جوړې کړي. اوس یې هم شاخوا له اوبو ډنډ وه، خو اوس هرڅوک له کومو وسایلو پرته له دې نهرونو څخه تېرېدلای شي، ودانۍ ته ورڅېرمه د نهر پر سر دوه واړه پلونه جوړ شوي وو، غالباً دابـه ډېـر وروسته جوړ شوي وو.**

**سیداغا ماما وویل: دا ډول تاریخي ودانۍ په جرمني کې ډېرې زیاتې دي او دوی یې ښه ساتنه او پالنه کوي. د ودانۍ یوې مخې ته، لکه پـه هند کې د لودیانو، سوریانو، غوریانو او مغلو د وخت لویو ودانیو مخې ته چې د اوبو حوضونه او فوارې وي، دلته هم همدا شان یو حوض و او ګڼې فوارې وې.**

**څو دقیقې دلته وګرځېدو، شا خوا ځنګل موهم وکوت او بیا رهـي شو.**

**ترهغه وروسته سید اغا ماماوویل: راځه د راین غاړو ته لاړ شـو. مـا ویل موږ خو د همدې راین پر غاړو راغلي وو، هغه وویل: رایـن سـیند همداسې دډېرو ښارونو له زړه څخه تېر شوی، هلته به لړ وګرځو ما ویل**

**سمه ده. تر لس شل دقیقو مزله وروسته مو موټر د سیند تر څنګ د عمومي سړک تر خوا په یوه فرعي کوڅه کې پارک کړ، همداسې د**



یون د ((راین)) پر غاړه

**سیندپر غاړه مخ په بره روان شو، راین تر مورګو ډک و او په لسګونو وړې او لويې بېړۍ په کې په داسې ارامۍ ښکته او پورته روانې وې، چې غږ او غوږ يې د سړک تر غاړې هم نه رسېده.**

**سل دوه سوه متره به لا بر نه وو تللي، هغه هوټل مې تر سترګو شو، چې موږ نږدې پنځه کاله مخکې، د یوه سیمینار لپاره راغلي وو او په همدې هوټل کې دېره وو؛ (میرټن هوټل) همغه وخت ددې هوټل مخې ته د افغان- المان دوستۍ یو وړوکی یادګاري څلی هم جوړ شواو په الماني ژبه يې یوه کوچنۍ لوحه ورته پر ټټر نصب کړه. نږدې پنځه کاله وروسته مې هغه ځای او هغه شېبه کټ مټ په ذهن کې ژوندي شول،**

سیداغا ماما ته مې وویل: دا هغه هوټل و، چې زه اول ځل جرمني ته د راتګ پر مهال دلته یوه اوونۍ اوسېدم او هغه ځلی چې ښکاري، هغه هم همغه مهال جوړ شوی و. د همدې سیند پـر غـاړه هغـه وخـت زه او عبدالمالک کاموي صیب، چې دا مهال موږ سره د همدې سفر ملګری و، څو ځله پلي ګرځېدلي یو. یو سل متره زیات و کم نور هم پورته لاړو،خو یخ لږ په تنګ کړو،سیداغا ماما وویل: فکر کوم یخ په تنګ کړې، راځه چې لاړ شو، هغه ځای کې، چې موټر مو ودروه، د هغه دوه کوڅې شاته یو کلیوال بازار دی، هلته به لږ وګرځو، چای به وڅښـو، کـه څـه دې خوښ شول وابه یې خلو، تر نږدې لس دقیقې پلي مزله وروسته همغـه ځای ته ورسېدو، ښه پاک ستره بـازار و، یـو دوه د وېښـتانو جوړولـو صالونونه مو مخې ته راغلل، دومره پاک وو، ان داسې چې د سړي ورته اشتیا هم راتله، چې وېښتان په کې جوړ کړي، که وېښتان یې ډېرکم یا نوي جوړ شوي هم وي، زما یې هم وېښتانو جوړولو ته زړه وکړ. لږ نـور وړاندې لاړو، سیداغا ماماوویل: راځه دې هوټل کې به لږ چای وڅښـو. وړوکی هوټل و، لس پنځه مېزونه په کې ایښي وو، ډېر ارام و، سـیداغا ماما وویل: چې دلته په اوړوي کې ډېره ګڼه ګونه وي، خو اوس ژمی دی، ځکه ارامي ده، ماویل ما هم همدا فکر وکړ، که په دې شکل یې چلوي فکر نه کوم که کرایه هم پوره کړي، نور څو ک په کې نه ښکارېدل، یوه زړه ښځه په کې ګرځېدله، خو ډېر تندرسـته او غښـتلې شـخه پخـه معلومېده، سیداغا ماما ورته د شنه چای وویل، لږه شېبه وروسته یـې

چای راوړ، چای مې وڅښه، فکر کوم ټولې لس پنځـــه لـــس ایـــرو یـــې واخیستلې، سیداغاماماوویل: داسې به وکړو،چې لاړبه شو، هغه ځای او هغه هوټل ته چې د بن کنفرانس په کې جوړ شوی و،مـــا وویـــل، هلتـــه څوک پرېږدي ا وکه نه؟ ده وویل: هر څوک پرېږدي، خـــو اکثـــره ورتـــه رسمي او دولتي مېلمانه راځي، دا هوټل زموږ د وطن په اصطلاح پر یوه جګه غونډۍ او د المان د خلکو په اند پر لوړ غره جوړ شوی و، چې د چا خبره نیم المان ورڅخه ښکارېده، سیداغا ماما وویل: موږ به د همـــدې غونډۍ سرته وخېږو، هوټل به له نږدې وګورو او نور به بېرته راځو. ماویل سمه ده، دې غونډۍ ته د ختلو دوه لارې وې، خو هغه لنډه لاره، چـــې موږ غوښتل پرې ورشو، ترافیکې اشارې پرې ځړېدلې وې او تـــګ یـــې منع کړی و، سیداغا ماماوویل: څنګه په هغه بله لار نه ځو؟ مـــا وویـــل راځه تېر به شو ترې، ددې کنفرانس هم ډېره مزه ګې نه وه، داسې خلک ورته راغلي وو، چې دا ځای به یې هم ګنده کړی وي. ځه مخ پر کولن ، همداسې مو په خوندحرکت وکړ، موټر په ډېر سرعت کې روان و، د هغه ځای سړکونه دومره خوندور دي، چـــې د ســـړي موشـــم پـــه کـــې نـــه خرابېږي،د موشم کیسه رایاده شوه، زموږ د یوه ولایت د یـــو مهـــال د نالوستي چارواکي یاد دې په خیر وي، له عجـــایبو پـــور مـــامور و، ددې ولایت ټول اوسېدونکي یې کسب وکمال سره اشنا دي، هغه لـــه خپـــل ډرېور سره په موټرکې یوه ورځ له یوه بل ولایت څخه د خپل ولایت پر لاره روان و، هغه وخت سړکونه ټول خراب او کنډ وکپر و،خو کوم ځای

کې یو کیلو متر سړک داسې و، چې موټر په کې ښه ځغاسته کولای شوه، موټروان چې پر دې لاره ښه بلد و، نو پر همدې ځای یې پر موټر پښه ښه ټینګه کړې وه، کله چې موټر ښه په سرعت کې راغی، نو پر دې وخت له کوم کورو کلي چرګې سړک ته یو ناڅاپه منډه کړې وه او نږدې وه، چې د موټر تر ټایر لاندې شي، موټروان یو دم ډېر سخت بریک ونیو، دې سره یې له خولې ووتل، کوردې د خاوند ړنګ شه ټول موشم یې راباندې خراب کړ. چارواکي صیب پر دې وخت فکر وکړ (موشم) لکه چې د موټر دکومې پرزې نوم دی، ژر یې موټر وان ته له جېبه پیسې را وکاږلې، ورته یې وویل: واخله خدای دې خوار کړه، ژر یې جوړ کړه، ګوره چې بیا داسې بې احتیاطي ونه کړې!

دا چارواکی نور عجایب او غرایب هم لري، یوه ورځ چا ورته د ختم کارت ورلېږلی و، چې په ختم کې ګډون وکړي. دا کارت یې ساتونکي ده ته ور وړی و، ده فکر کاوه، چې دا د چا کومه عریضه ده، ژر یې امضا کړی و، ساتونکي ته یې ویلي وو: واخله خدای مو خوار کړه ټول غیر قانوني شیان راباندې امضا کوئ! یوه بله انتیکه یې داده، چې یوه ورځ په کابل کې خپل یو سیمه وال مېلمه کړی و، دا د استاد رباني د پاچاهۍ شپې ورځې دي. کوربه هم د پخواني حکومت صاحب منصب و، رتبه یې هم جګړن وه، اوس یې هم په حکومت کې کار کاوه، دا مهال استاد رباني په جهاد کې د سرښندونو په ویاړ دې چارواکي صیب ته د تورن جنرالۍ

پوړۍ هم ورکړې وه، د دوډۍ پر مهال ده له کوربه څخه پوښتنه وکــړه، چې ستا دا هغه (رتبه) څه شی ده، هغه ورته وویل: زه ((جگړن)) یم. پر دې وخت دی رباني ته سخت په قهر شو. (( د ده داسې داســې وکــړم جهاد موږ وکړ جگړني یې ده ته ورکړې ده...)) ده فکر کاوه، چې جگړن له جگړې څخه اخیستل شوی نو دا پوړۍ به تر تورن جنرالي لوړه وي. همداسې نورې ((نوې او زړې انتیکیې)) چې عقل به ورته گوته په غاښ شي.

خو د جرمني سړکونه داسې محفوظ دي، چې نه ورته چرگه را الوتی شي نه چرگ، نه حیوان او نه انسان، نو د موټر وان موشم پــه کــې نــه خرابېږي، نږدې یوه گړۍ مزل به مو کړی وي، چې سیداغا ماما وویــل: دلته د ترکانو هوټل دی، دلته به لږه دوډۍ وخورو، بیا به ځو، ماویل که دوډۍ هملته شېرولي خان دوی سره په هاله کې وخورو، څنگه به وي؟ هلته خو غیر له هغې هم ځو، سید اغا ماما وویل: هلته ایله نهه بجــې دوډۍ تیاره شي، اوس خو دلته ځــو ، ډېــره پاکــه دوډۍ ده. د هوټــل ترڅنگ یې موټر ودراوه، هوټل ته پورته شو، ډېرو وړوکی یو پوړیز هوټل و، خو ښه د مزې پاک و، ترکان په جرمني کې تر بل هر قوم زیات دي، تر دویمې نړیوالې جگړې وروسته، چې د کارگرانو او نورو مهاجرو په توگه دلته راغلي، همدلته پاتې شوي دي، وایي چې تر دویمې نړیوالې جگړې وروسته اروپایي هېوادونو له افغانستانه هم د گڼو کارگرانو د لېږلو هیله

کړې وه، خو هغه وخت د افغانستان حکومت دا د ځان لپاره ســپکاوی گڼلی و.

په جرمني کې اوس د ترکانو شمېر نږدې څلور مليونو ته رسېږي، په هر حال ځانته خپل مسجدونه، هوټلونه او کلتوري مرکزونه لري. په دې ځای کې دې پر ترکانواو ايرانيانو هم د افغانانو مينه ماتېږي،سيداغاماما، چې څه غوښتي وو، هغه يې راوړل، عيناً لکــه دافغانــانو ډوډۍ، پــاکې سوتره وريجې او کباب. ډوډۍ مو په خوند وخوړه او دحاجي صيب فضل الرحمن د هال پر لوري روان شو.

د حاجي صيب فضل الرحمن هال: دوی ورته په رسمي ډول ((د خوشالۍ هال)) وايي خو زه ورته ځکه د حاجي صيب هال وايم، چې دده په تدبير او هلو ځلو جوړ شوی، که څه هم شــېرعلي خــان، شــېرولي خان،عبدلولي خان، خان ولي او دده د کورنۍ نورو غړو او خپلوانو به په کې ډېرزحمت گاللی وي،خو چې اوبه له سره پاکه نه وي، تر دې ځايــه رڼې نه رسي، تر شل دقيقې مزله وروسته به دې هال ته رسيدلي يو، کله چې هال ته ورسيدو، نو ډاکتر شېرولي، شــېرعلي خــان، عبــدلولي، د شېرولي ماماگانو او نورو گڼو ځوانانو زموږ هرکلی وکړ،ټولو وويل: ډېــر وخت مو تېر کړ. ما ويل مخکې تر دې، چې زه نورې خبرې وکړم، زه هال گورم شېرعلي خان ته مې وويل:  ماته دا هاله ټوله را وښايه، دوی هال ته ((هاله)) ويله، کېدی شي جرمني تلفظ يې همدا وي. په کابل کې دې

ته د واده یا غونډو صالون وایـي، شـېرعلي خـان، شـېرولي خـان او عبدالولي ته وویل، چې لاړ شئ یون صیب پـر ټولـو ځـایونو او کوټـو وګرځوئ. عبدالولي خان پر دې وخت غړ کړ، لالا صبر وکـړه، چـې زه خپله کمره هم راواخلم، عبدالولي خان تر شېرولي خان کشر دی، پـه خوشال خان لېسه کې و، هغه وخت ډېر کـوچنی و، څنګـه چـې لـه شېرولي خان سره زما ووري وه، شېرولي ته یې لالا ویل، نو ځکه ما ته هم لالا وایي. هغه خپله کمره را واخیسته، ما وویل: څنګـه دلتـه خـو عکاسي نه کوې؟ هغه وویل، ولې نه، دلته د واده،علمي او ادبي غونـډو عکاسي زه کوم،ما ویل مفته یې کوې او که په پیسو، هغه ویل نه بابـا فیس اخلم، د ودونو پروګرامونه ټول زه خپله عکاسي کوم اوبل چا تـه اجازه هم نه شته، چې زموږ له اجازې پرته عکاسي وکړي، که واده والا څو ک هم راولي، نو هغه فرعي عکاسي کوي، ما وویل: د ودونو په منځ کې هم ته ګرځې؟ هغه وویل هو، د ناوې او شاه ټول عکسونه ویډیویي او چاپي زه اخلم، ما وویل: بیاخو نو چې پیسې هم در نه کړي، همدا وړیـا سیل دې بس دی، هغه په خندا شو، ویي ویل نه یوازې دا فلمونه ورتـه بیا ایډیټ او صفا کوم، بلکې عکسونه یې هم چاپوم، لـه دې لارې هـم پیسې راته پاتې کېږي، بیا ما ورته وویل، چې تر شېرعلي خانه خو د تـا ګټه ډېره ده.

ګپ ته مو همداسې ادامه ورکړه، هغه لومړی پر لوی هال وګرځولم، رښتیا هم خدای (ج) دې له بدو سترګو ساتي، د جرمنۍ په کچه هم ډېر ښکلی او لوکس هال و، تقریباً اته نهه سوه کسان په کې پر یوه وخت ځایېدل. په ښکلو قندیلونو سینګار شوی و،مېزونه او څوکۍ یې هم ډېر ارامه وو، ځمکنی فرش پرې غوړېدلی و، څوکۍ یې داسې وې، چې د


د هال یوه برخه

کېناستو پر وخت یې کښ پښ نه کاوه، تر هغه وروسته یې پخلنځی راوښود. رښتیا هم ډېر پاک و،بیا یې ستور یا زېرمتون راوښود، چې دو ی ورته مواد راوړي او هلته یې زېرمه کوي،تر هغه وروسته یې اداري خونې هم راوښودې، چې څلور پنځه اتاقونه په کې وو او تر څنګ یې یو جومات، چې نږدې دوه سوه لمونځ کوونکي پر یوه وخت په کې ځایېدلی شي. تر هغه وروسته یې په دویم پوړ کې یو بل منځنی هال ته بوتلم،چې لاندې پوړ کې یې څو لوی اتاقونه وو او له دې سره همشکله څو اتاقونه چې دفتري کار تر اخیستل کېدلای شو، په دې منځني هال کې د اوږده مېز شاوخوا څوکۍ ایښودل شوې وې، پر یوه وخت پنځوس،

شپېته کسان په کې ځايېدلای شي. ډاکتر شېرولي وويل: اوس مــوږ د کلتوري ټولنې اکثره غونډې همدلتــه کــوو، اســتاد عبــدالله بختــانی خدمتګار او استاد حبيب الله رفيع چې راغلي وو، هغوی ته مو همدلته ځای جوړ کړی و، هغوی همدلته ډېر خوشاله ځکه وو، چې دا ځای ډېر ازاد دی،بيا عبدالولي لاندې پوړ ته کښته کړو، چې هلته څــو ښــکلي اتاقونه وو، د ټلويزيون د ستوډيو لپاره ډېر ښه ځای و. عبدالولي خــان وويل: لالا ته چې له خيره ټلويزيون جوړ کړې، نــو زه بــه ورتــه دلتــه ستوډيو جوړه کړم، له ټولې اروپا څخه بيا ته بېغمه شه، دومره کار درته وکړم،چې ته هم ورته حيران شې، ما ويل څه خــدای بــه خيــر کــړي، انشاالله چې همداسې يوې ورځې ته به ورسېږو، اوس خو يوازې يو هيله ده، تعقيبوو به يې. پر دې وخت ډاکتر شېرولي وويل: راځئ چې لاندې لاړشو، هلته ډوډۍ تياره ده، ډوډۍ به وخورو بيا به ځو. پر يوه اوږد مېز ډوډۍ تياره وه، پنځه لس، شل کسان پرې راټول شو، ما ورته وويل چې دا زموږ لپاره ده که نه هره ورځ همدا حال وي؟ هغوی وويل: نه بابا هر وخت دلته همدا حال وي، نن دلته د واده پروګرام و،کله چې د واده يا کومې غونډې پروګرام وي، زموږ ورځني کار کوونکي خو راځي،هغه نور چې موږ سره دلته د محفلونو پروخت کار کوي،هغوی ته هم خبر ورکوو، په دې ډول کارونه ښه پر مخ ځي. پر دې وخت به يو يــو ځــوان، چــې څېری يې راته ډېرې اشنا ښکارېدې، راته او ماته به يې ستړي مه شــي راکول، شېرولي ماته وويل: چې دوی نه پېژنې، ما وويــل، نــه والله، ده

وویل پلانکی دی که نه، ښه ما ویل دا خو څلور پنځه کاله مخکې ډېــر کوچنی و او اوس دادی ځوان شوی، خپله افغاني دوډۍ مــې وخــوړه، شېرعلي خان راته وویل: له خیره چې زموږ او ستاسې خپل ټلویزیــون جوړ شي، دلته به ډېر کار وکړو، په دې هاله کې مې مسکینیار صیب ته پروګرام جوړ کړی و، ډېرې پیسې ورته ټولې شوې او ټلویزیون تــه یــې ډېره ګټه ورسېده، نو یو ځل چې له خیره سره تاسې خپل کار پیل کړئ، بیا انشاالله کار نه معطلېږي، څو شېبې نور هم ناست وو، شېرولي هغوی ته وویل: زه او یون صیب درڅخه ځو، تاسو نو بیا راځئ، هغوی وویــل: تاسې ځئ موږ هم خپل کارونه دادی راټولوو او درځو.

زه او شېرولي په موټر کې کېناستو، یو ځل بیا یې د کور د ټولو غړو د روغتیا پوښتنه وکړه، د هېواد مېشتو لیکوالو جلا جلا تپوس یې وکړ،د ژوند، اقتصادي حالت او امنیتي ستونزو ټولو پوښتنه یې وکړه. ما دټولو ډاډ ورکړ، ومې ویل: چې ژوند مې ډېر ښه دی، اقتصادي مشکل نه لرو، یو څه سپما هم کولای شو، خو بیا هم ارامه او خوشاله نه یو، علت یــې دادی، چې افغانستان کې سیاسي عدالت تامین نه دی، نه یوازې دا چې له خپلو حقوقو برخمن نه یو، ځپل کېږو هم او ملامت هم ګڼل کېــږو. ډاکټر شېرولي په زېر وزبر سره د هېواد د ټولو حالاتو پوښتنه وکړه، که څه هم زماتوضیح او تشریح هغه ته څه ډېره نوې ځکه نه وه، چې هلته افغانان د رسنیو له لارې او هم د ټلیفون له لارې پــه ډېــر ښــه ډول د

هېواد پېښې تعقیبوي،خو بیا هم هغه مسایل، چې لا هم د رسنیو تـر خولې نه وررسېږي،ده ته جالب وو، زه او دی دواړه په دې هم نظره وو، چې د دې ډول محرومیتونو انعکاس لپاره تر ټولو مهمه وســیله داده ، چې ټلویزیون فعال کړو، او س خو موږ ځپل کېږو هم او ملامتېږو هم ، له دې حالت څخه د راوتو لاره داده، چې رسنۍ مو په لاس کې وي.

همدې خبرو خبرو کې شېرولي دښار پر څو واټونو ورګرځولم، خو په سیاسي خبرو اترو کې دومره ډوب وو، چې دښار ښکلا ته مو هډو پام نه شو، هلته خو د بدرنګۍ هېڅ سوال نه پید ا کېږي، خو بیا هم تر ښکلو ډېرې ښکلې ودانۍ د سړي زړه راکاږي، کله چې له سیاسي خبرو لږ په دمه شو، نو شیرولي ته مې وویل: ته وګوره ودانۍ چې څنګه ښکلې یې جوړه کړې ده، فقط لکه دسګرټو قوطۍ چې یې ودرولې وي، هغه هـم داسې پاکه او سوتره چې هېڅ پلاستیک دې ترې هم نه وي لرې کړی، کاشکې چې ټایرونه یې درلودلای او یا انتقالېدلای شوای، چې د ټولې مو افغانستان ته وړې وای،هغه وویل: تعمیرونه خو به یې یوسې، خلک به یې څنګه کړې؟ په څو ورځو کې به یې درته بېرته د خاورو ایرو ځلی کړي، تر څو چې خلک اصلاح نه شي او ټولنه کې ذهني اعمار رامنځته نه شي، دا ډول ودانۍ به جوړې شي، خو بیا به ړنګې شي. ماویل رښتیا هم واقعیت دادی ترڅو چې د خلکو په ذهنیت کې مثبت بدلون را نــه شي، ډېره سخته ده، چې واقعي، مستحکم او نا متزلزلې پرمختیــا تــه

ورسېږو، وګوره د افغانستان سړکونه په دې نړدې څو کلونو کې اکثـــره ببېرته جوړ شول، خو خلک یې جو ړنه شول، د کابل - جلال اباد ســـړک ښه ښکلی جوړ شوی، په منځ کې یې سپینه لیکه په دې خاطر اچـــول شوې، چې د هرچا خپل برید او خط السیر معلوم وي، خو دا د نه سړي زامن خپل خط پرېږدي، او پر دې بله لیکه به روان وي، ځینې ډرېوران دومره سپین سترګي وي، چې د سړي د اوســـېلې پوکـــانی راتنګـــه او انفلاق ته نږدې کړي، ماسره خو چې هر ډرېور وي، لکه د دوک غوندې یې په لار سمومه، خو کوم یو به ژر سم کړې، یو هـــم د ســـړي زوی نـــه دی،که سړی نه وایي له خواری۔ هغه د کابل پوهنتون د یوه استاد خبره ډېره سمه ده، چې چا ورڅخه پوښتلي وو: ((افغانان به څه وخت سړیان شي؟ هغه ورته په ځواب کې ویلي وو، دوی چې ترڅو سړیان کېږي، موږ نه به یې خره جوړ کړي وي.)) اوس سړک جوړ شو، خو ډرېوران ذهنـــاً جوړ نه شول، نو په دې خاطر ستا خبره مهمه ده، چې ذهني اعمار ډېر مهم دی۔

همدې خبرو کې وو، چې شېرولي دوی د کور لار ته مستقیم او نږدې شو، پنځه لس، شل دقیقې وروسته کورته ورسېدو. دشپې دولس بجې وې، یوه شېبه حاجي صیب سره کېناستو، هغه د نـــن ورځـــې ګـــزارش وغوښت او ما ټوله کیسه ورته وکړه، دهالې مبارکي مې ورته هم وکړه،

هغه وویل: خوښه دې شوه، ما وویــل، والله ډېــره ښایســته وه،بیــا لاړ وخوبخونې ته.

دریشي مې بدله کړه، جامې مې واغوستې، شېرولي راسره څو شېبې نور هم مجلس وکړ، بیا یې راته وویل: سبا مو پروګرام څه دی؟ ما وویل: غریب صیب راځي، هغه سره به پروګرام جوړوو، که ممکنه وه، پاریس ته ځو، هلته زما اخښې فیصل د افغانستان په سفارت کې کار کوي، هغه به هم وګورو او که ممکنه وه، استاد روستار تره کی به وګــورو، د درنــاوي سړی دی.

ډاکټر شېرولي وویل: زما زړه همداسې تخنېږي، زړه مې دی، چې تېر شم دې وظیفې نه او سر له سبا تاسې سره لاړ شم. دا چکرونه خــومې یوازې پر تاسې نه لورېږي! ما وویل: ته دې خپل کار کوه، غریب صیب نور وزګار شوی، پرېږده چې هغه راسره وګرځي، هغه په اروپا کې غیر له هغه هم دومره بلد دی، لکه دمعاملاتو لاربښود، هر ځای ورمعلوم دی. ته دې سبا وختي خپلې وظیفې ته ځه او مونږ به خپل کارونه خلاصوو. ده وویل کله چې غریب صیب راغی، نو بیا دې له هالې هر موټر چې زړه غوښته بودې ځي او یا به عبدالولي در ته ښه نوی موټر ونیسي، سفر مو ډېــر اوږد دی، چې په تکلیف نه شئ، ما ورته وویل: ځه ته دې خپل کار کوه، تر تا دلته زما واک زیات دی، عبدالولي ته چې مې وویل په تې ثانیه کې موټر پیدا کوي. پر همدې خبرو مو خوب ته پناه یوړه.

# دپاریس پر لوري

د مارچ (۱۸)مه نېټه د سه شنبې ورځ وه، غریب صـیب لـه خپلــې وعدې سره سم د مارچ پر اتلسمه نېټه سهار نږدې یوولس بجې په کولن کې د حاجي صیب فضل الرحمن کورته ځان راورسوه، موږ چای څښلی و او همده ته منتظر وو، تر څو شېبو دمې وروسته یې راته وویل: څنګه دې پروګرام؟ ما ویل پروګرام خو نو ستا په لاس کې دی، هغــه وویــل: تصمیم ستا دی، فقط ته یې ووایه، چې بیا پلان ورته جوړ کړو، ما ویــل تصمیم هم ستاسو په لاس کې دی، ده وویل که یوازې پاریس ته ځــې، خو تلای شو او که ته وایې، چې د استاد روستار تره کي لیدو ته هم لاړ شو او بیا به بېرته سبا ته بلجیم او هالنډ ته ځو، نو دا ناممکنه ده، مــوږ یوازې کولای شو پاریس ته لاړشواو هلته فیصل سره وګورو او سبا سهار بېرته وخته راشو، نو داممکنه ده، ځکه چې دې ځای نه تــر پاریســه پورې نږدې نهه سوه زر کیلو متره لاره ده، همدا سې پر بلجیم به تېرېږو او بیا له پاریسه، (لیون) ته هم ډېــره لار ده او بېرتــه راګرځېــدل هــم غواړي، دا ټول به ونه کړای شو او بل استاد روستار تره کي سره خو موږ خبره هم فکس کړې نه ده، چې هغه شته او که نه او که وي هم، مصروف دی که وزګار؟ خیر په هرصورت له ډاکټر صیب تر ه کي بــه تېــر شــو، یوازې ستا اخښې فیصل جان به وګورو او که وشول ډاکټر اکبر وردک او ځینې نور دوستان ... ما ویل سمه ده، همداسې به وکړو، هغه سم لــه

لاسه فیصل ته ټلېفون وکړ، ورته یې وویل: موږ درځو، هغه خپل ادرس ورکړ او څو ځله یې خپل ادرس ورته دقیق کړ، چې احیاناً غلط نه شي. غریب صیب ادرس ولیکه او ځان سره یې خونـدي کـړ، عبــدالولي او حاجي صیب سره مو مشوره وکړه، حاجي صیب وویل: دلته خو موټر ډېر دي وګورئ کوم چې تاسو ته په کارېده، همغه واخلئ، عبدالولي وویل: دا موټر ښه دي، خو د دومره لرې سفر لپاره نه دي، چې بلجیم فرانسې، بیا بېرته بلجیم، هالنډ او ډنمارک ته دې تګ راتګ وکړي. چېرته به درتــه پاتې وي، بیا به څه کوئ؟ ښه به دا وي چې بارګین ته لاړشو، هلته ښه نوي موټر وي، ارزانه یې هم ورکوي، د یوې اوونۍ لپاره به یې کرایه کړو، چېرې چې خراب شو، هملته به یې پرېږدئ، هغوی مجبور دي هملته بل موټر درته درکړي ، حاجي صیب وویل، بس چې څرنګه پوهېږئ! حاجي صیب نه مو اجازه واخیسته، زه (یون) او غریب صیب له خپلو بیکونــو سره د عبدالولي په موټر کې کېناستو او دبارګین پر لوري مــو حرکــت وکړ، نږدې شل دقیقې وروسته بارګین ته ورسېدو، عبدالولي، لکه لــه پخوا نه چې ورسره ښه بلد و دفتر ته ور دننه شو، پــه دفتــر کـــې دوه ځوانې ښځې ناستې وې، خو ډېرې مصروفې ښــکارېدې، نــوره داســې چوپتیا وه، چې تا به ویل دلته هېڅ انسان کار نه کوي، عبدالولي ورتــه دکرایې موټر وویل، یوې مېرمنې وویل: شته، عبدالولي ته یې وویل چې دده پېژند کارت، کرېډټ کارټ او همدارنګه څوک چې موټر چلــوي د هغه دډرېورۍ لیسانس په کار دی. موټر خو غریب صیب چلاوه، نو ځکه

یې خپل لیسانس ورکړ، د دفتر شاته بارګین و، په منظم ډول په کې موټر ولاړ وو، نږدې شل پنځه ویشت ډول ډول موټر، غریب صـیب پـه کـې داسې موټر خوښ کړ ، چې ښه تفریحي موټر و، نه پوهېږم څه نـوم بـه ورته اخلي، خو درې تنه په وروستي سیټ او یو تن له ډرېور سـره پـه مخکني سیټ کې قانوناً ځایېدلای شي.

شاته ټولبکس یې هم ښه پراخ و، غریب صیب هم د همدې ټولبکس له خاطره خوښ کړ، ویل یې چې بیا نور ملګري هم راسره ملګري کېږي، نو همداسې لوی ټولبکس په کار دی، غریب صیب ټـول مـوټر داسـې معاینه کړ، لکه دالوتکې ټیکنشن چې الوتکه ګوري، یوازې یوه ځـای کې یې په کې لږ نری داغ پیدا کړ، غریب صیب په دې ډول مـوټر کـې ډېره تجربه لرله، ویې ویل چې څه ډول یې مور ته راکړی وي، په هماغه ډول یې باید بېرته ورتسلیم کړو، موټر ښه نوی و، تر اوسه یې لا کیلومتر زرو ته نه و رسېدلی. موټر مو خوښ شو، بېرته دفتر ته راغلـو، غریـب صیب ورته د داغ وویل، هغوی وویل: سمه ده، موږ ته معلوم دی، بیا یې له عبدالولي څخه کریډټ کارټ وغوښت، هغه خپل کریډټ کارټ ورکړ، د هغه کارټ کې پیسې خلاصې شوې وې، بل کریډټ کارټ یې ورکـړ، هغه کې هم پیسې نه وې، خپله جیب کڅوړه (بټوه) یې ډېره وکتله، بل کریډټ کارت یې پیدا نه کړ، بیایې شېرعلي خان ته ټلېفون وکړ، ځکه د هغوی هال نږدې و، چې د هغه کریډټ کارټ راوړي، هغه تصادفاً د خپل

جیب ټول شیان په کور کې له یاد ه ویستي وو، هغه وویل ان د جیــب پیسې هم ورځخه هېرې شوي دي، که وخت لرئ، خو لاړ شئ له کــوره یې ژر راوړئ، تر کوره پورې تګ راتګ نږدې یونیم ساعت وخت نیوه، پر دې وخت مې عبدالولي ته وویل: دغه دي ماسره پیسې شته، نو کریډټ کارټ ته هېڅ اړتیا نه شته، هغه له جیبه پیسې راوویستلې، پیسې، خو دغه دي ماسره هم شته، خو دوی نغدې پیسې نه غواړي، کریډټ کارټ غواړي، چې اتومات پیسي د دوی خپل حساب ته لاړې شي. دوی وایي، دلته بانک نه لري او نه دومره وخت لري، ، چې داپیسې تحویل کــړي، کریډټ کارت ځخه خو اتومات د دوی خپل حساب کې جمع  کېږي، پر دې وخت ده وویل: ما دا کارتونه مصرف کړي وو، خو حساب یې را نــه هېر و، ته ودرې چې زه خپل دا جیبونه وګورم، ماسره یو بــل کریــډټ کارټ هم و، کاغذونه یې چې واړول راواړول که ګوري، چې یو بل کارټ هم پیدا شو، ډېر زیات خوشاله شو، ښځې ته یې دا کارټ ورکړ، ورته یې وویل: چې وګوره ستا حساب پرې پوره کېږي که نه؟ هغې چې کریډټ کارټ له کمپیوټره تېر کړ، نو ویې ویل: هو حساب پوره شو. پر دې وخت یې موږ ته کیلي او د پېښوریانو په اصطلاح د موټر چیټ راکړ، عبدالولي وویل: نېکمرغه یو، چې ډېر مو ارزانه واخیست، هغــه وویــل: شــنبه او یکشنبه په کې رخصتي راغله او تر هغه مخکې هم یوه ورځ  رخصتي ده او بل موږ مکمل دیوې اوونۍ لپاره ونیو، یو خو د یوې اوونۍ لپــاره یــې قیمت راټیټېږي او بل رخصتي، چې په کې راشي قیمت یــې نــور هــم

راټیټېږي، وروسته مو، چې چیټ وکوت، نو (۳۹۰) ایرو یې په کې لیکلي وو. چې د ورځې نږدې پنځوس یورو راتلې، د نورو ورځو په اندول موږ ته ډېر ارزانه وبرېښېد. موټر مو چې چالان کړ، نو ټانکۍ یې فول (ډکه) وه، قانون دا دی، چې په همدې معیار او مقیاس به ورته بیا د تسلیمې پـر وخت ټانکۍ ډکوې. عبدالولي وویل، چې دا موټر جي پي ایس (GPS) (لاربنود) نه لري، په لار کې به ډېر په تکلیف شئ، شېرولي لالا هم ډېر ټینګار کاوه، چې له (GPS) پرته لاړ نه شئ، ځکه چې څو هېوادونو تــه ځئ، نوباید جي پي ایس حتمي درسره وي، عبدالولي وویل: کور ته ځو هلته په بل موټرکې جي پي ایس نصب دی، هغه به راخلاص کړو او دې موټر کې به یې وتړو، همداسې د کور پر لوري روان شــو، نــیم ســاعت وروسته به رسېدلي یو، عبدالولي له بل موټر څخه جي پي ایس راخلاص او په دې موټر کې یې نصب کړ، غریب صیب جي پي ایس چالان کړ او له همدې ځایه یې په پاریس کې د فیصل ادرس په کې ورکړ، جي پي ایس کار وکړ، له همدې ځایه مو له عبدالولي څخه اجازه واخیسته او حرکت مو وکړ، لاربنود خپله لاره ښودله (GPS) یا لاربنود داسې یوه الــه ده، چې د وړوکي کمپیوټر د وسیلې بنه لري او پر سکرین باندې درته په غږ او هم په اشاره لاره ښیي، کله چې خپل ټاکلی ادرس په کې ثبت کړې، نو ترهماغه ځایه دې لاربښوونه کوي.کوم ځای کې چې لار درنه غلطــه شي، نو درته وایي، چې لار دې غلطه کړه اوبیا درته دا هم وایي چې پر دې لاره، پر دې څلور لارې او تمځي راګرځېدلای شې او خپلې ټــاکلي

لارې ته سیخېدلای شي. په اروپا کې اکثره موټر جي پي ایس کاروي، دا دستګاه له سپوږمکۍ سره تماس لري او ټوله لارښونه له هماغه ځایــه اخلي. په جرمني کې ټول جرمني شموله او اروپــا شــموله (جــي پــي ایسونه) کارول کېږي، کوم ځای کې چې په لاره کې ټکر شوی وي، یــا ګڼه ګوڼه وي او یا هم لاره بنده وي، جي پي ایس درته خبر درکوي، چې لاره کې دغه مشکل دی او دغه متبادله لاره خلاصه ده، لنډه دا چې په داسې ښارونو او هېوادونوکې جي پي ایس داسې وي لکه دړانده د لاس امسا. څو کیلومتره مزل چې مو وکړ، نو جي پي ایس اعلان وکړ، چــې پاریس کې تر غوښتل شوي ځای پورې (نږدې اته سوه) کیلومتره لاره او په دومره (نږدې اتو ساعتو کې) هلته رسېږئ. البته د وخت او فاصلې دا معیار او برید ټاکنه د موټر په سرعت پورې اړه لري، څومره چې سرعت زیاتېږي د وخت ګراف راټیټېږي. تر نږدې یو نیم ساعت مزل وروسته به مو نږدې دوه سوه کیلومتره لاره وهلې وي، چې د جرمني له خاورې تېر شو او د بلجیم خاورې ته دا خل شو، کله چــې د بلجــیم خــاورې تــه داخلېږې، نو که کوم څوک بلدي درسره نه وي او درته ونه وایي، چې دا بلجیم دی، نو نه پوهېږې چې دا بلجیم دی. البته زه یو ځل دمخه هــم بلجیم ته راغلی وم، او ګران نجیب احمدزي سره مو غوړه غرمه کړې او یوه ماښامنۍ تېره کړې وه، هغه وخت هم بلجیم د اروپایي ټولنې غړی و او سرحدونه یې ړنګ شوي وو، دا ځل چې بلجیم ته راورسېدو، نو غریب صیب راته هغه پخوانۍ خونې او غرفې وښودې، چې د دواړو هېوادونو په

برید کې وې او هغه مهال د بلجیم سرحدي ګرګ ګنل کېده، د بلجیم سړکونه هم د جرمني په شان ښایسته دي، کوم خاص توپیر په کې نه لیدل کېده، خو ما غوندي سړي ته چې کله هم چېرته ښکلی سړک او ودانۍ وګورم، نو زړه مې غواړي، چې خپل هېوادته يې یوسم او یا هم هیله لرم ،چې زما هېواد هم په همدې ډول لویې لارې ولري. دېخو سړکونو خو زه ځکه شوقي یم، چې ما د خامه سړکونو کړاو لیدلی، د طالبانو او تر هغه دمخه نظامونو کې چې د افغانستان اکثره سړکونه کندوکپر وو او اوږدو سفرونو د سړي لړمون خوړیناوه، زه به چې هغه وخت ډېر زیات کابل او پېښور ته تلم، نو د لین دډرېور په شان راته د سړک کږلېچ او جمپونه معلوم وو، د دوړو پر ضد خو مې څه له لاسه نه کېدل، د کابل له تنګي به مې چې پټو پر سر راکاږه، نو تر تورخمه به مې نه لرې کاوه او تر همدې پټو لاندې به مې دا هیله، خوب او خیال په ذهن کې ګرځېدل، داسې وخت به هم راشي، چې زموږ په هېواد کې سړکونه پاخه شي، او یا خو لږ ترلږه له کابله تر جلال اباده په پاخه سړک او پاک موټر کې لاړ شم، ماته د ډرېورانو په څېر د پنچرۍ ځایونه هم معلوم وو، ان تر پټو لاندې مې هم پیدا کولای شول، هغه وخت د کابل- جلال اباد سړک او د هېواد نور سړکونه دومره خراب وو، چې عادي موټر په کې پر ساعت لس کیلو متره مزل کولای شو، ځای پرځای به پنچري وه او د لارې د هوټلونو تمځایونه. وایي چې له استاد محمد اصف صمیم څخه، چې ډېر سفرونه کوي، چا پوښتنه کړې وه، چې له کابله- جلال

اباد ته څومره لار ده؟ هغه ورته ویلي وو: درې په کې پنچرۍ محاســبه کړه، دوه وخته په کې ډوډۍ، څلور په کې لمونځونه او نوره پاتې لار، چې دا نږدې لس دولس ساعته وخت نیسي. زما دا یو ارمان خو پوره شو، هم دکابل او تورخم لویه لاره پخه شوه، او هم د هېواد نور ســړکونه پاخــه شول ، اوس زه خپل شخصي موټر هم لرم او دولت هم ښه ګاډی راکړی، نو کله چې د هېواد پر پخو سړکونو سفر کوم، فکر کوم چې اروپــا کــې ګرځم.

غریب صیب ته مې وویل: ځینې خلک تر انصاف لرې انتقادونه کوي، خو زه که یوازې دا سړکونه هم له تېر وختونو سره پرتله کوم نو زړه مې پرې باغ باغ شي. غریب صیب وویل: ددې سوکالۍ او پرمختګ په خوند هغه سړی پوهېږي، چې پخوا یې سختۍ لیدلې وي، زه د جهادیانو په پړاو کې پر دې لاره تللی یم، داسې یې ځپلی یم، چې تر اوسه مې له هغه سفره بدې راځي، نو کله چې ځینې خلک انتقــاد کــوي، دوی د افغانســتان پخوانی حالت نه دی لیدلی. غریب صیب ته مې وویل: د طالبانو پر وخت زه (یون) انځور صیب او غضنفر صیب له کابله کندهار تــه لاړو. څلــور سوه کیلو متره لار مو په (۲۲) ساعتونو کې ووهله. هغه وخت زموږ پــه خیال کې هم نه ګرځېدله، چې دا سړک به پوخ شي، خو یو وخت بیــا داسې هم راغی چې سړک پوخ شو او زه لــه همــدې لارې پــه پنځــو ساعتونو کې کندهار ته ورسېدم. نو زه چې کله د بلجیم سړکونوته ځیر شوم، د جرمني هغه پرې ښکلي ښکارېدل، نو ځکه خو مــې د خپــل

هېواد لپاره په تخیل کې  د جرمني په شان سرکونه غوره وبلل، مزله ته مو دوام ورکاوه، اروپا خو  ټوله خدايي شنه ده، خو دوی هم په کې ډېر زحمت ایستلی دی، د زحمت او طبعیت د ګډ امتزاج  له برکته اروپا نن دې ښکلي حالت ته رسېدلې ده. که څه هم زما دهېواد طبیعت هم تــر چا کم نه دی، خو څه موږه خپله ځان خراب کړ او څه هــم  ګاونــډیانو خراب کړو،  هغه د ملوک رغون ماما خبره چې ویل یې: ((زموږ  په  کلي کې یو سړی و،  ډېره ښه او ښایسته ښځه یې لرله، ګوزاره یې هم ډېــره ښه وه، مینه او محبت یې زیات و، خو کله چې د ګاونډیو له ښځو سره ددې ښځې ناسته پاسته زیاته شوه نو د هغوی پسپسکو پرې تاثیر وکړ، د وخت په تېرېدو سره  د ښځې او مېړه ترمنځ خوابدي زیاتېــده،  بلــه ورځ چا ترې پوښتنه وکړه، چې څنګه ده ښځه دې، هغه ورته وویل، ښه ښځه مې لرله، خو ګاونډیومېرمنو  را نه خرابه کړه...)) ملوک رغون ماما به ویل: افغانستان ښه ښکلی وطن دی، خو ګاونډیانو خراب کړ. د بلجیم پر شنو جلګو مې ځای ځای اسونه، غویي او نور څاروي لیدل، چې ښه تر وتازه وو او ښه په مینه څرېدل، ډېر خوشاله برېښېدل، ماویــل چـــې حیوانات یې دومره خوشاله دي، نو دانسانانو به یې څه حال وي؟

په همدې بحث  کې روان وو، چې د ماښــام تیــارې نــورې دومــره راخورې شوې، چې شاخواو ځمکې یې مو نه شوې لیدلای، دسړک پــه دواړو غاړو کې د ستنو رڼاګانو سړک روښانه کړی و، تر دې وروسته نو زه

د رڼاګانو د شمېر په لټه کې شوم او ځای ځای مې د موټر جي پي ایس ته کتل، مقصد مې دا و حساب وکړم، چې دوی په یو کیلو متر کــې دواړو خواوو ته څومره برېښنا ستنې ودرولي دي. خو داحساب به رانه ګډ وډ شو، اخر په دې لټه کې شوم، چې په رڼا ستنو کې کومه یوه داسې پیدا کړم، چې ګروپ یې جوړ نه وي او یا نه وي لګېدلی، خو پر داسې ګروپ یا ستنې مې سترګې ونه لګېدې، غریب صیب وویل: څه ته متوجه یې؟ ماویل هسې ناجوړه ګروپ پیدا کوم، هغه وویل: لکه چې پیدا دې نه کړ، پر دې وخت ما ورته وویل: څنګه کوو، باوري صیب ته زنګ نــه وهــې؟ هغه وویل: که زنګ دې وواهه، نو ځان دې په غضب ککړ کړ، هغه خــو لکه زرۍ غوندې درپورې نښلي، غیر له هغه مو ورسره سبا ته وعده ده له اخوا پرې راګرځو، او ځان سره یې بیایو، اوس یې لاره هم بځ ده، جي پي ایس چې ماته کوم وخت راکوي، نو ایله یوولس بجې د فیصل جــان ځای ته ورسېږو.

الحاج محمد امین باوري زموږ ډېر تکړه فرهنګي ملګــری دی، پــه بلجیم کې اوسېږي، د ارزګان د دهراوت ولسوالۍ دی، پــه اصــطلاح د مشر ملا صیب کلیوال دی او دمشر باوري صیب؛ عبدالرســول بــاوري ورور دی، یا په بله وینا هغه دده ورور دی، ښه پوخ حج یې هم کــړی، خودګې شپ له تخت وتاجه لا نه دی غورځېــدلی، زه اوس هــم پــوره باوري نه یم ، چې خپله به حج ته تللی وي او یا که چا به بیولی وي، لکه

ډاکټر صیب مخان شینواری، چې په وچ زور ښاپېرۍ خور حج  ته بیولی و او اوس چې څوک ورته حاجي ووایي نو ځان ورته بل قســم ښــکاره شي، ډاکټر صیب ماخان ته چا هسې په ګپ کې حاجي صیب ووایه. نو ده ورته په ځواب کې وویل:  چې حج یو فرض دی ادا مې کړ، لکه لمونځ چې کوم، زه دا فرض د خدای لپاره کوم، زه لمونځ هم کوم، نو ته به ماته لمونځ غاړی صیب وایې؟  هغه بیا ورته له قصده وویل: حاجي صیب دلته راشه کېنه ده هم ورته وویل بېلماځه صیب دلته راشه کېنه، هغه سړی ورته ډېر په غوسه شو چې ته ولې ماته بېلماځه وایې؟ ما حج کړی تــه ماته حاجي وایې. ته لمونځ نه کړې نو ځکه زه درته بېلماځه وایم. هغــه تردې وروسته ډاکټر صیب مخان ته حاجي صیب ونه ویل،  نو د الحــاج باوري صیب ازاد نظر، ګپ شپ ته چې ګورې، دده او حج تر منځ  لا ډېره فاصله پاتې ده.  په همدې خاطر  مورږ ورته وویل چې په شعرونو او لیکنو کې دې له ځان سره حاجي مه لیکه، په (امین باوري) کې دې هم ډېــر اسلامي قوت پروت دی، همدا چې عملي کړې هم بس دی،  باوري صیب ډېر ښه هرمونیه هم غږوي او ډېر خوږ اواز هم لري، ماویل چې پــه دې درباندې مشر ملا صیب خبر شي، چې هم حاجي یې هم امین یې او هم ارمونیه غږوې، بیا به نو د ژوند څکه هم ترې ونه کړې،! لنډه داچې امین باوري صیب ډېر خوږ اود مجلس سړی دی، مېلمه خو په بیه اخلي، نو په دې خاطر  ما اوغریب صیب پاریس ته د تګ پر وخت تر ځان غلنی تېر کړ. سفر ته مو دوام ورکاوه، یو خت مې کتل چــې  د رڼاګــانو څرکونــه

**کمېدل، غریب صیب ته مې وویل، ولې د سړک د غاړې رڼاګــانې کمــې شوې؟ هغه وویل: د فرانسې خاورې ته داخلېږو. ما ویل فرانسه کې څه برق نه شته که څنګه؟ دلته خو به ستر جنرال تورن اسمعیل خان دبرق وزیر نه وي، هغه وویل نه خبره داسې ده، چې فرانسویان پر جرمنیــانو باندې خاندي او هغوی ساده ګان ګڼي،وایي د سړک د غــاړې برېښــنا ستنو ته ځکه ضرورت نه شته، چې موټر خپله رڼاګانې لري، نو بله رڼــا هسې یو زیاتي لګښت دی، کله چې فرانسې ته داخل شو، نو پرته له دې چې د سړک پر غاړه رڼاګانې کمې شي نور، نو په سړک کې څه بــدلون رانغی، خو موټر په بلجیم کې نرم حرکت کاوه، جي پي ایس وښــودله، چې تر نږدې دوو ساعتونو وروسته به هدف ته ورسېږو، غریب صیب ته مې وویل: دلته خو هېڅ شی نه ښکاري، سبا به بېرته ځو، موږ باندې هم د هغه کانه وشوه، کوم سړی په فلم کې د مړي رول کې کار کړی و او په تابوت کې یې تېر کړی و، نو موږ هم په شپه کې په فرانسه تېر شو، اول ځل چې جرمني ته راغلی وم، همداسې په شپه کې هالنډ تــه لاړم، او ټکور جې سره مو ټوله شپه په ګپ او شپ کې تېره کړه او سهار ته بېرته جرمني ته لاړو. دا و زما د هالنډ لیدل، فرانسه به هم فکر کوم همداسې شي. غریب صیب وویل: احتیاط کوه، جي پي ایس ته ګوره چې لاره بیا غلطه نه کړو، کله چې له جرمني راوتلو نو دجي پي ایس له لارښــوونې سره سره موټر پر بل عمومي سړک سم شو، د جي پي ایس په مرسته تر نږدې دېرش کیلومتره واټن وروسته بېرته اصلي مسیر ته ولوېده، ماویل**

د خوب څپه هم راباندې راځي، هغه ویل خوب راځخه نه شې کولای، پر تا چې خوب راغی پر ما هم راځي، بیا به نو هغې دنیا کې گورو، پر دې وخت به یې په زوره غاړه صافه کړه او زما د خوب مرغۍ به یې تـولې والوزولې،څومره چې د پاریس ښار ته نږدې کېدو، نو رڼاگانې زیاتېدلې، د پاریس ښار له زړه نه یو سیند تېر شوی او تـر مورگـو ډک دی. د ښـار ښکلا یې څو ځله زیاته کړې، پاریس رښتیا هم ډېر ښکلی دی او د نړۍ (د ښارونو ناوې) نوم یې هسې نه دی ورکړی، کله چې د پاریس ښار او د هغه په منځ کې ډک سیند له کابل ښار او کابل سیند سره پرتله کړو، نو د ځمکې او اسمان توپیر په کې لیدل کېږي، هلته سړی پوهېږي، چـې دنیا څو پتیرې ده. هدف ته ډېر نږدې شو، لس کیلومتره واټن پاتې دی، وخت څه کم یوولس بجې دي، پر دې وخت ما چې جي پي ایس ته پـه ځیر کتل اشاره راکوي، چې په چپ لاس وگرځۍ، خو غریب صیب بیا د جي پي ایس په کیسه کې نه شو او همداسې مستقیم لاړ، بیا پرموړ غږ وشو ، چې لار مو غلطه کړه، بېرته یې راته لارښوونه وکړه، چې دغسې وگرځو، دویم ځل غریب صیب جي پي ایس ته ښه ځیر شو، نو ځکه یې لاره هم غلطه نه کړه، خو تېرې تېروتنې زموږ لس دقیقـې وخـت تـر ستوني تېر کړ. په پای کې همغه تعمیر ته ورسېدو، چې فیصل په کـې اوسېده، جي پي ایس همدلته صفر شو، مانا دا چې وروستی ادرس همدا دی. موټر مو دگنې گونې له امله په ډېر تکلیف یو ځای کې پارک کړ. د عمومي دروازې کېڼ لاس ته نومونه لیکل شوي، خو هلته مود فیصـل

نوم پیدا نه کړ. د دوانۍ داخل ته لاړو، یو اوږدو تعمیر و، مخې ته یې دوه ښځې ولاړې وې، غریب صیب ورځخه پوښتنه وکړه، هغـوی وویـل: د دهلیز دروازه کې نومونه لیکل شوي، ماغریب صیب ته وویل، ټلیفـون وکړه، هغه ټلیفون وکړ، خو ټلیفون هم کار ورنه کړ، د دهلېز دروازه کې یې نومونه چک کړل، د فیصل نوم نه و، د محمدي و. ما ویل همدا دی، کله چې مو زنګ وواهه، نو څو شېبې وروسته فیصل راغــی، د دهلېــز دروازه یې ببرته کړه، تر سترې مه شي او روغبړ وروسته یې وویل: ډېـر ځنډ مو وکړ، زه خو تقریباً دوه ساعته د مخه درته منتظر وم، موږ وویل: ځای مو غلط کړی و، په کوچني او تنګ لفټ کې درې واړه پورته شــو، داسې تنګ لفټ و که موږ دواړه غټ وای، نو بیا به ځانته ځانته پورتــه کېدلای ، خو د وجود ډنګروالي دغسې ځایونو کې په درد خوري.

دربیم پوړ ته پورته شو، فیصل ټول ټال دوه اتاقــه او یــو پخلنځــی درلودل. یوه کې یې د خوب چپرکټ و او بل کې څوکۍ مېزونه ایښي وو، خو ډېر ښایسته او پاک تشنابونه یې درلودل، فیصل ته مو وویــل چــې څومره کرایه ورکوې، کرایه ته ورکوې او که دولت؟ هغه وویل: ســفارت یې ورکوي، د برېښنا، ګاز او اوبو ټول لګښتونه یو زر یورو کېږي، فیصل وویل: ما غوښتل بازار نه درته ډوډۍ راوړم، خو تاسو فکس ټایم معلوم نه کړ، نو که اوس سترې نه یئ نو ځئ چې ځو هوټل تــه لاړ شــو. مــوږ وویل: دلته څه تیار لرې، ده وویل دلته هم هرڅه شته، خپله یې ژر ژر

تیار کړل، لږ څه قورمه، هگۍ او رومیان چې زما زیات خوښېدل او همدارنگه بولاني یې تیار کړل، څرنگه چې ډېر وږي شوي وو، نو ډېر




خوند یې وکړ، سم له لاسه مو ورپسې چای وڅښه، بیا مو د سیاسي او یو لږ نورو مسایلو په اړه ورسره خبرې وکړې، د افغانستان په اړه سیاسي وضعه دلته ډېره مثبته نه ده، د فرانسې حکومت اوس زیاتره په هماغه پخواني حساب د نظار شورا ملاتړ کوي، او دا تاثیرات یې لا تر اوسه هم شته، دلته هېڅ داسې مثبت تغیر نه دی راغلی، چې هغه د افغانستان د ملي منافعو خیال وساتي، نږدې پنځه لس کاله کېږي، چې دا سفارت د جمعیتیاتو په لاس کې دې، د سفارت ټول عایدات دوی لوټول، له هغې ورځې چې زه راغلی یم، د سکرتر په توگه، نو پر یوه کال مې د افغانستان حکومت ته شپېته زره یورو بانک کې تحویل کړي دي،

مخکې موږ حتی بانکي حساب نه درلود، د حکومت مال دوی خپل مال ګڼه، نوځکه خو دلته ټول ماسره داسې مخالفت کوي، چې حد نه لري. غریب صیب وویل: څنګه غونډو او میټینګونو ته هــم ورځــې! فیصــل وویل: هو ځینو غونډو کې ګډون کوم، خو هرکله چې خارجیانو ســره کېنم، نو د افغانستان واقعي تصویر ورته وړاندې کوم، د هغوی ځینې یې


یون او فیصل محمدي

د افغانستان له حالاتو خبر دي او ځینې یې سم خبر نه دي.

ما وویل: دلته څومره افغانان اوسېږي او له فکري پلوه څنګــه دي؟ فیصل وویل: فرانسه کې د افغانانو شمېر د نورو اروپایي هېوادونــو پــه تناسب کم دی، او بیا د پښتنو خو بیخي کم دی، په مجمــوعي ډول د (۵۰۰۰) شاوخواکې افغانان دلته اوسېږي، چې اکثره یې همدې ستمي- جمعیتي ډلو او نظار شورا پورې تړلي کسان دي. دلته پښــتنوته ډېــره

کمه سیاسي پناه ورکړل شوې او هغه پښتانه هم داسې پښتانه نه دي، چې پښتنو کې حساب شي، هغوی هم د پښتنو پر ضد دي.

ما وویل تبلیغات یې څنګه دي؟ فیصل وویل: یوشمېرسایټونه یـې فعال دي، چې نه یوازې پښتنو، بلکې ټولو افغانانو ته کنځلـې کـوي، هغوی هېڅ شی نه مني، اسلام مني، نه افغانستان مني، نه هویت مني، څه یې چې په خوله راځي هغه چټیات وایي، خو اوس دلتــه یــو نــیم سایټونه فعال شوي، چې هغوی ورته ځواب وایي.

څو شېبې نور هم فیصل سره ناست وو، کله چې مــو ســتړیا رفــع شوه، نو فیصل ته مو وویل: مورږ خو ترهمدې ځایه راغلي یو او سبا بېرته ځو بلجیم ته، هغه وویل نه نو تر دومره لرې ځایه راغلي یاست، بیا خو یو څو شپې ضرور وکړئ، دلته به مو ښه وګرځوم، زه فقط سبا سهار یو ځل وظیفې ته ځم، چې د خلکو د وېزې کارونه دي، هغه ژر ژر خلاصــوم او بېرته درپسې راځم، بیا به ووځو، ښه به مو وګرځوم، مورږ ویل نــه ځــو دښار څو مهم ځایونه همدا اوس ګورو، سبا تر چای وروسته مورږ درځخه ځو. پر همدې مو اتفاق وکړ.

**د پاریس د ښار څو ښکلي ځایونه:**کله چې له اتاقه راوتلو، نو غریب صیب ته مې وویل: ته راځه وګورو، چې دین محمدغمخوار سندره رښتیا هم صدق کوي که نه د پېښوریانو په خبره هسې بکواس یې ویلي

دي. غمخور صیب یوه سندره جوړه کړې، چې رښتا هم ډېره مشهوره ده او پر ډېرو خلکو ښه لګي، دا چې له واقعیت سره سمون خوري او که نه، هغه بېله خبره ده، خو دزړه له کومې یې ویلې ده او ننګرهار والي ګل اغا شېرزي لا چاته ویلي وو، چې ددې شعر کمپوز هم ده تیار کړی دی، لکه څنګه چې دی وایي دوه ګانې یې د دیوداس فلم ته هم تیارې کړي دي.

کابـــل پـــه دې دنیـــا جنـــت یـــادېږي
لکـــه د ســـرو ګلونـــو هـــار ښـــکلی دی
لندنـــه تـــا بانـــدې یـــې نـــه ورکـــوم
ښار د پـاریس نــه ننګرهــار ښــکلی دی.

پنځه دقیقې مزل به مو کړی و، چې د ښار منځ واټ ته ورسېدو، دا د پاریس ښارمنځ دی، چې له دې ځایه دښار اکثره ودانۍ ښکاري اوښه دسیل ځای دی. فیصل وویل: د دوی لویې رسمي غونډې لکه جشنونه او نور هم په همدې ځای کې کېږي. دلته ودانۍ پر داسې لوړ ځای جوړې شوي،چې نور اکثره ښار ترې ښه ښکارېده، ودانۍ یې لکه په هند کې د لودیانو او مغولو د دورې په شان پر لوړو ځایونو جوړې وې، خو په دې توپیر، چې دا د هغو په شان تاریخي نه ښکارېدې او عصري بڼه یې لرله، یو څو دقیقې دلته پلي وګرځېدو،نیمه شپه وه، خال خال باران ورېده، زما ډېر یخ وشو، غریب صیب ته مې وویل: پاریس پر

ما ښه ونه لګېد، راځۍ چې ځو، هغه وویل: اوس خو راغلي یو، لږ به وګرځو، ماویل زما همدومره عیاشي بس ده، نور نه غوارم د عیاشۍ کیسه راباندې وشي. د عیاشۍ کیسه د یوه نر پښي د مینې داستان دی، چې دلته نه غوارم کیسه یې بیان کړم، نو ځکه




غریب صیب ډېر وخندل، یو څو قطعې عکسونه مو واخیستل، له همدې ځایه د (ایفل برج) چې د نړۍ په سترو عجایبو کې شمېرل کېږي، هم ښکارېده، غریب صیب وویل: راځه چې دا برج وګورو، بیا که بېرته تلو نو هم پروا نه کوي، ما ویل سمه ده.

تر څلورپینځه دقیقې مزله وروسته هلته ورسېدو، رښتیا هم د عجایبو خبره ده، ډېر لوړ او په ډېر تکلیف یې جوړ کړی دی. دا برج

**(۳۰۰) متره لوړوالی لري. فرانسوي نوم يې (La Tour Eiffel) دی، دا دينجرۍ يو لوړ شهکار او د فرانسې د عظمت سمبول ګڼل کېږي.**




**دا برج د هغه جوړونکي (ګوستا ايفل) په نامه نومول شوی او تراوسه پورې په سوونو مليونه خلک يې ليدو ته راغلي دي. ددې برج اساس پر (۱۸۸۹م) کال اېښودل شوی دی. څه باندې دوه کاله پـرې (۳۰۰) تنــو کارګرانو کار کړی. د پولادو (۱۸۰۰۰) فلزي ټوټې د دوه نيم (۲.۵) مليونو نټونو په واسطه وتړل شوې. د فلزي کارول شويو برخو وزن يې (۷۳۰۰) ټنه دی. د ټول برج وزن (۱۰۱۰۰) ټنه دی، په دې ترڅ کې د لفټ سيستم، هوټلونه، څېړنيز مرکزونه او نورې اسانتياوې شته.**

**کله چې سړی له لاندې پورته برج ته ګوري، نو هغه د چا خبره خولې یې له سره لوېږي، یو څو شېبې یې څنګ ته ودرېدو عکسونه مو واخیستل، فیصل وویل: اوس دا تړلی دی، د ورځې خلک ټکټ اخلي او**



یون او فیصل محمدي

**هلته پورته کېږي او ټول پاریس تر ګوري، نوکه تاسې پاتې شوئ، د لته به بیا راشو، غریب صیب ته مې وویل: دین محمد غمخوار رښتیا ویلي چې: ښار د پاریس نه ننګرهار ښکلی دی، هغه وویل ښېشکه، ماوویل ته یې منې؟ هغه وویل خلک یې وایي نو... ته یې منې هم یوه کیسه ده، چې دلته لې لیکل ضرور نه دي، خو دځینو خلکو لپاره ښه مصداق ګرځېدلی شي. غریب صیب ته مې وویل، زه خو ډېر سړیچن یم، بس نو دا مزه خو هم وڅکله، نور به څو نو، هغه وویل: ځئ چې څو. فیصل موږ خپل ځای ته تر تګ دمخه په نورو لارو هم چې ښکلي ځایونه یې لرل**

هم وګرځولو، خو لنډه داچې د شپې یوه نیمــه بجــه بېرتــه اتــاق تــه ورسېدو.

د سرک غاړې پارکینګ هم ډک و، یوازې یو ځای مو پیدا کړ، چې که سهار پر وخت ترې موټر ونه باسو نو جریمه به زغمو. بیکونه مو له موټره واخیستل، اتاق ته چې لاړو، نو ښه د مزې ستړي شوي وو، غریب صیب ته مې وویل: په هغه بله خونه کې ویده شه، مور ځو دقیقې نور هم کېنو، هغه لاړ ویده شو، مور تر ډېره ناست وو، فیصل بیا د کور د ټولو لویو وړو پوښتنه وکړه، هغه دا درېیم کال دی، چې له کوره لــرې دی، هیلــه او سوله (زما لونې) سمسور او ودان (زما زامن) د ټولو پوښتنه یې وکــړه: ودانی (ودان) څنګه دی، ماویل ښه دی، ده ویل اوس غټ شوی که نه؟ ماویل هغه اوس ښه دی غټ شوی. فیصل چې کله فرانسې ته، ته ، نــو ودان ډېر کوچنی و، دوه کلن به و، بیا مې ورته هغه البوم ورکړ، چې زما د لور او دده خورزې (هیلې) د کلیزې له عکسونو ډک و. هیله دا وخت یوولس کلنه او شپږم ټولګي کې وه. په دې کلیزه کې د فیصــل مــور او پلار، ورور (مروان) او خویندې او زموږ د کور ټول غړي شامل وو. د ټولو عکسونه په کې و، هغه ته مې دا البوم ورکړ، هغه ډېر زیات پرې خوشاله شو او هر عکس یې ځو ځله وکوت، مسافري ډېره سخته ده، لږ لږ یې په رنګ کې تغیر راغی، سترګو کې یې د اوښکو رنګ ښکاره شو، خو لکه له ماڅخه چې وشرمېده، ځان یې ټینګ کړ. ما ورته وویل: ځه دا البوم ستا

شو، په قراره يې بيا وګوره، نور مې په افغانستان کې د حکومــت ټــول جوړښت او حالات ورته تشريح کړل او ده په فرانسه کې دافغانستان د سفارت حالات راته ښه واضح کړل او هم يې د هغو افغانانو او د هغــوی داندود په هکله بشپړ معلومات راکړل، چې په فرانسه کې اوسېږي، په تېره بيا د هغو افغانانو په هکله چې له فرانسې څخه افغانستان ته راغلي او په حکومت کې دندې لري، ياني دوه کوره دي، فيصل راته د څو تنو نومونه واخيستل، چې د افغانستان تر ملي ګټو د فرانسې ګټو ته زيات وفادار دي، نوبايد ډېر احتياط ورسره وشي، د دوی فکرونه يــې دلتــه داسې وينځلي، چې افغانيت يې ورڅخه بېخي لرې کړی دی، زه حيران يم، چې د افغانستان حکومت څنګه پر دوی باندې باور کوي، ماوويل: اوس افغانستان د بحران په حالت کې دی، دې حالاتو کې شفافيت او دا ډول حساب و کتاب ممکن نه دی، هغه هم په داسې حکومت کې چــې بهرنيان پرې خپل تاثير لري. ساعت دوه به نور هم ناست وو، يو وخت و، چې ساعت ته مو وکتل، نو پر محلي وخت (۴) بجې وې، فيصل ته مــو وويل: څه نو يوه سترګه خوب؛ وکړو، سبا بيا موږ سفر لرو، څه خبرې به بيا سبا سهار وکړو، فيصل همالته پر ځمکه غوړېدلي فرش او ما په کوچ کې خوب ته ځان تيار کړ.

# د بلجیم پر لوري

د مارچ (۱۹)مه نېټه وه، پر سیمه ییز وخت سـهار اتـه بجـې مـو د حرکت ترتیبات ونیول، فیصل وویل: چای به تیار کړم، موږ وویل: چای نه څښو، هغه وویل: که زما منئ همدلته ارام او استراحت وکړئ، زه یو ځل وظیفې ته ځم، چې د ډېرو خلکو د وېزې کار راته بند دی، هغه خلاصوم،



فیصل محمدي او یون په پاریس کې د افغانستان سفارت مخې ته

لس یوولس بجې بېرته راځم، بیا به ووځو، ښه چکر به ووهو، موږ وویل: تا ترسفارته رسوو، تابه هلته کښته کړو، سفارت به هم وګورو، بس پـر همدې مو توافق وشو، لس پنځه لس دقیقې وروسته بـه سـفارت تـه

رسېدلي یو، په لاره کې فیصل موږ ته وویل: د افغانستان سفارت  په ډېر ښه ځای کی موقعیت لري،  دا سیمه د پاریس ښار ډېره قیمتې سیمه ده او دا تعمیر ډېر تاریخي دی،  دا سیمه د ناپېلیون د وخت دښار زړه دی او اوس هم تر دې قیمتي ځا ی نه شته، څو ځله دلته د فرانسې حکومت او ځینو اشخاصو یادونه کړې، چې که افغانستان دا تعمیر خرڅوي، نـو موږ یې تر دوه سوو ملیونو ډالرو پورې اخلو، ماوویل: رباني له دې خبرې خبر نه و که څنګه؟ فیصل وویل: هغوی دې کار ته وخت پیدا نه کړ او بل دا  د هغوی سیاسي مرکز و، له دې ځایه هغوی ځانته ډېــرې مرســتې راجلبولې اودایې د مشروعیت یو ځای هم و، نو که دایې خرڅ کړی وای، بېخي به شرمېدلي وای. د سفارت مخې ته کښته شو، یوه زړه تــاریخي څلور پوړیزه ودانۍ، چې دواړو خواو ته یې تر دې نورې دنګــې ودانــۍ جوړې شوې وې، خو دا په کې  په خړ رنګ او قد له ورایه برېښــېدله، د ډېرې پخوانۍ زمانې ودانۍ وه، د سفارت مخې ته مو یادګاري عکسونه واخیستل، فیصل وویل: ځئ  چې څو سفارت هم وګورئ او چای به هم وڅښو، ما اوغریب صیب وویل: نه موږ به درنه لاړ شو، ته ورځه یو خــو موږ له باوري صیب سره د غرمې وعده کړې، بل سفارت ته ورتګ هــم چندان خوند نه کوي، اوس به هم دستمیانو بوی ترې راځي، همدا یو ته ښه یې چې دلته کار کوې، ته خو مو دادی ولیدې، همدې کــې مــو لــه فیصل نه خدای په اماني واخیسته، (جي پي ایس) ته مو په بلجیم کې د باوري صیب د کور ادرس ورکړ او حرکت مو وکړ، دښار هواډېره صافه او

پاکه وه، باران تعمیرونه او ښار داسې وینځلی وو، چې هېڅ ډول ګرد او خیری یې پرې نه ووپرې ایښي، لکه غواګانو چې خپل بچي څټلي وي، پر څو داسې کوڅو تېر شو، چې لا هم تیږې په کې غوړېدلې وې، غریب صیب وویل: دا ډېر تـاریخي سـړکونه دي، ان د نـاپېلیون لـه وختـه همداسې پاتې دي، ما ویل د دوی هر څه نرم دي، وګوره دا موټر هم پر دې کاواکه تیږو ګرځي، خو خرابېږي نه، نور مو نو چې ښار ته کتل یـوه ودانۍ تر بلې ښکلې وه، د ښار په دې مرکزي برخه کې اکثـره ودانـۍ هماغه تاریخي ودانۍ وې، نوې ودانۍ په کې ډېرې کمې وې او بله خبره دا وه، چې د یوه ځانګړي کلتور ښکارندویي یې کوله، یو ځانساتې کلتور یې تمثیلوه. غریب صیب وویل: فرانسویان دژبې او کلتور د ساتنې پـه برخه کې د دنیا تر ټولو قومونو افراطـي دي. لـه دې ودانیـو داسـې ښکاري، چې له فرانسه یې انجنیرانو پرته بل چاته جواز نه شته، چې د نورو ملکونو په شان ودانیزې نقشې جوړې کړي، خـو د دوی تـاریخي ودانۍ هم داسې پاکې او سوتره وې ، چې تا فکر کاوه، همدا یو څو کاله مخکې یې جوړې کړې، د ښار هره کوڅه او هره څنډه په لیدلو ارزېدله، خو بیا هم زما تر پاریس په مجموع کـې تـر فرانسـې جرمنـي زیـات خوښېږي، دې کې کېدی شي په ناشعوري ډول په تېرو څو لسیزو کې له پښتنو ضدډلو ټپلو سره د فرانسې د حکومت همکاري زما پر احساس د ناخوښۍ دا ډول اغېز کړی وي، خو دا چې پاریس زما خـوښ شـو کـه خوښ نه شو، دا بېله مسله ده، خو پاریس په واقعیت کې ښـکلی دی،

غريب صيب ته مې وويل: پاريس رښتيا هم ښکلی دی ته يې منې؟ هغه وويل خلک يې وايي... دې کې مو وخندل، دې کې مـو بيـا د غمخـور صيب سندره راياده شوه، : ښار د پاريس نه ننگرهار ښکلی دی... غريب صيب ته مې وويل: غمخور صيب دلته پاريس ته راغلی که نه؟ هغه وويل گومان مې نه شي چې راغلی به وي، خو سندره يې راغلې ده.

همدې خبرو کې وو، چې د پاريس تر څنډو تېر شو، کله چـې تـر ښاره ووتو، نو د لارې په اوږدو کې مو نوي نوي تعميرونه تر سترگو شول، چې تاريخي لرغونتيا يې نه لرله، خو نور ډېر ښايسته وو، تر شل دېرشو کيلومترو واټن وروسته غريب صيب وويل: دلته د دوی هوايي ډگر دی، دا سړک هم ددوی د هوايي ډگر تر سينې لاندې تېرېږي، لږ چـې نـور ورنږدې شو، نو پر سر يې څو الوتکې د الوتنې په حال کې وې. په لنډو د اوږده او سورور پله تر سينې ووتو، غريب صيب وويل: دا پل چـې دې وکوت پر دې هم د الوتنې ليکه تېره شوې ده. د سړک دواړو غاړو ته د سترگو په ليد سره چې کومې ځمکې ښکارېدلې، دومره اباده او ښېرازه وې، چې داغ په کې نه معلومېده، ځای ځای يې چـې د کبنـت لپـاره کولبه کړی و، همغه سوربخن ښکارېده، خاوره يې داسې سره بخنه وه، لکه د ننگرهار د سره دېوال (سرخ دېوال) خاوره او يا هـم د سـره رود خاوره، چې د پخو خښتو لپاره ډېره مساعده ده او لسگونو بتۍ په کې همدا اوس فعالې دي. غريب صيب ته مې وويل، وگوره عجيبه خاوره ده،

هېڅ شگه نه لري، دې که به څومره ښه زراعت کېږي، کاشکې دې تــه سړی دهقان وای، څه خوند به یې کړی و، وگوره عجیبــه خــاوره ده، د کلالۍ ښه منگي ترې جوړېږي، رنگ هم تک سور دی، رنگ ته هم اړتیا



نه لري او بلــه دا چــې د تنــاره لپاره ډېره ښه برابره خاوره ده، غریب صیب ته مې وویل: تا به کلالي نــه وي لیــدلې، زه چــې کوچنی وم، نو له نورو اندیوالانو سره بــه د کلالانــو څنــگ تــه ورتلم، عجیب رقم رقم لوښــي به یې جوړول، بیا به یې لمر تــه اینښودل چې وچ شي، تــر هغــه وروسته به یې په داشونو کې پخول او بیا به یې ډېر مقاومت کــاوه، د لغمان په مرکز کې خو یو مکمل کلی پر همدې کار اخته و، (چل متي) به یې ورته ویل، نو هغه خلک چې دلته وای، والله چې ټولې دنیا ته خو به یې منگي ورکړي وای. همدې خبرو کې وو، چې موټر کې د تېلو کمــی احساس شو. غریب صیب وویل: موټر کې جي پي ایس چې کله ټانــک راپه گوته کړي، تېل به هم واچوو او چای به هم وڅښو، ما ویل بېخــي سمه ده، لس کیلومتره وروسته یو تېلو ټانک ته ودرېدو، یو ښه هوټل یې هم ترڅنگ و، هلته د لویو لارو پر سر دتېلو ټانکونه داسې جوړ شــوي

وي، چې ورسره یو سوپر مارکیټ ته ورته مارکیټ هم ودان وي او ټـول مهم ضرورتونه په کې پوره کېدلای شي. د لویو لارو پر ســر جوړشــوي ټانکونه دا ټول معیارونه لري، خو ځینو کې بیا ځانګړي هوټلونه هم وي، موږ لومړی  هوټل ته پورته شو، وړوکی، خو ښایسته هوټل و، کارکوونکي يې اکثره ښځې وې، ښه خوندوره ناشتا مو وخوړه، د بــوفي پــه شــان سیستم يې و، څه شی چې دې خوړل همغه دې راخیستل، یوازې هګۍ يې غوړو کې تازه پخولې نور هر څه تیار وو. نیم ساعت به ناست وو، دمه مو ښه جوړه شوه، بیا مو د موټر ټانکی ډکه کړه، غریب صیب ژر جیب ته لاس کړ، ما وویل یو شرط دی، ویل څه؟ یا به تخلص بدلوې یا به پیسې ورکوې، تا چېرې کوم غریب سړی لیدلی، چې د مــوټر د تېلــو پیســې ورکړي، هغه  وویل ته مېلمه سړی يې، مېلمه دې کله لیدلی چې د موټر د تېلو پیسې ورکړي! ما ویل دا خو فرانسه ده، جرمني خو نه دی، دلته خو ته هم مېلمه يې او زه هم ، مېلمه دې په مېلمه مساوي وي او غریبي دې پر خپل ځای پاتې، نو ځکه ته حق نه لرې، چې پیسې ورکړې، زمــا زیات ټینګار هغه مجبور کړ، چې ماته اجازه راکړي، اتیا یورو مې ټانــک والا ته ورکړې او حرکت مو وکړ، څو دقیقې وروسته مې غریب صیب ته وویل: خپلو مجاهدینو (انډیوالانو) ته ټلېفون وکړه،چې موږ در روان یو، هغه وویل باوري ته خو مو سهار هم ویلي وو، خو اوس به بیــاهم زنــګ ووهم، د باوري صیب ټلېفون رخ شو، هغه په زوره چغې وهلــې، اوهــو چېرته دي مجاهدین! موږ ویل در روان یو، غریــب وویــل: یــو ســاعت

**وروسته انشاالله در رسېږو، هغه وویل: هغه بل مجاهد (نجیب احمدزی) مې هم راغوښتی، را روان دی. موږ وویل ښېځي سمه ده، نجیب احمدزی زموږ بل تکړه فرهنګي ملګری دی، چې مخکې په بلجیم کې اوسېده او اوس له کورنۍ سره یو ځای لندن کــې اوســي. زمــوږ د ګــپ شــپ او فرهنګي مبارزې ښه ملګری دی. یو ساعت مزل به مو کړی و، چې جي پي ایس د باوري صیب د کور مخې ته پر صفر(۰) ټکي ودرولو.**

## یوه غرمه له باوري صیب سره: د مارچ یوویشتمه نېټــه د

**غرمې دولس بجې وې، چې د باوري صیب دکور مخې ته، تېلو ټانک سره مو موټر پارک کړ، دا د تېلو ټانک هم د باوري صیب و، متصل یې ورسره کور هم و، دغه دی، چې باوري صیب له کوره راووت، په ډکه خوله خندا، ((مجاهدین)) دې په خیر راشي، مولا مو راوله، زه خو مــو لــه انتظــاره ستړی کړم، لومړی یې ماته غېږ راکړه، بیا یې غریب صیب ته او راساً یې بېټک ته، چې یوه دروازه یې همدغه تېلو ټانک ته وه، دننه کړو، په یوه خونه کې، چې څو اوږدې څوکۍ او کوچونه ایښي وو او په دېوال کې یې یوه اوږده الماری نصب وه، کېناستو، درې تنه نور مېلمانه هم ناست وو، له مېلمنو سره مو روغبړ وکړ، ژر مې په الماری کــې پــر ګنــو کتــابونو سترګې ولګېدې، باوري صیب وویل: ته راځه کېنه چې اوس خپل ګــپ ولګوو، کتابونه میتابونه اوس پرېږده، بیا به یې وروســته وګــورې، زه او غریب یوې خواته، باوري صیب او درې تنه مېلمانه بلې خواته کېناستو.**

باوري صیب وویل: تاسې خو به دوی ته نه معرفي کوم، ځکه چې له ټولو تکبیرونو سره دې پیژني، خو دوی به درته معرفي کړم، دا یو (ډاکټر تاج محمدوزیري) نومېږي،دلته په بلجیم کې اوسي د طب ډاکټر دی او ښه لایقه سړی دی. زموږ د ډېر قدرمن جنرال صیب دولت محمــد وزیــري


بازمحمد ، ډاکټر تاج محمد ، یون، انجنیر حضرت او محمدامین باوري

زوی دی. ماویل ډېره ښه ده، د وزیري صیب مرکې مې له بي بــي ســي څخه  ډېرې اورېدلي، ښه ملي او دکار سړی دی. ښه نو ډاکټر صیب ته او ستاسو کورنۍ ټول ښه دي؟ هغه وویل: ټول ښه دي، پلار مې اوس پــه کابل کې دی دفاع وزارت کې مقرر شوی او هلته دنده اجرا کــوي ، مــا ویل ډېره ښه ده، زه لا تراوسه خبر نه وم، ماویل چې هغه به په لندن کې وي.

پر دې وخت باوري صيب دويم مېلمه رامعرفي كــړ، بــاوري صــيب وويل: انجنير صيب حضرت په بلجيم كې زموږ فعال فرهنگي ملگــرى دى، چې له خپلې كورنۍ سره په بروكسل كې اوسېږي، ښه د كار سړى دى، انجنير صيب حضرت راته په بلجيم كې د افغانانو د ژوند او فرهنگي كار په باب لنډه رڼا واچوله.تر دې وروسته باوري صيب درېــيم مېلمــه معرفي كړ، دا استاد (بازمحمد) نومېږي، دكونړ دى، ډېر وخت يــې پــه مسكو كې تېر كړى، اوس هم كله كله ورځي، دى دلته په بلجيم كــې اوسېږي، دوى درېواړه زموږ د فرهنگي بنــډار غــړي دي، دلتــه زمــوږ فرهنگي ټولنه ډېر غړي لري، كه خبر شوي واى، چې ته راځې، نوټــول درته راتلل، خو ما له هغوى څخه خبره پټه كړه او دا درېواړه داسې دي، چې خلاصى مې ترې نه شته او بل ستاسې پروگرام هم داسې ذيق دى، چې سړى چا سره وعده پرې نه شي كولاى. ترتعارف او ستړي مه شــي وروسته د افغانانو له دود سره سم سياسي بحث پيل شو. ډاكتر صــيب تاج محمد راته وويل: يون صيب مركې دې اورم او ليكنې دې گورم، هغه څه چې زما په زړه كې گرځي هغه ستا په خبرو او ليكنو كــې وي، پــر همدې خاطر نه يوازې پر ما، بلكې زموږ د كور پر ټولو غړو او مجموع كې پر هغو افغانانو، چې دو طن درد او احساس لري، پر ټولو گران يې، ژوند ته دې خيال كوه، موږ پښتنو كې ډېر كم خلك لرو، چې پر حساسو ملي مسايلو پوه دي. كه زموږ د ملت د شعور سطحه اوچته واى، نو زموږ هر مشكل به ډېر په اسانۍ سره حلېده، وگوره همدا بلجيم به مثال وركړو،

دلته هم دا مشکل شته، خو دوی ورته قانون جوړ کړی او پــه قــانوني شکل یې تر ډېره حده دا لانجه حل کړې ده، بلجیم کې هالنډي ژبــې، الماني ژبي او فرانسه یي ژبي درې واړه اوسیږي (٪۶۰) هالنډي ژبي دي، (٪۳۳) فرانسه یي ژبي او (٪۴) الماني ژبــي . خــو هــر څــوک چــې د صدراعظم په توګه ټاکل کېږي، باید پر دې درې واړو ژبــو پــوه وي، یــو وخت دلته فرانسه یي ډېره حاکمه وه، خو پاچا ورته قانون بدل کړ، دلته ژبه په اقتصاد، سیاست او کلتور درې واړو مسایلو کې مهم رول لري. پر دې وخت بازمحمد استاد وویل: دوی خود منطق او قــانون لــه مخــې مشکل حل کړ، خو موږ درې سوه کاله وډزوله، دې مشکل ته مو د حل لاره را ونه کښله، هلته اوس هم د یوه اقلیت ژبه پر یوه اکثریت حاکمه ده، علت یې دا دی، چې موږ قانون نه تطبیقوو او نه هم د خپل ملت د رایې پروړاندې مسولیت احساسو.

ما له دوی څخه پوښتنه وکړه، چې د بلجیم ټول نفوس څومره دی؟ ډاکټر تاج محمد وویل: بلجیم ټول (۱۲) ملیونه نفوس لري، چې له دې جملې څخه دوه(۲) ملیونه بهرنیان دي، په دې کې (۷) زره تنه افغانان دي. موږ لا د سیاسي او کلتوري خبرو په همدې بهیر کــې وو، چــې د باوري صیب له زامنو(باوري ګروپ) څخه یو تن ښکلی ځوان راغــی، او ویې ویل پلاره! ډوډۍ تیاره ده. دې سره ســم لــه لاســه دســترخوان وغوړول شو او دملایانو خبره لذیذ لذیذ طعامونه پرې هموار شــول... د

ملايانو طعام او کلام سره ډېره جوړه وي، ((یو مــلا لا یــوه ورځ دا هــم وویل، په جنت کې چې د جنتيانو لپاره دسترخوان اوار شي، نو يوازې بر يې ۷۰زره متره دی.)) باوري صيب ته مو وویل: موږ درته څه ښکاره شو، نهالګر اوکه ختګر څنګه؟ هغه وویل نه بابا خورو به يې که نه! ما ویــل: وزير صيب محمدګل خان مومند کندهار د خلکو جامې او ننګرهار کې دخلکو ډوډۍ څکه کنټرول کړې، چې د خلکو په اقتصــاد کــې ســپما راشي. یو وخت ځینو خلکو په کندهار کې له شپاړسو مترو ټوکر څخه يوازې پرتوګ جوړاوه او په ننګرهار کې د کامې خانانو چې بــه يــو تــن مېلمه کړ، نو د شلو تنو ډوډۍ به يې ورته تیاروله، وزیــر صــیب هلتــه کندهار کې خلکو ته وویل، چې په جامو کې به دومره ټوکر نه لګوئ او دکامې خلکو ته يې وویل، چې مېلمه ته به دومره، اسراف نه کوئ! پــه همدې خاطر پښتانه نه په تن پټېږي او نه په نس مړېږي، مولانا صــیب سيفي نه چا پوښتنه کړې وه، چې پښتانه جاموته ولې (کالي) وايي، هغه ورته ويلي وو،چې په کال کې يې یو ځل کوي، نوځکه ورته کالي وایــي. پښتنو ته په مړه خېټه ډوډۍ نه رسېږي، ځکه هرڅــه يــې مېلمــه تــه ساتلي وي او په هغه يې خوري، پروفيسور رسول امين وايي: د پښــتنو کور مېلمه خراب کړی دی. پر ډوډۍ خوراک سربېره د وخت خيال هم نه ساتي او کوربه مجبور دی، خپل کارونه پرېږدي هغه سره کېني. يونيم پښتون، خو چې لږ څه په ګېډه موړ شوی، نو هغه بيا راساً پارسي ته اړم شوی ځکه خو ((د مړې خېټــې پاړســي)) اصــطلاح پیــدا شــوې ده،

سرمحقق عبدالله بختانی خدمتگار صيب همدې نزاکت او زمونږ د ټولنې واقعيت ته متوجه شوی، نو ځکه خو وايي:

لـــه اســـمانه ســـهار داســـې اواز راغـــی
چې دا ځمکه په همت باندې خواره شـــي
پـــه پيســـو پســـې پښـــتو پښـــتو خبـــرې
پښتانه هم پاړسي وايي چې مـــاره شـــي.

نو زه خو دغو ټولو دلايلو ته په پام سره، ددې ډېر مخالف يم، چـــې مېلمه ته زيات لگښت وشي، البته د مېلمه پالنې مخالف نـــه يـــم، خـــو دکوربه د زيات لگښت مخالف يم. له مېلمه څخه هيله لـــرم، چـــې لـــه کلتوري نزاکت څخه ناوړه گټه پورته نه کـــړي او د کوربـــه د رســـمي او نارسمي وخت د زياتې ضايع کېدنې سبب نه شي. مونږ او تاســـې اوس د کمپيوټر په زمانه کې ژوند کوو، اوس که مونږ غواړو، چې د زمانې له دې گړندي بهير سره سم حرکت وکړو، نو بايد د وخت پر ارزښت پوه شو او لکه څنگه چې وايي: وخت لکه سره زر دی، بايد د زرو په سترگو ورته وگورو. ډوډۍ مو ښه په خوند وخوړه، په اروپا کې چې چاته خپله افغانۍ ډوډۍ پيدا شي، خولې دې اسمان ته وارتوي.

د ډوډۍ پر وخت مې باوري صيب ته وويل: چېرته دی ټول بـــاوري گروپ؟ هغه وويل: تر ډوډۍ وروسته ټول راځي، ټولو ويل يون کاکا گورو

او عکسونه ورسره اخلو. تر ډوډۍ وورســـته بېرتــه پــر خپلــو ځــایونو کېناستو، باز محمد استاد ته مې وويل: ښه نو اوس د مسکو کیسه کوه، هغه لږ موسکی غوندی شو، که ژوند و نو د مسکو و، دا د بلجیم ژونــد ورته هسې نقل ښکاري. غریب صیب او باوري صیب چې له باز محمــد استاد سره يې ښه پېژندل، وویل: دده هلته ځانته پاچاهي وه، نوځکــه يې داسې ارمان کوي، ما ویل اوس هم کله کله ځې کــه څنګــه؟ هغــه وویل: خود ځم، کله مې طاقت کېږي، ماوویل: ښه د دوســتۍ تــار دې شته، ده وویل: ښه محکم، ما وویل: بیا خو تر ببــرک کارملــه تــه دې دوستۍ ته ډېر وفادار يې، هغه وویل: کارمل څه دی بابا! خو زه د کارمل په لین کې نه یم، زما او د هغه لین فرق کوي، ماوویل: ښه تر هغه هــم ستا لین مستحکم دی. د هغه یوازې دوستي وه، ستا لکه چې خپښــي هم وه، که څنګه؟، دې کې ټولو وخندل. بازمحمد هم وخندل ویې ویل: همداسې يې درواخله! ما وویل، د دوستۍ او خپښۍ به درته کیسه وکړم : (( زموږ له لغمان څخه یو څوک د روسانو د حاکمیت پر وخت، د کابل په یوه دولتي فابریکه کې کارګر و، خو زوی یــې شــوروي اتحــاد تــه د تحصیل لپاره تللی و او هلته يې له یوې شوروۍ سره واده کړی و، کــه څه هم دی يې له زوی سره په پیل کې پر دې کار موافق نه و، خو دا يې د زوی کار و،د کار په بهیر کې به هره ورځ د اولیه سازمان منشي ورپسې راته، چې حزب ته لاړ شه، او غړیتوب واخله، خو ده به ځان په یــوه او بله پلمه تېراوه او نه يې غوښتل، چې حزب ته لاړ شي. بله ورځ د اولیه

سازمان منشي ورته یوه توطیه جوړه کړه او داسې رپوټونه یې برابر کړل، چې دی، د شوروي اتحاد مخالف دی او دهغوی دوستي نه مني،انقلاب سره یې جوړه نه ده، نو ځکه باید له کار یا دندې وا یستل شي. د اولیه سازمان منشي دی دسازمان دفتر ته وروغوښت، هلته یې ورته وویل:




ګوره پر تا داسې راپورونه دي، چې ته د شوروي اتحاد ضد یې او دهغوی دوستي نه منې، که دا راپورونه زه د فابریکې رییس ته ولېږم او بیا مشاور هم خبر شي، نو تا همدا نن له کاره باسي، خو زه بیا هم تاته یو چانس درکوم، راځه حزب ته راشه، له دې تورونو به هم خلاص شې او مور به یوه درجه هم درلوړه کړو. هغه بیا ورته وویل: د څه شي تورونه؟ د شوروي د دوستې ضد تورونه! کارګر ورته وویل: عجیبه ده منشي صیب: (( تا ورسره دوستي کړې او ما ورسره خپښې کړې، نو ته د شوروي دوست شوې او که زه یې دوست شوم)) همدې خبرې سره هغه سړی له جنجاله خلاص شو. نو کله چې ما کیسه تر دې ځایه راورسوله، نو دوی

ټولو ښه په خرپ وخندل، خو باز محمد تــه یــې ډېــر خونــد ورکــړ، د بازمحمد له خبرو داسې ښکارېدله چې ښه ساعتیری سړی و، زړه کــې کوم ارمان او خیری نه پرېږدي. دوی سره موږ خپل ګپ ته دوام ورکاوه، چې باوري ګروپ یو درجن (دشیطان غوږونه دې کاڼــه وي) راننــووت، ټولو ما او غریب سره ستړي مه شي وکړل، باوري صیب راته ټول معرفي کړل،هغوی لا وخته خپله کمره راوړې وه، تر چای څښلو وروسته یې له ما څخه هیله وکړه، چې یادګاري عکسونه ورسره واخلم، ټولو سره مې عکسونه واخیستل، ماهم په خپلې کمرې عکسونه واخیستل، دخدای په فضل ښه بشاش او ځیرکه هلکان معلومېدل. باوري صیب تــه مــې وویل: ته خو ډېر دیموکرات یې، دوی څنګه دي؟ اندر کنټرول دي کــه نه؟ هغه وویل: بېخي اندر کنټرول دي. ما ویل نه ټول باوریان دي که نه؟ ده وویل بې له شکه. څو شېبې نور هم ناست وو، د بل سفرترتیبات مو نیول، پر دې وخت ډاکټر وزیري راته په کاغذ کې تاو کړي یو څه راکړل، ویې ویل: زماله خوا تاسو ته یوه کوچنۍ ډالۍ، ما ویل حاجت یې نه شته، هغه ډېر ټینګار وکړ، په لاره کې مې چې ښېرته کړه، نو یو قلم پــه کــې و،یوه داسې بوڅخکۍ(بټوه) چې پیسې او نور ویزیټ کارتونه پــه کــې اېښودل کېږي.

# د هالنډ پر لوري

د مارچ (۱۹)مه نېټه وه، د مازيگر څلور بجې وې، چې د باوري صيب له کوره ووتلو، باوري صيب ډېر ټينگار وکړ، چې د هغه لوی موټر ځــان سره يوسو، خو موږ وويل: بل موټر نه پکارېږي، همدا سم دی. هغه وويل: نور مجاهدين هم راسره ملگري کېږي، موږ وويل: هر چېرته چې تعداد زيات شو، بيا به هلته گورو، غريب صيب ورته وويل: ستا هغه خو موټر نه دی، هغه خو ژرنده ده، هغه خو، لکه د ژرندې ناوې په شان تېل خوري، باوري صيب وويل: په همدې خاطر خو مې دادی د تېلو ټانک جوړ کړی، غريب صيب وويل: ته خو به نو ښه گټه وکړې!؟ باوري صيب ته مو وويل: بالا نور ټينگار مه کوه، رابالاکېږه چې ځو، باوري صيب هم راپورته شو، موږ وويل: څه يو ځل له کوره اجازه راواخله،! هغه وويل: زه درتــه څــه دومره بې جرئته ښکاره شوم، زه خو څه غريب نه يــم، زه بــاوري يــم، غريب صيب وويل: بېشکه باوري صيب، باوري صيب وويل: ډېره بخښه غواړم، مقصد مې ته نه وې هغه بل غريب و، پر دې وخت ټولو وخندل او غريب صيب موټر ته پښه ورکړه. ترڅو کيلومټرو مزله وروســته بــاوري صيب وويل: صبر چې زه احمدزي صيب ته ټلېفون وکړم، چــې چېرتــه دی، ټلېفون رخ شو، هغه وويل: زه  په اورگاډي کې يم، يوه ساعت کې به

در ورسېږم، باوري صیب لا وار دمخه ورسره په بروکسل کې داورګاډي عمومي سټیشن ادرس ټاکلی و، نجیب احمدزی او باوري صیب خو په بلجیم کې دومره بلد دی، چې په کابل کې هم نه دي بلد،نو موږ ترهمغه ځایه همدومره وخت درلود، چې پر خپل وخت وروروسېږو. غریب صیب ښه د مزې مزل کاوه، د معمول په شان باران ورېده، خو هلته بارانونــه دموټر سفر ته مزاحمت نه پېښوي، ځکه هلته هر وخــت بــاران وري او سړکونه یې داسې جوړ کړي، چې څاڅکی اوبه په کــې نــه ایســارېږي، شاخوا ټولې سیمې یې داسې پاکې وینځلې وې، چې د سړي مینه پرې راتله،باوري صیب ته مې وویل: دا ځای به ښکلی وي که دهراود، هغــه وویل: ددی ځای خلک چې هلته لاړ شي او دهغه ځای دلتــه، نــو بیــا دهراود ښکلی کېږي او دا ځای بیا همغه شان کېږي. د بــاوري صــیب مقصد دا و، چې وطن زموږ ښکلی دی، خو دخلکو مو مزه نه شته، خپل وطن خپله ورانوي او خپل ځان خپله خرابوي، ما باوري صیب ته وویل: زموږ په کلي کې یو سړی و، چا ورڅخه پوښتنه وکړه، چــې څنګــه ده ګوزاره مو؟ هغه ورته په ځواب کــې وویــل: چــې پــلار مــو ژونــدی و ((ګورزان)) (ګوزاره) مو ښه نه و، خو چې پلار مو مړ شو، نو ((ګورزان)) مو ښه شو، یانې داچې فساد یې ټول په پلار کــې و، زمــوږ وطــن هــم همداسې دی. که اولادونه یې د سړي زامن شي، نو رښتیا چــې جنــت نشان به وي. باوري صیب ته مې وویــل چــې کــه مشــر مــلا صــیب ((امیرالمومنین)) دې دلته راوستی وای، چې هم یې داخلک سم کړي

وای او هم دا باران ودرولی وای او یا دې خلکو هغه سم کــړی وای نــو څنگه به و؟ هغه ټوکو کې وویل: د ملا صیب د اصلاح نور ځایونــه هــم شته، خو... دې کې ټولو وخندل. غریب صیب لاره لنډوله، پاو باندې یو




ساعت مزل به موکړی وي، چې مقصود منزل ته ورسېدو، د ریل گاډي دا عمومي تمځای د بروکسل ښار په منځ کې دی، کلــه چــې غریــب صیب موټر ودروه، نو پر احمدزي صیب د باوري صیب سترگې ولگېدې، ویې ویل هغه دی مجاهد ولاړ دی. د مجاهد اصطلاح کلــه کلــه زمــوږ ملگري یو بل ته کاروي، کله کله په اصلي مانا، خو اکثره وخت په مجازي مانا، د مجاهدینو په اول پړاو کې یو قومنــدان د ننگرهــار پوهنتــون د ریاست پر څوکۍ ناست و، هغه وخت د جهاد کیسه ډېره گرمــه وه، ده سره یو زیات شمېر نور مجاهدین هم، دده په خپل امر پرته له دې، چې

د پوهنتون قانوني مراحل تېر کړي، مقرر شوي وو، په پوهنتون کې لــه پوهيالي نه نيولې تر تر پوهاند پورې، دبېلابېلو رشتو پخواني استادان پر تدريس بوخت وو، که څه هم دا استادان اکثره بې طرفه وو، خــو دوی ټولو ته د کمونيستانو په سترګه کتل، نوي مقرر شوي مجاهدين په تقرر کې له دوی سره مساوي شول، خو په اول کې د پوهنتــون ددې نــوي ريئس علمي رتبو ته پام نه و، نو کله چې يــې دېتــه پــام شــو، خپــل مجاهدين يې ټول راوغوښتل او ورته يې وويل: کله چې په پوهنتون کې يو بل سره مخامخېدلئ، نو په لوړ غږ به پر يو بل غږ کوئ او وايئ به چې: ((پوهاند صيب په خير)) چې کمونيستان يې واووري او دا فکر ونه کړي، چې په مجاهدينو کې (( پوهاند)) نه شته، نو زموږ يو شــمېر فرهنګــي جهادي او ناجهادي انډيوالان هم دا اصطلاح کله کله په همــدې مانــا کاروي. زموږ يو انډيوال وويل: موږ ځکه ټول مجاهدين يو، چې مجاهد په لغت کې هغه چاته وايي، چې زيات زيار و زحمت کاږي، هڅه او هاند کوي او موږ ټول دا کارونه کوو. بل حقيقي مجاهدين غلا نه کوي او نه بد فعلونه او دا ټول خصوصيات موږ کې شته، د تنظيمونو د پاټکيــانو تــر جهاده خو زموږ جهاد زرچنده ښه دی.

د احمدزي صيب هم پر مــوږ ســترګې ولګېــدې، دوه پلاســتيکي کڅوړې يې په لاس کې وې، يوه کې يې خپلې جامې وې او يوه کې څه د خوراک شيان. کڅوړې يې د موټر ترڅنګ کېښودې او موږ هر يوه ته يې

غېږ راکړه، ټولو وخندل، ومو ویل چې اوس نو څلور یاران (چار یار) پوره شول، کله چې موټر کې کېناستو، نو د څلورو یارانو کیسه مې نورو درې یارانو ته وکړه: په ننګرهار کې یو سپین ږیری دی، ښه چالاکه، خو ډېـر غوړه مال دی، هغه چې د هر زورور غوړه مالي کوي، نو د هغه لپاره یــو وجه شبه پیداکوي، یوه ورځ یې د قومندان حاجي حضــرت علــي پــه ستاینه کې وویل: (( دا چې د حاجي نــوم حضــرت علــي دی، دا څــه تصادفي خبره نه ده، حضرت علي د رسول د خدای څلورم یار دی او دا چې څلورم یار دی دا هم څه تصادف نه ده، وګورئ اسماني کتابونه څلور دي، د پیغمبر صیب یاران څلور دي، دنیا څلور کونجه ده، د کټ بازوګان څلور دي، په اسلام کې د ښځو وروستی حد څلور دی او داسې نور...)) دی دومره ماهر و، چې د خپلې هر ستاینې تر شا یې څلور پنځه داسې پاخه عددي دلایل ایښودل، چې نه یوازې خپل موصوف یې تېر ایسته، بلکې نور خلک یې هم تر تاثیر لاندې راوستلای شول.

نو موږ څلور یاران هم پر همدې ځای پوره شو، باوري صیب وویــل: راځئ لومړی بروکسل کې لړ وګرځو، بیا به ځو. د بروکسل د لیدلو څــو لارې کوځې یې راباندې وکتلې، څو یادګاري عکسونه مــو واخیســتل، بروکسل د ناټو سیاسي مرکز دی، له اقتصادي او سیاســي پلــوه ډېـر اهمیت لري، د ښار په منځ کې دنګې ودانۍ د بلجیم د پرمختګ، قوت او عظمت ښکارندویي کوي. احمدزي صیب لا په کڅوړه کې بسکټ، چپس

او جوس راوړي وو، هغه مو هم په موټر کې په ارامه وخــوړل او غریــب صیب ته مو وویل: نور نو کش ورکړه، ساعت ته چې مو وکتل، نو پنځــه بجې وې. باوري صیب وویل: ایله یوولس دولس بجــې ورســېږو. ټولــو کمربندونه، چې غریب صیب ورته ملاتړ وایي، وتړل او مخ پر هالنډ مــو حرکت وکړ. دا مزل نو ټول په شپه کې و او له باران سره ملګری، که څه هم هلته د شپې او ورځې توپیر نه کېږي، خو بیا هم شــپه داســې وي، چې تر سړک لرې ودانیو او طبیعي منظرو لیدنه ممکنه نه وي، یــوازې کوم ځای کې، چې رڼا څراغونه لګېدلي وي، هغه کتلای شې، نور نو څه نه ښکاري، په تېره بیا، چې شپه هم باراني وي او شېبه په شېبه باران د موټر ښیښې لمدوي او د باندې ځای د لیدو مانع ګرځي.

دلته نو د بهرني سیل پر ځای موږ دېته ښه وزګار شو، چې خپل ګپ ته دوام ورکړو، کله خو به مو دومره وخندل، چې غریب صیب ته به مو وویل: ته احتیاط کوه، چې نن سخته دنده درپه غاړه ده، د مرګ او ژوند پر پوله ولاړ یې، موټر نو همداسې په ۱۳۰ او ۱۴۰ کې روان و، باران هم زور لګولی و، شپه توپاني غوندې وه، احمدزي صیب هغه د وکیل شینواري مثال را په یاد کړ، چې  په یوه باراني او توپاني شپه له چک جمهوریــت څخه جرمني ته په ګړندي ګاډي کې یوازې راروان شوی و، دړېوري یې خپله کوله، څرنګه چې هغه په تن چاغ نه دی او همېشه په کې جــامې ازادې وي، نو څه د موټر قوت او څه هم د باد قوت، موټر یې په دومــره

سرعت روان کړی و، چې ترافیکو ته دی هم نه ښکارېده، نو ځکه په جي پي ایس کې اعلان راغی، چې له چک څخه یو موټر له ډرېـور پرتـه را اوښتی او ډرېور هم په کې نه شته، نو ډېر احتیاط ورڅخه کـوئ او لـه ټکره یې ځان ژغورئ. غریب صیب ته مو وویل: ته هم ګوره احتیاط کوه، چې تاپسې هم داسې اعلان رانه شي، چې څلور غریبان راوتي او توپان پسې اخیستي. غریب صیب احمدزي ته وویل: ته خو غرېږه مـه چـې ((راچخه خرابېږي))، ((ماچخه خرابېږي)) یوه کیسه لري، تېر کال مـا (یون) غریب صیب، انځور صیب، احمدزي صیب او ډاکټر شېرولي ته یو ځای دا کیسه هغه وخت کړې وه، چې زه د جرمني ګارمېش ته راغلـی وم او دوی ټول ما پسې هلته راغلي وو او زه یې ځان سره فرانکفورت ته بوتلم، پر لاره مو ډېر ګپ ولګاوه او دا کیسه مې هم ورته وکړه، د لغمان په محلي لهجه کې د ((راڅخه)) پر ځای ((راچخه)) کارول کېږي. کیسه داسې وه، چې: ((یو وخت یو لغماني ملا د یوې لـرې سـیمې پـه یـوه مدرسه کې مدرس یا د مدرسې منتظم شو، مدرسه له طالبانو ډکه وه، کله چې دا ملا دلته دېره شو، نو پر همغه شپه د طالبانو تېښته شـروع شوه، دوه میاشتې لا وتې نه وې، چې مدرسه له طالبانو تشـه شـوه، د کلي خلکو چې دا حالت له نږدې څاره، سره جرګه شول او مـلا پسـې لاړل، ملا ته یې وویل: ملا صیب دا څه خبره ده، دلته چې موږ هر مـلا دېره کړی، نو مدرسه له طالبانو ډکه شوې. ملا صیب یـو دوره طالبـان فارغ کړي، د فضیلت پګړۍ یې ورته په سر کړي، بیا نو کـه پـه خپلـه

خوښه تللی، تللی دی که نه موږ څوک نه دي رخصت کړي؟ خو ته چې راغلې مدرسه په تشېدو ده، پنځه طالبان هم په کې پاتې نه دي. علت يې څه دی؟ ملا ته چې خپل عیب او کمزوري معلوم وو او د مدرسې د تشېدو مسولیت يې هم نه شو منلای، نو خلکو ته يې ورو وویل: (( مــا چخه خرابېږي))، نو هغه وخت مو هم د لغماني ملا د مسولیت نه منلو دې مهارت ته ډېر وخندل او غریب صیب چې یو ځل بیا رایاده کړه، نو بیا مو وخندل، په هغه ځل خو موږ دوه شپې یوځــای پــاتې شــو، خــو احمدزي صیب تر اخره د غریب صیب له لاسه خبره ونه کړه، نــه یــې سیاسي خبرو ته پرېښوده او نه هم ادبي خبرو ته، غریب صیب دا هــم وویل، چې دا ټوکه زما ملکیت دی او زه يې چاته د استعمال حق هم نه ورکوم، ځکه چې لومړی ځل ما خبره کړې، ان لندن کې يې ډاکتر طارق رشاد ته ټلېفون وکړ، چې خبردار دا ټوکه زما ملکیت دی، نو دا ځل يې بیا ماته وویل چې کومه نوې ټوکه نه شته، ما ویل یوه ګریس بند شته، هغه د ((وهلو)) او ((نه وهلو)) فعل د استعمال په باب ده، چې کله د قهر او کله د خندا پر وخت د سړي فکر نه وي او یوه د بلې پر ځای کاروي، دلته د ((وهلو)) کلمه ((دنه وهلو)) او ((نه وهلو)) کلمه د ((وهلو)) مانا ورکوي، مانا يې سرچپه کېږي، د استعمال پر وخت ورته د چا فکــر نــه کېږي، خو لږ وروسته ورته سړی متوجه کېږي، په دې برخه کې مې ورته د ((ګل اغا شېرزي))، د کامې ((د مولوي صیب عبدالشکور))، د کونړ ((د وکیل هاشم مشوانی)) د یوه شینواري او دره نوري درې څلــور نــورې

بېلابېلې بېلگې راوړې، دوی تر دې حده وخندل، چې له سترگو یې اوښکې راغلې، هغه ټوکې د کاغذ پر مخ د لیکلو نه دي، که نه نو ستاسې تشي به هم ورته له خندا نه شنه شي، باوري صیب، غریب صیب ته وویل، چې موټر ودروه چې نور طاقت نه شم کولای، غریب صیب چې خندا شین کړی و او ټوخی هم ورغلی و، یو دم وویل: صبر صبر غوږ شئ یون صیب چې هغه تېر کال راغلی و، هغه ټوکه ما ونیوله او احمدزي صیب افسوس وکړ، کاشکې ما نیولی وای چې غریب ته مې هر وخت یادولای، دا دی زه له دې نوې ټوکې تېر، دا ټوکه دې د احمدزي صیب وي، دې سره موږ ټولو بیا دومره وخندل، چې پخوانۍ خندا مو له یاده ووته. ځکه دا ټوکه بیا د احمدزي صیب پر ضد تمامېدله، نه یوازې د احمدزي پرضد وه، بلکې پر پورته یاد شوو کسانو باندې، چې دا ټوکه عملاً تېره شوې، ټولو ته په زیان تمامه شوې ده.

د خندا څپه چې لږ شان غلې شوه، نو احمدزي صیب وویل: زمانه سرچپه شوه، ((ملگری)) لا گوره او دومره چالاکه، دومره چې چالاکه وئ، پاچاهي به درنه تله نه. ((ملگري)) اصطلاح څخه د احمدزي صیب هدف د غریب صیب پخوانی سیاسي بگراونډ و، پر دې وخت باوري صیب وویل: ملگری نه دی، میداني دی میداني، نه دې دي اورېدلي صد لغماني یک پغماني، صد پغماني یک میداني! دا همغه میداني دی، اوس میدان وردگ والا ډېر چالاکه شوي دي. دې کې بیا ټولو وخندل. ما ویل

**دا اوس هسې مشهوره شوې خبره ده، چا په واقعیت کې ازمویلي نه ده، چې رښتیا هم داسې ده که نه؟**

**دوی وویل څنګه؟ ماویل زه چې لغمان ته ګورم او بیا دې نورو سیمو ته ((ډېر تفاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ)) دا سمه ده چې اوس د لغمان په انډول د نورو سیمو خلک په کمپیوټر او تخنیکپوهنه کې ډېر رسېدلي او ډېر هوښیار شوي هم دي، خو بیا هم (نقل هېڅکله د اصل مطابق نه وي.) سره له دې چې په ځینو مکتوبونو کې کله کله لیکــي: ((نقل مطابق اصل است)) پروفیسور امین صــیب ګــپ لګــوي وایــي: ((لغمانیان هغه وخت هوښیار وو، چې کونړي ســادګان وو، اوس چـــې کونړي بیدار شوي لغماني یې ګرد ته هم نه رسي.)) د امین صــیب دې خبرې هغه وخت مصداق پیدا کړ، چې زموږ له لغمان څخه یو ســرتمبه سړی چې په هر څه کې به یې جنجال کاوه، یو څو کاله دمخه په کــونړ کې واکمن شو. په کونړ کې له ماشومه نیولې تر قومي مخوره ټولو سره یې د لاس او خولې جنګ وکړ، په هر څه کې بــه یــې جنجــال کــاوه، کونړیانو به ویل: ((لغمان او داسې سرتمبه سړی، دا خو والله که جوړېږي، عقل یې نه مني)) خو د خدای کارونه دي، هغه سړی له دندې ګوښه شو او کونړیانو ایله دمه ووهله، کال لا وتی نه و، چې له کونړه یو سړی پــه لغمان چارواکي شو، دده د سرتمبګۍ درجه، په کونړ کې تر هغه لغماني واکمنه څو درجې اوچته وه، ده د جنګ او سرتمبګۍ تر څنګ ســتغې**

سپورې هم کولې، خو لنډه دا چې خلک يې په ډېره کمه موده کې تــر پوزې راوستل، د دواړو واکمنو په سرتمبگۍ کې هېڅ شک نه و، خو يو مثبت او ګډ خصوصيت يې دا و، چې دواړو هېڅ لمونځ نه قضا کاوه. يوه ورځ په ننګرهار پوهنتون کې د يوه کونړي او يوه لغماني محصل ترمنځ د شعور پر مسايلو همداسې بحث وشو، لغماني کونړي ته وويل: کونړوا ډېر هوښيار شوي ياستئ، يو کال مو هم موږ ته صبر ونه کــړ؛ يــو ســرتمبه واکمن مو درلېږلی و کال لا نه و پوره شوی، چې يو بــل ســرتمبه مــو راولېږه او له موږه مو په يوه کال کې خپل غچ واخيست. دوی چــې دا دواړه واکمن صاحبان پېژندل، نو سخت يې ورته وخندل، پر دې وخت باوري صيب وويل: د کونړو کيسه خو دې وکړه، د ميدانو هغه دې ونــه کړه. ما وويل: يوه ورځ ډاکتر صيب فاروق وردګ راته په ټوکو ټوکو کــې وويل: اوس هغه پخواني لغمانيان پاتې نه دي، چې په هر څه کې به يې پر موږه چل کاوه او موږ يې هوښياری تــه تســليم وو، اوس ډېــرو خلکــو ځانونه ورسول، اوس زموږ وردګو ستاسې ځای نيولی دی، دا وردګ چې ګورې پوهنځي يې لوستي، کمپيوټر باندې پوهېږي، ژبې يې زده کــړي، هر ځای ته چې لاړ شې دوی په کې ناست وي، دا ټول د وردګو د پوهې او زيارکښۍ نښه ده. ما وويل: ډاکتر صيب دا ټولې خبــرې درســره مــنم، وردګ پر ما تر لغمانيو هم ډېرګران ځکه دي،چې په پښتونولۍ کې ډېر ټينګ دي،زه چې کله دپوهنځي په ټولګي کې پوښتنه وکړم،چــې څــوک دکــوم ولايت دي،نونيم ټولګی لاسونه پورته کړي، چې موږ د ميدان وردګو يو،

نو دې کې زما زړه باغ باغ شي او دا هیله مې هم په زړه کې وګرځي، چې کاشکې ټول افغانان د وردګو په شان تعلیم ته مخه کړي، خو تر کومه ځایه چې خبره د چل، هنر، مهارت او محیطي پوهې ده، دې کې د انځور صیب په اصطلاح لږ تامل په کار دی. وردګ صیب ته مې وویل: داسې نه کېږي، چې ته له میدان وردګو یو ډاکتر راولې او د لغمان له یوه نالوستي بزګر سره یې پرتله کړې، داسې به وکړو، چې ته له میـدان وردګـو یـو ډاکتر او یو بزګر او زه به له لغمان څخه یو ډاکتر او یو بزګر راولم دواړه به سره کېنوو ګپ و شپ به سره ولګوي، دې کې ډاکتر صـیب وردګ پـه خندا شو ویې ویل: ((نه نو دې کې خو یې تاسې ګټئ، تاسـې چالاکـه یاستئ چل کوئ!)) ما ویل چل به څنګه نه کوو، لغمان کې هره خبره په چل شروع کېږي، ان که سړی هم مړ شوی وي، دوی داسې نه وایي چې څه خبره یا څه پېښه ده؟ دوی وایي: ((څنګه چل دی)) تر سلام دمخه هم وایي څنګه چل دی تر سلام وروسته هم. په لغمان کې سهار نه تـر غرمې پورې خلک وایي: ((څنګه چل دی)) او تر غرمې وروسته بیا وایي: (( نور څنګه چل دی)) ډاکتر صیب وردګ راته وویل: بس منو دې، دې چلونو ته تسلیم یو. باوري صیب چې وایي، صد لغماني یک پغمـاني او صد پغماني یک میداني، ددې لپاره کوم مستند دلیل نه شته، هر کله که غریب صیب او یا نورو میدانیو ((لغمان چل)) پر ((میدان چل)) بدل کړ، بیا یې نو منو.دې کې بیا ټولو وخندل، باوري صیب وویل: باور مـې نـه شي.

موږ په ټوله لاره همدا ټوکې وکړې، یوازې یو ځای کې یې په جرمني کې موټر د څو دقیقو لپاره ودروه، چې خپلې پښې وغوړو، دا د جرمني هغه سیمه ده، چې ډېر زیات انګور په کې کېـږي او دوی ورڅخــه ډول ډول مشروبات جوړوي، خو د شپې دا باغونه نه ښکارېدل. د سړک پـر غاړو اوږدې توږل شوې یا صیقل شوې تېږې لګېدلې وې، غریب صیب وویل: دا یوه تیږه تر دې ځایه دوی ته نږدې لس یورو تمامېږي، ما ویـل کاشکې موږ سره یې سرحد لرلای، څومره تیږې، چې یې پـه کـار وې ورکړې به مو وې، زموږ ځمکه د غرونو له وزن څخه نوره سترې شــوې ده.

زموږ مجلس لا ګرم روان و، چې باوري صیب وویل: موږ نــور نـږدې شوي یو، خو اول باید شور صیب، چې مخکې مو وعده ورسره کړې وه راواخلو او بیا د مجبور صیب کور ته ورشو، د مجبور صیب کــور شــور صیب ته معلوم دی. د شور صیب کور ته ورسېدو، مخې ته یې یو لــوی پارک دی، چې ونو پوښلی، د ده کور په دویم پوړ کې دی، مخې ته یــې سړک دی، ده لکه چې تیار سړک څاره، موږ یې چې ولیدو، نو راکښته شو، ډېر ټینګ ست یې وکړ، خو موږ وویل، لکه څنګه چــې خبــر یــې مجبور صیب سره مو وعده ده، نو هلته ځو، دی مو هم ځان سره راپورته کړ، نور نو په موټر کې ټول سیټونه پوره شول، شور صیب ته مې په موټر کې وویل: ست خو دې ټینګ وکړ، خو ماته هغه د یوه لغماني ست راپه یاد شو، ده وویل: څنګه دې ست کې به هم څه چل و؟ ما وویل خود یو چل خو په کې دی، چل یې دا و: زموږ په کلي کې یــو ســړی دی، ډېــر هوښیار دی. غریب صیب وویل: دا خو نو د تعجب خبره نه ده، کــه دې

**ویلای وای چې کم عقل دی نو بیا د تعجب خبره وه، شور صیب وویــل: کیسه کوه! ما وویل: دا سړی سره له دې چې ډېر هوښیار دی، خو ډېــر شوم هم دی. دی وایي که غواړې چې مېلمه له سره تېره کړې یانې تېر یې باسي، نو داسې یو چل وکړه، چې ست د (نه) او (هو) پر جملې پایته ورسوه، دا ست ظاهراً ډېر ټینګ دی، خو په حقیقت کې ډېــر سســت، ټینګ په دې دی، چې که ته مېلمه ته ووایې: (که هر څومره درته ټینګ شم نه پاتې کېږې؟) نو دلته د (ټینګ) په کلمه مېلمه خوشالېږي، چې والله دومره ټینګ ست راته کوي، خو مېلمــه هېڅکلــه دا اخلاقــي او کلتوري جرئت نه لري، چې ووایي: ((هو))، د کلتــوري دود دســتور او فشار له مخې مېلمه مجبور دی په ((نه)) ځواب درکړي، نو په دې ډول به دې هم ټینګ ست کړی وي او هم په واقعیت کې سست، مېلمه دې هم رخصت کړ او نتیجه هم. ستا په ګټه تمامه شوه ، دې کې یو ځل بیا ټولو وخندل، شور صیب وویل، دېته لا زموږ هېڅ پام نه وو، زموږ کونړي چې دې حد ته رسېږي، نو لغماني به چېرته رســېدلي وي. دا دې والله عجب چل راوښوده، موږ خو چې مېلمه راشي وار له واره ورته تسلیم یو. همدې ګپ و شپ کې د مجبور صیب کور ته ورننږدې شو.**

## یوه شپه د مجبور صیب په کور کې:**د مارچ (۱۹)مه پر**

**(۲۰)مه شپه وه، د شپې یوولس بجې وې، چې په هالنــډ کــې د علــي محمد مجبور صیب کور ته ورسېدو. مجبور صیب د کونړ یو قومي مخور او د افغانستان د پولیسو یو ښه کدر دی. شور صیب ته د مجبور صیب کور ځکه معلوم و، چې هم یې سیمه وال دی او هم یې د طبعې ملګری**

دی. مجبور صیب په هالنډ کې دوه کوره لري، خو موږ یې چې کوم کور ته ورتلو، هغه هم شور صیب ته معلوم و، مجبور صیب نن دا کور ټــول موږ ته وزګار کړی و، یو اوږد څلور منزله تعمیر و، چې کېدی شــي پــه سوونو کورونه په کې وو، دویم پوړ ته یې ورپورته شو، زموږ لــه راتــګ څخه په هالنډ کې یو شمېر نور افغانان هم خبر شوي وو او ځینــو تــه مجبور صیب بلنه ورکړې وه. ډاکتر عبدالصبور،ډاکتر نصیراحمد ودرګ، عبدالله احسان او ځینو نورو لیکوالو ملګرو هم تشــریف راوړی و، تــر ستړي مشي وروسته، چې څنګه کېناستو او ټول یو بل ته معرفي شو، نو له معمول سره سم له لاسه یو چاشنۍ ګرم سیاسي بحث شروع شو، خو دا بحث داسې په ټوکو کې و، چــې چنــدان جــدي نــه برېښــېده، پــر ((جهادي)) او ((الحادي)) لیکو ووېشل شو او هر چا خپلــه پلــه درنــه ښودله، لږه شېبه وروسته ډوډۍ تیاره شوه او دا سیاسي لړۍ یــې لــه زیاتې ګرمېدا څخه وژغورله. مجبور صیب هم داسې ډوډۍ کړې وه، لکه موږ سره چې کوم لښکر راغلی وي او ښه تاریخي وږي یو. د تاریخي وږو په اړه له صالح محمد زیري څخه یو روایــت دی، کلــه چــې خلکیــان کامیاب شول، نو په کرغېږ کې د اوومې فرقې قومندانۍ د ګوند مشرتابه او نورو مهمو غړو ته ډوډۍ کړې وه، دا مېلمستیا دومره لوکسه وه، چې ډېرو رابلل شویو اول ځل لیدله، پر مېزونو ډول ډول مېوې او طعامونــه خواره وو، زېري چې د مېز له بر سر نه تر کوز سر پــورې لــه ډول ډول خوراکونو ډک مېز تر سترګو تېر کړ، نو پر څوکیــو ناســتو او ډوډۍ تــه

منتظرو ملګرو یې غږ کړ: (( د تاریخ وړو خورئ همدا مو وخت دی...)) نو مجبور صیب هم موږ ته همداسې یو اوږدو دسترخوان غــوړولی و، لــه ډول ډول طعامونو پور او مامور و. زه چې هر چېرته پښتنو کره لاړ شم او هغوی په ډوډۍ کې ډېر لګښت کړی وي، نو زه وایم په دې لګښت خو یو دوه کتابونه چاپېدلای شول. زه او لعل پاچا ازمون یو ځل په پېښور کې د ډاکتر کریم باز دوی  په کور کې مېلمانه وو، ډاکتر صیب کریم باز د خپلې موسسې ملګرو ته ډوډۍ کړې وه، زه او ازمون یې هــم بللــي وو، هغــه ډوډۍ هم ډېره لوکسه وه او ډېر لګښت پرې شوې و، ما اوسېله وکــړه، خو ازمون ورو ډاکتر صیب کریم باز ته وویل: په دې خو یو دوه کتابونــه هم چاپېدلای شول...! سره له دې چې مجبــور صــیب اوس اقتصــادي مشکل نه لري، خدای(ج) ښه نېک صالح زامن او لمسیان ورکړي دي، ټول کار کوي او خپل ژوند یې ښه منظم جوړ کړی، خو بیا هم زه د زیات اصراف مخالف یم. کله چې مو ډوډۍ وخوړه، نو بیا څو دقیقې وروسته چای راغی، د چای پر وخت مجبور صیب ټولو راغلو دوستانو ته وویــل: اوس به یون څخه هیله وکړو، چې موږ ته د هېواد د حــالاتو پــه بــاب معلومات راکړي، ځکه دی هلته د حوادثو په منځ کې دی، هر څه ویني او ښه یې تحلیلوي، نو ښه به وي، چې دی موږ ته معلومات راکړي، ټولو له ما څخه هیله وکړه، ما په پیل کې له کوربه مجبور صیب او نورو ټولو اندېوالانو څخه مننه وکړه، چې په دې مصروفه ټولنه کې یې بیــا هــم دومره وخت پیدا کړ، چې دلته راشي او یو بل سره خپل نظریات شریک

کړو. د هېواد د حالاتو په اړه تاسو ټول ښه پوهېږئ، هر څه درمعلوم دي، رسنیو ته تر موږ ډېر لاسرسی لرئ، زه به داسې څه ونه لرم، چې تاسو پرې خبر نه یاست، یوازې ځینې هغه مسایل دي، چې لا هم رسنیو ته نه رسېږي، کېدی شي پر هغو لنډ بحث وکړو، په دې مسایلو کې هم ډېرې خبرې د تشویش وړ دي، د هیله مندۍ ځینې خبرې هم شته، چې کـه هغه هم تعقیب نه شي، نو کېدی شي پر نهیلۍ بدلې شي. د هیله مندۍ خبرې خو دادي، چې افغانستان ته د نړۍ پام را اوښـتی او د افغانـانو لپاره یو طلایي چانس دی، د همدې نړیوالو د پاملرنې له کبله هلتـه د حکومت اساسات کېښودل شول، په زرګونو ښوونځي جوړ شـول، پـه سلګونو روغتونونه او کلنیکونه ودان شول، سړکونه پاخه شول، د هېواد ولایتونه له مرکز او یو بل سره وصل شول، د ټولنیزوسازمانو،سیاسـي ګوندونو او ډله ییزو رسنیو قانون جوړ شو، د بیان ازادي تر یـوه حـده رامنځته شوه، خو لنډه دا چې یو زیات شمېر مثبت کارونه ترسره شول، خو اساسي مشکل دا دی، چې په افغانستان کې سیاسي عدالت تامین نه شو. هلته عدالت د مصلحت قرباني شو او سوله هم د سازش پر ستنو ولاړه ده. هر کله چې ځینو ډلو ته د امتیاز کچه ټیټه شـي، پـه همغـه اندازه دې کاواکې سولې ته زیان رسي، تر څو چې سوله په طبیعي ډول د عدالت پر بنسټ رامنځته نه شي، دا ډول سولې دایمي اساس نه لري. ما په دې بحث کې په افغانستان کې شـوي پرمختګونـه او راتلـونکي احتمالي ګواښونه څومره، چې زما ذهن کار کاوه تشریح کړل، دا بحـث

**ډېر اوږد شو او د شپې تر ناوخته روان و. لږ چې فرصت برابر شو، نو ګران ورور عبدالله احسان راغی او ویې ویل استاده! اوس نو زه غواړم تاسو**



شور صیب، مجبور صیب، یون، غریب صیب او یار صیب

**سره یوه ځانګړې مرکه وکړم، زما هیله ده ځینې معلومات ځان سره خوندي کړم، ازاد بحث خو هسې هم د هوا څپو ته ځي او څه تـرې نـه پاتې کېږي.**

**عبدالله احسان زموږ یو ډېر ځوان تکړه ژورنالیست، لیکوال، پر هېواد او خلکو، ملي کلتور او ژبې داسې یو اورنی مین دی که موږ دده په شان نور ډېر ځوانان لرلای، نو بیا خو د پښتنو او پښتو هېڅ غم نه و. په هالنډ کې هم زده کړې کوي، هم کار کوي او هم فرهنګـي مبـارزه، مخکې یې د بېنوا وېبسایټ په چلولو کې کارنده ونډه درلوده، خو اوس د لرو بر افغانستان وېبپاڼه په ډېر ښکلي ډول چلوي. سره له دې چې ما ورسره له نږدې نه ډېر نه دي لیدلي، خو زړه کې راباندې ډېر ګران دی،**

ګران خو راباندې ځکه دی، چې پښتني فرهنګ ته کار کول او پښتنو ته خدمت کول د زړه وینې خوراک دی. زه چې په خپل وطن کې په ډېــره مینه د دې د خدمت په لټه کې یم او تراوسه مې ډېر ناڅیز فرهنګي کار ترسره کړی، نو ماته ددې فرهنګي کار ستونزې او کړلېچونه معلوم دي، نو عبدالله احسان چې په پردي وطن کې دی، د مهاجرت، مســافرۍ او تنګلاسۍ په سختو حالاتو کې دومره ستر ستر فرهنګي کارونه ترســره کوي، نو پرده به څومره تکلیفونه راغلي وي، څومره به یې ځــان ســره ژړلي وي، څومره به یې خپلې اوښکې له غیرته ځان سره ټینګې کــړې وي او څومره به د خپل ولس پر مظلومیت دردېدلی وي، د داسې کارونو پر قدر هغه څوک پوهېږي، چې خپله د همدې بهیر یو لاروی وي.

عبدالله احسان خپل ټیپ او کمره عیار کړل، ویل یې استاده! ډېرې پوښتنې کوم، خو کومې پوښتنې چې ستا دولتي موقف ته زیان رسوي، هغه پوښتنې نه کوم. ما ویل څه چې دې زړه غواړي هغه پوښتنې وکړه، زړه کې دې ارمان مه پرېږده، زه داسې دولتي سړی نه یم، چې دولتــي مقام پورې تړلی یم، مقام ما پورې تړلی دی. که دولت کې یم که نه یم، لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم. احسان صیب وویل: چې داسې ده، نو خیر زه به ټولې پوښتنې وکړم، تاسو چې ځوابونه راکړل، بیا زه ګورم که ځینې داسې مسایل په کې راغلل، چې ستا دولتي موقف تــه زیــان رسوي، هغه به ترې حذف کړم، ما ویل زه به ټول شیان درته ووایم، که د

ځینو واقعیاتو بیان ګټور او ضرور و، نو خپاره یې کړه، زما د دولتي موقف کیسه کې مه اوسه، د واقعیتونو بیان مهم دی، نه د موقفونــو ســاتنه. احسان صیب ډېرې زیاتې پوښتنې وکړې، چې د ټولو راوړل یــې دلتــه ضرور نه ګڼم، ځکه یو اوږد بحث ترې جوړېږي. خو یوه پوښتنه په کې دا وه: اوسني حکومت کې د لیاقت اصل په پام کې نیول شوی که نه؟ زما ځواب دا و: که مطلق ووایم چې هوا، نو هم سمه نه ده ځکه تر لیاقته د مصلحت اصل ته ډېره توجه شوې، زورواکي اوس هم په دولتي چارو کې د ویتو حق لري، خو له دې مضر مصلحت سره سره بیا هم پر یو زیــات شمېر دولتي څوکیو د لیاقت پر اســاس کادرونــه ګورمــال شــوي او لا ګومارل کېږي، که چېرې په افغانستان کې سیاسي عدالت تامین شوی وای، نړیوالې ټولنې د خپلو ګټو په خاطر د یو شمېر کورنیو جګړه مارو زیات ملاتړ نه وای کړی، هغــوی یــې خــلاص لاس نــه وای پرېښــي او همدارنګه یو شمېر لوړ پوړو دولتي چارواکو د مضر مصــلحت او مضــر احتیاط څخه کار نه وای اخیستی، نو کېدی شول د لیاقت اصل زیــات قوت موندلای وای.

د عبدالله احسان په پوښتنو کې یــوه پوښــتنه دا وه: پــه اوســني حکومت کې د قومي او سیمه ییز ترکیب توازن او تناسب څنګه دی؟

ما وویل: په دې برخه کې نو عدالت بېخي تر پښو لاندې شوی دی. نه یوازې د افغانستان په تاریخ، بلکې د نړۍ د هېڅ هېواد په تــاریخ کــې

داسې یو بد حالت نه دی راغلی، چې (۶۵) سلنه خلک په حکومت کې (۲۵) او (۱۲-۱۵) سلنه خلک دې (۶۶) سلنه ونډه ولري او هغه هم په داسې حالت کې چې هم یې د حکومت اساسي رګونه او مقامونه نیولي وي، هم نا راضه وي او هم د خپل ((مظلومیت)) چغې وهــي. مــا ورتــه وویل: د جمهوري ریاست د چارو ادارې لوی ریاست یوه سروې کړې او د دولتي پوستونو پر بنسټ یې قومي او سیمه ییزې ونډه په حکومت کې څرګنده کړې ده. ددې شــمېرنې او ارزونــې لــه مخــې اوس (۶۶،۶٪) تاجکان، (۲۵،۳٪) پښتانه، (۴،۳٪) هزاره ګان او پاتې نور قومونــه پــه حکومت کې ونډه لري. له سیمه ییز پلوه د ننګرهار او هرات دوو لویــو ولایتونو مجموعي ونډه د حکومت په مهمو پوستونو کــې د پنجشــېر سیمې له ونډې سره معادل ده.

که ددې شمېرنې متن ته متوجه شو، نو واقعیت تر دې هم تریخ دی، په دې (۲۵،۳) سلنه پښتنو کې بیا ځینې پښتانه داسې دي نه یوازې دا چې پښتون احساس نه لري، بلکــې پښــتو یــې هــم زده نــه ده. ددې ترڅنګ یو شمېر داسې پښتانه هم په دې سلنه کې شامل دي، چې د جمعیت تنظیم غړي دي او یا د هغو له خوا معرفي شوي. نو په دې وجه په واقعیت کې د پښتنو ونډه په حکومت کې د اغېز له پلوه پــه نشــت حساب ده. دا چې څو تنه د وزارتونو په راس کې پښــتانه ښــکاري، دا ددې قوم استازي نه شي کولای. زما او د احسان مرکه ډېره اوږده شوه،

نورو ټولو دوستانو ورته غوږ نیولی و. په پای کې د احسان یوه پوښتنه دا وه، چې خیر نو حل لاره څه ده؟ ما وویل: حل لارې خو شته، یوه حــل لاره خو دا ده، چې پښتانه باید یو قوي مستحکم سیاسي تشکل جــوړ کړي. تر هغه وروسته له دنیا سره د تفاهم ژبه پیدا کړي، کله چې یې د دنیا له خطره ځان وژغوره، نو بیا دې په هېواد کې اقتصادي پرمختګ ته زیات پام وکړي، څومره چې د پښتنو اقتصادي حالت ښه شي، په همغه اندازه  د دوی د ټولنیز شعور کچه اوچتېږي او بله اساسي خبــره داده، چې پښتنو کې یو کلتوري انقلاب وشي، څو چې پښتون لوستی نه شي او تحصیل ونه کړي، له دې تربورولۍ، ګوندۍ او قبیلویت څخه نه شـــي راوتلی. البته کلتوري انقلاب یو اوږد مزل دی، خو اوس چې کوم شـــی عاجل او ژر تاثیر ښندي، هغه میډیا یا رسنۍ دي، په رسنیو کې بیا هم راډیو او ټلویزیون، ځکه چې دا داســې وســیلې دي، چــې لوســتي او نالوستي ټول ترې ګټه اخیستلای شي. موږ څو فرهنګیانو خو په کابــل کې د ((ژوندون)) په نوم د یوه ټلویزیــون د جوړولــو تکــل کــړی دی، خدای(ج) دې وکړي، چې نتیجه ورکړي. زموږ دا مشکل اوس یوازې یوه هیله ده، کېدی شي په جوړولو کې یې ډېرې ستونزې وي او ډېر وخــت پرې ولګي. عبدالله احسان سره مو مرکه پای ته ورسوله، خو پــر نــورو دوستانو د ((ژوندون راډیو ټلویزیون)) نوم ډېر ښه ولګېد، ټول پــه دې نظر وو، تر هغه چې موږ د فریاد اوچتولو وسیله پیدا نــه کــړو او خپــل

مظلومیت چاته څرګند نه کړای شو، نوموړ له دې غضبه نه خلاصــېږو، مجلس مو یو څه نور هم اوږد کړ

خبره د شپې څلورو بجو ته نږدې کېدله، مجبور صیب وویل: شپه به جوړه کړو، خو زه مې دې وراره ګل یون صیب، سره یو څو دقیقې ځانته


مجبور صیب او یون

کېنم، مجبور صیب سره یو څو دقیقې نور هم کېناستو، د کور د ټولــو غړو او وړو پوښته یې وکړه، په تېره بیا د خپــل ملګــري (زمــا خســر) ډګروال عبدالله خان محمدي. بیا یې راته وویــل: کــه کــور کــې څــه اقتصادي مشکلات وي راته یې induced وایه، موږ شکر دی، د خدای فضل دی، هلکان کار کوي، ژوند مو ډېر ښه دی. ما ویل ډېره مننه، هر څه پرېمان دي، د کور خرچه مو کمه ده او عایدات مو زیات دي، دې ته تشویش مه کوه، خدای دې افغانستان جوړ کړي، چې موږ په کې روحاً ارام شو، څو

دقیقې وروسته مجبور صیب ټولو ملګرو ته وویل: شپه به جــوړه کــړو، سبا پر چای به بیا خپل مجلس کوو. مجبور صیب ته مو وویل: سبا چای موږ بل چا سره وعده ایښې، نو ځکه چای درسره نه څښو، که هغه هــر څومره ټینګار کاوه، خو موږ وویل: نه حتمي ځو.

## له ولسوال صیب سره یو سبا ناری:له مجبور صیب څخه مو

خدای پاماني واخیسته، ځینې ملګري شپې تر شــپې تللــي وو، شــور صیب هم موږ سره پاتې خو دایې ویل چې موږ ته، چې کله ډنمارک تــه تللۍ، نو یوځل به دوی کره ځو، بیا به له هغه ځایه ځو. نو موږ پنځه یاران (غریب صیب، باوري صیب، احمدزی صیب، شور صیب او زه یون) پاتې وو. په موټر کې کېناستو او د ولسوال صیب د کور پر لوري مو حرکــت وکړ، پنځه لس شل دقیقې وروسته هلته ورسېدو، د ولسوال صیب کور د اوږده څلور پوړیز تعمیر په دویم پوړ کې واقع دی. یوې خــوا تــه یــې سړک او بلې خواته یې د اوبو یو نهر ښکارېده، چې غالباً طبیعي بــه و. ولسوال صیب موږ ته تود هرکلی ووایه، څو تنه نور دوستان هم راغلي وو، عبدالرشید جلیلي صیب یې هم رابللی و، کله چې کوټې ته ننوتو، نو پر غوړېدلي دسترخوان مو سترګې ولګېدلې چې هماغه د ملایــانو پــه اصطلاح ((طعامونه وو لذیز چې پرې هموار وو هرې خواته!)) ولســوال صیب ته مو وویل: موږ څه ختېګر او یا نهالګر درته ښکارېږو که څنګه، دا دومره شیان چاته زور ښیې که څنګه؟ ولسوال صیب هم لکه د مجبور

صیب په شان لاس کې ازاد دی، د خلکیانو پر وخت د خوست د لـویې ولسوالۍ ولسوال و، له کورنۍ پلوه هم ښه اباد دی، د له چلنــده یــې د مرښت ښه اندازه لګي، یو ځل بل هم چې زه هالنډ ته راغلی وم، نو زموږ یې ډېر عزت کړی و، دا ځل یې نو خبره ښېخي تر هغې هم اړولې وه، دی ځکه په ولسوال مشهور دی، چې ده یو وخت په خوست کې ولسوالي کړې وه، د ولسوال صیب نوم سیداحمد همدرد دی، خــو دوســتان او انډیوالان یې ورته د ولسوال خطاب کوي. زموږ ټولنه همداسې ده، چې یو وخت هر چا کوم کار کړی وي، هغه د وظیفې نوم ورپورې پاتې کېږي. تورن اسمعیل خان ځانته د (امیر) لقب ورکړ او ستر جنرالي رتبه هــم ورته استاد رباني ورکړه، خو بیا هم خلک ورته تورن اسمعیل وایي، یــو وخت به په خبرونو کې دا هم راتلــل: ســتر جنــرال تــورن اســمعیل. همداسې د کندهار سرکاتب عطامحمدهم درواخله، چې حکمتیار ورته ستر جنرالي ورکړه، خو په خبرونو کې به راتلل ستر جنــرال ســرکاتب عطامحمد. د طالبانو د امارت یو مولوي و، نوم یې صــدراعظم و، بیــا د ننګرهار ولایت کفالت ور پر غاړه شو، نو په خبرونو کې بــه راتلــل: ((د ننګرهار ولایت کفیل مولوي صــداعظم)) د دې ډول ترکیــب درې واړه برخې (کفیل، مولوي، صدراعظم) ټول رتبه یي نومونه دي، د سړي نوم په کې نه شته او همداسې نور ډېر مثالونه. خو ولسوال صیب چې پر کوم وخت په کوم شکل ولسوالي کړې، نو ښه په نره یې کړې او ښه په خرپ

یې کړې ده. اوس چې ولسوال هم نه دی، واک و ځواک یې تر ولسوال لوړ دی.

ولسوال صیب موږ ته یوازې د سباناري ویلي وو، چې لغمانیان ورته (سمناری) وایي خو ترتیبات یې د غرمې ډوډۍ په شان وو. کله چې مو پر خوراک او څښاک پیل وکړ، نو طبعاً سیاسي خبرې ورســره شــروع شوې، لومړۍ خبرې جلیلي صــیب پیــل کــړې، عبدالرشــیدجلیلي د



احمدزی صیب، غریب صیب، جلیلي صیب، یون، شور صیب، ولسوال صیب، یار صیب

خلکیانو د واکمنۍ پر وخت د کرنې او ځمکو اصلاحاتو، بیا د پوهنې وزیر او همدارنګه د کابل پوهنتون د رییس په توګه دندې ترسره کــړي. پــر افغانستان باندې له شوروي یرغل سره سم یانې ۱۳۵۸ل کال د جدي تر (۶)مې نېټې وروسته سم لاسي زنداني شــو او د ډاکتــر نجیــب الله د واکمنۍ پر وروستیو وختونو له بنده خوشې شو، نږدې لس کاله زنــدان

یې وګاله، اوس (( د افغانستان د ملي یووالي ګوند)) په نامه د یوه ګوند مشري پرغاړه، شاعري هم کوي او د شعرونو یوه ټولګه یې هـم چـاپ شوې ده. جلیلي صیب په خپلو خبرو کې لومړۍ همدا پوښتنه مطـرح کړه او ویې ویل: څه به کېږي اینده کې؟ زه ورته والله ډېر په تشویش کې یم! دا کرزی څه کوي؟ دا حالات خو والله ډېر خراب دي؟ یون صیب ته په کې څه وایې؟ ما ویل رښتیا هم حالات د تشویش وړ دي، که چېـرې کوم تدبیر ورته ونه نیول شي، نو تر دې هم خرابېږي،

همغه اشتباهات چې په پیل کې وشول، اوس هم دوام لري. پـر دې وخت جلیلي صیب وویل: زه انتخاباتو ته ډېر په تشویش کې یم پښتانه به دوه درې کاندیدان ولري، جلالي، خلیل زاد او کرزی صیب او د هغوی به یو وي، پښتانه به ټوټه ټوټه شي. ما ویل همدا تشویش ټولو سره دی، خو که تر انتخاباتو دمخه له پوهو پښتنو څخه یوه ثالثه جرګه جوړه شي او دا جرګه له بېلابېلو کاندیدانو سره خبرې وکړي او د کاندیدانو شمېر راکم کړي، نو دا خطر به یو څه رفع شي، جلیلي صیب او نـورو ناســتو دوستانو زما دا نظر تائید کړ، ولسوال صیب وویل: خو شروع یې کړئ که نه همدا یې وخت دی، زه خو په ځاني لحاظ هرې قربانۍ ته تیار یم، له ما څخه چې په هر ځای کې کار اخیستل کېږي، ماته امر وکړئ د یوه افغان په توګه هرې منډې ته حاضر یم. مجلس همداسې روان و، چـا د تېـرو نظامونو پر نیمګړتیاو نیوکه وکړه، ولسوال صیب ډېر احساسـاتي شــو، سره له دې چې هغه هم د خلک ګوند غړی و، نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین ته ډېر وفادار و، خو یوازې یې په تره کي نیوکه وکړه، چې که ده دا اشتباهات نه وای کړي، نو ولې به حالت دې حد ته رســېده، غریـب

صیب باندې د هغه دا انتقاد، چې د امین ننګه په کې وه او د تــره کــې غندنه، چندان ښه ونه لګېده، عکس العمل یې وښود، خو ولسوال صیب ژر ببړته بېښنه وغوښته او فضا بېرته سړه شوه، ماخبره تــاوه کــړه، مــا وویل: اوس باید پر داسې مسایلو فکر وکړو، چې اوسني مشکلات رفع او دفع کړي، پر ماضي به وخت نه ضایع کوو، مجلس پر همدې خوراک او سیاسي بحثونو وغځېده. خو دې کې احمدزي صیب وویل: د ولســوال صیب دې کور ودان وي ډېر زحمت یې ګاللی و، اوس نو که اجــازه وي، موږ ځو د ډنمارک پر لوري، ډېر مزل دی، اجازه به واخلو! ولسوال صیب ډېر ټینګ شو، چې غرمې ته حتماً پاتې شئ، دلته نور ډېر دوستان دي، هغوی ټول به دعوت کړو، یون صیب چې وګوري ډېر زیات خوشالېږي، ښه بنډار به وکړو، خو د ټولو ملګرو ټینګار و، چې ځو. ولسوال صــیب، جلیلي صیب او نور دوستان موږ سره د موټر تر پارکینګه راغلل، خدای پاماني مو ورڅخه واخیسته او د شور صیب د کور پر لوري رهي شو، شل پنځه ویشت دقیقې مزل به مو کړی وي، چې د شــور صــیب کــور تــه ورسېدو، هغه ته مو وویل: کالي مالي دې راواخله ژر راځه چې ځو، هغه وویل: مجاهدینو! چې یوه پیاله چای ونه څښئ نه شئ تللای، ما ویل څه همغه د لغماني ست وکړه، چې هم ټینګ وي، هم سست، موږ ته قبول دی، موږ به د (نه) ځواب درکړو او ستا غاړه به هم خلاصــه شــي، کــه کونړي ځان له لغمانو سره برابروي، نو همدا یې وخت دی. شور صــیب وویل: موږ چې دې حالت ته رسېږو، نو لغماني به کوم حالت ته رسېدلي وي؟ ډېر ټینګ شو، والله که رانه لاړ شئ، په زوره یې کور ته پورته کړو، یو څو شېبې ورسره کېناستو، د کور ټول غړي یې کومې مېلمستیا تــه تللي وو، احمدزي صیب ورته وویل: څکه دې داسې ټینګ ســت وکــړ، وریندار نه شته که نه نو ته خو موږ ته معلوم یې، شــور صــیب وویــل:

خورئ څه شی چې خورئ نن زما پاچاهي ده، یوه شېبه مـو ښــه ګــپ ولګاوه، شور صیب نو یو سور کړی چرګ هم په کڅوړه کې ځای پر ځای کړ، خپل سفري بکس یې راواخیست او په موټر کې سره منظم شو. شور صیب ته مو وویل: ته مخکې کېنه چې په لاره کې د جي پي ایس کار هم ورکړې. په موټر کې منظم شو او د ډنمارک پر لوري مو حرکت وکړ.

# د ډنمارک پر لوري

کله چې موږ ټول یاران په موټر کې ځای پر ځای شو، نو د ډنمارک پر لوري مو حرکت وکړ، یوه د خیر دعا مو وکړه، ساعت ته مو وکتلې، پـر سیمه ییز وخت یوولس بجې وې، غریب صیب وویل: که لاره کـې څـه خاص مشکل پیدا نه شي، نو نږدې لسو ساعتونو کې رسـېږو، یـانې د شپې یوولس دولس بجې، موږ ویل جي پي ایس دې فعـال کـړه، هغـه وویل: دا دی فعال دی بالا، موږ ویل څه بل جي پي ایـس هـم درسـره مخکې ناست دی (شور صیب). دې کې بیا ټولو وخندل، هوا هم سړه وه، باران هم ورېده، تر ماښامه خو مو په اسانۍ سره مزل وکړ، ځکـه څـو کیلو متره لا نه وو تللي، چې جي پي ایس هم لاره او هم وخت راته پـه ګوته کړل. نږدې یوولس سوه کیلو متره واټن و او د اوسني سرعت پـه پام کې نیولو سره لس ساعته وخت لګېده. دا مهال غریب صیب بیـا د سیاست په ګېر کې خبره ورواچوله، ده وویل: دا غریب هېوادونه بېچاره ګان هسې د قربانۍ ګډوري دي، د دنیا ټول ځواک اصلاً د نړۍ څو سوه کسانو سره دی چې اسرایل په کې اساسي نقش لري، خو په راس کې یې د انګلستان ملکه ده. دا چې امریکایان اوس په افغانسـتان کـې ولـې جنګېږي؟ ولې خپل عسکر وژني او ولې موږ افغانان وژني، دا د دوی یو

ضرورت دی او دوی د خپلو ستراتیژیکو ګټو لپاره په خپلو عسکرو هم بندو واز نه دي، پاتې خو لا زموږ په خلکو. دا مهال باوري صـیب ورتــه وویل: ښه نو ته د هغو درې سوه کسانو خبره کوې، چې دا ټول فساد د هغو په زړه کې دی، ښه کیسه کوه، غریب صیب وویل: یو کتاب چــاپ شوی، نوم یې دی: (( درې سوه کسیزه کمېټه)) دا کتاب په انګلیســي ژبه دی، ممکن په نورو ژبو هم چاپ شوی وي، خو ما یې فارسي مــتن لوستی، دا کتاب چې ته ولولې، نو عجیب و غریب منطق سره به مخامخ شې، په دې کتاب کې د نړۍ د اوسنیو اصلي واکمنو یانې د پردې تر شا واکمنو له څېرو څخه پرده پورته شوې، په دې درې سوه کسیزه کمېټه کې، د نړۍ لوی پانګه وال، د استخباراتي سازمانونو غړي او ډېر ځیرک سیاستوال شامل دي. دوی کولای شي د امریکا د مشرتابه په شمول د نړۍ په هر ګوټ کې حکومتونه راوپرځوي، واکمن یې بدل کړي او د نړۍ په نقشه کې تغیر راولي. ددې کمېټې چې خوښه نه وي د امریکا جمهور رییس هم نه شي ټاکل کېدی. دا کمېټه خپله یوه ستراتیژي لري، خو هر کال یو ځل خاصه عمومي غونډه لري، چې په هغې کې د کمېټې مهــم غړي ګډون لري، ددې ټولې کمېټې په راس کــې چــې وروســتی واک ورسره دی، هغه د انګلستان ملکه یا شاهي کورنۍ ده، چــې د نــړۍ د سیاست اصلي واک ورسره دی. دا کمېټه داسې پلان او فکر لري، چــې نړۍ باید همېشه کنټرول شي. دوی وایي که بشر خپل سر ته پرېښودل شي، نو ډېر ورانی به رامنځته کړي، د نړۍ بقا به له خطره سره مخ کړي

او هر څه به تباه کړي، دوی وايي د نړۍ منابع په خلاصېدو دي، نو ځکه خو په ځینو ځایونو کې جنګونه او په ځینو کې مرضونه په کار دي، چې په دې ډول د نړۍ د نفوسو د کنټرول مخه ونیول شي. دا کمېټه چې د نړۍ له معتبرینو څخه جوړه ده، وايي د نړۍ ټول خلک باید یو شان ژوند ونه کړي، په همدې خاطر د ځینو خلکو د سواد کچه باید ټیټه وســاتل شي او تقاضا يې راکښته شي، که ټول خلک د پوهې او سواد لوړه کچه ولري، نو هغه څوک، چې اوس لوړ ژوند لري، له هغــو ســره د تســاوي غوښتنه کوي او د نړۍ فعلي منابع ددې جوګه نه دي، چې دا تســاوي رامنځته شي. نو په همدې خاطر دا کمیټه پــه دې کــار کــوي، چـــې د تساوي مخه ونیسي. دا دنیا کې، چې ځینې واړه حکومتونه او اشخاص ځي راځي، دا دوی ته دومره ارزښت نه لري، خو هغه ځایونه چې د نړۍ په سیاست او د بشر په ژوندانه کې مهم رول لري، هلته دوی خپل اغېز شیندي.)) دې کې نو باوري صیب غریب صیب ته وویل: ښه شوه نو بالا چې زموږ سر دې پر خلاص کړ.

احمدزي صیب وویل چې ته يې منې؟ موږ وویل: والله خلک يې وايي نو. پر همدې ته يې منې؟ باندې مو، چې بګراونډ يې ټولو ته معلوم دی، ټولو وخندل. باوري صیب وویل چې اوس به نو درې سوه کسیزه کمیټه پرېږدو، خپلې پنځه کسیزې کمیټې ته به راشو او هغه دا چې غریب دې لارې ته هم ګوري، شور صیب وویل: زه ورسره ناست یم رایه مه وهــه.

همدې بحثونو کې روان وو، چې د ماښام خړې راخورې شوې. موږ چې پر عمومي سړک د ډنمارک پر خوا روان وو، ځان مو باید هغه ځــای یــا بندرځي ته وررسولای وای، چې له هغه ځایه ډنمارک ته کښــتۍ ځــي راځي، کښتۍ فکس ټایم لري، فکر کوم په ساعت کې یوه کښتۍ تېر و بېر کېږي. دا کښتۍ د لسګونو موټرو د لېږد رالېــږد ظرفیــت لــري. ان ځینې داسې کښتۍ هم شته چې ریل ګاډي هم انتقالولای شي.

تر ماښام وروسته نو هوا نوره هم ترخــه شــوه، ســخته واوره وري، هغوی سړکونه داسې جوړ کړي، چې واوره پر سړک ځای نه شي نیولای، د موټرو ګڼه ګوڼه هم داسې وه، چې واوره پر ســړک راټولېــدو تــه نــه پرېږدي او بل هغوی په متواتر ډول د واورې پر وخت پر ســړک بانــدې مالګه پاشي ، د هوا حالت خو هسې هم هغوی ته معلوم وي، نو کله چې واوره کېږي د مالګې موټر لکه د نورو موټرو په شان پر سړک ګرځــي او مالګه پاشي، نو په دې ډول خطر تر ډېره حده کمېږي، خو بیا هم واوره واوره وي او یخ یخ، په دې حالت کې کله کله موټر ټکرېږي، ښوېږي او په لاره کې ګڼه ګوڼه زیاتېږي، ډېر مزل مو وکړ یوځای ته چې ورسېدو، نو په زرګونو موټر روان دي، مانا دا چې یا چېرته ټکر شوی او یا هــم لاره کې څه مشکل دی. د غریب صیب زړه تنګ شو او ویل یې په دې تګ، چې وي، خو درې ورځو کې هم نه شو رسېدلای، جي پي ایس متبادله لاره هم نه ښودله، باوري صیب او شور صیب، چې پر دې لاره ښه بلــد

**وو، غریب صیب ته وویل: همدا لاره سمه ده، اوس به لاره صافه شي، لږه اوسېله وکړه، غریب صیب وویل: ستاسو سر پرې نه خلاصېږي، زه پر یوه بله لاره وځم، شور صیب ورته وویل: بیا چــې ببېرتــه همــدې لارې تــه راوځې، نو پنځوس کیلو متره زیان به دې زغملی وي، خو هغه د هېچــا هم ونه منله، یوې بلې لارې ته یې موټر سیده کړ، تر لسو کیلــو متــرو مزله وروسته له دې عمومي لارې ووتو. پر یوه کلي برابر شو، د موټر تېل هم په خلاصېدو وو، دا چې بیا مو ټانک پیدا کولای شو که نه؟ نو ټولــو وویل راځئ چې ټانکی ډکه کړو، بیا به ګورو، دا نو د غریب صیب کارونه دي، چې څه راباندې کوي. زموږه نظر، چې څو ځله پر دې لاره تللي یو ورته وایو، چې لاره دا ده، دی یې نه مني، موږ به نور څه نه وایو، هر څه چې دی کوي مسولیت یې دده پر غاړه. کلي کې مو له تېلو ټانک څخه ټانکی ډکه کړه. له دې ځایه مو حرکت وکړ، شل کیلو متره مزل به مــو وهلای وي، چې یوې بلې لارې ته سم شو، که څه هم جــي پــي ایــس لارښودنه کوله، چې بندر ته تلونکی لویې لارې ته په دې ډول وګرځــو، خو غریب صیب د جي پي ایس کیسه کې هم نه و، یو ځل دوه یې چې پام شو، هغه ځای ورڅخه تېر شو. هلته چې یو ځل اصلي لاره درڅخه خطا شوه بیا چې ببېرته هغې لارې ته سمېږې، نو مجبور یې لس پنځــه لس کیلو متره فاصله به زغمې، نو دا ځل چې غریب صیب بیا هم غلط شو، نو ټول پرې ډېر په قهر شول، دی هم پوه شو، چې نــور نــو خلــک اوسېله نه لري، موټر یې ببېرته راوګرځوه، یو تېلــو ټانــک، چــې ســوپر**

مارکیټ هر څه ورسره مله وو، هغه ته ودرېدو، له دکانه يې يوه نقشـــه راوکښله، نقشې ته يې کتل، يو لس دقيقې وخت خو همدلته ضايع شو، نو ټولو ورته وويل چې ژر راځه وخت مه ضايع کوه، هغه هټيوال، چـــې زموږ لاس خورولو ته متوجه شو، هغه هم پوه شو، چې ټول مشکل پـــه همدې يوه سړي کې دی، غريب صيب مو په زوره موټر کې کېناوه، ټولو ويل، چې جي پي ايس شته او موږ ټول درسره ناست يو، نو بيا نقشې ته څه ضرورت دی؟ پر دې لاره خو موږ لس شل ځله تللي يو، غريب صيب وويل: تاسې ناحقه ما وارخطا کوئ، تاسې ما خپل فکر ته پرېږدئ او که تاسې فکر کوئ، چې موټر به تاسو ته پرېږدم، خـــو والله کـــه يـــې رانـــه وچلوئ. د موټر چلولو خبره هلته قانوني هم ده، هغه څوک بـــه مـــوټر چلوي، چې بارګين کې يې خپل نوم ليکلی دی او ده ورڅخه په خپـــل تضمين موټر اخيستی دی. که په دې ترڅ کې بل چا موټر وچلوه او څه حادثه پېښه شوه، نو مسوليت يې د موټر اخيستونکي، لومړي چلونکي پر غاړه دی، لايسنس ورڅخه اخلي. همدارنګه که د ډرېورۍ پر مهال چا الکولي څښاک کړی وي اويا يې نشه کوونکي مـــواد کـــارولي وي نـــو د لايسنس تر قيده پورې سخته سزا ورکوي. غريب صيب وويل: دا ځـــل ماته وخت راکړئ، بېرته وګرځېد، شل پنځه ويشت کيلو متره مزل به يې کړی وي، زړه يې هم ښه درزېده، ډېر غلی و، هېڅ چا هم خبرې نه کولې، ټول خفه غوندې وو، چې دې کې د غريب له خولې خبره ووتـــه، دا دی انشاء الله چې بېرته خپلې لارې ته سيده شو، له همغې ځايه چې جـــلا

شوي وو، لږ څه کښته بېرته له دې لويې لارې سره وصل شو. ټولو کــې بېرته وينه وغوړېده او بېرته په رېز راغلل، پر دې وخت احمدزي صيب يوه سياسي خبره وکړه: دا سرتمبګي د غريب صيب عادت ده، نه يوازې ددې غريب، بلکې د ټولو ((ملګرو)) که دوی دا سرتمبګي نه وای کړې، نو ولې به دا ملک دې حالت ته رسېده؟ دا مهال غريب صيب بيا وويل: ((دا ته خو خبرې مه کوه ګوره چې راچخــه خرابېــرې...)) د ((راچخــه خرابېږې)) دا کيسه ټولو ته معلومه وه، نو ځکه ټولو وخندل. سره لــه دې، چې سخته واوره ورېدله خو غريب صيب د موټر سرعت تر (۱۲۰) هېڅ کښته نه کړ.

غريب صيب وويل: کښتۍ ته بايد ضرور ځان ورسوو، که نه نو بيا يو ساعت، ان دوه ساعته به هلته همداسې په موټر کې غلي ناســت يــو، بېرون هم د نانستې ځای نه شته؛ اوس به ماسره خبرې نه کوئ پرېږدئ چې لار ووهم، تر دې وروسته بيا په لاره کې کومه خاصه موانع پيدا نه شوه، يو وخت مو کتل، چې غريب صيب وويل: دغه دی په خير رانږدې شو، موټر د بېړۍ تر سينې پورې غځېدلی سړک ته برابر شو. څو متــره وړاندې د ګمرک غرفې ولاړې وې، د موټر ټکس يې تحويل کړ او موټر د کښتۍ سينې ته ورننوت.

**پاوکم يوساعت په يوه بېړۍ کې:**کله چې بېړۍ ته پورته شو، نو لومړني پوړ کې يې په لسګونو موټر ولاړ وو، په درې څلور ليکــو

کې موټړ په منظم ډول ولاړ وو. دا کښتۍ که څه هم ماته نــوې نــه وه، څکه تېر ځل چې زه (یون)، انځور صیب، ډاکتر شېرولي او نور انډیوالان ډنمارک ته راغلي وو، نو د همدې کښتيو له لارې تللي او راغلي وو، خو دا نننۍ کښتۍ تر هغو هم یو څه لوکسه او لویه وه. یوه زینه دویم، درېیم



باوري صیب، یون او شور صیب

پوړ ته پورته شوې وه، دوی وویل: راځئ چې پورته شو، ما ویل لږ صــبر وکړئ چې لفت پیدا کړو، په هغه کې به پورته شو. لفت مو پیدا کړ، دوی وویل: بېشک چې لغماني يې، دومره ژر هر چېرته بلد شوې، ما ویــل دا عقل خدای(ج) د څه لپاره درکړی دی؟.

دویم پوړ ته پورته شو، خورا لوکسه کښتۍ وه، هوټـل، د انتیکــو او نورو شیانو خرڅلاو پلورنځی و، د ناستې ځای يې درلودل، د موســیقۍ نرۍ نرۍ اواز هم اورېدل کېده، ما ویل راځئ درېیم منزل ته هم پورتــه شو. هلته د مسافرو د ناستې ځای و، د بېړۍ دواړو غاړو ته منظمــې څوکۍ ایښې وې، چې که رڼا وای، نو ټول بحر دې ترې لیدلای شو. پــر

دې وخت شور صیب وویل: راځئ وروستي چت یا تخت بام ته پورته شو. هلته هم وختلو، خو خورا یخني وه څاڅکی څاڅکی باران هم ورېــده، یوازې یو څو شېبې په کې وګرځېدو، توره تیاره وه، نور څه نه ښکارېدل، یوازې د هغو ببرېو رڼاوې ښکارېدې، چې یوه له بلې سره تېروبېر کېدلې. بېرته دویم پوړ ته کښته شو، یخ وهلي وو، احمدزي صیب وویل: کــافي به وڅښو، چې لږ ارام شو. کافي مو وڅښله د یو مېز پر شاوخوا څوکۍ راټولې وې، ټول پر څوکیو کېناستو، پر دې وخت باوري صــیب وویــل: هلته مو چا سره خبره کړې ده که نه؟ غریب صیب وویل: وخت ډېر کم و، ټولو ته مو ونه ویل، یوازې هېواد دوست ته مې وویل چې موږ درځو، خو د شپې ډېر ناوخته درسېږو، نو که تا څوک مناسب ګڼل او نږدې و، دعوت یې کړئ، که نه نو ضرور نه ده، هېواد دوست ماته وویل چې موږ د غونډو لپاره معمولاً یو هال نیسو او هلته ټول فرهنګیان دعوتوو، مــوږ ورته وویل چې دا رسمي او تشریفاتي غونډه نه ده، موږ درځو، تاســو او ځینو نورو ملګرو سره ګورو، د ځینو مسایلو په باب سلا مشوره کوو او بیا بېرته ژر ځو، هېواد دوست صیب ډېر ټینګار وکړ، خو ما ورته وویــل چې وخت کم دی له دې نورو ټولو کارونو څخه تېرېږو او پرته له هغه هم د بېکسیار صیب د شعرونو په باب سبا شپه غونډه جوړېږي، هلته ټول لیکوال ګورو، نو بلې غونډې ته حاجت څه دی؟ نورو اندېوالانو تــه مــو ځکه ونه ویل چې د چا ځای لرې و، څوک په وظیفه کې مصــروف و او څوک هم د ډېرو مېلمنو لپاره شپې ځای نه لري. اوس به یــو ځــل بیــا هېواد دوست صیب ته ټلېفون وکړم، چې د خپل راتــګ احــوال ورتــه ورکړم. غریب صیب ټلېفون وکړ. هېواد دوست صیب ویــل مــوږ درتــه منتظر یو. په کښتۍ کې زموږ وخت ضایع نه شو، کله چې موږه بېړۍ ته

داخل شو، نو یو دوه دقیقې وروسته بېړۍ حرکت وکړ، که تــر همدغــه وخته وروسته راغلي وای، نو بیا به مو تر یوه ساعت زیات انتظار وېسته، غریب صیب وویل: تاسې زما کرامت نه منئ! هسې مو پر مــا هغــومره غالمغال وکړ، ګوره څنګه په فکس ټایم مو راورســولئ. پــر دې وخــت احمدزي صیب ورته وویل: ((غریب سړی یې ته لا د کرامت خبرې کوې، همدا غریبي دې بس ده، د اولیاوو په کارو کې ګوتې مه وهه.)) خبره بیا ټوکو ته واوښته، غریب صیب وویل: هغه د لغماني د فابریکې کیسه بــه درته نه وي یاده؟ ټول غوږ غوږ شول، د لغماني فابریکه یانې څه؟ دټولو زړه و چې غریب دا کیسه ژر ژر شروع کړي، هغه هم خپله غاړه تازه کړه. ویې ویل: ((یو لغمانی و، یوه یې شادي وه، دا یې راوستې وه کابــل تــه! هلته به یې پرې خپل کمالات ښکاره کول او خلکو به ورته د هر کمال په سر پیسې ورکولې، نو ښه کار یې جوړ و، دې وخت کې یو کــابلي ورتــه وویل: ماما دا شادي دې د برق پایې ته پورته کړه او هلته یې ګډه کړه، زه پنځوس افغانۍ درکوم. لغماني شادي ته امر وکړ، چې ور پورتــه شــه او خپل کمال څرګند کړه، هغه چې کله ستنې ته پورته شوه، د برېښنا له مزي سره یې لاس ولګېد، برق ونیوله، لاندې راګوزاره شوه او مړه شوه، نو لغماني په چیغو چیغو شروع وکړه او از برای خــدا، خــدای در بــدر شدم، خاک به سر شدم، درغم او اندو ډوب شدم، بیړی ما غرق شــد، فابریکه ما در ګرفت، ما چه کنیم...)) نو دوی ټولو ډېر زیات وخنــدل ، غریب صیب ته یې وویل: والله ښېشکه چې کاغذ پېچ وه. ما ویل ښه نو زه به هم د غریب صیب د یو سیمه وال یا کلیوال کیسه درته وکړم، تاسو یې خپله پېژنئ نور تفصیل ته ضرورت نه لري، پر دې وخت نــو بــاوري صیب غریب صیب ته وویل: چې بالا نو ټینګ شه ورته! غریب صیب ته

مې وویل اجازه ده، هغه وویل: ورځه پرې  توکل په خدای. ما وویل: ((د غریب صیب یو کلیوال د جهاد پر وخت هېڅ جهاد ته نه ته، ډېر غریب و، یو دی یو یې خر و، خو بله ورځ د مجاهدینو یو قوماندان دی مجبــور کړ، چې جهاد ته لاړ شي، خر یې هم پر ده ډېر ګران و، ځکه یې خر هم ځان سره بوته، جهاد دوام درلود، نو له ورځو یوه ورځ د روسانو الوتکې پورته شوې، د مجاهدینو پر همدې مرکز یې بمبــارد وکــړ، ضــایعات او تلفات زیات وو، کورونه وران شول، انسانان او ځاروي ووژل شول، د ده خر هم په کې ووژل شو. خو د ده سرته په کې زیان ونه رسېده. ســړي جهاد پرېښود او بېرته خپل کلي ته راغی، څــو مــوده وروســته هغــه قوماندان بیا ځواب ورولېږه او سړی یې مرکز ته حاضر کړ، ورته یې وویل: وه وروره ولې تښتېدلی یې، ولې جهاد ته نه راځې؟ هغه ورتــه وویــل: قوماندان صیب دا جهاد جهاد نه دی دا ټوله برادر کشي ده)) دې ((برادر کشۍ)) سره نو باوري صیب، احمدزي صیب، شور صیب او خپله غریب صیب دومره وخندل، چې له سترګو یې اوښکې راغلې، ان په کښتې کې ناست خلک هم موږ ته متوجه شول، ما وویل دا بله کیسه خو به یې لا درته نه کوم، چې د غریب صیب یو کلیوال و، معشوقه یې په لندن کې اوسېدله او دی په کلي کې اوسېده، ده هم یو خر درلود، یــوه ورځ پــه داسې حال کې، چې پر خره سور و یادګاري عکس یــې اخیســتی و، دا عکس یې بیا خپلې معشوقې ته لېږلی و. تر سلامونو وروسته یې ورته تر عکس لاندې یو ویکتور کښلی و؛ مخ پر بره یې اشاره کړې وه او لیکلي یې وو: (( ای! دا پورته زه یم.)) دې سره نو ټولو یو ځل بیــا پــه کــړس وخندل او نور نو ټولو غریب صیب ته وویل: غلی کېنه شل فساده در کې دي او خبرې لا هم ته کوې.باوري صیب وویل: ډېرې خوندورې وې، یوه

بله ګریسبند که وکړې، نو د زړه غوټې به مو اوارې شي: ما ویل یو څوک و د پېغمبرۍ دعوه کړې وه، احمدزي صیب وویل: څوک و د کوم ځای و؟ ما ویل طبعاً د غریب صیب کلیوال و، شور صیب وویل: د څه شي دعوه یې کړې وه؟ ما وویل: د پیغمبرۍ دوی وویل: ژر ژر کیسه کوه چې تلوسه مو زیاته شوه، ما ویل دې سړي چې د پیغمبرۍ دعوه کړې وه، نو طبعاً کلي پر کلي ګرځېده او خلکو ته یې دعوت ورکاوه، یوه ورځ یوه سړي ورڅخه پوښتنه وکړه، چې ته د پیغمبرۍ دعوه کوې، نو کوم دی ستا کتاب چې موږ پرې ایمان راوړو؟ هغه ورته وویل: کتاب نه لرم نوټ ورکوم.)) دې کې نو بیا ټولو دومره وخندل، چې تشي یې ونیول، احمدزي صیب وویل والله چې دا هم ګریسبند وه. د ټوکو ټکالو په همدې څپو کې وو، چې کښتۍ د ډنمارک ګمرک ته برابره شوه، موټر مو عمومي سړک ته برابر کړ، څه کم یو ساعت مزل به مو کړی وي، چې د هېواد دوست صیب کور ته ورسېدو، په لاره کې یوازې یو ځای غلط شو او یو ځای کې لږ ترافیکي ښویېدنه وشوه، نور پر دې لاره ډېر په تکلیف نه شو. څه کم دولس بجې به وې، چې د هېواد دوست صیب کور ته ورسېدو.

## یوه شپه د هېواد دوست صیب په کور کې: د مارچ د

۲۰مې پر ۲۱مې شپې، پر سیمه ییز وخت د شپې دولس بجې وې، د هېواد دوست صیب د کور څنګ ته چې مو کله موټر ودراوه، نو هېواد دوست صیب خپله راووت، تر روغبړ وروسته یې کور ته دعوت کړو، د کور صالون ته چې لاړو، نو ښه متوسط صالون و، شل پنځه ویشت

**کسان په کې ځايېدل، دوه برخې يې درلودلې چې پارټيشن هم په کې جوړېدلی شو، خو اوس ټول يو صالون و. عبدالمالک بېکسيار، عرب شاه چمتو او څو تنه نور ملګري هم راغلي وو، چې ما تر دې وخته نه پېژندل، خو وروسته بيا هېواد دوست صيب رامعرفي کړل. هېواد دوست صيب نو په تشريفاتو کې ډېر مخکې دی. مخکې تر مخکې يې پر يــوه کاغــذ ليکلي وو: ((د هېواد د تکړه ليکوال پوهنمل محمد اسمعيل يون د هــر کلي په وياړ غونډه)) هېواد دوست صيب نو کوټه ښه ګرمه کړې وه، په دېوال کې تياره نصبه بخاری يې، چې لرګي په کې سوزېدل، لا دمخه ښه**



ښاغلی هېواد دوست، محترمه خور هېواد دوست مېرمن او يون

**ګرمه کړې وه، کله چې پر خپلو ځايونو کېناستو، نو هېواد دوست صيب پورته شو، ماته او زما ټولو ملګرو ته يې په داسې لوړو الفاظو هــر کلــی ووايه، چې زه نه غواړم د ځان په هکله د هېواد دوست صيب هغه مينه،**

محبت، لورېينه او لوړه ستاينه دلته بيا تکرار کړم. تــر هرکلــي او ډېــر توصيف وروسته يې د غونډې يو يو برخوال راوپېژانده، بېکسيار صيب، چمتو صيب، عزيز جان خو ټول ما تر هر چــا ښــه پېژنــدل، خــو ددې ترځنګ يې يار ګل خان، انجنير جنت ګل، د هېواد دوست زوم (رحمان ګل توتاخېل) هم او يو څو نور مېلمانه هم راوپېژندل، تر هغه وروسته يې هېواد دوست ګروپ ته بلنه ورکړه چې راشي. زه، هېواد دوست ګروپ، د هېواد دوست صيب د کورنۍ لپاره استعمالوم، د خدای په فضل ټــول داسې رسېدلي او په تول پوره دي، چې حســاب او کتــاب دواړه پــرې کېږي، محترمه خور (فيضه هوسا) خو تر هېواد دوست صيب ځکه د کور په چارو کې راته تکړه ښکاري، چې خپل اولادونه يې په ښه ډول روزلي او که يوازې هېواد دوست صيب ته يې پرې ايښې وای، فکر نه کوم چې خبره د برياليتوب دې حد ته رسېدلې وای.

په پښتنو ليکوالو کې او په عام ډول همغه کسان ډېر کامياب دي او ژوند يې ډېر ښه دی، چې مېرمنې يې تکړه دي، د هر بريالي سړي تر شا د يوې کاميابې مېرمنې لاس وي، هېواد دوست صيب يوه مېرمن، يــوه لور او پنځه زامن لري. د خدای فضل دی د دويمې مېرمنې جرئت، لکه د نورو په شان له ده څخه هم سلب شوی دی. نېکمرغه پښتانه همغــه دي، چې مېرمنې يې باسواده دي. زموږ په کلي کې يو سړی و، د باسواده مېرمنې ډېر شوقي و، خو تر اخره پورې چا ور نه کــړه او پــر بېســواده

واوښت، کله چې په مجلس کې کېني همدا وايي: ((قربان تر باســواده ښځې چې په خپله ښار کې ځانته لاره باسي، زموږ خو نه دي، د ملـــي بس پر څوکې سرچپه کېني، ته به يې يوې خواته بيايې، دا به بلې خوا ته زور کوي، لکه نا بلده غوا...)) هغه اوس هم د لوستې ښځې ارمانجن دی او وايي: ((چې په خوله کې مې يو غاښ هم پاتې نه وي، قسم مـــې ورته کړی، چې يوه باسواده ښځه کوم...)) نــو هېــواد دوســـت صـــيب نېکمرغه دی، چې مېرمن يې د لوړو زده کړو خاونده ده او ده سره ان په فرهنګي چارو کې هم مرسته کوي، د خپلواکۍ جريده هم د وريندارې (فيضه هوسا) په مديريت چاپېږي، هېواد دوست ګروپ:

((سباوون، اجمل ( زرغون) شپون، سمون او پيوستون)) ټول ښه د کار هلکان دي، پر خپل درسونو سربېره د موسيقۍ پر هنر هم پــوهېږي، د يوه ډول، د يوه هرمونيه او د نورو نور هنرونه زده دي. لور يې (ورمه) خو


رحمان ګل توتاخېل، ورمه هېواددوست، يون او سباوون

همدا اوس پر څلورو لویو ژبو، انګلیسي، الماني، اردو او روسي پوهېږي، پښتو او دري یې هسې هم زده دي. (هېواد دوست ګروپ) په اتڼ کــې هم ډېر شهرت لري، کله چې په ډنمارک کې د مهاجرو د ټــولنې او یــا نورې ملي ورځې وي، نو هېواد دوست ګروپ د افغانستان ورځ په کې په ډېره ښه توګه تمثیلوي، په همدې خاطر یې یو ځــل د ګوپنهــاګن لــه ښاروالۍ څخه جایزه هم ترلاسه کړې وه. په کور کې د ناستو ټولو کسانو تر معرفۍ وروسته، هېواد دوســت صــیب ټــول ډوډۍ تــه راوبلــل، د مېلمستون په بل سر کې یې د مېز پر سر د بوفې سیستم برابر کړی و، خورا لوکسه او زیاته ډوډۍ یې تیاره کړې وه، خوندوره خو پــه دې وه، چې ډوډۍ یې وطني وه، وریندارې (فیضه هوسا) ته مو وویل، چې ډېر تکلیف دې ګاللی دی، هغې وویل: نه دا څه خبــره ده، ماتــه یــې ډېــر ناوخته وویل چې یون صیب دوی راځي، زه له څو وظیفې څخه راتللم، ناوخته شو، بیا مې څو سودا کوله، مور ووېل: دا لا ښه دی، چې ناوخته یې درته ویلي دي که نه نور به دې څه پخول؟ ډوډۍ هر چــا ځانتــه را اخیستله او بېرته خپلو ځایونو ته تلل، د ډوډۍ پر سر بېکسیار مانــه د کور د ټولو احوال واخیست، ما وویل: ټول ښه دي، ژوند مو ډېر ښه دی، خو ډېر سرګردانه یو، د هغه ټینګار د همېش په شان دا و، چې ژوند ته ډېره توجه کوه، ژوند داسې نعمت دی، چې بیا نه تکرارېږي، نور هر څه بیا ترلاسه کولای شو، خو ژوند نه شو ترلاسه کولای، دغه راز یــې پــر صحت هم ډېر ټینګار کاوه، ویل یې: د ډېر کار لپاره ښه صحت ته اړتیــا

ده، بېکسیار همېشه زما د ژوند او شخصي امنیت په اړه په تشویش کې وي. زما یو بل ملګری انجنیر محمد سالم وایي: کله چې بي بي ســي او نورې راډیوګانې نیسم او کله چې په کې دا خبر راشي: (( په خواشینۍ سره مې خبر ترلاسه کړی...)) نو تر څو چې د وژل شوي یا د وفات شوي کس نوم اخلي نو زما زړه ډب ډب ډب کوي، چې خدای مه کــړه یــون صیب ته څه نه وي پېښ شوي، ځکه یون که ډېــر دوســتان لــري، نــو مخالفین یې هم ډېر دي، دوستان خو چاته د ژوند خطر نه پېښوي، خو مخالفین هر څه چې له لاسه یې کېږي، هغه کوي.)) نو زما د ژوند په اړه ډېرو ملګرو له هغې جملې نه بېکسیار صیب سره همېشه تشویش وي. تر ډوډۍ وروسته چای راوړل شو، پر دې وخت هېــواد دوســت صــیب وویل: ورونو لیکوالو او فرهنګیانو یون صیب له ډېر لرې ځایه او خپــل وطنه تشریف راوړی، زه له ده څخه هیله کوم، چې د افغانستان د حالاتو په اړه مونږ ته خپل نظر، تحلیل او ارزونه وړاندې کړي. وروسته به طبعــاً مونږ ورڅخه ډېرې پوښتنې لرو او هغه تشویشونه چې مونږ یې د هېواد د حالاتو په اړه لرو، دی به مونږ ته د هغوی په باب ځوابونه راکړي. هېــواد دوست صیب یو ځل بیا ماته بلنه راکړه، خو مخکې تر دې چې خبــرې پیل کړم، چمتو صیب وویل: اول خو زه یون صیب ته ښه راغلاست وایم او بیا زه څو پوښتنې لرم او یوه څه تبصره، هغه به د امریکا غــږ، ازادۍ راډیو او نورو راډیوګانو ته د ټلېفونو پر مهال له معمول سره سم یوه لنډه تبصره کوله او بیا به یې خپله پوښــتنه طــرح کولــه. چمتــو صــیب د

راډیوګانو له لارې خپل ملي مسئولیت او رسالت په ښه ډول ترسره کړی دی. چمتو صیب په حقیقت کې د امیر کروړ په شان و، چې په یو تن به له سلو جنګ اورانو سره جنګېده، دی هم په یوازې ځان په راډیوګانو له سلو ستمیانو سره جنګېدلی دی. د چمتو صیب نظریاتو سره د ناســت خلکو چندان جوړه نه وه، نو غریب صیب ورته وویل: چمتو صیب ته لږ صبر وکړه، چې یون صیب خبرې وکړي، کېدی شي ستاسو سوالونه په کې حل شي او تبصرې ته هم ضرورت پیدا نه شي، خــو چمتــو صــیب وویل: صبر کوه زه خپلې خبرې تکمیلوم، چمتو صیب بیا دوام ورکړ، خو بیا هم د نورو ملګرو اوسېله ورته تنګه شوه، غریب صــیب، احمــدزي صیب ته اشاره وکړه، هغه یې پوه کړ، چې ستا غټ کار به نن دا وي، چې د چمتو صیب تر حده زیاتو تبصرو نه مو خلاص کړې، احمدزي صیب لږ په تونده لهجه ورته وویل: چمتو صیب زه هم پوښتنې لرم، خو ته لږ صبر کوه، چې یو ځل یون صیب خبرې وکړي، کېدی شي د ځینو مسایلو په باب هېڅ خبرو او پوښتنو ته اړتیا پیدا نه شي. پردې وخت چمتو صیب بیا غلی شو، ویل یې سمه ده. ما چې خبرې شروع کړې، چمتو صیب بیا وویل: یوه پوښتنه لرم، پر دې وخت بیا ټول هک پک شــول، احمــدزي صیب ورته وویل: چمتو صیب ته بیا ګوره خبرې اوږدوې که څنګه؟ بس خبره داده چې د یون صیب د خبرو تر پایه زه او ته حق نــه لــرو، چــې خبرې وکړو، کله چې دده خبرې خلاصې شوې اول نوبت ستا دی، چمتو صیب دا ځل هو  وکړه، خو بیا به هم زما د خبرو پر مهال یو ځل کوچ کې

نېغ شو، طاقت به يې نه راته، چمتو خپلــه پــر سیاســي مســایلو ښــه پوهېږي، د خبرو ګوډې دی، پر هر څه يې سر خلاص دی، نو ځکه یــې طاقت نه کېده، خو چې احمدزي صیب ته به يې پام شو، نو ځان به يې غلی کړ. خو ما ژر ژر د افغانستان حالات ورته تشریح کړل، پرمختګونه، نیمګړتیاوې، پرشاتګونه، سیاسي ناعدالتي او نور څه، چې زما ذهن کار کاوه دا مې ټول ورته تشریح کړل. بیا مې دوی ته موقــع ورکــړه، چــې سوالونه وکړي، غریب صیب چمتو صیب ته وویل: اوس نو اول ستا نوبت دی هر څه چې وایې ووایه! چمتو صیب وویل: زما اکثره پوښتنې ځواب شوې، څه شی چې یون صیب وویل، همدا خبرې زما په زړه کــې هــم ګرځېدې، خو دې سره سره يې ځینې پوښتنې او لنډې تبصرې بیا هم وکړې، مخامخ ورته یارګل صیب ناست و، هغه چې خپل ځــان معرفــي کاوه، نو اول يې پر خپل خلکیتوب ټینګار وکړ، بیا يې ځان معرفي کړ او بیا يې نورې پوښتنې طرحه کړې، ورپسې په متواتر ډول هر یو خپلــې پوښتنې طرح کړې، خو د ټولو پوښتنو د اندېښنې مرکزي ټکی دا و، چې افغانستان پر کومه خوا روان دی؟ مثبت لوري ته که منفي خواته! مقصد دا چې ټولو د خپل هېواد په باب اندېښنې او تشویشونه درلودل. خو یوه خبره، چې ټولو ته د خوښۍ وړ وه، هغه دا وه، چې مونږ ورسره د یوه نوي پښتو ټلویزیوني چینل د جوړېدو خبره وکړه. ټولو وویل: مونږ همکــاري کوو او هېواد دوست صیب خو بېخي وویل: زه هملتــه درځــم او شــپږ میاشتې درسره وړیا کار کوم. د دوی دې تشویشونو او پوښتنو په ځواب

کې ما وویل: افغانستان کې پرمختګونه شته خو ددې ترڅنګ تشویشونه هم شته. مثبت پرمختګونه هم ډېر دي؟ د بیا رغونې، نوې جوړونې، ولسواکۍ، د اقتصاد د غوړېدو، د خلکو د ژوند د ښه والي، ښوونې او روزنې، پوځ او نورو برخو کې لازم او مثبت پرمختګونه رامنځته شوي، چې ان په دې دومره لنډه موده کې د افغانستان په ټول تېر تاریخ کې يې ساری نه دی لیدل شوی، خو ډېر تشویشونه او نهیلۍ دادي، چې په سیاسي برخه کې عدالت تر پښو لاندې شوی دی. کومه نسبي سوله، چې اوس ټینګه ده، دا طبیعي نه ده، دا پر یوه لوري د زیات نظامي فشار او بل لوري ته د زیات مادي امتیاز او دولتي څوکیو د ورکړې له امله ټینګه شوې ده، ډېره کاواکه او موقتي بڼه لري، هر کله چې پر یوې خوا نظامي فشار کم شي او پر بله خوا امتیاز بند شي، نو دا سوله همغه وخت له ګواښ او خطر سره مخامخېږي او بېرته له منځه ځي، سوله باید له خپل طبیعي مسیره تېره شي، نو هله کېدی شي دایمي سوله ټینګه شي، افغانستان کې د ګاونډیو هېوادونو د ګټو بېلانس هم برابر نه دی، دوی هم کولای شي، سوله تهدید کړي، او کله چې سوله له منځه لاړه شي، په دې نورو ډګرونو کې، چې کوم پرمختګونه رامنځته شوي دا هم ورڅخه متاثره کېږي او حتی له منځه ځي.

دايمي سوله همغه ده، چې پر خپلو طبيعـــي اساســـاتو ولاړه وي. د نړيوالو ځواکونو لويه اشتباه په پيل کې همدا وه، چې تصنعي سولې ته يې تر عدالته زياته ترجيح ورکړه. يو زيات شمېر جنګسالارانو ته يې په دې خاطر په حکومت کې مهمې څوکۍ ورکړې، چې سولې تــه ګــواښ متوجه نه کړي، که څه هم دلته په ډاګه عدالت تر پښو لاندې شو، خــو دوی عدالت داسې يو ضرورت ګاڼه، چې ټول خلــک يــې پــر بالفعــل ضرورت نه پوهېدل او سوله هغه اړتيــا وه، چـــې هــر چــا همــدا اوس احساسوله، خو حقيقت داسې نه و، خلک حاضر وو، چې د هر چا تېــر جنايتونه وبښي، خو دا په دې کچه نه، چې د دوی پر سر د جنايتکارانو د حاکميت په قيمت تمام شي، بل خپله پخواني جګړه مار د خپل فطرت له مخې، له عادلانه سولې سره مخالف وو، کومې سولې ته يــې چـــې د زيات امتياز په مقابل کې غاړه ايښې وه، هغه هم له دې املــه وه، چـــې دوی خپله يو تنفس ته ضرورت درلود او د هغه امتياز په مقابل کې چې دوی ته ورکړل شوی و، دوی موقتي سولې ته ترجيح ورکوله، هر څوک چې د سولې په بيه په قدرت، واک او امتياز کې ساتل کېږي، هغوی دې ډول ګټورې سولې ته ترجيح ورکوي، همغه وو، چې د افغانستان امنيتي ارګانونه ورو ورو ددې خلکو لاس ته ورغلل، نه يوازې دا چې د امنيت په ټينګښت کې يې ونډه وانخيسته، بلکې په يو زيات شمېر سيمو کې د نا امنۍ سبب شول او همدا راز پــه دولــت کــې د غټــې درغلــۍ لامــل وګرځېدل. په دغسې يو ناعادلانه حالت کې نه د دايمي ســولې هيلــه

کېدی شي او نه هم د یو پاک او شفاف حکومت د استحکام هیله. دوی ټولو زما خبرې تر ډېره حده تائید کړې، خو چمتو صیب د یارګل صیب پر تېر سیاسي بهیر، چې یارګل صیب ته ډېر مقدس ښــکارېده او هغــه پرې ډېر ټینګار کاوه، سخته نیوکه وکړه او هغه هم چمتو صیب ته خپل انقلابي رنګه ځواب ورکړ، خبره ډېره ګرمه شوه، خو موږ یې سوله وکړه او خبره مو پر بله واړوله، زموږ مجلس په داسې حال کې دوام درلــود، چې هېواد دوست صیب وویل: که زړه مو وي، چې یو پنجــه موســیقي وغږوو څنګه به وي؟ ستړیا به مو لږه کمه شي، باوري صیب یې تر ټولو زیات هر کلی وکړ، زه که څه هم د باوري صیب د موسیقۍ پر کمال خبر وم، خو دومره لا نه وم خبر چې د ګل اغا شېرزي په شان په کــې لــوی لاس لري. شېبې وروسته هېواد دوست ګروپ تیار شو. اجمل (زرغون) خپل ډول راواخیست، هرمونیه هم تیاره شوه، اجمل جان ډول او باوري صیب هرمونیې ته کېناستل، داسې په خوند یې څو نغمې وغږولې، لکه سم چې فني هنرمندان وي، باوري ته مې وویل: پر دینداري او شاعرۍ دې خبر وو، پر موسیقۍ هم خو دا دی اوس لا ښه خبر شو، دې کې نــو غریب صیب، شور صیب او احمدزي صیب له باوري څخه هیله وکــړه، چې خپل کمال نور هم څرګند کړي (سندرې ووایي)، باوري صیب غاړه صافه کړه او لکه د هندي هنرمندانو په ادا یې اجازه وغوښته او بیا یې دوه کلاسیک شعرونه چې خورا ښه کمپوز شوي وو، په ترنم کې وویل: څوک چې د موسیقۍ پر هنر پــوهېږي، نــو ښــه خونــد یــې ورڅخــه

اخیستلای شو، البته دا ډول سندرې د خواصو او فرهنگیانو لپاره وي، نه د عوامو لپاره،موږ ډېر خوند ورڅخه واخیست، اجمل جان په خپلــو ورونو کې کشر دی، خو ډېر ښه ډول يې وواهه، د هېواد دوست گــروپ نور غړي هم د موسیقۍ پر نورو الاتو پوهېږي، مانا دا چې له خپل کوره پوره او کره دي.

څو شېبې مو نوره هم موسیقي واورېدله، کله چې ساعت ته متوجه شو، نو د سهار شپږ بجې وې، ټولو وویل: دا خو سهار شو. هېواد دوست صیب وویل: ټولو ته مې د خوب ځایونه جوړ کړي، یوه ســترگه خــوب وکړئ، چې سباته بیا مزلونه دي، بیا به داسې گنگس شئ، چې نه به د خبرو یاست، نه د مزله. د خوب تر بستره له رسېدو ســره ســم خــوب




لاندې کړو، لس لس نیمې بجې به وې، چې هر یو په خپل نوبت سره له

تشنابونو راووت، ځانونه مو تیار کړل، چای مو وڅښه، د هېواد دوســـت صیب د کور مخې ته مو یادګاري عکسونه واخیســـتل، دا کـــور هېـــواد دوست صیب خپل شخصي کور دی، چې په قرضه یې رانیولی، تراوسه یې د قرض زیاته برخه پرې کړې، ماته چې څوک ووایي: کور یې خپـــل دی، نو سخت پرې خوشاله شم، زه وایم څه روحاً خو به په کې ارام وي، پر نن او سبا د ایستلو وېره او رواني ډار خو به ورسره نه وي، په تېره بیا دا چې لیکوال د خپل کور خاوند وي، نو ډېر زیات ورته خوشالېږم، موږ اوس په یوویشتمه پېړۍ او کمپیوټري زمانه کې ژوند کوو، که موږ غواړو له دنیا سره ځان سیال کړو، نو د ژوند ټول ضرورتونه مو باید پوره وي، چې د شننې او څېړنې، تفکر او تجسس قابلیت مو لوړ شي. زه له هغـــه کلاسیک او دودیز میتود سره سخت مخالف یم، چې هر پښتون لیکوال به د شخصي ژوند له پلوه د بدمرغۍ سمبول و، ګرېوان څیرې او ځپلی شلېدلې، دا یې د ځان لپاره ویاړ ګاڼه، موږ اوس له لویو چېلنجونو سره مخامخ یو، پخوانیو ارزښتونو خپل ځای نویو معیارونو او ظرفیتونو تـــه پرې ایښی، اوس زما هغه لیکوال، چې د ژوند چارو د سمبالښت پـــوره وس نه لري، د معاصرو علومو د زده کړې امکان نه پیداکوي او نن چـــې موږ ځان د نویو، معاصرو او تجربه یي علومو په ګاڼه ځان سمبال نه کړو، د منځنیو پېړیو په افتخاراتو او امکاناتو ځان له نـــورو ســـره د ســـیالۍ جوګه کولای نه شو، د ارستو دا خبره کېدی شي پر ځینو خلکو ښه ونه لګي، خو د اندیالو او مفکرو اشخاصو لپاره بې ګټې نه ده، هغه به ویل: ((

موږ باید غلامان ولرو، چې زموږ د ژوند چارې سمبال کړي او موږ تفکر ته وخت پیدا کړو.)) د ارستو په پورته وینا کې د ((غلامانو)) لفظ ستوغ دی، خو زه یې د خپل پښتون افغان لیکوالو لپاره په دې بڼه را اوړم: (( موږ باید ښه اقتصاد ولرو، چې زموږ فکر او تخیل د ژوند په وړو ستونزو کې مصروف او مبتلا نه شي او موږ د لویو کارونو د سرته رسونې لپـاره فکر وکړو)) ما ځو ځله پښتنو لیکوالـو تـه د ژونـد د سمبالښـت او د اقتصاد د ښه والي یادونه او سپارښتنه کړې، خـو ځینـو ((بـې لیکـه لیکوالو)) او بې نوښته دودیزپالو په خپل ناوړه تبسم سره هغه تـه بـل رنګ ورکړی او د پېړیو بدمرغۍ او نتلی حالت یې د پښتنو لیکوالو لـه شان او شخصیت سره مناسب بللی دی. ددې علت دادی، چې دا ډول اشخاص هسې په څو سندرو خپل وخت تېروي او د لویو کارونو مفکوره یې په ذهن کې نه شته، ځکه خو د لویو لیکوالو لپاره ډېرو امکاناتو تـه اړتیا ده، د امریکا یو لوی لیکوال دی، هغه چې کله یو ناول یا داسـتان لیکي، نو په یو بل هېواد کې ځان ته کور رانیسي، ځان ته ارامـه فضـا جوړوي او په ارام فکر خپل اثر لیکي. ددې لیکوال یو اثر تر (۵۰) ملیونو ټوکو هم چاپ شوی دی. دا سمه ده، چې یو شمېر تخلیقي ادبیات ډېر زیات په اقتصاد پورې اړه نه لري، پنځونه یې د لیکـوال د خپـل فکـر زېږنده ده، خو تکثیر او نشر یې هېڅکله هم له اقتصاد پرته ممکن نـه دي. نو هغه دودیزوال چې د هر لیکوال د ژوند پر خړوب یې رخه راځي، په حقیقت کې د ټولې اجتماع د پرمختګ ذهني مخالفین دي، چې پر

خپل همسلکي لیکوال یې ښه ژوند نه صلېږي، نو پر نور ولس بــه یــې څنگه ولورېږي.

نو ځکه خو چې زه د کوم لیکوال ژوند سوکال ووینم، ډېر زیات پرې خوشالېږم. نو هېواد دوست صیب مې څنگه خوښ شو، چې د ژوندانه دې برخې ته هم توجه کړې ده. د هېــواد دوســت صــیب لــه کــوره د بېکسیار د کور پر لوري رهي شو، چې هغه نو بیا د شاعرۍ او فرهنگي قربانۍ ښه مېړنۍ، خو د کورني ژوند د سوکالۍ او اقتصــادي ښــېرازۍ پروړاندې ډېر بې تفاوته دی. څو کاله مخکې چې زه ډنمارک ته ورغلی وم، انځور صیب،ډاکتر شېرولي او ځینې نور اندېوالان ټول سره یوځای وو، نو چې د بېکسیار صیب دوه اتاقیز کور مو وکوت، نو په افغانســتان کې مې د ډېرو لیکوالو په ژوند شکر ووېست، همغه وخت مې ورته وویل: دا کور به ژر خوشې کوې که پیسې درسره نه وي، مورږ به یې وطن کــې درپور کړو، خو دا کور بدل کړه، هغه غیر له دې چې وخاندي نور یې د رد لپاره څه ځواب نه درلود. دا ځل چې زه راغلم، نو بېکسیار سهار وختي د هېواد دوست صیب له کوره تللی و، هغه ته یې ویلي وو، چــې یــون صیب حتماً زمورږ کور ته راوله چې ضرور کار مې ورسره دی.

زه(یون) او نجیب احمدزی صیب له هېواد دوست صیب سره مــوټر کې کېناستو، باوري صیب او شور صیب  له غریب صیب سره کېناستل. پر لاره هېواد دوست صیب په ډنمارک کې د افغانانو د ژونــد پــه بــاب

معلومات راکړل، په تېره بیا د کورنۍ ژوند په باب، هېواد دوست صــیب وویل: که دلته مور او پلار تکړه نه وي، نو اولادونه یې ډېر ژر پردي کېږي دا ډېره بل رقم ټولنه ده. نیم ساعت یا پنځه دېرشو دقیقــو کــې بــه د بېکسیار کور ته رسېدلي یو، موټر یې د کور مخې ته ودروه، خال خــال باران هم و، ما هېواد دوست صیب ته وویل چې کــور یــې مــا لیــدلی ورپورته کېږم نه، دی هم ځان سره راکښته کړه ورته وایه راځه چې ځو! دا وخت مو کتلې چې خپله بېکسیار راکښته شو، ماته یې وویــل: ځــه چې ځو پاس، ما ویل نه ځو دا کور خو ماته معلوم دی، په یوه کوټه هغه



ډاکټر شېرشاه او ملګري

هم په واقعیت کې نیمه کې موږ نه ځایېږو، تر هغې نه خو دا مــوټر هــم لوی دی، هغه په خندا شو ولې ته خبر نه یې چې بل کور مې اخیستی؟ ما ویل نه بابا ته او کور، هډه او ګنې، هغه وویل: والله چې اخیستی مې

دی، همدا ستا له ډاره مې اخیستی دی، ما وویل: چېرته دی؟ ده وویل: د همدې کور ترڅنګ، ټولو انډیوالانو ته مو وویل: ځئ چې ځو، دویم پوړ ته پورته شو، مخکې تر دې چې دده پخواني کور ته لاړ شو، اول دې کور ته دننه شو، دوه اتاقیز، عیناً لکه هغه بل کور نوی رنګ شوی، رنګ یې لا تراوسه وچ شوی هم نه دی د رنګ بوی یې هم همغسې خپرېږي، ما ویل ډېر نوی رنګ شوی، بېکسیار صیب وویل: همدا پرون خلاص شو، همدا ستا په خاطر مې خلاص کړ، ما ویل چې دی راځي، دا ځل نو بیا سخت انتقاد کوي، دا دی کور نور څه وایې؟

ما ویل هغه بل خو دې نه دی خوشی کړی؟ ده ویل: نه بابا، ما ویل بس اوس سمه شوه، څلور کوټې شوې ښه ګوزاره په کې کېږي، دواړه لکه د مکروریانو دوه خونیز کورونه مخامخ وو. بیا دده کور ته وردننه شو، نور انډیوالان هم راغلي وو، ارمان صیب، چمتو صیب، عزیز، زمور خپل ګروپ ټول سره کېناستو، چای مو وڅښه، ګپ شپ مو ولګاوه، بېکسیار ته مو د کور مبارکي ورکړه، ساعت زیات وکم به سره ناست وو. بیا مو د بل پروګرام په باب خبرې پیل کړې.

## د ډاکتر شېرشاه مېلمستیا: راتلونکی پروګرام دا و، چې

ډاکتر شېرشاه هادي موږ ته نن مازیګر مېلمستیا تیاره کړې وه. دا مېلمستیا د کوپنهاګن په یوه هندي رستورانت کې وه. ډاکتر شېرشاه د عبدالمالک بېکسیار ورور دی، په پېښور کې یې زما او د نورو لیکوالو

ډېر خدمتونه کړي دي. هغه سره له دې چې د طب یو ډاکتر دی، خو ډېر




ښه ادبي ذوق او مینه هم لري. په پېښور کې یې لا د طب پوهنځی خلاص کړی نه و، چې ډنمارک ته کډه شو، پر انګلیسي ژبه ښه پوهېده، پر اردو هم پوهېده، پښتو او دري خو یې د لیک او لوست ژبې وې، نو د خپل لیاقت له مخې په ډنمارک کې ډېر ژر بېرته طب پوهنځي کې شامل شو او په ښه ډول یې دا پوهنځی ولوست. په پېښور کې به زه ډېر وخت د شېرشاه څنګ ته ورتلم او ده زما د ژوند او فرهنګي کار لپاره ډېرې اسانتیاوې برابرې کړې وې، بېکسیار په ډنمارک کې اوسېده، خو دلته پېښور کې یې شېرشاه استازي کوله، کله چې دی ډنمارک ته مهاجر شو، نو ما هلته د خپل فرهنګي کار په چارو کې یوه ښکاره ستونزه حس

كړه. اوس چې دی زمونږ له راتګ څخه خبر شوی و، نو د پېښوريانو پـه اصطلاح مونږ ته يې يوه سپېشل مېلمستيا كړې وه. له نــورو انــډيوالانو



ممتاز ارمان او يرن يو بل ته مخامخ

سره هندي رستورانت ته لاړو، ټول به لس دولس تنه كېدلو، څو مېزونه يې مونږ ته مخكې تر مخكې ريزرف كړي وو. ډېره ښه هندي غذا، كباب، چكن كړايي او نور شيان يې راوړل، شېرشاه ډېر زيات خوشاله و او نور انډيوالان هم ټول، د ډوډۍ پر وخت مو دومره ټوكې وكړې، يــو وخــت خندا دومره زور واخيست، شاوخوا ټولو خلكو مونږ ته وكتل، چــې دا لا څه مخلوق دی، زه چې په هوټل كې د ناستو خلكو پر دې نزاكــت پــوه شوم، نو ټولو ته مو ورو وويل: زمونږ په كړس خندا نــورو تــه مزاحمــت پېښوي، بايد لږ احتياط وكړو، چمتو او نورو ملګرو، خو وويل: په كيسه كې يې!؟ هر څوک به خپل كار كوي، ما ويل نه د هوټـل اخــلاق دا نــه

**ایجابوي، د کونړ څو ملګري هم راسره وو، هغوی چې به د کونړیانو پـــه رابطه ګریس بند ټوکې واورېدې نو له سترګو به یې اوښکې لاړې، یو یو نیم ساعت دلته ناست وو، چای مو هم دلته وڅښه، بیا نو ټولو وویل چې د بېکسیار د غونډې وخت رانږدې دی، هلته به لاړ شو.**

**دبېکسیار د شاعرۍ په باب یو ادبي ماښامی: لــه دې هندي هوټل څخه به مو شل دقیقې مزل کړی وي، چې همدې مطلوب ځای ته ورسېدو، دا داسې یو عادي هوټل و، چې په لومړي پوړ کې به یې خلکو چای څښه او په لاندې ځمکتلي یا تکاوۍ کې به یې د ډنمارک د**



د بېکسیارصیب په ویاړ د ادبي غونډې د مشاعرې انانسر

**شاعرانو ټولنې له خوا کله کله د یو شاعر په یاد غونډه جوړېدله، کلــه چې تکاوۍ ته کښته شو، یو خو ډېره وړه وه، د ډېرو کسانو د ځــایونې امکان په کې نه و، بل ډېره ټیټه وه، څو زاړه کوچونه په کې ایښـــي وو،**

ټولو راغلو کسانو ته څوکۍ هم ونه رسېدې، د تکاوۍ چت هم ډېر ټيټ او بدرنګ و، ان تر دې حده چې، لکه کوم سپورت مین له لاندې د پښو ګوزار پرې کړی و، پر چت یې د دواړو بوټانو خاپونه ښــکارېدل، غریــب صیب ته مې وویل: د شاعرانو برخه، لکه چې هر چېرته همداسې خواره وي، تر دې خو مورږ په افغانستان کې ښه یو، چې ځای یې داسې دی نو شاعران به یې څنګه وي؟ هغه ځان سره خندل، دا وخــت یــو څــوک راغی، انانس یې ورکړ، ویل یې دا ځای تنګ دی، پاس پورته ځو، ټــول هلته لاړو، هغه ځای نسبتاً مناسب او د ناستې ځای و، څو شــېبو کــې شاعران راټول شول، ډنمارکي شاعران هــم پــه کــې وو، لــه اروپــایي هېوادونو څخه ځینې نور راغلي افغانان هم په کې وو، د ټولو شمېر به د (۳۵-۴۰) کسانو په شاوخوا کې وو. څو شېبو کې محفل شروع شو. څو ډنمارکۍ، غالباً چې شاعرانې به هم وې، هلته په ډېرې بې تفــاوتۍ پــر ځمکه کېناستې، سګرټ یې هم څکول او کومه خاصه سلیقه یې هم نه لرله، ډېرې ساده پر ځمکه کېناستې. انانسر یې یو ږیر خریلی، د ســرو اوږدو ویښتانو څښتن و. ډېره ساده او بسیط معلومېده، نه یې نکتــایي لرله او نه هم لوکسه دریشي، بس نو لکه چې د شاعرانو عامه خاصه ده، د بد سلیقۍ پرې تمامه وه. هغه راغی په ډنمارکي ژبه یې ښه راغلاست ووایه او د نن ورځې د غونډې موخه یې تشریح کړه. هېواد دوست صیب هم پر دې وخت د غونډې پر جوړښت رڼا واچوله. ډنمــارکي وویــل: دا غونډه زمورږ د ټولنې له خوا د عبدالمالک بېکسیار د شاعرۍ پــه ویــاړ

**جوړه شوې، دی به تاسو ته خپل څو شعرونه د بېلګې په ډول لولي او زه به يې تاسو ته ډنمارکي ترجمه وړاندې کوم. بیا يې له بېکسـیار څخـه هیله وکړه، چې هغه خپل یو یو شعر ولولي. هغـه بـه خپـل یـو شـعر ولوست، همدې ډنمارکي به يې ډنمارکي ژباړه لوستله، هم ډنمارکیانو او هم به موږ ور ته چکچکې کولې. بېکسیار اکثره خپل ازاد شعرونه په کې ولوستل، خو یوه نیمه غزله هم په کې وه، دغه څو عنوانه شعرونه يـې هلته ولوستل:((ژړا- خندا، فصلونه، کډه، خوب، تصویر، برمته او مخـه**




**ښه.)) که څه هم ښکارېده، چې ددې شعرونو ژباړه خپله بېکسیار کړې، نو ځکه يې ډنمارکیان هم د مانا تل ته پرېوتل، خو بیـا هـم د بېلابېلـو کلتورونو توپیر کېدی شي، دوی ته د شعر پوره پوهېدل مشـکل کـړی وي. له بېکسیار پرته ددې شعرونو ژباړه بل چاته اسانه نه وه، یو دا چې**

دی له ډېرو کلونو راهیسې په ډنمارک کې اوسي او پر ډنمارکي ژبه ډېر ښه پوهېږي، بله دا چې دا دده خپل شعرونه وو، د ژباړې پر وخت یـې کېدی شي ښه انډولونه ورته پیدا کړي وي او بل بېکسیار یو مســلکي شاعر او لیکوال دی، د ژباړې پر نزاکتونو هم پوهېږي. خو ماته په کې د ځینو مفهومونو انتقال ځکه سخت ښکارېده، چې دا یوازې زمــوږ پــه ټولنې پورې منحصر دي او نورو ټولنو کې یې بېلگې یا هېڅ شته او یا هم کمې دي، لکه، (( په تناره کې دم کړې وریجې)) په ډنمارکۍ هېڅ نه شته. د کلي خپل افغاني تصویرونه، د سنځل گل شېبې، سنځلې ډېرې




شوې یا کمې، شینشوبي او ځینې نور گڼ مسایل چې ان د افغانستان په ډېرو سیمو کې هم نه شته او د بېکسیار د کوچنیوالي دوران یو کلیوالي تصویر وړاندې کوي. خو بیا هم له دې شعرونو څخه دواړو خواوو خوند واخیست.

مخکې تر دې چې بېکسیار صیب خپل شعرونه ولولي، نو ماته هم بلنه راکړل شوه چې د یوه مېلمه په توګه خبرې وکړم. البته زه د وخت پـر نزاکت پوهېدم، نو ځکه مې ډېرې خبرې ونه کړې، یوازې دومـره مـې وویل: شاعري، سیاسي، مذهبي، جغرافیایي، قومي او نـور بریدونـه او سرحدونه نه مني، د مینې د پیغام لېږدونکـې او د بشـر د پیوسـتون


انجنیر صیب بهرام د سندرو ویلو پر مهال

وسیله ده او د نړۍ د انسانانو ګډه فکري او هنري شتمني ګڼل کېـږي. بېکسیار زما خبرې ژباړلې. تر هغه وروسته بېکسیار صیب خپل شعرونه ولوستل، کله چې شعرونه پای ته ورسېدل، نو انجنیر بهـرام تـه بلنـه ورکړل شوه، چې موسیقي وغږوي.

انجنیر صیب بهرام یو اماتور هنرمند دی، په ډنمارک کې اوسي، خو اصلاً د ننګرهار ولایت دی. هغه خپله ډلـه منظمـه کـړه او پـه خپلـه هرمونیې ته کېناست، خورا په زړه پورې څېره لري او خدای پاک ښه اواز

ورکړی دی، هغه یو ذوقي هنرمند دی، د پیسو لپاره سندرې نه وايي، نو ځکه يې په هنر کې ابتذال نه ښکارېده، خو دې محفل کې يې اکثــره د بېکسيار شعرونه وويل. پر ډنمارکيانو او افغانانو خورا ښه ولګېدل. ټول ورته غوږ وو، يو شعر په کې داسې و:

بـــې غيـــر لـــه تـــا زنـــدګي څـــه زنـــدګي
ژونـــدون بـــې ســـاه زنـــدګي څـــه زنـــدګي
هســـــې يـــو څـــو ګامـــه ژونـــدون لټـــوم
د اروپـــــا زنـــــــدګي څـــــــه زنـــــــدګي

د بېکسيار د شعرونو ترڅنګ يې سيمه ييز سروکي او د ننګرهار په باب څو شعرونه هم سندره کړي وو، په ډېره مسته موسيقۍ يې وويل، يو نيم چې په مجلس کې د ګډا په هنر سمبال و، ځان يې ورته ټينګ نه کړای شو؛ مجلس ته پورته شول، داسې يې ونځل چې د ځمکې له متن څخه يې ګرد پورته کړ. لنډه دا چې د موسيقۍ پروګرام هم خورا خوندور و. کله چې د موسيقۍ پروګرام پای ته ورسېد، نو موږ له بېکسيارصيب، بهرام صيب، هېواد دوست صيب، چمتو صيب، ډاکتر شېرشاه او نـــورو انډيوالانو څخه خدای پاماني واخيسته، خو بېکسيار راته وويل چې سبا شپه ستاسو لپاره د موسيقۍ يو سوچه پروګرام جوړو، ضرور بـــه ورتـــه راځئ، موږ وويل: خپل کوښښ به وکړو. دې کې مو له ده څخه خـــدای پاماني واخيسته او د سويډن پر لوري روان شو.

# د سويډن پر لوري

د مارچ د (۲۱)مې پر (۲۲)مه شپې څه کم لس بجې به وې، چې په خپل موټر کې سره منظم شو، د سويډن د مالمو ښار پر لوري مو حرکت وکړ. مالمو ښار د ډنمارک کوپنهاګن ته ډېر نږدې دی، يو ساعت زيات کم واټن ورڅخه لري. کله چې موټر کې کېناستو نو يو بل ته مو وويل: هلته مو چاسره تماس نيولی او که نه؟ غريب صيب وويل: تماس مو نيولای خو لږ ناوخته، هغوی راته وويل: کاشکې لږ مخکې مو موږ ته خبر راکړی و، موږ به ډېر افغانان دلته خبر کړي وو، چې اکثره راغلي وای، دلته په مالمو ښار کې د افغانانو واده و، چې هلته ټول افغانان راټول وو، نو ټول مو ليدلای شول. غريب صيب وويل: ډاکتر صيب کلام مومند ته مو خبر ورکړی، د هغه ځای تر ټولو مناسب دی، هلته لنډ که نور افغانان وي، نو دی هغوی هم خبروي او کېدی شي اوس يې خبر کړي هم وي، خو بيا هم اوس ډېر ناوخته دی، خير په هر ترتيب موږ چې يو څو تنه افغانان هم ووينو بس دي، زموږ پيغام نورو ته انتقالولای شي. له کوپنهاګن نه مو د سويډن د مالمو ښار پر لوري حرکت وکړ. د مالمو ښار ډنمارک ته ډېر نږدې دی. ډنمارک له سويډن سره د يوه اوږده پله په واسطه وصل شوی دی. دا پل څو کيلو متره اوږدوالی لري.

که څه هم د نړۍ په عجایبو کې نه راځي، خو تر عجیبې هم کم نه دی. دوه ملکونه د همدې پله په وسیله وصل شوي، تر نیم ساعت زیات مزل به مو کړی وي، چې پر پله ورواوښتو، سخته واوره هــم وریــده، د




سویډن په خاوره کې تر حق العبوره تېر شو، جي پي ایس د کلام صیب کور ته لارښوونه کوله، تر یو شلو دقیقو مزله وروسته هلته ورسېدو، جي پي ایس پر صفر نقطه ودرولو، خو د کوڅې په کیڼ او ښي لاس کې د کور پر موقعیت پوه نه شو. مجبور شو، ټول له موټره کښته شو، کله چې پلي شو، نو کور مو پیدا کړ، ډاکترصیب کلام مومند موږ ته منتظر و، هغه موږ سره روغبړ وکړ او د کور لاندیني پوړ یا ځمکتلي ته یې ځان سره بوتلو.

**د سويډن له افغانانو سره يوه ناسته: ډاکتر صيب کلام مومند چې موږ د کور مېلمستون ته بوتلو، نو لس تنه نور مخور سويډن مېشتي افغانان هم هلته راغلي وو او زموږ انتظار يې وېست، تر روغبړ وروسته کلام صيب موږ ته راوپېژندل، البته په غياب کې مو ټول پېژنـدل، خـو ځينو سره مو دا لومړی ځل و، چې مخامخ ګورو. حبيـب الله غمخـور، صديق ننګ، منشي صيب، ډاکترصيب حکمت او نور دوستان په کـې شامل وو، زموږ ګروپ هم په ترتيب سره ځانونه ورته وروپېژندل. تر لږې دمې وروسته ډاکترصيب کلام د افغانانو د عادت له مخې وويل: ډوډۍ هم تياره ده، خو مخکې تر ډوډۍ په دې بله خونه کې جامې هم تيارې دي، نو که دريشۍ په کاليو بدلې کړئ، لږ به راحت کېنئ. موږ ټولو وويل والله ښه وايي، په يوه بله خونه کې تيارې جامې ځوړندې وې، ما خو چې يوه جوړه په کې خوښه کړه، داسې راکې جوړې وې، لکه خيـاط چـې خپله ماته ګنډلې وي، اکثرو انډيوالانو جامې بدلې کړې، نور نو ډوډۍ ته ښه ارام کېناستو، ډوډۍ يې دومره زياته وه، چې د ناستو خلکو اشتهاه دې څو واره زياته کړې وای، بيا يې هم نه شوه خلاصولای، ډېره پاکه با سليقه ډوډۍ وه، ډېر زيات لګښت يې کړی و، داسې افغاني ډوډۍ يـې تياره کړې ده، چې تا فکر نه کاوه، بهر کې يې، پاکي او صفايي ډېره زياته وه، خو رنګ، خوند او کيفيت يې زموږ د خپل وطن غوندې خونـدور و. موږ چې ښه اوږده مزله ځپلي او يخ هم ځورولي وو، نو ښه په خوند مو ډوډۍ وخوړه او ښه زياته مو وخوړه.**

تر ډوډۍ وروسته بیا له معمول سره سم چای او سیاسي بحث دواړه پر یوه وخت شروع شول، د سویډن افغانان ډېر ارام او دقیق وو، ماتــه داسې ښکاري؛ سویډن ته چې کوم افغانان ورغلي، ډېــر یــې د لــوړې طبقې او تحصیل کړي افغانان دي، ځکه نو یې د زغم او خبرو کلتور ماته ډېر اوچت ښکاره شو، لومړی یې ماته بلنــه راکــړه چــې د افغانســتان حالات ورته تشریح کړم او د خپل سفر هدفونه، نو بیــا بــه دوی خپــل نظرونه، وړاندیزونه او پوښتنې څرګندې کړي.

ما ورته د خپل سفر دوه هدفونه وویل: یو دا چې غواړم دلته له یــو شمېر افغانانو سره وګورم، د خپل وطن حالاتو حقیقــي تصــویر ورتــه تشریح کړم، ځکه ماته داسې ښکاري، چې زموږ د هغه روښنفکره قشر پر ذهن، چې تر هېواده بهر اوسېږي، د خپل هېواد د حالاتو په بــاب د نهیلۍ یو سیوری د خورېدو په حالت کې دی، نهیلــۍ زیــاتېږي او پــر راتلونکي، باورونه کمزوري کېږي، که څه هم د دوی تشویش هم پرځای دی، خو تشویش  د خلاصون اساسي لاره نه ده، نو زه غــواړم دوی تــه هغه واقعیتونه هم څرګند کړم، چې تر هېواده بهر یې تعبیر او تحلیل یو څه مشکل دی او یا هم کمرنګ او بل غواړم ددې مشکلاتو د حل په باب د دوی نظرونه او وړاندیزونه هم راټول کړم. ددې ترڅنګ د یوه فرهنګي بهیر د پرمختګ لپاره د یوه نوي ټلویزیوني او راډیویي چینل چې د ټولو هیلې، غوښتنې او اندونه مــنعکس کــړي د جوړولــو پــه بــاب هــم د

بهرمېشتو افغانانو نظرونه ډېر مهم دي. ما په ترتیب سره په هېواد کــې مثبت پرمختگونه، نیمگړتیاوې، منفي خواوې، سیاسي بې عــدالتي، د ځینو دولتي چارواکو کمزورۍ، د ځینو سیاسي څېرو خیانتونه، د ټولنې، دولت او ځینو چارواکو ظرفیتونه، ټول یو په بل پسې تشریح کړل. زمـا خبرې چې خلاصې شوې، نو بیا دوی هر یو په ترتیب سره خپل نظرونه څرگند کړل، یو زیات شمېر نظرونه داسې وو، چــې د کــرزي صــیب د مصلحتي چلند پر نیمگړتیاوو متمرکز وو او اکثره په دې نظر وو، چې که ده له ځینو مصلحتونو څخه کار نه وای اخیستی، نو دا اداره دومــر نــه کمزورې کېدله، د ځینو نورو اشخاصو پر منفي چلند هم نیوکې وشوې، خو ټول پر دې خبره متفق وو، چې پښتانه په دې حکومت کې محروم او محکوم دي، باید کار ورته وشي او دا کار باید پر فرهنگــي ډگــر زیــات متمرکز وي، د فرهنگي کار لپاره ښه لاره همدا ده، چې لــه ټلویزیــون څخه کار پیل شي، دوی ټولو وویل چې موږ د راډیو ټلویزیون لپاره د هر ډول علمي موادو تیارولو لپاره تیار یو او په دې برخه کې دلتــه داســې منابع شته، چې ډېرې موثرې دي او موږ له هغو څخه گټه اخیســتلای شو. زموږ د سیاسي بحثونو لړۍ ډېره اوږده شوه، خبره نږدې څلور بجو ته ورسېده، پر دې وخت زموږ ځینو ملگــرو وویــل: ښــه بــه دا وي، د سویډن دوستان چې له بېلابېلو سیمو راغلي رخصت کړو، موږ او تاسې خو دلته یو، که د چا خوب راته ویده دې شي او که نه راته، نو خپل گپ

به لګوو، د سویډن دوستانو سره مو خدای پاماني وکړه، خو صدیق ننګ چې له ډنمارکه راغلی و هم زموږ له ډلې سره یوځای شو.

کله چې مشران دوستان لاړل، نو ننګ صیب او غریب صیب خپــل


باوري صیب، ډاکتر صیب حکمت، یون، ډاکتر صیب کلام، شور صیب او احمدزی صیب

ګپ شروع کړ، غریب صیب پر ننګ صیب داسې ټوکې وکړې، چې هره خبره یې کوله د ننګ صیب په تاوان به تمامېدله، دومره مو خندلي چې ان بېدوډي مو له خندا شنه شول، ننګ صیب ته احمدزي صیب وویــل: ولې څه چل درباندې شوی؟ هغه وویل یون صیب راغلی، زه ډېر خوشاله یم، پر ځان نه پوهېږم، چې څه وایم او که نه دا ((غریبان)) خو ما څــو ځله له ((میدانه)) ځغلولي، غریب صیب بیا وویل: ته یې منې؟ دې کې بیا ټولو وخندل، ننګ صیب بیا یوه ضربه وخوړه، خو په پای کې ننــګ صیب وویل: دا زه نه منم، زه نن تر (پرې) لاندې راغلی یم، بله ورځ دې

دا غریب او نور غریبان ما سره بحث وکړي. همدې ګپ و شپ کې سهار رانږدې شو. پرېکړه مو وکړه، چې یوه سترګه خوب به وکړو، چې د سبا لپاره لږ شیمه پیدا شي.

یوه سترګه خوب به مو کړی وي، چې بېرته بیدار شو، اوبه مو پر ځان تېرې کړې، ټولو دریشی واغوستې، لږه شېبه وروسته چای تیار شو، خو په چای کې د بېګاه په شان د دوستانو شمېر زیات نه و، لږه شېبه وروسته غمخور صیب هم راغی، د ((نوې هیلې)) جریدې څو ګنې کلکسیون هم ورسره و، هغه یې ماته راکړ، دا هغه جریده ده، چې غمخور صیب یې په سویډن کې چاپوي، په یوازې ځان د یوې جریدې چاپول، هغه هم په بهرني هېواد او مهاجرت کې اسانه کار نه دی، خو غمخور صیب نه یوازې دا جریده چاپوي، بلکې د پښتو ژبې د تدریس چارې هم پرمخ وړي او د بېلابېلو سیاسي موضوعاتو په اړه وخت پر وخت سایټونو ته په زړه پورې لیکنې هم کوي. چای مو لا خلاص کړی نه و، چې حکمت صیب هم راغی، حکمت صیب خورا نامي او اجتماعي سړی دی، اصلاً د ارزګان ولایت دی، خو اوس یې د دوی ولسوالۍ په وچ زور دایکندي پورې تړلې ده، حکمت صیب پر پښتو او پښتونولۍ ډېر مین دی، هغه وویل: کرزي صیب پر موږ داسې کانه وکړه، چې اوس چېرته ځان هم نه شم معرفي کولای، چې زه د دایکندي یم، ځکه دا ولایت د قومي تعصب پر بنسټ جوړ شوی، د پښتنو دوه ولسوالۍ یې په

وچ زور په دایکندي پورې نښلولې، خو په سیاسي مفهــوم ورڅخــه د هزاره ګانو د یو ولایت مانا اخیستل کېږي، نو که زه ووایــم، چــې زه د دایکندي یم، نو خلک به وایي چې دا هم عجیب هزاره دی، پر پښــتو ځنګه مین دی او څومره ښه پښتو یې زده ده، خو تر څــو چــې زه پــه اصطلاح دا ولایت (دایکندي) ورته تشریح کوم ډېر وخت به وغواړي. تر چای وروسته مو له ډاکتر صیب کلام او غمخــور صــیب څخــه اجــازه واخیسته، هغوی که څه هم ډېر ټینګ شول، چې غرمې ته پاتې شو، موږ ورته وویل: موږ یو ځل بیا ډنمارک ته ځو هلته مــو وعــده ده. حکمــت صیب موږ سره راغی، هوا ډېره سړه وه، یو دوه ځایه لاره کې تم شو، چې دلته د ځینو مېشتو افغانانو حال احوال افغانستان ته ورسوو. له هغــه ځایه چې را وزګار شو، نو حکمت صیب وویل: زه چې کوم ځای کې کار کوم هلته ځو، زه یون صیب ته یو بالا پوښ اخلم، چې یخ ډېر په عذاب کړی دی، ما ورته وویل: تا سره موږ لږ پلي وګرځېدو، موټر او کورو کې هوا ښه ده، بېرون ته خو موږ نه ګرځو نو بالاپوښ ته هېڅ اړتیا نه شته، خو هغه ډېر ټینګ شو، همغه پلورنځي ته ورغلو، چې دده د کار له دفتر سره وصل دی. ما ته یې یو بــالاپوښ راونیــوه او هملتــه یــې رابانــدې واغوسته، وجود مې ګرم شو، څو شېبې نور هم هملته وو، له حکمــت صیب څخه مو خدای پاماني واخیسته، ډېر مینه ګرکــی او اجتمــاعي شخصیت و، همداسې د ډنمارک پر لوري رهي شو.

**په ډنمارک کې د موسیقۍ یوه شپه: د مارچ ۲۲مه نېټه**

**وه، کله چې مو له حکمت څخه رخصت واخیست، نو بیــا د ســویډن -**




**ډنمارک ترمنځ د سمندر له پاسه پر غځېدلي پله تېر شو. غریب صــیب موټر د پله په وسطي برخه کې ودروه، ماته یې وویل، دلته دې یو قطعه عکس اخلم، زما دوه قطعې عکسونه یې واخیستل، سخت یخ و او تېــز باد لګېده، ما ورته وویل: هغه د چا خبره د درونتې تر باده هم تېــز دی، دوی وویل: دې باد نه هم دوی ګټه پورته کوي، هغه د سمندر منځ کــې ولاړې سپینې ستنې ګورې، چې تعداد یې سوونو ته رسېږي، د ټولو پر سر سرخونه تاوېږي، دا ټولې د بادي برېښنا ستنې دي، لــه دې ســتنو دوی ډېر زیات برق ترلاسه کوي. ما ویل زر کاله دمخه د افغانستان پــه**

هرات او نیمروز کې بادي ژرندې وې، چې غنم به یې پرې اوړه کول، خو څومره چې زمانه تېرېږي موږ شاته پاتې کېږو. دا خو چې د لغمـان پـه



البرز صیب، همایون، یون، بهرام صیب، ننګ صیب او بېکسیار

سرخکانو او د درونټې له پاسه جوړې شي، ټول افغانستان ته یې برېښنا بس ده، همدې بحث کې وو، چې له پله تېر شـو. د کوپنهـاګن د ښـار ځینې برخې مو وکتلې او هغه ځای ته ورغلو، چې بېکسیار او ملګرو یې د ټنګ ټکور پروګرام جوړ کړی و. موږ چې ورسېدو هـر څـه تیـار وو، کبابونه، سره کړي چرګان، تازه مېوې، ترکاري، ټول پر مېزونو ایښي وو، یو څو تنه موظف وو، چې خلکو ته تازه او ګرم کباب ورسوي. موږ هم پر خپلو ځایونو کېناستو. له نورو ځایونو هم مېلمانه راغلي وو. له نـاروې سویډن او خپله د ډنمارک له بېلابېلو برخو څخه، په پیـل کـې ارمـان

صیب موږ او نورو مېلمنو ته هرکلی ووایه او بیا یې موږ څخه هیله وکړه، چې که څه وینا لرم، ما وویل: د موسیقۍ په پروګرامونو کې ویناوې خوند نه کوي، موږ غیر له هغه هم بېلابېلو بندیزونو د موسیقۍ له نعمته بــې برخې کړي یو، نو څومره چې ژر موسیقي پیل شي، زموږ تنده به پــرې ماته شي. ښه به وي چې تاسې پروګرام پرمخ بوځئ، همایون یو تکــړه ځوان سندرغاړی له سویډن څخه رابلل شوی و.

انجنیر بهرام خو د دوی خپل کوربه سندرغاړی و، خوراک او څښاک هم چالان و او موسیقي هم، همایون که څه هم د موسیقۍ په برخه کې ډېر ځوان دی، خو ډېرې پخې سندرې یې وویلې، نه یې په تلفظ، نه په موسیقۍ کې ما څه نیمګړتیا حس کړه، خو کوم څه چې ماته یــې ډېــر خوند راکړ، هغه دا و، چې همایون داسې پاخه شعرونه انتخاب کړي وو، چې ټولو ترې خوند اخیستلای شو، له ترنم څخه یې عوامو او له محتوا څخه یې خواصو. همایون څو پرله پسې سندرې وویلې، محفل یې ښــه ګرم کړ، د کوم چا چې ګډا زده وه طاقت یې رانغی، ورپورته شــول او د ځمکې له متن څخه یې دوړې پورته کړې، موږ چې څو کلنو پرله پسې جګړو او تنګنظرو نظامونو سخت ځپلي یو، دا ډول پروګرامونه مو ډېر کم لیدلي، نو تر نورو مو ډېر خوند ور څخه واخیسته، موسیقۍ کې لږ وقفه راغله.

پر دې وخت یو چا وړاندیز وکړ، چې دلته اکثره شاعران دي، یو یــو شعر به ووایي او تر هغه وروسته به بهرام صیب سندرې ووایي، نو ټولو پر خپلو کتابچو ګوتې ووهلې، ما سره خو د شعرونو کتابچه نه وه، نو پر خپلې حافظې مې فشار راوړ، چې یو څو بیته پخواني رایاد کړم. غریب صیب خپل شعر ولوست ( پا سپورټ) چې ډېر خلک ورسره اشنا دي او په بهر کې د یوه مهاجر افغان هیله او ژوند انځوروي.

ورپسې باوري صیب خپل دغه لاندې دوه ټوټې شعرونه ولوستل:

## نوې نړۍ

رنګ مې ورکړ

خوند مې ورکړ

حس مې ورکړ

خو بې رنګه

بې له خونده

بې احساسه نړۍ

داسې پردۍ

لکه د زهرو مړی

لا د انصاف ښځک کې

په بې انصافه وخت کې

زما پر تقدیر

زما پر تدبیر

باندې مېخونه مېخ کړل.

## ایمان

هـــم مـــې ځـــان دی هـــم ایمـــان
هـــم جانـــان دی هـــم ارمـــان
چـــې یـــې نـــه شـــم خپلـــولای
دغـــه ژونـــد دغـــه ګـــذران

✵✵✵

زمـــا تقـــدیر یـــې اړولـــی
زمـــا قســـمت یـــې دی رټلـــی
چـــې د یـــار نـــوم پـــر خولـــه راشـــي
پاتـــه مـــا کـــې نـــه شـــي ځـــان

چــــې یـــــې نـــــه شــــم خپلـــــولای
دغــــــه ژونــــــد دغــــــه ګـــــذران

✵✵✵

یــــا منصـــــور وای یـــــا فرهــــاد وای
یــــا زبـــــون او یـــــا ښـــــه ښـــــاد وای
نـــــه مــــې چیغـــــه ان الحــــق ســـــوه
نـــــه ښــــــادي او نـــــــه خفګـــــــان
چــــې یـــــې نـــــه ســــم خپلـــــولای
دغــــــه ژونــــــد دغــــــه ګـــــذران

بیا ما(یون):

د زړونــــــو زور مو دلبــــرانو لوټ که
لکه وطن چې رهبرانو لـــــوټ کــــه

غزل ولوست. همدارنګه بېکسیار صیب خپل یو شعر ولوست، خــو ننګ صیب خپل څو ټوټې شعرونه ټول له یاده ولوستل، په داسې حال کې چې ډېر خوشاله وو او همدا یې ویل چې زه نن ډېر خوشاله یم یون صیب راغلی دی، زه په ځان نه پوهېږم، تر دې دمه ما فکر نه کاوه، چې ننګ صیب دې په شعر کې د محتوا ترڅنګ ښکلا ته هم زیاته پاملرنــه

کړې وي، خو چې کوم شعرونه يې ولوستل رښتيا هم دا دواړه عناصر په کې خوندي وو.

ارمان صيب که څه هم شعر ونه لوست، خو په لنډو ټکو کـــې يـــې د ډنمارک مېشتو پښتنو ليکوالو په استازۍ يو ځل بيا مورږ ته هرکلی ووايه او مننه يې وکړه، چې ډنمارک ته راغلو او په دې محفل کې مو گـډون وکړ.

وروسته بيا بهرام صيب سندرې پيل کړې، هغــه داســې وطنـــي او کليوالي سندرې وويلې، چې زمورږ د زړه زنگ يې لرې کړ، بهرام صيب داسې مسته کليوالي موسيقي غږوي، چې که د چا يو فيصد گډا هم زده وي، نو وجود يې خاربښت کوي او ميدان ته پورته کېږي، دلته هم ځوانان ور پورته شول او له ځمکې يې يو ځل بيا گردونه پورته کړل، موسيقۍ تر ډېرې دوام وکړ، موسيقوال په سندرو، د نڅا شوقيان په نڅــاوو او نـــور حاضرين په چکچکو ټول خولې خولې شول، شپه نوره نيمايي ته نږدې شوه، مورږ پسې لا (۹) ساعته مزل تر شا پاتې دی، په همدې خاطر ټولو وويل چې نور ځو، ځکه چې ډېر اوږد مزل لرو، غريب صيب چې موټر يې چلاوه، هغه ته نو تر ټولو سخته وه، چې نور هم پاتې شي، خو جرمنـــي کې يو ښه قانون دادی، چې څوک ډريوري کوي، الکولي څښاک نه شي کولای او که يې وکړ، ليسانس ورځخه اخيستل کېږي، نو ځکه خو سړی پر ډرېور ډاډه کېدلای شي. د شپې دولس بجــې وې، چـــې پـــه ډېـــرې

سختۍ مو له انډیوالانو اجازه واخیسته، د موټر تر پارکینګه راسره اکثره دوستان راغلل، کله چې زموږ موټر حرکت وکړ، نو دوی هم راځخه جلا شول. د خدای پامانۍ په وروستیو شېبو کې یو ځل بیا بېکسیار او ارمان صیب راته خصوصي وویل: ژوند ته به دې ډېر فکر کوې، ژوند ډېر مهــم دی، نور ټول شیان بیا لاسته راځي، خو ژوند بیا نه تکرارېــږي. همــدې خبرو کې مو له ټولو رخصت واخیست او خدای پاماني مو وکړه.

# له ډنمارکه د جرمني پر لوري

د مارچ (۲۲)مه پر (۲۳)مه شپه وه، د شپې نږدې (۱۲) بجې وې، کله مو چې له ببکسیار او نورو ملګرو څخه خدای پاماني واخیسته، عمومي لارې ته برابر شو، تر لږ مزله وروسته مو د موټر ټانکۍ ته پام شو، تېل نور په خلاصېدو وو. دا هغه مهال و، چې پر عمومي واټ له یوه ټانک څخه تېر شوي یو او بل ته لا ډېره فاصله پاتې ده، موټر ورته ور رسېدی نه شو. جي پي ایس ته یې د تېلو ټانک ورکړ، هغه د ښار په مــنځ کــې د تېلــو ټانک را په ګوته کړ، غریب صیب په ډېر احتیاط تر هغه ځایه ورســاوه، باران هم ورېدلی و، هوا هم خورا سړه وه، کله چې مو پــر تېلــو ټانــک سترګې ولګېدې، نو ټول خوشاله شول، ویې ویل که ټانک نه وای پیدا شوی، نو په اصطلاح په ډاګ به پاتې وو، دلته خو داسې هم نه ده، چې په ګیلنه کې ورپسې تېل راوړې، کله چې مو مــوټر د تېلــو ټانــک تــه ودرواوه، ګورو چې په ټانک کې هېڅوک نه شته، ټول بېرته خواشیني او حیران شول، چې اوس څه به کړو؟. په دې ټانک کــې یــو خصوصــیت داسې و، چې کمپیوټرایز و او په کریډټ کارت یې کار کاوه، هغه ته مــو پام شو. غریب صیب وویل: دغه دی خپله کار کوي، هغه تــه چــې یــې ګوتې وروړې، هغه لارښوونه وکړه، چې کریډټ کارت راکړئ، بېرته ټول غلي شول، چې اوس نو کریډټ کارت له کومه کړو، پر دې وخت شــور صیب وویل: تاسې صبر وکړئ چې زه په دې خپله بڅخکۍ (بټوه) کــې

وګورم، ما پرون یو دوه کریډټ کارته اخیستي وو، ما ویل نه چې داسې سختې ورځې ته په کار شي، کله چې یې خپله بټوه وکتله، یو کریــډټ کارت پیدا شو، ټول ډېرته خوشاله شو، کریډټ کارت چې مو ور واچوه، ټانک چالان شو، د ټانک ژبه ډنمارکي وه، بیا پرې څوک پوه نه شــول، کارت یې بېرته راګوزار کړ، بیا ټول چوپ شول، شور صیب وویل: یو ځل یې بیا ور واچوه، دا ځل یې چې استعمال کړ، کار یې ورکړ، ټانک چالان شو، ټانکۍ مو تر مورګو ډکه کړه، ټول داسې خوشاله شو، چې تا به ویل یوه لویه دنیا چا راکړې، پر دې وخت نو شور صیب وویل چې اوس مــو منئ! ټولو وویل چې بېشکه منو دې لالا. ((بې شکه منم دې لالا)) هــم یوه کیسه ده، چې د عصمت قانع له خولې ما اورېدلې او دوی تــه مــې کړې وه، خو هغه هم د کاغذ پر مخ د لیکلو وړ نه ده، کېدی شــي پــه ګړني ډول چاته وویل شي.

له تېلو ټانک نه ښه په ډېرې خوشالۍ راووتو، د شپې یوه بجه به وه، چې د جرمني لویه لاره مو ونیوه، کله چې لویې لارې ته سیخ شو، نــو غریب صیب خبره بیا د سیاست ګېر کې واچوله، سیاسي بحث دومــره ګرم شو، چې کله کله د خفګان برید ته هم رسېده، له کښتۍ راپــورې وتو، خو د سیاست د بحث لومړی پړاو یانې د خلکیتوب د واکمنۍ بهیر لا نه و خلاص شوی. باوري صیب، نجیب احمدزی صیب، شور صیب او زه (یون)، ټول په دې نظر وو، چې په دې پړاو کــې سیاســي تېروتنــې

وشوې که نه وای شوې نو حالات تر دې کچې نه خرابېدل، خو غریـب صیب نه منله او دایې ټول خارجي عوامل بلل او بیـا یـې د درې سـوه کسیزه کمېټې یادونه وکړه، چې د نړۍ د سیاسي حالاتو برخلیک ټاکي، احمدزی صیب غریب سره نور هم ګرم شو: همدغسې کارونه مو کـول، چې خبره دې حد ته ورسېده، موږ ټول درته لګیا یو او ته یې نه منې، خو خیر بحث ډېر اوږد شو، لاره کې څپه څپه واوره هم ورېدله، غریب صیب ته مو وویل: لارې ته ګوره په تېرو شلو کلونو کې لـه دې څـو حیـواني انقلابونو بچ پاتې شوي یو، چې اوس په دې بحث کې قرباني نه شو، پـه پای کې مو فیصله وکړه، چې نن شپه سیاسي بحث نه کـوو، ازاد ګـپ لګوو ددې بحثونو مزه لاړه، نو بېرته مو خپل ګپ او شپ شروع کړ، نهه نهه نیم ساعته مزل مو وکړ، چې سهار څه کم نهه بجې د شېرولي دوی کور ته ورسېدو، ټول داسې وو، چې له حده باده وتي وو، ټولو ویل: یوه سترګه خوب کوو او بیا به ماسپښین د ډاکتر یحیی وردګ صـیب پـه نوښت جوړې شوې غونډې ته ورځو.

**د افغانستان معلوماتي مرکز کې یوه علمي ناسته: د مـارچ (۲۳)مه نېټه وه، د ډاکتر شېرولي دوی په کور کې تر استراحت وروسته مو د غرمې ډوډۍ همدلته وخوړه، ځانونه مو د ځینو ښاریانو په اصطلاح ښه فرېش کړل او بیا مو علمي غونډې ته د تللو تکل وکړ. د خبرو اتـرو دا علمي غونډه د افغانستان معلوماتي مرکز له خوا جوړه شـوې وه، دا**

مرکز په المان کې جوړ شوی او له څو کلونو راهیسې فعالیت کوي، ددې مرکز بنسټګر او مشر د هېواد یو ډېر دردمن خواخوږی، تکړه لیکــوال ښاغلی ډاکتر یحیی وردګ دی، چې له څو کلونو راهیسې یې دا مرکــز فعال ساتلی او د افغانستان د خلکو د ژوندانه د بېلابېلو ډګرونو په باب یې د معلوماتو لوی زېرمتون جوړ کړی دی. د افغانستان په اړه د بهرنیانو په تېره بیا د جرمنیانو ذهنیت، چې څومره دې مرکز روښانه کړی، ډېرو کمو علمي مرکزونو به تراوسه په دومره رڼاوي او سپیناوي داسې کــار کړی وي، ډاکتر صیب یحیی وردګ وار له مخه ځینو افغانــانو تــه ددې غونډې په باب اطلاع ورکړې وه، خو پر لومړۍ ورځ پرې زما ټینګار همدا و، چې ډېر خلک که خبر نه شي، نو ښه به وي، ځکه ټولو تــه د خبــرو نوبت نه ور رسېږي او د خلکو په زړونو کې هسې غوټــه پــاتې کېــږي، څومره چې خلک کم وي، خو چې د نظر او فکر خلک وي، ښه به شي.

دا غونډه د بن ښار په هغې ودانۍ کې جــوړه شــوې وه، چــې ددې معلوماتي مرکز دفتر هم په کې واقع دی. یو هال و، چې دېرش څلوېښت تنه په کې ځایېدل. د یوه علمي سیمینار په شان مېزونه ایښودل شوي وو او څوکۍ یې تر شا وې، خو شاته یې د څوکیو یو بل کتار هم و، په دې ډول، نو تر څلوېښتو زیات کسان هم په کې ځایېدلای شول.



د غونډې پیل

موږ چې کله ورسېدو، نو دوی ټول په همدې هال کې راټول شوي وو، ټولو سره مو روغبړ وکړ، غونډه د مازیګر پر څلور بجو د قــران عظــیم الشان په تلاوت پیل شوه، د غونډې اجنډا مخکې تر مخکــې د ډاکتــر صیب یحیی وردګ له خوا پر تخته لیکل شوې وه او ددې ترڅنګ یې د غونډې برخوالو ته هم یوه یوه کاپي ورکړې وه. د غونډې اجنډا دا وه:

## د افغانستان اوسنی پرمختیاوې، ستونزې او احتمالي حل لارې

**پروګرام:**




ښاغلی یون به په وروستیو اووو کلونو کې زموږ د هېواد پــر لانــدې ټکو خبرې وکړې:

۱- سیاسي پرمختیاوې او نیمګړتیاوې

۲- اقتصادي پرمختیاوې او نیمګړتیاوې

۳- فرهنګي پرمختیاوې او نیمګړتیاوې

۴- نظامي پرمختیاوې او نیمګړتیاوې

۵- د بهرنیو قوتونو هماهنګي

۶- وړاندیزونه

۷- پوښتنې او ځوابونه.

ددې ترڅنګ یې زما دنده او ټایټل هم لیکلي وو.

په غونډه کې دغو ښاغلو مخورو برخه اخیستې وه:

ډاکتر یحیی وردګ،احمدشاه باوري صیب، حرکت صـیب، بـنګښ صیب، ډاکټر صیب صابر، فیض محمد، پېښوري صیب، مندوزی صیب، امین باوري صیب، شور صیب، مطیع الله خان، اجمل روهي، احمدشـاه امین صیب، غریب صیب، عبدالله مومند، ډګروال صیب حضرت رسول، سید امین اشنا، حکیمي صیب، زیارمل صیب، خوشال انځور او ځینـو نورو دوستانو.




په پیل کې ما له ټولو نه په ښښنې خپلې خبرې پیل کړې، ومو ویل: زه چې کوم نظر دلته څرګندوم، دا په هېڅ ډول د دولت د نظر ښکارندویي نه کوي او نه زه غواړم، چې د دولت د نظر څرګندونه وکړم.

غواړم تاسو ته ناپېيلي معلومات وړاندې کړم، هغه هم هغه معلومات چې ما سره شته، کېدی شي تر زياته بريده دقيق وي، خو بيا هم سل په سلو کې يې د دقت ادعا نه کوم، له دې خبرو څخه مې هدف دادی، چې کله کله قضاوتونه د پېښو پر واقعيت ولاړ نه وي، نو پــه همــدې وجــه واقعيت ته صدمه رسي او عدالت تر پښو لاندې کېږي.

زه غواړم دلته په لنډېز سره د تېرو کلونو پرمختياوو او نيمگړتياوو ته اشاره وکړم، خو له دې ټولو څرگندونو څخه زما هدف دادی، چې دغــو پوښتنو ته ځوابونه پيدا کړم:

الف- په افغانستان کې څه شوي دي؟

ب- په افغانستان کې څه بايد شوي وای، چې نه دي شوي؟

ج- په افغانستان کې څه بايد وشي او له بحرانه د وتلو لارې کــومې دي؟

ددغسې احتمالي او يا عملي پوښتنو د ځوابونې لپاره مجبور يو پــر پرمختياوو او ارقامو وغږېږو، په دې سره کېدی شي زموږ د بحث ډېټا يو څه بډايه شي.

## ۱- په سياسي ډگر کې څه شوي او څه بايد نه وای شوي؟

❖ د بن توافقات ترسره شول، د یوه حکومت د جوړېدو اساسات یې کېښودل، یوه دیموکراتیکه پروسه پیل شوه، خو نیمګړتیا یـې دا وه، چې د جګړې یو او ان څو اصلي لوري له نظره وغورځول شول او مقابل لوري ته چې تر هغه بل لوري یا لوریو هم بدتر و، تر حده زیات امتیازات ورکړل شول او دې بیا په خپـل وار نـور مرضـونه راوزېږول.

❖ بېړنۍ لویه جرګه جوړه شوه او په ډیموکراتیکه توګه یې زعامـت


د غونډې یوه بله برخه

وټاکه، خو ددې جرګې ستونزه دا وه، چې زیات شمېر جنګسالارانو ورته لاره پیدا کړې وه او جرګه پر دې بریـالۍ نـه شـوه، چـې د جنګسالارانو واک ختم کړي.

❖ د اساسي قانون لویه جرګه جوړه شوه، دې جرګـې د افغانســتان اساسي قانون تصویب کړ او ددې ترڅنګ نور په لسګونو قـوانین جوړ شول، د سیاسي ګوندونو، ټولنیزو سازمانونو او رسنیو قوانین

يې بېلګې دي، خو په ټولنه کې د زورواکانو شتوالی او حاکمیت لا هم د قانون پر وړاندې ستر چیلنج دی.

❖ د جمهوري رياست او ملي شورا ټاکنې تر سره شوې، دا ټاکنې هم د ولسواکۍ د تمثیل يوه ښه بېلګه وه، چې خلک دې پــه خپلــه خوښه خپل استازي وټاکي، خو دې سره سره په دواړو ټاکنو کې يو لړ نيمګړتياوې وې. په تېره بيا په پارلماني ټاکنو کې، پــر درغلــۍ سربېره (۳۱۵) هغو جنګسالارانو او جنايتکارانو ته په ټاکنو کې د کانديدۍ حق ورکړ شو، چې تر دې دمخه په تور لست کې شــامل وو. تر انتخاباتو وروسته د دوی يو زيات شمېر د ((مشروعيت)) تر پردې تېر شول او اوس ان په ملي شورا کې د خلکو پر برخليــک لوبې کوي.

❖ په نړيوال سياسي ډګر کې د افغانســتان حضــور زيــات څرګنــد شو،افغانستان دا مهال له سياسي انزوا څخه راوکښل شــو، اوس افغانستان د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې (۵۳) سياسي استازۍ لري. (۴۵) بېلابېــل هېوادونــه او (۱۳۰) نړيــوال ســازمانونه پــه افغانستان کې خپل دفترونه او نمايندګۍ لري، خو په دې برخه کې هم نيمګړتيا داده، چې د افغانستان سياسي نمايندګۍ لا هم د يوه تنظيم په لاس کې دي او د افغانستان د ملي ګټو ښکارندويي نــه شي کولای. سربېره پر دې يو شمېر نړيوال سازمانونه د افغانستان د ملي ګټو ډېر خيال نه ساتي او همدا راز د ګاونډيو هېوادونو پــر وړاندې د افغانستان بهرنۍ سياست غښتلی نه دی.

## ۲- بیا رغونې ته به لنډه اشاره وکړو:

❖ د کلیو پراختیا وزارت د ملي پیوستون د پروګرام لــه لارې د پنځو کلونو په بهیرکې (۲۴۲۵۴) کلي تر پوښښ لاندې نیول شوي، چې له هغې جملې څخه (۱۰۲۰۷) پروژې بشپړې شوي دي.

❖ د مخابراتو په برخه کې تراوسه پورې (۷۰۰) ملیونه ډالره پانګــه اچول شوې،پرکال (۷۰) ملیونه ډالره حکومت ته ګټــه رســي، د




افغانستان (۷۰) سلنه خاوره تر مخابراتي پوښښ لاندې راغلې او (۴۰۰۰۰) کارګرانو ته کار پیدا شوی دی.

د کرنې په برخه کې هم پرمختګ شوی، په کرنیز ډګر کــې (۲۱۲۸) لویې او وړې پروژې تکمیل شوي او نور کار هم روان دی.

- د سړکونو په جوړونه او رغونه کې هم محسوس پرمختګ شوی، د لویو او عمومي لارو له جملې څخه تراوسه پوري (۲۵۰۰) کیلو متره سړک په اساسي ډول پوخ شوی، د ولایتونو او د هغوی د اړوندو ولسوالیو د سړکونو د پخولو کار هم پیل شوی دی.
- بانکونو هم انکشاف کړی، پر دولتي بانکونو سربېره (۱۵) خصوصي بانکونه فعال شوي، چې دا د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل دی، پر دې بانکونو سربېره درې خصوصي هوایي شرکتونه هم فعال شوي دي.
- د مهاجرو د راتګ بهیر هم د پاملرنې وړ دی، (۳،۶) ملیونه مهاجر


یون، اجمل روهي، احمدشاه امین او ډاکټر شېرولي

بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي، د داخلي مهاجرو یوه برخه هم بېرته خپلو سیمو ته ستانه شوي، خو په دې برخه کې لا هم مشکلات شته.

- ❖ د سوداگرۍ او پانگه اچونې په برخه کې هم په زړه پــورې پرمختگ شوی، په زرگونو خصوصي او نړیوالو شرکتونو په افغانستان کې پانگه اچولې، یوازې د خصوصي ســکتورونو پانگونه تر (۵) ملیاردو ډالرو پورته کېږي، له پاکستان سره تجارت په کال کې له پنځوس ملیونــو ډالــرو څخــه (۱،۲) بلیونو ډالرو ته پورته شوی، امریکا سره لــه نشــت څخــه (۳۲۰) ملیونو ډالرو تــه لــوړ شــوی دی. همدارنگــه نــورو هېوادونو سره د افغانستان صادراتي او وارداتي روابط زیات شوي دي.
- ❖ د صحت برخې ته هم پاملرنه شوې، لږ تر لږه په هره ولسوالۍ کې یو کلنیک جوړ شوی، (۲۶) لوی روغتونونه جــوړ شــوي، (۱۲۰) شخصي کلنیکونه او (۱۴) سیار کلنیکونه جــوړ شــوي دي.
- ❖ د پوځ فزیکي جوړښت کې پرمختگونه شوي، د ملي اردو شمېر (۶۰) زرو کسانو ته رسېدلی، پولیس (۵۰) زرو ته پورتــه شــوي، (۶۲) زره نا مسئول کسان بې وســلې شــوي، خــو لا هــم (۱۹) ولایتونه داسې دي، چې د نا امنۍ په اور کې سوزي او نورو پاتې ولایتونو کې هم کله کله د نا امنۍ پېښې پېښېږي، د پولیسو او ملي اردو قومي او سیاسي ترکیب پر عدالت ولاړ نه دی او هم د لیاقت اصل په ځینو برخو کې په پام کې نه نیول کېږي.

- د پوهنې په برخه کې پرمختګونه زيات محسوس دي. تراوســه پورې (۳۵۰۰) ښوونځي رغول شوي، تر دې وروسته به هر کــال (۱۵۰۰) نوي ښوونځي جوړېږي، (۶) ملیونه ماشومان ښوونځي ته ځي، په يو شمېر پښتون مېشتو سيمو کې د ښوونځيو سوځونه او د زده کوونکو د ليک لوست مخنيوی، د زياتې اندېښــنې وړ دی. پر ښوونځيو سربېره په هر ولايت کې يوه يوه ديني مدرسه او يو يو دارالمعلمين هم جوړېږي.
- په کلتوري برخه کې هم رامنځته شوي پرمختګونه زيات څرګند دي، موزيم بيا رغولی شوی، ځينې غلا شــوي اثــار يــې بېرتــه ترلاسه شوي، ارشــيف رغــول شــوی، د اطلاعــاتو او کلتــور د رياستونو ودانۍ جوړې شوي، (۲۵) ټلويزيوني چينلونــو جــواز اخيستي او لږ تر لږه تر پنځه سوو پورې چاپي خپرونې خپرېږي.

خو په کلتوري برخه کې د بهرنيو په تېره بيا د ګاونډيو هېوادونــو او هغو کې هم د ايران کلتوري يرغل زيات محسوس دی. په دې برخه کې د تشويش وړ خبره داده، چې ددې ډول يرغلونو پر وړاندې کومه دولتي ستراتيژي او پلان نه شته.

همدارنګه په ځينو برخو کې هم يو لړ پرمختګونه شــوي، چــې نــه غواړم دلته يې تفصيل وکړم. بيا ما د غونډې برخوالو څخه هيله وکړه، چې اوس ماته خپل نظرونه، وړانديزونه او انتقادونه وړاندې کړي، زه به يې نچوړ په افغانستان کې بېلابېلو مقامونو سره مطرح کړم، نو که يــوه کمه برخه يې هم عملي شي، هېواد ته به يې طبعاً ګټه زياته وي. زما تر

**خبرو وروسته د غونډې اکثرو برخوالو خپل نظرونه او وړاندیزونه څرګند کړل، چې زه یې دلته لنډیز راوړم:**

**عبدالله مومند صیب وویل: د کرزي صیب مشاورینو کې مشکل دی، دوی دې سړي ته سمه مشوره ور نه کړه، اکثره یې د کار خلک نه دي.**

**اجمل روهي وویل: امریکایان نه غواړي په افغانستان کې سوله**



د غونډې یوه څنډه

**راولي، د افغانستان جګړه بهرني او کورني عوامل لري، خو دوی نه غواړي، د جګړې بهرني عوامل کنترول کړي، ځکه نو جنګ دوام پیدا کوي.**

**ډګروال صیب حضرت رسول وویل: غربیان او امریکایان په خپلو ګټو**

**پسې ګرځي، زموږ ملي ګټې په پام کې نه نیسي، بل دوی په خپل منځ کې هم هماهنګي نه لري.**

**ډاکتر صیب حرکت وویل: دا سمه ده، چې افغانستان کې یو شـمېر مثبت کارونه ترسره شوي، خو دا کارونه د هغو په تناسب ډېر کـم دي، چې باید شوي وای. د حرکت صیب په نظر حکومت په دې کـې پـاتې راغلی، چې له دې طلايي چانس څخه ګټه پورته کړي. حرکـت صـیب زیاته کړه زموږ ملي ارزښتونه د بهرنیو قوتونو له ګټو سره سر نه خوري.**

**ډاکتر صیب یحی وردګ وویل: سوله او عدالت دواړه باید تامین شي، له دې پرته د افغانستان ثبات ممکن نه برېښي.**

**پېښوري شینواري صیب وویل: طالبانو او اسلامي حزب سره بایـد خبرې اترې وشي، د جګړې یو لوری هم هغوی دي، دده په نظر خبـرې اترې تر جګړې ډېرې ښې دي.**

**سید امین اشنا صیب وویل: خلک د قدرت منبع دي، ډېـرو مهمـو مسایلو کې باید خلکو ته مراجعه وشي، حکومت ځینو خلکو ته داسې القاب ورکوي، چې خلک یې هېڅکله ورسره نه مني.**

**حکیمي صیب وویل: یوه باکفایته شخص کولای شي، ناکامه حکومت د کامیابۍ لوري ته بوځي، خو بې کفایته شخص کامیاب حکومت هم له ناکامۍ سره مخامخولای شي.**

**احمدشاه امین صیب وویل: یو ملي سیاسي قوت ته اړتیا ده، چې حالاتو ته بدلون ورکړي، ده د حکومت له خوا پر راتلونکي کال د سر شمېرنې پر چارو هم اندېښنه وښوده.**

**باوري صیب وویل: افغانستان یو نیول شوی یا اشغال مملکت دی، دلته خلک ځان ازاد نه ګڼي، دده په نظر طالبان د خپلې ازادۍ لپاره جنګېږي.**

**زیارمل صیب وویل: په هلمند کې د طالبانو قوت له کومه پیدا شو، ولې دومره قوتونه ورسره سمه جګړه نه کوي، ماته خو دې کې هم څه شک ښکاري.**

**مموزي صیب وویل: زه تېرې خبرې تائیدوم، هسې خو له ما سره ډېرې خبرې شته، که زه شروع وکړم، نو دا وخت ورته کفایت نه کوي، نو ځکه زه نه غواړم، زیاتې خبرې وکړم.**

**بنګښ صیب وویل: تر ټولو شیانو امن ډېر ضروري دی، کله چې مملکت کې امن ټینګ شي بیا نو پر دې نورو ټولو مسایلو خبرې کېدی شي، نو ځکه باید امن ته تر ټولو زیاته توجه وشي.**

ډاکټر صيب صابر د جمهوري رياست پر راتلونکو انتخاباتو اندېښنه ښکاره کړه، ويې ويل چې له يوې خوا به د جلالي صيب، خليزاد، احدي صيب او کرزي غوندې څو کانديدان وي او بله خوا به شـمالټلواله يـو




کانديد ودروي، هغوی که انتخابات وګټـل، افغانسـتان تـه بـه زيـات مشکلات پيدا کړي، نو داسې لارې چارې بايد ولټول شي، چې دومـره ګڼ کسان ځانونه کانديد نه کړي.

کله چې هر برخوال خپل نظر څرګنداوه او يا يې پوښتنه کوله، نو ما څخه يې هيله کوله، چې زه هم خپل نظر پرې څرګند کړم. څرنګه چې دا ټول داسې کسان وو، چې د افغانستان پر ټولو حالاتو ښـه خبـر وو، خپله ټول د نظر او فکر خاوندان وو، اکثره يې په تېرو سياسي بهيرونو کې رالوی شوي او لوبېدلي وو، نو ځکه زياتې خبرو او تشريحاتو ته اړتيا

نه وه، پر ځينو نظرونو مې خپله لنډه تبصره کوله او همدارنګه ځينــې هغه پوښتنې مې ځوابولې، چې ځواب يې يو څه ضروري برېښېده، پــه ټولنيز ډول زموږ بحث نږدې دوه نيم درې ساعته دوام وکړ، خو بحــث دومره ګرم و، چې هېڅا د ستړيا احساس ونه کړ، د نظرونو د تبادلې په نتيجه کې د ټولو قناعت حاصل شو او تر ډېره يې خوښي څرګنده کړه. په پای کې ډاکتر صيب يحی وردګ د افغانيک د دفتر په استازۍ له ما او نورو برخوالو څخه مننه وکړه، چې دده بلنه مو ومنله، بيا يــې ماتــه د ماشومانو په باب يو کتاب، چې نوی چاپ شوی و، ډالۍ کړ او ويې ويــل چې دا به زما له خوا هيلې (زما لور) ته ډالۍ کوې. يحيی وردګ وويل: ما په هيله کې د يون صيب يو شعر ( له هيلې نه هيلې ته ليک) لوستی و، د يوې پلرنۍ مينې عاطفي تصوير او د خپلې کوچنۍ لور معصوميت په کې انځور شوی و، پر ما يې ډېر تاثير کړی و، ما خپل تصوير هم پــه دې شعر کې کاته، ځکه يې ډېر متاثر کړی وم، نو ځکه دا کتاب يون صيب ته ډالۍ کوم چې (هيلې) ته يې يوسي، موږ بايد د خپلو ماشومانو ډېر خيال وساتو، دوی ډېر معصوم دي، دوی زموږ د راتلونکي جوړوونکي دي. مــا په خپل نوبت له ډاکتر صيب يحيی وردګ او نورو برخوالو څخه مننــه وکړه، چې ټول په ګډه ددې غونډې جوګه شول، بيا مو په ډېرې سختۍ يو بل څخه رخصت واخيست. د مازيګر او ماښام ترمنځ وخت و، ښاغلي احمدشاه امين ماته وويل، چې ما سره لاړ نه شې، هېڅ امکان نه لــري، اجمل روهي بيا تر هغه هم زيات ټينګار کاوه، ما وويل: ما ډاکتر صــيب

همایون همت سره وعده کړې، هغه باید نن شپه ضــرور وګــورم، دوی وویل: هغه ته به ټلېفون وکړو، معذرت به ورڅخه وغواړو، ما وویل نه، له هغه سره مې ضروري کار دی، د هغه نظر ماته ډېر مهم دی باید ورسره وګورم، خو دوی دواړه هېڅ نه قانع کېدل. ما ویل خیر زه یو وړاندیز لرم، زه او ته (احمدشاه امین) او اجمل روهي به ستا په موټر کــې لاړ شــو، ستاسو کور به له لرې وګورو، اجمل جان به هم هلته کښته کړو، پر لارې به خبرې هم وکړو، هلته به سره ګورو، درېواړه په موټر کې سواره شــو، اجمل روهي نو بیا دومره ستیال دي، چې لکه زړی درپورې نښلي او څو چې  ډوډۍ دربانديې ونه خوري، پرېږدي دې نه، عیناً لکه خوشال روهي، خو ده بیا په ست کې تر هغه هم دوه څپکه اړولې، زړه کې مو وویل چې اوس به نو ځان له دې دوو زورورو څنګه خلاص کړې، خو په لاره کې مې د سیاسي خبرو په بهیر کې خبره نوره هم پخه کړه، چې د ماســخوتن ډوډۍ به ضرور له ډاکتر صیب همت سره خورو، نو ځکه مې په احمدشاه امین، همت صیب ته ټلېفون وکړ، چې خبره ببخي پخه شــي. د احمــد شاه امین صیب کور ته چې ورسېدو، نو ده غوښتل، چې موږ کــور تــه ننباسي، موږ وویل: نه د مخکنۍ پرېکړې مطابق به اوس اجمل روهــي کور ته رسوې، نور به زه او ته بېرته ځو. تر لږ مزله وروسته مــو اجمــل روهي هم خپل ځای ته ورسوه، خو په ډېرې ســختۍ مــو ځــان تــرې راخلاص کړ، تقریباً یو نیم ساعت مزل به مو کړی وي، چې بېرته د ډاکتر صیب همایون کور ته ورسېدو.

له ډاکترصیب همایون همت سره خبرې اترې: کله چې د شپې یوولس بجې د ډاکتر صیب همت کور ته ورسېدو، نو د هغه یوه خپلوان مور، ته هر کلی ووایه او مېلمستون ته یې بوتلو، شېبه وروسته ډاکترصیب همت راغی، تر ستړي مشي وروسته یې ماته وویل: زه نن ستا په خاطر تر یوولسو بجو ناست یم، زه خو فکس پر نهو بجو ویده کېږم او بیا سهار وختي خپلې دندې ته ځم داسې چې زه هره شپه تر یوولسو بجو ویښ پاتې شم، نو د ورځې به کار څنګه کوم. ډاکتر صیب همایون همت اصلاً د کونړ ولایت اوسېدونکی دی، ډېر لایق او ځیرک شخص دی، د خبرو هنر یې ډېر ښه زده دی، په طبابت کې خو بېخي نامي ځکه دی، چې په جرمني کې خپل یو شخصي کلنیک لري، دی په سیاست او ځینو نورو طبي برخو کې تخصص لري، په جرمني کې یې کاروبار ډېر ښه دی، خپل لوکس شخصي کور لري او د جرمني بهرنیو چارو وزارت ته هم د نظر خاوند په توګه مطرح دی، لوړې زده کړې یې هم په جرمني کې کړې دي، پر جرمني هم لکه د پښتو په شان روان پوهېږي، خبرو کې یې یو عجیب منطق پروت دی، عیناً لکه د ریاضي د معادلو په شان یو، دوه، درې تسلسل لري او په یو کې الف، ب، ج، جزئیات لري او همداسې ادامه پیدا کوي، دده د خبرو تسلسل او د منطق ښه والی دادی، چې زیاتې جملې، کلمې او ترکیبونه په کې نه شته او که څوک یې غواړي، بلې ژبې ته یې ترجمه کړي، نو ژباړن ته کار

ډېر اسانوي، هغه بل ځل چې هم زه جرمني ته راغلی وم، زه یې مېلمه کړی وم، دی پر مېلمستیاوو ډېر وخت نه مصرفوي، هغه د عبدالرسول امین صیب خبره، چې د پښتنو کور مېلمه وران کړی دی، دی د وخت پر قیمت او اهمیت ډېر زیات پوهېږي، ما چې کله لــومړی ډاکتــر صــیب همایون وکوت، د خدای په فضل دومره چالاکه او هوښیار دی، چې ان ډېر لوبېدلی سیاستوال هم سیند ته تږي بیایي او بېرته یې تږي راولي، نو په ذهن کې مې ډېرې خبرې وګرځېدې، ډاکتر صیب شېرولي ته مې هغه وخت وویل چې ډاکتر صیب همت د کوم ځای دی؟ هغه راته وویل: د کونړ دی، ما ویل فکر نه کوم په ټول کونړ کې دومره هوښیار، ځیرک او ماهر سړی پیدا شي، ځکه د کونړ اکثره خلک چې زه پېژنم، ډېر ځیــره پښتانه دي، په اسانۍ له ښاري کلتور سره نه غاړې وځي، خو دا همــت صیب چې زه ګورم، ګومان نه کوم، چې د کونړ به وي، ډاکتر شــېرولي راته وویل چې مېرمن یې د لغمان ده! ما ویل بس اصلي علت مې پیــدا کړ. د ډاکتر صیب همت مېرمن هم ډاکتره ده او ده ســره یوځــای پــه کلنیک کې کار کوي.

ډاکتر صیب همت سره ډوډۍ ته کېناستو، خورا لوکسه ډوډۍ یــې تیاره کړې وه، د خپلې خسرګنۍ له کورنۍ څخه یې هم دوه تنه هلتــه حاضر وو، نو زما یې ډېر عزت وکړ. تر ډوډۍ وروسته مې ډاکتر صــیب همت ته وویل چې لږ لنډې خبرې به وکړو، بیا به موږ درڅخه رخصــت

واخلو، پر دې وخت چای هم تیار شو. ډاکتر صیب همت ته مـــې وویـل چې د پښتنو ډېره غټه بدمرغي د دوی اقتصادي کمزوري ده، که د دوی اقتصاد ښه شي، نو دوی به خپله انرژي  په خپلو کې نه مصرفوي، نورو لوړو مسایلو ته به یې پام شي، نو داسې لارې چارې باید ولټوو، چـــې د دوی د ژوند اقتصادي کچه پورته شي، که هغه د تعلیم له لارې وي که د تجارت، تخنیک او یا طبابت له لارې او دویم دا چې په پښتنو کې باید یو کلتوري انقلاب ترسره شي، چې د دوی ذهن بدلون وکړي او دا کار زما په نظر د رسنیو له لارې په تېره بیا د راډیو ټلویزیـون لــه لارې ډېـر ژر ممکنېدی شي. ډاکتر صیب همت لکه زما خبرو ته یې چې مخکې تــر مخکې تیاری نیولای وي، وویل:

اول اقتصاد ته راځم:

یو- که چېرې د پښتنو اقتصاد ښه شي ګټې یې دادي:

الف- د دوی خپله ژوند ښه کېږي

ب- تا نه پیسې په پور نه اخلي.

ج- که پیسې درنه په پور واخلي، درنه خوري یـــې نـــه، بېرتـــه یـــې درکوي.

دویم: راډیو او ټلویزیون؛

که پښتو راډیو تلویزیون جوړ شي ګټې یې دادي:

الف- د پښتنو ذهني کچه اوچتوي.

ب- د مخالفینو تبلیغات خنثی کوي

ج- د فرهنګ د غوړونې ښه وسیله ده

د- شخصیتونه په کې مطرح کېږي.

ده په پای کې ژمنه وکړه، چې هر ډول همکـاري تـه تیـار دی او د مرستو د جلبولو په برخه کې به خپلې ټولې هلې ځلې وکړي. د شـپې دولس بجې به وې چې له ډاکتر صیب همت نه مو رخصت واخیست او د حاجي صیب فضل الرحمن د هال پر لوري مو حرکت وکړ، نیم سـاعت وروسته هلته ورسېدو، ټول اندېوالان هلته راته منتظر وو، له هغه ځایه مو له احمدشاه امین سره مخه ښه وکړه او موږ له خپلو اندېوالانو سره د حاجي صیب فضل الرحمن د کور پر لوري رهي شو.

یوه غرمه له ډګروال صیب حضرت رسول سره: سهار چای مو حاجي صیب فضل الرحمن سره وڅښه، هغه هم د پېښور پرلوري د سفر نیت درلود، له هغه څخه مو خدای پاماني واخیسته، ورته ومو ویل چې بیا به په کابل کې ګورو.دا وخت نو د شور صېب موږ سره وروستۍ ورځ ده، د هغه رخصتي نو نوره خلاصه شوه، پلان مو داسې جوړ کړ، چې

لومړی به شور صېب د اورګاډي تر تمځي پورې ورسوو او مــوږ بــه بیــا خپلې مېلمستیا ته راشو، شور صېب مو تر تمځي پــورې ورســاوه، یــو ساعت زیات وکم ورسره وو، کله چې مو اورګاډي کې کېناوه، نور تــرې راغلو. د اورګاډي دا ستېشن تر دویمې نړیوالې جګړې دمخه جوړ شوی و، دوی په کې څه تغیرات راوستي وو، خو اساسات یې همغه وو.

زه (یون) شېرولي، غریب صیب، باوري صیب او نجیب الله احمــدزی د ډګروال صیب حضرت رسول دوی د کور پر لوري وخوځېــدو، ډګــروال صیب حضرت رسول د ډاکتر شېرولي ماما او د لوړ فکر خاوند دی، دا څو ورځې مفصل یې موږ ته د مېلمستیا بلنه راکوله، خو وخت ډېر تنګ و، دادی نن غرمه د مارچ (۲۴)مه ایله ددې جوګه شو، چې د هغه کور تــه لاړ شو. خو تر هغه دمخــه د هېــواد د پیــاوړي لیکــوال زریــن انځــور فرهنګیالي زوی خوشال انځور هم څو ځله بلنه راکړې وه، خو موږ تــه ددې مجال پیدا نه شو، چې هلته لاړ شو. انځور صیب دا مهال په کابل کې و، نو ځکه ټولو اندیوالانو پرېکړه وکړه، چې د انځور کور ته ځو، د کور احوال یې اخلو، ورینداره ګورو، خوشال سره چای څښو، خــو غرمــې ډوډۍ ورسره نه خورو. نو د ډګروال صیب حضرت رسول کور ته د تګ پر مهال، غریب صیب خوشال انځور ته ټلېفون وکړ، چــې ماسپښــین درځو، چای درسره څښو او بیا ځو فرانکفورت ته، ځکه سبا د یون صیب پرواز دی. غرمه مو له ډګروال صیب حضرت رسول سره تېره کړه، سخته

واوره ورېدله، هغه هم دومره لوکسه ډوډۍ کړې وه، چې د چا خبــره د پیسو یې په کې ختی خېږولای و، د ډوډۍ پر سر طبعاً له معمول ســره سم سیاسي بحثونه وشول، خو دومره جدي هم نه وو لکه په نورو غونډو کې چې وو او یا هم کله کله په موټر کې واقع کېدل. تــر غرمــې ډوډۍ وروسته مو له ډګروال صیب حضرت رسول څخه خدای پاماني واخیسته


ډاکټر شېرولي، یون او شور صیب

او د انځور صیب د کور پر لوري رهي شو.

**دوه ساعته د انځور صیب په کور کې:** د مارچ (۲۴)مه نېټه وه، ماسپښین مهال و، تر نیم ساعت مزله وروسته د انځور صیب کور ته ورسېدو، خوشال موږ ته د کور په وره کې منتظر و، هغه سره کــور تــه لاړو، په مېلمستون کې کېناستو، وریندار (د انځور صیب مېرمن) راغله،

موږ ته یې ستړي مشي راکړل، ورپسې حمزه (د انځور صیب دویم زوی) هم راغی موږ سره یې روغبړ وکړ، ډاکتر صیب رمضان هم تشریف راوړی و، ټولو ورینداري څخه د کور د حال احوال پوښتنه وکړه، هغې د کور د روغ و جوړ ډاډځرګند کړ. انځور صیب دا مهال کابل کې و، کله چې انځور هلته وي، نو د ده کور لکه د شاعرانو دېره اوهوجره هسې وي، ټول پرې راټول وي. غریب صیب، باوري صیب او احمدزي صیب ورته وویل: د کور مشري ستا ده موږ ګوره د انځور صیب پر ځای ستا ډېر منندوی یو، هغې بیا ټولو نه مننه وکړه، چې دلته راغلو، د دوی احوال مو واخیسته، خو ویې ویل ډېره به هله خوشاله وم، چې ډوډۍ ته راغلي وئ، یون صیب لرې ځای نه راغلی دی، ما ویل مننه ورینداري، وخت ډېر تنګ و، ټول مو په منډو تېر کړ، که نه خو اول مو باید ستاسو احوال اخیستی وای، اوس نو سبا زه کابل ته ځم، که انځور صیب ته څه احوال لېږې او یا څه سوال، ماته یې ووایه، هغې ویل مننه، انځور صیب وخت پر وخت ټلېفون کوي، موږ هم خپله په خیر د خوشال د واده لپاره په فرصت کې درځو. اوس نو که خوشال څه لري، نه پوهېږم، خوشال وویل: هو زما یو څه کار دی یو پاکټ کې یو څه پیسې وې، ماته یې وویل چې دا ایمل دانځور صیب ورور ته هلته ورکړم،پاکټ مې له هغه څخه واخیستې. د چای پر مهال مې له ډاکتر صیب رمضان سره د فرهنګي کارونو په اړه د زړه خواله وکړل، هغه وویل: انځور چې دلته و، فرهنګي کارونه ښه ګرم وو، اوس هم ښه دي، خو ډېر ګرم نه دي، دغه بروشور

چې ګورې دا مو د کلتوري ټولنې د سلمې کلیزې پــه مناســبت چــاپ کړې، دې کې ټول هغه کتابونه معرفي شوي، چې تر دې دمه د کلتوري ودې ټولنې له خوا چاپ شوي دي، په بروشور کې لیکل شوي:

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د خپلو هلو ځلو په لنډ بهیر کې د خپلو غړیو، مینه والو او دوستانو په ملاتړ یو لړ مهم کارونه ترسره کړي دي. ټولنې تراوسه پورې یو شمېر غونډې، مشــاعرې، ســیمینارونه او کنفرانسونه جوړ کړي دي، لکه:

ــ د هېواد د نومیالي شاعر اسحق ننګیال یاد غونډه، مې، (۱۹۹۸م) کال

ــ د ملي یووالي پر بنسټ د افغانستان د کړکېچ د حل لارې، لویــه غونډه، اګست، ۱۹۹۸م.

ــ د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته ګټلو د اتیایمې کالیزې پــه ویــاړ علمي سیمینار (( افغانستان په شلمه پېړۍ کې))، اګست، ۱۹۹۹م

ــ د ټولنې بېلابېلې کالیزې او پسرلنۍ مشاعرې

ــ له نومیالي شاعر جهاني سره یو ماښام

ــ له پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ سره یو ماښام

**ــ د میوند د تاریخي بري د یو سلو شلمې کالیزې پــه ویــاړ علمــي سیمینار: (( میوند- د افغانستان د تاریخ څلی))، نومبر، ۲۰۰۰م**

**ــ د افغانستان د ملي شاعر خوشال بابا د څلور سومې کــالیزې پــه جشن او نړیوال سیمینار کې له یو شمېر نورو افغاني ټولنو سره فعــال ګډون، جون، ۲۰۰۱م**

**ــ ((د افغانستان راتلونکې او د فرهنګپالو دریځ)) پــه نــوم علمــي سیمینار، می، ۲۰۰۲م**

**ــ (( اساسي قانون او د مدني ټولنې جوړښت)) په نــوم ســیمینار، اپریل، ۲۰۰۳م.**

**ــ غازي امان الله خان- د افغانستان د خپلــواکۍ ســتوری (علمــي سیمینار)، اګست، ۲۰۰۴م**

**ــ د ارواښاد میرزاعلم حمیدي یاد غونډه، جولای، ۲۰۰۵م**

**ــ د افغان هوتکي پاڅون د درې سومې کلیــزې جشــن، ســپټمبر، ۲۰۰۵م**

**ــ د ارواښاد استاد روهي د لسم تلین په مناسبت علمي غونډه، (په مونشن ګلادباخ کې له افغاني کلتوري ټولنې سره په ګډه)، می ۲۰۰۶م**

ــ په خیبر کې د افغانانو د تاریخي بري د ۳۳۵ کالیزې جشــن او د ایمل خان کارنامو یاد، سپتمبر، ۲۰۰۶م

ــ د اروابناد سیداګل غریبیار یاد غونډه، جولای ۲۰۰۷م

او دغه راز یو شمېر نورې غونډې.

ټولنې تراوسه پورې دغه ارزښتناک اثار چاپ او خپاره کړي دي:

ــ سیندونه هم مري، اسحق ننګیال

ــ څیرې ګرېوان، عبدالوهاب سرتېر

ــ پښتانه (پټانز)، سراولاف کارو، د جنرال شېرمحمد کریمي ژباړه

ــ په افغانستان کې توپان، غوث خیبری

ــ د شلمې پېړۍ تر نیمایي د افغانســتان د بهرنیــو اړیکــو تــاریخ، لوډویک اډامیک، د ډاکتر نثار احمد صمد ژباړه.

ــ په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل؟، جنرال الکساندر مایوروف، د ډاکتر داود جنبش ژباړه.

ــ د سین پر غاړه، حبیب الله زړه سواند

ــ ګام پر ګام له خوشال سره، محمد آصف صمیم

ــ مات ستوري، نصرالله حافظ

ــ افغانستان په شلمه پېړۍ کې، د ګڼو لیکوالو د مقالو ټولګه

ــ د افغان مېړانه او غمیزه، جنرال الکساندر لیاخوفسکي، د محب الرحمن ژباړه.

ــ د پوهاند رښتین ژوند هېنداره، لال پاچا ازمون

ــ افغانستان د هند ستره دروازه، اوسکار فون نیدرمایر، د خوشال انځور ژباړه.

ــ پښتني قبیلې او روایتي شجرې، محمد معصوم هوتک

ــ شمېر پوهنه، ډاکتر ماخان شینواری

ــ د افغانستان د طبیعي سرچینو پېژندنه، پوهنوال محمد بشیر دودیال

ــ طبي میکروبیولوژي، پوهنوال ډاکتر دوست محمد دوست

ــ راز، عبدالله پیکار

ــ انتاني ناروغۍ، پوهنوال ډاکتر عبدالناصر جبارخېل

ــ ستومانه تېښته، عارفه عمر لور

ــ دلته غرونه نه دي هسک، محمد زرین انځور

ــ د هضمي جهاز انډوسکوپي، ډاکتر محمد شریف ظریف

ــ د هضمي سیستم د محلقاتو د جراحي ناروغیو اساسات، پوهانــد ډاکتر شېرزاد یعقوبي

ــ په شلمه پېړۍ کې د هېواد نفوس، محمد حسن سهاک

ــ د حقوقو بنسټونه، نصرالله ستانکزی

ــ ناروغ او فزیوتراپي، ډاکتر نور اسلم وزیر

ــ میوند، د افغانستان د تاریخ ځلی، د سیمینار د مقالو ټولګه

ــ کوروش خون اشام، پوهاند عبدالشکور رشاد

ــ اسلام او ښځه، مولوي حنیفي

ــ په اسلام کې کورنی ژوند، قاضي حقیار

ــ افغانستان زما وروستۍ جګړه، جنرال م، ګارییف، د محمــدطاهر کانې ژباړه.

ــ ننګیالی د زمانې، سرمحقق زلمی هېوادمل

**ــ لرغونپوهنه ( د سپړنو او څېړنو چارې) پوهنوال محمــد رســول باوري.**

**ــ پښتو غړ پوهنه، پوهنوال محمد صابر خویشکی**

**ــ زړه کلا، عبدالوکیل شینواری**

**ــ پښتو لوست ( د افغان ماشومانو لپاره) ع. آماج**

**ــ افغاني سرداران او مغول، ډاکتر ریتا جوشي، د جنرال شېرمحمد کریمي ژباړه.**

**ــ تراوماتیکه اورتوپیدي، د ډاکتر عبدالبصیر منګل ژباړه.**

**ــ د پوستکي ناروغی، ډاکتر خادم الله کاکاخېل، د ډاکتر ســیدانور اکبري ژباړه.**

**ــ د پوهنې فلسفې بنسټونه، جارج نېلر، د پوهاند ډاکتر محمدحسن کاکړ ژباړه.**

**ــ روغمن ارمانونه، غلام حضرت روغمن.**

**ــ افغانستان- سیاست او سیاستوال، ویکتــور کورګــون، د محــب الرحمن ژباړه.**

**ــ عمومي کیمیا، پوهاند ډاکتر خیرمحمد مامومند.**

ــ د حضور احکام ( د افغانستان د ولیعهد عنایت الله خان ارشیف)، ډاکتر شاه اموروف، د ډاکتر غلام مصطفی رسولي ژباړه.

ــ د کوچنیانو ناروغی، ډاکتر توریالی نورزی

ــ د ښاغلي ډاکتر ماخان شینواري په قلم لیکل شوي یا ژباړل شوي دغه اثار:

ــ د شمېر پوهنې د پښتو الماني او الماني پښتو کوچنۍ ډکشنري

ــ د شمېر پوهنې فرمولونو ټولګه

ــ الجبرونه

ــ دیفرینځیال برابرون یا مساوات

ــ د ځمککچ، د هندسي وکتور- تجارتي او احتمالي شمېرنې

ــ د مسکو لاس، جنرال شیبارشین، د محمد طاهر کانې ژباړه

ــ افغانستان له شخصي دوسیې څخه، و.ا. کریوچکوف، د محمد طاهر کانې ژباړه

ــ طالبان او اسلامي بنسټ پالنه، پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ

**ــ د پولادي امیر تر سیوري لاندې، فرانک مارتین، د محمد معصوم هوتک ژباړه.**

**ــ محمود طرزي، شاه امان لله و روحانیت متنفذ، کاندید اکاډمیسین سیستاني.**

**ــ تروریزم او جګړه، هوارد زین، د محمد اکبر کرګر ژباړه.**

**ــ د افغانستان جګړه او ګورکي ته زما تبعید، د انــدري ســاخاروف خاطرات، د محمد زرین انځور ژباړه.**

**ــ د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، ي. تیخونوف، د محمد طــاهر کانې ژباړه.**

**ــد شکرې ناروغتیا، پوهندوی ډاکټر امان الله حمیدزی**

**ــ د کوچنیانو جراحي، ډاکټر شګیوال**

**ــ د افغانستان د مشروطیت غورځنګ، پوهاند عبدالحی حبیبــي، ژباړن: حکیمزی**

**ــ پنځوس ملیونه، عبدالوکیل سوله مل شینواری**

**ــ میرویس نیکه، استاد بېنوا**

ـ په افغانستان کې د منرالي اوبو چینې، ستانه میر زهیر او شېرشاه رشاد

ـ رستا خېز قندهار، کاندید اکاډمیسین محمد اعظم سیستانی

ـ سل پګړۍ یو پوړونی ( د هوتکو نومیالی)، محمد معصوم هوتک

ـ د پاچا امان الله واکمنۍ ته نوې کتنه، پوهاند ډاکتر محمد حسـن کاکړ.

ـ د کندهار پاڅون، محمد اعظم سیستانی، د صالح محمـد صـالح ژباړه.

ـ د کوچنیانو د نس ناستي ناروغي، پوهنیار ډاکتر همایون چاردیوال

ـ د مسیحي سیاح تاریخ، کروسنسکي، د عبدالقیوم مشواڼي ژباړه

ـ غازي امان الله خان- د افغانستان د خپلواکۍ ستوری، د سیمینار مقالې.

ـ شهزاده او هیلۍ، پوشکین، د محمد یوسف صابر ساپي ژباړه او د محمد نادر ساپي نظم

ـ د مخ پر ودې هېوادونو اقتصادي ستونزې، پوهانـد ډاکتـر نـذیر شهیدي

ــ افغان هوتکي پاڅون ( د سیمینار د مقالو ټولګه)

ــ په حالنامه کې د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څېره، اکبر کرګر

ــ ایمل خان، میراجان سیال مومند

ــ په مشرق کې د مغرب ګلونه، پوهاند ډاکتر حبیب الله تږی

ــ فزیکي کیمیا، پوهاند ډاکتر خیرمحمد ماموند

ــ د حمیدي یاد ( د مقالو ټولګه)

ــ په منځنۍ اسیا کې لویه لوبه، تاتیانانیکووایونا، د طاهر کاڼي ژباړه.

ــ د هډې اخوندزاده- ملانجم الدین(رح)، سرمحقق عبدالله بختانی

ــ تتمة البیان فی تاریخ الافغان، سید جمال الدین افغــان، ژبــاړن: محمد رفیق حبیبي

ــ موزیم پوهنه او په افغانستان کې د موزیمونو د بهیر لوړې ژورې، پوهنوال رسول باوري.

ــ د پرازیتولوژۍ اساسات، ډاکتر محمد صابر

ــ ایمل خان مومند- د خیبر اتل، د مقالو ټولګه

ــ بابر او پښتانه، عبدالرحیم بختانی

ــ د کندهار یادښتونه ( په دوو ټوکو کې)، علامه استاد رشاد

ــ په لویدیز کې سیاسي چارې، پیټرجویس، ژباړن: احمدزبیر ژمن

ــ د طبیعي علومو د وروستیو څېړنو په رڼا کې د ژوندۍ نړۍ تکامل، پوهندوی نسیم ګل توتاخېل

ــ ان لاین ژورنالیزم، ایمل پسرلی

ــ خاطرې او د یوې لنډې مودې تاریخ، محمود طرزي، ژباړن: پوهاند محمد حسن کاکړ.

ــ ډیورنډ– د واحد ملت د بېلتون کرښه، د مقالو ټولګه

او یو شمېر نور اثار او رسالې.

د پورتني لست تر مطالعې وروسته مــې لــه ډاکتــر رمضــان څخــه وپوښتل چې څنګه دي نور کارونه، هغه وویل: نور کارونــه روان دي، د خدای فضل دی.

څو شېبې وروسته مو له ورینداري څخه خدای پاماني واخیسته او د فرانکفورت پر لوري روان شو.

د فرانکفورت پر لوري: د مارچ (۲۴)مه نېټه مازیګر نږدې و، چې د انځور صیب له کوره رابهر شو، خوشال انځور وویل: زه هم فرانکفورت ته

ځم، له ډاکتر صیب رمضان څخه مو همدلته، خدای پاماني واخیســته، خوشال سره یو ډېر لوکس ګاډی و، غریب صیب ورته وویل چې دا خــو دې له بارګین څخه نه دی راوړی؟ هغه وویل: نه د همغې کمپنــۍ دی، چې زه ورسره کار کوم، بیا نو غریب صیب ارام شو، چې څه بد مصرفي یې نه ده کړې. خوشال وویل: یون صیب به ماسره کېني، ځکــه تاســې سره خو یې ډېر وخت تېر کــړی دی. غریــب صــیب، بــاوري صــیب او احمدزی صیب په خپل موټر کې کېناستل، د فرانکفورت پر لوري رهي شو، خوشال موټر په (۱۸۰) کې چلاوه، سړکونه دومره پاک وو، چې تــا ویل تازه یې وینځلي وي، خوشال په موټر کې جي پي ایس فعال کړی و، ویې ویل چې اوس داسې جي پي ایسونه راوتي چې په پښتو هم درتــه لارښوونې کوي ټول مشکل یې حل کړی دی. خوشال د لارې پــه اوږدو کې د دویم نړیوال جنګ د پیلېدو عوامل، د جرمني پرمختګ، د دوی د ماتې عوامل او په اوسني حالت کې د جرمني د ژوندانه پــه اړه پــه زړه پورې معلومات راکړل، د جنګ د پیلېدو په اړه یې وویــل چــې هیټلــر هسې پولینډ ته پلمه غوښته، د پولنډ له خاورې یې پر خپله خاوره څو توغوندي وتوغول او همدا یې پولنډ ته پلمه کړه، نور بیا جنګ پیل شو، خوشال وویل: جرمنیانو د اټومي انــرژۍ د تولیــد ټــولې دســتګاوې د ګاونډیو هېوادونو سرحداتو ته نږدې جوړې کړي دي، چې که احتمالي خطرونه ورته پېښ شي، نو چې راډیواکتیف مواد یې د دوی خپله خاوره ډېره متظرره نه کړي.

خوشال وویل جرمني اوس هم د داسې درنــو او عصــري وســلو د جوړولو ظرفیت لري، چې ان امریکا ته به هم چیلنج وي، خو دوی ته د داډول وسلې د جوړونې اجازه نه شته، دوی هم پرې ډېر سر نه خوږوي، خپل اقتصاد ته یې کش ورکړی دی، دا خلک په مرګ کار کوي، له کار او قانون سره بې حده مینه لري. خوشال په همدې خبرو اترو کې نــږدې څلور سوه کیلو متره لار په څه کم درې ساعتونو کې ووهلــه. خوشــال وویل: حبیب ګردیوال سره مو وعده ده، هغه تاسو ته منتظر دی، هغــه وویل: یون صیب به ډوډۍ ماسره خوري، بیا چې هر چېرته ځي، ما ویل سمه ده، خو یو ځل غریب صیب ته ټلېفون وکړه، چې هغــوی د ډوډۍ لپاره موږ ته په تمه نه شي.

خوشال،غریب سره اړیکي ټینګ کړل، هغوی وویل: ســمه ده، یــو ادرس یې ورته ورکړ، چې د ښار په دې سیمه کې به موږ درته تر ډوډۍ وروسته منتظر یو. حبیب ګردیوال صیب د یو تعمیر په درېیم پوړ کــې اپارتمان نیولی و، چې همېشه د دوی یو څوک په کې اوســېږي، خــورا لوکس ځای و، ډوډۍ یې هملته تیاره کړې وه، ډوډۍ مو وخوړه، حبیب وویل: زما له ډېرې پخوا زړه وو، چې یو ټلویزیون جوړ کړم. په دې برخه کې مې له حاجي صیب (خپل پلار) سره هم مشــوره کــړې وه، خــو لا تراوسه یې راته نهایي مشوره نه ده راکړې، اوس خبر شوم چې تاسو هم د ټلویزیون د جوړولو نیت کړی دی، ما ورته وویل چې موږ یوازې یو نیت

کړی، نور عملي امکانات تراوسه هېڅ نه شته، که پښتانه پـانګوال زړه ښه کړي او په دې برخه کې پانګه ولګوي، نو هم دوی ته په ګټه ده او هم ټول ملت ته! نو ما ډېرو خلکو سره سلا مشوره پیل کړې وګـورو، چـې وروستی عملي نتیجه یې څه ده، حبیب وویل زه هم تر خپلــې وســې پورې همکارۍ ته تیار یم.

څو شېبې نور هم حبیب ګردیوال سره ناست وو، بیا مو له هغه څخه اجازه واخیسته، خوشال زه ټینک هغه ځای ته ورسولم، چــې غریــب صیب لا پخوا په ټلېفون کې ورته ویلای و، هغوی تیار هلته ولاړ وو، زه او خوشال له موټره کښته شو، هغوی سره مو روغبړ وکړ، خوشال له ټولو خدای پاماني واخیسته لاړ او موږ څو دقیقې پلې په ښار کې وګرځېدو، تر دې حده چې ستړي شو، باوري صیب په دې ترڅ کې په خپل ویــزه کارت باندې له بانکه یو څه پیسې هم راوویستې، یــو څــه جــوس مــو وڅښل او نور په موټر کې د غریب صیب د کور پر لوري رهي شو.

له دوو جرمني پروفیسورانو سره کتنه: د مارچ (۲۵)مه نېټــه وه، د سهار لس وې، چې د غریب صیب په کور کــې تــر چــای څښــلو وروسته وزګار شو، د بهرامي صیب زنګ راغی، غریب صیب ټلېفون ماته راکړ، تر روغبړ وروسته بهرامي صیب وویل: هغه دوه پروفیسوران چې ما یې مخکې درته یادونه کړې وه، نن یو له برلین څخه پرواز لري او بل له بل ښار نه راځي او تا سره ملاقات کوي، هیله ده دا ملاقات ترسره کړې،

دا ډېر مهم خلک دي او ما ستا په باب ډېر معلومات ورکړي دي، ورتــه ویلې مې دي که غواړئ د افغانستان د حالاتو پر دقیق تصویر پوه شئ، نو ددې سړي نظرونه واورئ، بهرامي صیب ډېر تېنګار وکړ. غریب صیب او نورو انډیوالانو سره مې مشوره وکړه، هغو ټولو وویل: دا موثر ملاقات دی، ورته لاړ شه، څو شېبې وروسته بهرامي صیب راورسېد، لــه هغــه سره په موټر کې کېناستم او د ملاقات د ځای پر لوري رهي شو. بهرامي صیب راته د ملاقات پانه راکړه، چې زما او د ددې پروفیسرانو ټایټلونه په کې لیکل شوي وو، زه یې ډېر غټ سړی معرفي کــړی وم، مــا بهرامــي صیب ته وویل: دا دې ښه کار نه دی کړی، زه غواړم څومره چې یم تــر هغه ځان لوړ ونښیم، عادت مې دی، چې څومره یم تر هغه هم ځان کم وښیم او بل کوم کار چې مې کړی او بشپړ کړی نه وي د هغه وعده هم چاته نه ورکوم، بهرامي صیب ماته وویل: ګله ته خو عادي سړی نه یې، ته په خپل قدر نه پوهېږې، دا اوس چې د دوی کمپیوټرونو ته لاړ شې، د تا په اړه په کې ټول معلومات شته، دا چې دوی ته ساده سړی ښکارېدې دا یو له برلینه او بل له هغه بل ښاره دومره د الوتکې او موټرو مزل نــه کاوه، چې ستا لیدو ته راشي، دوی ستا په باب ټول معلومات لــري، نــو ځکه کله چې ما ورته ستا یادونه وکړه، چې دی په سیاحت راغلی، دوی د ملاقات غوښتنه وکړه، هغه یو له برلین دوه ساعته الوتکه کــې مــزل کوي، اوس به ژر لاړ شو، چې دا خلک پر وعده ډېر ټینګ دي، تــر یــو ساعت زیات مزل به مو کړی وي، چې بهرامي موټر په ځمکتلي پارکینګ

کې پارک کړ، دواړه راووتو، راته یې وویل: دغه مخامخ هوټل دی، پر ښه وخت راورسېدو، د هوټل ریسپشن ته چې ورسېدو، دواړه پروفیسوران زموږ هرکلي ته ولاړ و، سترې مشي مو وکړل، دواړه ځوانان وو، خو ډېر هوښیار معلومېدل، دننه هوټل ته یې بوتلو، دا په فرانکفورت کې هغــه تشریفاتي او لوکس هوټل دی، چې د نــړۍ اکثــره مهــم شخصــیتونه، شهزادګان او رسمي خلک دلته راځي او یو بل سره ملاقاتونه کوي.

د ډوډۍ پر مېز کېناستو، دوی په پیل کې ما څخه وپوښــتل چــې د سفر شېبې دې دلته ښې تېرې شوې؟ ما ویل هو ډېرې ښې، خو ډېــرې مصروفې وې، بیا یې وویل خدای دې وکړي جرمني څخه ښــه خــاطره ولرې چې هر کله راشې! ما ویل ډېر مې خوښ دی، مخکې هم دوه ځلي راغلی یم دا مې دریم ځل دی. بیا مې دوی ته وویل: ښه به وي چې له وخته ګټه پورته کړو، خبرې وکړو، دوی وویل: لومړی ډوډۍ خورو، مــا ویل ډوډۍ هر چېرته او هر وخت خوړل کېږي، خو خبرې هر ځای او هر وخت نه کېږي. دوی ډېر خوشاله شول، خو ویې ویل خیر مینو کې څه خوښ کړه، ډوډۍ به هم خورو او خبرې به هم کوو، ما چې مینو وکتله طبعاً د هغه ځای پر غذایي څرنګوالي نه پوهېدلم، بهرامي ته مې وویل: چې زما له شان سره یو څه راوغواړه خو چې ډېر نه وي. ټولو یوه سپکه غذا فرمایش ورکړ، چې ډېره قیمتي وه خو ماته یې خوند رانه کړ، هسې مې په کې کاچوغه وهله چې دوی څه بل فکر ونه کړي، خــو دوی پــوه

شول، راته يې وويل: غذا دې لکه چې په طبعه نه وه، ما ویل نــه ډېــره خوندوره وه، ما ویل ښه به وي چې خبرې پیل کړو، دوی ویل څنګه چې ستا خوښه وي، ماویل زه دلته په رسمي سفر نه یم راغلی، نــه غــواړم رسمي خبرې وکړم، نو ځکه غواړم ازاد بحث وکړم، واقعیتونه څرګنــد کړم، نو کوم چې ستاسو په نظر سم راتلل هغه یادښت کړئ، دوی ویل هر ډول چې ته ځان راحت احساسوې همغه شــان وکــړه، مــوږ هغــه واقعیتونه غواړو چې لا هم تر خاورو لاندې دي، بیا دوی ماته وویل چې موږ تاته دا وعده نه درکوو، چې دلته ویل شوې خبرې به موږ ســل پــه سلو کې عملي کړو، خو دومره درته ویلی شو، چې زموږ دواړو نظرونه، د افغانستان په باره کې د المان د حکومت د نظر په ادلون بدلون کې مهم رول لرلای شي. دوی دواړو خپلې کتابچې پر مېز کېښودې، قلمونه يې راوکښل، بهرامي صیب ژباړه کوله، بهرامي صیب تر پښتو په الماني کې ډېر روان دی، نو ځکه يې ډېره ښه ژباړه کوله. مــا ورتــه د افغانســتان حکومت له قومي، سیاسي، سیمه ییز، مذهبي او اقتصــادي پلــوه لــه ارقامو سره سم تشریح کړ. په سیاسي لحاظ مې دا هم ورته واضح کړه، چې څوک تر محکومیت لاندې دي او څوک په تصنعي ډول د مظلومیت چیغې وهي. د افغانستان د اکثریت پر وړاندې مې د غربــي هېوادونــو تبعیضي چلند هم ورته ښه تشریح کړ او د ګاونډیو هېوادونو، پاکستان او ایران پخوانۍ او اوسنۍ ستراتیژۍ او فعلي نفوذ دا ټول مې ورته لا ښه واضح کړل. د افغانستان قومي او مذهبي جوړښت مې له ارقامو ســره

سـم توضـیح کـړ، د جنـګ سـاحې، مـالي درغلـۍ، اداري فسـاد، جنګسالاران، له بهرنیو هېوادونو سره د جنګسالارانو اقتصادي تړاوونه، ټول مې یو په بل پسې تشریح کړل، دوی ټولو منظم یادښتونه اخیستل او په منځ کې یې پوښتنې هم کولې، بحث ډېر اوږد او خوږ شو، زه پوه شم چې دوی ورته څومره په دقت متوجه دي، هر یوه د خپلې کتابچې ډېرې پاڼې ډکې کړې او داسې ژر ژر یې یادښتونه اخیستل او په منځ کې یې پوښتنې هم کولې، چې حد نه لري، د اکثرو خو یې مخففات لیکـل ځکه چې د ټولو خبرو لیکل ورته اسانه نه وو، یو دوه ځله یې ماته وویل: موږ ستا د وخت تابع یو، څومره چې ستا وخت ایجاب کوي موږ درسره یو، ما وویل: نهایي تر دوو بجو درسره یم، بیا زه د خپلې الوتنې ترتیبات نیسم. دلته به تر یوې بجې پورې ناست وو، ښـه ډېـر یادښـتونه یـې واخیستل، دوی ته زما خبرو ځکه خوند ورکړ، چې ځینې یې ددوی له معلوماتو سره هم سر خوړ او ځینې معلومات دوی ته نـوي وو، د دوی دځینو معلومات هم زما له معلوماتو سره سر خوړ، د دوی دقـت هغـه وخت ماته لا ډاګیز شو، چې زموږ د دفتر د څو لویانو د کاري ظرفیت او صلاحیت کچه یې راته څرګنده کړه او همدارنګه د څـو نـورو دولتـي اشخاصو مالي درغلي او داسې نور مسایل یې راته په ګوته کړل. تر یوې بجې وروسته یې راته وویل: راځه یو څو شېبې پلي وګرځو لږ بـه تـازه شې، بیا به بل هوټل ته لاړ شو، هلته به هم چای وڅښو او هم به نـورې خبرې وکړو.

یو لس دولس دقیقي پلي وګرځېدو، د ښار ځینې واټونه یې راته معرفي کړل، بیا یو هوټل ته لاړو، چای یې راوړ، بیا مو خبرو ته دوام ورکړ، نږدې یو ساعت یې دوام وکړ، پر اکثرو موضوعګانو مو بحث وکړ، په پای کې دوی خپل نوټونه سره وارزول، ویې ویل نتیجه داده چې د افغانستان په باب د جرمني په اوسني سیاست او همدارنګه د غرب په ټول سیاست کې باید بدلون راشي، ما ویل دا بدلون باید مثبت او موثر وي، د یو محدود اقلیت، څو جنګسالارانو او څو سیاستوالو له انحصاره باید دا روابط ووځي او تاسو د افغان ولس عمومي ګټې په پام کې ونیسئ،په پای کې د ټولو د نظر یووالی رامنځته شو، ساعت ته یې چې وکتل زما وخت پوره وو، ویې ویل نور دې نه ستړی کوو، که چېرې مونږ بلنه درکړو، په ځینو علمي غونډو او سیمینارونو کې دا ځینې مهمې موضوعګانې څېړلای شې؟ ما ویل که بلنه مو رسمي وي، بیا خو باید نو زمونږ له دفتر سره اړیکي ونیول شي او که همداسې د یو لیکوال په توګه راځخه غواړئ هم ډېره مشکله خبره نه ده، له هوټله راووتو ټول خوشاله وو، ماته یې وویل په دې خاطر چې د افغانستان واقعي تصویر دې مونږ ته څرګند کړ، ډېره مننه، دبیا لیدو په هیله، ښه سفر. له دوی څخه مو خدای پاماني واخیسته، بېرته د غریب صیب د کور پر لوري رهي شو. لاره کې بهرامي صیب راته وویل: وه ګله و ګله داسې سر دې ورخلاص کړ چې څو ورځې به دوی دا مسایل اوس څېړي، دومره کار په دې شلو کلونو کې چا نه و کړی، دا داسې عادي خلک نه دي، د دوی په هره

**کلمه دلته حکومت حساب کوي، ما وویل: د دوی معلومات هم زیات وو، خو موږ نور هم ورته زیات کړل، بهرامي ډېر زیات خوشاله شو، تــر یــو ساعت زیات و کم مزله وروسته د غریب صیب کور ته ورسېدو، هغــوی ویل څنګه و ملاقات مو، سر مو ورخلاص کړ، ملایان مو کړل؟ موږ وویل: سر مو هم ښه ورخلاص کړ، ملایان خو وو، خو موږ ترې ښېخي مولویــان جوړ کړل.**

# له فرانکفورت څخه دوبۍ ته

د مارچ (۲۵)مه نېټه وه، د غریب صیب په کور کې مو ډوډۍ وخوړه، بهرامي صیب، باوري صیب او احمدزی صیب سره ملګري وو د غریب صیب له کوره د راوتو پرمهال مو له بهرامي صیب سره خدای پاماني وکړه، که څه هم هغه ډېر ټینګار وکړ، چې تر هوایي ډګره درسره ځم، خو ما وویل چې دا نور درې یاران راسره دي، ډېر ضرورت نه شته، ځان مه په تکلیفوه، غریب صیب، احمدزی صیب او باوري صیب او زه (یون) پر شپږو بجو له کوره راووتو، پنځه ویشت کم اوه بجې هوایي ډګر ته ورسېدو


احمدزی صیب، یون، غریب صیب او باوري صیب په فرانکفورت هوایي ډګر کې.

او د فرانکفورت د هوایي ډګر په دویم نمبر ترمینل کې مو د ټکټ

کـار خـلاص کـړ، هماالتــه نـږدې نــیم ســاعت پــه چايخونــه کــې کېناستو، چای مو وڅښه، غریب صیب د چای د پیسـو لـه ورکـړې سره سم وویل: نور به ځو چې وخت پوره دی، پاس منزل تـه وختـو، هلته څو پښتانه ولاړ وو، یـوه پښتنـه چې لـه کراچۍ څخه راغلـې وه، خپلوانو مېرمنو څخه یوې یې غریب صیب پېژنـده، لـه سـتړي مشـي سره سم یې لـه غریب صیب څخه هیلـه وکړه:کـه ستاسـې مېلمه بکس نه لري، نـو زمـا لـه خـور سره دوه بکسـونه دي د هغـه پـه انتقـال کـې دې ورسـره مرسـته وکـړي، مـا ویـل ښـه ده، مرسـته بـه ورسـره وکـړم، مـا خپـل دوه واړه بکسـونه لا دمخـه د اماراتو د ټکټ ثبتولو په غرفه کې ورکړي وو، کـه څه هم مـا ډېر ټینګار وکړ چې خپل بکسونه په خپل لاس کې وړمـم، خـو د ټکټ ورکولو مسولینو وویل چې تاسو بـه دا بکسـونه پـه دوبۍ کې لـه موږ څخه اخلئ!

کله چې لـه دې پښتنـې مېـرمنې څخـه مې بکس واخیسـت، د چك لـه ماشـین څخـه د تېرېدو پـر مهـال یـې ددې بکسـونه سـخت ولټـول، بیـا یـوې ښځې پـه لاس ښـه تلاشـي کـړل، یـوه سـپری یـې ورڅخـه وکښلـه او ویـې ویـل چـې اجـازه نـه شـته، کـه دې پښتـنې مېرمنې هر څومره وویل چې دا زما شخصي ده خو هغې ونـه منلـه او پـه باطلـه دانـي کـې یـې ورګوزاره کـړه، د هغـې درونـد بیـك مـا

راواخیست او تـایر لرونکی بیـك یـې خپلـه ځـان پسـې راکښـوه، وروسـتي چـك تـه چـې یـو ځـل بیـا پـه کـې بکسـونه تلـل کېـږي، ورسېدو، یوه ښځه ولاړه وه، دواړه بکسونه یې وتلل، (۲۳)کیلـو شول، ویې ویل ددې اجازه نه شته، ما ویل دا یو زما دی او دا بـل ددې، ما ته رابرګه شوه، نه رښتیا ووایـه او پـه احتیـاط یـې ووایـه چې دا ستا دی؟ مـا ویـل هو، درې ځله یـې تکـرار کـړه، مـا وویـل چې زه دې مېرمنې سره مرسته کوم، پر دې وخت دې پښتنې ورتـه وویل: بکسونه زما دي، خو دی راسره مرسـته کـوي. هغـې وویـل: ده ته اجازه نه شـته، دی دې لاړ شـي، پـر دې وخـت یـو تـن مسـئول راغی او زه یـې د الـوتکې لارې تـه بـوتلم او راتـه یـې وویـل چـې تـه خپله ځه. پر سیمه ییز وخت ۸،۱۵ دقیقې وې چې الوتکـه الـوتنې ته چمتو شوه، نـږدې شـل کـم نهـه بجـې یـې الوتنـه وکـړه، شـپه وه، ځای نیم له الوتکې څخه د مجللو ښارونو رڼاګانې ښکارېدې، یـو ساعت مې د یونلیـك پـر لیکلـو تېـر کـړ، بیـا یـې ډوډۍ راوړه، تـر ډوډۍ وروسـته رابانـدې خـوب راغـی، د څـو پرلـه پسـې ورځـو بېخوبي مې په الوتکه کې پوره کړه، د جرمني پر وخت د شـپې (۲) او د دوبۍ پـر وخـت د سـهار (۷) بجـې بـه وې چـې د دوبـۍ نړیـوال هوایي ډګر لومړی نمبر ترمینل کې کوز شو.

**له دوبي څخه د کابل پر لوري:** تر یو څو دقیقو وقفې وروسته چې دکام ایر هوایي شرکت استازی ته راغلم، هغوی وویل: ستا بکسونه اماراتو (مرحبا) سره دي، باید هغه یې راوړي، پنځوس شپېته ډالره ټکس دربانديې راځي، ما ویل ټکس درکوم خو تاسې یې راوړئ، هغه افغان نه ښکارېده، خو دري یې زده وه ویې ویل چې تاسو خپله لاړ شئ، خو فکر نه کوم چې تاسو ته اوس دا بکسونه درکړي، ځکه تاسې نیم ساعت وخت لرئ، مرحبا ته ورشئ، د مرحبا لویې غرفې ته لاړم، هغې بلې ته او بلې بلې ته ولېږلم، نږدې دوه درې سوه متره لرې یوه بل ترمینل ته لاړم، مسئوله اموره مې پیداکړه، هغې سره مې ډېر جنجال وکړ، هغې وویل: تاسو کم وخت لرئ، پر دې وخت دا مونږ نه شو انتقالولای، ما ویل: زه نو څه وکړم؟ بیا ما ورته وویل حل لاره څه ده؟ هغې وویل: لاړ شه د خپل ټکټ دې بدل کړه، بېرته په ډېر ې سختۍ د (۱۴) نمبر ګېټ د پیداکولو او تعقیب له لارې همغې غرفې ته لاړم، چې مخکې په کې د کام ایر استازی ناست و. د بېرته راتګ په لاره کې مې هغه پښتنه مېرمن هم ولیدله، چې له فرانکفورت نه د الوتو پرمهال راځخه لادرکه شوې وه، هغې سره یو بکس و، ما وویل: بل بکس دې څه کړ، هغې وویل: هغه یې رانه ستون کړ او ما مې خپلو خپلوانو ته تلیفون وکړ، چې بیک واخلي، ما وویل: زما بکسونه هم له دې جنجال سره مخ دي. د کام ایر غرفه کې دا ځل هغه پخوانی مامور هم نه و، هندیان پکې ناست وو او د خلکو ګڼه ګوڼه په کې دومره زیاته وه، چې څو لینه خلك ورته ولاړ وو. په بې نوبتۍ مې یو ځل ځان تر غرفې ځان ورسوه، چې پوښتنه وکړم، هلته یو سړي راته پر اوږو لاس کېښود

اشاره يې وکړه، چې دومره خلك پر ليکه ولاړ دي، ما ويل زه فقط يوه پوښتنه کوم، هغه مامور راته وويل: چې ټکټ نه شم چنجولای، بېرته راغلم، څو دقيقې وروسته بل مامور ته ورغلم، هغه هم هندو و، هغه ته مې وويل غواړم پلايټ چينج کړم، ځکه بکسونه مې پاتې دي، هغه وويل څو دقيقې صبر وکړه، يو شل دقيقې انتظار مې وويست هغه بيا هغه بل مامور ته وويل، هغه بيا سر منفي وخوځوه، په دې موده کې نږدې دوه ساعته تېر شول، له لومړۍ الوتنې څخه پاتې شوم او بکسونه هم لاسته رانغلل، پر څوکۍ کېناستم او ددې حالاتو پر ليکلو مې پيل وکړ، دا چې وروسته به څه کېږي، معلومه نه ده، اوس مې په څنګ کې لس دولس تنه افغانان هم ناست دي، مېرمنې او ماشومان هم ورسره دي، دوی څوک د پامير او چا هم د کام اير ټکټونه لري، د ټولو کار ګډ وډ دی، د چا بکسونه پاتې دي، د يوه ښځه په مخنې پرواز کې تللې او ماشومان يې ده سره پاتې شوي، د چا بکسونه تللي، خپله پاتې، څوك خپلو بکسونو ته پاتې، لنډه دا چې هر يو پر يوه جنجال اخته دی، يوه خو وويل: راځئ چې دې ماشوم سره د پوليسو دفتر ته لاړ شو او له دې شرکتونو څخه شکايت وکړو، چا ترانسپورټ وزارت ته ګډې وډې ويلې، چې هر چا ته يې دلته د هوايي شرکت د جوړولو امر ورکړی دی، ما چې د خلکو دا مشکلات وليدل پر خپل ځان مې شکر وويست او راپيدا شوې غوسه مې لږ څه ارامه شوه، اوس منتظر يم چې د کام اير کوم افغان مامور پيداشي او خپل مشکل ورسره حل کړم، يو ساعت وروسته په دې بريالی شوم، چې له همدې عمومي ارتباطي ځانګې څخه د کام اير شرکت د افغان مامورينو ټلېفون

نـومرې ترلاسـه کـړم، پـه شـپـږته درهمـه مـې د ټلېفـون دوه کـارتونـه واخیسـتل او د کـام ایـر شـرکت یـو مـامور سره مـې پـه ټلېفـون کـې خبرې وکړې، هغه ته مې د الـوتنې د بـدلون پـه اړه وویـل، هغـه بلـه نـومره راکـړه، ویـې ویـل: پـه دې نـومرې زمـوږ لـه مـامور سـره نـیم ساعت وروسـته تمـاس کـې شـه، یـو سـاعت وروسـته مـې ورتـه ټلېفون وکړ، هغه وویل چې تغیـر امکـان نـه لـري، خـو چـې مـا ډېـر ټینګار وکړ، زما بکسونه پاتې او دا خو ستاسو مشکل دی، چې هر وخت له تاسو څخه خلك شکایت کوي او دا مې هم ورتـه وویـل: چې حتمي باید زما ټکټ تغیر شي، نو یې وویل: تاسو خـو نـن هـم پرواز نه درلود، ما ویل څنګه مې نه درلود، دغـه دی ټکـټ راسـره دی. لږه شېبه وروسته یې راتـه وویـل چـې ستاسو ټکـټ مـې تغیـر کړ، سبا پر محلي وخت (۷) بجې او (۳۰) دقـیقې مـو پـرواز دی، دوه ساعته مخکې به بوډنګ کارت یـانې د الـوتنې د سیټ ټکـټ واخلې. تر دې خبرې وروسته یو ځل بیا د عمومي ارتبـاط ځـانګې ته لاړم، مـا ویـل مـا ټکـټ تغیـر کـړ، غـواړم خپـل بکسـونه ترلاسـه کـړم، هغـوی راتـه بیـا وویـل: چـې هلتـه د (مرحبـا) د ترانسـپورټ ځانګې ته ورشه، مرحبا ته لا زه دمخـه هـم ورغلـی وم او دا ځـل پـه کې ښه بلد وم، هلته چې ورغلم، هغوی ته مې وویل ما خپل ټکـټ بدل کړ، هغوی وویـل تـر پـرواز (۸) یـا (۶) سـاعته دمخـه بـه دلتـه راشې، مـا ویـل ویـې لیکـه، زمـا پـر یـوه کـارت یـې راتـه ولیکـل (PM ۲۲:۰۰) مـا ویـل پـه دې بـل ټـایم یـې هـم ولیکـه ویـې لیکـل (PM ۱۰:۰۰) له هغه ځایه بیا ټلېفون خونې ته راغلم، کور تـه مـې ټلېفون وکړ، مېرمن ته مې وویل چې زما راتګ سباته معطل شـو، پر دې وخت مې له مېرمنې څخه زوی سمسور ټلېفون واخیست او

یو ځل بیا یې راته وویل: اغا زموږ شیان دې له یاده ونه وزي او بل دا چې ممي جان (مور) مې ستا د ټلېفون ټول کریډټ خلاص کړ، مور یې ورته برګه شوه. ما ورته وویل: چې دا بکسونه په خیر راخلاص شي بیا به تاسو ته سودا وکړم، تر هغه وروسته د (کوسنا) په نوم کافۍ ته لاړم، د پیرکي په شان، یوه ډوډۍ، لږ چپس، اوبه او چای مې راوغوښتل، (۴۵) درهمه یې راڅخه واخیستل، بیا لاړم پر یوې څوکۍ کېناستم، ښه د مزې خوب رابانديې راغی، دوه دوه نیم ساعته خوب مې وکړ، بیا تشناب ته لاړم مخ او لاس مې ووینځه، ځان مې ښه تازه کړ، اعصاب مې ارام شول، پر محلي وخت (۴) بجې به وې چې په کابل کې انځور صیب، جمال رحمان او ځینو نورو دوستانو ته مې ټلېفونونه وکړل، خو یو هم رخ نه شو، غریب صیب ته مې په جرمني کې زنګ وواهه زما غږ نه ورته خو د هغه غږ راته، څلور ځله مې کوښښ وکړ، هم د هغه په لاسي او د کور په ټلېفون، بلاخره رخ شو، خبرې مې ورسره وکړې، چې زه لا په دوبۍ کې یم او د بکسونو د مشکل لپاره پاتې یم، هغه ډېر خفه شو، ما ویل خفه کېږه ځکه مه، چې ما ایله خپل خوبونه پوره کړل، هغه وویل: د عبدالله مقري دغه نمبر واخله هغه به درپسې درشي، ما ویل نمبر به یې واخلم، خو زه په نړیوال ترمینل کې یم، چې موږ ته د وتلو اجازه نه شته او نه له بهر څخه څوك دلته راپرېږدي، د مقري صیب په ټلېفون مې زنګ وواهه، چې هسې احوال یې واخلم، زما له ډېر کوښښ سره سره رخ نه شو، نو تر هغه وروسته راغلم پر یوې څوکۍ کېناستم او ددې یونلیك د پاتې برخې پر لیکلو مې پیل وکړ، څه وخت وروسته بیا لاړم لږ ساندویچ مې له یو ګیلاس

نارنج جوس سره واخیستل، پر محلي وخت (۱۰) بجې پوره شوې، (مرحبا) دفتر ته بیا لاړم، دا مې نو درېیم ځل دی او ښه بلد یم، هلته چې لاړم ، مسئولې ماموري راته وویل: یوولس یا یوولس نیمو بجو پورې ایله مسئول کسان راشي، ستاسو بکسونه به ولټوي، خو (۶۳) ډالره خرچه درباندې راځي، ما ویل پیسې درکوم چې اوس له دې جنجاله خلاص شم. دا مهال درې افغانانې هم هملته ناستې وې او له همدې مشکل سره مخامخ وې، یوه مېرمن اصلاً د کندهار وه له خپلو درېو کوچنیو ماشومانو سره له امریکا راغلې وه او دوه نورې درې ژبې وې له لندن څخه راغلې وې، ټولو شکایت کاوه، چې ډېرې پیسې ترېنه په دغه او هغه نامه لاړې، ټیک یولس بجې وې، چې له ما څخه یو تن کارکوونکي زما د بکسونو نومرې واخیستې، لږه شېبه وروسته راغی او ماته یې وویل چې ستا بکسونه مې پیدا کړل، تاسې باید خپلې پیسې تحویل کړئ د (۶۳) ډالرو معادل (۲۲۵) درهمه مې ورکړل او یوه پاڼه یې راکړه، چې د پیسو د تحویلۍ سند ګڼل کېده او بیا یې ترانسفراي: (Transfer-E) څانګې ته معرفي کړم، دا د عمومي ارتباط هماغه څانګه ده، چې زه لا سهار څو واره ورته راغلی وم، دلته د کام ایر او نورو شرکتونو بوډینګ کارتونه (الوتکې ته د ننوتو ټکټ) ورکول کېږي. د شپې (۱۲) بجې دلته راغلم، دوی وویل چې د کام ایر کارونه څلور بجې شروع کېږي، هغه مهال راشه، زه څلور بجې نه، خو درې بجې ورته راغلم ګڼه ګوڼه نه وه، د کام ایر ټکټ، پاسپورټ او د بکسونو د پیسو سند درې واړه مې ورکړل، ویې کتل، کمپیوټر کې یې زما نوم پیداکړ، زما له ټکټه یې یوه پاڼه څیرې کړه، نور


يې درې واړه بېرته راکړل، راته يې وويل: لږ منتظر شه، زه پر يوې ځوکۍ کېناستم او ددې يونليك پر ليکلو مې پيل وکړ، يوه افغانه چې مخکې يې خپلو بکسونو ته انتظار ويسته، هغه مې هم وليدله، پر دې وخت د افغانستان د ولسي جرگې وکيله شکريه بارکزۍ له خپلو درېو لوڼو سره راغله، له ستړي مشي وروسته مې خپله ځوکۍ هغې ته خوشې کړله، د هغې لوڼې هلته کېناستې او د ټکټ اخيستلو لپاره له دې ځايه بل لوړ هال ته لاړه. څو شېبې وتې نه وې، هغه مسئول مامور چې نيم ساعت دمخه يې زما پاسپورټ، ټکټ او د بکسونو سند کتلي وو ماته د الوتنې ټکټ راکړ، له هاله يې رابهر کړو او په کاستر موټر کې يې کېنولو، چې له اول ترمينل څخه مو دويم ترمينل ته بوځي، د شپې شل کم څلور بجې دي. تر يو څو دقيقو ځنډ او مزله وروسته فکس پر څلورو بجو دويم نمبر ترمينل ته ورسېدو، کله چې دويم ترمينل ته راورسېدو، نو د توحيدي صيب په نامه يوتن افغان، چې اصلاً دکونړ ولايت دی او په هالنډ کې اوسېږي، هغه سره مخامخ شوم، هغه وويل: ستاسو څېره راته ډېره اشنا ښکاري، ما وويل چې پوهنتون کې درس ورکوم، ويل يې يون صيب يې؟ ما وويل: هو! توحيدي صيب وويل: له ټلويزيون څخه مې ډېر ليدلی يې او څو موده دمخه مې په هالنډ کې دربانديې ډېر بحث وکړ. هغه وويل: زه د کندهار او غزني د امنيې قومندان وم، خو اوس وظيفه نه لرم، داخله وزير راسره درغلي وکړه. هغه ته مې ويل تاسو دلته پر ځوکۍ کېنئ، زه ماشومانو او کور ته لږ سودا کوم، په دې ترمينل کې سودا له کابله څو ځله قيمته ده، خو پر کيفيت يې باور کېدی شي دماشومانو لپاره مې د لوبو شيان شامپو،

صابون، بسکټ، عطر او ځینې نور شیان واخیستل، دلته خو دا شیان دوی دومره په خوند اینبي وي، چې د سړي زړه غواړي ټول واخلي. د کمپیوټر مېز ته ودرېدلم، یو یو یې له کمپیوټره تېر کړل د (۷۷۰) درهمو بل شو، هغه مې ورکړل او راغلم له نورو خلکو سره یو شان پر څوکۍ کېناستم، د سهار پنځه نیمې بجې وې او الوتنې ته لا فکس دوه ساعته پاتې دي. دویم ترمینل د لومړي ترمینل په شان ښکلی نه دی، اسیایي او ځینو نورو وروسته پاتې هېوادونو ته له دې ځایه الوتنې کېږي، خو دې سره سره بیاهم د ډېرو هېوادونو له مرکزي ترمینولو څخه لوکس دی، خو سړی چې لومړی ترمینل وګوري دا بیا ورته لوکس نه ښکاري، پر دې ترمینل اوس هم کار روان دی، چې ښکلی یې کړي. پرواز ته لا وخت پاتې و، چې توحیدي صیب سره مې چای وڅښه، پر دې وخت مې عبدالله پوپل صیب هم ولیده، چې له امریکا څخه راستون شوی و. پوپل صیب د ملي امنیت شورا په دفتر کې د ولایتي چارو مسئول دی. هغه امریکا ته د دفتر له خوا، د یوه سیمینار لپاره تللی و، نږدې پنځه ویشت ورځې وروسته راغی، الوتکې د خپل ټایم مطابق مسافرین خپلې غېږې ته وبلل، اوس چې شپږ بجې او شل دقیقې دي، الوتکه تقریباً له مسافرو ډکه ده او الوتنې ته چمتو کېږي، دا چې افغاني الوتکې پر خپل وخت د الوتنې جوګه شوې دا د خوښۍ خبره ده، خو لا اوس هم ټول افغاني شرکتونه ددې جوګه نه دي، چې پر خپل وخت الوتنه وکړي.

څو دقیقې وروسته الوتکه الوتنې ته چمتو شوه، الوتکې د بحر پر سطحې خپله ارتفاع نوره هم لوړه کړه، لاندې په شنه بحر کې سپینې کښتۍ داسې ښکارېدلې لکه اسمان کې چې ستوري په حرکت کې وي. یو وخت داسې راغی، چې نورې نو بېړۍ هم په سترګو نه ښکارېدې، خو کله چې الوتکه ټیټه وه، په سوونو بېړۍ لیدل کېدلې، چې په بحر کې تېر و بېر کېږي. په لویو بېړیو کې په سوونو کانټېنرونه بار وو، هلته سړي ته پته لګېدله، چې بحر او بحري ټرانسپورټ د هېوادونو په اقتصاد کې څومره رول لري.

کله چې الوتکه له بحر را واوښته، نور نو د ایران او افغانستان تر منځ له پرتې سپېرې دښتې، چې خال خال په کې ځای نیم شین کلي ښکارېدل، نوره ټوله سپېره دښته وه، له معمول سره سم بیا راباندې خوب غلبه وکړه. کله په خوب کله په ویښه مو نږدې دوه ساعته او پنځوس دقیقې مزل وواهه. د الوتکې سرویس هم د پخوا په اندول ښه شوی او منظم شوی و. پنځه لس یا شل دقیقې له (۹) څخه تېرې وې، چې کابل نړیوال هوایي ډګر کې کښېنته شو. له معمول سره سم مې په پاسپورټ کې دخولي ټاپه ووهله، له ترمینله رابهر شوم، ډرېور مې تیار منتظر و، کله چې مې له هوایي ډګره د کور پر لوري حرکت وکړ، یو ځل بیا مې خیال کې هغه ځایونه وګرځېدل بیا مې چې دې کابل ته وکتل، نو د سوونو کلونو واټن مو په منځ کې و، داسې لکه سړی چې خوب ګوري یا خوب کې له یوه ځایه راګوزار شي، خو پر همدې وخت ویښ شي، نبغ پر ځای کیني، هېڅ نه وي،

یاهم کله څوک د شپې خوب کې یوه خزانه ووینې، خو چې ویښ شي هېڅ نه وي، ډېر مې پر خپل وطن زړه وسوځېده، څومره مصیبت ځپلې، غمځپلې، جګړو ځپلې ټولنه ده، څومره د متضادو عقایدو او افکارو د ټکر په اور کې سوی ملت دی. په همدې سوچ او فکر کې تر کوره ورسېدم، هیله او سمسور ښوونځي ته تللي او مور یې (ارین یون) شورا ته، ودان او سوله (کشری زوی او کشرۍ لور مې) را تر غاړې وتل،دواړو کلک ونیولم، ویل یې ډېر درپسې خفه شوي یو ، ما هم څو دقیقې ټینګ په غېږ کې ونیول، لږه ستړیا مې ووته، دوی د خپلو شیانو پوښتنه وکړه، ما ویل ټول شیان مې درته راوړي، بیک مې خلاص کړ، دوی پر خپلو شیانو مصروف شول، ما دریشي وایستله، جامې مې واغوستې، په تشناب کې مې مخ ولاس ومینځل، خپل چپرکټ ته راغلم، کمپله مې پر پښو راکش کړه، چورت یوړم، یو ځل بیا مې خپل هېواد او خپل ولس له هغوی سره او هغوی له دوی سره پرتله کړل، په همدې سوچ و فکر کې دخوب ځپه راباندې راغله او څه چې مې لیدلي وو ټول د خوب په شان رانه هېر او تېر شول.


Yoon Cultural Foundation
د پنټاګون تر څنګه
(د واشنګټن علمي یونلیک)
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ ل

# د پنتاګون تر څنګه

(د یو علمي سفر یونلیک)

لیکوال

محمد اسمعیل یون

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | **د پنتاګون تر څنډو** |
| لیکوال: | پوهندوی محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | (۱۰۰۰) ټوکه |
| چاپکال: | (۱۳۸۷ل) |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۳۳) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۳۳) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

# یادونه

په پښتو ژبه اوس د خدای په فضل ډېر یونلیکونه چاپ شوي او چاپېږي، اکثره پښتو یونلیکونه، چې ما لوستي، د ښکلو منظرو او د سفر د نورو لوړو ژورو انځورنه کوي. د علمي سفرونو یونلیکونه یا کم دي او یا ما کم کتلي. ما خپله تر دې دمخه دوه یونلیکونه لیکلي، کوښښ مې کړی، داسې ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او نورو مسایلو ته په کې اشاره وکړم، چې زموږ خلکو ته یو پیغام ولري، اوسنی یونلیک چې ګورئ دا اصلاً د یو علمي سفر رپورټ دی، چې د سفر ځینې نورې خواوې هم ورسره ملګرې شوې دي.

ددې یونلیک له لیکلو څخه مې موخه دا وه؛ خپلو افغانانو ته دا څرګنده کړم، چې د نړۍ لوی هېوادونه او د هغوی سیاسي او ټولنیز مفکرین، د نړۍ په هکله څه فکر لري او موږ څه فکر کوو؟ د (۲۰۰۹) م کال د فبرورۍ له درویشتمې نېټې بیا د همدې کال د مارچ تر شپږمې نېټې پورې زه امریکا ته په یو علمي سیمینار کې د ګډون لپاره تللی وم. ما له پیله دا نیت درلود، چې په دې سیمینار کې څه بحثونه کېږي، د هغو مهم ټکي به لیکم، همداسې مې وکړل. که څه هم د ټولو شیانو لیکل شوني نه وو، خو ما هڅه کوله، چې ډېر مهم شیان ولیکم، په مهمو مسایلو کې هم د ټولو یادښتول اسانه کار نه و. د ژبې ستونزه هم وه، هغه انګرېزي، چې موږ دلته په کورسونو کې لړه و ډېره لوستې او له کتابه سړی ترې تر یوه حده ګټه اخیستلای شي، هلته د هغوی له تلفظ او چټکې وینا سره واټن لري. خو ښه والی دا و، چې زموږ لپاره یې ښه تکړه ژباړونکي لا دمخه په پام کې نیولي وو: (ایازی صیب)، (ملکیار صیب) او (فوزیه) ټولو په امریکا کې تر شلو کلونو زیات عمر تېر کړی دی. له همدې علمي مرکز (نیسا) سره یې له کلونو راهیسې د ژباړونکو په توګه کار کړی او اوس هم کار کوي. هغوی درېواړه پر ژباړې ډېر حاکم وو، خو درېواړو په دري ژباړه کوله، یوازې داود ایازی صیب، چې اصلاً د کندهار دی، پر پښتو پوهېده او کله کله به یې پښتو ژباړه هم کوله، خو منظمه او عمومي ژباړه په دري ژبه وه. د سیمینار له پیله بیا تر پایه اکثره وخت د ژباړې غوږۍ زما په غوږونو کې وه، ما له دري څخه اتومات پښتو لیکله، ما داسې فکر نه

کاوه، چې دوی له انګلیسي څخه پښتو تـه ژبـاړه کـوي کـه دري تـه. د سـیاسي او ټولنیزو خبرو ژباړه ډېره سخته نه وي، لـه دري څخـه مـا مخکـې هـم ځینـې اثـار ژباړلي دي، خو کله کله به د ژباړونکو په کار کې هم وقفـه راتلـه، کلـه کلـه بـه پـه ګروپي کار او ځینو نورو برخو کې حاضر نه وو. ځینې وخت به یوې نیمې خـبرې ورته خوند ور نه کړ، هغه به یې هم نه ژباړلې، کله کله به د ویناوال د خبرو سرعـت دومره تېز و، چې ژباړن به تر څو یوه جمله ژباړله، بله به ور څخه تېره وه؛ویناوال، ژباړونکي ته منتظر نه پاتې کېدل، ځکه چې پر یو وخت یې څو ژبو ته وینا ژبـاړل کېدله. ځینې وخت تخنیکي وسایل هم پر خپل وخت نه عیارېدل، خو دې ډول ډول خنډونو سره سره ما د تکړه ژباړونکو او څه نـا څـه د خپـل افهـام لـه مخـې د سیمینار ډېرې مهمې موضوعګانې ولیکلای شوې. اکثره ویناوالو خپل لکچرونـه یـا ویناوې په منظم ډول لیکلي هم وو، خو د وینا پر وخت یې له هغو څخه ډېره ګټـه نه اخیستله، نو ځکه کوم څه چې ما لـیکلي هغـه اکـثره د اسـتادانو او وینـاوالو پـر ګړنیو خبرو، د پوښتنو او ځوابونو پـر محتـوا ډډه لګـوي. پـه دې سـیمینار کـې د سیمې او نړۍ د حالاتو او بیا نړۍ ته د احتمالي خطرونو او چیلنجونو په بـاب هـر اړخیز بحثونه وشول. په دې اثر کې ما خپل ذهن او فکر نه دی دخیل کړی، څـه چې هلته پېښ شوي او پر څه شیانو بحث شوی، هغه مې تر خپلې وسې کټ مټ لیکلي دي. هیله ده دا اثر ددې جوګه شوی وي، چې اوسنۍ نړۍ تـه د ورپېښـو ګواښونو په باب یې د نړۍ د اوسنیو مطرحو سیاسي او ټـولنیزو کارپوهـانو ځینـې نظرونه په خپله لمن کې رانغاړلي وي. له نورو قدرمنو لیکوالو هم هیلـه لـرم، چـې کله بهرنیو هېوادونو ته علمي او تفریحي سفرونه کوي، نو له دې خوا دې له قلمـو او کتابچو سره ورشي او له اخوا دې له ډکو کتابچو سره راشي، زموږ هېواد لـه هـر پلوه، د نورو له تجربو او علمي پانګې څخه سالمې ګټې اخیستنې ته اړتیا لري.

د همدې هیلې د بري په هیله

پوهندوی محمد اسمعیل یون

(۱۳۸۷ل) کال، د کب (۲۷)مه نېټه

ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ

# سریزه

تېر درې لسیز جنګ په افغانستان کې ډېر ملي او ټولنیز ارزښتونه کمزوري او کمرنګ کړل، د ټولنې اساسي جوړښت او سکښت یې ونړاوه او د خلکو په ذهن او فکر کې یې د پردیپالنې احساسات وټوکول. دا احساسات که له یوې خوا د پردي فشار له امله وو، نو له بلې خوا د ټولنې په داخل کې د هر ډول اختناق، فقر او تنګلاسۍ له امله هم راپیدا شوي وو. اکثره افغانان، چې جګړو ځپلي وو، پاکستان او ایران ته تګ یې په خپل ژوند کې یو نعمت ګاڼه او له هغو هېوادونو بیا بهر ته تګ یې خو بېخي یو ولي نعمت ګاڼه. افغانان یو هم ملامت نه وو، دوی په رضا له ملکه نه وو تللي، دوی مجبوریت مجبور کړي وو. هغه وخت دا هم یو غنیمت و، چې یو شمېر افغانان بهر، په تېره بیا لویدیزو هېوادونو ته لاړ شي، له یوې خوا به خپل ژوند خوندي کړي او له بلې خوا به خپلو کورنیو سره له اقتصادي پلوه مرسته وکړي، نو اکثره افغانان چې له هېواده راوتلي وو، په پاکستان او ایران کې اوسېدل، د هغو اکثرو هیله لرله، چې بهر ته لاړ شي. زما یو ګڼ شمېر ملګرو هم بهر ته مخه وکړه او د هغو په مرسته بیا موږ په پېښور او کابل کې ګڼ شمېر کولتوري کارونه ترسره کړل. خو ما له پیله بیا تر دې دمه بهر ته د تللو او هلته د پاتې کېدلو نیت نه درلود. تر وروستي بریده مې خپل ژوند همدلته عیار کړی و. کله چې د طالبانو نظام ړنګ کړای شو، نو افغانستان هم له سیاسي انزوا

څخه وژغورل شو، د ډېرو هېوادونو خلک دلته راغلل او ګڼو افغانانو ته ددې زمينه برابره شوه، چې بهرنيو هېوادونو ته لاړ شـــي او لـــه قانوني لارو تګ راتګ وکړي.

ما هم له همدې قانوني لارو، عربي متحـــده امـــارتو، پاکســـتان، هندوستان، جرمني، هالنډ، ډنمارک، فرانسې، بلجيم او سويډن ته سفرونه وکړل او بېرته خپل هېواد ته راغلم. اوس نو نورو هېوادونو، په تېره بيا لويديزو هېوادونو ته تګ يو خوب او خيال نه دی، بلکې يو عمل او يو واقعيت دی. د بهرنيو سفرونو په لړ کې راته تر دې دمخه دوه ځله امريکا متحده ايالتونو ته د تګ زمينه برابره شوه. يو ځل د لنډ وخت (يوه اوونۍ) او بل ځل د دوو مياشتو لپاره. لومړی ځـــل د دفتر ملګرو راته وويل، چې يوه اوونۍ سفر پـــه دې نـــه ارزي، چـــې څوک دې پرې دومره اوږد مزل وکړي، خو دويم ځل د دفتر مشرانو ځکه اجازه رانه کړه، چې ويل يې: يو دلته کارونه ډېـــر دي او بـــل د دومره اوږدې مودې لپاره لازمه نه ده، چې سفر وکړې. درېيم ځـــل لپاره چې بيا زمينه برابره شوه، نو دا داسې يو سفر و، چې نه اوږد و او نه لنډ؛ منځنی و؛ نږدې (۱۴) ورځې، دې سره نو دفتر هم موافقه وکړه، ما هم خپل کارونه راټول او ځان مې منظم کړ. ما ويـــل ځـــه امريکا به هم وګورې، د هغه ځای له ژوند او اندود څخه به هم ځان خبر کړم، له خپل هېواد سره به يې پرتله کړم، بيا خدای خبر چـــې ددې زمينه برابرېږي، که نه چې وړيا او رسمي سفر ته لاره اواره شي.

# د سفر موخه

په نړۍ کې ځینې داسې لوی او علمي مرکزونه وي، چې په دنیـــا کې د بېلابېلو مسایلو په باب علمي غونډې او ورکشاپونه جوړوي، په امریکا کې هم داسې مرکزونه شته چې د امنیتـــي او ســـتراتیژیکو مسایلو په اړه علمي ورکشاپونه، کنفرانسونه او سیمینارونه جوړوي.

د امریکا د ملي دفاع وزارت په چوکاټ کې د ملي دفاع پوهنتـــون (N.D.U) یو له دغو مرکزونو څخه دی، چې تراوسه یـــې د امنیتـــي مسایلو په باب په لسګونو نړیوال سیمینارونه او کنفرانسونه جـــوړ کړي دي. په جرمني کې هم د مارشال سنټر په نامه یو علمي څېړنیز مرکز شته، چې هغـــه هـــم لـــه امریکـــایي ســـرچینو څخـــه خړوبېږي، هغه هم د سیمې او نړۍ د امنیتي او نورو مســـایلو پـــه بـــاب ســـیمینارونه او کنفرانســـونه جـــوړوي. زه دوه کاله دمخه جرمني ته د امنیتي مسایلو په باب په همداسې یو سیمینار کـــې د ګـــډون لپـــاره تللای وم، هغه هم یو روزنیز علمي سیمینار و، خورا ګټـــور و. هغـــه

سیمینار هم د تروریزم یا ترهګرۍ په بـاب و، تروریـزم لـه کومـه پیداکېږي؟ ایډیولوژیکي، پوځي او بشري سرچینې یې چېرته دي؟ تعریف یې څنګه دی؟ د ترهګرۍ ریښې چېرته غوړېدلي؟ عقاید له ترهګرۍ سره څه اړیکي لري؟ له رسنیو څنګه ګټه پورته کوي؟ په لویدیزو هېوادونو کې د ترهګرو د راتوکېدو وېره څنګه کمېدی شي؟ او داسې نورې ګڼې موضوعګانې په کې وڅېړل شوې.

د نړۍ له ډېرو معتبرو پوهنتونونو؛ له لندن، پاریس، واشنګټن او نورو څخه ورته استادان رابلل شوي وو، هغه سیمینار که څه هم له تفریحي پلوه ډېر تنګ او ستړی کوونکی و، خو له محتوایي پلوه ډېر ګټور و، په امریکا کې دا اوسنی سیمینار هم همغه سیمینار ته ورته یو سیمینار و ، ان د همغې لړۍ یوه کړۍ وه، نو ځکه مې زړه ورته ښه کړ، ما ویل څه د امریکا د لیدو ترڅنګ به د هغه ځای د استادانو د فکرونو پر مجموعي ظرفیت هم پوه شم، خپل ځان به هم ورســره وتلو، چې څومره د فیل په غوږ کې ویده یو؛ څومره ویښ شوي یو؛ د نورو هېوادونو له هئیتونو سره به هم وګورو، هغوی سره به هم ځان پرتله کړو، چې نور تر موږه څومره مخکې دي؟ یا تر موږه هم شاته پاتې څوک شته؟ او که نه وروستی ریکارډ زموږ پــه برخــه دی؟ دا سیمینار د نیسا سنټر له خوا جوړ شوی و. (NESA) د ملي دفاع په پوهنتون کې یو څېړنیز مرکز دی، چې د نږدې ختیځ او سویلي اسیا هېوادونه په کې راټاله دي. دا مرکز د همدغو هېوادونو یــا ســیمې مسایل څېړي، داسیمینار هم، د همدې سیمې د امنیتي مسایلو او

نړۍ ته د نورو ورپېښو خطرونو او چلېنجونو د څېړنې لپــاره جــوړ شوی و.

موږ چې په جګړه کې رالوی شوی نسل یو، هم جګړې ځپلي یو، هم یې کړولي یو او هم یې د جګړو په باب پخه تجربه را په برخــه کړې ده، نو د جګړه ییزو مسایلو څېړنه او ارزونه طبعاً د افغانانو له مزاج څخه لرې نه ده، د یوه سیاستوال په خبره: ((جنګ افغانانو ته ساعتیري ښکاري))؛ په دې برخه کې تر هر چا د دوی تجربه زیاته ده، په نړیواله کچه له نورو اشخاصو سره د روابطو پیــداکول هــم ددې سیمینار بل هدف و، ددې ترڅنګ ما غوښتل د سیمینار په ترڅ او یا هم د سیمینار په حاشیه کې ددې زمینه برابره شي، چې له ځینو هغو اشخاصو یا پوهانو سره وګورم، چې د افغانستان په اړه امریکایي پالیسۍ کې یې نظر موثر دی، نو دا به ددې زمینه برابره کړي، چې د خپل مظلوم ولس د کړاوونو رښتینی انځور هغوی ته وړاندې کړم.دا به هم ورته په ګوته کړم، چې په افغانستان کې څو محدودو ډلو او اشخاصو ته د امریکایانو له خوا د زیاتو امتیــازاتو ورکړه، هم زموږ هېواد له ستونزو سره مخامخوي او هم ددې کار دوام امریکایانو ته په ګټه نه دی. نو ددغسې ګڼو موخو د ترلاسه کولو په هیله مو دې سیمینار کې ګډون ته زړه ښه کړ.

# د سفر تیاری

کله چې په دفتر کې زما د سفر په باب موافقه وشوه، نو زموږ لــه دفتر سره، چې د سفارت کوم رابط غــړی او همکــار دی ښــاغلی سموېل کرېمر (Samuel Kramer) ماته وویل: اوس نو باید ستاســو دفتر موږ ته یو لیکلې پاڼه راکړي، چې موږ ته یو سند شي، ددې کار یو علت دا و، چې زمــوږ دفتر ته څو ځلــه دا ډول لنډ مهالي او اوږد مهالي بورسونه راغلي، د دفتــر مسولینو پــه پیــل کــې ورسره موافقه کړې، خو وروسته یــې بیــا خپــل سفرونه کنسل کــړي او هغو کسانو تــه، چــې د بورســـــونو یـــا دا ډول



سفرونو انتظام یې کړی و، مشکلات پیدا کړي دي. نو ځکه دوی یوې رسمي پاڼې ته اړتیا لرله. دا پاڼه مو هم سموېل کرېمر ته ور وسپارله، ماته یې وویل: څو ورځو کې به ستاسو دفتر ته له امریکا ســفارت

څخه یو رسمي مکتوب راشي. لس ورځې وروسته د سفارت له خوا مکتوب راغی، چې د (نیسا سنټر) له خوا ماته بلنه په کې شامله وه. د سفارت په یادښت کې لیکل شوي وو: ((درېو ورځو کې باید مونږ ته بېرته ځواب راکړل شي.)) ډېر ژر مې له دفتره مکتوب واخیست، د دفتر د یوه همکار په واسطه مې بهرنیو چارو وزارت تــه ولېــږه، د رخصتۍ او ځینو نورو عواملو له امله مکتوب لږ ټال شــو، خــو پــه متواترو ټلېفونونو او په وزارت کې د ځینــو مــامورینو د شخصــي پېژندګلوۍ له کبله تر ټاکلې ورځې یوه ورځ وروسته مکتوب راغی او کرېمر ته مې له خپل پاسپورټ سره یوځای ورکړ. هغه راته وویــل: ((ټیک یوه میاشت وروسته ستاسو وېزه راځي، د فبرورۍ پر (۲۳) مه نېټه ستاسو سیمینار دی او پر (۲۲) نېټه مو له کابله الوتنه ده.)) د یوې میاشتې په بهیر کې ما فکر کاوه چې دا سفر به هم د ځینــو نورو غوندې کنسل شي، نو ځکه مې ډېر بابیز ګاڼه، ددې ترڅنــګ مې د خپل هغه فرهنګي پلان پر تطبیق کار کاوه، چې له تېر یونیم کال راهیسې مې پیل کړی و. سفر ته درې، څلور ورځې پــاتې وې، چې سموېل کرېمر او جیمز ډبلیو ټیمپکن (James W.Tompkins) یو بل ملګری یې زمونږ دفتر ته راغلل، پاسپورټ چې وار له مخه یې ماته بېرته راکړی و، رانه واخیست، راته یې وویل چې د (ســنجر) وېــزه راغلې، خو ستا لا تراوسه معلومه نه ده، تاسې د سفر تیاری ونیسئ، زیات احتمال دی، چې وېزه مو راشي او که یوه ورځ وروســته هــم راشي، پروا نه کوي، ته به یوه ورځ وروسته حرکت وکــړې. ســنجر

صیب، چې د جمهوري ریاست د مقام د دفتر د پالیسۍ برخې رییس دی، ماته وویل: چې تاسو ماسره یوځای لاړ نه شئ، نو زما خو یوازې زړه تنګېږي، د ژبې مشکل هم لرم، ما وویل: تاسو خپــل ترتیبــات ونیسئ، کېدی شي زما وېزه هېڅ رانه شي، که رانه شــي نــو زه لا خوشاله یم، ځکه دلته مې ډېر کارونه دي. هغه وویل چې ته نه ځې، زه هم نه ځم. د فبرورۍ (۲۰)مه د جمعې ورځ د افغانستان رخصتي وه، د شنبې ورځ د امریکا سفارت رخصت و، خو همدا شنبه ماتــه ټلېفون راغی، چې ستا وېزه هم راغلې، کار دې خلاص دی، د سفر ترتیبات ونیسه. ځان مې سفر ته تیار کړ، د یکشنبې ورځ سهار پر خپل ټایم دفتر ته لاړم، مېرمن مې تر سفر دمخه ســهار وختــي د معمول په شان درې ځله له قران شریفه تېر کړم، د خدای کتاب مې په سترګو ښکل کړ، اولادونه مې څلور واړه مچ کړل، ټولو راته وویل: زموږ د مستۍ او لوبو شیان دې له یاده ونه ځي. زما اولادونه دا ځل ځکه ډېر خفه وو، چې مور یې هم اروپا ته په یو رسمي سفر روانه وه. اکثره وخت موږ کوښښ کوو، چې دواړه پر یوه وخت له کوره سفر ته لاړ نه شو، خو دوه درې ځله داسې پېښ شوي، چې موږ دواړه پر یوه وخت بېلابېلو هېوادونو ته په سفر وتلي یو. دا ځل نو د هغې سفر یو اوونیز و او زما تقریباً دوه اوونیز، نو ځکه ماشومانو ته ډېره ګرانه وه، چې دا سفر په اسانۍ سره وزغمي. دفتر ته چې لاړم کارونــه مــې منظم کړل، د دفتر دوو نورو ملګرو وفاء الرحمن وفا او ضیاء الرحمن ضیاء ته مې د خپل راتګ تر ورځې پورې کاري پلان جوړ کړ، سهار

لس بجې به وې، چې د امریکا سفارت رابط غــړی (جېمــز، ډبلیــو ټیمپکن) راغی، ماته یې خپل پاسپورټ، د الوتکې ټکــټ، د ســفر لارښود او دوه نیم سوه ډالر سفر خرڅ راکړل او د ښه سفر هیله یې راته وکړه.

# له کابله تر دوبۍ

د فبروري (۲۲)مه، د کب (۴)مــه نېټــه وه، د یکشــنبې ورځ د ماسپښین درې بجې مو له دفتره حرکت وکړ، خپل اسناد او جامې مې په بیک کې منظم کېښودل، د دفتر له ملگرو مې خدای پاماني واخیسته او کابل نړیوال هوایي ډگر ته لاړم، تر لږ انتظــار وروســته صبغت الله سنجر صیب هم راغی او همدارنگه جنرال عبدالحکیم انگار صیب، چې د کورنیو چارو وزارت په اســتازۍ زمــوږ د ســفر ملگری و، هم تشریف راوړ. څو دقیقې انتظار مو وکړ، د هوایي ډگر په



سنجر صیب



انگار صیب

(وي آی پي) کې نور گڼ بلدي کسان، چې بېلابېلو ځایونو تــه یــې سفرونه درلودل، هم ناست وو، څو شېبې مو هغوی سره هم گــپ

شپ ولګاوه، د هوايي ډګر نوي قومندان (جنرال اصف جبارخېــل) ماته انګار صیب راوپېژنده، انګار صیب په لومړي نظر ډېر جدي سړی ښکارېده، زړه کې مې ویل خدای دې خیر کړي، چې څنګه بــه دا سفر ورسره خوشاله تېروو، خو څومره چې مو ورسره خبرې اتــړې زیاتېدې، د سړي خوږلني او صمیمیت زیاتېده. څو شېبې نور هــم ناست وو، خبره څلور نیمو بجو ته ورسېده، مسول مامور لا وار دمخه له موږ درېواړو پاسپورټونه اخیستي وو، هغه یې له بوډینګ کارتونو سره یوځای موږ ته بېرته راوړل، ویې ویل: څلور نیمې بجې الوتکــه الوتنه کوي. څلور نیمې بجې د (VIP) دروازې له لارې په ځــانګړي موټر کې د الوتکې تر سینې لاړو. له معمول سره سم الوتکې ته پورته شو. په الوتکه کې اکثره کسان بلدي وو، یو بل سره مو سترې مشي وکړل، پر خپلو سیټونو کېناستو، څو شېبې مو انتظار وکړ، کله چې د الوتنې خبرتیا خپره شوه، پوه شو، چې نور مسافر نه راځي، نــو زه (یون) او سنجرصیب یو بلې څوکۍ ته لاړو، چې تر دې وخته لاتنشه او نسبتاً هوسا وه، انګار صیب پر خپلې څوکۍ ځای پر ځای پــاتې شو. ما او سنجر صیب په لاره کې ښه د مزې ګپ ولګاوه، خــو زمــا عادت دی، چې کله خوب راباندې راشي، بیا مېلمه ته هم یوه پلمه جوړوم، نو یوه سترګه خوب مې هم وکړ، د دوه‌ی پر مهال، چې بیدار شوم، نو بیا مې سنجر صیب سره ګپ چالان کړ. په همدې خبرو اترو کې وو، چې پیلوټ خبر ورکړ، د دوبۍ هوايي ډګر ته کښته کېــږو،

خپل کمربندونه ټینګ کړئ. لس کم اته بجـــې وې، چـــې د دوبـــۍ نړیوال هوایي ډګر کې کښته شو.

کله چې د دوبۍ نړیوال هوایي ډګر لومړي نمبر ترمینل ته ننوتو، نو باید خپل ټکټونه مو مسول مامور او دخولي غرفې ته ورښودلي وای، چې هغوی بیا په خپل وار د بوډینګ کارت لپاره مربوطه غرفه راپه ګوته کړي. کله چې دې غرفې ته لاړو، نو مسول مامور پوښتنه وکړه: بکسونه لرئ که نه؟ ما او سنجر صیب خو یو یو بیک درلــود، ځکه ماته پته وه، چې د څو او لویو بکسونو انتقال څومره مشکلات لري. انګار صیب خپل بکس په کابل کې الوتکې ته ورکړی و. څرنګه چې کام ایر الوتکه له نورو نړیوالو شرکتونو سره د بکسونو د انتقال کوم تړون نه لري، نو ځکه د بکسونو د انتقال په برخه کې مسافرین همېشه له ستونزو سره مخامخېږي. له انګار صیب څخه یــې چــې پوښتنه وکړه، هغه وویل: ما خو بکس الوتکه کې تسلیم کړ. مسول مامور وویل: چې تاسو باید یو ځل له ترمینله بهر شئ، هلته مو خپل بکس واخلئ او هلته چې ځئ نو باید د دوبۍ ویزه ولــرئ، نــو کــه غواړئ بکس واخلئ، تاسې باید له (مرحبا) څخه ویزه واخلئ. انګار صیب ماته وویل: دوی څه وایي؟ دا ټوله کیسه مې ورته وکړه، که څه هم زما انګلیسي پخه نه ده، خو د انګار صیب او سنجر صــیب پــه اند ول ما خپل خر له ختې ایستلای شو. ما چې هغه مامور ته وویل: دی ویزه نه لري دا نو امکان لري؟ هغه وویل: دا نو دده خپل مشکل دی. انګار صیب ته مې وویل چې بکس کې دې کوم قیمتي شـــیان

شته که نه؟ هغه وويل: نه بابا يوازې يوه جوړه دريشي ده، د غاښونو کريم او برس نور خاص څه نه شته، ما ويل که کنسل يې کړې، دا به دې په گټه تمام شي، ځکه د دوبۍ د وېزې په پيسو هلته دوه جوړې دريشي کېږي او تکليف به يې له پاسه دلته گالې، راځه چې بېرته يې کنسل کړو، بېرته يې د کابل د نړيوال هوايي ډگر قومندان جنرال صيب اصف جبارخېل ته زنگ وواهه، چې هغه يې هلته واخلي. انگار صيب خورا ځوان طبيعته او عيار سړى دى، ژر يې راسره ومنله، ويل يې والله ښه کار دى. بېرته مسول مامور ته ورغلو، ما ويل دا بيــک بېرته کنسلېدى شي؟ هغه وويل: دى (انگار) دې راته امضا وکـــړي، انگار صيب ورته لاسليک وکړ، پر دې وخت ښاغلى نادر نــادري (د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کميسيون وياند) هلته په لين کې ولاړ و، هغه تر روغبړ وروسته موږ څخه وپوښتل چې څه مشکل دى؟ ما ورته مشکل ووايه، هغه چې په پخه او روانه انگليسي خبرې کولاى شي، بيا غرفې ته ورغى، خو مسول مامور همغه خبره وکړه، چې موږ ته يې کړې وه، نادري صيب وويل: ښه لاره داده چې کنسل يې کړئ، تر دې وروسته نادري صيب هم، چې د واشنگټن په سفر روان و، له موږ سره يوځاى شو، نادري صيب تر موږ ټولو زيات بلد و او څو ځله يې امريکا ته سفرونه کړي وو، هملته يې درســونه هــم لوستي، نو ځکه موږ د سفر له پاتې ستونزو بېغمه شو. دى مخکــې موږ ورپسې، د ترمينل دويم پوړ تــه لاړو، اړونــدې دروازې او بيــا اړوندې غرفې ته لاړو، زموږ ټولو پاسپورټونه ده واخيستل، ټکټونه

يې په کې کېښودل او د غرفې مسولې مامورې ته يې وړاندې کړل، هغې بيا تر (۲۰–۲۵) دقيقو ځنډ او تر ډېر چورت او دقت وروسته مورږ ته بوډينګ کارتونه راکړل او بيا له هغه ځای وړاندې عمومي ترمينل ته راغلو. ما د کمرې لپاره يو پوښ واخيست، همداسې په ترمينل کې ګرځېدو، ستړي هم وو، انګار صيب وويل: راځئ لاړ شو، کافي شاپ کې به کېنو، چای به هم وڅښو، ګپ به هم ولګوو، نادري صيب يو لوکس کافی شاپ ته بوتلو. د چای غوښتنه يې وکړه، چای يې راوړ، ښه د مزې چای و، زه خو ښه ستړی هم وم، نو ښه په مزه مې وڅښه، نږدې يو ساعت هلته ناست وو، بېل يې راوړ، (۲۱) ډالره وو، انګار صيب پيسې ورکړې. زمورږ پر وخت د شپې يوولس بجې وې. خو زمورږ بوډينګ کارت کې د الوتنې وخت، پر محلي وخت دولس نيمې بجې و. تر چای څښلو وروسته په دې لټه کې شو، چې د خپل اوږده سفر لپاره تياری ونيسو.

# له دوبۍ تر واشنګټنه

نږدې دولس بجې مو د یونایټېډ ایرلاین ( د امریکا هوایي لیکې) اړوند ترمینل ته ځان برابر کړ، یو ځل بیا باید د تالاشۍ له سکرینه تېر شو. خو مخکې تر دې چې دې غرفې ته لاړ شو، د ټولو نه، بلکې د خاصو خلکو د پاسپورټونو د کتلو پړاو پیل شو. یو تن چې غالبـــاً هندی و، راغی، له هغو کسانو یې پوښتنې پیل کړې، چـــې ده تـــه امریکایان نه ښکارېدل، له سنجر صیب، انګار صیب او ځینو نورو یې پوښتنې پیل کړې، نادري صیب ورته ژباړه کوله، هر یو ته یې  دا ویل: چېرته ځې؟ څه ته ځې؟ څه کوې؟ بکسونو کـــې مـــو څـــه دي؟ دا بکسونه مو خپل دي؟ بدل شوي خو نه دي؟ چا خو به لاس په کې نه وي وهلی؟ او ګڼې نورې پوښتنې. زما نوبت چې راغی، مـــا نـــادري صیب ته وویل: ورته ووایه دا ساده ګان لکه چې موږ درته ښکاره شو که څنګه؟ چې دومره مخلوق کې دې همدا موږ په ګوته کړو، که زړه دې نه وي، چې بېرته وګرځو، ماورته په خندا کې دا خبرې وکـــړې، هغه ته یې چې زما خبرې وکړې، هغه لـــه خنـــدا شـــین شـــو، زمـــا پاسپورټ یې وکوت، خو دېرې پوښتنې یـــې راڅخـــه ونـــه کـــړې. پاسپورټ کې یې راته خروجي ټاپه ولګوله، له چکه تېر شو. د څـــو دقیقو لپاره پر څوکیو کېناستو، یو امریکایي د نادري صیب څنګ ته راغی، زه یې هم پېژندلم، ښه روانه فارسي یې ویله، د کاندیدانو په اړه یې له ماڅخه ځینې پوښتنې وکړې، هغه هم هر احتمالي کاندید

ښه پېژنده، څو دقیقې وروسته الوتکې ته پورته شو. الوتکه نه وه، یو بشپړ کلی و، خپل سیټونه مو پیدا کړل، بیکونه مو پاس پــه خپلــو ځایونو کې ځای پر ځای کړل، د الوتنې پر وخت مې  په الوتکه کې یو زیات شمېر افغانان تر سترګو شول، اټکل کېده چې تر امریکایــانو وروسته کېدی شي دویمه کټه ګوری وي. دا الوتکــه د جرمنـــي او اماراتو د الوتکو په شان ښکلې نه وه، خو په لویوالي ښه لویه وه. د منځ لیکه کې یې پنځه څوکۍ او د څنډو لیکو کې یــې دوه نفــري څوکۍ ایښې وې. د هر سیټ مخې ته یې یو کوچنی ټلویزیونګوټی نصب و. ددې ټلویزیون پر سکرین هم د سفر واټن او لیکه ښکارېدل او هم دې کولای شول، په څو بېلابېلو ژبو څو فلمونــه وګــورې. د الوتکې د ټولو څوکیو شمېر معلومول اسانه کار نه و، خو اټکل کېده، چې نږدې پنځه سوه کسان په کې ځایېدل. کله چې مو په الوتکــه کې خپل سیټونه تثبیت کړل، نو ځان مو راحت احساس کړ، بیا مې خپله کتابچه راوویستله، غوښتل مې په الوتکه کې له دې فرصــت څخه ګټه پورته کړم او خپل هغه یادښتونه پوره او بشپړ کړم، چې د تېر یو کال په بهیر کې مې یادښت کړي، خو بشپړ کړي نــه وو. پــه ټکټ کې راته د الوتنې د رسېدو محلي ټایم لیکل شوی و: د ســهار (۶) بجې به امریکا ته رسېږو. ظاهراً خو چې د شپې یوه بجه له دوبۍ څخه حرکت وکړې، نو فکر کوې چې شپږ بجې امریکا ته رسې، نــو ټوله لاره شپږ ساعته کېږي، خو واقعیت داسې نه دی. د امریکــا او دوبۍ ترمنځ د وخت نهه ساعته واټن ته چې د چا پام نــه وي، نــو

همداسې فکر کوي، خو که دا وخت په کې محاسبه کړي، نــو بیــا خبره پنځه لسو ساعتونو ته رسېږي. زه چې د وخت دې نزاکت ته متوجه وم او تر الوتنې دمخه نادر نادري صیب هم راته ویلي وو، چې ټول پنځه لس ساعته مزل دی، نو ځکه خو مې د خپلو یادښــتونو بشپړاوي او خوب ته ملا تړلې وه، نیم ساعت مو په الوتکه کې انتظار وکړ. ما فکر کاوه، چې د امریکا الوتنې به پر خپل وخت الوتنه کوي، خو چې د هغوی حال مې وکوت، پر خپلو افغاني الوتکو مو شــکر ووېست. تر نیم ساعت زیاته موده په الوتکه کې پاتې شو. تــر هغــه وروسته د الوتکې پیلوټ د الوتنې خبرتیا خپره کړه. ستېوارډېستانو د الوتکې دودیزې یا معمولې لارښوونې وکړې، په دوی کې ښځې او نارینه دواړه شامل وو، خو د نورو الوتنو پر خلاف هېڅ ښکلې ښځه مې په نظر رانغله، لکه څنګه چې الوتکه زړه وه، ښــځې یــې هــم همداسې زړې وې، تراوسه چې ما په کومو الوتکو کې سفرونه کړي، تر دوی بدرنګې ستېوارډېستانې مې په نظر نه دي راغلي، البتــه د ښکلا معیارونه هم توپیر کوي، د سړي محیطي، اجتماعي، سیاسي، اقتصادي حالت او ذوق د ښکلا خوښــوونې او ښــکلا ټــاکنې پــر معیارونو تاثیر کوي، ځکه خو نو اکثره ښکلا پوهان پر دې نظر دي، چې ښکلا دومره ښکلې ده، چې د تعریفونو په حدودو او چوکاټ کې نه ځایېږي. په همدې خاطر د ښکلا بېلابېل تعریفونه رامنځته شوي او هر تعریف ته چې ګورې، نو له مورګو یې د ښکلا یوه برخه بهر ته وځي، خو بیا هم د ښکلا دا تعریف په ټولو کې عام دی چې: ((ښکلا

په هر څیز کې معینه هماهنګي ده)). ما د ښکلا همدا تعریف ددې ستېیوارډیستانو پر وجود تطبیقوه، خو پر یوې (تور پوستې او سپین پوستې) هم تطبیق نه شو. د یوې په وجود کې هم د هغې د بــدن جوړوونکو برخو ترمنځ توازن، هماهنګي او تناسب په نظر رانغلل.

الوتکه الوتنې ته چمتو کېدله، لومړی یې په انګلیسي او بیــا پــه عربي ژبه د سفر په اړه معلومات ورکړل. زه په منځنۍ کتار کې پــر (D ۳۴) نمبر څوکۍ ناست وم، د سیټ په مخنۍ برخه کــې نصــب ټلویزیون سکرین ته مې کتل، چې ټول واټن یې نږدې یــوولس زره کیلو متره ښوده او وخت یې نږدې پنځه لس ساعته، یانې یو زر کیلو متره مربع واټن یې په نږدې یو ساعت کې واهه. په الوتکه کې ټول سیټونه ډک نه شول، یو نیم کس له یوه ځایه بل ځای ته هــم تــه. سنجر صیب هم له موږ څخه بل سیټ ته لاړ، یو لوړ پوړی افغــاني هئیت، چې دا وخت د امریکا پر سفر روان و، هم په همدې الوتکــه کې و، په دې هئیت کې د ملي دفاع وزیر ستر جنرال عبــدالرحیم وردګ، د کورنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر، د بهرنیو چارو وزیــر ډاکټر رنګین دادفر سپنتا، د ملي امنیت چارو مشاور وزیــر ډاکتــر زلمی رسول او د ملي امنیت لوی رییس ښاغلی امرالله صالح هــم شامل وو. له کابله هم موږ سره په کام ایر الوتکه کې وو، خــو دوی هلته هم په لومړي کلاس (بزنس کلاس) کې وو او دلته هم په همدې برخه کې وو، نو ځکه خو موږ ونه غوښتل چې یا هلته او یا هم دلته

ورسره وګورو، د رحمان بابا خبره: نه شي د خانانو ملنګــانو ســره کلي...

نیمه ورځ او بیا تر نیمې زیاته شپه مو په خوب، یادښت لیکلو او ډوډۍ خوړولو تېره کړه، یو وخت ویښ شوم، نږدې (۹) ساعته مزل مو وهلی و. د ټلویزیون پر سکرین لیکل شوي وو (۶۵۹۸) کیلو متره واټن مو وهلای دی. یو وخت مې پښې ډېرې شخې شوې، د الوتکې په دهلېز کې لږ کښېنته و پورته لاړم، پښې مې وغوړېدې، کله چــې دهلېز کې مخ کښېنته روان وم، نو د ملي دفاع وزیر جنــرال رحــیم وردګ صیب هم په دهلېز کې ولاړ و، خپله شخې یې ایستله، زه یې چې ولیدم، نو سترې مشي مو سره وکړل، ماته یې ویل چې تاسو هم



امریکا ته ځئ؟ ما وویل یو سیمینار ته ځو، د ســفر د نـــورو ملګـــرو پوښتنه یې هــم وکړه، بېرته خپل ځای تــه راغلــم، څو شېبې وروسته بیا د خوب څپه راباندې راغله، کله په ویښه کله په خوب کې، همداسې مو سفر ته دوام ورکاوه، الوتکه له دوو لویــو وچو او دوه درجنو هېوادونو تېره شوه، یو وخت مې چې ساعت ته وکتل، نو د افغانستان پر وخت د شپې (۳) بجې او د امریکا پر وخت

د سهار (۶) بجې دي. الوتکه کوزېدو ته چمتو شوه. په ډېر ارام ډول یې پر هوايي ډګر کښته کړو، له شپږو څخه لس دقیقې تېــرې وې، چې له الوتکې رابهر شو.

## نیم ساعت د ډالس په هوايي ډګر کې:

پر سیمه ییز وخت لس پنځه لس دقیقې تر شپږو تېرې وې، چې له الوتکې بهر او ترمینل ته داخل شو، له دې ځایه هغې دروازې ته برابر شو، چې موټر ورسره وصلېده او له دې ځایه بیــا د دوه درې دقیقو په واټن د ترمینل بلې برخې ته، چې هلته د دخولي وېــزې لپاره بېلابېلې غرفې وې، هلته ته، کله چې د ترمینل دروازه بېرته شوه، نو خلک کوټې ته ورته یو موټر کې ناست وو، ما فکر وکړ، چې دا هم کومه خونه ده، خو چې پاس مــې د لاســنیوي ځــایونو او همدارنګه څوکیو ته پام شو، نو د موټر خیال مې پرې پوخ شو. عیناً داسې لکه په فرانکفورت یا نورو هوايي ډګرونو کې، چې د اورګاډي سیستم وي. همدلته چې داخل شو، نو پر ښاغلي زلمي خلیلزاد او دفاع وزیر ښاغلي رحیم وردګ مو سترګې ولګېدلې، دواړه ولاړ وو، په موټر کې دومره څوکۍ نه وې، چې ټولو ته رســېدلې وای، دوی دواړو پاس لاسنیوونکي نیولي وو. مور چې یې ولیدو، نو ســتړي مشي یې وکړل، زه خو زلمي خلیلزاد کم پېژندلم، خو رحیم وردګ صیب زیات پېژندلم، خلیزاد صیب بیا سنجر صیب تر مــا زیــات

پېژنده، تر سترګې مشي وروسته خلیلزاد صیب وویل: څنګه یاستئ د اینده کابینې غړو؟ سنجر صیب ورسره خبرې شروع کړې، خو ډېرې لنډې وې، دا وخت خلیلزاد صیب رحیم وردګ صـیب تـه وویل: هوایي ډګر کې دې په ما تعمیرونه جوړ کړل، افتتاح دې هم کړل، خو پیسې دې رانه کړې او تراوسه پاتې دي. خلیلزاد صیب ورته په ټوکو او خندا وویل: هله ژر شه سپین چک راوباسه چـې همدا اوس یې درته امضا کړم... همدې خبرو کې خلیلزاد صـیب زیاته کړه: په یاد دې ده هغه ورځ چې دا تعمیرونه مو افتتاح کول، سخته واوره هم ورېده، په ټوکو یې وویل: که چېـرې مـې ځـان کاندیداوه، نو د همغه وخت عکسونه به چاپوم... همدې خبرو کې وو، چې موټر ترمینل ته ورسولو،وزیر، امیر، خان و غریب، مېلمه و کوربه ټول په نوبت بېلابېلو غرفو ته ودرېدلو، خلیلزادصیب سره نه کوم باډیګارډ و، نه کوم سکرتر، د هر چا ځانته ځانته سودا وه، هغه کش وپش چې ما په کابل کې د خلیلزاد صیب لیدلی و او بیا مې په امریکا کې د یو عادي شخص په توګه ولید، د ځمکـې او اسـمان ترمنځ واټن و. رحیم وردګ صیب هم یوازې و، لـږ وروسـته پـه واشنګټن کې د افغانستان سفارت یو استازی راغی او هغه یې له (VIP) لارې ځان سره بوته، موږ چې بېلابېلو غرفو ته په نوبت ولاړ وو. نو ۱۱نمبر غرفې ته زما نوبت راورسېد. هلته لاړم، پاسپورټ مې

ورکړ، سترګې مې کمرې ته برابرې کړې. زما پاسپورټ یې واړوه، راواړوه کمپیوټر کې یې ګوتې ووهلې راووهلې، ښځینه پولیسې پرې نږدې لس دقیقې وخت تېر کړ، بیا یې وویل: د سفر نور کاغذونه! ما د سیمینار اسناد ورکړل، هغه یې سرسري وکتل، بېرته یې راکړل، بیا یې شونډې وخوځولې؛ منفي ځواب یې راکړ، ماته یې وویل: راځه راپسې، بیک مې واخیست، دا مخکې او زه ورپسې وم، پنځوس متره وړاندې لاړو. هلته هم همدا ډول غرفې وې او د پاسپورټونو چک کېدل، ماته یې وویل: همدلته پر څوکۍ کېنه، نږدې شل دقیقې ناست وم، ښځه لاړه لادرکه شوه، دې غرفو باندې ګڼه ګوڼه نه وه، پر دې وخت یوه بله پولیسه راغله، مانه یې وپوښتل، اشاره یې وکړه، چې پاسپورټ دې غرفې ته ورکړه، ما ورته وویل: هغې بلې پولیسې سره دی، دا وخت یوبل تن چې هغه هم د همدې ځای یو عادي کارکوونکی ښکارېده، ماته په فارسي ژبه وویل: ولې ناست یې؟ ما وویل: پاسپورټ یې راڅخه یوړ، ده راته وویل: همدلته کېنه، ده بیا هغو نورو مامورینو ته وویل: نور هغوی پوه شول، یو څو دقیقې وروسته یو پولیس زما نوم له لرې واخیست، ما ویل زه یم، پاسپورټ یې راوړ، لارښوونه یې وکړه، چې له دې لارې بهر شم، کله چې بهر شو، نو خپل نور اندیوالان، سنجر صیب، انګارصیب او نادري صیب ماته منتظر وو، ماته یې وویل: ولې

دې ناوخته کړ، ما ورته داکیسه وکړه، دا وخت مو یــو بــل ســره مشوره کوله، چې ټکسي پيدا کړو او تر هوټله پورې لاړ شو. پر دې وخت یو تن زموږ نومونه پر یوه کاغذ لیکلي وو. خپل نومونه مــو وکتل، هغه ته مو وویل: موږ یو: نادري صیب سره مو خدای پاماني وکړه، زموږ هرکلیوال موږ ته وویل: بکسونه مو همدا دي، موږ وویل: هو ده وویل: راځئ راپسې.

له ترمینله ووتو، باندې یو لوی پارکنګ و، چې په سوونو څه چې په زرګونو موټر په کې ځايېدلای شي. کله چې څوک د لومړي ځل لپاره د امریکا د یو هوايي ډګر دومره لوی پارکنګ وګوري او بیا یې له نورو پرمختللو او وروسته پاتې هېوادونو سره پرتله کړي، نو هلته سړي ته په لومړي نظر د امریکا د لویوالي، پرمختګ او عظمت پته لګي. موږ د ډالس په نړیوال هوايي ډګر کې کښته شو، چې دا ډول هوايي ډګرونه په امریکا کې ډېر زیات دي. سهار لمر نوې څړیکــه وهلې وه. په موټر کې کېناستو، زه مخکې سیټ کې، سنجر صیب او انګار صیب شاته سیټ کې کېناستو، هغوی ماته وویل، څه ته به نن زموږه ترجمان شې. په موټر کې تر ناستې دمخه پر لنډ وخــت هم یخ ښه وځپلو، خو ښه و؛ وخت لږ و، په موټر کې چې کېناستو، نو له ډرېور څخه د پارکنګ کارت ورک شو، هلته خو چې دا ډول کارت درڅخه ورک شو، هغه بیا یو بل جنجال دی. ما چې د ډرېور

اخوا دېخوا کاغذونه وکتل، نو پیدا مې کړ، ډرېور سخت خوشـــاله شو، حرکت مو وکړ. کله چې عمومي واټ ته برابر شو، نو درې لیکې سړکونه وو: یوه خوا، بله خوا او منځ سړک، په یوه لیکه یې موټر پر یو مخ او په بله کې پر بل مخ روان وو، منځ سړک کې موړ روان وو. ډرېور څخه مو وپوښتل چې دا سړک ولې اختصاصـــي دی؟ هغــه وویل: دا لیکه هوایي ډګر ته اختصاص شوې، سهار ټایم له دې خوا او مازیګر له اخوا په کې تګ راتګ وي، نور عام موټر پر دې سړک نه ځي، ځکه چې دلته وخت ډېر مهم دی. ډرېور څخــه مــې بیــا وپوښتل چې پخوا دې څه کار کاوه؟ هغه وویل: زه متقاعد ډګروال یم، اوس (NDU) د ملي دفاع وزارت پوهنتون سره همکار یــم، د هغوی مېلمانه هوایي ډګر ته وړم راوړم. هغه هوټل ( Residents inn hotle) نومېده چې موږ ته یې په کې ځای نیولی و، د هغه په بــاب مې ډرېور څخه وپوښتل، هغه وویل: نــیم ســاعت ورروســته بــه وررسېږو. په لاره کې چې مو لویو سړکونو او لویو ودانیو ، ګڼو ونو او ځنګلونو ته کتل، نو د امریکا پرمختګ او لویوالی په کې له ورایــه محسوسېده.ډېرې دنګې ودانۍ په کې نه وې او نه یې ودانۍ ډېرې نږدې نږدې وې. سړکونه یې هم ډېر لوی او پراخه وو. که څه هم د موټرو ګڼه ګوڼه وه، خو بیا هم دا وخت ګڼه ګوڼه دومره ډېره زیاته نه وه. سړکونو هم د ډېرو موټرو د ځایونې اوسېله لرله. په لاره کې

مې شاوخوا ټولې لیدونکې ودانۍ له نظره تېرې کړې، یو ځای مې پر سپینو ډېرلیکونو یا ولاړو شناختو سترګې ولګېدې، له ډرېــور څخه مې وپوښتل چې دا څه دي؟ هغه وویل: دا د هغو امریکــاییي عسکرو هدیره ده، چې په بېلابېلو جنګونو کې وژل شوي دي. کله چې هوټل ته نږدې کېدلو، نو په لاره کې مې یو لوی خړبخن څــو ضلعي تعمیر ته پام شو، ډرېور وویل: دا پنټاګون دی. تر لږې شېبې




نور مزله وروسته (رېزنډنټس) هوټل ته ورسېدو، دا یو یویشت پوړیز هوټل و. د هوټل هرکلیوال ته چې ورسېدو، نو زموږ نومونه یې پیدا کړل. خپل اتاقونه یې راته لا دمخه مشــخص کــړي وو. پنځــوس پنځوس ډالره یې رانه د تضمین په توګه واخیستل، چې کــه پــه

هوټل کې له نا وړيا شويو شيانو ګټه پورته کړو، نو چې دا ورځخه وګرځوي.

زه (یون) په (۱۴۱۹) نمبر اتاق کې وم، سنجر صیب په (۱۲۱۷) او انګار صیب (۵۲۱) نمبر اتاق کې و، د هر پوړ نمبر له اتاق نمبر سره سمون خوړ، د ساري په توګه (۱۲۱۷) اتاق، یانې په دولسم پوړ کې (۱۷)مه خونه، خو په مجموعي توګه د اتاق (۱۲۱۷) نمبـــر لیکـــل شوی و. همدا یې ټلیفون نمبرونه هم وو. اتاق ته تر ختلو دمخه مو یو بل ته خپل اتاق نمبرونه هم ورکړل او بیا مو د ټلیفون له لارې هم خپل اتاقونه چک کړل، ټولو وویل خوب او استراحت به وکړو، بیا به مازیګر او ماښام همدلته لاندې سره راټول او غونډې ته به لاړ شو. اتاق ته چې لاړم، نو د اتاق ټول لوازم مې چک کړل، تر دریشي ایستلو او جامو اغوستلو وروسته چپرکټ ته د خوب په نیت لاړم، دا چې ښه ستړی وم، نو ژر راباندې د خوب څپه راغله، ښه د مزې خوب مې وکړ، تر خوب وروسته مې پر ځان اوبه تېرې کړې، ځان مې ښه تازه کړ. دریشي مې واغوستله، کاغذونه او پروګــرام مـــې چک کړل او له اتاقه بهر شوم.

# د ښه راغلاست لپاره یوه ماښامنۍ

د فبرورۍ ۲۳مه نېټه وه، نږدې ماښام و، کله چې له اتاقه د لفټ پر لوري روان وم، نو مخې ته مې له یوې کړکۍ څخه پر همغه تعمیر سترګې ولګېدې، چې ډرېور راته د (پنټاګون) په نامه معرفي کړی و. له کړکۍ څخه مې ورته ښه په ځير ځير وکتل، ربښتیا هم ډېـره لویه ودانۍ ده، ډېر لوړ پوړې نه ده، خو ډېره لویه او ډېره غځېدلې ده. مخې ته یې یو ډېر لوی پارکنګ دی، چې په زرګونو موټر په کې




ځایېږي، د هروینګ یا برخې دروازې یې له ورایـه ښــکاري، پـه همدې څو شېبو کې مې په زړه کې ډېرې خبرې وګرځېدې، کمره مې راواخیسته، ژر مې یو عکس واخیست، عکس مې هم په ډېره وېره او بیړه واخیست، ما فکر کاوه چې له دې ځایه به عکس منع

وي، تعمیر څه کم یو کیلو متر لرې و، زما کمره هم دومره قوي نه وه، چې له دومره لرې فاصلې دې ښه عکس واخلي. بل عکس ته مې لا ځان جوړوه، چې د لفټ اشاره بله شوه، په لفټ کې له (دولسم) پوړه لومړي پوړ ته کښته شوم. هلته مې سنجر صیب او انګار صیب هم ولیدل. په همدې پوړ کې هغه هال ته لاړو، چې غونډه په کې جوړه شوې وه. غونډې ته ننوتو، وار له مخه موظفو مامورینو مېز ته هر کلی ووایه. پر اوږده مېز د هر چا نوم پر ځانګړې دوسیه لیکل شوی و. د سیمینار ضروري مواد په همدې دوسیه کې ایښي وو. د پېژندنې لپاره یې یو کاغذ، چې د هر چا نوم پرې لیکل شوی و، هم د هر چا د کورتۍ پر برنۍ برخه ټکوهه، د دوسیې پر سر د لیکل شویو نومونو د کره لیکنې پوښتنه یې هم کوله، تر دې ځایه هر څه په خورا نظم ښکارېدل، د هرکلي اکثره مامورین ښځینه وې، د ټولو خوله له خندا ډکه وه، په وچولي کې یې هېڅ ګونځې نه ښکارېدې، لکه خندا یې، چې د کلتور یوه برخه وي.



خپلې دوسیې مو ځان سره واخیستې او د غونډې هال ته ننوتو. له بېلابېلو هېوادونو څخه راغلي هئیتونه او د هئیتونو غړي اکثره حاضر وو. څو دقیقې وروسته غونډه پیل شوه، د هغه ځای د غونډو

ښه والی په دې کې وي، چې پر خپل وخت پیلېږي، ډېر کم تفاوت په کې وي اویا هېڅ نه وي.په پیل کې د پروگرام منتظمې مېــرمن وینډي وایټ (Ms.wandie white) خبرې وکړې او برخوالو ته یې هر کلی ووایه، بیا یو بل تن لنډې خبرې وکړې او ورپسې جنرال بارنو خبرو ته وبلل شو، جنرال بارنو مخکې په افغانستان کې د ائیتلافي قواوو د عمومي قوماندان په توگه دنده سرته رسولې، د افغانستان او د سیمې د حالاتو په باب ډېر معلومات لري، اوس د همدې نیسا سنتر د ( دنږدې ختیځ او جنوبي اسیا لپاره د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز (Near East South Asia Center for Strategic Studies) مشر دی. هغه څو دقیقې خبرې وکړې. پر افغاني هئیــت ســربېره دې غونډې ته د نورو هېوادونو د هئیتونو ترڅنګ اړوند ژباړن هم رابلل شوي وو. د افغانستان لپاره درې تنه ژباړن وو، چې دوی پخوا هم



لــه همــدې نیســا مرکــز او (NDU) پوهنتون ســره کــار کړی او په اصــطلاح دایمــي همکاران یې گڼل کېږي. پــه دوی کې یو تن داود ایازی و، اصلاً د کندهار اوسېدونکی، خو نږدې دوه لسیزې کېږي، چې په امریکا کې اوسي، بل ملکیار صیب و، چې دی اصلاً د هرات ولایت دی، مشهوره کورنۍ ده، دېرش کاله کېږي، چې په امریکــا

کې اوسي او بله مېرمن فوزیه وه، چې هغه هم نږدې شــل کالــه کېږي، په امریکا کې اوسي، فکر کوم درېواړو امریکــایي تابیعــت درلود، ایازي صیب په پښتو او دوو نورو په دري ژبــاړه او خبــرې کولې. جنرال بارنو په خپلو خبرو کې د معمولو تشریفاتو او هرکلي ترڅنګ دا وویل: ((دا سیمینار د نورو علمي ګتــو ترڅنــګ ددې لپاره هم ډېر ګټور دی، چې د بېلابېلو هېوادونو او کلتورونو مخور او اکاډمیک شخصیتونه یو بل سره کېني، یو بل وپېژني، د ملګرتیــا زمینه یې برابره شي او همدارنګه خپلو سیمو او نړۍ ته د ورپېښو خطرونو او چلېنجونو په باب به یو بل سره د نظر تبادله وکــړي.)) جنرال بارنو زیاته کړه: ((مخکې تر دې هم څو سیمینارونه شوي، تر ارزونې وروسته موږ ته ثابته شوې، چې ګټه یې زیاته ده. دلتــه هدف دا نه دی، چې له سیاسي پلوه موضوعګانې وڅېــړل شــي، بلکې هدف دادی، چې په علمي لحاظ مســایل وڅېــړل شــي او تحلیل شي. دلته د چا پر نظر باندې بندیز نه شته، هر څوک خپل نظر څرګندوي او دا نظرونه هم د هغه د خپل فکر څرګندوی دي.)) د جنرال بارنو تر خبرو وروسته د غونډې برخوالو ته د ماښــامنۍ بلنه ورکړل شوه، کېک، کلچې، چای، شیدې، یو دوه ډوله کباب، ترکاري، بېلابېل جوسونه پر اوږده مېز ایښي وو. هر چا د خپل ذوق او اشتها مطابق شیان را اخیستل، ځینو کسانو پر ولاړه خــوراک کاوه، ځینې خپلو مېزونو ته راتلل، همدې شېبو ددې زمینه برابره کړه، چې د بېلابېلو هېوادونو استازي یو بل سره وګوري. د ترکیې،

امریکا او ځینو نورو هېوادونو له یو یو یا دوه تنو غړو سره همدلته زموږ پېژندګلوي وشوه. له خپلو افغانانو سره مو، چې اوس یــې د ژباړونکو دنده سرته رسوله، هم ښه تعارف حاصل کړ. ګپ شپ مو هم ورسره ولګاوه. د ژباړې کمپیوټري خو اسانه سیســـتم و، یــوه وړوکي ټلېفون ته ورته دستګاه وه، ژباړن سره هم وه، موږ سره هم، هغې غوږۍ درلودله، هغه به مو چالان کړه، غوږۍ به مو غوږ کــې کېښوده، ژباړن به د هال له یوه ګوټه ژباړه کوله او موږ به اورېدله. دا غونډه لنډه وه، خو ګټوره وه. غونډې به ټول یــو ســاعت دوام موندلای وي، د غونډې په پیل کې یې موږ ته د لس ډالرو په ارزښت یو کرېډېټ کارت هم راکړی و، چې که چېرې ټلېفون کوئ له دې کارت څخه ګټه پورته کولای شئ. د کارونې طریقه یې هم راښودلې


ښاغلی ایازی ښاغلی ملکیار آغلې فوزیه

وه. د غونډې تر پایته رسېدو وروسته هر څوک په خپله مخه لاړل او موږ خپلو اړوندو اتاقونو ته راستانه شو. په اتاق کې د ټلویزیون د

چالانولو پر سیستم پوه نه شوم، ریسپشن ته مې ټلېفــون وکــړ، هغوی یو تن راولېږه. په ټلویزیون کې اکثره امریکایي چینلونه وو، چې ځینې یې افغانستان کې هم نیول کېږي، د افغانستان چینلونه خو څه، چې د نورې لویدیزې نړۍ هم په کې نه وو، کله چې یــې ماته ټلویزیون چالان کړ، نو د ټولو چینلونو په باب یې راته معلومات راکړل، د هوټل ځانګړي چینل په باب، چې طبعاً تر اخلاقي اصولو اخوا شیان خپروي وویل چې ټکس لري، خو د ټکس کچه یې راته ونه ویله. بېلابېل چینلونه مې واړول راواړول، په مینو کې د هوټل د ځانګړي چینل نوم هم و، چې په یو ځل کتلو یې (۱۶) امریکــایي ډالره خرچه راتلله، که هسې سهواً هم درڅخه په بټنه ګوته ولګول شي، نو شپاړس ډالره درڅخه ځي، هغه ته مې ښه پام شو، فکر مې وکړ چې احتیاط ورسره په کار دی. دا خبرې ددې لپاره لیکم: زموږ یو زیات شمېر افغانان، چې بهر ته سفر کوي، نــو مخــور وي کــه نامخور،سپین ږیــري وي کــه ځوانــان، سیاســي خبــل وي کــه ناسیاسیون، ملایان وي که امیان، اکثره له دې ډول ستونزې سره مخامخېږي. دوی په چینلونو کې ګوتې وهي یــو دم داســې څــه وګوري، چې د کتلو نه وي، ځینې یې بېرته لرې کړي، بیا هم یو ځل چارج پرې راځي، خو ځینې پرې ځان همداسې غلی کړي، خبر نه وي، چې په پای کې څومره بېل ورپسې راځي. یو ځل موږ جرمني ته په یو رسمي سفر تللي وو، سهر چې ریسپشن تــه لاړو، خپــل حسابونه مو تصفیه کول او بل هوټل ته تلو، نو یو سپین ږیری پسې

(۱۵۰) یورو بل راغلی و، ډېر فریاد یې وکړ، چې مــا خــو هېڅرتــه ټلېفون نه دی کړی، دا ولې؟ ما او زما یو بل ملګري چې بېل وکوت، نو لیکلي یې وو: (Pay TV chanal) مانا د پیسو چینل، هغــه مــو ګوتې ته کړ، موږ وویل فریاد مه کوه، چې دلته دا نور هئیت خبر نه شي، تا داسې... چینل کتلای، کټ کټ په خندا شو، ویې ویل: نو دا د خره زامن پرې څنګه خبر شول، موږ ویل دوی خو هر څه دلته په کمپیوټر کې ګوري، بیا یې وویل: رښــتیا وایــم زه نــه پوهېــدلم، چینلونه مې اړول را اړول چې یو دم داسې یو څه هم په کې راوتل چې حال د ویلو لایق نه دی، بیا یې د بېل پیسې ورکړې. پر یو بل مخور سیاسیخېل (۳۵۰) یورو بېل راغلی و، خو څرنګه چې دا لوړ رتبه دولتي هئیت و، ددې لپاره چې د افغانستان نوم بد نه شي، نو هوټل والا ته یو بل افغان له خپله جیبه پیســې ورکــړې وې او د هوټلوال جنجال یې ختم کړی و. یو بــل چاپســې چــې د کــومې موسسې رییس و، ان کابل ته بېل راغلی و. نو بهر ته پــه تــګ او سفرونو کې دا خبره ډېره مهمه ده، چې د هوټل نزاکتونو، قوانینو او همدارنګه د درسمي پروتوکول ټول ممیزات په پام کې ونیول شي، له مسافر سره باید پر رسمي سفر خرڅ سربېره احتیاطي پیسې هم وي، چې د احتمالي خطرونو؛ ترانسپورټ کرایه، د ټکــټ بدلېــدو چارج او داسې نور شیان په کې د ضرورت پر وخت رفع کړي، دغه راز د هغه کوربه هېواد کلتور، تمدن او مذهبي قوانین، چې تر ټولو ډېر مهم دي، باید په پام کې ونیول شي. ما چې د ورځې یوه ښــه

سترګه خوب کړی و، نو له کابله مې له ځان سره خپل دېــر هغــه یادښتونه وړي وو، چې ترتیبول يې په کار وو، کتابچه او قلم مــې راواخیستل، یو څو مخونه لیک مې وکړ، کله مې ټلویزیون ته کتل او کله مې لیک کاوه، ټلویزیون کې څو ښکلي کمیډي چینلونه وو او څو سپورټي، همدا مې اړول را اړول او په ترڅ کې مې خپل لیک هم کاوه، همدې کې ورو ورو د خوب مرغۍ راباندې راغله، کله چې خوب راته د فکر توازن ګډوډ کړ، نو بیا مې خوب ته پناه یوړه.

# د سیمینار لومړۍ ورځ

د فبرورۍ ۲۴مه نېټه د شنبې ورځ وه، سهار وختي چې له خوبه پاڅېدم، نو په مجهز تشناب کې مې پر ځان ګرمې اوبه تېرې کړې. تر تشناب وروسته مې شیطاني هوسونه ټول له ځانه وشړل، لــه خپل فکر سره سم مې قبله په نښه کړه، د سهار لمونځ مې په ډېر خوند وکړ، داسې لمونځ و، چې د خدای(ج) او د هغه د بنده ترمنځ نه شیطان حایل و، نه ملا، نه مفتي او نه هم کوم بل ریاکار، څومره خوند کوي هغه حالت او هغه عبادت چې هېڅ حایل په کې نه وي. لویدیزې نړۍ ته چې سړی لاړ شي، نو تصنعي ابادي یې څو ورځو کې زړه ووهي، ډېر ژر یې یو روحي ډاډځي ته زړه وشــي. اکثــره افغانان، چې په تېرو نظامونو کې د مجاهدینو له خوا پر کفر او الحاد تورن وو، په غرب کې اوس تر مجاهدینو په اسلام کې ډېر تکړه دي. ددې یو علت دادی، چې په لویدیزو هېوادو کې افغانان په خپل زړه او خوښه د اسلام له مزایاوو ګټه اخلي، خو پــه افغانســتان کــې ملایانو تل نور سپېروني ورسره مل کړي دي، نو ځکــه عبــادت د عادت بڼه غوره کړې او د ځینو زړونو او فکرونو خیرې نه پاکوي. تر لمانځه وروسته مې د سیمینار لپاره رسمي لباس، چې مخکې تر مخکې راته په ګوته شوی و؛ دریشي او نیکټایي په کې حتمي وو، واغوسته، څه کم اوه بجې لاندې لومړني پوړ ته د چای لپاره کښته

شوم. هلته مې خپل نور ملګري (سنجرصیب او انګار صیب) هـــم ولیدل. چای مو په ګډه وڅښه، نوم یې د چای و، خو تازه او وچـــه مېوه، هګۍ، څو ډوله وچه ډوډۍ، ډول ډول جوسونه، مســـتې، د منې مربا، تازه خټکي، هندوانې، کباب او نورې مېوې، د الوبالو او نورو مېوو مرباوې، پنېر، خپله چای، خو لنډه دا چې هر ډول لذیذ طعامونه په کې وو. هسې نوم یې د سهارني چای و. په سیمینار کې د ګډونوالو ټولو هېوادونو د هئیتونو غړي هم همدلته راتلل او په دې هوټل کې نور مېلمانه هم راتلل. ما چې د هر بهرني په تېره بیا د امریکایانو پر وړاندې د خپل وجود وزن ته کتل، نو ډېر توپیر راته په کې ښکارېده، که د افغانستان په تېره بیا د لغمان وګړي له دوی سره پرتله کړې، نو ډېر توپیر به درته په کې ښکاره شي، خو اکثره بهرنۍ ښځې او نارینه چې دې کتل، د بدن د غړو ترمنځ یې هېڅ ډول انډول موجود نه وو. پر اکثرو خپل وزن بار و، په سترګیا یې ځان راکاږه، نو چې ددوی مې دا حالات ولیدل، پر خپل ځان مې شکر ووېست. د غذا هېڅ کمی نه و؛ څه شی چې دې خوړ او څومره چې دې خوړ، بندیز نه وو. زه د ډوډۍ یا دې شیانو د خوراک په بـــاب دومره فکر وړی نه وم، خو دېته مې سوچ کاوه، چې څومره شیان له هر چا څخه پاتې کېږي او بیا په باطله- دانۍ کې لوېږي، زه چې اکثره له ضریبونو سره کار لرم، نو یو ځل بیا مې ددې هوټل یوازې سهارنی لګښت او بیا باطله کوونکې غذا له نظره تېره کړه، بیا مې په یوه ښار کې د هوټلونو احتمالي شمېر، بیـــا د ټـــولې امریکـــا د

هوټلونو دا حالت او ورځنی لګښت په پام کې ونیو او بیا مې د خپل هېواد او نورو غریبو هېوادونو له ټول کلني لګښت سره پرتله کړ، پوره باور مې راغی، چې د هغوی د یوې ورځې د هوټلونو د سهارني لګښت یوازې باطله کېدونکې غذا هم زموږ د ټول هېواد تر کلني لګښت اوړي. په همدې سوچونو کې له چای څخه خلاص شوم. له مهالوېش سره سم سهار پر اتو بجو د هوټل مخې ته په ولاړ یو لوړ اوږده ګاډي کې، چې په افغانستان کې د (۳۰۲) موټرو په شان دی، خو په لوړوالي کې لوړ و، ورپورته شوم، یو سپین ږیری، خــو بــې ږیرې ډرېور په کې ناست و، ډېر ارام موټر یې چلوه، نیم ساعت کې د نیسا مرکز ته ورسېدو. په لاره کې د امریکا پراخ سړکونه، لویې ودانۍ طبعاً سړي ته په زړه پورې وي. د ښار له منځه لوی سیند د ښار ښکلا نوره هم زیاته کړې وه. سړکونه که څه هم پراخ وو، خو ګڼه ګونه په کې له ورایه محسوس وه. سهار چې موږ موټر ته پورته کېدلو، نو د پروګرام مسئولینو څو شیان موږ ته وویل: موږ معمولاً نیم ساعت کې رسېږو، خو واشنګټن داسې ښار دی، چې پر هوا یې باور نه شته، بل یې ترافیک هم نا اعتباره دي او درېیمه خبــره دا چې پر امنیت یې هم زړه نه شي ترل کېدلای.

کله چې نیسا مرکز ته ورسېدو، نو پر یــوه ښــکلې دوه پــوړیزه ودانۍ وردننه شو، یو داسې هال ته یې بوتلو، چې نږدې سل کسان په کې په ارامه ځایېدل. هلته د هر چا نوم پر یو کاغذ لیکل شوی او پر مېز ایښودل شوی و. ټول پر خپلو ځایونو کېناستو، ژبــاړونکو

خپل تخنیکي وسایل چک کړل، کله چې پر خپل ځای کېناستو، نو غوږونه مو ارام او نرم شول، ځکه تر هغه دمخه بهر کې ښه سخت یخ و. په پیل کې یو مسول شخص د نن ورځې پروګرام لنډ تشریح کړ، تر هغه وروسته د سیمینار یوې بلـــې اساســـي تنظیمـــوونکې مېرمن ویندې وایټ، خبرې وکړې. موږ یې پر درېو بېلابېلو ګروپونو ووېشلو. هر کس ته یې د خپل ګروپ لست ورکړ.

بیا یې وویل: لومړی باید عکسونه واخلو، تاسو ته کارتونه جوړوو، چې نیسا سنټر ته پرې داخل شو. ګروپ ګروپ په نوبت سره لاړو، دویم پوړ ته پورته شو، هلته یې زموږ عکســـونه واخیســـتل، نـــیم ساعت وخت به یې نیولی وي. تر هغه وروسته ټول بېرته موټر کې کېناستو او لږ وړاندې ددې مرکز بل اساسي تعمیر ته لاړو. پر دې ځای لیکل شوي وو:

Near East South Asia Center for Strategic Studies National Defiance University

تر یوې دېرې دقیقې تالاشۍ وروسته، چې د ماشین په واســـطه ترسره کېدله، ودانۍ ته دننه شو. کله چې د ټولو تالاشي خلاصـــه شوه، نو په لفټ کې څلورم پوړ ته پورته شو. د سیمینار هـــال تـــه ورننېردې شو، د هال په مخني دهلېز کې د ټولو هېوادونو بیرغونـــه وو، د افغانستان بیرغ مې چې ولیده، نو زړه مې وغوړېد، لږ ښـــه پېښه نیولی شوم، چې نور تېر شي. بیا مې د خپل هېواد بیرغ پـــه ګوتو وموښه په زړه مې وسولوه، ښکل مې کړ او هال ته دننه شوم.

**د سیمینار د لومړۍ برخې پیل: کله چې هال ته ورسېدو، نو د هر چا نوم پر کاغذ لیکل شوی او په واړه چوکاټ کې د مېز پر سر اېښودل شوی و. موږ درېواړو افغانانو ته یې د لومړي کتار چپ لاس کې ځای راکړی و. وروسته بیا خپلو افغان ژباړونکو راته وویل چې دا کار دوی کړی دی. د نورو نړیوالو سیمینارونو په شـــان دې سیمینار او هال هم ټول ضروري شیان درلودل. د هال په وروستۍ برخه کې ژباړونکو ته ځای جوړ شوی و، چې د بېلونکې ښیښې یا**



**پارټېشن په واسطه له هاله بېل شوی و، ژباړونکو موږه ټول کتلای شو، خو موږ هغوی نه شول کتلای. د هال مخ ته یـــو نســـبتاً لـــوړ ستېج و، تر څنګ یې د خطابې مېز او تر شا یې پر دېوال دوه سپین ځړېدلي سکرینونه وو، چې د سیمینار د موادو د ښودلو لپاره نصب شوي وو، د ژباړې لپاره ګرځنده وسایل موجود وو، د هر چا مخې**

ته یو میک فعال و. لنډه دا چې د یوه علمي سیمینار ټول امکانات او ضروري شیان په کې وو. د ژباړې لپاره لیکل شوي وو، چې په څلورو ژبو (عربي، انګلیسي، فرانسوي او دري) به کېږي. که څه هم د (پښتو) ژباړې یادونه یې نه وه کړې، خو پښتو ژباړن ایازی صیب د همدې لپاره راغلی و، چې دا چارې پرمخ یوسي. پر محلي وخت لس نیمې (۱۰:۳۰) بجې وې، چې د برخوالــو د پروګــرام منیجــره لینډې وایټ پورته شوه او د پروګرام په اړه یې معلومات ورکړل. په تېره بیا د نن ورځې پروګرام یې تشریح کړ. پروګرام یې په داســې جزیاتو تشریح کړ، ما ویل که تر پایه خبرې همدومره ډېرې وي، نو دا خو به زموږ کباب راوباسي.

خو دا دومره فصیحه او بلیغه ښځه وه، چې په خبرو کې یې هېڅ ابهام نه پرېښوده، مانا دا چې یوه ښه مدرسه یا لکچرره وه. په پای کې یې وویل: د سیمینار د ورځو په بهیر کې نه ویل کېږي، که له کومو ستونزو سره مخامخ شئ، نو موږ ته په دغه نمبــر ټلېفــون وکړئ: (۶۸۵۴۱۳۱– ۲۰۲) نیسا سنټر (۲۸۵۶۴۲۵– ۲۰۲) وینډې وایټ. تر وینډې وروسته د سیمینار یو بل مســول شــخص پروفیســور لیورېنس وېلټ (Prof.Lawrence Velte) راغی. دی د نیسا مرکز یو پروفیسور دی، ددې ترڅنګ چې د نیسا مرکز پر اهــدافو او ددې سیمینار په باب یې معلومات ورکول، په منځ منځ کې یې یوه یوه ټوکه هم کوله، د ځان په باب یې وویل: زه داسې یو سړی یم چې د چا ملاتړ مې کړی، هغه ناکام شوی دی، ده وویل: دلتــه نــړدې د

بایسکټبال یو لوبغالی دی او دلته د بایسکټبال یو ټـیم دی، مـا



همېش د همــدې ټــیم ملاتــړ کړی، خو هر کله چې دې ټیم په سیالیو کې برخه اخیستې، لوبه یې کړې، نو بایلولې یې ده، مورږ هېڅکله لوبه نه ده ګټلې. د نیسا مرکز په باب یې وویــل چې دا یو علمي مرکــز دی، د دنیا ډېر پوهان دلته راځي خپل علمي نظرونه ورکوي، دا نظرونــه چېرته خپرېږي نه، همدلته پاتې کېږي، دا د یوې پاڼې حیثیت لري، د سیمینار په ترڅ کې پر ځان ډېر فشار مه راوړئ، چې ډېر ښکلي او ادبي لغات وکاروئ، ځکه چې دا لغتونه هسې هم په ژباړه کــې خپل شکل له لاسه ورکوي، هــر ډول چـــې تاســو ځــان راحــت احساسوئ، په همغه بڼه وغږېږئ، که څه هم ژباړن دلته ډېر تکړه دي، خو دلته زیاته مهمه مسئله همدا ده، چې محتوا انتقال شي. پروفیسور وېلټ په ټوکو ټوکو کې ډېرې خبرې وکړې، څرنګه چې نن لومړی ورځ وه، نو د سهار مهال همدا خبرې وې، پاوکم دولس بجې لومړي پوړ ته د ډوډۍ لپاره لاړو. ډوډۍ ته تر تګ دمخه یــې مورږ ته وویل: نن تاسې زمورږ مېلمانه یاست، سبا تاسې ته خپلــې پیسې درکوو، د هر چا چې څه زړه وي هغه به خوري، طعام خوری ته لاړو، دا ددې مرکز عمومي طعام خوري وه، په سوونو څه چې په

زرګونو کسانو ته يې هره ورځ ډوډۍ تیاروله. د بوفې سیســتم و، رنګارنګ طعامونه وو، خو هلته د حلالو او حرامو تشخیص ډېر ګران وي، اکثره غذا يې د افغانانو په ذوق برابره نه وي. ما خو لږ وريجې، کبان، تازه مېوه، زیتون او ترکاري راواخیستل، د لیمو جوس مــې راواخیست، لږه وچــه ډوډۍ مې راواخیسته. پــر لــومړۍ ورځ ډوډۍ ډېر خوند ونه کړ، خو ورو ورو ورسره بلد شو.



تر ډوډۍ وروسته غونډه بیا پر یوه بجه پیل شــوه، مشــر مېلمانه يې دولتي او نادولتي کسان وو. په پیل کې متقاعد کول جان جیل (Col John Gill) چې د نیسا مرکز د اکاډمیکو چارو سرپرست او پروفیسور دی، خبرې وکړې، مېلمنــو تــه پــر ښــه راغلاست سربېره يې د نیسا مرکز هدفونه تشــریح کــړل او ددې سیمینار د موخو په باب يې لنډې خبرې وکړې، بیا يې له جنرال بارنو څخه هیله وکړه، چې خپلې خبرې وکــړي. جنــرال ډبلیــو ډوبډبارنو (Lieutenant Genral.W.Borno) چې اوس تقاعد شوی او د نیسا مرکز مشر دی، خپلې خبرې پیل کړې، هغــه هــم لنــډې خبرې وکړې، مېلمنو ته یــې ښــه راغلاســت ووایــه او د دا ډول سیمینارونو جوړېدل يې ګټور وبلل. د سیمینار برخوالو ته يې د کار

په بهیر کې د بریالیتوب هیله وکړه او دا باور یې څرګند کړ، چې ددې سیمینار برخوال طبعاً د خپلو هېوادونو مهم خلک دي او دې سیمینار کې ګډون به یې یو بل سره پېژندنه او تجربې نورې هم زیاتې کړي.

وروسته د ملي دفاع پوهنتون (NDU) National Defense University په استازۍ ډاکتر جان ډیګن (Dr.Jhon Degon) خبرې وکړې، ده هم د نورو په شان لنډې خبرې وکړې، مېلمنو



ته یې هر کلی ووایه او دا ډول غونډې یې ګټورې وبللې، هیله یې وکړه، چې دلته به یو بل سره د نظر ښه تبادله رامنځته شي. د نړۍ هېوادونو ته د ورپېښو چلېنجونو په باب یې هم اشاره وکړه.

وروسته د نیسا سنټر یو بل پروفیسور ښاغلي لېورېنس وېلټ ته نوبت ورسېد، هغه پر ښه راغلاست سربېره د نیسا سنټر په باب معلومات ورکړل او همدارنګه ملي دفاع پوهنتون (NDU) یې معرفي کړ. ده ووېل دا مهمه ده، چې په نړۍ کې باید خلک د امریکا په نظر پوه شي؛ امریکا په سیمه او نړۍ کې څه غواړي؟ د اسرائیلو او عربو په باب یې پالیسي څه ده؟ نړۍ ته پېښ خطرونه کوم دي؟ د محیط تغیر به دنیا ته څه مشکلات پیدا کړي؟ په نړۍ

کې نوي راټوکېدونکي قوتونه، لکه چین، هند، روسیه او د هغوی تاثیرات به پر نړیوالو مسایلو څه وي؟ ده وویل ددې مسایلو په باب نه یوازې دلته په سیمینار کې بحث کېږي، بلکې تاسې یـوه ورځ کانګرس ته ځئ او هلته به یو متقاعد وکیل تاسو تــه د امریکــا د بهرنۍ پالیسۍ په باب معلومات درکړي، همدارنګه تاسو به د امنیت شورا دفتر او پنټاګون ته ځئ او هلته به درته بېلابېل مســولین د دوی د پالیسیو او جوړښت په باب معلومات درکوي، پروفیســور وېلټ د ملي دفاع پوهنتون په اړه وویــل: دا د امریکــا د متحــده ایالاتو د دفاع وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي. هدف یې دادی، چې د نړۍ او امریکا پوځي او ملکي مشران د نړۍ له مهمو مسایلو څخه خبر کړي، ملي او نړیواله ستراتیژي او معلوماتي ســرچینې ورته په ګوته کړي. په دې پوهنتون کې څو بېلابېل پوهنځي فعال دي: لکه د څېړنو مرکز، د وسلو پوهنځی، د جنګي څېړنو پوهنځی او ځینې نور. د تروریزم په اړه ده وویل: دا یوه داسې پدیده ده، چې هر چېرته شته او هر چېرته پیدا کېدی شي، د هندوستان د ممبي پېښه یې یوه بېلګه ورکړه، نو ځکه ده وویل چــې بایــد ددې پــر وړاندې نړیواله مبارزه وشي.

تر دې خبرو وروسته د سیمینار د ګډونوالو د پېژنــدنې نوبــت راورسېد. په سیمینار کې مجموعاً د (۱۵) هېوادونو تر (۳۰) زیاتو استازو ګډون کړی و، خو هر یو چې ځان معرفي کاوه، نو په رښتیا یې هم د همغه مربوطه هېواد پر حساسو څوکیو کار کــاوه، چــا د

جمهوري ریاست په دفتر کې، چا د امنیت شورا په دفتـــر، چـــا د لومړي وزیر په دفتر، چا په ملي دفاع او چا هم په کورنیـــو چـــارو وزارت کې. مانا دا چې د ټیټې څوکۍ څښـــتن پـــه کـــې نـــه وو. د مراکش او اسرائیلو له استازو پرته، چې سیمینار ته لا تر دې دمه نه وو رارسېدلي، نورو ټولو خپل ځانونه په لنډېز سره معرفي کړل. ما هم ځان معرفي کړ، پر دولتي دندې سربېره مې وویل چې زه لـــه لیکوالۍ او ادبیاتو سره مینه لرم او تراوسه مې د شپږو نورو لیکوالو د اثارو د راټولونو په ګډون شل عنوانه بېلابېل اثار چاپ کړي، چې ژباړې هم په کې شاملې دي، مېرمن مې د پارلمان وکیله ده، څلور اولادونه لرم، د افغانستان د ملي امنیت شـــورا پـــه دفتـــر کـــې د فرهنګي چارو رییس یم. پر دولتي دندې سربېره پوهنتون کې هم درس ورکوم او ځینو خپرونو سره هم همکاري لرم. د اولادونو په باب مې وویل: لومړی لور بیا زوی بیا لور بیا زوی لـــرم، ټـــول پـــه ښوونځي کې دي، له مېرمنې سره مې په سیاسي او کورنیو چارو کې پوره همغږي او همکاري شته، ما جملې لنډې لنډې ویلې، نو ځکه په ژباړه کې هم څه مشکل نه و، ټولو ته زما تعارف او بیا زما د ژوند انتظام ډېر ښه خوند ورکړ، تر پېژندنې وروسته اکثرو راځخه د ژوند انتظام او د دومره اثارو د لیک او خپراوي پـــه اړه پوښـــتنې وکړې. دوی ته دا جالبه وه، چې په افغاني ټولنه کې هم څـــوک د غربي ټولنې په شان منظم او سیستماتیک ژوند لـــرلای او ځـــان دومره مصروفولای شي.

**د اسرائیلو او مراکش له استازو پرته چې دې لیســت کــې یــې عکسونه شته او پر دې ورځ حاضر نه وو نورو دغو ټولول ښــاغلو خپل ځانونه معرفي کړل:**

| ګڼه | نوم | هېواد | دنده | دندې ځای | انځور |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | محمد حکیم انګار | افغانستان | د ښار د پولیسو قوماندان | کورنیو چارو وزارت |  |
| ۲ | صبغت الله سنجر | افغانستان | د پالیسي رئیس | د جمهوري ریاست مقام |  |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | محمداسمعيل يون | افغانستان | فرهنګي چارو ريس | د ملي امينت شورا دفتر |  |
| ۴ | نظام احمد | بنګله دېش | مشر انجينر | د بنګله دېش پوځ |  |
| ۵ | سامحمد احمد | مصر | ډګر جنرال | دفاع وزارت د پلان څانګه |  |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | نادرحنفي محمد اشموي | مصر | شنونکی | دفاع وزارت د اطلاعاتو څانګه |  |
| ۷ | امین ملیکا | مصر | د شمالي امریکا د چارو مرستیال | بهرنیو چارو وزارت |  |
| ۸ | جیرمي ایسشروف | اسرائیل | د پلان مرستیال | په امریکا کې داسرایل سفارت |  |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ماریو جریو | ایټالیا | قومندان | د ایټالیا دفاع وزارت |  |
| ۱۰ | اسمعیل عبدالله فلاح المارو | اردون | د لوی درستیز د دفتر ریس | د اردون پوځ |  |
| ۱۱ | ډاکټر مالک طوال | اردن | د ناټو او اروپا د ستراتیژیکو چارو مشاور | د بهرنیو چارو وزارت |  |


| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | حماد سما المشان | کویټ | د امریکې ځانګې سکرتر | د بهرنیو چارو وزارت |  |
| ۱۳ | ایلي ایل حایک | لبنان | د دارالانشا مشر | دفاع وزارت |  |
| ۱۴ | جین سلوم | لبنان | اعلی منتظم مشر | د دفاع وزارت |  |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | ۱۶ | ۱۵ |
| ډاکټر منیندرا پرساد رجال | ډابرسنګ ګورنګ | احمد کماوون |
| نیپال | نیپال | مراکش |
| غړی | قومندان | ارزونه او څارنه |
| دنیپال د شورا غړی | دفاع وزارت | دفاع وزارت |
|  |  |  |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | خالد محمد السولیمي | عمان | د قرارداد او خدماتو مسول | دفاع وزارت |  |
| ۱۹ | خالد سلیمان باعمر | عمان | سفیر | په جنوبي افریقا کې د عمان سفارت |  |
| ۲۰ | طارق محمود چوهدري | پاکستان | ریس | د پوځ د تربیوي چارو څانګه |  |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱ | ۲۲ | ۲۳ |
| معظم احمد خان | پريماچندرا | عبدال ايس ظاهر |
| پاکستان | سريلانکا | سريلانکا |
| وزير | قومندان | سر منشي |
| واشنګټن کې دپاکستان سفارت | دفاع وزات، هوايي ځواک | دفاع وزارت |
|  |  |  |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴ | عدیم کوکک | ترکیه | مشاور | د لومړي وزیر دفتر |  |
| ۲۵ | سینان تونا | ترکیه | جنایي مشر | د ترکیې ملي پولیس |  |
| ۲۶ | کریم یسیلیور | ترکیه | امنیتي متخصص | د لومړي وزیر دفتر |  |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۷ | ۲۸ | ۲۹ |
| رشادمحمدسلیم السعیدي | محمدفدهي البیتي | جلیل الربي |
| متحده عربي امارات | عراق | عراق |
| قومندان | اداري ریس | ریس |
| پوځ | دملي امني شورا دفتر | د تروریزم د مخنوي څانګه |
|  |  |  |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٣٠ | کریم عبود محمد | عراق | اپریشن منیجر | دفاع وزارت |  |

**تر پېژندنې وروسته د چای لپاره یوه لنډه شان وقفه وه، په هغې کې مو چای وڅښه، د چای لپاره هم په دهلېز کې ښــه ترتیبــات نیول شوي وو. لږ وړاندې هلته لوکس تشنابونه هم وو، مانا څومره چای چې دې څښه، ځواب دې ورته ورکولای شو. د چای تر وقفې وروسته ګروپي خبرې اترې پیل شوې، موږ ټول یــې مخکــې تــر مخکې پر درېو ګروپونو وېشلي وو. زه (یون) په لومړي ګروپ کې وم، د ګروپونو څرنګوالی په دې ډول و:**

# لومړی ګروپ

## (ګروپ مشر ډاکتر فریبورز مختیاري)

| ګڼه | غړي | هېواد | اداره |
|---|---|---|---|
| ۱ | محمداسمعیل یون | افغانستان | د فرهنګي چارو رییس |
| ۲ | نظام احمد | بنګله دېش | انجنیر |
| ۳ | سما محمداحمد | مصر | ډګر جنرال |
| ۴ | کریم عبود محمد | عراق | عملیاتي منیجر |
| ۵ | حماد سما المشان | کویټ | د امریکې څانګې سکرتر |
| ۶ | ډابرسنګ ګورن | نیپال | قومندان |
| ۸ | خالد محمد السولیمي | عمان | د قرار داد او خدماتو مسول |
| ۹ | عبدال اس ظاهر | سریلانکا | رییس |
| ۱۰ | سینان تونا | ترکیه | جنایي مشر |
| ۱۱ | رشاد محمد سلیم السعیدي | متحده عرب امارت | قومندان |

# دویم ګروپ

## (د ګروپ مشر کریک ډونکیرلی)

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۲ | صبغت الله سنجر | افغانستان | د پالیسی رییس |
| ۱۳ | امین مالیکا | مصر | د شمالي امریکا چارو مرستیال |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴ | جلیل الروبي | عراق | رییس |
| ۱۵ | ماریو روګیرو | ایټالیا | قومندان |
| ۱۶ | اسمعیل عبدالله فلاح | اردن | د لوی درستیز د دفتر رییس |
| ۱۷ | ایلي ایل حایک | لبنان | د دارالانشا مشر |
| ۱۸ | خالد زیرولي | مراکش | رییس |
| ۱۹ | ډاکټر منیندرا پرساد رجال | نیپال | غړی |
| ۲۰ | خالد سلیمان با عمر | عمان | سفیر |
| ۲۱ | معظم احمدخان | پاکستان | وزیر |
| ۲۲ | ادیم کوکک | ترکیه | مشاور |

# دریېم ګروپ

## (د دریېم ګروپ مشر پروفیسور آن موشن)

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۳ | محمدحکیم انګار | افغانستان | پولیس قومندان |
| ۲۴ | نادرحنفي محمد اشموي | مصر | شنونکی |
| ۲۵ | محمدفدهي البیتي | عراق | اداري رییس |
| ۲۶ | جیرمي ایسشروف | اسرائیل | د پلان مرستیال |
| ۲۷ | ډاکتر مالک توال | اردن | د لوی درستیز د |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | دفتر رييس |
| ۲۸ | جيم سلوم | لبنان | اعلی منتظم مشر |
| ۲۹ | لخدر بيلاسري | مراکش | معاون |
| ۳۰ | احمد کماوون | مراکش | د ارزونې او څارنې مشر |
| ۳۱ | طارق محمد چوهدري | پاکستان | رييس |
| ۳۲ | پريماچندرا | سريلانکا | قومندان |
| ۳۳ | کريم يسيليور | ترکيه | امنيتي متخصص |

زموږ د ګروپ مشر يو ايراني الاصله امريکايي و، چې د ايــران د ((اسلامي انقلاب)) تر برياليتوب وروسته يې په امريکا کــې پنــاه اخيستې وه، اوس د ښاغلي علي احمد جلالي په شان ددې مرکز يو پروفيسور دی، ماته په پيل کې دا تصور پيــدا شــو، چــې لــه پروفيسور فريبورز مختياري سره به مې حتماً يوه څــه ســتونزه پېښېږي، ما فکر کاوه چې ايرانيان که هر څومره له ايرانه لرې هم وي، پر سيمه باندې د خپل تفوق خيال لري او په لويديزه نړۍ کې ځان ددې سيمې اصلي وارث ګڼي، خو بيا مې هــم ددې علمــي چاپېريال خيال ساته، ما ويل دا هم کېدی شي دا ايرانی امريکايي د افغانستان په باب، د نورو ايرانيانو په شان نظر ونه لري. د ګروپي کار په برخه کې هم د سيمينار ژبه انګرېزي وه، خــو د عربــو يــو

ژباړونکی هم حاضر و، ځکه دلته د نورو په اندول عربان زیات وو. زمونږ ژباړونکو هم کله کله سر راښکاره کاوه.

دلته یو ځل بیا د ګروپ ټولو غړو ځانونه معرفي کړل، د همغـــې لویې غونډې په شان او په یو څه لږ توپیر، ځکه لویه غونډه یو څه زیاته رسمي یوه، خو دا غونډه یا ګروپي خبرې اترې څه ناڅه ازادې وې، پروفیسور مختیاري هم په پیل کې وویل چې دلته بـــه ازادې خبرې کوو، ډېرې تشریفاتي خبرې به نه وي. تر پېژندنې وروسته د نن ورځې پر عمومي غونډې هم یو څه بحث وشو او هغـــه وارزول شوه. دې خبرو یو ساعت دوام وکړ. پر پنځه نیمو بجو له دې ګروپي خبرو خلاص شو، پنځه لس دقیقې په خبرو او لاره کې تېرې شوې، پاوکم شپږ بجې موټر د سیمینار د برخوالو د استوګنځي ریزیډنټس این هوټل (Ressedents inn hotle) پر لوري لاړو. نیم ساعت کـــې هلته ورسېدو، ښه د مزې ستړي وو، هر یو خپل اتاق ته پناه یوړه، تر لږې دمې وروسته مې یو ځل بیا د خپلو پخوانیو یادښتونو پـــر بشپړاوي پیل وکړ. کله به مې ټلویزیون کوت او کله به مې لیـــک کاوه، همدې کې د خوب څپه راباندې راغلې وه...

# د سیمینار دویمه ورځ

د فبرورۍ ۲۵مه نېټه د چهارشنبې ورځ وه، سهار وختـــي لــه خوبه پاڅېدم، پر ځان مې بیا ګرمې اوبه تېرې کړې، لــږه شـــېبه وروسته مې هغه جدول پیدا کړ، چې زموږ په دوسیه کې ایښودل شوی و، د بېلابېلو ادیانو د عبادت وختونه په کې معلوم وو. د ټولو ادیانو، نه و، خو د څو مهمـــو ادیـــانو و لکـــه: عیســـویت، رومـــان کاتولیک، یهودیت او اسلام. د اسلام د هـــرې ورځـــې د لمانځـــه وختونه په کې معلوم وو، لمونځ مې وکړ، بیا مې لږ سپورټ پیل کړ. نیم ساعت به مې سپورټ کړی وي، ښه ډېر ستړی او خولې شوم، په چېرکټ کې پرېوتم. د خوب یوه نازکه څپه راباندې راغله. لږ د مرغۍ خوب به مې کړی وي، چې بېرته ویښ شوم، مخ و لاس مې ومینځل، دریشي مې واغوسته، لاندې چای ته د کښته کېدو پــه حال کې وم، چې یو ځل بیا مې پنټاګون ته پام شو. هوا صافه وه، پنټاګون له ورایه سم ښکارېده، د لفټ اواز راغی، په ذهن کې مې بیا هغه خبرې وګرځېدې، چې د نړۍ د یو زیـات شـــمېر بېوزلـــو هېوادونو پوځي برخلیک له همدې ځایه ټاکل کېږي. دا یا زما تصور و او یا هم واقعیت، خو له کلونو راهیسې زما او زما په شان د نورو ګڼو اشخاصو په ذهن کې دا خبره ټوکېدلې، چې پنټاګون د نړۍ د هېوادونو په برخلیک ټاکلو کې نقش لري، ان د پنټاګون کلمې زموږ

پښتو شعر په تېره بیا نظم ته هم د همدې سیاسي او پوځي ځواک له امله لاره پیدا کړې ده. د خلکیانو د وخت په سیاسي خبرو اترو، نظمونو او وروسته بیا په دې نورو نظامونو کې د پنټاګون لفظ پــه سوونو ځه چې په زرګونو ځله د سیاستوالو له خولې راوتلی دی. کله چې د سپټمبر پر یوولسمه نېټه پر دې مرکز د برید خبر خپور شو، نو دا پېښه خلکو ته یوه معجزه ښکارېده، داسې قوت به هم وي چې پر پنټاګون برید وکړي؟ ځکه له پخوا لا داسې اوازې وې




چې د پنټاګون پر سر مرغۍ هم نه شي تېرېدلای او دلته یې داسې وسایل ایښي، چې که الوتکه او یا هم توغندی یې پر سر تېر شي نو خنثی کوي یې او یا یې هم له لارې منحرفــوي، خــو د ســپټمبر یوولسمې نېټې پېښې دا ټولې اوازې او دنګلې تر پوښتنې لاندې راوستې، یا دا چې دا هر څه دروغ وو، ځکه نو ترهګر اویا د امریکا

مخالفین پر دې بریالي شول، چې پر دې ودانۍ برید وکړي او یا هم دا هر څه رښتیا وو، خو دا برید چې پر چا اړول کېږي او ادعا یې کېږي دا د هغو  خلکو کار او وس نه دی. په هر حال چای ته کوز شوم، له معمول سره مې چای وڅښه، خپل انډیوالان مې هم وکتل او یو نیم کس بل سره مې هم اشنایي زیاته شوه، پر پاوکم اتو بجو مو له هوټله سیمینارځي (نیسا سنټر) ته حرکت وکړ، سهار نو زموږ کارتونه هم جوړ شوي وو، په دخولي دروازه کې مو هغه ماشین ته ورکړل چې دلته نصب شوی و، بیا د چک له ماشینه تېر شو، د سیمینار هال ته لاړو.

**د سیمینار د دویمې ورځې لومړۍ برخه:** پر اتو بجو سیمینار پیل شو، تر هر څه دمخه د مراکش او اسرائیلو استازو خپل ځانونه معرفي کړل، وروسته د غونډې ویاند هون رابرټ ګلوکسي (Hon.Robert Gallacci) خبرې پیل کړې، نوموړي وویل: زه به یې له جنوبي اسیا یانې افغانستانه پیل کړم، موږ ته باید معلومه شي، چې افغانستان له کومو ګواښونو سره مخ دی؟ امریکا ته یې چلېنجونه کوم دي؟ امریکا په دې باب څه نظر لري؟ زه غواړم دا له یوه چوکاټ سره تشبه کړم. د امریکا ستراتیژي په جهان کې څه نقش لري؟ د نړۍ حوادث پر امریکا څه تاثیر لري؟ تاسې به تېره شپه لیدلې وي، چې جمهور رییس اوباما د کانګرس غونډې ته خبرې وکړې، لومړۍ د امریکا ستراتیژي ده او دویم هغه چلېنجونه چې امریکا ورسره مخامخ ده. امریکا باید په خپله

ستراتيژۍ کې کوم لومړيتوبونه په پام کې ونيسي؟ دا ستراتيژي بايد کوم اساسات ولري، چې چلېنجونه رفع کړي. د اوباما د تېرې شپې په خبرو کې مهم ټکی د جهان اقتصادي کېدل یا اقتصادي بحران دی. ددې ترڅنګ امریکا له نامنظمو ګروپونو څخه وېره لري، ځکه چې ددې دول تهدیدونو مخنیوی سخت دی، خو په تېرو (۹) میاشتو کې اقتصادي موضوع ډېره مهمه شوې ده. اقتصادي بحران کېدی شي ددې سبب شي، چې جهان ته امنيتي مشکلات پيدا کړي. د نړۍ اقتصادي کړکېچ پر مور او زمور د حکومتو پر پالیسۍ، هم په کورنۍ کچه او هم په بهرنۍ کچه تاثیر لري. نه یوازې عایدات او مالیه راټیټوي، بلکې نورې ګڼې ستونزې هم راټوکوي، که یو کال دمخه مور پر مسایلو خبرې کولې، نو اقتصادي موضوع مو هېڅ نه یادوله، خو په تېر یو کال کې حالاتو تغیر کړی اوس اقتصادي موضوع ډېره مهمه ده.

ښاغلي رابرټ ګلکسي پر راتلونکو دېرشو کلونو نړۍ ته پر پېښېدونکو احتمالي خطرونو هم رڼا واچوله، ده وویل: ذروي وسله، د عامه وژنې وسله، تروریزم، کمپیوټري بریدونه او نور هغه مسایل دي، چې مور ورڅخه وېره احساسوو او اندېښنه ورته لرو. نه یوازې پانګوال هېوادونه به ستونزې ولري، غریب هېوادونه به تر هغو لا زیاتې ستونزې ولري. کله چې له کوم ځایه دا دول بحراني خبرونه راورسېږي، نو تاثیرات يې پر نورو سیمو هم پرېوزي، د اقتصادي بحران تاثیرات اوس د (۲۰-۶۰) کلونو پخوا په شان نه دي، اوس

**چې یو ځای کې بحران پیل شي، نو ورسره سم تاثیرات یې په بله سیمه کې هم پرېوزي، نوموړي د امریکا اقتصادي بحران ته ګوتــه ونیوله، چې همدا اوس یې تاثیرات پر اکثرو هېوادونو څرګند دي.**

**رابرټ ګلکسي، د چاپېریال ساتنې موضوع هم ډېره مهمه وګڼله، خو نه د اقتصاد په اندازه ډېره مهمه، ده وویل: د اقلیم تغیــر او د ځمکې د کرې ګرمېدل د تشویش وړ خبره ده، اینده کې به د اوبو کمي، لوږې او نورو مسایلو له امله جنګونه او بحرانونه راپیدا شي او ډېر هېوادونه به له ستونزو سره مخ کړي.**

**ده د نفوسو ډېرښت،تراکم اوکمښت ته هم اشاره وکړه، د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې د نفوسو د ودې نا انډولتیا یــې یــوه ســتونزه وګڼله، ویې ویل چې په امریکا کې نفوس ډېرېږي، خو په جرمني، چین او جاپان کې تر کنټرول لاندې دی. په هغو هېوادونو کې چې نفوس یې په ثابت ډول ساتل کېږي، هلته به غټه ستونزه په اینده کې دا وي چې ځوانان یې کمېږي او د کار اصلي قوت یې له منځه ځي. نړیواله بڼه ورځ پر ورځ بدلېږي، پخوا به چې د نړۍ په ګــوټ ګوټ کې کومه ستونزه پیدا شوه، ملګرو ملتونه به تلل، مداخله به یې کوله او ستونزه به یې حلوله، خو اوس د ملګرو ملتونو پر ځای بېلابېلې نادولتي موسسې (انجوګانې)، شرکتونه او خیریه ټولنې رامنځته شوي، دوی د خلکو اقتصادي مشکلات حلوي. یانې نړۍ د تېرو (۳۰) کلونو په بهیر کې ډېر بدلون موندلی دی. نوموړي زیاته کړه: ځینې پوهان وایي امریکا به په راتلونکو لسو کلونو کې هم یو**

زبرواک وي او لوی اقتصاد بــه یــې پــه لاس کــې وي، د چــین، هندوستان او برازیل په شان هېوادونه به ډېر پرمختــګ وکــړي، قوتونه به یې هم زیات شي، تغیر به وکړي، خو امریکا به بیا هم یو ستر پوځي قوت وي. موږ څو شیانو ته اړتیا لرو: لــه پرمختللــې ټکنالوژۍ باید ګټه پورته کړو، په دې کار او نظامي ځواک کې اصلاً بودیجه ډېره مهمه ده، خو اوباما تېره شپه په خپلو خبــرو کــې د پوځي ځواک په اړه هــېڅ خبــرې ونــه کــړې، دا چــې چــین او هندوستان د یوه اقتصادي قوت په توګه مطرح کېږي، موږ تــه د تشویش وړ خبره نه ده. هندوستان سره یو ســتراتیژیک دولتــي تړون لرو، چین سره مو هم مناسبات ښه دي، پر دې هم پــوهېږو چې چین اینده کې کومې خواته ځي؟ ځینو نورو هېوادونو سره هم ښه مناسبات لرو، اقتصادي بحران ډېر وخت رانغاړي او په دې کې مهمه خبره داده، چې کوم کارونه باید اول ترسره شي؟ کوم کارونه د لومړیتوب حق لري؟ البته په دې باب چې څه وایم، دا زما خپل نظریات دي، د امریکا د حکومت نظرونه نــه دي. اوس د امریکــا لومړیتوب امنیت دی، موږ باید هېڅ شی ونه سپموو او پرې نه ږدو، چې د سپټمبر د یوولسمې نېټې پېښه بیا تکرار شي.

موږ باید امنیت ته زیاته پاملرنه وکړو. د سپټمبر یوولسمې نېټې تر پېښې وروسته بله داسې پېښه نــه ده رامنځتــه شــوې. نــور هېوادونه هم تر تروریستي بریدونو لاندې دي. که دا حالت تغیــر وکړي، نو طبعاً نړیوال روابط هم ورسره بدلون مــومي. د امریکــا

اوسنۍ اداره هم باید همدا لاره تعقیب کړي، په اوسنۍ اداره کې د اقتصادي او محیطي مسایلو په باب پرمختګ شوی دی. د امریکا د ستراتیژۍ په باب هم باید څه ووایم، خو زما دا نظرونه د امریکا د حکومت نظرونه نه دي، زه خپله وړاندوینه کوم، چې (٤-٨) کاله وروسته به څه پېښېږي؟ ځینې مسایل یې دادي:

څو موده دمخه (سناتور جان کیري) سوریې او غزې ته لاړ، ددې لپاره چې له نورو سره خبرې اترې وکړي، ددې خبرو هدف دا دی چې غواړي له نورو هېوادونو سره خپل مناسبات پراخ کړي. د امریکا پر وړاندې اوس لوی دښمن یوازې القاعده دی. ددې پر وړاندې د دوستانو درلودل ډېر مهم دي، د ملګرو ملتونو په مرسته سوله څرنګه راژوندۍ کولای شو، امریکا خپله زیات مشکلات لري، د پوهې او ادارې له نظره، امریکا غواړي په خپله پر نړیوال سیاست خبر وي. مونږ غواړو د خپلو دوستانو اقتصاد تقویه کړو، له چین سره ښه روابط لرو، دا روابط به ډېر ژر له منځه لاړ نه شي. جمهور رییس اوباما دا کرېډېټ اخیستی، چې د تجارت پر وړاندې ستونزې لرې کړي، د اټومي وسلو پر وړاندې د خپلو سرحداتو ساتنه مهمه ده، څنګه کولای شو خپل سرحدات وساتو؟ په سیمه کې څه مشکلات دي؟ د (نیسا) ساحې په شاملو هېوادونو کې څه ستونزې دي؟ دې کې لومړی او دویم هېواد نه شته، د فلسطین او اسرائیلو موضوع ډېره مهمه ده، اوباما او امریکا هیله لري، چې ددې موضوع لپاره یوه حل لاره پیدا کړي، دا کار به د ترهګرو هغه پلمه له منځه

یوسي، چې تل دې ټکي ته اشاره کوي. اوباما غواړي د خپل کار په دې شپو ورځو کې پر دې کار وکړي، د مدیترانې هېوادونو، شمالي افریقا، ترکیې، جرمني او نورو هېوادونو سره خپلو مناســباتو تــه پراختیا ورکړي، ترکیې ته د زیات نقش لوبولو چانس ورکوي، پــه تېره بیا په اقتصادي برخه کې. زیات مشــکلات چــې دي هغــه د ایران، افغانستان او پاکستان په برخه کې دي. دا یو چــانس دی، چې امریکا غواړي له عراقه خپل یو زیات شمېر عسکر وباسي او امنیتي مسایل خپله عراقیانو ته وسپاري، په دې حالت کې به زموږ پوځ زیان نه زغمي، یوازې خپل بېزونه او د خلیج امنیت به ساتي، د ایران د مسایلو په باب هم یو مشاور ټاکل کېږي، چې هغه بــه د ایران چارې تعقیبوي. د افغانستان او پاکستان مسایل ډېر پېچلي دي، اوباما غواړي افغانستان ته (۱۷۰۰۰) عسکر ورولېږي، د اوباما اداره غواړي دا جنګ مثبتې لارې ته سوق کړي، پاکستان زموږ یو ستراتیژیک ملګری دی، امریکا غواړي پاکستان سره نور هم خپل مناسبات پراخ کړي. سربېره پر دې د امریکا نوې اداره غواړي نورو سره هم خپل روابط ښه کړي.

تر دې خبرو وروسته له نوموړي څخه د بېلابېلو مسایلو په باب پوښتنې وشوې، د منځني ختیځ، د ایران او امریکــا د روابطــو، د فلسطین او اسرائیلو د شخړې په هکله، له عراقه د عسکرو د وتلو او ځینو نورو مسایلو په باب، چې ده ورته داسې ځوابونه ورکړل،

چې اکثره يې په خپلو تېرو خبرو کې ويلي وو. تر دې وروســـته د چاى لپاره يوه پنځه لس دقيقه يي وقفه وه، بيا بله غونډه پيل شوه.

## د دويمې ورځې د غونډې دويمه برخه: د دويمې ورځې

په دويمه غونډه کې د منځني ختيځ او شمالي افريقا مسايل څېړل کېږي، درېو پروفيسورانو ته بلنه ورکړل شوه، چې د ستيج سر ته راشي او پر خپلو څوکيو کېني.

۱- ډاکتر مورحف جيوجاتى (Dr. Murhaf Jouejati)

دى اصلاً يو سوريايي دى او اوس د (نيسا سنټر) پروفيسور دى.

۲- ډاکتر فريبورز مختيارى ( Dr. Fariborz mokhyiari) چې دى يو ايران الاصله امريکايي دى، د نيسا مرکـــز پروفيســـور دى او د منځني ختيځ د چارو کارپوه دى.

۳- ښاغلى لور ېنس وېلټ (Mr.Lowrence Velte) د (نيسا مرکز) يو بل پروفيسور دى.



تر ټولو دمخـــه پروفيســـور مختياري تـــه بلنـــه ورکـــړل شوه. هغه د خطابې مېز تـــه راغى، ويې ويل: زه غواړم په سيمه کې د ايران حضـــور او له هغـــه څخـــه د احتمـــالي خطرونو په اړه خبرې وکړم. خو لومړى غواړم د ((انقلاب)) په باب څه ووايم.

**۱– د انقلاب تاثیر:** انقلابونه همېشه د ایډیالوژیو تر چتر لاندې پېښېږي، خو کله چې زمانه تېرېږي، ایډیالوژي خپل رنګ له لاسه ورکوي، په پیل کې ګرم شعارونه وي، خو وروسته شـعارونه هـم سړېږي، په پیل کې پالیسي همداسې وي، ځکه خلک د ایډیالوژۍ تر چتر لاندې ښه تنظیمېږي، خو وروسته د انقلابونو ایډیالوژیک اړخ کمزوری کېږي، انقلاب او د واک مدعیان بلې خواته مـیلان پیداکوي، غوره مثال یې د فرانسې انقلاب دی، چـې وروسـته د همغه چا د ژوند په بیه تمام شو، چې دا انقلاب یې د بري پوړۍ ته رسولی و. د ایران انقلاب هم همداسې وګڼئ. اوس د ایران انقلاب له خپلو هغو هدفونو، شعارونو او ایډیالوژیک بېز څخه لرې شوی او یا لرې کېږي، چې تر انقلاب دمخه ورته ټاکل شوي وو او د انقلاب پر لومړیو کلونو تعقیبېدل.

**۲– په منطقه کې د ایران حضور:** ایران یو لوی هېواد دی، چې په دې سیمه او نړۍ کې حضور لري، څوک یې مني که نه، خو د سیمې په سولې او ثبات کې د ایران حضور ته په نه سترګه کتل سم نه دي. ایران یو لرغونی هېواد دی، چې زرکلن تاریخ لري او یو متمدن ملت دی، دا سمه ده کوم کسان چې د حکومت په راس کې دي دا د منلو وړ نه دي، خو د ایران د واکمنو او د ایـران ملـت او هېواد خبره جلا ده، هر څوک چې د ایران له رول څخه سـترګې پټوي، دا له واقعیت سره سمون نه خوري. پروفیسـور مختیـاري زیاته کړه: ځینې کسان ایران په شؤنیزم (پراختیا غوښتنې) او د

نورو په چارو کې په لاسوهنې تورنوي، خو ایران د تاریخ په اوږدو کې هېڅکله هم د چا په کورنیو چارو کې مداخله نه ده کړې او نه یې کوي، بلکې نور لا راغلي پر ایران یې یرغل کړی، (هــدف یــې عراق او نور عرب وو خو دا خبره یې په ډېر رمز کــې تېــره کــړه) پروفیسور مختیاري وویل: ایران هېڅکله په سیمه کې د پراختیا غوښتنې سیاست نه دی تعقیب کړی او نه یې تعقیبوي، یو شــی چې ایران یې غواړي هغه د خپل فرهنګ او ژبې پراختیا ده او دده په نظر دا د ایران حق دی، چې د خپلو (فارسي ژبــو) لپــاره کــار وکړي، ده ان په هندوستان کې د فارسي ژبې دود ته اشاره وکړه، چې هلته هم یو وخت فارسي ژبه دود وه. د پروفیسور مختیاري په نظر له ژبنیو او فرهنګي مسایلو پرته ایران په نورو هېوادونو کــې هېڅ ډول مداخله نه ده کړې او نه یې کوي. یوازېنی تشویش چې ایران یې په سیمه کې لري هغه دادی، چې بهرنی قواوې باید لــه سیمې (مقصد یې منځنی ختیځ او افغانستان و) څخه ووځي، چې د تفاهم لپاره لاره اواره شي. پروفیسور مختیاري زیاته کــړه: تــر انقلاب وروسته هم ایران څو ځله غوښتي چې د ایران او امریکــا مناسبات ښه شي، خو امریکایي مقاماتو ورته هېڅ توجــه نــه ده کړې، وروستی ځل د فاطمي د معتدل حکومت له خوا یو لیک، د امریکا متحده ایالاتو مشرتابه ته راولېږل شو، چې د مناسباتو د ښه کېدو غوښتنه یې کړې وه، هغه لیک هم بهرنیو چارو وزارت څخه بل چېرته لاړ نه شو، هغه وخت ما او نورو، امریکایي چارواکو تــه

وویل چې له ایران سره د مناسباتو ښه والی ستاسو په ګټه دی، خو چا پرې سر ونه ګراوه. د پروفیسور مختیاري په نظر ایرانیان ښــه حافظه لري او د ایران حکومت اوس غواړي، په سیمه کې ثبــات رامنځته شي، نو بایده دي چې د ایران حکومت سره خبرې اترې پیل شي.

کله چې د پروفیسور مختیاري خبرې خلاصې شوې، نو یــو دم اکثرو برخوالو د پوښتنو لپاره لاسونه پورته کړل، خــو د غونــډې منتظم ښاغلي وېلټ وویل: صبر وکړئ چــې دا دوه نــور بحثونــه خلاص شي، بیا به ټولو ته د پوښتنو وخت ورکړو. پر همدې توافق وشو. په دې ترڅ کې ما هــم



لاس پورته کړی و، نو غلــی شوم او خپلې پوښتنې مې په کتابچه کې ولیکلې.

وروسته پروفیسور مورحف جیوجاتی ته نوبت ورســېد، ده هم منځني ختیځ کــې د سولې او ثبات په باب خپل تحلیل وړاندې کړ. ده تر هر څه دمخه د منځني ختیځ هېوادونه پر څو کټګوریو ووېشل او بیا یې له امریکا متحده ایالاتو سره د هغو روابط هم تشریح کړل، سیمه ییزو قوتونو او له سیمه ییزو قوتونو سره د هغو اړیکو ته یې هم ګوته ونیوله. د هېوادونو د وېش کټګوري یې په دې ډول وه.

د امریکا متحده ایالاتو دوست هېوادونه، لکه: اسرائیل، سعودي عربستان، مصر او اردن.
د امریکا متحده ایالاتو مخالف هېوادونه، لکه: ایران او سوریه.
د امریکا متحده ایالاتو مخالف ګوندونه، لکه: حزب الله او حماس.
د امریکا متحده ایالاتوموافق ګوندونه، لکه: الفتح او نور.
د ایران او سوریې ملاتړي ګوندونه، لکه: حماس او حزب الله.
پروفیسور جیوجاتي وویل: د منځني ختیځ لانجه کېدی شي د خبرو اترو او ټولو مطرح هېوادونو د ګټو په پام کې نیولو سره اواره شي، ده زیاته کړه، سوریه به د وخت په تېرېدو اسرائیلو سره معاملې ته حاضره شي، کېدی شي، سوریه په لبنان او فلسطین کې له اسرائیلي ضد تحریکونو، په تېره بیا حماس سره خپل روابط کمزوري کړي، ددې کار په مقابل کې به اسرائیل حاضر شي، چې سوریې ته د ګولان لوړې څوکې، چې د ۱۹۶۹ کال د جنګ پر مهال یې نیولي، خوشې کړي، د سعودي عربستان رول هم ډېر مهم دی، اسرائیل هم خپل ضرورتونه او مجبوریتونه لري، تر څو چې د سیمې دې غټو هېوادونو سره جوړ نه شي، نو دوی ته هم ددې پرله پسې جګړې زغمل اسانه کار نه دی. نوموړي پروفیسور که څه هم د خبرو په پیل کې څرګنده کړه، چې زه د هغه هېواد له غړو څخه یم، ( مقصدیې سوریه و) چې امریکا یې د شیطاني محور غړي ګڼي، پروفیسور مختیاري ته یې هم اشاره وکړه، چې ایرانی دی او ایران هم د امریکا په نظر په شیطاني مثلث کې شامل هېواد دی. شیطاني مثلث کله

کله د امریکا په سیاسي اصطلاحاتو کې د ایران، سوریې او شــمالي کوریا لپاره کارول کېږي. خو پروفیسور جیوجاتي وویل چې زه غواړم یوازې د حالاتو تحلیل وکړم. که څــه هــم دده پــه خبــرو کــې د ناپېیلتوب اصل تر ډېره حده مراعت شوی و، خو بیا هم تحلیل یې څه نا څه د خپلو ناسیونالیستي افکارو او احساس تر تاثیر لاندې و، د ده بحث خورا ګرم و، د منځني ختیځ د هېوادونو اکثره اســتازي ورته ښه غوږ غوږ وو او د اسرائیلو استازی هم ښه متوجه و. په دې پسې ښاغلي پروفیسور، لورېنس وېلټ خبرې وکړې، هغه د شمالي افریقا په باب خپل تحلیل وړاندې کړ او ویې ویل چې د شمالي افریقا اکثره هېوادونه اوس له امریکا سره ښه روابط لري او په ډېرو برخو کې یې یو بل سره همکاري شته. پروفیسور وېلــټ زیاتــه کــړه: د شمالي افریقا هېوادونه د خپلو مجبوریتونو او هغو چلېنجونــو لــه مخې چې دوی ورسره مخ دي، اړ دي چې له امریکا متحده ایالتونو سره ښه همکاري ولري. د شمالي افریقا بحث زمــا او همدارنګــه د سیمینار اکثریت برخوالو لپاره ډېر جالب نه و، نو ځکــه مــې ډېــر یادښتونه وانه خیستلای شول.

د پروفیسور وېلټ تر خبرو وروسته سملاسي د پوښتنو لپاره ګڼ لاسونه پورته شول، اکثره پوښتنې پروفیسور مختیاري ته، چــې د ایران په باب یې لکچر ورکړ، راجع وې. که څه هم زه په لومړي کتار کې وم ، خو تر ما دمخه غالباً د اردن هېواد استازي له پروفیســور مختیاري څخه وپوښتل: تاسې فرهنګي پراختیا د ایران حق ګڼئ،

ایا نورو هېوادونو ته هم ددې حق ورکوئ، چې ایران کې خپل کلتور پراخ کړي؟ پروفیسور مختیاري دې پوښتنې ته داسې سم ځواب ور نه کړ، هغه وویل،د ایراني فرهنګ تقاضا خپله خلک کوي، د بېلګې په توګه، په هندوستان کې د فارسي ادبیاتو یوه ښه دوره تېره شوې ،د یو هندي پروفیسور یادونه یې وکړه، چې فارسي شعرونه یې لــه یاده زده وو او د فارسي شاعرانو د کتابونو غوښتنه یې کوله، ورپسې یې ماته د پوښتنې نوبت راکړ:

ما له پروفیسور مختیاري څخه وپوښتل چې موږ باید د مداخلې او پراختیا غوښتنې په مانا پوه شو. د سیمینار برخوالو ته مې وویل چې ګاونډي د ګاونډیانو پر نیت، دوستۍ او دښمنۍ ښه پوهېږي، ایران زموږ ګاونډی دی، نو تر هر چا یې موږ ته نیت ښه معلوم دی، ایران همدا اوس په افغانستان کې په دې لاندې برخــو کــې د پراختیــا غوښتنې او مداخلې سیاست تعقیبوي:

**۱- په ژبنۍ او فرهنګي برخه کې:** همدا اوس د ایران لــه خوا په افغانستان کې پنځه ټلویزیونه او (۶۱) چاپي خپرونې فعالیت کوي، چې دا ټول د ایران د پیسو پــه زور چلېــږي، ایــران غــواړي افغانستان تر خپل فرهنګي او ژبني تسلط لاندې راولي.

**۲- مذهبي برخه کې:** ایران نه یــوازې د مــذهب پــه نامــه افغانستان کې مذهبي ګوندونه جوړ کړي، بلکې په کابل کې یې د یو بل ثاني قم مدرسه هم جوړه کړې، چې تر (۵۰) ملیونو ډالرو زیــات

لګښت يې پرې کړی، افغانستان يو سني مذهبی هېـواد دی، خــو ايران غواړي افغانستان کې د شيعه او سني ستونزه راولاړه کړي.

**۳- په اقتصادي برخه کې:** ټاکل شوې له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او جنوبي اسيا ته د نفتو او ګازو نلليکه وغځول شي، ايران همېشه د داسې پروژې مخالفت کړی او کوي يې. ايران همدا اوس د افغانستان مارکيټ د خپلولو په لټه کې دی.

**۴- سياسي برخه کې:** ايران غواړي پر افغانستان د خپلــې خوښې يو مذهبي حکومت تحميل کړي او يا داسې حکومت چې د ايران غوښتنې ومني، نو ځکه خو يې همېشه د يوې قوي مرکــزي حکومت پر وړاندې ستونزې راولاړې کړي دي.

**۵- پوځي برخه کې:** تر طالبانو دمخه حکومت پرمهال دوی د هغه بېلابېلو مخالفو ډلو سره پوځي مرسته کولــه، د طالبــانو پــه واکمنۍ کې يې د هغوی مخالفو وسلوالو ډلو ته مرستې لېږلې او تر طالبانو وروسته اوس بيا هم داسې شواهد شته، چې دوی طالبانو ته پټې نظامي مرستې کوي. ايا دې ډول کارونو ته مداخلــه نــه شــو ويلای؟

زما پوښتنې پر پروفيسور مختياري ښې ونه لګېدې، خو د غونډې د برخوالو له حالته راته پته ولګېده، چې ټولو ته يې خوند ورکړ، ددې يو علت دا و، چې د پروفيسور مختياري په خبرو کې د ايرانپــالنې روحيه له ورايه ښکارېدله، علمي ليکنه يې تر ملي احساساتو لاندې

راغلې وه. زما د پورته پوښتنې یا پوښتنو په ځواب کې پروفیسور مختیاري، تفصیلي او قناعت بښونکي ځوابونه رانه کړل، یوازې دومره یې وویل: دومره اخبارونه چې د ایران په مرسته چاپېږي البته ضرورت به یې وي، یو څو خبرې یې نورې هم اخوا دېخوا تېرې کړې. څو نورو برخوالو هم له پروفیسور مختیاري څخه پوښتنې وکړې، د نوموړي حالت چندان ښه ونه برېښېد، په همدې خاطر د غونډې وياند وویل چې نورې پوښتنې به له پروفیسور جیوجاتي څخه وکړئ، پر دې وخت سنجر صیب ماته وویل: ستا پوښتنې زموږ د دولت پالیسي نه ده. د سنجر صیب خبرې پر ما ښې ونه لګېدې، ما ویل دا یو علمي سیمینار دی، د پالیسیو د څرګندولو ځای نه دی، دلته باید واقعیت وویل شي، پاتې شوه د پالیسۍ خبره، موږ او تاسې درې تنه چې دلته راغلي یو، یو هم د دولت ټوله استازي نه شو کولای، نه ته د دولت استازي کولای شې، نه زه او که ته یې کولای شې، نو زه یې هم کولای شم او انکار صیب هم، دا ددې ځای نه دی چې د یو بل خبرې رد کړو، په دولتي کچه هم ته تر ما په حساس دفتر کې کار نه کوې، ماته د افغانستان ملي ګټې ډېرې محترمې دي، نه د حکومتونو، مقصد مې دادی، چې که زما پر خبرو دې ناوړه تبصره وکړه، نو زه به هم مجبور شم، ستا د هرې خبرې پر وړاندې دریځ ونیسم. د سنجرصیب بیا هم زړه طاقت ونه کړ. بیا یې لاس پورته کړ، نوبت ورته ورسېد. ځان یې یو ځل بیا د معمول په شان معرفي کړ، چې په جمهوري ریاست کې د پالیسۍ رییس یم. سنجر

صیب اصلاً د جمهوري ریاست د مقام په دفتر کې چې مشري یــې ښاغلی محمدعمر داودزی صیب کوي او په دې ریاست کــې څــو بېلابېل ریاستونه دي، د پالیسۍ په نامه هم یو ریاســـت د همــدې ریاست په تشکیل کې شته، دی د همدې ریاست رییس دی. خــو څرنګه چې د سیاست پر نزاکتونو پوهېږي، نو ځکه له دې مقام څخه هم د خپل ځان او هم د خپل ګوند په ګټه ښه کار اخیستلای شي. ده په خپلو خبرو کې وویل: موږ د ایران په ګډون ټولو ګاونډیو سره ښه روابط غواړو، کله کله د ګاونډیو ترمنځ لوړې ژورې پېښېږي، خو دا د دې مانا نه لري، چې موږ یو بل سره ښه روابط نه غواړو، د سنجر صیب خبرې همدومره لنډې وې، ما پرې ځکه بیا تبصره ونه کــړه، چې دده خبرو ضرر نه درلود.

وروسته د اسرائیلو استازي (جیرمي ایسشروف) لــه پروفیســور جیوجاتي څخه پوښتنه وکړه: تاسو د ګولان د لوړو پر سر د سوریې او اسرائیلو د جوړجاړي په باب وویل، زه خو فکر کوم چې دا داسې اسانه خبره نه ده، دلته نورې ستونزې هم شته. نوموړي پروفیسور یې په ځواب کې وویل: ما نه دي ویلي چې دا مشکل همداســې ژر حلېږي، خو دا هغه موضوعات دي، چې د دواړو هېوادونو ګټې پــه کې دي، نو کېدی شي دا ګټې دوی یو بل سره نږدې کړي. د منځني ختیځ په هکله له دې پروفیسور څخه ګڼې پوښتنې وشوې، چې ده ورته په خپل نوبت ځوابونه ورکړل، د امریکا پر یو اړخیز سیاست هم سختې نیوکې وشوې، چې همېشه یــې د اســرائیلو پلــوي کــړې،

ورپسې د شمالي افریقا د هېوادونو او امریکا د روابطو پــه اړه څــو پوښتنې وشوې، د غونډې وخت نور په ختمېدو شو. یوولس نیمــې بجې دوه‌ی ته لاړو. له هاله چې راووتو، نو د عربي هېوادونو یو څــو تنو ماته افرین ووایه او ویې ویل چې ښــې پوښــتنې دې ورڅخــه وکړې، د هغوی ټولو نظر دا و چې پروفیسور مختیاري په خپلو خبرو کې د ایران زیاته پلوي کړې وه. تر دوه‌ی وروسته بېرتــه هــال تــه راغلو.

د دویمې ورځې تر غرمې وروسته غونډه: په دې غونډه کې د افغانستان او جنوبي اسیا په باب بحثونه شامل وو. ددې برخــې ویناوال وو:

۱- علي احمد جلالي، د افغانستان د کورنیو چارو پخوانی وزیر او د نیسا مرکز پروفیسور.

۲- ډاکتر رابرټ باګوس، د جنوبي اسیا پر هېوادونو بحث درلود. په جنوبي اسیا کې افغانستان، پاکستان، نیپال، هندوستان، سریلانکا، میانمار، بوتان او بنګله دېش شامل دي.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت پخوانی وزیــر او اوس د نیســا سنټر پروفیسور علي احمد جلالي د افغانستان په باب خبرې پیل کړې. علي احمد جلالي وویل: له افغانستانه چې کوم خبرونه راځي، په خواشینۍ سره چې ښه خبرونه نه دي، کله چې یوه حادثــه یــا واقعه پېښېږي، نو عموماً منفي خبرونه ترې جوړېږي، ځکه خو ټول خبرونه منفي وي، جلالي صیب وویل: د طالبانو پر وخت افغانستان

داسې و، لکه په کمبودیا کې د پولپوت رژیم، خو اوس ډېر پرمختګ شوی دی، صحت، ښوونه او روزنه، انتخابات، پولیس او نورو برخو کې پرمختګ شوی دی. پخوا په ټول هېواد کې یوازې یوه راډیو وه، خو اوس تر (۱۰۰) زیاتې راډیوګانې فعالیت کوي. زه چې ژورنالیست وم، نو موږ به منفي خبرونه نشرول، ښه خبرونه نه خپرېدل، پر (۲۰۰۴م) کال زه د افغانستان د کورنیو چارو وزیر وم



(۴۰۰۰۰) پولینګ ستېشنونه او د انتخاباتو لپاره د رایې اچونې مرکزونه وو (۵۰۰) ژورنالیستانو دا بهیر څاره، هېڅ داسې خطرناکه پېښه ونه شوه، ژورنالیستانو وویل: ((دا خو هېڅ داستان نه دی)).

خو که اوس موږ د حکومت او ژورنالیستانو د دواړو نظرونه سره پرتله کړو، نو پرمختګ ددې سبب کېږي، چې منفي خبرونه په شا وتمبوي او یا هم برعکس. یوه بېلګه به وړاندې کړو: د کندهار- کابل لویه لاره جوړه شوه، (۲۵) ساعته واټن (۵) ساعتونو ته رالنډ شو، خو په امنیتي برخه کې پرمختګ ونه شو، نو اوس خلک له دې لارې څخه د امنیتي مشکلاتو له امله سمه ګټه نه شي پورته کولای. کله چې موږ د افغانستان موضوع تحلیلوو، نو د خاصو افکارو تر تاثیر

لاندې راځو، راځئ چې ددې موضوع په اړه خبره له يوې افســـانې څخه پيل کړو، چې ځينو خلکو رامنځته کړې ده.

**افسانه:** يو شمېر خلک داسې نظر ورکوي، چې د افغانســـتان شخړه يوه قومي موضوع ده او دا جنګ يو قومي جنګ دی، خو دا خبره بېخي غلطه ده. افغانستان کې پښتون، تاجک، ازبک او نـــور اوسېږي، خو د ټولو هويت افغان دی. پر افغانستان باندې د روسانو د يرغل پر مهال يو زيات شمېر افغانان نورو همقومو هېوادونو ته لاړل، خو کله چې بېرته راغلل، نو افغانيت يې نور هم قوي شوی و، د تاريخ په اوږدو کې افغانستان په ختيځ او سوريه په لويديځ کـــې د لـــويې لارې پر سر پراته هېوادونه وو. (۲۳۰۰) کاله دمخه مقدوني سکندر باګرام ته راغی، باګرام بيا د شوروي يرغل پر مهال د هغوی مرکز و او اوس د امريکايانو پوځي مرکز هم دی، خو افغانانو په کې تل يو ځای ژوند کړی. د کورنيو جګړو پرمهال په افغانستان کې قومي ډلې وې، خو يوازې په کابل کې جنګېدې، داسې ډلې هم وې، چې عسکر يې له يوه قومه او قومندان يې له بل قومه و. د شورويانو ستونزه دا وه، چې هغوی غوښتل افغانستان ونيســـي، خـــو دې اوســـني ائـــتلاف ځواکونو يو ولس ناخوښی رژيم راوپرځوه. تاسې ته به عجيبه ښکاره شي؛ په دې جګړه کې ټولو (۱۵۰) امريکايي عسکرو برخه درلـــوده، اوه کاله مخکې د خلکو په ژوند کې بدلون راغی، خـــو وروســـته د ملکي تلفاتو ستونزه پيدا شوه، خو دې سره سره بيا هم خلک دوی غواړي، خو د يو ضرورت په توګه، نه د ۲۰۰۱م کال په شان.

**بل افسانه یي مشکل:** یو بل افسانه یي نظر دادی، چې افغانان ملک الطوایفي ژوند غواړي، دا خبره هم سمه نه ده، ددې خبرې یو علت دا و، چې په تېرو جګړه ییزو کلونو کې حکومت ظرفیــت نــه درلود او دا ظرفیت له منځه تللی و، نو خلک بېرته خپل عنعنه یي حالت ته ورګرځېدلي وو.

پر (۲۰۰۱م) کال نړیوالو ځواکونو له پورته شروع وکړه، کرزي کابینه انتخاب کړه، بلکې کابینې کرزی انتخاب کړ، اصلي خبره داده، چې حکومت باید خپل ظرفیت لوړ کړي، چې د خلکو لومړي ضرورتونه پوره کړي.

**دویم واقعیتونه:** شل کلنې جګړې افغانستان تباه کړی، بیــا رغونه یې روانه ده، خو ډېره تېزه نه ده، که له عراق سره یې پرتلــه کړو، نو توپیرونه په کې لیدل کېږي: افغانستان د مساحت له پلوه تر عراقه په سلو کې (۴۰) لوی او نفوس یې تر عراقه (۵) ملیونه زیات دی. افغانستان د عراق په تناسب غریب دی او هم د عراق په اندول په کې لږه پانګه اچول شوې ده. دنیا ته د افغانستان د بیارغونې فکر وروسته پیدا شو. په پیل کې یوازې همدا فکر و، چــې طالبــان لــه صحنې لرې کړي، د دولت جوړونې او بیا رغونې فکر وروسته پیــدا شو. چا فکر نه کاوه، چې طالبان او القاعده به دومره ژر سقوط شي. ټولو، افغانستان د امپراتوریو د قربانۍ او ړنګونې ځای ګاڼه، خو کله چې طالبانو د دوو میاشتو په بهیر کې سقوط وکړ، دنیــا وروســته

متوجه شوه، بیا رغونه يې شروع کړه، چې نتیجه يې ډېره ښه نه وه، څو شیان ډېر مهم دي، چې باید توجه ورته وشي:

۱- د ترهګرو پر ضد مبارزه، ۲- بیارغونه، ۳- حکومت جوړونه.

**۱- د ترهګرو پر ضد مبارزه:** دا مبارزه پېچلې ده، د ساري په توګه، کله چې د یو تروریست پر ضد پر یو کلي بمباري کېږي، عـــام خلک ځورېږي، په داسې حال کې چې د تروریستانو د ځپنې لپاره د همغو خلکو همکاري په کار ده. په دې برخه کې دنیا یوه واحـــده قومنده نه لري. نړۍ باید په دې برخه کې څو فکتورونه ولري:

۱- ستراتیژیک فکر ولري نه تاکتیکي.

۲- لرې فکر ولري نه لنډ.

۳- یوه ګډه ستراتیژي باید ولري، نه ټوټه ټوټه او بېلابېله.

۴- مشکل باید په سیمه ییزه توګه په پام کې ونیسي، نه یـــوازې افغانستان د مشکل په توګه.

جلالي صیب د خپلو خبرو په ترڅ کې زیاته کړه، چې د دولت او د خلکو ترمنځ د مناسباتو د ښه کولو او امنیت راوستلو یوه ښه لاره داده، چې د هېواد ګوټ ګوټ ته خدمات ورسول شي.

تر پروفیسور جلالي وروسته یو بل امریکـــایي پروفیســـور ډاکتـــر رابرټ باګس Dr.Robert Boggs ته وار ورسېد، هغـــه د پاکســـتان او جنوبي اسیا د ځینو نورو هېوادونو په باب خپـــل بحـــث پیـــل کـــړ. پروفیسور باګس وویل: د پاکستان په باب د امریکا رســـمي نظـــر د جمهور رییس اوباما له خوا بیان شوی دی، خو زه چې دلته څه وایم

دا زما شخصي نظر دی، نه د امریکا د حکومت رسمي نظر. پاکستان زموږ لپاره ډېر ضروري دی، پاکستان اوس له ډېرو خطرونـو سـره



مخامخ دی، هـره ورځ چــې خبرېږو، یوه پېښــه وي، نــه یوازې انتحاري حملې عــامې شوې، بلکې نــورې ډول ډول تروریستي حملې هم کېــږي، یوازې یوه سیمه کې حــالات خراب نه دي، بلکې هر ځای کې خراب دي. د پاکستان په شان چې هر بل هېواد وای دا کار ورته مشکل و. پاکستان ډېر زیات مشکلات لــري، لــه اقتصــادي پلــوه کمزوری دی، اجناس په کې ډېر قیمته دي، بېکاري په کې زیاته ده، سیاسي مشکلات هم لري، دوه لوی ګوندونه یې تضاد سره لري ، د قانون د انفاذ په برخه کې هم مشکلات لري، د ذروي وسلې په برخه کې یې هم تشویشونه شته، پاکستان باید د خپلو چارو د سمبالښت چارې په خپل لاس کې واخلي. نوموړي پروفیسـور تـر پاکســتان وروسته د هند په باب خبرې پیل کړې:

په تېرو څو کلونو کې یې اقتصادي وده تېزه وه، خو پــه تېــرو اوو کلونو کې دا وده سسته شوې ده. د امریکا له نظره هندوستان زموږ ستراتیژیک ملګری دی. امریکا ته د هند بحر اهمیت ډېر زیات دی، هم له اقتصادي پلوه او هم د نورو اړخونو له نظره. امریکا پوهېږي،

هندوستان داسې یو هېواد دی، چې نه يې متحد دی او نه يـې تـر کنټرول لاندې، خو کله چې د هندوستان داخلي حالت ته ګورو، نو حالت د تغیر په حال کې دی، نـوي سیاســي او قـومي ګوندونــه راڅرګند شوي، کېدی شي هلته یوه نوې ائتلافي اداره جوړه شي، خو د بهرنیو اړیکو او چارو تعقیبول یوازې د صدراعظم کار نه دی، بلکې د ائتلاف د ټولو غړو نظرونه په کې مهم دي. د هندوستان او پاکستان د ستونزو په باب باید وویل شي، چې د ممبي تـر پېښــو وروسته دا روابط ډېر خراب شوي، خو موږ هیله لرو، چې دا روابــط ښه شي. پاکستان باید پر دې پوه شي، چې د هند د صبر کاسه نوره نسکوره ده، که یوه بله حمله هم پر هند وشي، نو کېدی شي خبره نظامي جګړې ته ووځي. دا حالت امریکا ته د تشویش وړ دی، مــوږ کوښښ کوو، چې حالات تر کنټرول لاندې راولو. ډاکتر باګس زیاته کړه: غواړم د جنوبي اسیا ځینو وړو هېوادونو ته اشــاره وکــړم، دا هېوادونه واړه دي، خو ډېر مهم دي، بنګلــه دېــش (۱۳۰) ملیونــه نفوس لري، سریلانکا، (۳۰) ملیونه او بوتان (۶۶۰۰۰). دا هېوادونــه ځینې یې کم نفوس لري او ځینې يې زیات، اوضاع يې ډېره پېچلې ده، د ملکي او نظامي مشرانو ترمنځ يې ستونزې دي.

**نیپال:** نیپال یو پاچاهي حکومت درلود، البته مطلقه پاچاهي، په پیل کې ورسره هندوستان مرسته وکړه، چې د خپل ملک دروازې د بهرنی نړۍ پر مخ پرانیزي، داسې یو سیستم يې درلود، چې له پورته څخه کښته راته، سیاسي ګوندونه په همدغه حالت کې رامنځتــه

شول، د هند له خوا پر پاچا زیات فشارونه راغلل، خلکو مظـاهرې وکړې او په نتیجه کې یو پارلمان جوړ شو. ماویستانو له دې حالـت څخه ګټه پورته کړه، پر (۲۰۰۱م) کال یې پاچا او د هغه کورنۍ له واکه لرې او قتل کړل. ولیعهد دیموکراسي نه غوښتله، پارلمان یې منحل کړ، دې سره په ټول هېواد کې ګډوډي پیدا شوه، ددې ګډوډۍ پـه بهیر کې (۱۳۰۰۰) کسان ووژل شول، سیاسي ګوندونه له ماویستانو سره موافقې ته ورسېدل، ماویستان اکثریـت نــه وو، خــو نســبي اکثریت یې ترلاسه کړ، فکر کېږي، چې پرمختګ او موافقت ترلاسه شوی، خو تشویشونه لا شته، ماویستان اوس وسله لري او فکر کوي چې دوی انقلابیان دي، خلک ازاروي، خو خلک غواړي، چــې پــر ماویستانو فشار راوړي، چې خپلې کړې وعدې عملي کړي او خلکو ته ولسواکي ورکړي.

**بنګله دېش:** بنګله دېش له نیپال څخه توپیر لري، په بنګله – دېش کې سیاسي ګوندونه د قدرت لپاره مبارزه کوي، د پوځ رول په کې هم مهم دی. کله کله حالات داسې شي، چې دیموکراسي ته په کې خطرونه او ګواښونه پېښېږي.

**سریلانکا:** پر (۱۹۴۷م) کال یې له انګلـیس څخـه خپلــواکي ترلاسه کړه، ډېر کلونه کېږي، چې د حکومت او تامیل پړانګانو ترمنځ جګړه روانه ده. بشري حقونه او ولسواکي په کې له ستونزو سره مخ ده.

**بوټان:** تر ۱۹۷۰م کال پورې یو تړلی هېواد و، نفوس یې ډېر کـم دی، ستونزې په کې پېښېږي، ځینې هېوادونه په کې مداخله کوي.

**مالدیف:** مالدیف (۱۲۰۰) جزیرې لري، دلته هم د بېلابېلو ستونزو له امله د دیموکراسۍ پر وړاندې خنډونه وي.

پروفیسور باګس د خپلو خبرو د نتیجې په توګه وویل: د جنــوبي اسیا د هېوادونو  داخلي مشکلاتو ته په کتنې سره، داسې ښکاري، چې په دې هېوادونو کې ولسواکي تر فشار لاندې ده.

ددې پروفیسورانو تر خبرو وروسته پوښــتنو او ګروپړنــو تــه وار ورسېد. د جنوبي اسیا د ځینو هېوادونو لکه ســریلانکا، بوټــان او نیپال په اړه له پروفیسور باګس څخه پوښتنې وشوې، په تېره بیا په نیپال کې د هندوستان د مداخلې پــه هکلــه، پروفیســور بــاګس دپلوماتیک ځوابونه ورکړل. له علي احمد جلالي څخه د افغانستان په اړه ګڼې پوښتنې وشوې، چې مهمې پوښتنې په کې دا وې:

۱- د یوه عربي هېواد استازي، چې د پوښتنې پر وخت یې ځــان معرفي نه کړ، پوښتنه وکړه، چې یوازې له ((بچــه ســقاو)) پرتــه د افغانستان ټول پاچایان پښتانه تېر شوي وو، نو که اینده کــې یــو ناپښتون پاچا شي، افغانستان کې به کشمکش نور هم زیات نه شي؟

۲- یو بل برخوال پوښتنه وکړه، چې طالبان سیاسي پروسې تــه داخلېږي که نه؟

۳- د بنګله دېش استازي (نظام احمد) وویل: طالبان باید تشویق شي، چې سیاسي پروسه کې شامل شي.

۴- د پاکستان استازي (طارق چوهدري) وویل: تاسو وویل چې د طالبانو په پرځولو کې ډېرو کمو عسکرو (۱۵۰) تنو ګډون کړی و. په داسې حال کې چې امریکایانو پر افغانستان په ملیونونو ټنه بمونــه وغورځول، امریکایانو له ډېرې درنــې او قــوي وســلې څخــه کــار اخیستی دی. بل تاسو ولې جنګسالاران په حکومــت کــې شــامل کړل؟

پر پورتنیو پوښتنو سربېره څو نورې پوښتنې هم مطرح شوې، خو د پوښتنو غټه برخه همدا وه.

جلالي صیب هرې پوښتنې ته جلا جلا ځواب ونه وایه، همداسې یې ټولې پوښتنې ځواب کړې. د یوه نا پښتون جمهور رییس یا پاچا د پوښتنې په باب یې وویل: افغانستان کې دا خبرې ډېرې سمې نه دي، چې څوک د کوم قوم دی، مقصد چې افغــان وي. خلــک لــه حکومته خدمات غواړي، چې د هغو د ژوند ضرورتونه پوره کړي، خو بیا هم که د افغانستان جمهور رییس یو پښتون وي، ښه به وي. په سیاسي پروسه کې د طالبانو د شراکت په باب یې وویل: اصلي خبره داده، چې په پیل کې طالبان دومره قوي نه وو، لکــه دا اوس چــې دي، ددې وجه داده، په هغو سیمو کې، چې اوس په کــې طالبــانو زیات ظهور کړی، هلته ټولنیز او عمراني خدمات ونه رســېدل، یــو شمېر حکومتي اشخاصو هم خلکو سره سمه وضعه ونه کړه، ملــي پولیس هم نه وو، چې د خلکو د سرومال امنیت وساتي، نو دلته په سیمه کې د واک خلا رامنځته شوه، طالبانو له دې خلا څخه د خپل

فعالیت لپاره ګټه پورته کړه. بله خبره داده، چې خلک د خپل ځان د خوندیتوب په خاطر اړ دي، چې د وسلوالو کسانو مخالفت ونه کړي. که چېرې ملي پولیسو او نورو دولتي ځواکونو هلته په کلیو او سیمو کې د خلکو امنیت خوندي کړی وای، دا حالت نه پیدا کېــده. پــه سیاسي پروسه کې د طالبانو د ګډون په باب باید وویل شي، چې که خلکو ته ټولنیز خدمتونه ورسول شي، عمراني پروژې پیــل شـــي، خلکو ته کار او شغل پیدا شي، نو خلکو کې بیــا د طالبــانو نفــوذ ګرانېږي، خو د دې اقتصادي پروژو تر څنګ د ملي پوځ تقویه کول هم په کار دي، ځکه چې کله کله مخالفتونه داسې نه وي، چې حتماً دې سیاسي حل لارې ولري، که دواړه طرفه پر سیاسي خبرو مشکل ولري، نو بیا قوې ته هم اړتیا لیدل کېږي. د علي احمد جلالــي لــه خبرو داسې برېښېده، چې دی د یوې ګډې سیاسي او پوځي حــل لارې پلوی دی.

د پاکستان د استازي د پوښتنې په ځواب کې علي احمد جلالي وویل: د دې دومره کمو عسکرو له یادولو څخه زماهدف دا و، دا په ډاګه کړم، چې نه یوازې بهرنۍ نړۍ د طالبانو مخالفه وه، بلکې خپله ولس یې هم مخالف و. طالبانو وسلې په زور پر خلکو حکومت کاوه. د طالبانو پر وړاندې همغه مهال هم وسلوال مخالفتونــه وو، تاســو ولیدل چې هغه مهال پر ډېر کم وخت بسته ښارونه سقوط شــول، طالبان په کلیو او باندو کې خواره شول. جلالي څرګنده کړه، چې که

د طالبانو پر وړاندې کورني مخالفتونه نه وای نو طالبانو دومــره ژر ماتې نه خوړله.

✸✸✸

پر محلي وخت د ماسپښین پر دوه نیمو بجو د سیمینار دا برخه پای ته ورسېده او تر یوې وقفې (چای څښلو) وروسته ګروپي کار ته لاړو.

**ګروپي کار:** ګروپي کار له معمول سره د پروفیسور مختیاري په مشرۍ پیل شو. البته هر ګروپي کار د همغه ګروپمشر تر چتر لاندې پیلېده، معمولاً کومې موضوعګانې چې په ورځنیو بحثونو کې مطرح



کېدلې، پر همغو بیا بحث کېده او دې کار هغو کسانو تــه چــې پــه عمومي غونډو کې ورته د خبرو یا پوښتنو زمینه نه برابرېده، د بحث او خبرو زمینه برابروله.

په دې ګروپي کار کې د منځني ختیځ په شخړه کــې د ســعودي عربستان، مصر او عربي متحده اماراتو پر رول بحث وشو. د اسرائیلو

**او فلسطین پر موضوع له هر پلوه بحث وشو، په منطقه کې د ایران پر نقش خبرې وشوې او د افغانستان پر موضوع بحث وشو. نورو برخوالو هم د افغانستان پر موضوع رڼا واچوله، خو ما افغانستان ته د امریکایانو تر راتګ وروسته پر غټو تېروتنو بحث وکړ. ما په دې بحث کې دغو څو تېروتنو ته ګوته ونیوله:**

**۱- یوې جنګې ډلې د بلې جنګي ډلې ځای ونیو، مانا دا چې ښه بدیل جوړ نه شو.**

**۲- د ایران رول او مداخله په افغانستان کې تر حده زیات شول.**

**۳- عربي نړۍ په تېره بیا سعودي عربستان ته مناسب رول ورنه کړای شو.**

**۴- بله غټه تېروتنه دا وشوه، چې پر جنګسالارانو ډېره ولګول شوه او تراوسه لا هم دا لړۍ روانه ده.**

**اوس افغانستان ته غټ خطرونه کوم دي!**

**۱- جنګسالاران**

**۲- طالبان**

**۳- دمخدره موادو کاروباریان**

**۴- اداري فساد.**

**ګروپي کار نږدې یو ساعت دوم وکړ، پر شپږو بجو او پنځه لسو دقیقو د هوټل پر لوري روان شو.**

# د سیمینار درېیمه کاري ورځ

د فبرورۍ ۲۶مه نېټه د پنجشنبې ورځ سهار بیا له معمول سره سم پر ټاکلي وخت له هوټله د سیمینارځي پر لوري وخوځېدو، یو څو دقیقې په لاره کې ترافیکي ستونزه وه، خو بیا هم هلته ترافیکي ستونزه ډېره زیاته نه اوږدېږي، ډېرې متبادلې لارې وي، پر ټاکلي وخت سیمینارځي ته ورسېدو، اوس نو د سیمینار ټول برخوال، یو له بل سره ښه بلد شوي دي، په لاره کې د ټوکو او ټکالو مجلس ګرم وي. په نني بحث کې ډاکتر ډبلیو ام جي اولسون Dr.W.M.J.Olson چې د نیسا د ستراتیژیکو مطالعاتو یو پروفیسور دی، د امریکا پر حکومت او سیاسي جوړښت باندې خبرې کوي، د سیمینار لارښود هم دی، خو متقاعد ایمبي مایکل لیمون (AMB.(ret) michael ȴomon) یې وېناوال دی. دی هم ددې مرکز یو پروفیسور دی. خو مخکې تر دې چې ډاکتر اولسون خبرې پیل کړي، مایکل لیمون د نن ورځې پروګرام تشریح کړ او د سبا ورځې د پروګرامونو په هکله یې هم معلومات ورکړل، دا یې هم وویل چې سبا د امنیت شورا دفترونه ګورو او هلته به له ځینو چارواکو سره ګورو.

ډاکتر اولسون خپلې خبرې پیل کړې، ده په پیل کې دوه ټکي راونیول: ۱- د امریکا متحده ایالاتو تاریخ، ۲- امنیتي مسایل.

ده اویا کاله دمخه د امریکا حکومت اداري حالت تشریح کـړ. ده وویل: زه او نور خلک نه پوهېږو، چې امریکا دا اوسنی شکل څنګه غوره کړ؟ اوس هـم ډېـر خلک نه پوهېږي، چې دا تشکل څنګه جوړ شو؟ د امریکا دولت درې څانګې لري، د دولت په راس کې څوک نه شته، دولت یـو لارښود نه لري، ځکه چې له درېیو څانګو څخه جوړ شوی دی.



ټول دولت (۶۰۰۰) انتخابي غړي او د ملي شـورا (۵۵۶) غړي لري او د امنیت شورا غړي لري،که غواړو د دولت پر جوړښت پوه شو، نو باید اول پیل ته لاړ شو. پر (۱۷۸۷م) کال د امریکا لپـاره لومړنی اساسي قانون جوړ شو، هغه وخت د امریکا ټول نفوس ۴،۱۵ ملیونه تنه و، خو اوس د امریکا ټول نفوس درې سوه (۳۰۰) ملیونه تنه دی. ۲ ملیونه کیلو متره مساحت یې درلود، چې زیاته برخه یې د انګلیسانو تر تسلط لاندې وه، یانې یو خپلواک دولت نه و، د وخت په تېرېدو سره خلکو د انګلیسانو پر ضد قیام وکړ، په پیل کې (۱۳) ایالتونه سره متفق شول، خو نه پوهېدل، چـې ملـي یـا مرکـزي حکومت څنګه جوړ کړي، دا هغوی ته یوه غټه ستونزه وه. په پیـل کې یې فکر وکړ، چې یو پارلماني سیستم جوړ کړي، هغه وخت ټول

واک کانګرس سره و؛ پر قضا یې هم لاس بر و، حکومتونه هــم پــه ایالتي ډول وو، مرکزي حکومت ډېر کمزوری و. همدا وخــت و، یــو کنفرانس یې جوړ کړ، چې باید یو قوي مرکزي حکومت جوړ شي. په دې کې د استقلال اعلامیه ډېره مهمه وه، په دې اعلامیه کې راغلي وو؛ د اتباعو په توګه موږ حق لرو، چې خپل حکومت جوړ کړو او دا حق موږ ته الله تعالی راکړی دی. دویم سند اساسي قانون و، چــې ایالاتي حکومتونه په کې هم په پام کې نیول شــوي وو او مرکــزي حکومت هم. له (۱۶۰۷-۱۶۱۹) پورې د ویرجینا ایالت مستعمره و، دا وخت اکثره ایالتونه مستعمره وو. ایالتي حکومتونه یې لرل.

د اساسي قانون اساسات په دې ډول کېښودل شول. زموږ اکثره چارواکي انتخابي دي، ځکه خلک باید همېشه د انتخــابولو حــق ولري. اوس نو دولت څلور ستنې لري، چې یوه برخه یې خلک دي.

په اساسي قانون کې راغلي: (( موږ د امریکا خلک)) نو ځکــه د قدرت او مشروعیت سرچینه همدا خلک دي. که څه هم د امریکا حکومت یو ځوان حکومت دی، خو د حکومتوالۍ له مخې پخوانی دی. یو ځل بېرته پخوا یا تېر حالت ته ګرځو. قانون څنګه جوړ شو؟ په پیل کې خلکو فکر کاوه، چې تر حکومته بهر بایــد داســې یــوه سرچینه وي، چې حکومت کنترول کړي، د اساسي قانون د مادو د تغیر لپاره باید یو پېچلی سیستم جوړ شــي، دولــت بایــد جــلا او مشترک ځواکونه ولري، خلکو فکر کاوه، چې که حکومت د خلکو له خوا کنترول نه شي، نو کېدی شي د یوه (مخرب) بڼه خپله کــړي،

اساسي قانون درې برخې په ګوته کړې: مقننه قوه، اجرائیه قــوه او قضائیه قوه.

د اساسي قانون  لومړۍ مادې کانګرس رامنځته کړ، پر هغه وخت یوه اندېښنه دا وه، چې د حکومت مشر باید د یوه پاچا یا زعیم بڼه ولري، د خلکو قوت کانګرس سره و، نو ځکه خو د مقننه او قضائیه قوې ترمنځ همېشه  کشمکش و او تراوسه لا هم دی. اساسي قانون د سیاسي ګوندونو یادونه نه وه کړې، خو اوس دوه لــوی ګوندونــه شته، دا یو میکانیزم دی هغه وخت په پارلمان کې د بېلابېلو کمېټو یادونه نه وه شوې، خو اوس بېلابېلې کمېټې هم شته. فکر کېده چې له حکومت څخه د موثر کار اخیستلو وسیله داده، چې د خلکو له خوا کنټرول شي، اساسي قانون وايي: (( دا د خلکو حق دی چې له حکومته شکایت وکړي او کانګرس ته لاړ شي او قوانین بدل کړي.)) دا اندېښنه پخوا هم وه، چې که د دولت یوه برخه قوي شي، نو بله برخه  به ډېره کمزورې شي، لابینګ (دلالي) یوه بله لاره ده، چــې کانګرس هڅوي په قوانینو کې بدلون راوړي، پانګــه یــا بودجــه د کانګرس په لاس کې ده، مالیات چې راټولېږي دا د کانګرس په لاس کې دي، همدا کانګرس دی، چې دولت ورته خپله کلنــۍ بودجــه وړاندې کوي او کانګرس یې منظوروي، نو ځکــه حکومــت بایــد د (لابینګ) له لارې پر کانګرس فشار راوړي، چې کلنۍ بودجه ورتــه منظوره کړي. بله اوونۍ تاسو کانګرس ته ځئ او هلته به له نــږدې کانګرس وګورئ!

ورپسې پروفیسور ام بي مایکل لیمون چې د سیمینار ددې برخې ویناوال هم و، خبرې وکړې،



ده د امریکا د نـن ورځــې حالات تشریح کـړل، ویــې ویل: تاسې بــه تېــره ســه شنبه په کــانګرس کـې د جمهور رییس بارک اوبامــا خبرې اورېدلې وي، ما هــم اورېدلي دي، ما د هغو خبرو ځینې برخې یادښت کړي،

دلته پرې خبرې کوم. په اساسي قانون کې د حکومت د نقش پر سر هم ډېرې خبرې شوي، چې څه نقش لري او څه نقش باید ولري. دا مناقشې پخوا ډېرې نه وې. په پخوانیو امپرالیستي هېوادونو کې هم د سرحداتو، مالیاتو او د خلکو د ورځني ژوند په باب ډېــر بحثونــه شوي، هغه وخت هم د ټولو یو نظر نه و. هر کله چې د حکومــت د نقش په باب خبرې شوي، نو دا بحثونــه خــلاص شــوي نــه دي او تراوسه پورې یې دوام کړی دی. پر (۱۹۳۳م) کال د (روزلــت) لــه وخته بیا تر ننه پورې، په قوانینو کې تغیرات راغلي دي. کله چــې دوی کانګرس ته مراجعه کړې، نو دا تغیر او تحول په کې راغلی دی، خو په اساسي قانون او نورو قوانینو کې چې هر ډول تغیرات راغلي، ټول د خلکو په خوښه راغلي دي. دلته په امریکا کې پانګه او اقتصاد

هم ډېر رول لري، په ټاکنو کې ډېرو پیسو ته اړتیا ده، د اوباما تر وروستۍ وینا دمخه د هغه محبوبیت (۶۳) سلنه و، خو د هغه د جذابي وینا له امله (۸۰) سلنه شو. د جمهور رییس ستایل، کلمات او مباحثات او د ادا طریقه ددې سبب شول، چې د ده ددې وروستۍ بیانیې له امله دده محبوبیت زیات شي. نه یوازې د دیموکراتانو، بلکې د ټولو خلکو لپاره یې یوه مثبته وطنپالنه په بیانیه کې څرګنده کړه، داسې هېوادپالنه چې تنګنظري په کې نه وه، داسې کلمات یې کارولي وو، چې جمهوري غوښتونکو او دیموکراتانو دواړو ورته لاسونه پړکول.

جمهوري غوښتونکو پر انفرادي مسولیت زیات ټینګار کاوه، خو اوباما داسې کلمات کارولي وو، چې دوی د خپلو پروګرامونو لپاره تعبیرولای شول. دې پروفیسور زیاته کړه: د جمهوري غوښتونکو یو ځوان وایي: احساس یې کړه د اوباما په خبرو کې هغه څه شته، چې ده یې غوښتنه کوله.پروفیسور (مایکل لیمون) زیاته کړه: خلک داسې یو حکومت غواړي، چې انرژي ولري، اقتصادي بازار ښه کړي، د عامه باور مسئله ډېره مهمه ده، د ګانګوالو د باور مسئله هم ډېره مهمه ده. د سیاستوالو پر خبرو ډېر باور نه کېږي، خلک پرې باور نه کوي، د سیاسي ګوندونو داخلي روابط هم ډېر مهم دي، نه یوازې د دوو لویو مختلفو ګوندونو، بلکې د مشرانو او ولسي جرګو د غړو ترمنځ هم مشکلات او اختلافونه شته، د کانګرس د مشرې نینسي پلوسې او د هغې د مخالفینو ترمنځ هم اختلافونه شته، ځینې

وکیلان وایي چې موږ د بارک اوباما استازي نه کوو، مــوږ غــواړو د خلکو استازيتوب وکړو. خپلې خبرې رالنډوم، ځینې وایي چــې د جمهور رییس بیانیه ۹۳سلنه پر داخلي مسایلو او ۷ سلنه پر بهرنیو موضوعاتو راټوله وه. جمهوري غوښتونکي غواړي له همدې موضوع څخه ګټه پورته کړي، چې ولې اوباما بهرنیو مسایلو یا پالیسۍ ته کم پام اړولی دی، خو د امریکا خلکو ته اوس داخلي مسایل ډېر مهــم دي. (( د تروریزم ضد جګړه)) کلمه کمه کارېدله، د افغانســتان او عراق د ((امنیت)) کلمه استعمالېدله. درې ټریلونه ډالر په کار دي، چې اوباما یې باید اوس تر ټاکنو وروسته پر لومړیتوبونو ولګوي. اوباما په خپله بیانیه کې د ښوونې او روزنې، صحي خدماتو، انــرژۍ او د ټولنې د نورو برخو په باب هم خبرې وکړې. خو ددې ټولو لپاره اوباما پیسو ته اړتیا لري، له انرژۍ څخه ګټه اخیستنه مهمه ده. د ریچارج یا دویم ځلي انرژي په باب فکر په کار دی. د ایران او عراق ستونزې او نورې موضوعګانې بیا له سره تعریفېږي، بیا بهرنۍ پالیسي ورته جوړېږي او بیا عملي کېږي. نوی اداره کې چې کوم کسان راغلــي، ټول باتجربه کسان دي، ،خو بیا هم موږ باید ډېر ژر خپل قضاوت و نه کړو. ځکه دا اداره ډېره ځوانه ده.

دې پسې پروفیسور اولسون په ټوکو کې وویل: زه تراوسه په دې نه یم بریالی شوی، چې کانګرس تعریف کړم، نو که تاسو ته مې یــو فکر درپیدا کړی وي، نو موږ به موفق شوي یو. اوس نو که تاسو څه پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ، موږ ستاسو په خدمت کې یو.

د سیمینار له برخوالو څخه یو تن پوښتنه وکړه چې تاسو وویـل: حکومت پر کانګرس باندې د لابینګ له لارې خپل تاثیر لري ایا دا تاثیر د خلکو پر ژوند مثبت اغېز کوي که منفي؟

د سیمینار یو بل برخوال وپوښتل: دا نوې اداره به د خپلو نویو او ښو پرېکړو له لارې پر امریکا او د نړۍ پر نورو هېوادونو څـه تـاثیر ولري؟

پروفیسور اولسون وویل: موږ غواړو داسې یو سیستم ولرو، چې د ټولو خلکو نظرونه په کې وي او د هغو له مشترکاتو څخه یـو څـه راوباسو او بیا هغه عملي کړو. لابینګ زیات تاثیر لري، ویل کېږي، چې اسرائیل ډېر ښه لابینګ لري او ډېر تاثیر لري، خو داسې نه ده، تاثیر لري، خو ډېر نه، نور ډېر شرکتونه دي، چې هغوی هم ډېر ښه لابینګ لري، لابینګ یوه پېچلې پروسه ده.

پروفیسور لیمون وویل: ډېرې باریکۍ شته، دا نوی جمهور رییس داسې دی، چې د هېچا نه دی، خو د هر چا دوسـت دی، کوښـښ کوي، چې ځانته زیات مینوال پیدا کړي او کار وکړي، د انـرژۍ پـه برخه کې غواړي بیا غبرګوونکې بیا ځلي (ریچارج) انرژي وکاروي. لکه بادي ، لمریزه او نوره انرژي، همدارنګه غواړي د تېلو او ګـازو پرځای د انرژۍ نورې سرچینې پیدا کړي، د تېلو په برخه کـې نـه غواړي له تېل شتمنو هېوادونو څخه غځ واخلي، بلکې غواړي نورې لارې چارې هم پیدا کړي.

د سیمینار د یوه بل برخوال له خوا یوه بله پوښتنه داسې مطرح شوه: سیاسي بحثونه اکثره تر ټاکنو دمخه زیات وي، خو کله چې ټاکنې پایته ورسي، دا ډول بحثونه هم کم شي، دلته به دا بحثونه دوام پیداکوي که نه کمېږي به؟

د پروفیسور اولسون ځواب:

د کانګرس بحثونه لایتناهي دي؛ هېڅ وخت پایته نه رسېږي. د یوه برخوال له خوا دا پوښتنه مطرح شوه: وایي د امریکا سیستم ځکه ښه دی، چې په پیسو چلېږي، ټاکنې په پیسو ګټل کېږي، رسنۍ په پیسو اخیستل کېږي، مانا دا چې دلته پیسې ډېرې مهمې دي.عامه افکار یانې څه؟

په پای کې خو پرته له دې هم همدا دوه ګوندونه دي، یو بــه یــې ګټي، درېیمه نظریه نه شته، خلک مجبور دي له همدې دوو څخه به یو ټاکي. په دې باب تاسو څه وایئ؟

ځواب: پیسې طبعاً مهمې دي، که تاسې د کانګرس غړي وګورئ، هغوی هم پیسې غونډوي، خو نه په مستقیم ډول، د کولمبیا ایالت به یې ښېلګه وړاندې کړو، یو وکیل و، چې لومړی یې د الوتکو د یــو قرارداد مخالفت کاوه، خو کله چې وویل شول کولمبیا ته دې الوتکې ورکړای شي، چې دی د همدې ولایت و، نو ځکه یې بیا د قــرارداد ملاتړ وکړ. پیسې مهمې دي؛ موقعیتونه نږدې کوي، خو په پای کې یوازېنۍ وسیله پیسې نه دي.

جمهوري غوښتونکي او دیموکراتان دوه مختلف قطبونه دي، چې بېلابېل تمایلات لري. د نورو ګوندونو کاندیدان هم شته، خو زیاتې رایې یې نه دي اخیستي، تر اوسه پورې کوم منظم تشــکیلات نــه لري، هغوی لا تراوسه پورې دې حالت ته نه دي رسېدلي. اوبامــا د خپل کمپاین پر وخت د انټرنیټ له لارې دومره ډېرې پیسې ترلاسه کړې، چې ټول سیاسیون یې ګنګس کړل. د خلکو پیسې کمې وې، خو څرنګه چې پیسې زیاتو خلکو ورکړې وې، نو ځکه ډېرې زیاتې شوې، دا د پیسو راټولولو نوې طریقه وه، چې د انټرنیــټ لــه لارې ترسره شوه. اوباما اوس هم د انټرنیټ له لارې له خلکو ســره پــه تماس کې دی، له هغوی څخه پوښتنې کوي، د هغوی نظرونه اوري، دا بېخي نوی کار دی. پر دې وخت د یوه هېواد استازي له خوا دوه پوښتنې مطرح شوې، خو ومې نه کړای شول، د هغه نوم هغه وخت سم ثبت کړم، دا پوښتنې دادي:

۱- تاسې د اوباما توصیف وکړ، نورې نړۍ کې هم خلــک غــواړي اوباما بریالی شي، یو وخت یو څوک محبوبیت لري، خو دا محبوبیت هغه وخت دوام پیدا کوي، چې د هغه شخص پالیسي تطبیق شي، خو که ناکامه شي، نو محبوبیت یې هم له منځه ځي؟

۲- امریکا پخوا پر بشري حقوقو او سولې ډېر ټینګار کاوه، خو اوس یې دومره نه کوي، علت یې څه دی؟

له دوو پروفیسورانو څخه یوه ځوا ب ورکړ:

موږ پاچا نه ټاکو، جمهور رييس انتخابوو، نو چې داسې ده، بيا يې تخريبولای هم شو، اوباما چې اوس تائيدوو، دا نو دده کارونو پورې اړه لري، بيا يې د تخريب مرحله هم شروع کېږي. اوباما د (روزولت) له وخته راهيسې بې سابقه کارونه کړي دي. ناکامي هم کله کله له ناچارۍ وي، دی هم خپل دا محبوبيت تر اخره نه شي ساتلای.

د پاکستان استازی ( اقبال چوهدري) پوښتنه وکړه: ولې ښځو ته سم حق نه ورکول کېږي، چې ولسمشره شي؟

ځواب: موږ انتخابات لرو، نه انتصابات، هر څوک چې د خپل ګوند له خوا کانديد شي، د همغه ملاتړ کوي، وګورئ اوباما يو تور پوستی دی، جمهور رييس شو. د جمهور رييس په توګه د ښځې انتخاب هم له خوب او خياله لرې خبره نه ده.

د اردن د استازي پوښتنه: تاسې مخکې د امريکايانو د هېوادپالنې يادونه وکړه، خو مخکې پر يو وخت د ويتنام د جګړې يو امريکايي اتل په ټاکنو کې ماتې وخوړه، ددې علت څه دی؟

ددې پوښتنې په ځواب کې پروفيسور اولسون وويل: د جمهـــور رييس بوش او د اوباما حالت توپير کوي، نو ځکه قضاوت پرې هـــم توپير کوي. د بوش پر وخت پر امريکا بريد وشو (۳۰۰۰) کسان په کې له منځه لاړل، دا اوس پر موږ حمله نه ده شوې، اوس له يوه دښمن سره په مقابله کې يو، د هر جمهور رييس ارزونه د همغـــه وخـــت د حالاتو په مقايسه کېږي.

د یوه بل برخوال پوښتنه: اوس حالات ښه دي، خو د بوش د ادارې تېروتنې باید هیرې نه کړو. بوش داسې فکر کاوه، چې هغه نه یوازې د امریکا، بلکې د ټولې نړۍ جمهور رییس دی، نو ځکــه دا نړیــوال اقتصادي بحران رامنځته شو. اوباما وویل: موږ باید د امریکا پخوانی مسیر ته تغیر ورکړو، نو وګورو چې څه کېږي؟

ځواب: زه د اوباما پر خبرو نه پوهېږم، چې د کوم مقصد لپاره وې، خو دده چلېنجونه له پخوانیو هغو سره توپیر لري، د بوش اته کالــه تېر شول، موږ کولای شو، له پورته تر کښته پرې قضاوت وکړو، خو اوسنۍ اداره کې هېڅ شی تراوسه روښانه نه دی. تراوســه پــورې یوازې کلمات او ویناوې دي، دا ټول یو شان نه دي، باید عمــل تــه وګورو. څوک د ادارو په راس کې راځي؟ عملاً ټول واک د جمهــور رییس په لاس کې نه دی. د کورنیو، بهرنیو چارو او ملي دفاع وزیرانو په غوراوي کې پخوا هم کانګرس لوی لاس درلود، ان ویل کېــږي، چې د مالیې وزیر باید کانګرس ته راپور ورکړي. اصلي قوت کانګرس دی، جمهور رییس کانګرس ته ددې کسانو وړاندیز کوي، هغوی یې یا ردوي یا یې تائیدوي.

د عراق د یو استازي پوښتنه: ویل کېږي، چې امریکا د عراق پــه باب خپله پالیسي بدلوي، په دې باب موږ اندېښنه لرو، دا به څنګه بدلون وي؟

ځواب: یو لیکوال یو کتاب لیکلی، په دې اثر کې یې یادونه کړې، چې امریکا په ټولو ځایونو کې د خپلو عسکرو د ځای پر ځای کولو

توان نه لري، سوداګریز، اقتصادي او نور مشکلات هم لري، چـــین، هندوستان او نور هم اوس نړیوال قوتونه دي، څه شی چې تاسې یې ګورئ، هغه دادی، چې موږ باید له نورو سره مذاکره وکړو، همدا اوس موږ د افغانستان او پاکستان لپاره یو استازی لرو. روسیې سره باید داسې روابط ولرو، چې همکاري یې راجلب کړو، د عراق مســئله او نور مسایل موږ اوس د منطقې په سطحه مطالعه کوو، پخوانۍ ادارې غوښتل، چې په روسیې کې یو تن سره ښه علایق ولري، خو داسې نه شي، چې هر څه پر دښمنۍ بدل شي، ځکه چې د دواړو هېوادونو علایق مختلف دي.

د یو بل برخوال له خوا پوښتنه وشوه: په امریکا کې د انتخابـــاتو څرنګوالی او بیا د ولس غوښتونو معیار څرنګه دی؟

ځواب: یو وکیل څخه یې پوښتنه وکړه، چې ولې دې ځان کاندید کړ؟ هغه ورته په ځواب کې وویل: یو وجدان لرم، چې زه یې وهڅولم ځان انتخاب کړم، یو خلک دي، چې زه یې انتخاب کړم او بل زمــا افکار دي. زه باید د دوی ترمنځ انډول ټینګ کړم. پروفیسور د یو بل وکیل بېلګه هم وړاندې کړه، ده وویل: د امریکا په کانګرس کې د یوه ایالت یو وکیل و، دی د کانګرس د بهرنیو چارو د کمېټې غړی و، یو وخت د کیوبا او امریکا ترمنځ مناسبات ډېر خراب شول. د شوروي د مداخلې پر اساس حالات ډېر نازک حالت ته ورسېدل، ان تر دې چې نږدې وه خبره درېیم نړیوال جنګ ته ورسېږي. دا مهــال وکیــل د خپلې سیمې د خلکو د شکایتونو د اورېدنو لپاره هتله لاړ. یو سړي

یا موکل ورته  وویل، چې زه یو مشکل لرم، هغه راته حل کړه. وکیل ورته د کیوبا د مشکل یادونه وکړه، چې حالات ډېــر خــراب دي او نړدې ده چې خبره درېیمې نړیوالې جګړې ته ورسېږي، خو موکــل یې پر دې خبرې سر ونه ګراوه او بیا یې ورته وویل چې تــه نــورې خبرې پرېږده، ته راشه زما د آس غم وخوره، چې په ختېه کې نښتی دی. ددې مانا داده چې سیاست محلي دی، کورنیو مشکلاتو ته باید هم زیاه توجه وشي. که څه هم نړیوال مسایل مهم دي، خو یو وکیل د خپلو موکلینو د غوښتنو عملي کولو ته هم مجبور دی.

د سیمینار یو بل برخوال وپوښتل: اوباما وویل: زه بدلون راولم، په نړیواله کچه به دا څه ډول بدلون وي؟ خدای دې وکړي چې مثبت وي.

ځواب: ددې پوښتنې ځواب د اساسي قانون د بدلون له ځــواب سره یوځای شو، ما (یون) ونه کــړای شــول، چــې ددې پوښــتنې مطلوب ځواب ولیکم، خو د اساسي قانون د بدلون پــه اړه وویــل شول، چې دې اساسي قانون په خپل متن کې د بدلانه لارې چارې په ګوته کړي دي. ددې قانون اساسي مسوده د داخلي جنګونو پر مهال لیکل شوې وه او تر هغې وروسته په کــې وخــت پــر وخــت بدلونونه راغلي دي.

ګروپي کار: تر پنځه لسو دقیقو وروسته پر لس نیمو بجو ګروپي کار پیل شو. ګروپي کار د تېرو ورځو په څېر د هر ګروپ مشــر تــر څارنې یا مشرۍ لاندې پیل شو. زموږ په ګروپ کې د نن ورځې پــر

مطرح شوي بحثونو بيا بحث وشو. په دې ګروپي کار کې په ټـولېز ډول د بېلابېلو هېوادونو استازو، لکه بنګلــه دېــش، افغانســتان، ترکيې، عرب متحده امارتونو، کويټ، نيپال، عراق، مصر، سريلانکا او عمان برخه واخيسته. ځينو برخوالو د خپلو خبرو په ترځ کې وويل چې په ننڼيو لکچرنوټونو يا خبرو کې د لابينګ مسئله سمه تشريح نه شوه. د ايران، اسرائيلو او شمالي کوريا پــه بــاب هــم د امريکــا پاليسي سمه واضح نه شوه.

پروفيسور مختياري ( د لومړي ګروپ مشر) واضح کــړه، چــې د امريکا قوت مرکزي نه دی، بلکې د دې هېواد پر ايــالتونو وېشــل شوی دی؛ هر ولايت خپل خپل حکومت لري، په مرکزي حکومــت کې بيا تر ټولو زيات قوت کانګرس سره دی، ځکه چې د پيسو ورکړه د دوی په لاس کې ده.

د انرژۍ په باب هم په دې بحث کې خبرې وشوې، چې ډېره مهمه ده او ډېرې زياتې پيسې مصرفوي او بيا زياته ګټــه ترلاســه کــوي. ګروپي بحث پر ۱۲ بجو ختم شو، يو ساعت د ډوډۍ لپاره وخت و.

د سيمينار درېيمه ورځ د ماسپښين غونډه: د سيمينار دا برخه د پروفيسور امبکريــټ کريــاګ ډونکيرلــي ( Ambcret graig Dunkerley) په مشرۍ پيل شوه، پروفيســور لــورېنس وېلــټ يــې ويناوال و. په دې بحث کې د امريکا د متحده ايالاتو د ملي امنيــت شورا پر جوړښت او دندو خبرې وشوې. پروفيسور کرياګ ډونکيرلي وويل: په مخکني بحث کې پروفيسور اولسون د امريکا د حکومت

پر جوړښت خبرې وکړې، خو زه غواړم څه داسې شیان ووایم چې د



پروفیسور اولسون لــه خبــرو سره توپیر لري، ځکه چې هغه خبره له پورته شروع کړه خــو زه به یې له کښته پیــل کــړم: ورځنۍ چارې څنګــه ترســره کېږي؟ کارونه څنګــه پــرمخ ځي؟ ددې ځــای بروکراســي ډېره پېچلې ده، خو زه دومره جزئیاتو ته نه ورننوزم، په واشــنګټن کې داسې کسان شته، چې تاسو ته توضیحات درکولای شي، زه نه غواړم د هغو ځای ونیسم، خو زه تاسو ته دومره معلومات درکــوم، چې په عمومي ډول د یوه بهرني د پوهېدنې لپاره په کار وي. دا څو موضوعات بیانوم:

یوه ځانګړې مسئله، چې د امریکا علاقه ځانته راجلبوي داده، چې د سیستمونو ترمنځ باید بېلانس یا انډول برابر وي. د بېلګې په توګه د اجرائیه او مقننه قواوو ترمنځ انډول، جمهور رییــس د عســکرو قومنده په لاس کې لري، خو کانګرس د پیسو د ورکړې واک لــري، ځکه نو د دوی ترمنځ دایمي تشنج شته، د یو بل له همکارۍ پرته یو هم کار نه شي کولای، ځکه نو ددې ارګانونو ترمنځ همېشه رقابتونه وي. بل ایالتي او فدرالي تشــکیلات دي، چــې ایالتونــه مســتقل صلاحیتونه لري. کله چې موږ د خپل امنیت په باب فکر وکــړ، نــو

بېروني مقصدونه مو درک کړل، پنټاګون او بهرنیو چارو وزارت ته مو پام شو، چې جمهور رییس ته یې رپورټ ورکاوه، د سپتمبر د (۱۱)مې نېټې تر پېښې وروسته مو امنیت ته پېښ خطر درک کړ، دا مسولیت اکثره فدرالي نه و، بلکې ایالتي و، لومړنی کس چې د سپتمبر د (۱۱)مې نېټې خطرونو ته متوجه شو، د نیویارک ښاروال و، وګورئ دا خطر څومره زیات دی. د مسولیت سرچینو ته مو څومره پام را اړوي. په بهرنیو هېوادونو کې زموږ سفارتونه راپورونه رالېږي، دا راپورونه اړوند سرچینو ته رسېږي، دا معلومات رد و بدل کېږي، د عسکرو په باب خبرې کېږي، څومره عسکر باید له عراق څخه ووځي، ددوی په باب د نظریاتو توپیر موجود دی. دا ټوله پروسه وخت غواړي. نو ځکه زموږ د سیاسي جوړښت په باب پوښتنه رامنځته کېږي، دا مختلف مرکزونه باید په مسولیت کې شریک شي، جمهور رییس (نیکسن) دا بروکراسي له منځه یوړه.یو تعداد خلک وایي، چې دوی د عراق په باب له ډېرې عجلې څخه کار واخیست. ما د بهرنیو چارو له وزیر سره کار وکړ. هلته دا نظر و، چې دلته کارونه کېږي، خو پرېکړه نه کېږي، یوه خبره له یوه ځایه بل ځای او له یوه چینل څخه بل چینل ته ځي، خو اساسي خبره داده، چې پرېکړه باید په سم ډول ترسره شي او پرېکړه د ټولو له خوا په ګډه وشي، که یوه پرېکړه د ټولو له خواو په ګډه نه وي شوې، نو بیا یې عملي کول ډېر سخت کار دی. کله چې پرېکړه سمه وي، نو دا ارګانونه یې باید په عملي کولو کې مرسته وکړي.

جمهور رییس (روزولټ) به همېشه دوو وزیرانو ته دنده ور کوله، خو یو به یې پر بل نه خبراوه، کله چې به له دواړو خواوو ځوابونه راتلل، ده بیا یو په کې انتخابوه، نو ځکه خو دی یو لوی سیاسي نابغه و. نورو جمهور رییسانو؛ کلنټن هم ډېره څېړنه کوله، کلنټن هم ډېر مفکر و. اوباما چې زه اوس ګورم، دی هم ډېر مخکی دی، خو اوس پرې قضاوت لا تر وخت دمخه خبره ده. پروفیسور تر دې خبرو وروسته د امریکا متحده ایالاتو د امنیت شورا جوړښت او اړتیا تشریح کړل.

د امنیت شورا پر (۱۹۴۷م) کال رامنځته شوه. د ملي دفاع، بهرنیو چارو وزیران، د جمهور رییس مرستیال او نور لوړ رتبه مامورین، چې جمهور رییس یې غواړي، ددې شورا غړي دي. د جمهور رییس د دفتر رییس، د جمهور رییس معاون، د ملي امنیت مشاور، د بهرنیو چارو وزیر، یو بل ته مشوره ورکوي، لوی درستیز او د استخباراتو رییس مشاورین وي. یو نظامي مشوره ورکوي او بل استخباراتي معلومات ورکوي. د جمهوري ریاست لوړ رتبه مامورین او نور هم د مشورې لپاره ورتللای شي. پر (۲۰۰۵م) کال په امنیت شورا کې نور تغیرات هم راغلل، اوس د ځمکنۍ بشپړتیا وزیر هم د دوی غړی کېدی شي. ایالتي لوړ رتبه مامورین ځکه د امنیت شورا غونډو ته نه راځي، چې هغوی په خپلو ایالتونو کې ډېر مصروف دي. اوس امنیت شورا (۲۰۰) تنه کارکوونکي لري. ددې شورا مشره یا جنرال سکرتره مخکې کاندولیزا رایس وه. دوی د جمهور رییس خاص کسان دي. د

ملي امنیت شورا غړي یا مهم کارکوونکي د کانګرس لــه خــوا نــه تائیدېږي، خو وزیران تائیدېږي. په ملي امنیت شــورا کــې داســې کسان وي چې جمهور رییس ته ډېر نږدې وي. ددې شورا دنده داده، چې جمهور رییس ته د پالیسۍ وړاندیزونه کوي. د وزیرانو تــرمنځ همغږي رامنځته کوي. د جمهور رییس پرېکړې او لارښوونې خپلو اړوندو وزارتونو ته رسوي، چې هغوی یې عملي کړي.

د ملي امنیت شورا رییس کار سخت دی، ځکه چې وزیران زورور دي لکه (کیسنجر) چې د (نیکسن) مشاور و، خو د بوش پر وخت د امنیت شورا مشاور یوازې د مشاور رول درلود، نه اجرایي ځــواک. اوباما لا د امنیت شورا په برخه کې تراوسه څه نه دي کړي، کېدی شي په دې ورځو کې معلوم شي.

بوش فکر کاوه، چې کاندولیزا رائیس یوازې مشاوره ده، نه د ټولو وزیرانو قومندانه، دا هغه وخت ماته معلومه شوه، چــې ده وویــل: ((رائیس وینا کوي خو عمل نه کوي))، خو اوس اوباما کېدی شــي، دې شورا ته زیات رول ورکــړي. د رائــیس ترڅنــګ، دفــاع وزیــر رمزفیلډ، د بهرنیو چارو وزیر او نور کېناستل. ځینې وزیران خپله د جمهور رییس پر ضد وي، نو که د امنیت شورا رییس تکړه نه وي، دا وزیران به څوک کنټرولوي؟ جمهور رییس کلنټن ته بــه د بهرنیــو چارو، د ملي دفاع وزیرانو مشوره ورکوله، هغه به اورېدله، بیــا یــې خپله پرې فکر کاوه، خو ټول کسان د تصمیم یا پرېکړې قــوت نــه لري، نو ځکه باید د ملي امنیت یو قوي مشاور ولري.

د جمهور رييس په دفتر کې نورې کمېټې هم شته، لکه د پالیسۍ د همغږۍ کمېټه، د پرسونل کمېټه، چې دا ټولې د سکرتريت په کچه دي. لوی درستيز تقريباً هره ورځ سپينې مانۍ ته ځي، ځکه چـــې اکثره پرېکړې همده سره وي. د بهرنيو چـــارو، دفـــاع وزارتونـــو او سپينې مانۍ ترمنځ موازنه او رابطه به څوک تامينوي؟ همدا د ملي امنيت شورا يې بايد تامين کړي.

د ملي دفاع وزارت جوړښت څه ډول دی؟ په امريکا کې دفاع وزير همېشه يو ملکي شخص وي، بحري، ځمکني، هوايي او نور پوځونه هر يو خپل خپل وزير لري، دوی د جنګ چارې پرمخ بيايي، دفـــاع وزير جمهور رييس ته راپور ورکوي. لوی درستيز هم د مشـــاور پـــه توګه کار کوي، نور جنګ د جګړې په ډګر کې عملاً د قومندانانو له خوا پرمخ وړل کېږي. لوی درستيز په يوازې ځان دا پرېکړه نه شي کولای، چې دغه او هغه ځای ته عسکر ورولېږي، دی بايد د ټولو او عمومي قومندانانو نظرونه راټول او د ملي امنيت شورا ته يې وړاندې کړي. دا نظريات بيا کانګرس ته ځي، چې هغوی ورته پيسې منظورې کړي. دوی بايد کانګرس قانع کړي، چې هغوی ورته پيسې منظورې کړي. ملي امنيت شورا يوه ستراتيژي لري، چې په انګليسي او عربي ژبه يې متنونه شته، دې ستراتيژۍ کې هر څلور کاله وروسته يو څه تغيرات راځي، البته دا د جګړې پاليسي نه ده. دا په هـــرو څلـــورو کلونو کې د همغه جمهور رييس امنيتي پاليسي ده، چې په نړۍ کې څه کوي؟ دا ستراتيژي بيا بېلابېلو وزارتونو ته ځي او هغوی بيـــا د

همدې له مخې خپله ستراتیژي جوړوي. د دوو کلونو په بهیر کې بیا د ملي دفاع وزارت نظامي ستراتیژي جوړېږي، چې څنګه یې عملي کوي. بیا نورې ستراتیژۍ لکه د ترهګرۍ پر ضد ستراتیژي، د استخباراتو ستراتیژي او نورې په لسګونو ستراتیژۍ جوړېږي. د لوی درستیز لپاره هم یو لارښود جوړېږي، چې دا هم خپله د جمهور رییس د اجنډا مطابق وي.

تر دې خبرو وروسته یو ځل بیا پوښتنو او ګروپونو ته وار ورسېد.

یو برخوال پوښتنه وکړه: د جمهور رییس د دفتر او ملي امنیت شورا ترمنځ څه توپیر موجود دی؟ ځکه دا دواړه د جمهور رییس کارونه پرمخبیایي؟

ځواب: د ملي امنیت شورا کارونه سیاسي اړخ لري او د جمهور رییس دفتر هغه اکثره تخنیکي. د جمهور رییس د دفتر دنده داده، چې ټولو هغو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړي چې د کانګرس له خوا یې احتمال وي، که د یو کار لپاره ډېر ښه تصمیم هم وي، خو چې کانګرس پیسې ور نه کړي، نو ګټه به یې څه وي؟

د حکومت ډېره لویه برخه د امنیت شورا پالیسۍ سره ډېر سروکار نه لري، خو د جمهور رییس دفتر د جمهور رییس ورځني کارونه پرمخوړي او د حکومت د بېلابېلو ارګانونو ترمنځ هماهنګي رامنځته کوي. ملي امنیت شورا عملیات نه اجرا کوي، نظریات ورکوي. د جمهور رییس (رونالډریګن) پر وخت د امنیت شورا له ایران سره یوه معامله کړې وه، چې غټ جنجال ترې راپیدا شو. داسې فکر مه

**کوئ، چې سپینه مانۍ کې خلک له مریخه راغلي دي، داسې نه ده، د دفترونو اتاقونه يې زموږ تر دې درسي خونې هم بدتر دي، دا پرې ډېر شرف لري.**

**یو بل برخوال خپله پوښتنه داسې مطرح کړه: دا چې موږ له تاسې څخه پوښتنه نه کوو، دا ددې مانا نه لري، چې موږ پرې پوه نه شو، بلکې دا داسې یو مغلق سیستم دی، چې زموږ د هېوادونو پــر درد هېڅ نه لګي!**

**ځواب: رښتیا هم دا یو نوی امریکایي سیستم دی، پېچلی دی، تر دویم نړیوال جنګ وروسته امریکایان مجبــور شــول، داســې یــو سیستم جوړ کړي، چې جمهور رییس د عاجل تصمیم پر وخت لــه امنیت شورا سره مشوره وکړي.پر دې وخت ما (یون) پوښتنه وکړه، که د نړۍ په کومه برخه کې تاسې یو عاجل اقدام ته اړ شــئ نــو دا اوږده بروکراسي پرې له څو تطبیقوئ، نو مقابل طرف به پر تاسو ډېر مخکې شوی وي؟**

**ځواب: مهمه نه ده، چې دا ټول مراحل ووهي، اکثره شیان چې موږ دلته تشریح کړل عاجلو مسایلو کې کېدی شي د وخت فشار په پام کې ونه نیول شي، مرستیالان او نور هم کولای شي د ټلیفــون لــه لارې اقدامات وکړي. د کلنټن پر وخت د بهرنیو چارو وزیر له هغــه سره هره ورځ شخصي مجلس درلود، پرېکړه يې نه کوله، خو مشوره يې ورکوله، زموږ پېچلی سیستم دا مانا نه لري، چې تاسو فکر وکړئ پرېکړه ژر نه شي ترسره کېدلای.**

## د ماسپښین غونډې دویمه برخه: د چای لپاره تر یو پنځه


Ms.Johanne Berge

لس دقیقه یي ځنډ وروسته دویمه برخه پیل شوه. په دې برخه کې دوو نجونو پېغلې جوهاني بېرج (Ms.Johanne Berge) او پېغله جولیي اریغیتي (ms. Julie arrighetti) راغلې، لومړۍ یې مشره او بیا دویمه راغله، لومړی یې د سبا ورځې پروګرام تشریح کړ او بیا یې د نیسا سنټر د وېبسایټ په باب معلومات ورکړل. ربښتیا هم د نړۍ په کچه ډېره لوړه او له معلوماتو ډکه وېبپاڼه وه. د نړۍ د هر ګوټ، پېښې او هر ډول مسایلو په باب په کې معلومات ځای پر ځای شوي وو.

ددې وېبپاڼې له لارې دې د نړۍ هرې مشهورې ورځپاڼې ته لاره پیدا کولای شوه، هر ډول نوي معلومات دې د هغو له نېټه لیک سره ترلاسه کولای شول، ښه خبره لا په کې دا وه، چې نوي معلومات له زړو هغو سره یوځای کېدل او د معلوماتو یو ښه زېرمتون یې جوړاوه، په دې ډول هر څوک کولای شي، یوه موضوع له پیله بیا تر دې دمه، پر هر اړخیز ډول وڅېړي او مطالعه یې کړي. ما چې د دوی وېبپاڼه وکتله او بیا دومره نوي او ګڼ معلومات او بیا مې خپله ټولنه ورسره مقایسه کړه، نو ((ډېر تفاوت دی په انسان کې د مانا په لحاظ))،پرته له دې چې خپل هېواد له دې حالت سره د یوه خوب او خیال په

توګه مقایسه کړم، نوره هېڅ بله لاره نه شته، یو څوک چې په علم او تخنیک کې دومره لاسرسی ولري، نو هغوی طبعاً پر نورو د حکومت کولو وس لري. زه فکر کوم زموږ په شان د وروسته پاتې او یا شاته پاتې ساتل شویو ټولنو د سیاستوالو یوه غټه ستونزه دا وه، چې دوی خپل ټول عمر په دروغو، لاپو شاپو او هسې دښمنۍ ټوکولو تېر کړی او دې خلکو او سیاستوالو یې کار ته کار ویلی او کار یې کــړی دی. وروسته بلې پېغلې د نیسا سنټر برېښنایي کتابتون تشــریح کــړ، هغومره علمی کتابونه، چې دوی د دې سنټر په برېښنایي کتابتون کې زېرمه کړي وو، که ووایم چې زموږ د ټول هېواد تــر مجمــوعي کتابونو به زیات وو، دروغجن شوی به نه یم. اکثره کتابونه په کې په انګلیسي ژبه وو، خو د عربي او فارسي ژبې کړکۍ هم په کــې وې، مانا دا چې په دې ژبو هم کتابونه پیداکېدلای شول. وروسته مــا د کتابتون له مسولې څخه پوښتنه وکړه، چې که موږ پښتو کتابونــه درته راولېږو، تاسو یې دلته ځای پر ځای کولای شئ؟ هغــه ډېــره خوشاله شوه، ویل یې ولې نه دا به ستاسو له خوا له موږ سره ډېره مرسته وي. موږ دلته د هرې ژبې کتابونه اچولای شو. دا موږ ته هېڅ مشکل نه دی، ما ویل نو له همدا اوسه پښتو کړکۍ ورکړئ، زه چې کله کابل ته لاړم، د پښتو کتابونو لړۍ درته شروع کوم، هغې راسره په ورین تندي ومنله. وروسته یې موږ ته له دې کتابتون او وېبسایټ څخه د ګټې اخیستنې لپاره پاسوړډونه راکړل، چې د نړۍ پــه هــر ځای کې او هر وخت موږ له دې وېبپــاڼې او کتــابتون څخــه ګټــه

اخیستلای شو. د دا ډول کتابتون او وېبسایټ لیدل، نو زما په علمي ژوند کې یوه ډېره خوږه خاطره وه.

د مازیګر پر شپږو بجو له نیسا سنټر څخــه د هوټــل پــر لــوري وخوځېدو.

# د سیمینار څلورمه ورځ

د فبرورۍ (۲۷)مه، د جمعې ورځ له ټاکل شوي مهالوېش سره سم له هوټله نیسا سنټر ته راغلو، (۹:۱۵) بیا جلسه پیل شـوه. د نـن ورځې د مهالوېش په باب یې معلومات راکړل. ټاکل شوې وه نن موږ پنټاګون (د امریکا دفاع وزارت ودانۍ) وګورو، پرون یې موږ ته ویلي وو، چې باید په رسمي لباس کې راشو، خپل پاسپورټونه ضرور لـه ځان سره راوړو. هلته د ننوتو قانون یې موږ ته تشریح کړ، دا یادونه یې هم وکړه، چې هغوی نظامیان دي، قانون تطبیقوي، هلته د هېڅا لیاز او پیاز نه کېږي، دوی پر خپلو مامورینو هم دا ډول سختګیري کوي، نو ځکه خو یې بار بار ټینګار کاوه، چې باید لباس مو رســمي وي او پاسپورټونه درسره وي. ټاکل شوې وه، موږ په پنټاګون کې د امریکا د دفاع وزارت له لوی درستیز سره وګورو او ددې ودانــۍ د کنفرانس د مرکز لسمه خونه هم وګورو، د لوی درستیز او د هغه پر دفتر سربېره د پنټاګون بېلابېلې برخې هم وګورو او له نورو چارواکو سره هم لنډې خبرې وکړو.

د ډوډۍ لپاره هم ترتیبات نیول شوي وو او بیا مو باید د یوې بلې مهمې ودانۍ لیدنه هم کړې وای. د سیمینار د نن ورځې مشــري د ښاغلي پروفیسور لورېنس وېلټ پر غاړه وه او ښاغلي اډم مایکــل مولین یې ویناوال و. کله چې دوی خپلې خبرې پیل کړې، نو په پیل

کې يې همدا وويل چې نن د امريکا جمهور رييس اوباما د يوه ايالت ليدنه کوي او د امريکا د قانون له مخې د پوځ لوی درستيز مجبور دی، چې هلته په غونډه کې د جمهور رييس ترڅنګ ودرېږي، نــو ځکه خو له پنټاګون څخه موږ ته احوال راغی، چې زموږ او ستاسو پروګرام نن کنسل شوی دی. البته د لــوی درســتيز پــه ګــډون د پنټاګون اکثره اړوند مسولين پر دې باندې خپه دي، چې ولې داسې تصادف پېښ شو.

بيا يې وويل چې موږ او تاسې نن يو ازاد بحث لرو، تاسې کــولای شئ خپلې پوښتنې مطرح کړئ. په ســتېج کــې درې تنــه ناســت پروفيسوران به تاسې ته ځواب ووايي.

له عمان هېواد څخه د هغه هېواد استازي (خالد) پوښتنه وکــړه: موږ مخکې د تروريزم په باب خبرې کولې او د ترهګرو په باب، خــو اوس هغو ته تروريستان نه وايو، لکه د سوماليې د جمهــور ريــيس (شيخ احمد) په باب چې سوماليې کې پرې ثبات راغی؟

ځواب: په ستېج کې يو ناست پروفيسور ورته په ځواب کې وويل: کله چې طالبان په افغانستان کې قدرت ته ورسېدل، موږ ته خبــر راغی، چې دوی ثبات ټينګ کړ، هغه وخت دا يو مثبت کار و، خــو قدرت داسې شی وي، چې سړی ړندوي وروسته، چې دوی ته لاره خلاصه شوه، پر يو استبدادي رژيم بدل شول. تروريستي ګروپونه د خپلو عملونو له مخې په تور لست کې وي، که دوی خپلو عملونو ته بدلون ورکړي، په خپله له لست څخه خارجېږي، يو مثال يې ليبيا

دی، بل مثال يې ((سازمان مجاهدين خلق)) دی، چې غواړي ځان له تور لست څخه وباسي، دا سازمان ګورئ د ايران په مقابلې کې ولاړ دی، خو څرنګه چې کارونه يې مثبت نه دي، نو ځکه موږ ته د زغم وړ نه دي.

د يو بل برخوال پوښتنه: تاسې افغانستان ته (۱۷۰۰۰) نور عسکر لېږئ، فکر نه کېږي، چې چندان نتيجه ورکړي؛ ښه به وي، چې مذاکرات پيل کړئ!

ځواب: د طالبانو تر واک وروسته اکثرو امريکايانو (پروفيسور وويل: زما په شمول) انديښنه لرله، د ښځو پر وړاندې د طالبانو دريځونه ښه نه وو، د امريکا نظر دا نه دی چې پر چا د خپلې خوښې حکومت تحميل کړي. د طالبانو په واکمنۍ کې د امريکا له بهرنيو چارو وزارت څخه يو مسول مامور چې پښتو ژبه يې هم ښه زده وه، ملاعمر ته ټلېفون وکړ، پښتو خبرې يې ورسره وکړې، ورته يې وويل چې له القاعدې څخه خپل ځان بېل کړي، خو طالبانو ونه منله، طالبانو اوس د بياجوړونې پر وړاندې مشکلات پيدا کړي دي. د کندهار لويه لاره يې ښه مثال دی. مهمه داده، يو شمېر عسکر بايد هلته ولرو، چې د امنيت لپاره بستر برابر شي او بيا رغونه رامنځته شي. زموږ هدف دا نه دی، چې طالبان له منځه لاړ شي، بلکې هدف مو دادی، چې هلته امنيت رامنځته شي.

د نيپال هېواد يو استازي پوښتنه وکړه: د اسرائيلو او لبنان په باب پوښتنه لرم، اسرائيل د خپلې بقا په خاطر جنګېږي. افغانستان هم

همدا شان دی، ځینې دلایل شته چې امریکا د اسرائیلو او فلسطین پر وړاندې له تبعیض څخه کار اخلي، ایا د امریکا د نوې مشرۍ پــه راتګ سره به په دې اړه کوم بدلون راشي؟

ځواب: له اسرائیلو څخه زموږ ملاتړ زموږ نړیوال لید دی، دا ملاتړ تغیر نه کوي، دا کار زیات دلایل لري، دا چــې امریکــا هېڅوخــت اسرائیل نه خوشې کوي، سوال دلته دی، چې څنګه دایمي ســوله ټینګه شي، یو نظر دادی، چې د سولې د ټینګښت لپاره دوه مستقل هېوادونه ګټور دي، نظر دېته، چې یو د بل خــاوره اشــغال کــړي. امریکایان باید د حل یوه صادقانه لاره پیدا کړي. عرب، اسرائیل او امریکا دا نظر لري، چې دوه مستقل هېوادونه د حل لاره ده. نــوی حکومت به هم د اسرائیلو ملاتړ پرې نه ږدي، خو ستراتیژۍ کې به بدلون راشي. د همدې پوښتنې په ځواب کې دویم پروفیسور زیاته کړه: غواړم یو دوه ټکي نور هم پرې زیات کړم، تاسو ښه وویل چې دواړه له مجبوریته دې جګړې ته دوام ورکوي، د دواړو تاریخ یــې شاته پروت دی، د حل لاره ډېرو سختو پرېکړو تــه اړتیــا لــري، دا سیاسي تصمیمونه د ملي بقا لپاره مهم دي. اوس چې کومې خبرې کېږي ایا دا خبرې جدي دي که یوازې شعارونه دي؟ له ټولو سیاسي مشرانو څخه هیله کېږي، چې قرباني ورکړي، که یوازې پر اسرائیلو فشار راوړل شي دا هم د حل لاره نه ده، د اسرائیلو د بقا په خاطر د امریکا ملاتړ تغیر نه کوي. دا ملاتړ باید ددې سبب شي، هلته چــې کوم اقشار دي هغه د سولې ملاتړ وکړي.

د همدې پوښتنې په دوام بل پروفيسور وويل: زه یو تاريخپوه یم، ددې مسئلې تر شا یو تاريخ پروت دی، دلته جمهور رييس کوښښ کوي، د مشکل حل ته نږدې شوي یو، خو بريالي شوي نه یو، خو یو شی چې واضح دی دادی، چې امريکا نه شي کولای سوله ټینګــه کړي، خو د مرستندوی رول لوبولای شي، تر څو چې دوی په خپله مذاکره ونه کړي او بهرني لاسونه لنډ نه شي، سوله ټینګېــدی نــه شي. کله چې د اسرائیلو د شتوالي موضــوع مطــرح شــوه، د دوو دولتونو د شتوالي موضوع رد شوه، ځکه چې د اسرائیلو موجودیت تر خطر لاندې و. اوس هغه سیمه پخوانی ستراتیژیک ارزښــت نــه لري، حالات بدل شوي دي، اوس باید دوی په خپله دا مشکل حل کړي.

پروفيسور مختياري د همــدې پوښــتنې پــه دوام وويــل: د دوو مستقلو دولتونو مسئله پر (۱۹۴۷م) کال مطرح شوه، (۱۱) هېوادونه په کې شامل وو. ايران هم په کې و، خو د دوو دولتونو مساله هغه وخت رد شوه. اسرائیلو، امريکا او فلسطين ټولو کې د سولې هيله شته، خو دا هيله څرنګه پر واقعيت بدلېدی شي، دا خبره مهمه ده. زه اسرائیلو ته تللی وم هغوی هم اکثره سوله غواړي، خو څرنګه چې هلته نور علايق دي، دا چې ځینې اسرائیل د عربو پر خاوره کورونه جوړوي، ټول له دې نظر ســره موافــق نــه دي، ان د اســرائیلو د متقاعدينو په ټولنه کې هم داسې خلک شته، چې د سولې ملاتــړ کوي. د سولې پلويان بايد یو بل پياوړی کړي، نظر دېته چې یو بــل

سره وجنګېږي، په اسرائیلو کې د انتخاباتو پر وخت ځینې اقلیتونه شته، چې هغوی هم تاثیر لري، امریکا سوله نه شي تحمیلولای، خو مرسته کولای شي.

د سیمینار د یو بل برخوال له خوا دا پوښتنه مطرح شـوه: تـول پوهېږي، چې امریکا د اسرائیلو هر ډول نظامي ملاتړ کوي، اوس یې عراق سره هم یو تړون لاسلیک کړی دی، ایا عراق به هـم پـه دې ډول تقویه کړي؟

ځواب: نه ځکه چې زیات دلایل شته، هېوادونه د قواوو او سیستم له پلوه یو بل سره توپیر لري، د هر هېواد امنیتي جوړښت بل ډول وي. اسرائیل له (۸۰) یمو کلونو څخه راپدېخوا د امریکا لـه پـوځي مرستې څخه ګټه اخلي، اسرائیل داسې سرچینې هم لـري، چـې امریکا څخه یو څه واخلي، خو زه نه پوهېږم، چـې عـراق پـه دې موقف کې دی که نه؟

د پاکستان استازي (اقبال چوهدري) دوه پوښتنې مطرح کړې:

۱- ایا پر غزې باندې د اسرائیلو د عملیاتو پر وړاندې امریکا ځان له اخلاقي پلوه مسول ګڼي؟

۲- طالبان د پرمختګ په حال کې دي، تاسې د نورو ګاونډیانو له مرستې پرته کولای شئ دا جنګ وګټئ؟

ځواب: موږ په ټوله دنیا کې همکاران او ملګري لرو، لکـه نـاټو او ځینو نورو هېوادونو سره هم اړیکي لرو، اندېښنه لرو، په تېره بیا د امنیت په برخه کې، هره قضیه باید خپله په جلا جلا ډول مطالعـه

شي. د بوش او اوباما په باب مو وویل چې دوی ولې د غزې د پېښې په اړه غږ پورته نه کړ، په داسې حالت کې باید یو څوک نتیجې تــه منتظر شي، دا وخت د دواړو جمهورو رییسانو لپاره سخت و، یــو د تلو او بل د راتلو په حال کې و.

پوښتنه: ایا دا موقع د اسرائیلو لپاره مناسبه وه؟

ځواب: زه په دې موقف کې نه یم، چې دې پوښــتنې تــه ځــواب ورکړم، خو د اسرائیلو لپاره شاید دا یو فکر و.

یو بل برخوال دا دوه پوښتنې مطرح کړې: ۱- عراق ته تاسو د تګ پر مهال د کردستان موضوع حل نه شوه، د کردستان او فلسطین موضع به څنګه حلېږي؟ ۲- د برما او کوریا په باب څه نظر لرئ!

ځواب: تاسو سوال زیاتره پر ډپلوماسۍ راڅرخي، حقیقت دادی، چې موږ غواړو په شمالي کوریا او برما کې تغیرات راشي، چین پــه شمالي کوریا کې ډېر موثر نقش لري.

دا مهال افغانستان ته نوبت ورسېد ما(یون) یوه پوښتنه مطرح کړه او د ستېج پر سر له ناستو درېواړو پروفیسورانو څخه مې هیله وکړه، چې هر یو که ورته ځواب وایي ودې وایي. پوښتنه په دې ډول وه:

ـ طالبان او القاعده په جګړې کې له ایډیالوژۍ څخه ګټه پورتــه کوي، مهمه نه ده، چې دا ایډیالوژي مثبته ده که منفي، خو دوی یې کاروي او په مقابل کې یې د امریکا متحده ایالات او نور متحدین له عصري ټکنالوژۍ څخه کار اخلي. القاعده او طالبان د ایډیولوژۍ تر چتر لاندې کولای شي یو څوک له کوم لګښت پرته جګړې ته حاضر

کړي، خو امريکا او متحدين يې يو عسکر په ډېر لګښت جګړې تــه حاضروي.

القاعده د تخريب په موقف کې ده او نړيواله ټولنه د عمار او دا هم څرګنده خبره ده، چې تخريب تر عمار زر ځله اسانه دی ايا داســې کوم سيستم، پروګرام، پلان او يا فورمــول شــته، چــې طالبــان او القاعده خپل ايډيالوژيک بېز له لاسه ورکړي؟ که چېرې دا عمليه ترسره شي، کېدی شي په اسانۍ سره جګړه د نړيوالو ځواکونو پــه ګټه پرېوزي که نه دا جګړه به دوام پيدا کوي.

ځواب: دا مهمه پوښتنه ده. هغوی ايډيالوژي په ناسم ډول کاروي، خو اکثره خلک چې دوی سره يوځای شوي، دا ايډيالوژيک بېز نــه لري، د ايډيالوژۍ پر مفهوم هم نه پوهېږي، کم شــمېر مســلمانان افراطي ايډيالوژيک بېز لري، ځينو طالبانو سره  کېدی شي روغــه جوړه وشي، کله چې بهرني ځواکونه له افغانستانه لاړ شي، افغــان پوليس بايد له دې خلکو سره ورو ورو مفاهمه وکړي.

د سيمينار يو بل برخوال پوښتنه وکړه: امريکايانو  د عراق لپــاره ذروي وسله  پلمه کړه، ځکه هلته لاړل، خو وروسته معلومه  شوه، چې دا ډول وسله يې نه لرله، ددې  علت څه وو؟ معلومات يې سم نه وو؟ داسې کارونه پر نړۍ ډېر بد تاثيرات نه لري؟

ځواب: پر عراق  باندې حمله اصولاً پر ۱۹۹۱م کال  پيل شوې وه، که تاسې تېر (۱۲) کاله  وګورئ، نو ملګرو ملتونو به ويل چې عراق د ملګرو ملتونو ټول قراردادونه نه دي منلي، نو ځکه يــې پــه  زوره

هئیت ورولېږه، هغو ویل: عراقیان کیمیاوي او بیولوژیکي وسلې لري، خو عراقیانو نه منله، څرنګه چې دوی همېشه دروغ ویل، نو ځکه د چا باور پرې نه راته، ځکه بوش ته دا نظر پیدا شو، چې دوی ذروي وسله لري. دا دوه نظرونه وو: یا دا چې دا وسله لري او یا یې هم جوړولای شي. ملګرو ملتونو ویل: که عـراق د ملګـرو ملتونـو قوانین نه مني باید له زوره کار واخیستل شي.

پوښتنه: یو برخوال وپوښتل: سمه ده چې عراق د ملګرو ملتونـو قوانین ونه منل، امریکا هم د ملګرو ملتونو قوانین ونه منل؟

ځواب: د ملګرو ملتونو په چارتر کې راغلي دي، هر ملـک چـې غواړي خپل علایق وساتي، نو حمله کولای شي، خو دا کـار هغـه وخت عادلانه دی، چې څوک په داسې حالاتو کې د ملګرو ملتونو ملاتړ ولري، یو ملک حق لري د بل هېواد له جابر حکومت څخه د هغه رعیت خلاص کړي. کولای شو په دې باب زیات بحث وکړو. پر (۱۹۹۱ م) کال له عراق سره یو اوربند و، نه سوله، عراق تر پایـه دا قرارداد ونه مانه.

د ځواب دوام: د پاکستان په باب موږ نه پوهېدو، ځینې شـواهد سم وو او ځینې ناسم، د استخباراتو د همدې نابشپړو معلوماتو پر اساس پرېکړه کېږي، د (صدام) په اړه هم دقیق نه پوهېدو، زموږ د بهرنیو چارو وزارت هم وویل چې نه پوهېږو، خو فکر کوو، د (C.I.A) موقف دا و، چې موږ نه پوهېږو، خو امکان لري، حقیقت دادی، چې جمهور رییس په (C.I.A) کې یو دفتر درلود، چې دا راپورونه وڅېړي،

خو دې سره سره دا د C.I.A لپاره یوه د شرم خبره وه. د عراق په باب اشتباه د سپټمبر پر (۱۱) پر پاکستان هم شوې وه، نو ځکه د (C.I.A) په جوړښت کې د تغیر مفکوره مطرح شوه.

د پورتنیو څرګندونو د ځواب لپاره د اسرائیلو استازي (چیرمـــي اسیشروف) هم نوبت واخیست او د خپلو مفصلو خبرو په ترڅ کې یې دې پوښتنو ته ځواب ورکړ، دلته یې د ځینو غټو ټکــو یادونــه کېږي:

ضروري نه ده، چې موږ تاریخ ته لاړ شو. پر (۱۹٤۸م) کال اسرائیلو نه شو کولای د دوو دولتونو مفکوره رد کړي، کله چې لــه (ســینا) څخه خارج شو له مصر سره مو سوله وکړه، له غزې څخه چې بهــر شو، د سولې پر اساس بهر شو، له دې توافقاتو څخه ځینو سره یې اسرائیل موافق دي، اختلاف پرې نه شته، ماته یو شی ډېر عجیبــه ښکاري؛ ویل کېږي، چې امریکا له اسرائیلو سره خصوصي روابــط لري، یا مشترک خوصیات لري. امریکا له نورو عربي هېوادونو سره هم خصوصي روابط لري، لکه مصر، عربستان، عمــان، لبنــان، پــه فلسطین کې محمود عباس او نورو سره، همدا رنګه پاکستان سره هم ښه روابط لري، که موږ تحلیل کړو، کومه رابطه چې د امریکا او عربو ترمنځ شته، اسرائیلو سره هغومره نه ده، ایا دا خبرې اسرائیلو ته سختې او ګرانې پرېوزي؟ نو چې داسې نه ده کلــه چــې اوبامــا جمهور رییس شو، لومړی شخص یا جمهور رییس ته یې چې ټېلفون

وکړ، هغه یو عربي هېواد (مصر) و، د هغه هېواد جمهور رییس ته یې ټلیفون وکړ.

حتی کله چې د سولې خبرې کېدې، اسرائیل پرې هېڅ نه خبرېدي، حتی ځینې اسرائیل په دې نظر دي، چې د سولې دا ډول خبرې د اسرائیلو حکومت کمزوری کوي.

د مراکش د استازي پوښتنه: د امریکا د دوو لویو ګوندونو په باب زموږ له خلکو سره تشویش موجود دی، زموږ خلک فکر کوي چې جمهوري غوښتونکو زموږ زیات ملاتړ کاوه، خو دا بل ګوند نه؟

ځواب: هر حکومت چې راځي هغه نه شي کولای ټوله بهرنۍ پالیسي بدله کړي، بلکې دلته یو تداوم موجود دی، تر کومه ځایه چې زه متوجه شوی یم، جمهوریت غوښتونکي بهرنۍ پالیسۍ ته زیاته توجه کوي.

ددې ځواب په دوام بل پروفیسور وویل: زه یو جمهوري غوښتونکی یم، موږ فکر کوو لومړی باید زموږ خپل علایق په پام کې ونیول شي او بیا توازن په پام کې وساتل شي، موږ یو لوی هېواد لرو، موږ همېشه په مجادله کې یو.

پوښتنه : عراق څخه مو د عسکرو د ایستلو مسئله ولې مطرح کړه؟

ځواب: جمهور رییس ښه پرېکړه کړې ده، خو رسنۍ همېشه جنجالیزو مسایلو ته لمن وهي، موضوع د دوو قوتونو ترمنځ تفاوت دی، (مقصد یې له اجرائیه او مقننه قوتونو څخه دی) خو اوس دواړه

له یوه ګوند څخه دي، اوس نو جمهور رییس ته هم اسانه ده، چې له مخالف ګوند سره معامله وکړي.

د اردن استازی: هېڅوک اشغال ته قانوني بڼه نه شي ورکولای. که نړیوال قوانین په پام کې ونیسو، نو هر څوک د خپل هېواد د دفاع حق لري، په عراق کې ستاسې عملونو ته توجیه نه شي پیداکېدلای، دلته یوه خبره کوئ او د فلسطین موضوع کې بیا غلي پاتې شئ! که تاسې واقعاً سوله کوئ له حکومتونو سره یې مه کوئ له خلکو سره سوله وکړئ!

په دې منځ کې یوه بله پوښتنه هم مطرح شوه: په منځني ختیځ کې یوازې اسرائیل ذروي وسله لري، د اتومي وسلې د ممنوعیت ترون هم نه لاسلیکوي، دوی هم نړۍ او سیمې ته یو خطر دی، پر دوی ولې فشار نه راوړل کېږي؟

ښاغلو پروفیسورانو څه نا څه دې پورته پوښتنو ته ځوابونه ورکړل، خو فکر کوم داسې رانه ځوابونه نه وو، چې سړي یادښت کړي وای او یا هم کېدی شي زما پرې سر خلاص نه شو او یا هم ژباړن سم ونه ژباړلای شول.

مور ته له انګرېزي څخه دري ته ژباړه کېدله او ما بیا راساً له دري څخه اتومات پښتو ته ژباړله او متن مې راساً پښتو لیکه، نو په دې ډول له یوې ژبې بلې او له بلې څخه بلې ته ژباړه کېدله او هم مې لیکله.

په دې ډول کېدی شي ډېر الفاظ او مانا په دوو ژباړو کې الوتې وي، خو څرنګه چې ما هملته سم لاسي یادښتونه اخیستل، نو بیا هم تر یوه حده باوري یم چې اساسي ماناوې مې سمې قید کړې دي. کله کله به د ژباړې په فني وسایلو کې هم ستونزې وې، کله به ژباړونکو هم غاړې صافولې او یو بل ته به یې ځای پرېښوده، کله کله به ځینو مفاهیمو هغوی ته هم خوند ورنه کړ، نه به یې ژباړل، خو څرنګه چې ما له انګرېزۍ څخه هم تر یوه حده ګټه اخیستلای شوه، نو ځکه مې جالب او ضروري شیان لیکلای شول.

خو د پورتنیو دوو پوښتنو د رڼو ځوابونو پر لیک بریالی نه شـــوم. دې پسې د عراق استازي همدې پوښتنو ته په غبرګون کې وویــل: ((امریکایان چې په عراق کې نه وو، هم په زرګونو خلک هلته وژل کېدل)) مانا دا چې پر امریکایانو باید انتقاد ونه شي. دې غونډې او بحثونو تر غرمې پورې دوام وکړ.

## د ملي امنیت شورا په ودانۍ کې غونډه: تر ماسپښـــین

وروسته د ملي امنیت شورا دفتر ته لاړو. دا دفتر سپینې ماڼۍ تــه ورڅېرمه په نږدې یونیم سل دوه سوه مترۍ کې موقعیت لري. دا یوه پخوانۍ ودانۍ وه، چې نږدې یو سل و څلوېښت کاله وړاندې جوړه شوې ده. خو وخت پر وخت یې پرې کار کړی او د نــوي عصـــر لـــه غوښتنو سره یې برابره کړې ده. ودانۍ ته تر معمولو مقرراتو وروسته ورننوتو او په لفټ کې پورته شو (۴۵۰) نمبر تالار ته لاړو. د سیمینار ددې برخې چلوونکي وو، لورېنس وېلټ، کول جون ووډ ( Col John

Wood) او ځینې نور یې ویناوال وو. د امنیت شورا دا تالار که څه هم وړوکی و، خو د غونډې او سیمینارو لپاره ټولې تخنیکي اسانتیاوې یې لرلې، نږدې (۱۰۰–۱۲۰) کسان به په کې ځایېدل.

د غونډې تر پیل دمخه دغونډې د ویندوی له خوا یادونه وشــوه، چې وخت کم دی، پوښتنې باید لنډې او مشخصې وي. باید وویــل شي چې داپوښتنې نه کوم رسمي ســند دی، نــه ثبتېــږي او نــه چاپېږي، څوک چې کله پوښتنه کوي هیله ده تر پوښتنې دمخه خپل ځان هم معرفي کړي! دلته په امنیت شورا کې دا مســولین ډېر مصروف دي، لومړی تاسې ته خپلې خبرې کوي او بیا ستاسو پوښتنو ته ځوابونه درکوي.



په پیل کــې د امنیــت شــورا مرستیال ښاغلي ( ووډ) خبرې وکړې. ووډ په خپلو خبرو کې وویل: زه د امنیت شورا د مشاور (جنرال جونز) په استازۍ خبرې کوم. زه د امنیت شورا د دندو په باب بحــث کــوم. د امنیــت شــورا ټــول کارکوونکي همدلته کار کوي. دا ودانۍ پر (۱۸۷۰) م کال جوړه شوې ده. هغه وخت دا د نړۍ ډېر لوی تعمیر و. پر هغه وخت درې وزارتونه ( د بهرنیو چارو، بحریې او دفاع وزارتونه) په همدې تعمیر کــې وو. ځکه چې دا تعمیر سپینې ماڼۍ ته ډېر نږدې و. پر تېــرو وختونــو د

دولت مختلفې اداري دلته وې، پر دې تعمیر مو ډېرې پیسې ولګولې، چې دا تعمیر له نویو غوښتنو سره عیار کړو. د امنیـــت شـــورا درې غتې دندې لري:

ــ د جمهور رییس لپاره مامورین او مشاورین او د بېلابېلو وزارتونو ترمنځ هماهنګي برابرو او همکاري کوو. د هر جمهور رییس د امنیت شورا ټیم توپیر کوي، د ځینو ټیم لوی او د ځینو کوچنی وي. نن به مو د جمهور رییس اوباما خبـــرې اورېـــدلې وي. لـــه ۱۹۴۷م کـــال راهیسې جمهور رییس، مرستیال یې، د بهرنیو چارو او دفاع وزارت، لوی درستیز او پخوا (C.I.A) ډایرکټر هم په امنیت شورا کې راټاله وو. دلته په امنیتي شورا کې یو یو منشي کار کوي، چې د جمهور رییس له غوښتنې سره سم کارونه پرمخ وړي. اوس دلته (۳۰۰) کسان کار کوي. د کار دوه طریقې دي، یو منطقه یي چارې پرمخ وړي، بل یې استخباراتي، دفاعي، تروریزم ضد او نورې چارې پرمخ وړي.

او زه (ووډ) د افغانستان د چارو مسول یم. دا برخه د بوش د اداري پر وخت رامنځته شوه، چې د افغانستان اوعراق پر مســایلو بایــد فوکس وکړي. خو دا اداري د تغیر په حال کې دي، کېدی شي اوس منطقه یي بڼه خپله کړي، تېره ورځ مېرمن کلنټن وویل: ((د تېـــرو کلونو په ترځ کې د افغانستان په باب هڅې ډېـــرې ګټـــورې وې.)) مېرمن کلنټن سره افغاني هئیت هر څه په ډاګه وویل، مېرمن کلنټن وویل: ((یو مشترک دښمن لرو او باید په ګډه یې پـــر ضـــد مبـــارزه وکړو.)) دې خبرو کې د دواړو هېوادونو لوړ رتبه مامورین حاضر وو.

په دې غونډه کې وویل شول: زیات بریالیتوبونه ترلاسه شوي، خو بیا هم زموږ او د افغانستان پر وړاندې ډېره اوږده لاره پرته ده. تر دې وروسته پوښتنو ته وخت ورکړل شو.

د پاکستان استازي طارق چوهدري پوښتنه وکړه: تاسې د استخباراتي معلوماتو د ګډولو په باب خبرې وکړې، دا بې پیلوټه الوتکې چې کله بمباري کوي، دا بمباري سمه نه ده، موږ دا نه منو، چې زموږ پر خاوره دې تجاوز وشي.

ځواب: مشخص ځواب نه درکوم، په تېره بیا د عملیاتو په باب، خو د مشترکو وجو په باب غواړم، څه ووایم، زموږ دښمن مشترک دی، افغانستان باید د القاعدې پرضد په خپله خاوره او پاکستان باید په خپله خاوره کې مبارزه وکړي. خو که استخباراتي معلومات سره مشترک شي ښه به وي. امریکا غواړي دا درېواړه هېوادونه مشترکه همکاري ولري او خپل استخباراتي معلومات یو بل سره شریک کړي.

تر دې ځواب وروسته د افغانستان له هئیت څخه ښاغلي صبغت الله سنجر لاس پورته کړ او دا پوښتنه یې مطرح کړه:

د افغانستان مسایلو ته د ګاونډیو مخ راګرځول، په افغانستان کې د ډیموکراسۍ پر وړاندې ستر چلېنج نه دی؟ او بل ایا امریکا خو به افغانستان د نویمو کلونو په شان بیا هېر نه کړي او موږ به بیا ګاونډیو هېوادونو ته یوازې پرې نږدي؟

ځواب: کومه ډیموکراسي، چې اوس هلته شته، د افغانانو او د هغه هېواد د جمهور رییس د هلو ځلو برکت دی، کوم تهدید چې هلته شته، ستاسو شهامت به یې دفعه کوي، خو کوم ضمانت نه شته، چې بهرنیان به دا خطرونه رفع کوي، موږ پر افغانانو بـــاور لـــرو، دا چـــې امریکا پخوا غفلت کړی، موږ ورڅخه واقعاً خجالت یو، خو اوس موږ هېڅکله تاسې نه شو هېرولای، ډیموکراسي باید ستاسو د خلکو له خوا تضمین شي او موږ یې ملاتړ وکړو.

د عراق د استازي پوښتنه: ایا امریکا، چې له عراقه وځي، د عراق د اردو قوت یې د موازنې لپاره سنجولای دی؟

ځواب: زه ډېره ښښنه غواړم، زه د افغانستان د برخې مسول یم، زه سم ځواب نه شم درکولای، خو موږ پر عراقیانو باور لرو.

د سیمینار په دې برخه کې یو بل ویناوال راغـــی، ده د منځنـــي ختیځ او افریقا په باب خبرې وکړې. ده ډېره مـــوده د امریکـــا لـــه کانګرس سره کار کړی دی. ده هم وویل چې د نوې ادارې په راتګ سره د امنیت شورا ادارې هم تغیرېږي. اوباما په خپلـــې انتخابـــاتي مبارزې کې څرګنده کړې وه، چې د منځني ختیځ پـــه اړه خبـــرې کوي. د غزې مسلې دا خبره نوره هم ډېره مهمـــه کـــړه، چـــې دې موضوع ته زیاته توجه په کار ده، اوس چې په غزه کې کوم اوربند دی، موږ غواړو دا وغځوو.اوس سبا د مصر شرم الشیخ ته مېـــرمن هیلري کلنټن روانه ده، زه هم ورسره ځم. کوښښ کوو د غزې د بیا جوړونې لپاره پیسې راټولې کړو. د بهرنیو چارو اکثره وزیران، چې

مېرمن کلنټن سره ګوري، کوښښ کوو، چې د مرستې د زياتونې په باب ورسره خبرې وکړو. باور دی، چې اکثره به ددې وړانديز ملاتـړ وکړي، کار کوو، چې دلته د جګړې مخه ونيول شي، کوښښ کوو، چې ټوله سيمه د سولې په يو کنفرانس کې شامله کړو. د اوباما لـه خوا اجازه ده، چې د سولې ښې لارې چارې ولټـول شـي. اکثـره هېوادونه بايد د سولې په دې بهير کې شريک شي. اوباما تراوســه پورې څو ځله د منځني ختيځ مسئله ياده کړې ده. خو دا مســئله دلته پای نه مومي، دا بايد دوام پيدا کړي. د ايران په هکله کوښښ کوو، چې دا هېواد په سيمه کې د سولې لپاره همکاري وکړي، نه دا چې ترهګرو ډلو سره مرسته وکړي. اوباما وويل چې ايـران سـره مذاکرات کوو، خو تراوسه لا په دې برخه کې ستونزې شته، کله چې موږ له عراق څخه خپل لښکر وباسو، نو هيله من يو، چې عراق په سيمه کې خپل رول ولري.

پر دې وخت د پوښتنو نوبت راورسېد:

د پاکستان استازي طارق چوهدري پوښتنه وکړه: لـه ايـران او منځني ختيځ سره مو د مشکل د حل لپاره کوم وخت ټاکلی دی؟

ځواب: که وخت ورته تعين شي، نو دا به درسته نه وي، ځکه چې کېدی شي ځينې خلک دا وخت شاته وغورځوي.

د عراق يو استازی: ايران غواړي ذروي وسله ترلاسه کـړي، ددې معضلې په باب د اوباما نظر څه دی؟

ځواب: د سولې او منطقې د ثبات لپاره زموږ تعهد دی، موږ داسې هلې ځلې کوو، چې زموږ خبرې د سولې خواته لاړې شي او ایران د سیمې هېوادونه تهدید نه کړي.

د مصر د استازي پوښتنه: د امریکا پخوانۍ ادارې تعهد کړی و؛ د فلسطین او اسرائیلو د دوو خپلواکو هېوادونو د جوړېدو نظـر بــه تائیدوي، خو اسرائیلو پر غزه حمله وکړه او درې زره فلسطینیان یې ووژل، مخکنۍ ادارې د عراق د ذروي وسلې مخالفت هم کړی و، یو ملیون کسان یې هم ووژل، د یو ملیون عراقیانو او شپږ ســوه زره فلسطینیانو تر وژنې  وروسته د امریکا پالیسي څه مانا؟

ځواب: دا هر څه په تېرې ادارې پورې اړه لري، خو زه نه غواړم پر تېرې ادارې باندې انتقاد وکړم، کله چې پوځي عملیات پیل شي، نو هلته د ملکي تلفاتو پېښېدل ممکن وي. موږ غواړو عراقیان په خپلو پښو ودرېږي او خپل  مشکل په خپله حل کړي.

د اردن هېواد د استازي پوښتنه: د (ټایمز) ورځپاڼې لــه مخــې د اسرائیلو د بهرنیو چارو وزیر  ویلي، چې له حماس سره بــه خبــرې وکړي. که  دا رښتیا وي، دا خبرې به له قید او شرط پرته وي  او که نه کوم حکمت به په کې وي؟

ځواب: د مصر د شرم الشیخ په کنفرانس کې به محمود عباس او نور قانوني واک  ولري، موږ  د هغوی ملاتړ کوو. حماس داســې یــو سازمان دی، چې له تروریزم او وحشت څخه کار اخلي، مخکې چې د سولې په اړه  د دوی او د اسرائیلو ترمنځ کوم توافقات شــوي وو،

دوی هغه نه مراعتوي، خو د یوې ملي پخلاینې ملاتــړ کــوو، مــوږ داسې یو فلسطین غواړو چې ازاد او مستقل وي، ګاونډیو هېوادونو ته خطر نه وي، اسرائیلو سره ښه ګاونډیتوب ولري او ژوند ورســره وکړای شي.

د عراق د استازي پوښتنه: که ایران سره د اوباما خبرې ناکــامې شي نو څه به کېږي؟

ځواب: زه په دې باب اوس بشپړ ځواب نه شم درکولای.

د امنیت شورا او د کانګرس په استازیتوب د دوو ویناوالو تر خبرو وروسته د بهرنیو چارو وزارت په استازی راغلي کس خبرې وکړې. دی په بهرنیو چارو وزارت کې د جنوبي او مرکزي اسیا مسول دی. ده د خپلو خبرو په پیل کې وویل: هیله ده چــې پــه ملــي دفــاع پوهنتون (NDU) کې مو پروګرام ښه تېر شوی وي، زه په بهرنیو چارو وزارت کې د جنوبي اسیا چارو لپاره دویم مرستیال یم، په مرکــزي اسیا کې مې تخصص زیات دی، خو د جنوبي اسیا په برخه کې هم معلومات لرم، د بهرنی پالیسی په برخه کې موږ غواړو، د نورو ملاتړ ترلاسه کړو.

د سریلانکا هېواد استازي پوښتنه وکړه: د سریلانکا پــه بــاب د هندوستان د پالیسی په اړه ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: موږ چې له هندوستان سره کوم روابط لرو، هغه د پاکستان او سریلانکا په قیمت نه تمامېږي، موږ غواړو ټولو سره ښــه روابــط ولرو. موږ د سریلانکا حکومت او تامیل پړانګان تشویقوو، چې جنګي

حالت رامنځته نه کړي. موږ هیله لرو، چې د سریلانکا حکومت داسې طریقه وکاروي، چې ملکي تلفات رامنځته نه شي.

یو بل برخوال دوه پوښتنې مطرح کړې: ستاسو یو مسول د یوه قوي مرکزي حکومت په باب خبرې وکړې، خو اوسنی حکومت پر ټول افغانستان واکمن نه دی، کرزی هم قوي شخص نه دی، پخوا داسې کوم مثال لرئ، چې کوم حکومت داسې یوه بېلګه وي؟

ـ هندوستان ولې تراوسه پر دې نه دی بریالی شوی، چې خپل هېڅ ګاونډي سره ښه روابط ولري؟

ځواب: لومړی به دویمې پوښتنې ته ځواب ورکړم: زه په دې موقف کې نه یم، چې ووایم هندوستان چا سره ښه روابط ولري او چا سره یې ونه لري. موږ هیله لرو زموږ او د هندوستان روابط نور هم زیات شي، هر ګاونډی له خپل ګاونډي سره مشکل لري، خو موږ هیله لرو، چې د هند روابط له نورو سره ښه شي.

د لومړۍ پوښتنې په باب باید ووایم: د افغانستان په باب باید دقیق بحث وکړو. ځکه هغه هېواد له بهر څخه یو ډول ښکاري، خو په داخل کې یې واقعیتونه بل ډول دي. د اوباما اداره ژمنه ده، چې نور هېوادونه هم په دې سوله کې شامل شي. امریکا په یوازې ځان دا مشکل نه شي حلولای. هره اداره د خپل کار په پیل کې خپل مسیر ټاکي. په تېره اوونۍ کې موږ ستراتیژیک مذاکرات درلودل، طبعاً دا ډول مذاکرات مسیر ته بدلون ورکوي.

د نیپال هېواد استازی (ډابرسنګ ګورن): جنرال بارنو پرون وویل: چین او هندوستان زموږ رقیبان دي، خو دښمنان نه دي، که دوی خپلې ایډیالوژۍ ته بدلون ورکړي، نو بیا به هم رقیبان وي؟ د نیپال په باب مو نظر څه دی؟

ځواب: زه خپله هلته حاضر نه وم، چې جنرال بارنو څه ویلي دي، نو ځکه قضاوت هم نه شم کولای، چین، هندوستان او روسیه، چې د نفوس او مساحت له مخې یې ارزوې، نه شې کولای له وړو هېوادو سره یې پرتله کړې، تاسې نه شئ کولای ووایئ دوی رقیبان دي که دوستان، له ګاونډیانو سره د چین اړیکي ځینې وخت دوستانه وي، د امریکا سیستم داسې دی چې همېشه رقیبانه دی، یانې د رقابت خصلت لري، ان زموږ خپل داخلي سیستم هم د پخــواني تجــارت غوندې پر رقابت ولاړ دی. تاسو دلته د بېلابېلو برخو ترمنځ رقابت وینئ، ځینې کسان پر دې رقابت انتقاد هم کوي، خو موږ په دې کې یو قوت وینو، چین او امریکا اوس ښه روابط لري، خو ددې ترڅنګ رقیبان هم دي. د نیپال په باب باید ووایم، چې امریکا غــواړي لــه نیپال سره یوه ښه رابطه ټینګه کړي، چې هغوی پرمختګ وکړي اود خپلو خلکو غوښتنو ته ځواب وواییي. امریکا د نیپال ملاتړ کوي. زموږ هیله ده، چې نیپال او ګاونډیان یې دا ستونزې حل کړي، موږ ته پته ده، چې دا موضوع حساسه ده، اندېښنه ورته شته، خو موږ هیلــه لرو، چې دا مشکلات هغوی په خپله حل کړي، د امریکا مداخلې ته په کې ځای نه شته.

د افغانستان له هئیت څخه ښاغلي صبغت الله ســنجر پوښــتنه وکړه: زه ستاسو دا نظر تائیدوم، چې له افغانستانه لرې پر افغانستان قضاوت سم نه برېښي، رابرټ ګیټس ویلي چې موږ افغانستان کې ایډیال حکومت نه شو جوړولای، دا څه مانا لري؟

ځواب: زه د رابرت ګیټس د کلماتو پر جوړښت نه پوهېږم، خو زه دومره  باید ووایم، چې افغانستان کې باید داسې یو حکومــت وي، چې د خلکو غوښتنې پوره کړي. یوځي حل لاره، یوازینۍ حل لاره نه ده.

د ترکیې هېواد د هئیت په استازۍ یو تن پوښتنه وکړه: د مرکزي اسیا د هېوادونو په باب مو نظر څه دی؟

ځواب: دا زما د کار موضوع نه ده، نو ځکه په دې باب دقیق څه نه شم ویلای، خو دلته داسې فکر کېږي، چې دا هېوادونه د لویې لارې پر سر پراته هېوادونه دي، ددې هېوادونو تر ازادېدو وروسته دلتــه داسې فکر کېږي، چې دا هېوادونه باید یو ځل بیا له سره مطالعــه شي.

د سیمینار ددې برخې بل ویناوال، د ملي دفاع وزارت کارکوونکی و، ده د دفاع وزارت په بېلابېلو ادارو کې کار کړی، په دې وزارت کې د سیمه ییزو مطالعاتو د څېړنو مسول و. ده په خپلو خبرو کې وویل: ملي امنیت شورا کې د دفاعي پالیسې چارې پرمخ وړم، تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته کانګرس جمهور رییس تــه وویــل چــې د امنیت شورا سیستم باید تغیر شي. هغه وخت هماهنګي نه وه، نو

ځکه یې دا اداره جوړه کړه، دنده یې دا ده، چې د ټولو وزارتونو کارونه باید هماهنګ او جمهور رییس ته یې وړاندې کړي.

د دفاعي پالیسۍ دفتر د دفاع وزارت ګزارشونه منظمول، پر دې برخې زه کار کوم، همدارنګه نورې برخې. افغانستان ته یو ځانګړی دفتر لرو، موږ شپږ بېلابېلې څانګې لرو، چې پر ذرویي، ستراتیژیکو او نورو مسایلو کار کوي. په یوځې برخه کې جمهور رییس ته بیانیې هم لیکو، د دفاع وزارت پر بودجې هم کار کوو، په جنوبي کوریا او نورو سیمو کې زموږ د عسکرو د شتوالي او انتقال مسایل څېړو او همدارنګه له جمهور رییس سره د عاجل تماس نیولو چارې هم ترسره کوو.

د مصر استازي: د روسیې د پرمختګ، له مصر سره د رابطې او ساړه جنګ په باب پوښتنه وکړه.

ځواب: دا تر وخته دمخه خبرې دي، د اوباما د ادارې ټولې (۴۷) ورځې تېرېږي. موږ باید منتظر پاتې شو، چې نوې اداره څه پالیسي غوره کوي.

تر دې وروسته ما (یون) هم ورڅخه یوه پوښتنه وکړه: افغانستان ته درې شیان اساسي خطرونه دي. ترهګر، مخدره مواد او جنګسالاران. ددې دوو په باب ستاسو پالیسي له پیله بیا تر دې دمه مشخصه وه، خو د جنګسالارانو په باب مو پالیسي مشخصه نه وه، ددې پرځای چې مهار یې کړئ نور امتیازات مو هم ورته ورکړل، ایا

ددې نوې ادارې په راتګ سره به د جنګسالارانو پر وړاندې ستاسو په پالیسۍ کې کوم تغیر راشي او که نه همغه زړه په زړه به وي؟

ځواب: راځئ چې په ډېر احتیاط خبرې وکړو، زموږ پالیسي د تغیر په حال کې ده، کېدی شي د نوې میاشتې په بهیر کې تکمیل شي، کېدی شي دا پالیسي دې حالت ته تغیر ورکړي. نوی جمهور رییس وایي موږ باید د خپلې اردو وظایف مشخص کړو، زه هم دا وایم چې موږ باید احتیاط وکړو. د افغانستان په باب پالیسي باید ټول مسایل په پام کې ونیسي، په دې پالیسۍ کې باید ټول اقتصادي، سیاسي او پوځي مسایل په پام کې ونیول شي.

د یو عربي هېواد استازي پوښتنه وکړه: دفاع وزیر رابرټ ګیټس په یوه مقاله کې، چې تېره میاشت یوې ورځپاڼې خپره کړې وه، په منځني ختیځ کې یې د یوه پوځي ساختمان د جوړېدو خبره کړې وه. دا خبره به پر منځني ختیځ څه تاثیرات ولري؟

ځواب: ټول خدمات چې له پورته تر کښته دي دا خدمات باید پوره شي. زموږ څېړنه له ۲۰۰۲م کال څخه پیل شوې ده. له تجهیزاتو، پرسونل او امکاناتو نیولې تر اهدافو پورې دا ټول مسایل په کې شامل دي.

د عراق استازی: له عراقه تر وتلو وروسته به هلته پوځي مرسته څنګه کېږي؟

ځواب: زه د (۲۰۱۰م) کال د بودجې پر مشخصاتو نه پوهېږم چې تراوسه تر کار لاندې ده، جمهور رییس وویل چې د اګست تر (۱۱)

وروسته به له عراقه د عسکرو وتل پیل شي، د تروریزم پر ضد جګړه به د عراق پر غاړه کېږي که نه؟ زه اوس د هغه وخت پر لګښتونو نه پوهېږم.

د عمان استازی: زما سوال د بحـري عمليـاتو پـه بـاب دی؟ د (هرموزتنګي) د بندولو احتمال دی، څوک ددې مسلې تر شـا ولاړ دي؟ دوی څه غواړي؟ دې مسلې مورږ ټولو ته اندېښنه راپیدا کـړې ده.

ځواب: دا پوښتنه د سپیني ماڼۍ لوړ رتبه مامورینو ته راجع کېږي، هغوی باید دا مسئله د بحرونو د ساتنې لـه پلـوه وڅېـړي، ایـا د سومالیې له حکومت سره معامله وکړي؟ یا له بحري غلو سره؟ او یا هم له بحري ځواکونو سره؟ اوس هم زمورږ د بحري ځواکونو یوه عمله هلته په دې عملیاتو کې شامله ده. یو پلان باید جوړ شي، خو وخت او زمان غواړي، کله چې دا خلک نیول کېږي، چېرته یـې یوسـو؟ چېرته یې محاکمه کړو؟ ځکه چې نړیوالې اوبه یوه اوږده سلسـله لري. (کینیا) ویلي: که مورږ یې ونیسو، نو مورږ یې باید محاکمه کړو، زه پر ډېرو جزئیاتو نه پوهېږم، خو ځینې عملیات محرمانه دي، تشریح یې اوس ماته مناسبه نه ښکاري.

د پاکستان د استازي پوښتنه: له (۲۰۰۱م) کال څخه د امریکا اردو په افغانستان او عراق کې دخیله ده، دا چې کامیاب دي که نـه؟ دا بیله پوښتنه ده، خو ایا د امریکا ځوانان تراوسه پورې له دې جګړو څخه ستړي شوي نه دي؟

ځواب: پخوا دا اندېښنه وه، خو اوس نه شته، اوس هم مــوږ ډېــر ځوانان لرو، چې په خپله حاضرېږي افغانستان ته لاړ شي، ځکه چې دوی ته خپل هېواد ګران دی، نو  ځکه یې دفاع لپاره هلته ځي. د امریکا حکومت اعلان کړی؛ که څوک هلته ځي، نو امتیازات یې هم زیات دي، د امریکا ځوانان غواړي نورو هېوادونو ته لاړ شي، هغــه هېوادونه هم وګوري، هلته کار وکړي، مختلف دلایل دي، خو څوک چې داوطلبان دي د هغوی شمېر زیات دی. دا شمېر ان دومره زیات دی، چې د سږ کال په اوړي کې یې د داوطلبانو نوملیکنه بنده کړه. ځکه چې څوک هلته تللي، نه غواړي، چې ژر بېرته راشي، ان موږ تر خپل مهالوېشه دمخه یو.

د پاکستان د همدې استازي ( طارق چوهــدري) بلــه پوښـــتنه: پاکستان غواړي ځان له دې افراطینو خــلاص کــړي، خــو امریکــا پاکستان ته (F-16) الوتکې ورنه کړې!

ځواب: په پوښتنه مو سم پوه نه شوم، هیله ده د ټلېفون نومرې مو راولېږئ، ځواب به یې درولېږم.

د افغانستان له هئیت څخه سنجر صیبپ بله پوښتنه وکړه: اوباما په خپل انتخاباتي کمپاین کې وویل: ترهګري سرحد نه لــري، هــر چېرته چې وي، هلته به ورپسې ځو، ایا اوس به له افغانستانه لــرې نورو سیمو ته هم د ترهګرۍ پر ضد لاړ شي که نه؟

ځواب: زه دې پوښتنې ته فکس ځواب نه شم ورکولای. ددې لپاره به دا نوې اداره یوه نوې ستراتیژي جوړوي، تروریزم ضد مبارزه کې

به کوم تغیر رانه شي، ټول پر دې باور دي، چې دا یو خطر دی، یوازې کوم څه چې بدلېدلای شي، هغه په دې برخه کې د ستراتیژۍ بدلون دی. ستراتیژي هر وخت بدلېږي، نه یوازې په پوځي برخه، بلکې په نورو برخو کې هم د تغیر وړ ده.

همدې پوښتنې سره په ملي امنیت شورا کې پروګـرام پـای تـه ورسېد او د هوټل پر لوري رهي شو.

# د سیمینار پنځمه ورځ


## (په واشنګټن کې د ځینو ځایونو لیدنه کتنه)

د فبرورۍ (۲۸)مه د شنبې ورځ له ټاکلي مهالوېش سره سم، د تفریح او چکر ورځ وه، پر دې ورځ مو باید په واشنګټن کې ځینې مهم او تاریخي ځایونه کتلي وای. که څه هم په امریکا کې تاریخي ځایونه نه شته؛ اکثره ودانۍ په کې نوې جوړې شوې دي، ډېر تاریخي ارزښت نه لري، خو بیا هم د امریکا د تاریخ په اندول هغوی ته ډېر ارزښت لري. عجیبه خبره خو لا داده، چې د امریکا متحده ایالاتو د حکومت په چوکاټ کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت تشکیل اصلاً نه شته، رسنۍ ټولې ازادې او یا په اصطلاح شخصي دي، یوازې یو څو لیدنۍ او اورېدنۍ رسنۍ له بهرنیو چارو وزارت څخه الهام اخلي، نور نو هر څه ازاد دي.

د واشنګټن د ځینو سیمو د لیدنې په لارښوونه کې یې لا دمخه موږ ته ویلي وو، چې هر ډول لباس کې راتللای شئ او همدارنګه خپل یاران دوستان هم رابللای شئ. د سهار (۹) بجې باید په هوټل کې راټول شئ، همداسې وشول، نهه بجې او پنځه لس دقیقې مو له هوټله حرکت وکړ. پروفیسور کول ډن کورفیس (Col.Don Curfiss) زموږ لارښود و. نوموړي پروفیسور وویل: درې کاله کېږي، چې په نیسا سنټر کې کار کوم، دلته درس ورکوم، خو کله کله مېلمنو ته

هم چکر ورکوم. لومړی یې د واشنګټن ښار د جوړېدو په باب خبرې وکړې، چې څنګه د دوو ایالتونو ترمنځ پرې موافقه وشوه. ده وویل: دا د اساسي قانون په واسطه رامنځته شوی دی. په پیل کې موږ دوه اساسي قوانین درلودل، چې د هغو په واسطه امریکا منځته راغله، یو قانون ناکام شو، نو بیا سیاستوالو بل اساسي قانون جوړ کړ، چې قوي مرکزي حکومت یې رامنځته کړ، نــو ځکــه واشــنګټن ددې مرکزي دولت پایتخت شو، له دوو ایالتونو څخه یې یوه یــوه برخــه واخیسته یانې له ویرجینا او مریلینــډ څخــه، تــر هغــه وروســته انجنیرانو ورته نقشې جوړې کړې او ورو ورو دا ښار رامنځته شــو. اوس لومړی د یوه پارک خواته ځو، دې ته ملي پارک وایي، د اوباما د جمهوري ریاست د تحلیف مراسم همدلته ترسره شول، د جــورج واشنګټن ابده (یادګاري څلی) هم همدلته دی. واشنګټن ښار پــه جبه زار کې جوړ شو، ځمکه کمه وه، چې تاریخي ابدې یا څلي پــه کې جوړ شي، هر تاریخي څلي د جوړېدو پر وخت یو جنجال درلود. د اوباما د تحلیف تاریخي مراسمو لپاره نږدې یو نیم ملیون کســان همدې ملي پارک ته راغلي وو. د امریکا د یو بل پخواني ولسمشــر ابراهم لینکن (Abraham Lincoln) ابده هم همدلته ده. اوس خلک پوهېږي، چې دا اساسي قانون څومره قوي دی. په پیل کې هر ایالت

**غوښتل چې یوې بلې خواته لاړ شي، خو د ابراهم لینکن مفکوره دا**




**وه، چې داسې یو میتود باید جوړ شي، چې ټول ایالتونه د یوه اساسي قانون تر چتر لاندې راشي.**

**کله چې ملي پارک ته کښته شو، نو رښتیا هم ډېر لوی پارک و، زموږ ژباړن وویل چې د اوباما د تحلیف په مراسمو کې ډېر زیات خلک راغلي وو، سره له دې چې پر هغه ورځ ډېر یخ هم و، خلک په منظمو لیکو کې ولاړ وو او دلته د پښې د ایښودلو ځای نه و، د امریکا له ګوټ ګوټ څخه په ملیونو خلک راغلي وو، خو ټولو ته لا ددې امکان پیدا نه شو، چې تر دې پارکه ځان راورسوي. په پارک کې پر دې ورځ هم خورا یخني وه، په واشنګټن کې داسې توند او تېز باد لګېږي، چې لکه غشي غوندې د**



**سړي له سینې وځي، عیناً لکه په سخت ژمي کې چې څوک د کابل ښار په پامیر سینما سیمه کې ولاړ وي او د چهلستون له لوري یخ باد او سیلۍ ته یې خپله سینه نیولې وي.**

تر ټولو دمخه د ابراهم لینکن څلي ته لاړو. ډېره لویه ګونبزه یــې پرې جوړه کړې وه، د اعلیحضرت نادرخان پر مقبــره چــې کومــه ګونبزه جوړه ده، دا وړه ده، خو هغه ډېره لویه او مجلله ده. د ابراهم لینکن مجسمه پر یوه لوړ ځای جوړه شوې وه، لینکن ته امریکایان زیات احترام لري، ده د امریکا د یووالي مفکوره رامنځته کړه، عملاً یې دېته کار وکړ او د بشري تعصبونو پر ضد یې مبارزه وکړه. لینکن په خپله یوه وینا کې وویل: ((داسې یو حکومت باید رامنځته شي، چې دخلکو له خوا وي او د خلکو لپاره وي.)) امریکا په کورنیو جګړو کې ډېر زیات رنځ وګاله، (۶۲۰۰۰۰) امریکایان په کورنیو جګړو کــې ووژل شول. دې جنګ امریکا ته ډېر زیان ورسوه، خو یوه ګټه یې دا وه چې غلامي یې له منځه یوړه. د لینکن تر مړینې وروسته بیا یــو وخت د تور پوستو مشر مارتین لوترکینګ (Dr.Martin luther king) د



همدې لینکن د وینا پر همــدې ځای ودرېد، په لکونو خلک ورته راټول شوي وو: هغه په خپله وینا کې وویل:

((موږ باید د خپل کرکتــر لــه مخې وارزول شــو، نــه د رنــګ، جنس، مذهب او نورو له مخــې، زموږ هېواد خپله له ځان سره مجادله کړې، دلته باید کرکتر معیار وګڼل شي، نه نور ارزښتونه...))

د ابراهم لینکن څلي تر لیدو وروسته مو درې څلور دقیقې پلــی مزل وکړ، هوا خورا سړه وه، لږ څه وړاندې هلته د هغو امریکایــانو لپاره یادګاري څلی جوړ شوی و، چې د ویتنام په جګــړه کــې وژل شوي دي. د امریکا تر جوړېدو وروسته، د ویتنام جګړه د امریکایانو لپاره یوه ډېره ترخه خاطره او ترخه تجربه وه. په دې جګړه کې (۵۸) زره امریکایان وژل شوي دي. امریکایانو هم پر ویتنام ډېره بمباري کړې او تر یو ملیون زیات ویتنامیان یې وژلي دي، خو جګړه داسې یو تریخ سبق وي، چې د ملامتۍ بار یې هر وخت د ناکام پر اوږو بار وي، که څه هم ویتنامیانو تر امریکایانو په لسګونو ځله زیات زیــان وزغمه، خو په پای کې بری د ویتنام او ماتې د امریکا په برخه شول. کله چې جګړه پایته ورسېده، نو د امریکا پر حکومت، د جګــړې د قربانیانو د یادونې په اړه ډېر فشار راغی، بېلابېلې طرحې وړانــدې شوې، یوه طرحه همدا وه، چې د ټولو لپاره باید یو ګډ یادګاري څلی جوړ شي. ددې څلي د جوړولو لپاره بیا هم د نقشو د جوړولو مسئله مطرح شوه. اعلان وشو، چې هر چا ددې څلي لپاره تر ټولو ښــه او معقوله نقشه جوړه کړه، نو همغه به عملي کېږي، ډېرو لویو کمپنیو او سترو انجنیرانو ډېرې عصري او لویې نقشې جوړې کړې، خو پــه پای کې د یوې ځوانې امریکایي انجنیرې، چې تر ټولو یې عمر کم و، یانې تر (۲۲) کلونو لوړ نه و، د هغې نقشه ومنــل شــوه، د هغــې د نقشې طرحه داسې وه، چې له یــوې ټیټــې نقطــې پیلېدلــه، بیــا

همداسې مخ په بره ختله او بېرته ورو ورو مایله کښته کېدله یـانې داسې:




ددې علت دا و، چې کله جګړه پیل شوه، نو د تلفاتو شـمېر ډېـر زیات نه و، ورو ورو تلفات زیاتېدل، دا لیکه چې پورته ختلې د تلفاتو د زیاتېدو ښکارندویي کوي، د جګړې د پای پر وخت چې امریکا نوره


یون ددې یادګاري ځلي مخې ته

له ویتنام ځخه په شا کېدله، د تلفاتو شمېر راکمېده، نو په دې ډول دا لیکه د تلفاتو د ځومره والي ځرګندونه کوي، ددې یادګاري ځلي لپاره د یوه لوی حوض په شان ساحه په پام کې نیول شوې ده. لـه ښي او کیڼ لاس دواړو خواوو ځخه ورته لاره شته، خو اصلاً له کیڼ اړخ ځخه مخ ښي پلو ته باید سړی حرکت وکړي، چې ټول نومونـه وګوري. نومونه د الفبې په ترتیب لیکل شوي او زماني محتوا هم په

پام کې نیول شوې ده. له لومړني عسکره نیولې بیا تــر وروســتني عسکره پورې د ټولو نومونه او رتبې پرې لیک دي او هم د مرګ کال. ټول نومونه پر تورو مرمرینو ډبرو لیک شوي، لکه د تورو کاشي ډبرو په شان ښوی ډبرې دي، چې ښیښې غوندې ښکاري، بادو باران پرې تاثیر نه کوي. کله چې سړی دا صحنه وګوري، هلته سړي ته د یوې لویې غمیزې څرګندونه کوي، په تېره بیا د داسې یو ناکامې جګړې او غمیزې چې کوم مقدس هدف هم نه تعقیبوي، بل هېواد ته پــه جګړې پسې تللی یې او ماته دې هم په نصیب شوې وي. ما په ډېر ژور لید سره یو زیات شمېر نومونه تر سترګو تېر کړل، خــو د ټولــو نومونو لوستل ډېر ستونزمن کار و. همــدا وخــت هــم یــو شــمېر امریکایان راتلل او د ځلي کښتنۍ برخې ته یې د تازه ګلانو ګېــډۍ ایښودې، څو عکسونه مې لا داسې هم ولیدل، چې تازه پــه ګلانــو پوښل شوي وو او د ځلي لاندینۍ برخې کــې ایښــودل شــوي وو. همدلته مې یوه ښځه او یو سړی هم ولیدل، چې په ژړا یې سترګې سرې وې، کله چې یې تصویرونو ته کتل، نو خپله ژړا یې نــه شــوه ټینګولای، زمونږ ژباړنې (فوزیې) مونږ ته وویل: دلته هره ورځ همــدا حال وي، د جګړې د کلیزې پر مهال خو دلته د پښې ایښودلو ځای نه وي او ټول د خپلو خپلوانو د درناوي لپاره راځي. سره له دې چې د ویتنام او امریکا تر جګړې څو لسیزې تېرېږي، خــو لا د جګــړې خاطرې او ټپونه لکه د پرون هسې ژونــدي دي. همــدې یادګــاري ډبرلیک ته مخامخ د څو عسکرو او طبي پرسونل یوه داسې مجسمه

ولاړه ده، چې له ورايه د سړي پام ځانتــه را اړوي، دا داســې يــوه مجسمه ده، چې نظامي طبي پرسونل، د جګړې پر مهال يــو ټپــي



عسکر د جګړې له ليکو انتقالوي او هغه ته لومړني طبي خدمتونه



ترسره کوي. کله چې تر جګړې وروســته د جګــړې د وژل شــويو

عسکرو په یاد څلی جوړېده، نو د جګړې ټپیانو، معیوبینو او طبـــي پرسونل اعتراض وکړ، چې زموږ یادونه ولې نه کېږي، موږ ته نور څه پاتي؟ همغه  وو، چې حکومت ددوی د یاد او حق تازه ساتلو په خاطر دا مجسمه جوړه کړه. کله چې د دوی لپاره دا یادګاري مجسمې په پام کې ونیول شول، نو بیا له جګړې څخه راستانه شویو، روغــو او ژوندیو سرتېرو اعتراض وکړ، چې زموږ قرباني نو څه شوه؟ ممور ته هم باید یو یادګاري څلی جوړ شي، نو هغوی ته هم دا مجسمې پــه پام کې ونیول شوې. د جګړې له دې غمجن یادګاري څلي څخه د



ژوند د مانۍ (سپینې مانۍ) پر لوري وخوځېدو. سپینه مــانۍ چـــې اوس د نړۍ د ګڼو هېوادونو او سیاسي ډلو سیاسي برخلیک ورپورې تړلی دی د نړۍ په رسنیو کې ډېره یادېږي. تر هغې دمخه مو په ښار کې څو نورې ودانۍ هم ولیدلې، اکثرو ودانیو خړبخن رنګ درلــود،

لکه طبیعي رنګونه، د هند و پاکستان په شان تېز رنګونه، چې هره شېبه د سړي زړه وهي، هلته نه دي کارېدلي، ډېرې ودانۍ یې اصلاً هېڅ رنګ ته اړتیا نه لري. کله چې سپینې ماڼۍ ته ورسېدو، نو لـه موټره کښته شو، خورا یخ و، یخ شمال هم لګېده، د سپینې مـاڼۍ مخې ته یو لوی چمن و، چې ونې او کبلې په کې وې، ونې یې ښـې دنګې وې، خو پر شنه چمن یې د یخنۍ له املـه یـو قسـم ټـوکر غوړولای و، چې یخ یې خراب نه کړي. هغه صفت، چې موږ د سپینې ماڼۍ اورېدلی و، هغه شان نه و. په تېره بیا د شاعرانو او ناظمانو پـه کلام کې. سپینې ماڼۍ ته ځکه سپینه ماڼۍ وایي، چې د انګرېزانو د واکمنۍ پر مهال دې ودانۍ ته اور اچول شوی و، ټوله ودانۍ لـوګي توره کړې وه، بیا یې څو ځله رنګ کړه او په سپین رنګ یې رنـګ کړه، له همغه وخته په سپینه ماڼۍ ونومول شوه. پخوا به هر سـړی سپینې ماڼۍ ته په ازادانه ډول تللای شو، خو د سپټمبر د ۱۱ نېټې تر پېښې وروسته د هر چا تګ اوس هلته ازاد نه دی، موږ هم بایـد د سپینې ماڼۍ داخل ته ورغلي وای، خو څرنګه چـې اوس هلتـه د بهرنیو تګ یو پروسیجر غواړي، په حقیقت کـې یـو څـه سـتړی کوونکی هم دی، نو ځکه زموږ مېلمه پالانو لازمه ونه ګڼله، چې هلته لاړ شو. لنډه دا چې سپینه ماڼۍ یو عادي ماڼۍ ده، چې په واشنګټن کې نورې په سلګونو ودانۍ تر دې لوکسې، عصري او ښکلې دي. خو څرنګه چې سپینه ماڼۍ کې د جمهور رییس د کار دفتر دی، نو لـه سیاسي پلوه ډېره ارزښتمنه ګڼل کېږي.

افغانستان کې ځینې خلک د سپینې ماڼۍ او د کانګرس د ودانۍ ترمنځ توپیر نه شي کولای. د کانګرس ودانۍ رښتیا هم ډېره لویه، لوکسه او تاریخي ده. د سپینې ماڼۍ مخې ته یو شین چمن دی، چې



د اوسپنې یوه کټاره ترې تاوه ده. په یوه ګوټ کې د ساتونکو یوه خونه هم شته، چې ظاهراً په کې څوک نه ښکاري، مخې چمن کې یې هم ډېره ګڼه نه وي، همدې مخې ته پر غځېدلي سړک هم، اوس عام موټر نه پرېږدي او د سپټمبر د ۱۱ نېټې تر پېښې وروسته یې له دې ځای څخه پر تېرېدونکو لارو د اوسپنې د یو متره ستنو په واسطه خنډونه جوړ کړي دي. همدې سپینې ماڼۍ ته ورڅېرمه په نږدې سل متری کې د جمهور رییس کور هم دی، پخوا به بوش او مېرمن یې له سپینې ماڼۍ تر خپله کوره پلې تګ راتګ کاوه، اوس اوباما او د هغه مېرمن ورته راځي. د سپینې ماڼۍ مخې ته په نسبتاً لوی پارک کې یوه پلاستیکي کېږدۍ هم ولاړه ده، چې له شاوخوا

ودانیو او طبیعت سره هېڅ اړخ نه لګوي، کله چې کېږدۍ ته ورنږدې شوم، نو ګورم چې یو ببر سری سړی په کې ناست دی، د عکس اجازه مې وغوښته، په مینه او موسکا یې اجازه راکړه، له ژباړنې فوزیې څخه مې پوښتنه وکړه، هغې وویل: دلته اصلاً یوه ښځه کېني، (۳۷) کاله کېږي، چې هغه مېرمن دلته ناسته وي، د امریکا قانون دی، چې څوک چېرته کېني تر هغه چې هغه ځای په خپله خوښه خوشې نه کړي، پولیس حق نه لري، چې هغه په زوره وشړي،




خو که د یوې دقیقې لپاره هم دا ځای خوشې کړي، پولیس حق لري، چې هغه ځای ونیسي. دا مېرمن اصلاً د ذروي وسلو د جوړولو مخالفه ده، په همدې ځای کې د امریکا د واکمنو پر وړاندې دې خپله مبارزه پیل کړې او ویلي یې دي، تر څو چې امریکایي چارواکي د ذروي وسلو جوړول بند نه کړي، دا به خپل اعتصاب ته دوام

ورکړي، له (۳۷) کالو راهیسې دا همدلته اوسېږي، څرنګه چې دلته د ژوند هېڅ ډول اسانتیا نه شته او په سخت ژمي کې هم دا همدلته په همدې یخه پلاستیکي کېږدۍ کې اوسي، نو کله چې خــوراک، معذرت او یا بل ضروري کار ته ځي، نو خپل مېړه او یا زوی پر خپل ځای کېنوي، چې پولیس دا ځای ترې ونه نیسي، نو په دې ډول یې دا دی (۳۷) کاله پوره کړل، د سړي عقل کار نه کوي، کله چې څوک د سپینې ماڼۍ لیدو ته راځي، نو یو ځل ضرور دا ښځه هم ګــوري، عکسونه ورسره اخلي او ځینې خلک ورته پیسې هم ورکوي. دا کار اوس دېته د عادت بڼه غوره کړې ده. همدې پلاستیکي کېږدۍ ته ورځېرمه یې د بوش هغه عکس هم ایښی و، چې په لونګۍ کې جوړ شوی و، مــا فکــر وکړ، چې د اســتاد رباني عکــس دی، ځکه ما په انټرنیټ کې لیدلی و، یــانې دا چې استاد رباني او بوش یــې ســره مکس کړي او یو عجیب و غریب تصویر یې ترې جــوړ کــړی دی، د هغه عکس مې هم واخیست.



جورج بوش د برهان الدین رباني په څېره کې

د پارک په وروستۍ برخه کې واړه زینتي بوټي وو، چې کابل کــې هم ډېر لیدل کېږي، لکه د تخت بڼه لري، هلته ودرېدم، بې شمېره

چنچنې په دې بوټو کې وې، یو کس راغی، دانه یې ورتــه واچولــه، دومره ګڼې مرغۍ له ما راټولې شوې، چې ما په خپل عمر کې دومره مرغۍ له انسان سره دومره نږدې نه وې لیدلې، قرار د چنچڼو منځ کې کېناستم، هغوی له ماڅخه هېڅ وېره ونه کړه، په ارام زړه یـــې خپله دانه وخوړه، هلته ماته پته ولګېده، چې دلته ولــې مرغــان، ځاروي او نور حیوانات له انسانانو نه ډارېږي، ځکه چـــې دلتـــه پـــه انسان کې د انسانیت د جوهر (محبت) عنصر ډېر پیـــاوړی شـــوی. زموږ په هېواد کې خو له انسانانو (وګړو) مرغان او ځاروي څه چې خپله انسانان هم ډارېږي. مانا دا چې هلته په انسان کې د انســـان اصلي جوهر (مینې) وده کړې ده. یو څو دقیقې نور هم په همداسې



چورتونو کې ولاړ وم، بیا له دې ځایه د ښار مرکزي سټېشن ته لاړو، دا د ښار یو ترانسپورټي مرکز دی، چې له دې ځایه د امریکا نـــورو ځایونو ته اورګاډي او موټر ځي، دا خپله دومره لوی سټېشـــن دی، لکه یو ښار ګوتې، د ژوند ټول ضرورتونه په کې شته، په لسګونو ډوله

مغازې او هوټلونه په کې دي، پر (۱۹۰۶م) کال جــوړ شــوی، خــو د اوسني ژوند ټول ضرورتونه په کې دي، ته فکر کوې، چې همدا پرون يې جوړ کړی دی، تر (۱۲) بجو دلتــه وو، بيــا د هوټــل پــر لــوري وخوځېدو.

**له یو افغان سره کتنه:** کله چې هوټل ته ورسېدو، نو ښه ډېر ستړي وو، د خوب څپې راباندې راغلې. یوه سترګه خوب مې وکړ، کله چې پاڅېدم، نو د ورځې دوه بجې دي، پر ځان مې اوبه تېــرې کړې، د انګار صيب د اتاق پر لوري وخوځېدم، له رسمي کاره ډېــر ستړي شوي وو، زړه مې و، انګار صيب ته ووايم، چې راځه لاړ شو، دلته دې هوټل ته ورڅېرمه یو څو لوی سوپر مارکیټونه دي، هلته به لړ وګرځو او هم به څه وخورو، کله چې د هغه اتاق ته لاړم، هغه راته وويل: د کابل د ټلېفون دايرولو چل راوښيه، هغه مې ورته په کتابچه کې وليکه، په تسلسل سره د (۳۶) نومرو ډايلول په کار وو، چې کابل روخ شي، هلته ټلېفون دومره اسانه نه دی، چې د هر چا په لاس کې وي، لکه دلته چې کوم عام چلند لري. په تېره بيا دا چې سړی لــه ازاد کرېډېټه ګټه پورته کوي، د هوټل له ټلېفونه يې ډايلوي، نو خورا اوږد نمبر کارول کېږي. انګار صيب کابل ته زنګ وواهه، خو هلته لکه چې د شپې یوه بجه وه، چا ټلېفون پورته نه کړ، ما ويل څه چې ځو دلته عمومي سټور (پلورنځي) ته، لږ به مو پښې هم وغوړېږي، لږ به بلد هم شو. ډوډۍ به هم وخورو، ده وويل: لږ صبر وکړه، دلته زموږ يو خپلوان هم راځي، ما وويل: زنګ ورته ووهه که لرې وي لاړ به شو

او که نړدې وي ورته معطل به شو، انګار صیب وویل: اوس له کــوره راوتی دی، همدې خبرو کې وو، چې له رسپشنه ټلېفون راغی، ویل یې ستاسو مېلمانه راغلي دي، کله چې ورکښته شو، نو یو محسن سړی له یوه ځوان هلک سره ولاړ دی، ستړي مشـــي مــو وکـــړل، انګارصیب زه ورته معرفي کړم، انګارصیب وویل دی اغاجــان دی، زموږ دوست او خپلوان دی، هغه راته وویل چې دا زما وراره دی. د اغاجان اصلي نوم (حاجي نبي) و، خو په کندهار کې معمولاً یو بــل نوم یا لقب هم کارول کېږي، سړي ته چې مې وکتل له اصل و ذاته اصل ښکارېده، ډېرو خبرو ته یې پرې نښودو، راساً یې په موټر کــې ناستې ته دعوت کړو. یو کرولا ډوله مــوټر و، پــه مــوټر کــې چــې کېناستو، نو خپل وراره سره یې په انګرېزي خبرې شروع کړې، هغه ته یې وویل چې افغاني رستورانټ ته مو بوځه، بیا یې موږ تــه مــخ راواړاوه، دی مې وراره دی، همدلته را لوی شوی، پښتو یې هم زده ده، خو خبرې په انګرېزي کوي، پښتو کې کلــه کلــه بنــدېږي، زه ورسره ځکه انګرېزي وایم، چې خپله انګرېزي پخوم، موږ خو چـــې دلته راغلو، انګرېزي مو نه وه زده، خو دې ماشومانو خورا ژر او ښه زده کړه، ما او نورو له همدې ماشومانو انګرېزي زده کړې ده. اوس هم چې کله کله موږ کومه کلمه خرابه تلفظ کړو، ماشومان راپورې خاندي، خو لګیا یو خپله جاله پورې باسو. هواصافه وه، څه کم نیم ساعت مزل به مو کړی وي، چې افغان رستورانټ ته ورسېدو، په لاره کې، چې مو د امریکا سړکونو، ابــادۍ، ودانیــو، طبیعــي ښــکلا او

ځنګلونو ته کتل، نو رښتیا هم د ډېر مړښت او پانګوالۍ څرګندونه یې کوله، دې هوټل ته څېرمه د یو شمېر افغانانو کورونه هم دي، د عبدالباري جهاني صیب کور هم په همدې سیمه کې دی. هوټل ته وختو، هوټلوالو افغانانو زموږ هر کلی وکړ، پر یو مېز کېناستو، مینو یې راوړه، شاوخوا دېوالونو ته مې پام شــو، د افغانســتان ځینــې منظرې پرې لګېدلې وې، پر یوه دېوال د جمهور رییس حامدکرزي عکس لګېدلی و، په یوه وړه غالۍ کې جوړ شوی و، شاوخوا مې ډېر وکتل، د احمدشاه مسعود او نــورو قومانــدانانو عکســونه نــه وو، پوښتنه مې ونه کړه، خو پر دې پوه شوم؛ کوم ځای کې چې زور او فشار نه وي، د احمدشاه مسعود او نورو قومندانانو عکسونه څوک په خپله خوښه نه بندوي، پرته له هغې سیمې او ډلې ټپلــې، چــې دوی ورته منسوب دي. په کابل او د هېواد په نورو سیمو کې، قطعاً په هغو ځایو کې چې هلتــه دولتــي عســکر ولاړ نــه وي د دا ډول قومندانانو لوی او وړوکي عکس نه شته، علت یې دادی، چې خلک په طبیعي ډول او خپله خوښه دوی نه شــي زغمــلای. نــو دا ډول عکسونه معمولاً په هغو ځایونو کې دي، چې عسکر پرې پیره کوي.

څو شېبو کې ډوډۍ تیاره شوه، افغاني کباب، وریجــې، ســلات، مستې او وچه ډوډۍ راوړل شول، ډوډۍ مو په ډېر خوند وخوړه، د ډوډۍ خوراک په بهیر کې څو ځله هوټلوال راغلل، ست یې وکړ؛ څه کم دي؟ هر څه زیات وو. زموږ مېلمه پال پیسې ورکړې او له هوټله رابهر شو. بیا یې وویل چېرته مو بوځم؟ موږ ویل تر ښاره بهر چــې

ددې خلکو کلیوالي ژوند وګــورو. ده وویــل: دوی د تفــریح لپــاره ځانګړي ځایونه لري، خو اوس ژمی دی او بل د تفــریح لپــاره نــور ښارونه شته، چې هغه خو طبعاً په سوونو کیلو متره لرې دي، دلته په ویرجینا کې ژوند ټول همداسې دی، ځنګل دی او په منځ کې یې کورونه او واړه ښارګوټي، خو د دوی واړه ښارګوټي هم ډېر لــوی او منظم دي، داسې به وکړو چې د دوی یو زوړ پخــوانی بــازار دی، د سیند تر غاړې، دې ځای ته پر اوړي په لکونو خلک راځي، هغه ځای به وګورو، که بله ورځ مو وخت درلود، بیا به چېرې لرې لاړ شو. موږ وویل ښېخې سمه ده. نیمه ګېنټه مزل به مو کړی وي، چې د سیند غاړې ته ورسېدو. دا سیمه که څه هم پخوا جوړه شوې وه، خو نوی مسافر یا بهرنی، چې څوک لاړ شي، په اسانۍ یې نه شي پېژندلای، ځکه تعمیرونه یې هم ښه لوکس دي او سړکونه یې هم ښه پراخه، خو یوازې خښتو ته یې که څوک متوجه شي، نو پوهېږي، چــې دا ودانۍ پخوانۍ دي. د خښتو رنګونه یې د کوډړي د رنګ په شــان سوربخن شوي دي او ځینو ځایونو کې لږ شان دوړېدلي هــم دي. دلته یو لوی سیند بهېږي، غالباً همغه سیند چې له واشنګټن څخه تېر شوی دی، نږدې څه کم زر مترو په پراخوالي ارام بهېږي، چې ډېر ورته نږدې نه شې، نو مسیر یې نه شې تشخیصــولای. پــه ســوونو کښتۍ په کې کښته پورته کېږي، د امو دریاب څو برابــره بــه وو. د سیند پر غاړه په لسګونو ډول ډول هوټلونه جوړ شوي، چې د تفریح پر وخت د سیلانیانو غوښتنې پوره کولای شي. څو دقیقــې دلتــه

وګرځېدو، خو څرنګه چې هوا ډېره سړه وه او د سیند یخې څپې او تونډ شمال هوا نوره هم سړوله، نو ځکه چکر هم د زیات وخت لپاره د سړي صبر راکماوه، بېرته موټر کې کېناستو او د هوټل پــر لــوري رهي شو، په لاره کې ماته پټه ولګېده، چې اغا جان (حاجي نبي) یوه




پښتانه ټبر الکوزي ته منسوب دی، نو یو څو شېبې د سیاسي بحث زمینه برابره شوه، ما نه غوښتل چې سیاسي بحث ورسره وکړم، هغه هم زه ډېر نه پېژندلم، چې پر سیاسي مسایلو مې سر خلاص دی که نه؟ خو د هغه په خبرو کې هم تر زیاته حده سیاسي منطق پروت و. هغه د جمهور رییس حامدکرزي ټینګ منتقد و، ویل یــې: کــرزي داسې کسان راټول کړي چې اصل و نسب یې معلوم نه دی، غلــه، داړه ماران او جنګسالاران هره ګروه په دې حکومت کې شته، هــر څوک چې هر څه کوي، دی ورته هېڅ نه وایي، سیاست په دې خبرو

نه کېږي، سیاست کې باید ته خپل ((شنګ)) وښيې، دی (کــرزی) فکر کوي، چې که زه که فهیم، دوستم، محقق او نورو ته څه ووایم، نو اسمان به راپرېوزي، نه بابا هېڅ نه کېږي، د دنیا غټ خلــک ترور شول، هېڅ ونه شول، ذوالفقار علي بوټو اعدام شو، هېڅ ونــه شول، بینظیر بوټو ووژل شوه، هېڅ ونه شول، راجیوګاندي، مور یې، د امریکا جمهور رییس او داسې نور په لسګونو مهم کســـان ووژل شول، هېڅ ونه شول، دا د چا زامن دي، چې دوی له سیاسي صحنې لرې شي او پر افغانستان به ټکه راپرېوزي... داسې ډېرې نورې نیوکې یې هم وکړې، خو ځینې نیوکې یې بیا سیمه ییزې او قبیله یي هم وې، چې ماته ډېرې پر ځای ونه برېښېدې، خو اکثره نیوکې یــې د منطق له مالګې ډکې وې، همدې خبرو کې مو مزله تــه هــم دوام ورکاوه، د شپې اته بجې به وې، چې بېرته هوټل ته راستانه شو. له دې دوستانو مو مننه وکړه او خدای پاماني مو ترې واخیسته.

# د سیمینار شپږمه ورځ

د مارچ لومړۍ نېټه د یکشنبې ورځ وه، دا ورځ هم رخصتي وه، نو ځکه هر چا کولای شول خپل شخصي پروګرام پرمخ بوځي. ما سره دا مهال د خپل یادښت هغه کتابچه نه وه، چې پــه امریکــا کــې د مېشتو افغان دوستانو ټلېفون نمبرې په کې وې، له بلې خــوا مــې غوښتل هم نه، چې په دې مصروفه ټولنه کې څوک په تکلیف کړم، د بېنوا وېبپاڼې د چلوونکي قدرمن خالد هادي ایمېل ادرس راسره و، هغه ته مې لا وار دمخه ایمېل لېږلی و، هغه راته لیکلي وو، چې زه له نیویارکه چېرې لرې بل ښار ته په سفر یم، هر کله چې وزګار شم، نو ستا لیدو ته درځم، د تکړه خبریال او ویاند سیدسلیمان اشنا د ټلېفون نمبر هم راسره و، هغه ته مې ټلېفون وکړ، خو ټلېفون یــې مصروف و، پیغام مې ورته پرېښود، نور نو نه د چا د ټلېفــون نمبــر راسره و او نه مې غوښتل څوک په تکلیف کړم. څرنګه چې مو دمخه کوم پروګرام نه و جوړ کړی، نو ځکه چېرته لرې د تګ جوګه نه شو، سهار تر چای وروسته زه (یون)، انګار صیب او سنجر صیب درېواړه سره ملګري شو لومړی یوې لویې مغازې او بیا تر هغه وروسته بلې ډېرې نږدې مغازې (پنټاګون سټور) ته لاړو، دا نو یو ډېره ستره مغازه وه، چې هر ډول شیان په کې میلاوېدل، لــه څښــاک، خــوراک او پوښاک شیانو نیولې، بیا ټیپ، راډیو، کسټ، کمرې او کمپیوټره پورې

هر څه دي ترلاسه کولای شول، دا یوه عامه مغازه وه، چې نرخونه یې هم ډېر لوړ نه وو، دې لویې مغازې ته موږ یو ځل دمخه هم راغلي وو، ځکه نو دا ځل ښه بلد وو. یخني هم زیاته وه، واوره هم ډېره ورېدلې وه، په واشنګټن کې واوره ډېره نه کېږي، خو یخني په کې زیاته وي، سږ کال چې موږ تللي وو، واوره هم وشوه. په مغازه کې وګرځېدلو، شیان مو په نښه کړل، ما او سنجر صیب څه وانه خیستل، خو انګار صیب ځانته په کې یوه جوړه دریشي خوښه کړه،



هغه یې واخیسته، قیمت یې د افغانستان تر نرخونو لوړ و، خو بیا هم دومره لوړ نه و، یو سلو څو ډالره یې یوه جوړه دریشي واخیستله، بېرته د هوټل پر لوري راغلو، هلته هم ډېر پلي ګرځېدلي وو، ښه ستړي شوي وو، زه چې اتاق ته پورته شوم، نو خوب راباندې برید وکړ، تر یو ساعت خوب وروسته پاڅېدم، ماسپښین دوه بجې به وې،

دا وخت د انګار صیب زنګ راغی، ویل یې لاندې کښــته شــه، یــو ملګری راغلی دی. انګار صیب لاندې تیار ولاړ و، یو د پخې ســتې څښتن یې رامعرفي کړ، ویل یې منشي صیب دی، زه یې ورته معرفي کړم، هغه ټینګ سټري مشي راسره وکړل ، ویل یې: یون صیب ښه پېژنم، مرکې یې اورم او لیکنې یې لولم ښې په زغرده لیکنې کوي. منشي صیب نو د انګار صیب سیمه وال هم دی او د هغه د پخوانۍ ګوندي لارې ملګری هم، ډېرې سختې ورځې یې په ګډه تېرې کړي دي، داسې انډیوالان، نو چې څوک پس له مودو په داسې یو ځــای کې پیدا کړي، هغه نو له خدایه نور څه غواړي، منشي صیب ســره موټر کې کېناستو، د منشي صیب اصلي نوم عبــدالقیوم دی، خــو منشي ورته ځکه وایي، چې  د خلکیانو د واکمنۍ پر مهــال یــې د کومې ګوندي حوزې د منشي په توګه دنده سرته رســولې ده، پــه افغانستان کې دولتي او کسبي پوړۍ وروسته وروسته د هغه شخص له نوم سره تړل کېږي. منشي صیب وویل: لومړی به لاړ شــو، یــو افغاني هوټل کې به ډوډۍ وخورو، بیا به نو وګورو چــې څــه کــوو. همداسې په ګپ ګپ کې همغه ځای ته ورسېدو، چې یوه ورځ دمخه مو له هغه بل افغان (حاجي صیب نبــي) ســره ډوډۍ خــوړلې وه، منشي صیب څخه ځای لږ شان غلط غوندې شو، خو چې ما ورتــه وویل که چپ لاس وګرځې، پارکنګ ته نو پیدا به یې کړې! ده وویل ته څه پوه شوې، چې دلته افغاني رسټورانټ دی، ما ویل پرون ورځ مور دلته راغلي وو، د انګار صیب چې پر هوټل ســترګې ولګېــدې،

ماته یې وویل والله بېشکه چې دومره ژر بلد شوې او څومره ژر دې پیدا کړ.

هوټل ته پورته شو، په خوند مو بیا افغاني ډوډۍ وخوړه، دا ځل په هوټل کې تر افغانانو نا افغانان، په تېره بیا عرب مسلمانان زیات معلومېدل، چای مو هم هلته وڅښه، له هوټله رابهر شو، منشي صیب وویل: ماښام به زموږ کور ته ځو، بیا به مو بېرته راورسوم. موږ ویل لرې دی که نږدې؟ هغه وویل: نږدې دی. موږ وویل: په یو شرط درسره ځو، چې هلته به ډوډۍ نه تیاروې، هغه ویل سمه ده، د امریکا (نږدې) او د افغانستان (نږدې) سره توپیر لري، منشي صیب هم موټر چلاوه او هم یې موږ ته د امریکا د خلکو د ژوندانه کیسې کولې، بس نو هغه د پخوانیو کیسو په شان. دا ځای له واشنګټنه دومره لرې و، لکه کابل نه چې جلال اباد ته ځې، نږدې یو نیم سل کیلو متره لرې. د لویې لارې ترڅنګ د اور ګاډي پټلۍ هم غځېدلې وه، خو هغسې عصري نه وه، لکه په جاپان او جرمني کې چې ده، منشي صیب ته مې وویل: دا خو دې د نړۍ بل سر ته راوستو؟ هغه وویل: وارخطاکېږئ مه بېرته مو رسوم. خو د هغه ځای سړکونه داسې دي، چې مړی په کې کولې کړې نه سپېره کېږي، که د چای ډک ګیلاس په موټر کې کېږدې، نو د چا خبره رپ به ونه وهي. منشي صیب په دې ترڅ کې خپل زوی (بري) ته هم ټلېفون وکړ، چې انګار کاکا دې او یون صیب راسره دي، باید ته هم ځان راورسوې او دې ضمن کې یې د ډوډۍ شفر هم تېر کړ. په لاره کې مې منشي صیب ته وویل، چې دومره اوږده لاره کې ولې ښارونه او

ښارګوټي نه شته، هغه وویل: دا ځنګل ټول له ښارونو او ښـــارګوټو ډک دی. د دوی قانون دی، چې ښارونه او ښارګوټي باید سل متره له لویې لارې لرې وي، دا فرعي سړکونه، چې له دې عمــومي لارې بېل شوي دا همدې ښارونو ته ګرځېدلي دي. بل د دوی قانون دی، چې هېڅوک د ښارونو، د مارکېټونو مخه عمومي سړک ته نه شي را اړولای، په دې ډول د ګڼې ګوڼې او زیاتو ترافیکي پېښو مخنیــوی کېږي. منشي صیب وویل: د امریکا سړکونه د نړۍ په عجایبو کـــې حسابېږي، هغه وویل: ته پر همدې لویه لاره یوه شپه او یوه ورځ مزل وکړه، ته به له هېڅ کوم مشکل سره مخامخ نه شې، لنډه دا چې تر نږدې یو نیم ساعت مزله وروسته د منشي صیب کور ته ورسېدو، د هغه کور د نورو په شان د ځنګله په یوه څنډه کې و، سم لاسي چای راوړل شو، چای مو لا څښلی نه و، چې د منشي صیب زوی ( بری) هم راورسېد، تر روغبړ وروسته یې له انګارصیب څخه د کور د ټولو غړو پوښتنه وکړه، دی او د دده بل وروړ له خپل پلاره جلا اوسېږي، خو په سیمه کې سره نږدې دي، یو کیلو متر واټن هم نه لري، د ښې پوهې او ذکاوت څښتن معلومېده، لنډه زیره، خپله کندهارۍ لهجه او افغاني خصوصیات یې ټول ساتلي وو، په امریکا کې ټول افغانان داسې نه دي، چې دا ډول مثبت خصوصیت دې ولــري، تــر چـــای وروسته مکلفه ډوډۍ هم راوړل شوه، خو موږ منشي صیب ته وویل: دا دې ګوره د ژمنې خلاف کار کړی دی، هغــه ویــل: زه بــه ډېــر خوشاله شم، چې تاسې ماسره زیاته ډوډۍ وخــورئ... ډوډۍ مـــو وخوړه او بیا مو د افغانانو د دود له مخې چای هم وڅښــه. منشـــي

صیب ته مو وویل چې اوس به نو د تګ بندوبست کوو، منشي صیب، برې او مورږ موټر کې کېناستو، دا ځل نو موټر (بري) چلوه، خــو تــر منشي صیب څخه یې چټک چلوه، هغه به ورته د ارام چلولو ټینګار کاوه، خو بري به ورته ویل چې خاطر جمع اوسئ، دا ځل یې نــو ژر بېرته خپل ځای ته راوستو، یانې یو ساعت او څو دقیقــو کــې یــې راورسولو، د شپې دولس بجې به وې، چې هوټل ته داخل شو، لــه دوی څخه مو خدای پاماني واخیسته، خو د خدای پامانۍ پر مهال یې راته وویل چې د (بري) مېلمستیا پاتې ده، بیا درپسې راځو. کله چې اتاق ته پورته شوم، دریشي مې بدله کړه، نو د خوب پرښتې راته تیارې منتظرې ناستې وې.

# د سیمینار اوومه ورځ

د مارچ دویمه نېټه د دوشنبې ورځ وه، سهار چې کله لــه خوبــه پاڅېدم، نو له کړکۍ څخه مې چې وکتل، شــاوخوا ټولــه ســپینه پاغونده وه، په سپینه واوره کې د رڼا ګروپونه ډېر ژېړ بریښن معلومېدل او پلته پلته واوره لا اوس هم ورېدله، کله چې چای ته کښته شولو، نو لاندې په رسپشن کې یې لیکلي وو: نننی پروګرام کنسل دی او د واورې د ورېدو له امله نن ټول نورمــال پروګرامونــه معطــل دي. د همدې ورځې پر ماښام د جنرال بارنو له خوا کېدونکې مېلمستیا هم کنسل شوه. انګارصیب او سنجر صیب ته مې وویل: کاشکې له سره پوه وای، چې درې ورځې رخصتي راځي، یو بل لرې ولایت او چکر ته به وتلي وای. د نیویارک مې ډېر صفت اورېدلی، کاشــکې هلتــه تللي وای، هلته مې ښه ډېر ملګري دي، اورګاډي کې تللو او بېرته راتللو، کله چې مې د نیویارک د واټن پوښتنه وکړه، نو ګړندی ګاډی ورته په اتو ساعتونو کې وررسېږي، بیا مې نو بېخي زړه بېغمه شو، ځکه چې رخصتي خو یوازې په لاره کې تېرېدلــه. انګــار صــیب او سنجر صیب ته مې وویل: راځئ نن دا څو پلورنځي مو چې لیدلي، په هغو کې وګرځو، که څه مو خوښ شول وابه یې خلو، که نه چکر خو به ووهو! ځانونه مو ښه وپوښل، له هوټله رابهر شو، په لاره کې ښه ترخه یخني وه، ټولې لارې واورو نیولې وې، یخی هم ښــه ډېــر و،

موټرو په ډېر احتياط حرکت کاوه. په واشنګټن کې چې کله داسې واوره وشي، نو ښوونځي خو رخصتوي، حتــى ځينـــې ادارې هــم رخصتوي، دلته سختې ترافيکي پېښې پېښېږي، دوی مخکې هــم موږ ته ويلي وو، چې دلته پر دريو شيانو باور په کار نه دی:

امنيت، ترافيک او هوا، له ترافيکي او هوا پېښو سره خو موږ رښتيا هم مخامخ شو، خو امنيتي هغه مو لا د خدای په فضل تراوسه نه ده ليدلې، ورو ورو پلي لاړو، دلته څو لوی مارکيټونه وو، چې د دنيا هر څه په کې ميلاوېدل، هلته لاړو، ښه ډېر وګرځېــدلو، لــويې لــويې




مغازې وې، هر يوه درې څلور منزله وه، په هر پوړ کې يې په لسګونو لويې او وړې مغازې وې، د ژوند څه اړتيا وړ شيان چې وو هغه په کې پيدا کېدل. د يوې مغازې نرخ له بلې سره توپير درلود، هغه څــوک چې بهر ته تللي وي او ډېر تللي وي، دا ډول ټولې مغازې ورته جالبې

نه وي، خو څوک چې لومړی ځل تللی وي، نو دا ډول شیان ورته ډېر په زړه پوري وي. د لویې مغازو په دهلېزونو او پلیو لارو کــې د ډول ډول شیانو ترڅنګ د وېښتانو جوړولو او ان سینګار خونو وســایل ایښي وو. دلته مو ډېر هلکان او سړیان ولیدل، چــې نجونــو ورتــه وېښتان جوړول او همدارنګه ډېرې نجونې مو ولیدې، چې هلکــانو ورته وېښتان جوړول او سینګارولې یې، د لارې پر سر او یا هم د لویو مغازو په اوږدو دهلېزونو کې، ما دا شــیان مخکــې نــه وو لیــدلي، همدلته په بېلابېلو ځایونو کې، ځوانې نجونې او ځینو ځایونو کــې ځوان هلکان د وړو غرفو ترڅنګ ولاړ وو، له بېلابېلو معدني او بحري ډبرو یې رنګارنګ پوډر جوړ کړي وو او خلک به یې دعوتول، چې دا یو ځل وکاروي او په ګټه یې پوه شي. د دوی په وینا دا پوډر د انسان د پوټکي روغتیا ته ډېره ګټه لري. کله چې به څوک موافقې ته سره ورسېدل، بیا به یې نو له دې موادو ډکې قوطۍ پرې، په لــوړه بیــه خرڅولې. په عامو دهلېزونو کې د سترو خلکو لپاره داسې څــوکۍ ایښودل شوې وې، چې په برېښنایي یا اتومات ډول یې د انسان بدن کېکاږه یا چاپي کاوه، ددې ترڅنګ د خلکو د چاپۍ لپاره نور کسان هم ولاړ وو، چې ځانګړی یونفورم یې درلود. ښځې او نر دواړه په کې شامل وو، اکثره یې چیني مېرمنې او سړي وو. پر دې څوکیــو بــه اکثره هغه کسان ناست وو، چې یا ډېر زاړه وو او یا ډېر ســتړي. تــر غرمې پورې مو درې مغازې له پښو وویستې، خو هېڅ سودا مو ونه کړه، یوازې د بیکونو ځایونه او قیمتونه مو په نښه کړل، زموږ بیکونه

واړه وو، د ډېرو شیانو د ځایولو وس یې نه درلود. یوه یوه نیمه بجه به وه، هوټل ته ښه ستړي راستانه شو، کله چې اتاق ته ورسېدم، نـو دخوب مرغیو راباندې خپل وزرونه وغوړول. ښه د مزې خوب مـې وکړ، څلور بجې له خوبه پاڅېدم، پر ځان مـې اوبـه تېـرې کـړې، ټلویزیون مې چالان کړ او د خپلو یادښتونو پر بشـپړاوي مصـروف شوم، لیک لا ستړی کړی نه وم، چې له رسپشنه ټلېفون راغی، ویل یې ستاسو دوه مېلمانه راغلي دي، ما ویل اتاق ته دې راشـــي. دوه درې دقیقې وروسته ور ټک ټک شو. دروازه چې مې بېرته کړه، نـو ګورم چې د امریکا غږ اشنا ټلویزیون ویاند ښاغلی ایوب خاورین او د خوست پخوانی والي ښاغلی ارسلا جمال ولاړ وو. پر لیدو یې ډېـر زیات خوشاله شوم. اتاق کې کېناســـتو، د کــور دحــال او احــوال پوښتنې مو سره وکړې. جمال صیب نه مې وپوښتل، ته دلته څنګه پېښ شوی یې؟ هغه وویل: زه دا څو ورځې کېږي چې له کاناډ څخه راغلی یم، دلته مې د کورنۍ غړي او دوستان دي، مـا ویـل د دوی پوښتنه به هم وکړم او نور دوستان به هم وګورم، نو دادی څو شپې همدلته یم، له دې ځایه ځم نیویارک ته او بیا بېرته کاناډا ته ځم، ما ویل افغانستان ته څه وخت راځې؟ هغه وویل: هر وخت چې تاســو وغوښتلم، جمال صیب زیاته کړه، چې په لیـــدو دې ډېـر خوشـــاله شوم، کله چې دې له راډیو او ټلویزیون څخه غږ اورم، نو خورا ډېـر خوشالېږم، بیا مې له خاورین څخه د ژوند حالات وپوښتل، خاورین صیب او ارسلا جمال سره خپلوان دي. خاورین صیب راته د خپــل

مصروف ژوند کیسه بیان کړه، چې رښتیا هم ډېره ستړې کوونکې وه، مانا دا چې که په اصطلاح یوه شېبه هم وزګار پــاتې شــې، نــو حالات دې خرابېږي. خاورین صیب په امریکــا کــې د ټــولنیزو او انساني ارزښتونو په باب هم هر اړخیزه رڼا واچوله، که د هغې ټولنې متحول ارزښتونه د هغې له عصري ټکنالوژۍ او ژوندانه سره پرتله کړو، په ښکاره ډول په کې د ارزښتونو تله سپکه خېږي او بیا که هغه ټولنیز ارزښتونه زموږ د ټولنې له مستحکمو ټولنیزو ارزښتونو سره پرتله کړو، نو بیا به پر خپلې دې غریبې، خو ارزښتمنې ټولنې شکر وکاږو. دلته چې کومه ازادي شته او وضعي قوانینو لاتراوسه نــه ده محدوده کړې او پر خپل ځای پاتې، هلته دا ازادي نه شته، هلته د ژوندانه د سمون په هیله دومره قوانین وضعه شوي، چې ژوند یې په خپله له یوې پېچلتیا او بندیزونو سره مخامخ کــړی دی. خــاورین صیب چې د امریکا د کوم مقید ژوند انځور ماته څرګند کړ، نو زمــا زړه خو ترې په همدې شېبه کې تور شو. هغه ظاهري او مصــنوعي ښکلا او دیموکراسي چې په امریکا کې ځلېږي، ظاهراً خو رښتیا هم په لومړي وار د سړي زړه راکاږي، خو که د ټولنې د معنویت تل تــه کښته شې، نو روحي بنسټونه او ډاډمنتیا یې کمزوري دي. ماتــه د استادې مېرمن سکینې زیار هغه خبره رایاده شوه، چې ویل یــې: ((په غرب کې ژوند په اوبو کې د اوبوړیو په شان دی، چې پــر ســر ښکاري خو بېخ او اساس نه لري)) دلته رښتیا هم د مــادي ژونــد ښکلاوې پر معنوي هغو برلاسې ښکاري. خاورین صیب وویل: پــه

امریکا کې چې د ټکنالوژۍ له پلوه ډېر پرمختللی هېواد دی، خو د ټکنالوژۍ د وسایلو کارول هغسې اسان نه دي، لکه زموږ په ټولنــه کې چې اوس دي: هغه ګرځند ټلېفون د یوې بېلګې په توګه یاد کړ،



ویې ویل: ((دلته د ټلېفون سیم کارت دومره ازاد نه دی، لکــه پــه افغانستان کې چې دی، دلته چې څوک یو سیم کارت اخلــي، لــه همغې کمپنۍ سره به قرار داد کوي، دا قرار داد به د ټاکلې مــودې یانې څو کلونو لپاره وي، د سیم کارت لپاره مجبور یې لــه همغــې کمپنۍ څخه سیټ هم واخلې، د یوې کمپنۍ ســیم کــارت د بلــې کمپنۍ په سیټ کې کار نه کوي، داسې کمپنۍ هم شته، دا پــر تــا مني، چې ته تر ټاکلي وخت پورې له بلې کمپنۍ سره قرارداد نه شې کولای او دا قرارداد هم نه شې فسخه کولای. په دې بهیر کــې تــه مجبور یې ټلېفون وکاروې او ټاکلې اندازه کرېډېټ کــارت مصــرف

کړي، سربېره پر کرېډېټ کارت مجبور يې، چې یوه ټــاکلې انــدازه ټکس هم ورکړې...))

دا يوازې د ټلېفون کيسه وه، چې لنډيز يې بيان شو، داســې پــه لسګونو ډوله بنديزونه له هرې وسيلې سره ملګــري دي، د مــوټر ټکس، بيمه، د انسان بيمه، د تحصيل فيس، د کار موندنې ستونزې او داسې نورې ډول ډول ستونزې يې بيان کړې، چې د يوه شــرقي انسان لپاره يې زغم اسانه کار نه دی، خو دې سره ســره کــه يــوه عمومي ارزونه يې کوو او معنوي ارزښتونه له محاسبې باسو، نــو د ژوند په نورو ډګرونو کې د نورو ټولنو په انډول امريکايي ټولنه يــوه ډېره هوسا او سوکاله ټولنه ده او که چېرې ډېره سوکاله نه وای، نو د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه خلک ولې امريکا ته ځي او هلته مېشــته کېږي؟

زما (یون)، ارسلا جمال صيب او خاورين صيب خبرې ډېرې اورېدې شوې، خاورين صيب راته د امريکا او جمال صيب راته د کاناډا ژوند په زېر و زور بيان کړ، بيا دوی ماته ټينګ ست وکړ، چې دوی ســره مېلمه شم، ما ويل بيا به په فرصت کې وګورو، اوس يــو ځــل ددې سيمينار له جنجالونو خلاص شو. خاورين صيب ته مې وويل: اشنا صيب سره مې په اشنا راډيو او ټلويزيون کې د مرکې وعده کړې، بيا به انشاء الله حتماً سره ګورو. ماښام ناوخته و، هغوی له مــا څخــه خدای پاماني واخيسته او زه له نورو ملګرو؛ انګارصــيب او ســنجر صيب سره ډوډۍ ته لاړم.

# د سیمینار اتمه ورځ

## (د کانګرس کتنه)

**د مارچ ۳مه نېټه د سه شنبې ورځ وه، پر دې ورځ سهار له معمول وخت سره سم په خپل ټاکلي موټر کې له هوټله د نیسا سنټر پر لوري رهي شو او له هغه ځایه بیا د کانګرس پر لوري لاړو، کانګرس**



**ته هم ډېر واټن نه و، کله چې د کانګرس ودانۍ ته ورسېدو، نو موټر یې په یوه پارکینګ کې ودراوه، هوا دومره یخه وه، چې لس دقیقې هم چا بهر ته طاقت نه شو کولای، پر پلې لارې د کانګرس ودانۍ ته لاړو، له لارې واوره توږل شوې یا ویلې شوې وه، د تالاشۍ له ماشینه تېر شو، ډېره جدي تالاشي وشوه، کله چې د کانګرس ودانۍ ته ورننوتو، نو ډېره ښایسته او دنګه ماڼۍ وه، امنیتي چارې یې ښې**

سمبال وې. په امنیتي مسایلو کې یې هېڅ لیاز و پیاز نه کاوه. هلته امنیتي قانون او نور قوانین داسې دي، چې د استاد الفت په خبره: ((خپل و خپلوان، دوست و دښمن نه لـري، کمـزوری او زورور نـه پېژني، احساس او عواطف نه لري، ټولو ته په یوه سترګه ګوري...)) زموږ د ټولنې په شان نه دي، چې قانون د زورورو تر پښو لاندې او د کمزورو پر سر باندې دی. کله چې د کانګرس دهلېزونو ته ننوتو، نو پر دېوالونو یې د امریکا د نومیالو او لویو شخصیتونو لویې تابلوګانې ځړېدلې وې، د هرې یوې تابلو په لاندینۍ برخه یا لمن کې یې ورته لنډه پېژندنه لیکلې وه، دې تابلوګانو د امریکا د تـاریخ د بېلابېلـو برخو او سیاسي جریانونو څرګندونه کوله، پاس د تعمیر چت ته چې مې وکتل په ښکلي ډول نقاشي په کې شوې وه، دې نقاشۍ هـم د یوې هنري ښکلا او هم د تاریخي ځلا څرګندویي کوله، کله چـې د ټولو تالاشي خلاصه شوه، نو بیا یې د کانګرس عمومي هال ته داخل کړو، نسبتاً لوی تالار، پر درېو برخو وېشل شوی و، یا په بله وینا درې دهلېزونه په کې وو، تالار نسبتاً لوی و، څوکۍ یې هم ښې نرمې وې، مخامخ پاس په دېوالونو کې د امریکا د کـانګرس د پخوانیـو غـړو عکسونه وو، هغه هم داسې ښکارېدل لکه په لاس چې انځور شوي وو. زموږ لارښود پروفیسور په پیل کې خبرې وکړې، چې دلته راتګ اسانه کار نه دی، تاسې نېکمرغه خلک یاست، چې دلته راغلئ او نن هر یو دکانګرس مینانو پر څوکیو ناست یاست، کانګرس ډېر مصروف وي، نن د رخصتۍ ورځ ده، موږ ستاسې مهالوېش داسې برابر کړی و،

چې دا ورځ رخصتي وي، که په نورو ورځو راغلي وای، نو مجبور به وو، د کانګرس کوم غړي سره مو په نورو ځانګړو اتاقونو یا ځایونو کې کتلي وای، دلته بیا راتګ ممکن نه و. پروفیسور وویل: څو شــېبې وروسته د کانګرس یو پخوانی غړی راځي، تاسې ته به په خپل بحث کې د مقننه قوې په باب معلومات درکړي، تاسې کولای شئ له هغه څخه پوښتنې وکړئ، هغه تجربه کار سړی دی، تاسو ته بــه جــامع ځوابونه درکړي، همدې خبرو کې وو، چــې هغــه پخــوانی وکیــل


د امریکا په کانګرس کې د سیمینار د برخوالو ډله ییز عکس

راننووت، لومړی یې موږ ته هر کلی ووایه او بیا یې پر خبرو پیل وکړ. لومړی یې خپل ځان معرفي کــړ: هــون انــدریو میګــوری ( Hon Andrew Maguire) د کانګرس پخوانی غړی. ده وویل: ما چې بیا په ټاکنو کې ګډون وکړ، نو دویم ځل ناکام شوم، ځکه زه چې په کــوم

ايالت کې وم، هلته اکثريت جمهوري غوښتونکي وو، (۱۹۸۰م) کال، هغه وخت نو رونالډريګن، جمهور رييس شو. ده بيا د کـانګرس دا تالار تشريح کړ، د تالار دواړو خواوو ته يې لاس ونيو، چې يوه خـوا اپوزيشن کېښي او بله خوا د حکومت ملاتړي يا د حاکم ګوند پلويان کانګرسمينان، ستېج ته يې لاس ونيو، چې هلته د کانګرس رييس کېښي، څنګ ته يې نورې څوکۍ هم ايښې وې، چې د مرســتيالانو لپاره وې، شاته يې د امريکا بيرغ ځوړند و. په کانګرس کې بېلابېلې



کمېټې وې، د هرې کمېټې غړي د خپل رييس تر شا کېني، هر سړی د خبرو حق لري، خو په خبرو کې د وخت محدوديت په پـام کــې نيول کېږي، هر ويناوال مجبور دی پر همغه ټـاکلي وخــت خپلــې خبرې پای ته ورسوي، ځينې مسايل ډېــر وخــت غــواړي، حتــی ساعتونه وخت نيسي، نو ځکه ځينې موضــوعګانې پــر موافــق او

مخالف تقسمېږي، د قانون تصویب اسانه کار نه دی، کمېټو کې باید اکثریت رایې واخلي او همدارنګه په ټول بهیر کې ورته اکثریت رایې ضروري دي. دا پروسه بیا ولسي جرګې څخه مشرانو جرګې ته ځي او د هغوی تر تصویب وروسته جمهور رییس ته ځي. د اقلیت خبرې هم اورېدل کېږي، خو په پای کې د اقلیت خبرې د اکثریت د رایو تابع ګرځي.

نو په دې ډول د قوانینو تصویب اسانه کار نه دی. ډېر وخت په کې په کار دی، د بېلګې په توګه په صحي برخه کې موږ د همدې قوانینو له مخې تر اروپا شاته پاتې یو، همدا اوس (۵۰) ملیونه امریکایان د صحي بیمې مشکل لري، دلته بیمه ډېره قیمته ده. دلته د بیان پوره ازادي شته، موږ دلته په جلسه کې یو، هلته پورته تالار کې رسنۍ موږ ګوري او زموږ خبرې اوري، د ساري په توګه هغه وخت، چې زه وکیل وم ما اعتراض وکړ، چې زموږ حکومت د بندیانو په شکنجه کې لاس لري، بندیانو ته د وکیل حق نه ورکوي، کله چې ما دا خبره وکړه، زه اقلیت وم، خو یو وخت بیا داسې راغی، چې جمهور رییس هم همدا خبره وکړه. د تالار په دویم پوړ کې بره پردېوال یوه شنه پرده غوړېدلې وه، پر دې پردې د وکیل نوم ښکارېده، په دې څوکۍ کې داسې یو سیستم نصب و، کله چې د رایې کارونې وخت شي، وکیل همدلته یوه تنۍ وهي، خپله رایه کاروي او رایه یې د پردې پرمخ ښکاري، په دې څوکیو کې نورې ډېرې اسانتیاوې هم شته،

چې د پارلماني چارو لپاره کارول کېږي. د مشرانو د ناستې سیستم څه ډول دی؟

اکثریت او اقلیت دواړه مشران او مرستیالان لري، د هغوی دنده رایه راټولونه ده، دوی د ویندویانو دنده اجراکوي، که چېرې رایې مساوي وي، یو موقت رییس ټاکي، د موقت رییس لپاره هـم رایـه اچوي، پر دې وخت کله کله ځینې وکیلان خپله رایه او نظر بدلوي.

دا مهال یې پوښتنو ته وخت ورکړ، یو چا پوښتنه وکړه: لابینګ څه دی؟ په دې باب دې پخواني وکیل وویل: تاسـې وروسـته لـه دوو لابیستانو سره کېنئ، هغوی به تاسې ته د لابینګ په بـاب مفصـل معلومات درکړي. خو ځینې شیان به زه دلته درته ووایـم: ځینـې نادولتي سازمانونه لابینګ کوي، ځینې کمپنۍ هم دا کار کوي، پـر کانګرسمینانو کار کوي، د هغوی توجه ځانتـه راجلبـوي، ځینـې کمپنۍ لابیستانو ته پیسې هم ورکوي، چې هغوی ته کمپاین وکړي، د پیسو او رشوت دا ورکړه ناقانونه ده، خو هغوی مستقیماً پیسې نه ورکوي.

اوباما د خپل کمپاین پر وخت کوښښ وکړ، له عوامو پیسې ترلاسه کړي، له کمپنیو یې پیسې وانه خیستې، اوس چې څوک کانګرس ته ځان کاندیدوي، نو ملیونو ډالرو ته یې لګښت رسېږي، خو یـوازې پیسې هم ټاکوونکې نه دي. اوباما پیسې نه لرلې، خو څرنګه چـې لوړې زده کړې یې لرلې، د خلکو له خوا انتخاب شو. بوش پیسـې لرلې، خو پر تعلیم یې خبر نه یم، کامیاب شو. بـوش د خپـل واک

پرمهال، خپلو پانګوالو ملګرو ته مهم کارونه وسپارل، ما چـې پـر ۱۹۸۲م کال ځان کاندید کړی، نو پنځه لکه ډالر مې ولګول، ابتدایي انتخابات وو، خو زما په مقابل کې یو بل څوک و، ډېر پانګوال و، درې نیم ملیونه ډالر یې مصرف کړل، نو ځکه یې ټاکنې وګټلې، لس کاله وروسته بیا یو بل شخص په ټاکنو کې (۷۰) ملیونه ډالر ولګول. ویل کېږي، چې اوباما په خپلو انتخاباتو کې یونیم زر ملیونه ډالر ولګول.

د عراق له هئیت څخه یو تن پوښتنه وکړه: کله چې مو له کویـټ څخه د صدام حسین عسکر وایستل، ولې مو هغـه وخـت صـدام حسین ژر له منځه یو نه وړ؟

ځواب: هغه وخت بوش جمهور رییس و، فکر یې وکړ داســې یــو حالت به واقع شي، چې ډېر دوام به وکړي، خو اوس چې موږ په کوم موقف کې یو، کېدی شي هغه وخت په داسې دریځ کې نه وو. هغه وخت نظریه داسې وه، چې متحده ایالات باید زیات پرمختګ ونــه کړي، خپل امنیت ته زیاته توجه وکړي. جمهور رییس هغــه وخــت ویل: موږ چېرته نه ځو، چې ملکونه جوړ کړو، خو دا بل بــوش اوس عملاً په ملکونو کې راښکېل دی. کله چې زموږ عسکر عراق ته تلل، نو زه یې مخالف وم، هغه (۳۰۰) زره عسکر چې هلته تللي، اوس یې یو زیات شمېر پر روحي ناروغیو اخته دي.

پوښتنه: د حکومت د لوړ رتبه مامورینو لرې کـول پـه څـه ډول ترسره کېږي؟

ځواب: که یو وزیر د ولسي جرگې له نه باور رايې سره مخامخ شي، نو دا پرېکړه بيا مشرانو جرگې ته ځي، هغوی بيا وروستۍ پرېکــړه



کوي او تر هغې وروسته عملي کېږي. تر دې وروسته د کانگرس نورو تالارونو ته لاړو، مخکې لوی دهلېزونه مخې ته راغلل، په دهلېزونو کې له هر ايالت څخه د هغو د نومياليو شخصيتونو دوه دوه مجسمې ايښودل شوې وې، په حقيقت کې هر ايالت حق لري، دلته د خپلو لويو نومياليو مجسمې ودروي. دا د ټولې امريکا د شخصيتونو تمثيل کوي. تر هغه وروسته يوه ځانگړي تالار ته لاړو، چې په يــوه جگــه گرده گونبزه پرې راټوله شوې وه، د گونبزې لوړوالی يې تــر پنځــو سومترو هم پورته کېده، پر دېوالونو يې ډېرې لوکســې او ښــکلې ميناتوري او تصويرونه کښل شوي وو، اکثره يې د جورج واشنگټن د اتلوليو ښکارندويي کوله، رښتيا هم دا ودانۍ ډېره لوکسه او ښکلې وه، کوم انځورونه چې پرې نصب وو، هغو هم د لــوړ هنــر او فکــر

څرګندونه کوله. د امریکا په شان د یو لوی هېواد لپــاره د داســې ښکلو ودانیو شتوالی لازم و ملزوم برېښي، خو نه دا ودانۍ د ډېرې پخوا زمانې وه او نه هم دا انځورونه ډېر پخواني وو، خو کله چې دې دواړو ته کتل، د یو تاریخي برم څرګندونه یې کوله. هلته یو کس د جورج واشنګټن د اتلولیو په باب خبرې وکړې او ویې ویل، چې له همدې ودانۍ څخه یې جنازه پورته شوه، دا له هغه سره د امریکا د خلکو د ډېر لوړ احترام څرګندونه کوي. تر دې وروسته مو بیا یو ډله ییز عکس واخیست. وروسته د کانګرس د کتابتون پر لوري لاړو.

د کانګرس له ودانۍ څخه تر کانګرس کتــابتون پــورې دوه درې


د کانګرس د کتابتون یو هال

دقیقې پلې لاره ده، خو په همدې دوه درې دقیقو کې یخنــۍ ښــه وځپلو، کله چې د کانګرس کتابتون ته تر تالاشۍ وروسته وردننــه شو، نو غوږونه مو بېرته نرم شول، لومړی یو هال ته چې لاړو، چــې

نږدې سل یونیم سل کسان په کې ځایېدل او د کنفرانس یا سیمینار له مجهزو وسایلو څخه برخمن و. هلته پر خپلو ځایونو کېناستو، د کانګرس کتابتون په ټوله دنیا کې ډېر ستر کتابتون دی، دا کتابتون څو پوړیز دی او څو لوی هالونه لري. اوس په کې یوازې (۱۲۰) ملیونه عنوانه چاپي کتابونه شته، په دنیا کې چې هره ورځ کوم نوی کتاب چاپ شي، نو دا کتابتون کوښښ کوي، چې یو ټوک یې ځان سره وساتي. دغه راز په سلګونو زره خطي نسخې او د کتابونو میکرو فلمونه په کې خوندي دي، اوس چې برېښنایي کتابتونونه رامنځته شوي، نو په دې کتابتون کې خو یې په لسګونو ملیونه کتابونه خوندي کړي دي. دلته بیا یو بحث و، بحث اکثره د لابینګ پر مسایلو څرخېده، لومړی بحث پر نهو بجو او پنځه ځلوېښت دقیقو پیل شو، درې تنه ددې بحث برخوال وو:

۱- هون انډریو میګوري Hon Andrew meguire د پروګرام چلوونکی.



۲- ډاکتر ګرېمي بنیرمین Dr. Graeme Bannerman ویناوال.

۳- ښاغلی برید ګورډون، Mr. Berdgordon ویناوال. دی د امریکا او اسرائیلو د عامه چارو د کمېټې لپاره د پالیسۍ

او دولتي چارو ډایریکټر و.

برېډ ګورډون د اسرائیلو د لابینګ په باب خبرې وکړې. د اسرائیلو لابینګ (دلالي) په نړۍ کې ډېره مشهور دی، ویل کېږي، چې دوی د امریکا کانګرس ته ښه لاسرسی لري. ګورډون وویل: زه کاناډا ته د ورځېرمه یو ایالت څخه یم، چې خورا یخ دی، ددې ځای هوا له نورو ایالتونو سره ډېر توپیر لري. د امریکا سیستم هم د نورو هېوادونو له سیستمونو څخه توپیر لري، په نورو هېوادونو کې د پارلمان سیستم د اکثریت رایو پر بنسټ ولاړ دی. په امریکا کې مقننه، اجرائیــه او قضایه قوه یوه پر بلې واک نه لري، یوه بلې سر رقابت لري. د لابینګ یا دلالي اصطلاح او یا مفهوم له یوه هوټل څخه، چې وکیلان به پــه کې اوسېدل رامنځته شوه، زه چې په کوم ایالت کې اوسېږم، هلته تر انسانانو غویان زیات دي، نو د هغه ایالت وکیل په کانګرس کــې وغوښتل د خپل ایالت لبنیات یې وده وکړي، په نورو ځایونو کې د لبنیاتو قیمت زیات و، قیمت د کانګرس له خوا ټاکل کېږي، نو د هغه ځای د خلکو غوښتنه وه، چې د لبنیاتو قیمت باید لــوړ شــي، دې خلکو خپل دا کار د خپل وکیل له لارې په کانګرس کې مطرح کــړ، وکیلان اکثره په کانګرس کې د خپلو موکلینو نظریــات او عقایــد منعکسوي، د بېلګې په توګه د ښځې ( د جنــین ســقط) مســئله، ځینې ددې حق مخالف دي او ځینې یې موافق، خلک کانګرس ته خپل شکایت کوي، یو وکیل وویل: زما ځینې موکلین له دې مسلې

سره موافق دي او ځينې مخالف، په داسې حالت کې بيــا وکيــل د خپل وجدان له مخې قضاوت کوي.

ډاکتر ګرېمي بنيرمن وويل: غــواړم د امريکــا د بهرنيــو چــارو د لابينګ په باب خبرې وکړم. د امريکا د بهرنيو چارو پاليسي همېشه د اجرائيه قوې له خوا عملي کېږي، که اجرائيه قوه پوه شي، چــې کوم نظر د بهرنۍ پاليسۍ په ګټه دی، نو د نورو نظرونه هم اوري، کله چې اجرائيه قوه پر دې پوه شي کوم هېواد ته زموږ د وسلې ورکړه، زموږ په ګټه نه ده، نو کېدی شي ترې تېر شي، نــو ځکــه دلتــه د لابينګ ګروپونو ترمنځ يو څه ستونزه راپيداکېږي، پــر امريکايــانو سربېره نور ګروپونه هم په کانګرس کې لابينګ کوي، هر هېــواد د لابينګ لپاره خپل ګروپ لري، هر هېواد کانګرس ته د خپل هېواد علايق وړاندې کوي او کوښښ کوي کانګرس پرې قانع کړي.

د لابينګ ګروپونه کېدی شي، د همغه هېواد غړي وي او يا نه وي، دا ګروپونه هم اجرائيه قوې ته ځي او هم مقننه قــوې تــه، ځينــې حکومتونه د خپلو سفارتونو له لارې هم لابينګ کوي او مســتقيماً حکومت سره تماس نيسي، جاپان، اسرائيل او مصر په تېرو څو کلونو کې په لابينګ کې ډېر مخکې دي، دوی د حکومت د بــودجې لــه مسولينو سره کتلي او د خپلو هېوادونو علايق يې ورته څرګند کړي دي، که تاسې غواړئ لابينګ مو موثر شي، نو تاســې بايــد همغــه مسول کس پيدا کړئ او خپل علايق ورته وړاندې کړئ، د مســولو اشخاصو پيداکول او له هغوی سره رابطه ټينګول هم اسانه کار نــه

دی. د ډپلوماتانو له لارې دا کار ځکه ممکن او اسانه نــه دی، چــې هغوی ډېر وخت نه لري، بل د لابینګ ګروپ هغه خلک دي، چــې هغوی ته پیسې ورکول کېږي او ستاسو علایق پرمخوړي، دې کــار کې د دوی ګټه هم خوندي ده. دوی تاسو ته ملاقاتونه برابــروي او لارې چارې درښيي، په واشنګټن کې ممکن هر څوک داسې وعدې درکړي، خو دا کارونه د هر چا په وس پوره نه دي، ځکه هر څــوک مهمو اشخاصو ته لاسرسی نه لري. د ساري په توګه زه شرکت لرم، مصر پر موږ پانګه لګولې، موږ د هغوی علایق پرمخوړو. مصر له تېرو دېرشو کلونو راهیسې د کمپ ډیوېډ تر تړون وروسته د خپلو لــوړ رتبه مامورینو په واسطه له کانګرس او اجرائیه قوې سره ملاقاتونه کوي، په قاهره کې د تجارت له اتاقونو سره تماس لري، همدا سږ کال اوه څلوېښت (۴۷) تنه سوداګر دلته په خپل لګښت راځي، له مقننه او اجرائیه قوې سره ملاقاتونه کوي، خپلې رابطې ټینګوي او خپــل علایق ورته څرګندوي، خو په دې ټولو کې بیا د پرېکړې ســرچینه ډېره مهمه ده، لابینګ ګروپ چې کوم کس پېژني، هغه په کوم مهم ځای کې کار کوي؟ دوی طبعاً هغه کس ته ټلېفــون کــوي او بیــا د ملاقات زمینه برابروي. واشنګټن له نورو سیمو او هېوادونــو ســره توپیر لري، کله چې دوی بل چېرته لاړ شي، نو هلته یې قدر و عزت کېږي، چای او قهوه ورته تیارېږي، د وخت کمی نه وي، خو کله چې دلته څوک راشي، دوی خپل ساعت ته ګوري، د وخت ډېر کمی وي. په تېرو کلونو کــې د لابینــګ ګروپونــه ډېــر قــوي شــوي دي، د

هندوستان د لابینګ ګروپ اوس ډېر موثر دی، د امریکا پر بهرنیو چارو وزارت ډېر تاثیر لري.

امریکا ته د مهاجرینو د بېلابېلو کټګوریو او لــه هغــوی څخــه د لابینګ ګروپونو په باب یې وویل: له نورو هېوادونو څخــه د تېــرو هیئتونو یا راغلو اشخاصو یوه اشتباه دا وه، چــې ځــان بــه یــې د امریکایانو په تله تله، هیله یې لرله، چې د یو امریکایي په شان چلند دې ورسره وشي، په پیل کې چې مهاجرین راغلل، نو هغــوی ډېــر غریب وو، خو د هغوی اولادونه چې همدلته رالوی شول، ځانونه یې ورسول، خو اوس چې کوم مهاجر راځي، له نورو ســره یــې تــوپیر دادی، چې دوی خپله ټول رسېدلي یا تحصیل کړي اشــخاص دي. دوی کولای شي خپلې ځانګړې کمېټې او د لابینګ ګروپونه جــوړ کړي، په دا ډول مهاجرو کې د هندیانو شمېر زیات دی، نو ځکــه د هندیانو لابینګ په کې ډېر زیات او موثر دی.

د مصري هئیت یو برخوال پوښتنه وکــړه: د مصــر لابینــګ لــه اسرائیلو سره سیالي کولای شي؟

ځواب: (C.S.P) (ممکن د لابینګ کوم ګروپ وي) داسې یو ګروپ دی، چې چاته پیسې نه ورکوي، دا ګروپ کوښــښ کــوي، چــې د اسرائیلو او فلسطینیانو ترمنځ د منځګړیتوب لاره تعقیــب شــي، اسرائیل د لابینګ په برخه کې ډېره تجربه لري او موثریت یې هــم زیات دی. د مصر د لابینګ تاثیر هم په وروستیو کلونو کــې زیــات شوی دی.

**د اردن استازي وپوښتل: د وسلې اخیستلو لپاره څه ډول لابینګ په کار دی؟**

**ځواب: په دې برخه کې مشاورین تاسو ته سمه مشوره درکولای شي، د وسلې خرڅول ډېره جنجالي مسئله نه ده، خو کله چې مسئله سیاسي شي، بیا مشکل زیاتېږي.**

**په دې برخه کې د تفریح لپاره وخت ورکړ شو، پنځه لس دقیقې تفریح مو وکړه، بیا د پروګرام دویمه برخه پیل شوه. دا برخه د ډاکتر ډبلیو ام اولسون (Dr.WM.J.olson) په مشرۍ پیل شوه.**

**ښاغلی مارک ینګ (Mr. Mark Young) یې ویناوال و.**

**ډاکتر اولسون وویل: دا ځای چې تاسې په کې اوس ناست یاست**



**دا د ((ویلسن)) په نامه دی. ویلسن ډېر کتابونه واخیستل، دومره کتابونه چې پوروړی شو، بیا یې پر کانګرس وپلورل، د کانګرس کتابتون اوس د نړۍ تر ټولو لوی کتابتون دی، هر کتاب چې په امریکا کې چاپېږي، باید د قانون له مخې یو ټوک یې دلته ورکړي، په نورو نړۍ کې چې کتابونه چاپېږي هم د اکثرو یې یو یو ټوک دلته راځي. دلته یو ښه څېړنیز مرکز دی، دا یو خدماتي مرکز دی، یوازې د کانګرس غړي کولای شي، کتاب له ځان سره یوسي، نور یې له دې ځایه**

وړلای نه شي، خو همدلته يې مطالعه کولای شي. د نـــړۍ د اکثـــرو مجلو او اخبارونو کلیکسینونه دلته شته، میکرو فلمونه يې هم شته.

اولسون د امریکا د کانګرس د تشکیلاتو په باب وویل: په امریکـــا کې هر ګام د اساسي قانون له مخې پورته کېږي، د ولسي جرګـــې غړي د نفوسو په تناسب ټاکل کېږي، د مشرانو جرګې لپاره له هـــر ولایت څخه دوه تنه، مجموعاً سل تنه ټاکل کېږي. په مشرانو جرګه کې د غړو شمېر ځکه د ټولو ولایتونو لپاره مساوي دی، چې لـــوی ولایتونه، واړه ولایتونه تر ستوني تېر نه کړي، د مشرانو جرګې غړي د شپږ کلونو لپاره ټاکل کېږي. د بهرنیو چارو وزیر، سفیران او ځینې نور لوړ رتبه افسران د مشرانو جرګې یا سنا له خوا ټاکـــل کېـــږي. ولسي جرګې د غړو لپاره د ولایتونو نفوس په پام کې نیول کېږي، یو وخت د (۳۰) زرو پر سر یو تن ولسي جرګې ته راته، هغـــه وخـــت د امریکا نفوس (۶) ملیونه تنه وو، خو اوس د (۶۰۰) زرو کسانو پر سر یو تن ولسي جرګې ته راځي. تر ټولو زیات سیټونه کالیفورنیا ایالت لري، ځکه چې نفوس يې تر نورو ټولو ایالتونو زیات دی. قوانین باید د دواړو جرګو له خوا په یوه ژبه او یوه بڼه ولیکل شي او بیا تصویب شي. تر هغه وروسته جمهور رییس ته ځي او بیا توشیح کېږي. کـــه جمهور رییس يې رد کړي، مشرانو جرګه يې پـــه دوه ثلثـــو ښېرتـــه تائیدولای شي.

د سټاف د مامورینو دنده داده، چې له ټولو موکلینو سره د وکیل د ملاقات زمینه برابره کړي، د هغو غوښتنلیکونه واخلي، دا هم حتمي

او ممکنه نه ده، چې د هغوی ټولې غوښتنې دې عملي بڼه خپله کړي، خو دا د هغوی حق دی، چې غږ یې واورېدل شي، بیا دا ټول شیان خپل وکیل ته وړاندې کېږي، هغه یې له ببلابېلو لارو یا ټلېفون په واسطه او یا هم له نورو لارو څخه هغو سره تماس نیسي، خلک د ټلېفون له لارې هم مستقیماً له وکیل سره تماس ټینګوي. ولسي او مشرانو جرګه (۱۶) بېلابېلې کمېټې لري، چې هره یوه یې بیا په خپل منځ کې نورې کمېټې لري، چې څو سوه کمېټې ورڅخه جوړېږي، وظیفه یې داده، چې مسودې جوړې کړي، پیسې هم د مقننه قوې په لاس کې دي. دوی ددې څارنه کوي، چې اجرائیه قوې دا پیسې څنګه او چېرته ولګولې او چېرته یې مصرفوي؟

دویم ویناوال ښاغلي مایک ینګ، د ولسي او مشرانو جرګې په باب لنډې خبرې وکړې، یوازې د یوې کمېټې (استخباراتو) په باب یې معلومات ورکړل، چې څنګه او په څه ډول شورا، د وسلې د کنټرول معاملات څاري. ده وویل: د اجرائیه قوې لوړ رتبه مامورین هم له سناتورانو سره مستقیماً خبرې نه شي کولای، لومړی باید د سناتور له اداري مامورینو سره خبرې وکړي، خپله موضوع ورته تشریح کړي او بیا د هغوی له لارې خپله موضوع تعقیب کړي. اکثره اداري مامورین د تجربو او اداري کار له مخې مقررېږي، اداري مامورین کولای شي سناتورانو ته ووایي په دې او هغه برخه کې خپله پالیسي بدله کړي، ځکه چې اداري مامورین اکثره د موضوع پر

تاریخي شالید او حقوقي حیثیت خبر وي، خو وروستۍ پرېکړه خپله د وکیلانو یا سناتورانو په لاس کې ده.

✱✱✱

ټاکل شوې وه تر غرمې وروسته د جمهور رییس دفتر او د بهرنیو چارو وزارت ته لاړ شو، خو هلته تګ د ځینو معاذیرو له کبله ونـه شو. نو ځکه بېرته د نیسا سنټر پر لوري وخوځېدو. تېره ورځ چې د واورې له امله زموږ په پروګرام کې خنډ راغلی و، د همغه پروګرام د تعقیب لپاره بېرته نیسا سنټر ته لاړو.

دا پروګرام پر یوه بجه او ۱۵ دقیقو پیل شو. په دې برخه کې دغه لاندې اشخاص شامل وو:

۱- پروفیسور ډاکتر ډبلیو ام جـــې اولســـون (Dr.W.M.J. olson) د پروګرام چلوونکی.

۲- پروفیسور ټایلر ریورټ جی ډي (Mr. Tyler Rauert JD) ویناوال.

۳- پروفیسوره اغلې ان موسن (Ms. Ann moisan) ویناواله.

لومړی لکچر د دولت ستراتیژۍ ته د بدلون چلېنج و، پروفیسور اولسون وویل: د دولتونو د ستراتیژۍ بدلون ته ځکه اړتیا وي، چې په یوه موضوع کې که یو پروګرام یا عملیه کار ورنـــه کـــړي، دویـــم پروګرام یا بدیل مو باید ورته په پام کې وي. کله کله دویم بدیل هم د یوې بلې ستونزې د زېږېدو سبب ګرځي، مجبور یو د حل پر درېیمې او څلورمې لارې غور وکړو، ده خپلې دا خبرې په یــوه مثــال کـــې واضح کړې، ده وویل د ساري په توګه د بحر غاړه کې یو موټر په اوبو

کې ډوب شوی، موږ غواړو هغه راوباسو، یو کرېنګ د مــوټر لپــاره استخدام شو، خو د ځمکې او بحر د سطحې فاصله، د موټر وزن او د کرېنګ قوت په دقیق ډول محاسبه شوي نه دي، کله چې کرېنګ موټر د اوبو کچې ته راپورته کوي، نور یې زور نه رسېږي، ددې پرځای چې موټر پورته کړي، خپله کرېنګ د اوبو ګړنګ ته لوېږي، بیا مجبور یو بل قوي کرېنګ راولو، چې هغه، هم کرېنګ راپورته کړي او هــم مخکنی موټر، نو دلته ښکاره شوه، چې لومړی مشکل نه یوازې پر خپل ځای پاتې شو، بلکې بل مشکل یې هم وزېږاوه. له دې څخه دا نتیجه اخلو که موږ غواړو یو مشکل حل کړو، د هغه لپاره باید دقیق پلان ولرو، که دقیق پلان نه وي، نو پر ستونزې بله ستونزه زیاتېږي. ده خپله دا تجربه په څو تصویرونو کې څرګنده کړه. ورپسې یــې د مخدره موادو د قاچاق مسئله تشریح کړه، ویې ویل چې قاچاقچیان له بېلابېلو لارو کار اخلي، تر هغه پورې یو میتود کاروي، چې رسوا شوی نه وي، نو په دې خاطر د مخدره موادو کنټرول یوه ستونزمنه مسئله ده. ان دا چې قاچاقیان د خپل ژوند په بیه حاضــر دي، دې کار ته دوام ورکړي، په دې برخه کې د حکومتونو، سرحدي پولیسو او نورو کړیو ګډه همکاري په کــار ده. د ټرانســپورټ لــه ډول ډول وسایطو، لکه موټر، الوتکې، کښتۍ اوبتلونو او نورو ټولو څخه کــار اخلي، د دې ټولو دقیقه تالاشي اسانه کار نه دی. مخدره تــوکي او تروریزم د هېوادونو ملي امنیت او ارضي تمامیت ته ګواښ پېښوي، ارضي تمامیت دېته وایي، چې یو هېواد پر خپلې خاورې او سرحداتو

حاکمیت ولري او قانون په کې پلی کړي، د مخدره توکو مخنیوی د نړیوال سیستم له لارې ممکنېدی شي، نړیوال سیستم داسې دی، چې دتېرو درې سوو کلونو په بهیر کې رامنځته شوی او پــه تېــرو اتیاوو کلونو کې یې وده کړې ده، خو په دې وروستیو کلونو کــې د دولتونو ترڅنګ ځینې نا دولتي موسسې هم په کې شاملې شــوې دي. ځینې نادولتي موسسې هم د یوه ملک امنیــت تــه خطرونــه پېښولای شي، دوی کې کېدی شي، بانکونه، شخصیتونه، ترهګــر، سوداګر او نور ټول شامل وي. ځینې رسمي او نا رسمي موسســو د دولتونو نړیوال سرحدونه له منځه وړي دي. له دې جملې څخه یو هم د القاعدې سازمان دی، د دوی د فعالیت تشکل داسې نه دی، چې رسمي بڼه ولري، یوه کمپنۍ یو ډول کار کوي، بل شرکت بــل ډول، دا ګروپونه بیا د خپلو ګټو په خاطر یو بل سره همکاري کوي، دوی یو بل سره د تماس مرکزونه لري، ګډ کنفرانسونه جــوړوي او روزنیز مرکزونه لــري. جعلــي پیسې هــم چــاپوي، جعلــي مخدره مواد هــم جــوړوي، د ساري په توګه، یو وخت له یو هېواد څخه مخدره مواد راتلل، دوی د همغه هېواد پــه نامــه جعلي مخدره مواد جوړ کړل، چې اصلي ته نــږدې وو، خــو



اصلي نه وو، دوی د هر هېواد انفرادي قوانين تر خپلې ناوړې اغېزې لاندې راولي.

پر دې وخت پروفيسور اولسون، پروفيسورې مېرمن موسن ته بلنه ورکړه، چې دا بحث نور دا پرمخ یوسي. مېــرمن موســن وويــل: زه غواړم پر همدې نادولتي جنايتکارو ګروپونو رڼا واچوم:

يو وخت يو ليکوال ويلي وو: مهمه نه ده چــې تاســې همېشــه د اکثريت نظر تائيد کړئ، کله کله د اقليت نظر هم ډېر مهم وي. ځينې واړه نادولتي ګروپونه ډېر خطر ناک دي، بايد نړيوال ورته يو تــدبير ولري، دا د دولت تابع خلک نه دي، چاته د ځواب او مسوليت پــړه هم نه مني، دوی هر ډول عمليات کولای شي او له هــرې ممکنــې لارې څخه کار اخلي. د دوی هدف څه دی؟ تغيرات غواړي؟ البتــه دوی په خپل فکر تغيرات غواړي، چې هغــه فکــر دوی تــه کامــل ښکاري، دوی د څو دليلونو له مخې راپيدا شول:

نړۍ سره نږدې شوه، سوړ جنګ ختم شو، هېوادونه د ټکنالوژۍ او همکارۍ له مخې سره نږدې شول، نو دا ډلې هم راپيدا شوې، دا ډلې مختلف شکلونه لري:

۱- يو هغه ډول ګروپونه دي، چې يو مثبــت شــکل لــري، لکــه نادولتي موسسې او انجيوګانې.

۲- مذهبي ګروپونه دي، چې ځينې مثبت کارونه ترسره کوي.

۳- ګڼ قوميزه سازمانونه دي.

۴- د مشترکو ګټو سازمانونه دي.

۵- یو شمېر نړیوال سازمانونه، لکه د بشر حقوقو نړیوال سازمان، شنې سولې سازمان، اکسفام موسسه او نور... دا پورته سازمانونه معمولاً د شخړو سبب نه ګرځي.

دویم هغه ډلې یا ګروپونه دي، چې شخړې او جنجالونه راپیدا کوي، لکه:

۱- وسله والې ډلې

۲- جنګي ډلې

۳- ملېشې

۴- جنګسالاران

۵- شخصي امنیتي کمپنۍ

۶- ترهګر ګروپونه، چې اکثره د القاعدې لپاره کارول کېږي او ځینې نور.



مېرمن موسن چې دا ګروپونه تشریح کړل، نو بیا یې پروفیسور ټایلر ریورټ ته بلنه ورکړه، چې ددې ګروپونو پر قانونیت خبرې وکړي. پروفیسور ټایلر د هېوادونو ارضي تمامیت او سرحدونو ته د ورپېښو خطرونو په باب، چې د نادولتي سازمانونو له خوا پېښېږي، وویل: دولتونه ددې خطرونو پر وړاندې څه لري او څه کولای شي؟

ده د سینما د یوه کرکټر (جاکسن) یادونه وکړه، چې په فلم کې یې د تروریستانو پر ضد یو قــوي  رول لوبــولای او د هغــوی پــر ضــد سرسخته مبارزه کوي، دی له ډېرو ستونزو سره مخامخېږي، خو په پای کې بریالی کېږي، خو دی وایي د فلم او عمل کیسه طبعاً سره توپیر لري، کله چې دولتونه ګورئ  هغه  بیا ددې پدیدې پر وړاندې ډول ډول عمل کوي. د تروریزم پر ضد نړیواله همکاري په کار ده، خو په عملي توګه  دا همکاري اسانه نه ده. یو نړیوال قانون باید جــوړ شي، چې له دې ډول خطرونو سره مقابله وکړي. د هر هېواد قوانین له بل سره توپیر کوي، نو ځکه په دې برخه کې یو نړیوال قانون ته اړتیا ده. د نړۍ دولتونه باید یو بل سره کېني او  یــو لــه بــل ســره همکاري وکړي، دا نړیوال قوانین د نړۍ دولتونه یو بل سره وصلوي، ددې نړیوال قانون په رڼا کې باید داخلي قوانین هم وضع شي. لکه امریکا او عمان چې د تروریزم پر ضد یو تړون لاســلیک کــړی، دا داسې یو تړون دی، چې یو بل ته خپل مجرمین ورسپاري، کله چې د دولتونو ترمنځ همغږي رامنځته شي، نو څه به کېږي؟

دې سره به  د بانکونو ترمنځ همکــاري رامنځتــه کېــږي، چــې تروریستان ونه کړای شي، له یوه بانک څخه بل ته پیســې انتقــال کړي. د ملګرو ملتونو د منشور په یوه ماده کې د ترهګرۍ ضد مواد شته، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا (۱۲۶۷) او (۱۳۷۳) ګڼه پرېکړه لیک د القاعدې او طالبانو په اړه دی، د نړۍ ټول هېوادونه باید هغه عملي کړي، دا د نړیوال قانون یوه برخه ده. په ملګرو ملتونو کې د

ترهګرۍ ضد یوه کمېټه جوړه شوې ده. (۱۵۴۰) ګڼه پرېکړه لیک د عامه وژنې وسلې منع کوي. د تروریزم ضد جګړې یو مشکل هم د بشري حقوقو مسئله ده، چې بېلابېل تعبیرونه ورڅخه کېږي، ځینې ملکونه وایي چې موږ دا کار نه شو کولای، د بېلګې په توګه یو ترهګر چې په اروپا کې ګیر کېږي امریکا ته یې ځکه نه ورکوي، چې اروپـا کې اعدام نه شته، خو امریکا کې شته، نـو دوی اعـدام د بشـري حقوقو خلاف کار ګڼي. همدارنګه ځینې قیدونه هم شته، ځینې نا دولتي ګروپونو سره باید څنګه معامله وشي؟ دوی ځان هېڅ شي ته متعهد نه ګڼي او ځان په هېڅ پورې نه تړي، هېڅ نړیوال قانون ته مکلف نه دي، نو ځکه باید دولتونه توافق وکړي، چې دوی د نړیوالو قوانینو تابع کړي.

په هېواد کې د بشري حقوقو د خوندیتوب لپاره د مداخلې په باب د نظر ډېر اختلاف شته، لکه په سومالیا، کوسووا، بوسنیا او نورو کې.

پر (۱۹۹۹م) کال امریکا د ملګرو ملتو سازمان له اجـازې پرتـه د کوسووا چارو کې مداخله وکړه، هلته اخلاقي او بشري وضع ډېـره خرابه وه، مناسب ځواب یې غوښته، ملګرو ملتونو عاجل اقدام ونه کړ، کوفي عنان وویل: څه وخت باید یو ملک په داسې حالاتو کې د بل ملک په کورنیو چارو کې مداخله وکړي؟ ارضي تمامیـت د یـو ملک حق دی، نو ددې ترڅنګ دا د هغه هېواد مسولیت هـم دی، چې د خپلو خلکو بشري حقونه خوندي کړي. کله چې د یو هېواد دولت کمزوری شي، نو دا مسولیتونه یې تر پوښتنې لاندې راځي، دا

وخت نورو ملکونو ته د ملګرو ملتونو له خوا د خلکو د حفاظت لپاره د مداخلې حق ورکول کېږي، دا پرنسیپ ( د بشر ملاتړ) د ملګـــرو ملتونو په منشور کې شته. یو د مشکل مخنیوی دی، بل مداخله او درېیم له خلکو سره عملي مرسته ده. د ملګــرو ملتونــو د بشـــري حقوقو کمیسیون وویل: ددې کارونو تر ټولو واکمنه سرچینه ملګري ملتونه دي، که د ملګرو ملتونو امنیت شورا په دې چاره کې ناکامه شي، نو د ملګرو ملتونو عمومي غونډه یا اسامبله کــولای شـــي، دا مسایل پر مخ یوسي، دا چې یو ملک د بل ملک په چارو کې مداخله وکړي که ونه کړي، دا اوس هم یوه پېچلې مسئله ده، چې تراوسه لا نړیواله ټولنه ورسره لاس و ګرېوان ده.

د غونډې یو برخوال پوښتنه وکړه: ترهګرې ډلې هېڅ ډول نړیوال قانون نه مني، په ملګرو ملتونو کې ځینو هېوادونو ته د ویټو حـــق هم، تر نړیوالو قوانینو پورته یو کار دی، په دې باب تاسو څه وایئ؟

ځواب: دا ددې مانا لري، چې دوی د ملګرو ملتونو د نورو غړو پر وړاندې مساوي حقوق لري، خو د نړیوالو قوانینو له مخې دوی ټول یو شان نه دي. د مخنۍ حملې حق هغه وخت سم دی، چې ګاونډی هېواد د حملې تیاری نیسي، دا وخت یو هېواد حق لري، چې د ځان دفاع وکړي.

یو بل برخوال پوښتنه وکړه: کله چې د مداخلې د حـــق خبـــرې کېږي، خلکو سره تشویشونه پیدا کېږي، لکه د عراق په شمال کې د کردانو موضوع، په دې باب تاسې څه وایئ؟

ځواب: زه فکر کوم، چې ددې مسودې د ليکلو پر وخت شــايد د هغوی تعبير دا نه و، چې له دې مداخلې څخه دې ناوړه ګټه پورتــه شي.

کله کله انساني موضوع ددې مداخلې او حفاظت غوښتنه کوي، لکه (کوسووا) او (روندا) ته د امريکا تګ، چې سياسي اهداف يې نه لرل، يوازې انساني موضوع وه.

د بنګله دېش استازی: څوک چې مخدره مواد توليــدوي، هغــه اکثره نا دولتي او غريب خلک دي، خو ګټه اخيستونکي يې اکثــره پرمختللي هېوادونه دي، ولې دلته سخت قوانين نه جوړېږي، چــې ددې شيانو مخه ونيول شي؟

ځواب: فدرالي حکومت په عمومي ډول قوانين جوړ کړل، خو په انفرادي ډول دلته مشکل دادی، چې دلته (۵۰) ايالتونه دي، دا هر ايالت خپل خپل قوانين لري، پوښتنه داده، چې قوانين بايد پر هغو کسانو تطبيق شي، چې دا مواد کاروي.

✱✱✱

**ګروپي کار:** تر پورتني بحث وروسته ګروپي کار ته لاړو، پر دوو ګروپونو ووېشل شو، يو د منځني ختيځ او يو هم د جنوبي اســيا او ورڅېرمه هېوادونو لپاره و، چې افغانستان هم په کې شامل و. ګروپي کار د يو امريکايي پروفيسور په مشرۍ پيل شو، په ګروپي کار کې د افغانستان، پاکستان، بنګله دېش، سريلانکا، نيپال او ځينــو نــورو هېوادونو استازي شامل وو. امريکايي پروفيسور تر ټولو لــومړۍ دا

پوښتنه مطرح کړه چې: د امریکا حکومت باید څه وکـړي، چــې د افغانستان او پاکستان مناسبات ښه شي او د تروریزم پر ضد جګړه ګټوره او موثره وشي؟

د پاکستان استازی (معظم احمدخان) وویل: د جنرال مشرف پر وخت د افغانستان او پاکستان مناسبات ښه وو، مهمه خبره داده، چې سیاسي پرېکړه باید وشي، پر جګړې مشــکل نــه حلېــږي، د مشرف پر وخت یوې خوا ملامتي پر بلې خوا او بلې به بیا پر دې بلې خوا اچوله.

صبغت الله سنجر صیب د افغانستان له هئیت څخه وویل: تروریزم سرحد نه لري، امریکا او ټولې نړیوالې ټولنې بیا بیا ویلي چې تروریزم سرحد نه لري، نو نړیوالې ټولنې ته په کار دي، تر څو پورې چــې د تروریزم ریښې له منځه یونسي، افغانستان کې دا جګړه پای ته نــه رسي، افغانستان د تروریزم قرباني شــوی دی، د تروریــزم ځــالې افغانستان کې نه شته، ځالې یې تر افغانستان بهر دی.

د سنجر صیب د خبرو په تعقیب ما(یون) وویل: زه د سنجر صیب دا خبرې تائیدوم، چې د ترهګرۍ اصلي ځالې په افغانستان کې نه دي. افغانان د یوې بشري قوې او سون موادو په توګه په دې جګړه کې سوزي، افغانان ددې امکانات نه لري، چې ددې درنې جګــړې لګښت او پوځي امکانات برابر کړي، تاسو چې کومــه کارېــدونکې وسله، ریموټ کنټرول بمونه او ځان وژونکي واسکټونه او همدارنګه د جګړې ایډیالوژیک تحرکات ګورئ دا ټول له بهر سره ارتباط لري،

د جهاد په کلونو کې دا ډول بریدونه نه ترسره کېدل او نه افغانستان د ځان وژونکو بریدونو سابقه لري. که د جګــړې بهرنــي امکانــات ودرول شي، افغانستان کې دا جګړه ډېره ژر بندېږي. موږ له نړیوالې ټولنې هیله لرو، که غواړي افغانستان کې دا جګړه پایته ورسېږي، نو د جګړې اساسي سرچینې باید وچې کړي.

یو بل غلط تصور، چې د پاکستان له جوړېدو څخه بیا تراوسه پــه پاکستان کې شته او په دپلوماتیکي ژبه کې څوک ورته ډېره اشاره نه کوي، هغه دادی، په پاکستان کې یو شمېر مذهبي او استخباراتي کړۍ شته، چې هغوی په افغانستان کې یو قوي حکومت نه غواړي، دوی تصور کوي چې له یوې خوا قوي افغانستان او له بلې خوا قوي هندوستان د دوی د نفوذ ساحه راتنګوي او په سیمه کــې د دوی پراختیا غوښتنې سیاست مهاروي، دغه راز په دې حالت کې دوی نه شي کولای د منځنۍ اسیا طبیعي منــابعو تــه ځــان ورســوي، همدارنګه پاکستان کې دا کړۍ تصور کوي، چې د قوي افغانستان په شتوالي سره په پاکستان کې د مېشتو پښتنو ملي ولــولې تقویــه کېږي او په دې ډول د پاکستان کمزورۍ ته لاره اوارېږي. خو موږ په دې نظر یو، چې قوي او سوکال افغانستان د سیمې د ثبات لپاره په ګټه دی. پاکستان ته هم ډېره اقتصادي ګټه رسوي، افغانســتان د پاکستاني مالونو لپاره ښه مارکیټ دی. د طالبانو د حکومت پرمهال، چې افغانستان کمزوری اقتصاد درلود، افغانستان تــه د پاکســتان صادرات پر کال (۵۰) ملیونو ډالرو ته رسېدل، خو اوس دا صادرات

هر کال (۱۲۵۰) ملیونو ډالرو ته رسېږي. ما لا خپلې خبرې خلاصې کړې نه وې، چې د پاکستان استازي ښاغلي (معظـم احمـدخان) وویل: دا تصور غلط دی، چې پاکستان یو قوي افغانستان نه غواړي، پاکستان همېشه په افغانستان کې سوله غوښتې، موږ د جهاد پــه کلونو کې له افغانانو سره ډېره مرسته کړې ده، افغانســتان زمــوږ مسلمان ورور هېواد دی، خو اوس چې موږ افغانستان ته ګورو، دوی هندوستان ته په جلال اباد، کندهار او نورو سیمو کې قونســلګرۍ ورکړي، دا موږ ته خطر دی، افغانستان باید زموږ دا تشــویش درک کړي، موږ له افغانستانه ګیله لرو، چې دوی ولې زموږ مخالف ته زموږ په سرحداتو کې داسې نمایندګۍ ورکړي دي، په داسې حال کې چې هندوستان په دې سیمه کې قونسلګریو ته اصلاً هېڅ اړتیا نه لري. افغانستان زموږ مسلمان ورور هېواد دی، نو له ورور نه ګیله کېږي، دوی باید زموږ اندېښنې درک کړي...

پر دې وخت ما یو ځل بیا نوبت واخیست، بحث هم لږ څــه ګــرم غوندې شو. ما وویل: په همدغه ځای کې معلومېږي، چې پاکستان په افغانستان کې دخپل نفوذ د پراختیا هیله لري او له هنــد ســره دښمني او زور ازموینه زموږ په هېواد کې معلوموي، افغانستان یــو مستقل هېواد دی، موږ حق لرو، چې له هر هېــواد ســره د خپلــو علایقو پر بنسټ سیاسي او اقتصادي روابط ولرو، ایا له پاکستانه موږ کله دا پوښتنه کړې ده، چې ولې دې په پېښور، کوټه او یــا نــورو ښارونو کې، ایران او یا نورو هېوادونو ته قونســلګرۍ ورکــړي دي،

همدې پاکستان ته چې مو په کندهار، ننګرهار، هرات کې د قونسلګریو اجازه ورکړې ایا له ایران او هندوستانه مو اجازه اخیستې، په خپل هېواد کې د قونسلګریو پرانیستل د همغه هېواد مشروع حق دی، خو که چېرې له دې قونسلګریو څخه ربښتیا هم ګاونډیو هېوادونو ته خطر وي، کولای شي د دپلوماتیکو مراجعو له لارې متقابل اقدام وشي او مسئله پر دښمنۍ نه ارزي. په افغانستان کې د پاکستان د ستراتیژۍ عمق، چې یوشمېر مذهبي او استخباراتي ډلې یې تعقیبوي او ما دمخه ورته اشاره ورکړه دا دی چې: ( قوي افغانستان ضعیف پاکستان یا ضعیف افغانستان قوي پاکستان) دا په پاکستان کې د ټولو پاکستانیانو نظر نه دی، بلکې د هغو خلکو نظر دی، چې د افغانستان لپاره خپله پالیسي جوړوي. سنجر صیب هم د قونسلګریو په برخه کې زما خبرې تائید کړې او دا یې د افغانستان خپل حق وګاڼه، ورته یې وویل چې هرات کې ستاسو قونسلګري هم ایران ته ډېره نږدې ده، نو ایا ایران که له موږه وغواړي، نو ستاسو قونسلګري به ورځخه باسو؟

پر دې وخت امریکایي پروفیسور پوښتنه وکړه: ویل کېږي چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ یو مشکل د ډیورنډ کرښه ده، دلته یو پاکستاني الاصله امریکایي دی، هغه همېشه د امریکا کانګرس او حکومت ته وایي چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ لوی مشکل د ډیورنډ کرښه ده، تر څو چې افغانستان د ډیورنډ کرښه په رسمیت ونه پېژني، په افغانستان کې سوله نه راځي، که امریکا غواړي په

افغانستان کې سوله راشي، نو باید د افغانستان پر حکومت فشـار راوړل شي، چې افغانستان له پاکستان سره د ډیورنـډ کرښـه پـه رسمیت وپېژني، که نه نو دا جګړه به دوام پیدا کوي.

سنجر صیب په دې باب وویل: موږ سره څه نه شته، چې پاکستان ته یې ورکړو، بل افغانستان په دې موقف کې نه دی، چې پاکستان سره په دې باب خبرې وکړي، کله چې افغانستان کې بشـپړ امـن راشي، بیا کېدی شي د نړیوالو قوانینو او د خلکو د برخلیک د ټاکلو په باب د ډیورنډ د کرښې په ګډون، پر ډېرو مسایلو بحـث وشـي، پاتې شوه د تروریزم مسئله، هغه دې مسایلو پورې اړه نه لري.

د پاکستان استازی (معظم احمدخان): موږ له افغانستان سـره د ډیورنډ مسئله هېڅکله نه ده مطرح کړې او نه افغانستان موږ سره دا مسئله کله مطرح کړې ده. پاکستان دا مسئله یوه حـل شـوې مسئله ګڼي، اوسني سرحدونه د نړیوالو سرحدونو پـه توګـه پـه رسمیت پېژني، که افغانستان دا مسئله غوښتلای، نو پاکستان چې له هند سره درې ځله په جګړه کې راګیر و، هغه وخت د افغانستان لپاره ښه چانسونه وو، خو افغانستان هغه وخت هېڅ عکس العمل ونه ښود، دا ددې مانا لري، چې افغانستان دا مسئله حل شوې ګڼي.

د پاکستان استازي زیاته کړه چې موږ د ډیورنډ کرښې په باب څـه مشکل نه لرو، مانا دا چې دا کرښه د پاکستان او افغانستان ترمنځ رسمي سرحد دی.

ما (یون) دا وخت یو ځل بیا نوبت واخیست؛ ما وویل: د ډیورنــډ کرښې په باب باید وویل شي، چې په دې برخه کې داسې حقــوقي دلایل شته، چې د حکومتونو تر کچې پورته دي. لویه جرګه چې په افغانستان کې د حکومتونو تر کچې پورته د قدرت او مشروعیت تر ټولو واکمنه سرچینه ده، د افغانستان لویې جرګــې نــږدې پنځــه لسیزې وړاندې پرېکړه وکړه، چــې د ډیورنــډ کرښــه د انګرېــزي استعمار په زور، د افغانستان پر امیرانــو تپــل شــوې وه او تــر دې وروسته یې افغانستان نه مني. تر هغه وروسته یوه حکومت هم دا کرښه په رسمیت نه ده پېژندلې. له حقوقي پلوه هــم د ډیورنــډ د کرښې یو طرف یا حقوقي اړخ (برتــانوي هنــد) اوس متــوفی دی. پاکستان له افغانستان سره د ډیورنډ د کرښې یــو اړخ نــه دی. دا کرښه له برتانوي هند څخه پاکستان ته پــه میــراث پــاتې ده، لــه حقوقي پلوه په داسې مسایلو کې د وراثت قانون نه تطبیقېږي، ځکه چې د وراثت قانون بیا خپل وجایب او مسولیتونه لري، هغه هېڅکله پاکستان ته نه دي راجع شوي او نه دوی هغه پر ځان منلي دي. د نړیوالو قوانینو له مخې هم، هغه تړونونه، چې په زور او جبر پر یوې خوا ومنل شي، حقوقي ارزښت نه لري، د ډیورنډ کرښه هم په زوره د هغه وخت د ستر زبرځواک (انګریزي ښکېلاک) له خــوا پــر امیــر عبدالرحمن منل شوې وه او د افغانستان نــورو حقــوقي مراجعــو

هېڅکله نه ده تائید کړې، انګرېزان چې هغه وخت ددې کرښـــې د تحمیل یوه خوا وه، ددې په مقابل کې د هغه وخت امیر ته یــو لــړ امتیازات ورکول، چې د امیر د حیات په اختتام سره دا امتیازات هم ختم شول او ددې کرښې په باب قرارداد هم ورسره خپل ارزښت له لاسه ورکړ. پاتې شوه د تروریزم مسئله، دا هېڅکله د ډیورنــډ لــه کرښې سره رابطه نه لري او که پاکستان کې ځینې ډلې او اشخاص ترهګري له دې کرښې سره تړي، نو بیا خو دا تر ټولو پاکستان ته په زیان ده، ځکه دوی خپله ددې ثبوت ورکوي، چې دا ډلې ټپلې موږ تقویه کوو او که پر افغانستان د فشار له امله د ډیورنډ کرښــه پــه رسمیت وپېژندل شي، نو بیا موږ دا خلک (ترهګر) مهارولای شو. تر دې نو بیا د مداخلې غټ ثبوت چېرته دی؟ موږ دا په ټینګــه ردوو، چې تروریزم له ډیورنډ کرښې سره ارتباط لري، ایا پر نیویارک چې ترهګرو برید وکړ، هلته هم د ډیورنډ مسئله شریکه وه، یا وروستی برید یې چې پر ممبي وکړ، هلته هم ډیورنډ کرښه وه او یا د نړۍ په نورو ګڼو سیمو له هغې جملې څخه په خپله د پاکســـتان پــر ګڼــو ښارونو، لاهور، پینډۍ او نورو کې هم د ډیورنډ کرښه شامله ده؟ دا هسې یوه پلمه ده، چې ځینې ډلې غواړي یو مشکل له بل مشکل سره وتړي، زموږ او د پاکستاني هئیت ترمنځ خبرې نورې هم تودې شوې، د نورو هېوادونو استازو ټولو موږ ته غوږ نیولی وو، هغوی ته

هم پټه ولګېده، چې دوو هېوادونو ترمنځ د نظرونو څـومره تـوپیر موجود دی. دا بحث نور هم ګرمېده، خو امریکایي پروفیسورو وویل: ښه به وي چې د امنیت د ښه والي په باب خپل نظرونه څرګند کړو. زموږ له هئیت څخه انګار صیب وویل: نړیوال باید زموږ ملي پولیسو، استخباراتو او ملي پوځ سره مرسته وکړي، چې موږ ددې جوګه شو، په خپله خاوره کې ترهګر وځپو او د پاکستان امنیتي ارګانونو سره دې هم مرسته وشي، چې هغوی په خپله برخه کې د ترهګرو ځالې له منځه یوسي، دغه راز د دواړو هېوادونو امنیتي ارګانونه باید یو بل سره مرسته او همکاري وکړي، یو بل ته خبر ورکړي، چې تر دغـې سیمې مې ترهګر تعقیب کړل، نور ستاسو د نفوذ ساحې ته داخـل شول، باید تاسې یې تعقیب کړئ، په دې ډول کېدی شـي دا ډلـې ټپلې له منځه لاړې شي. وخت نور هم  د پای پر ټکي ودرېد، هم د پاکستان استازي او هم موږ غوښتل په دې باب زیات بحث وکړو، خو وخت نه و، امریکایي پروفیسور په پای کې د نتیجې په توګه وویل: ددې نورو هېوادونو استازو ته به نوبت ورکړو، چې په لنډو ټکـو، د افغانستان او پاکستان ترمنځ پر دې شوي بحث قضاوت وکړي او د خبرو نتیجه راوباسي:

د بنګله دېش استازي (نظام احمد) وویل: د افغانستان او پاکستان ترمنځ د خبرو او نظر تفاوت زیات دی، باید اوسېله وشـي، خـو دا

مشکل له نظامي لارې نه حلېږي، بایـد دپلومـاتیکې لارې چـارې ولټول شي، څوک چې ملېشې ساتي باید خبر ورته ورکړل شي، چې له دې لارې وګرځي، خلک باید باسواده شي، ځکه کله چې خلک باسواده شي، خپله پرېکړه خپله کولای شي، که د افغانسـتان پـه چارو کې مداخله ونه شي، ښه به وي.

د نیپال استازي (ډابرسنګ ګورنګ) وویل: مورږ د دواړو هېوادونو ترمنځ د نظر تفاوتونه ولیدل، دې کې د امریکا د نقش ضرورت دی، دا چې افغانان د خپلې اردو پیاوړتیا ته اړتیا لري باید په دې برخـه کې ورسره مرسته وشي.

د نیپال استازي په دې ترڅ کې له هندوستانه هم شکایت وکـړ، چې د نیپال په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي. ده وویل چې د نیپال په کورنیو شخړو کې نږدې (۱۳۰۰۰) کسان ووژل شـول، خـو ددې جنګي ډلو ځینې مشران په هندوستان کې ګرځي او مزې کوي. تر دې وروسته امریکایي پروفیسور وویل: تر ټاکلي وخته پنځـه لـس دقیقې زیات پاتې شو، موټر مورږ او تاسې ته منتظر دی، ډېر ښـه او ګرم بحث و، ماته هم شاباسی راکړئ، داسې جالب بحثونه رامنځته کوم، چې تر اخره خلک بوخت ساتم، دې سره له ګروپي کاره راووتو، په موټر کې کېناستو او د هوټل پر لوري رهي شو.

# يوه شپه له فرهنگي اشنايانو سره

کله چې هوټل ته ورسېدم، نو (خالد هادي او سيد سليمان اشنا) دواړو راته ټلېفون وکړ. خالد هادي د بېنوا وېبسايټ د امتياز خاوند دی او په پښتو کې دا ډېره مشهوره وېبپاڼه ده، په لکونو لوستونکي لري، پښتو او پښتنو ته يې ډېر زيات خدمت کړی دی. خالد هادي صيب اوس په نيويارک کې اوسي او ما سره يې وعده کړې وه، چې ليدو ته دې درځم، سيدسليمان اشنا اصلاً د ننگرهار اوسېدونکی دی، ښه قــوي ژورناليســت او ويانــد دی، پــه طلــوع او شمشــاد ټلويزيونونو کې يې کار کړی او هلته چې ښه وځلېد، نو بيا په امريکا کې اشنا ټلويزيون ته راغی او دلته نو اشنا له اشنا ټلويزيون ســره اشنا شو. خالد هادي صيب سره مې لږ مجلس کړی و، ده د خپلــو فعاليتونو په باب معلومات راکړل، چې په خورا زړه چاودون يې تــر دې مهاله څه کړي، خو څه يې چې کړي اکثره يې مــوثر دي، مــا د افغانستان فرهنگي حالت ورته بيان کړ او د افغانستان ځينې مهمې داخلي ستونزې مې ورته په گوته کړې، خو په پای کې مو دا نظر يو و چې: (کار کول په کار دي)، (مخکې به ځو او شاته به نه گورو.) سيد سليمان اشنا هم تر لږ ځنډه وروسته راغی، هغه نو لا مخکې له ما څخه ژمنه اخيستې وه، چې د شپې به دده مېلمه کېږم، څو شېبې اشنا صيب سره کېناستو، دواړه مې يو بل ته معرفي کړل، که څه هم

لیکوال د استاد رفیع په وینا د پخوانیو ټلېفونچیانو غوندې دي، که یو بل یې لیدلي هم نه وي، نو اورېدلي یې خو یې وي، فقط چې یو بل سره یې معرفي کړي، نور نو بیا زیات تفصیل ته اړتیا نه شته، اشـــنا صیب وویل: نور ملګري دې چېرې دي؟ هغوی ته هم ووایه، چې مونږ سره لاړ شي، ډېر به خوشاله شو. ما ویل فکر کوم چېرته به تللي وي، ټلېفون مې ورته وکړ، انګار صیب او سنجر صیب یو هم روخ نه شول. لږ ورته منتظر هم شو، خو چې پته یې ونه لګېده، نو بیا زه (یون) او خالد هادي صیب له اشنا صیب سره، د هغه د کور پر لوري رهي شو. له هوټله تر کوره پورې نږدې نیم ساعت لاره وه، په لاره کې مې که څه هم اخوا دېخوا د ښار ښکلاوو او رڼاوو ته کتل، خو اشناصیب د سیاسي بحث یوه موضوع منځ کې راګوزاره کــړه، یــون صــیب د انتخاباتو موضوع ډېره ګرمه ده، څه فکر کوئ څه به وشي؟ څوک به یې وګټي؟ ما ویل والله نو اوس لا هم وخت شته، چې څوک پرې سم بحث وکړي، وکتل شي چې څه ډول کاندیدان رامنځته کېــږي؟ د هغوی مرستیالان څوک دي؟ دا هم مهم رول لري، قومي، سیاسي، مذهبي، سیمه ییز او اقتصادي بېز هــم ډېــر رول لــري، ګاونــډي هېوادونه، نړیوال ایتلاف په تېره بیا د امریکا متحده ایالتونه دا هر یو خپل خپل تاثیرات لري، نو چې یو ځل لیدلوري او تګلوري معلــوم شي، هغه وخت یې ارزونه او محاسبه اسانه ده، اشنا صیب وویل زه هم له همدې نظر سره موافق یم، خو اوسنیو کاندیدانو ته چې ګورم، که څه هم له کرزي څخه ډېر زیات خلک نــا راضــه دي، خصوصــاً

پښتانه، خو بیا به هم له مجبوریته کرزي ته رایه ورکړي، ما ویل که ښه بدیل پیدا شي، د کرزي صیب چانس کمېږي او یا یې پر وړاندې یو قوي ایتلاف جوړ شي او که چېرې تر ده بل قوي کاندید پیدا نــه شي، نو بیا دده چانس په دې زیاتېږي، چې دی تیار په واک کې دی، که څوک هر څومره چغې ووهي، چې له واکه ګټه نه پورته کوم، خو په خپله په واک کې شتوالی له واکه د ګټې اخیستنې مانا تــداعي کوي او دا خپل تاثیر لري، خو بیا هم د اســتاد روهــي پــه وینــا د افغانستان وضع د پېشبینۍ وړ نه ده، کېدی شي حالات بلې خواته وده وکړي، کېدی شي انتخابات هېڅ ونه شي، نو اوس مطلق حکم کول سخت کار دی، اشنا صیب وویل: دا سمه ده، خو زما هــدف د اوسنیو حالاتو د تداوم په صورت کې و. خالد هادي صیب هم موږ ته ورته نظر درلود. د بحث لړۍ لا ختمه نه وه، چې د اشنا صیب کور ته ورسېدو، یوه دوه پوړیز کور و، چې زینې او د کوټې متن یې پر لرګین فرش پوښلی و، کور ته پورته شو. ارسلاجمال صیب او ایوب خاورین صیب هم راغلي وو. څو شېبې سره کېناستو، چای یې راوړ، د چای پر مهال زموږ ورینداره ( د اشنا صیب مېرمن) راغله، موږ تــه یــې ستړي مشي راکړل، زما د مېرمنې او ماشومانو پوښتنه یې وکړه، ویل یې کاشکې هغوی دې هم راوستي وای، بیا یې په کور و کلي او وطن کې د حالاتو پوښتنه وکړه، ما د خیر و خیریت ډاډ ورکړ. د چای پر مهال بیا سیاسي بحث پیل شو. د جمال صــیب او ایــوب خــاورین صیب نظرونه دا وو، چې په تېرو کلونو کې کار شوی، خو څومره چې

کار شوی هغومره په رسنیو کې مثبت نه دی منعکس شوی، خالــد هادي صیب د حکومت بې کفایتو او اداري فساد ته ګوتــه ونیولــه، ویې ویل چې ما سره داسې مستند اسناد شته چې څوک په څومره مالي او اداري فساد کې ککړ دي.

همدې بحث کې وو، چې بله خونه کې پر مېز ډوډۍ تیاره شوه، په ډوډۍ کې یې لکه د نورو افغانانو غوندې افراط کړی و، د لګښت یې په کې ختمی کښلی و. زه خو د وزیرصیب محمدګل خان مومند لاره تعقیبوم، ټولو پښتنو ته وایم، چې مېلمه ته باید دومره څه پاخه کړئ او دومره لګښت ورته وکړئ چې له هغه څخه څه پاتې نه شي، خو پښتنو لا تراوسه پورې د عصري او ښاري کلتور له ټولو شرایطو سره ځانونه نه دي عیار کړي، ډوډۍ مو په خوند وخوړه، ډېر اخلاص پــه کې و، زموږ د ورینداري دې کور ودان وي، ډېر زحمت یې ګاللی و، تر ډوډۍ وروسته بیا طبعاً د بحثونو لړۍ پیل شوه، خو ما کوښښ وکړ، چې رالنډ یې کړم، ځکه هلته خلک ډېرو خبرو ته وخت نه لري، پر خپل معین وخت له خوبه پاځېږي، دندې ته ځي او سترې کار کوي، نو له ټولو مو د منني تر څنګ اجازه هم واخیسته، ټول له کوره رابهر شو، جمال صیب او خاورین صیب په یوه موټر کې په خپلــه مخــه لاړل، زه (یون) او خالد هادي صیب، اشنا صیب تر هوټله راورسولو، د شپې دولس بجې وې، اشنا صیب مو رخصت کړ، زه (یون) او هادي صیب د اتاق پر لوري لاړو. نږدې یو ساعت به ســره ناســت وو. پــه هېواد کې د فرهنګي مسایلو په باب مو ډېرې خبرې وکړې، هادي

**صیب د خپلو راتلونکو فرهنګي پلانونو په اړه خبرې وکړې، ما هم د خپلو فرهنګي کارونو په باب معلومات ورکړل. د شپې یوه بجه وه، ده راڅخه رخصت واخیست او همدلته د یوه نږدې هوټل پر لوري، چې ده په کې ځان ته اتاق نیولی و، لاړ او پر ما د خوب پرښتو خپل وزرونه وغوړول.**

# د سیمینار نهمه ورځ

د مارچ (۴)مه د چهارشنبې ورځ وه، بیا له معمول سره سم پر اته نیمو بجو نیسا سنټر ته ورسېدو، پر اتو بجو او پنځه دېرش دقیقو د سیمینار د نن ورځې لومړنۍ برخه پیل شوه. ددې برخې برخوال وو:

۱- پروفیسور، ښاغلی جیمز کلاډ(Mr.James clad) د نیسا سنټر پروفیسور د پروګرام چلوونکي په توګه.

۲- د نړیوالو او ستراتیژیکو څېړنو د مرکز ډایریکټر ډاکټر انــدریو کوچنیس (Dr.Andrew Kuchins)، ویناوال

۳- د ملي دفاع پوهنتون پروفیســور ډاکتــر پلیــپ ســوندرس (Dr.Phillip Sawnders)، د ویناوال په توګه.

په پیل کې پروفیسور جیمزکلاډ د نن ورځې پروګرام تشریح کــړ، چې تر نن ماښامه به څه کېږي؟ بیا یــې وویــل د ملــي امنیــت د جوړښت په باب د اوباما له دفترڅخه یو مسول کس راغلی، تاسو ته به د ملي امنیت شورا د پالیسۍ په باب د چاپ شویو پاڼو یوه یــوه کاپي درکړي. د نننۍ ورځې د بحث اساسي موضوع په نړۍ کــې د چین او روسیې دریځونو ته ځانګړې شوې ده او له امریکا سره ددې هېوادونو روابطو ته. په پیل کې وویل شول، چې د روسیې او امریکا د متحده ایالاتو متخصصین نن د نړۍ د دوو لویو قوتونو (چــین او

روسیې) په باب خبرې کوي. مېرمن کلنټن خپل لومړی سفر لــرې ختیځ ته کړی و، دا ددې مانا ورکوي، چې امریکا چین ته ډېر ارزښت ورکوي، د بوش د واکمنۍ پر وخت په پیل کې لومړی له روسیې سره روابط ښه وو، خو وروسته خراب شول. د غونډې چلوونکي زیاتــه کړه. چین د دنیا د اقتصاد (دېو) دی. ده وویل: په واشنګټن کــې د تفکراتو څلور سوه مخزنه دي، چې له هغې جملې څخه دادی یو یې دلته ناست دی (ناست پروفیسور ته یې اشاره وکړه)، لومړی به پــر چین خبرې کوو. په پیل کې یې پروفیسور ډاکتر اندریو کوچنیس ته بلنه ورکړه. هغه وویل: زه په منځني ختیځ کې د چین پــر نقــش د نړۍ پر اقتصادي بحران او د چین او امریکا پر روابطو خبرې کــوم، لومړی د چین داخل ته ځو! که چیني کمونیستان غواړي پر قدرت پاتې شي، نو باید خپل اقتصاد پیاوړی کــړي، دا کــار ددې ســبب ګرځي، چې داخلي ثبات وساتي، چین له اقتصادي بحران څخه هم اندېښنه لري، چین حاضر دی د اقتصادي مسایلو په باب تفــاهم او مصلحت وکړي. د چین بهرنی سیاست دوه ټکي لري: ۱- اقتصادي، ۲- ستراتیژیک هدفونه، دا هدفونه کله کله هماهنګ وي، خو کله کله نه وي، چین غواړي په منځني ختیځ کې خپل نفوذ پراخ کړي، دوی تېلو او ګازو دواړو ته اړتیا لري، دوی درنې وسلې جوړوي، نــو ځکه دوی زیاتې انرژۍ ته اړتیا لري. چین غواړي نفت او ګــاز یــې تضمین شي، چین د انرژۍ پر نړیوال بازار ډېر باور نه لري، فکر کوي دوی به یو وخت له مشکل سره مخامخېږي، نو ځکه دوی په نړیواله

کچه د خپل نفوذ د پراخولو فکر کوي او د نړۍ ګڼو هېوادونو سـره ارتباطات ټینګوي، د چین بله وېره دا ده، ممکن امریکا یـو وخـت ځینې هېوادونه وهڅوي، چې د چـین مخـه ونیسـي، نـو ځکـه امریکایانو سره هم د ښو روابطو ساتل غواړي، له ګاونډیانو سره یې، چې پخوا مشکل درلود لکه هندوستان سره، اوس غواړي له هغـو سره هم ښه تجارتي روابط وسـاتي او د امریکـا پـه شـان غربـي هېوادونو مخه ونیسي. دغه راز روسیې، ایران، سعودي عربسـتان، برازیل، استرالیا او نورو سره ښه روابط لري، غواړي په نړیواله کچه ښه روابط ولري، د جغرافیې له نظره مهمـو هېوادونـو، د سـیمې هېوادونو او د نړۍ نورو موثرو هېوادونو، ټولو سره چین غواړي خپل روابط پیاوړي کړي. له دې روابطو څخه دوی سیاسي مقصد هم لري او هغه دا چې غواړي د بشري حقوقو په نامه پر دوی باندې فشـار رانه شي. غواړي تجارت یې ازاد وي، ځینې وخت عملي دپلوماتیک کارونه ترسره کوي، لکه د تایوان مسئله. د چـین جمهـور ریـیس سعودي عربستان ته لاړ، د خلیج هېوادونو له مشـرانو سـره یـې ملاقاتونه وکړل، غواړي د سیمې له تجارت او امکاناتو څخـه ګټـه پورته کړي، غواړي چیني شرکتونه په نړیواله کچه پراخ کړي، هـر چېرته چې بازار وي چین غواړي هلتـه لاړ شـي، لـوی او وړوکـي تجارت، ټولو پسې ګرځي، هر ځای ته چې چیني کمپنۍ ځي، د خپل حکومت ملاتړ ورسره دی. چین په اقتصادي او دپلوماتیکه برخه کې غواړي خپل نفوذ پیاوړی کړي، نرم نظامي قوت هم ورسره ملګری

دی، غواړي لاس یې له اسیا څخه نورې نړۍ ته هم وغځېږي، په جاپان، اروپا او امریکا کې یې بازارونه دي، اوس چې په امریکا او اروپا کې کوم اقتصادي بحران راغلی، پر چین یې هم منفي تاثیر کړی، ځینې فابریکې یې هم تړل شوي، تراوسه پورې ورته دا په زیان نه ده، خو تر دې وروسته یې په تاوان ده. په تېرو لسو کلونو کې، چې د چین د اقتصاد خط و سیر ته ګورو، نو له شمالي کوریا او چین څخه به پرزه جات راتلل او بیا به نورې نړۍ ته تلل، ددې علت دا و، چې چین کې کاګر ډېر ارزانه دی، نو ځکه دوی هلته تولیدات کول او بهرنۍ نړۍ ته یې صادرول، خو نړیوال اقتصادي بحران پر چین هم منفي تاثیر وکړ. جاپان، کوریا او تایوان د چین د اموالو شه پېرېدونکي وو. په منځنۍ ختیځ، سعودي عربستان او یمن کې د چین اقتصادي نفوذ مخ په پراخېدو دی، چین زیاتو تېلو ته اړتیا لري، د چین ډېرو لویو او وړو کمپنیو د تېلو لپاره په بهر کې پانګه اچولې ده.

پر (۲۰۰۸م) کال یې په بهر کې (۲۶) ملیارده ډالر پانګونه کړې، دوی د پیسو زېرمه لري، یوازې د طبیعي منابعو په ساحه کې یې (۱۰۰) ملیارده ډالره پانګه لګولې ده. نور هېوادونه د پیسو کمښت لري، خو چین یې نه لري، نو ځکه چین ته اړ دي. چین پر ۲۰۰۶م کال مخ پرودې هېوادونو سره یو ملیارد ډالر مرسته کړې، ځینو هېوادونو سره چې مرسته کوي، د کانونو په برخه کې خپل کارګر

استخداموي، ځینو نورو هېوادونو سره، چې غرب ورسره مرسته نه کوي، چین ورسره مرسته کوي، لکه سوډان، شمالي کوریا او نور...

نوي انکشافات دا دي، چې چین په سیاسي برخه کې ډېر فعـال شوی دی. کله چې د چین جمهور رییس سعودي عربستان ته لاړ، له هغو سره یې ستراتیژیک روابط ټینګ کړل، دوی غواړي د نفوذ د یوې وسیلې په توګه له هغو څخه کار واخلي. د چین مشران زیـاتو هېوادونو ته سفرونه کوي، ان پوځي هئیتونه یې منځني ختیځ تــه ځي راځي. زموږ د څېړنو له مخې د چین په مشرانو کې یو لړ تغیرات راغلي دي، پخواني جمهور رییس یې بانفوذه هېوادونو ته ته، خــو نوی جمهور رییس یې تجارتي مسایلو ته زیات ارزښت ورکوي. چین پخوا له نړیوالو سازمانونو څخه خارج و، خو اوس له دې سازمانو سره اړیکي لري، لکه د شانګهای همکارۍ سازمان او نور... چین د امنیت شورا غړی دی، چین د هغو پنځو هېوادونو له ډلې څخه دی، چې د ویټو له حق څخه ګټه اخلي، لکه د تایوان او سوډان په هکلــه. لــه پوځي پلوه یې پخوا پر منځني ختیځ وسله خرڅولــه، خــو اوس دا خرڅون کم شوی دی. ددې کمښت علت دادی، چې د چین وسله ډېره پرمختللې نه ده، عمان، پاکستان او بحرین سره یې تمرینــات وکړل.

چین پر تېر کال په سلو کې (۹-۱۰) اقتصادي وده کړې ده. د چین د بري راز په دې کې دی، چې په داخل کې هم قوي مارکیټ لــري، اوس په چین کې بېکاري زیاته شوې، ثبات ته هم ګواښونه شــته.

چین په پوځي ډګر کې هم پرمختګ کړی، خپل پوځ یې په عصري وسلو مجهز کړی، پانګونه یې د تایوان په اړه ده. د عدن په خلیج کې یې خپلې بېړۍ زیاتې کړې دي. که دا ټول عوامل جمع کړو، نو ویلای شو چې:

د چین بهرنۍ پالیسي د کورنیو پالیسو پر اساس پرمخ ځي، د چین ساختمان داسې یو ماشین ته ورته دی، چې ټول ښه کار کــوي، د بهرنیو چارو وزارت یې له کورنیو چارو او نورو وزارتونو ســره ښــه همغږي لري، ځینې شرکتونه خپلمنځي رقابتونه هم لري، لکه د تېلو شرکتونه. دا شرکتونه ډېر قوي دي، ان د چین پر بیروکراسۍ تاثیر لري، چین کې د تېلو قیمت پورته شوی، خو اوس چې د تېلو قیمت بېرته راپرېوت دا د چین لپاره ډېر ښــه فرصــت دی، چــې د تېلــو سرچینې واخلي، چین اوس د خپل هېواد کورني ثبات ته اندېښمن دی، ځینې نور هېوادونه غواړي، د چین پانګه هلته ورشي، د چین سوداګر چې چېرته ځي، هغه به د چین د قوانینو مطابق کار کوي، چین کې د کارګر مزد ډېر ارزانه دی. چین په نړۍ کې تر هر هېــواد زیات نفوذ لري، دا چې امریکا د چین پر وړاندې خاص غبرګون نــه ښيي، علت یې دا دی، چې چین د امریکا پر وړاندې یو غټ خطر نه دی. دواړه هېوادونه بېلابېل علایق لري، پــه ځینــو ځـایونو کــې اختلافات شته، لکه د انرژۍ موضوع، خو د سولې او ثبات د ساتلو په برخه کې اختلاف نه شته، چین لا تراوسه پورې دا قدرت نه لري، چې اسیا تر خپل بشپړ کنټرول لاندې راولي، نو د امریکا لپــاره دا

اوسنی وضع ډېره مناسبه ده، چې چین متوجه کړي، د منطقې په ثبات کې برخه واخلي.

تر دې وروسته بل پروفیسور ډاکتر فیلیپس سوندرس ته بلنه ورکړل شوه، چې د روسیې او امریکا د روابطو په باب خپل لکچر پیل



کړي. ده د روسیې په باب ډېرې خبرې وکړې، د خپلو خبرو په ترڅ کې یې وویل: روسیه اوس یو شفاف سیاسي نظام نه لري، د روسیې اوسنی نظام یو ډېر پېچلی نظام دی. روسیه اوس داسې یو نړیوال قوت دی، چې ورځ پر ورځ غښتلی کېږي، د جورجیا مسلې د روسیې او امریکا مناسبات خړ پړ کړل. تر (۲۰۰۱م) کال وروسته روسیې په کیوبا کې خپل استخباراتي دفتر وتړه، څه نور کارونه یې وکړل، خو په مقابل کې امریکا داسې څه ونه کړل، چې روسانو غوښتل. په تېرو درې څلورو کلونو کې د روسیې اقتصاد وده کړې، خو د امریکا اقتصاد له بحران سره مخامخ شوی دی. په تېرو درېو څلورو کلونو کې د بوش ادارې خپل محبوبیت له لاسه ورکړ، هیله ده چې د اوباما اداره دا حیثیت بېرته اعاده کړي. اوازې دي، چې که روسیه د ایران د ذروي وسلې په اړه له امریکا سره مرسته وکړي، نو امریکا به په پولینډ کې د فضایي ستېشن له جوړولو څخه ډډه وکړي، کله کله د ایران او

روسیې ترمنځ پر دې موضوع هم ستونزه پیدا کېږي. د راکټي دفاع موضوع د بوش اداري په پیل کې طرح شـوې وه، د ایـران د ذروي وسلې په باب د نړۍ اندېښنه زیاته شوې ده. کله چــې پروفیســور خپلې خبرې دې حد ته ورسولې، نو بیا یې پوښتنو او ځوابونو تــه وخت ورکړ:

په پیل کې د مصر استازي وپوښتل: امریکا د چین له مارکیټ څخه پیسې پور کړې، مېرمن کلنټن په چین کې د بشر حقوقو موضــوع یاده کړه، نوې اداره به له چین سره پخواني روابط وساتي که تغیرات به په کې راولي؟

ځواب: د امریکا ټولو جمهور رییسانو له (ریګن) څخه نیولې بیا تر راوروسته ټولو پورې، څرګنده کړې ده، چې له چین ســره ټینــګ روابط غواړو، هر څه ته یو وخت په کار دی، دې نوې اداري ته هــم وخت په کار دی، چې له چین سره خپل روابط ښه او ټینګ کړي، د کاربن ډای اکساید کمښت او د ځمکې د کرې ګرمېدل هغه غټــې موضوعګانې دي، چې پر نړیوالو روابطو تاثیر لري، امریکا باید د چین نفوذ ته په (نه) سترګه ونه ګوري، د هغه رول ته باید قایل شي.

د اردن استازي: ځینې خلک وایي چې چین به تر ۲۰۲۰ کال پورې د نړۍ تر ټولو غټ قوت وي، تاسې په دې باب څه وایئ؟

ځواب: که چېرې چین د خپل پرمختګ دوام بیا نوی کړي، په تېره بیا د فزیکي انرژۍ بیا نوي کول، سیاسي برخې ته هم فکر وکړي، نو ددې امکان لري، چې د تجارت په نړیوال سیســتم کــې ښــه وده

وکړي، ځکه چې چین هم پانګه لري او هم خلــک، چــین داســې کارتوکي لري، چې کولای شي ځان له نړیوال سیستم ســره عیــار کړي، سیستم یې د روسیې په شان نه دی، د روسیې مشکل دادی، چې د نړیوال سیستم مخالفت کوي، کله پر نورو انرژي قطع کوي او کله نور... خو امریکا هم کولای شي د نور ښه پرمختګ پــر لــوري حرکت وکړي.

بل پروفیسور د همدې ځواب په دوام وویل: هغو هېوادونو چــې امپراتورۍ یې لرلې او بیا یې امپراتورۍ ړنګې شــوې، هغوتــه ډېــر مشکل وي، چې ځان له اروایي پلوه له نویو شرایطو سره عیار کړي. امریکا د روسانو له دغه حالت نه ناوړه ګټه پورته کړه. امریکــا ددې ترڅنګ روسانو ته په داسې سترګه ګوري، لکه د سړي جګړې پــر مهال یې چې ورته کتــل، د امریکــا او روســیې تــرمنځ مــذاکراتو هېڅوخت توازن نه درلود.

ګروپي کار: پر لسو بجو د پنځه لسو دقیقو لپاره تفریح وه، تر هغه وروسته ګروپي کار ته لاړو، په ګروپي کار کې د نورو اکثرو ورځو په شان زموږ د ګروپ مشر پروفیسور مختیاري و. په ګروپي کار کې د نن ورځې پر بحثونو بیا بحث وشو، هر چا خپل خپل نظر څرګند کړ. د نظرونو غورچاڼ دا و، چې که اقتصادي حالت ښــه شــي، ثبــات ورسره رامنځته کېږي، خو که اقتصادي حالت یودم کښته راشــي، بحران ورسره رامنځته کېږي، هر بحران بیا پــه خپــل وار نــور پــه لسګونو جنجالونه لري. تر ګروپي کار وروسته د غرمې ډوډۍ ته لاړو.

**د غرمې ډوډۍ ته له معمول سره سم عمومي طعام خوری ته تللو چې پر یوه وخت یې په سوونو کسان ځایولای شـول او غـذا یـې ورکولای شوه.**

**د مارچ د ۴مې نېټــې دویمــه برخــه: دا غونـډه چــې د ماسپښین پر یوه بجه پیل شوه، دغــه لانــدې پروفیســوران یــې پرمخوړونکي وو:**

**۱- پروفیسور ډاکتر فریبورز مختیــاري (Dr.Fariborz mokhtari) د غونډې چلوونکي په توګه.**

**۲- پروفیسور ډاکتر ای جی سنګ Dr.I.J.Singh ویناوال**

**۳- پروفیسور ښاغلی راډ الکاډیري Mr. Raad Alkadiri ویناوال.**

**په پیل کې پروفیسور مختیاري د نن ورځې ددې برخــې اجنــډا تشریح کړه. بیا پروفیســور ســنګ د جنــوبي اســیا او منځني ختیځ د اقتصــادي چلېنجونو په بــاب خبــرې وکړې. ښاغلي سنګ د ملي دفاع پوهنتون کې پروفیسور دی. پروفیسور سنګ د هند اقتصادي حالــت، د انــرژۍ لګښت او هغه نور چلېنجونه چې دا لوی هېواد ورسره مخامخ دی، تشریح کړل، پر اقتصادي مسایلو زیات راوڅرخېد.**



ورپسې پروفیسور الکاډیري د انرژۍ په باب هر اړخیز بحث وکړ. د انرژۍ اهمیت او امنیت یې تشریح کړل: ده وویل: شپږ میاشتې مخکې مو د انرژۍ د اهمیت او امنیت په باب خبرې وکړې، په تېرو شپږکلونو کې د انرژۍ قیمت او کارونه په سلو کې (۴۰) پورته شوي، هند او چین یې تقاضا ډېره پورته کړه، ایا د تېلو او ګازو انرژي، د انرژۍ لپاره دا اړتیا پوره کوي؟ اوس د مصرفوونکو هېوادونو ترمنځ د انرژۍ د زېرمه کولو مسئله مطرح شوې ده. د انرژۍ کورنیو او نړیوالو کمپنیو ترمنځ ستونزې شته. تر (۲۰۲۰م) کال پورې تېلو ته تقاضا زیاتېږي. پر (۲۰۲۰م) کال به نړۍ هره ورځ (سل ملیونه) بیلره تېلو ته اړتیا ولري، خو دا په داسې حال کې ده، چې داوپیک سازمان وايي: دوی به دا مهال تر (۸۵) ملیونو بیلرو زیات تېل تولید نه کړای شي.

د انرژۍ د مسایلو د تشریح ترڅنګ پوښتنو ته هم وخت ورکړل شو. یو برخوال پوښتنه وکړه:

د اوباما اقتصادي پلان به څه وخت نتیجه ورکړي؟

ځواب: ځینې وايي د (۲۰۱۰)م کال په منځ او ځینې وايي په پای کې به یې تاثیرات څرګند شي. کله چې نفوس زیاتېږي، ځوانان زیاتېږي، لکه الجزایر، پاکستان او ځینو نورو کې، دېرش کاله وروسته به دلته ځوانان زیات وي او باید تعلیم وکړي. یوازې پر طبیعي زېرمو باید ډډه ونه لګول شي. د حل نورې لاې چارې باید ولټول شي، د تعلیم مسئله ډېره مهمه ده.

پروفیسور راډ وویل: بادي انرژي او د لمر انرژي هم ډېرې مهمـــې دي، بیولوژیکي انرژي هم شته، لکه له جوارو څخه چې تېل لاسته



راځي. بادي او لمریزې انرژي ته شنه انــرژي وایـــي، کــه چېرې دا ډول انــرژي دود او وکارول شي، نو د تېلــو لــه تولیدونکو هېوادونو سره به ډېر زیات مشکل پیدا شي.

ډاکتر سنګ: تېل یوازې د انرژۍ وسایل نه دي، چین او هند نړدې دوه سوه فابریکې په ډېرو ســکرو چلــوي، خــو دا کــار چاپېریال او هوا ډېره ککړوي. که امریکا او نړۍ وغواړي د نړۍ هوا پاکه کړي، نو دا به امریکا ته یو بل مشکل پیدا کړي، ځکه امریکا د ټولې نړۍ په سلو کې (۲۵) انرژي لګوي.

د بحران په حالاتو کې نړیوالې مرستې هغه وخت موثرې وي، چې حکومتونه ښه وي او که حکومتونه ښه نــه وي، نــو مرســتې هــم همداسې وررسېږي او غرقېږي.

د بنګله دېش استازي: کېدی شي د نړۍ انرژي (۵۰- ۱۰۰) کالــه دوام وکړي، خو کېدی شي داسې نورې لارې چارې ولټول شي، لکه د هند په همالیه کې د برېښنا جوړول، چې ډېر امکانات لري، ولې له داسې میتودونو څخه کار وانخلو چې نړۍ پرې یوه شي؟

ځواب: تاسې پر حکومتونو ډېر باور لرئ، خو حکومتونو هم کله کله مشکل نه دی حل کړی، د انرژۍ د زیاتولو یوه لار دا ده، چې د انرژۍ قیمت زیات شي، کله چې قیمت زیات شي، د انرژۍ پر نورو ډولونو فکر کېږي، ذروي انرژي هم یوازېنۍ انرژي نه ده، یوازې فرانسه په سلو کې (۷۵) له اټومي انرژۍ څخه کار اخلي.

پروفیسور راډ: ځینې ملکونه یا هېوادونه چې له اټومي انرژۍ څخه کار اخلي، کېدی شي له دې انرژۍ څخه په پوځي چارو کې ګټه واخلي.

د کویټ استازی: د خلیج یو شمېر هېوادونه غواړي له ذروي انرژۍ څخه کار واخلي، دا به د تېلو پر قیمت تاثیر ونه کړي؟

ځواب: که چېرې د ذروي انرژۍ د کارونې مسابقه پیل شي، نو دا د تېلو پر قیمت تاثیر کوي، د عرضې او تقاضا خبره مطرح کېږي، د تېلو انرژۍ ته اړتیا کمېږي، تېل او ګاز یوه سیاسي انرژي هم ده، کله چې کوم ځای کې جنګ پیلېږي، نو د تېلو پر قیمت اتومات تاثیر کوي. ځینې هېوادونه پر نورو هېوادونو باندې تېل او ګاز، د سیاسي فشار د یوې وسیلې په توګه هم کاروي.

پروفیسور مختیاري: کله چې اوضاع بحراني شي، حتمي نه ده چې تولیدونکي دې ګټه وکړي، کله کله بحران پر دوی هم منفي تاثیر کوي، ځینې ملکونو کې چې تېل یې ملي ملکیت دی، د حکومت لپاره د زیاتو عایداتو وسیله ده.

**پروفیسور سنګ: کوم حکومتونه چې د تېلو په شان د ګټې منابع لري، حکومتونه يې د خلکو غوښتنو ته زيات غوږ نه ږدي، څه يــې چې زړه غواړي هغه کوي، کله کله دا منابع د خلکو د غوښتنو لپاره هم کاروي، کله کله د خپلو مخالفينو د ځپنې لپاره هم تــرې ګټــه اخلي. یانې منفي اړخ هم لرلای شي.**

**✸✸✸**

**تر دې لکچر وروسته یوې پېغلې سایمه مخوف، په نیسا سنټر کې د شویو سیمینارونو په باب رڼا واچوله، ټول هغه ســیمینارونه يې له کمي پلوه تشریح کــړل، چې له تېرو وختونو بیا تــر دې وخته پــورې جــوړ شــوي وو.**



**تراوســـــه پـــورې پـــه دې سیمینارونو کې له افغانســتان (۹۳) تنو، له بحرین څخه (۱۶) تنو له مصر څخه (۷۵) تنو او عراق څخه (۱۶۰) تنو او له نورو هېوادونو څخه هم استازو ګډون کړی و او د فراغت سندونه يې اخیستي دي. کوم جدول چې د سکرین پرمخ وښودل شو، تر ټولو لوړ رقم د عراق و او بیا د افغانستان و، لــه دې څخه داسې ښکاري، هغه هېوادونه چې اوس يې له امریکــا ســره روابط ښه شوي، د امریکا توجه تر ټولو عراق ته زیاته ده، سره له دې چې افغانستان د مساحت له پلوه تر عراقه لوی او نفوس يــې هــم**


ورځخه زیات دی. خو عراق له اقتصادي پلوه او همدارنګه کېـــدی شي له جیوپولټیک پلوه امریکا ته زیات ارزښت ولري. دې لکچر یا معلوماتو پنځه لس دقیقې دوام وکړ او تر هغه وروسته د هوټل پـــر لوري رهي شو.

# یو ماښام د جورج واشنګټن په کور کې

کله چې هوټل ته ورسېدو، نو له مخکني مهالوېش سره سم ماښام په همغه موټر کې، چې موږ یې هره ورځ له هوټله نیسا سنټر ته او له هغه ځایه هوټل ته وړلو، راوړلو کېناستو، نیم ساعت مزل به مو کړی وي، چې هلته ورسېدو، یو عادي کور و، داسې نه ښکارېده، چې ډېر پخوانی و، له لرګیو جوړ و، خو فکر کېده چې پر وخت یې لاس په کې وهلی دی. غالباً چې دا یو له هغو ځایونو او استوګنځیو څخه و، چې واشنګټن د یو معین وخت لپاره دلتــه پــاتې شــوی دی. د امریکا له امنیت شورا او ځینو نورو دولتي مقاماتو څخه هم ځینې لوړپوړي چارواکي راغلي وو. پر بېلابېلو مېزونو د برخوالــو نومونــه لیکل شوي وو، پر یو مېز له یو هېواد څخه یو تن ته ونــډه ورکــړل شوې وه، پر هر مېز اوه اته کسان وو، دا یې په دې خاطر کــړي وو، چې د بېلابېلو هېوادونو خلک سره کېني. هم بــه پــه ګــډه ډوډۍ وخوري، هم به یو بل سره خبرې وکړي او هم به یو بل ســره اشــنا شي، د ډوډۍ تر پیل دمخه یو پروفیسور ته بلنه ورکړل شوه، چــې هغه د جورج واشنګټن د اتلولیو او مبارزو په باب خبرې وکړي.

هغه وویل: زه د واشنګټن پوهنې یو زده کوونکی یم، خو څرنګــه چې د نن ورځې د پروګرام پرمخوړونکی د ځینو سختو بوختیاوو له امله دې غونډې ته راونه شو رسېدلای، نو د هغه دنده ماته راکړل

شوه. هغه د واشنګټن په باره کې ډېر کره معلومات درلودل، خو زه چې ددې لارې یو لېوال زده کوونکی یم، غواړم خپل معلومات تاسې سره شریک کړم.



واشنګټن (۲۰۰) کاله مخکې تېر شوی، (۴۳) جمهور رییسان تراوسه تېر شوي دي، واشنګټن تر ټولو ښه جمهور رییس دی. دده قبر ته تراوسه پورې (۷۰) ملیونه خلک راغلي دي، زه او ماشومان مې هر وخت هلته ځو. د ساړه جنګ د (۵۰) کلونو په بهیر کې او تر هغه وروسته موږ متوجه شو، چې موږ څوک وو، نو بېرته خپلو اساساتو ته وګرځېدلو، که غواړو خپل بنسټ ته لاړ شو، نو باید واشنګټن ته لاړ شو. یو تاجر و، شراب یې جوړول، کتابونه یې لوستل، ښه نڅاګر (رقاص) و، که له هغه څخه وپوښتې ته به څنګه زموږ په یاد کې پاتې شې؟ هغه وایي: ((زه باید د یوه بزګر په توګه یاد شم))، د کرنې لپاره یې پنځه ځایونه وو، په لسګونو کنیزې یې درلودلې، یو لوړ قدی انسان و (ده په اینچ او سانتي هم یاد کړ او د اوږدوالي اندازه یې هم وویله)، لوی لاسونه یې درلودل، کولای یې شول متاک (چارمغز) په لاس مات کړي، د یوه پوځي شخص په توګه وپېژندل شو، د امریکا په تاریخ کې یې تر ټولو لوړه پوځي رتبه لرله،

د تقاعد پر وخت یې درې ستوري درلودل، تر مرګ وروسته ورتــه کانګرس درې ستوري نور هم ورکړل، لوړې زده کړې یې لــه وروره کړې وې. پر (۱۷۵۳م) کال ورځخه د ویرجینا والي د درېو جنــوب غربي سیمو د مطالعې غوښتنه وکړه، هلته یو جنګ وشو، ده هغــه جنګ بایلود، وهل ډبول یې هم وخوړل، یو کال وروسته امریکا یوه بله قطعه ورولېږله، چې له فرانسویانو سره وجنګېــږي، واشــنګټن وویل چې دا ښه لاره نه ده، خو ورور یې ونه منله، جګړه وشوه، په دې جګړه کې د واشنګټن آمر ووژل شو او واشنګټن ټپــي شــو. د بومیانو او فرانسویانو دا جنګ پر (۱۷۶۳م) کال خلاص شو، دی په ډګروالۍ کې تقاعد شو، انګرېزانو دا مهــال غوښــتل، چــې خپلــه مستعمره دلته پراخه کړي، له خلکو مالیه واخلــي او د خلکــو پــه کورونو کې واوسي، دې کار پر خلکو ډېر بد تاثیر وکړ، لومړنی سړی، چې د دوی د عملونو پر ضد یې عریضه وکــړه واشــنګټن و. دی د وخت پاچا ته په خپل لرغوني لباس کې راغلی و، خو پاچــا د دوی ټولې غوښتنې رد کړې، دلته په ځینو سیمو کې جګړه وشوه، خلکو ویل: موږ یو قومندان ته اړتیا لرو. واشنګټن تیار پوځي لباس درلود، د شمالي او جنوبي ویرجینا د یووالي لپاره ګټور و. تر (۱۷۸۱م) کال پورې وجنګېده، په دې ټوله موده کې هېڅوخت کور ته لاړ نه شو، یوازې خط یې لېږه. پر (۱۷۸۱م) کال دی راغی او د استقلال اعــلان یې وکړ. البته فرانسویانو هم ددې کار ملاتړ وکړ. واشنګټن پوهېده چې پوځي قوت یې کمزوری دی او د نړۍ له غټ قوت (انګرېزانــو)

سره جنګېږي، د ویرجینا انګرېزي حکومت ورته تسلیم شو او باید د سولې تړون یې لاسلیک کړی وای. همدلته واشنګټن خپلــه لویــه خبره وکړه؛ خلکو وویل کانګرس باید ونیول شي، واشنګټن وویــل چې کانګرس مه نیسئ، ځکه دا همغه ظلم و ستم دی، چې انګرېزانو کاوه. یو لیک یې له جیبه راوکښه، چې د کانګرس له خوا ورته لیکل شوی و. عسکرو وویل: موږ دومره قرباني ورکړه، نو موږ څه کاره شو چې اوس دې کانګرس پاتې شي؟ واشنګټن استعفی ورکړه او خپله توره یې کانګرس ته ورکړه، خو په کانګرس کې انګلیسي پاچا باور نه کاوه، ویل یې چل کوي او که چېرې دی رښتیا وایي، نو دی د دنیــا ډېر لوی شخصیت دی. واشنګټن بېرتــه خپلــې کرنیــزې ځمکــې (مزرعې) ته لاړ، دا داسې یو وخت و، چې خلکــو بایــد ځانتــه یــو حکومت جوړ کړی وای، داسې یو حکومت چې متعدد ایالتونه سره یو کړي، دا وخت (۱۳) ایالتونو یو سیستم درلود، (۹) ایالتونو بحري قوې درلودلې، واشنګټن پرېکړه وکړه، د ویرجینا او مریلینډ ایالت استازي یې وغوښتل او ویې ویل چې اساسي قانون کې باید تغیــر راوړو، نوی اساسي قانون یې په فلاډلیفا کې جوړ کړ. دلته اساســي مشکل د جمهور رییس قدرت و، چې نه یې غوښتل استبدادي بڼه خپله کړي. پر اساسي قانون جنجال پېښ شــو، واشــنګټن بېرتــه راغی، خو کانګرس په خپلو رایو د جمهور رییس په توګه انتخاب کړ. دی نیویارک ته لاړ ( هغه وخت د امریکا پلازمېنه وه) اته کالــه لــه خپل کوره لرې و. ده فکر وکړ داسې یو قانون باید جوړ شي، چې د

دولت مشر له قانوني لارې انتخاب شي، کله چې کانګرس ته د قانون خبره لاړه، حیران وو، چې ده ته څه لقب ورکړي، پاچا، شهزاده او که کوم بل څه، خو په پای کې فیصله وشوه، چې په ساده ډول ورته ((جمهور رییس)) وایو.

بیا یې واشنګټن ته وړاندیز وکړ، چې خپل خوریی د څارنوال په توګه وټاکي، خو ده دا کار ځکه ونه کړ چې ویل یې دا کار بیا تر ما وروسته هم تکرارېږي. ده یو قوي مرکزي حکومت جوړ کړ، خو بیا یې هم له انګلیسانو سره جنجالونه وو. فرانسویانو دا وخت له



امریکایانو سره مرسته کوله، خو واشنګټن د انګرېزانو پر ضد له فرانسویانو سره هم اتحاد ونه کړ او ویې ویل چې د فرانسویانو له حسادت څخه د انګرېزانو پر ضد کار نه اخلو، ځکه دا کار زموږ د ازادۍ په زیان دی. جورج واشنګټن بل غټ کار دا وکړ، که څه هم

قانون ورته اجازه ورکړه، چې تر دوه دورو زیات حکومت وکړي، خو ده ونه منله، ده غوښتل دا اساس کېږدي، چې څوک تر (۸) کلونو زیات حکومت ونه کړي، ده نه غوښتل، چې د جمهور رییس تابوت له جمهوري ریاست څخه ووځي، بلکې ویل یې دا د پاچاهانو کــار دی.

تر (۱۷۸٦م) وروسته بېرته خپل کور ته راغی او تر عادي نــاروغۍ وروسته، چې تبې او ستوني درد ورسره و، د (۶۵) کلونو په عمر مړ شو. دده په باب ډېر کتابونه لیکل شوي دي. ده په خپلــه د خپــل ژوندانه پر مهال (۴۰) زره لیکونه لیکلي دي. دده شخصــیت ډېــر مغلق یا څو اړخیز و. یو جنرال ویلي چې واشنګټن په سوله او جنګ دواړو کې اول دی او اوس د خلکو په زړونو کــې هــم اول دی. کــه څوک د واشنګټن ژوند په دقیق ډول مطالعه کړي، نو کېدی شي، د خپل هېواد په ژوندانه کې هم تغیر راوستلای شي. هــر کلــه چــې واشنګټن ته کوم لوړ موقف ورکړ شوی، نو ده ترې استعفی کړې ده، په نړۍ کې ډېر کم شخصیتونه پیدا کېږي، چې دې ډول قربانۍ ته حاضر شي. تر دې خبرو وروسته ډوډۍ تیاره شوه، ډېر ښه کبان یې پاخه کړي وو، ډول ډول تازه جوسونه هم وو، ډوډۍ مو په ښه خوند وخوړه، یادګاري عکسونه مو سره واخیستل او بیا له هغه ځایــه د هوټل پر لوري رهي شو.

# د سيمينار نهمه ورځ

د مارچ پنځمه نېټه  د پنجشنبې ورځ هم سيمينار له معمول وخت سره سم پيلېده، خو په سهارنۍ غونډه کې ما او سنجرصيب ځکــه ګډون نه شو کولای، چې موږ له امريکا غږ راډيو او ټلويزيون سره د مرکې ژمنه کړې وه. موږ له سيدسليمان اشنا سره ژمنه کــړې وه، چې مرکې ته به درځو، د پنجشنبې سهار (۸) بجو مو ورسره وعده ايښې وه، ځکه دا داسې وخت و، چې د افغانستان پر ټايم له شــپږ شپږ نيمو بجو سره سمون خوري، موږ بايد د اشــنا ټلويزيــون پــه مستقيمه خپرونه کې برخه اخيستې وای او همدارنګه د امريکا غږ اشنا راډيو د خبرو اترو په خپرونه کې. نو د چهارشنبې ورځ مــې د پروګرام له مسولو چلوونکو څخه اجازه واخيسته او د مرکې مې ورته وويل، هغوی ډېر خوشاله شول او ويې ويل چې مــوږ څــه مرســته کولای شو؟ ما ويل مننه لس بجې بېرته راځو، (وينډي وايټ) د نيسا سنټر ليکلی ادرس راکړ او ويې ويل چې له اخوا يې ټکســيوان تــه ورکړه، همدلته دې راولي. که څه هم سنجر صيب ماته وويل چــې دې مرکې ته يوازې زه (يون) لاړشم، خو ما ورته وويل چې وخت کم دی دوه خپرونې دي، دري برخې ته يې ته لاړ شه او پښتو ته به يې زه لاړ شم. سهار اوه نيمې بجې د هوټل په رسپشن کې کېناســتو، هرکليوال ته مې وويل: يوه ټکسي راتــه وغــواړه! هغــوی ټکســي

راوغوښته، ټکسي ډرېور يو عرب الاصله امريکايي و، په نږدې پنځه لسو دقيقو کې هلته ورسېدو، د امريکا غږ ودانۍ د امريکا کانګرس سره نږدې ده، د امريکا په کچه يوه پخوانۍ ودانۍ ده، دوه دخــولي دروازې لري، خو يوه يې اوس بنده ده، موږ په پيل کې پــر همغــې بندې دروازې برابر شو. کله چې مو وکتله بنده ده، نو ټکسيوان ته مو وويل چې هغې بلې دروازې ته لاړ شي. په دروازه کې ښه ټينګه تالاشي وه، تر ماشينه تېر شو، رسپشن اشناصيب ته زنګ وواهــه، هغه راغی، موږ يې ځان سره سټډيو ته بوتلو، يو ډېر لوی هال و، چې په لسګونو سټډيوګانې په کې وې، له همدې ودانۍ څخه د نړۍ په ګڼو ژبو، راډيويي او ټلويزيوني نشرات کېږي. پښتو او دري خپرونې هم له همدې ځايه خپرېږي. له اشنا ټلويزيون څخــه لــومړی دري پروګرام په ژوندۍ بڼه خپرېده، سنجر صيب يې مرکې تــه راوبالــه، (لينا روزبه) ورسره مرکه وکړه، مرکزي پوښتنه يــې د جــوزار تــر (لومړۍ) نېټې وروسته د جمهور رييس د کار مودې غځولو په باب وه. سنجر صيب لومړی د ښځو د نړيوالې ورځې په مناسبت لومړی د خپل ځان او بيا د خپل ګوند (جمهوري غوښتونکو ګوند) په استازې مبارکي ورکړه او په دې باب يې څو جملې نورې هم زياتې کړې، تر نيم زيات وخت په همدې کې تېر شو، ځکه چې د ژوندۍ مرکې لپاره هغوی په متوسط ډول درې دقيقې وخت په پام کې نيسي، پر پاتې کم وخت يې د جمهور رييس د کار مودې پر اوږدېدو ټينګار وکړ. کله چې له مرکې خلاص شو، ماته يې وويل والله دا جنجالي مسئله ده،

ځان مې په یو ډول تېر کړ. ما ویل څه ښه وې ګوزاره دې وکړه. کله چې دري خپرونه پای ته ورسېده، نو بیا پښتو خپرونه پیــل شــوه، پښتو خپرونه د افغانستان پر وخت شپږ نیمې بجې پیلېږي او پــه کابل کې د ملي ټلویزیون له لارې په مستقیم ډول خپرېږي. ما څخه هم د جوزا تر لومړۍ نېټې وروسته د نظــام د مشــروعیت پــه اړه پوښتنې وشوې، څلور پوښتنې وې. اشنا صیب کوربه و. ما وویل: دا اوسنی جمهور رییس (حامدکرزی) د ولس له خوا انتخاب شوی، د


یون د اشنا ټلویزیون په سټډیو کې د دې ټلویزیون له کارکوونکو سره

اساسي قانون له مخې دا باید بل منتخب جمهور رییــس تــه واک انتقال کړي، د موقت حکومت وړاندوینه په دې اساسي قانون کې نه شته او نه د موقت حکومت جوړېدل د دې انتخابي حکومت تر تداوم مشروع دي. په افغانستان کې د مشروعیت خبرې اصلاً هغه ډلــې

ټپلې کوي، چې اصلاً په خپله نامشروع دي، دوی غواړي افغانستان یو ځل بیا له بحران سره مخامخ کړي. د افغانستان د اساسي قانون اساسي محتوا داده، چې جمهور رییس د پنځو کلونو لپاره دی. که چېرې د جوزا تر لومړۍ نېټې پورې انتخابات ممکن وي، خو ډېره ښه ده او که امکان ونه لري، نو تر انتخاباتو پورې د همدې نظام تداوم تر هرې بلې لارې ډېر مشروع دی. نورې پوښتنې هم وې، چې ضروري نه ده د ټولو ځوابونه دلته بیان کړم.

تر ټلویزیوني مرکې وروسته سنجر صیب د اشنا راډیو دري برخې ته د مرکې لپاره لاړ او زه پښتو برخې ته لاړم، مطیع الله عابد راځخه



یون او سنجر صیب د اشنا راډیو په دفتر کې

د جمهوري ریاست د انتخاباتو، د جوزا تر لومړۍ نېټې وروسته د نظام مشروعیت، کاندیدانو، امریکا ته زما د سفر او نورو مسایلو په باب ګڼې پوښتنې وکړې، نږدې (۲۰-۲۵) دقیقې مرکه شوه.

عابدصیب له مرکې نه خوښي څرګندده کړه.بیا لاړو، د امریکا غـــړ د پښتو څانګې له څو تنو کارکوونکو، له هغې جملې نه زېبا خادم خور سره مو وکتل، ټولو د مېلمستیا لپاره ډېر ټینګ ست وکړ، ما ویل نه ځو چې سبا یا بل سبا زموږ الوتنه ده، بیا که ژوند یاري وکړه او بل ځل راغلو، نو حتمي مو لیدو ته راځو.

د جهاني  صیب او مومند صیب پوښتنه مو وکړه، هغــوی پــر دې ورځ رخصت وو.

بېرته د نیسا سنټر پر لوري وخوځېدو، لس پنځه لس دقیقو کـــې هلته ورسېدو، د سنټر مخې ته یې کښته کړو. نږدې لس بجې وې، چې بېرته د سیمینار تالار ته ورسېدو. د سیمینار د سهار لـــومړنۍ برخه له موږه تېره شوې وه. په دې برخه کې نـــړۍ تـــه د محـــیط د تودوخې له امله د راپیداکېدونکو خطرونو په باب خبرې شوې وې. دا برخه د مېرمن ان موسن (Ms.Anne  moisan) له خوا پــرمخ وړل کېده او ډاکتر مارک لیوی (Dr.Marc levy) یې ویناوال و. په دې بحث کې ویل شوي وو، چې پر راتلونکو دېرشو کلونو کې بـــه د ځمکـــې پرمخ اکثره کنګلونه ویلي شي او دا به د بحر د سطحې د اوچتوالي سبب شي، دې سره به د نړۍ بېلابېلو سیمو کې هغه پـــه زرګونـــو جزیرې تر اوبو لاندې شي، چې همدا اوس په کې ښـــکلي ښـــارونه ودان او مجلل تفریحځایونه په کې جوړ دي، نو تودوخه د نـــړۍ پـــر وړاندې یو ستر ګواښ دی، چې باید نړیوال یې په مشترک ډول مخه ونیسي. کله چې موږ بېرته هال ته لاړو، نو د پروګرام چلوونکو ټولو

له مور څخه وپوښتل چې څنګه وې مرکې مو؟ مور وویل: ډېرې ښې وې، نو دوی ډېر خوشاله شول. د سهارنۍ غونډې په دویمه برخه کې د جنګي ډلو په باب خبرې وشوې او د ځان ژغورنې لپاره یې د یوې جنګي صحنې د تمثیل ضـــرورت په ډاګه کړ، خو په خبرو کې یـــې څرګنده کړه، چې د داسې جنګي صحنو جوړول ډېر مشکل کار دی او خورا زیات لګښت غواړي، نـــو



ځکه اوس دا ډول صحنې د کمپیوټر په ذریعه جوړېږي، خو سړي ته د ځان خوندي ساتلو لپاره بېلابېلې لارې چارې په ګوته کوي. تر دې وروسته ډوډۍ ته لاړو او په عمومي طعام خـــورۍ کـــې مـــو ډوډۍ وخوړه.

**ماسپښین غونډه:** دا غونډه د ماسپښین پر پاوکم دوه بجـــې پیل شوه، په دې بحث کـــې جـــان ایـــف ســـیګلر (john F. sigler) د چیچک ناروغۍ په اړه معلومات ورکړل، چې ډېره خطرناکه ده، ده وویل: د چیچک ناروغي په دربو میاشتو کې له یو تن څخه (۷۲۰۰۰) کسانو ته لېږدېدلای شي. ده وویل: ددې ناروغۍ تاثیرات لومړی په یو هېواد پورې تړلي وي. وروسته یې بیا تاثیرات د سیمې هېوادونو په کچه خورېدی شي او تر هغه وروسته د نړۍ کچې ته پورته کېږي. دا ډېره خطرناکه ناروغي ده، نو په هرترتیب چې وي باید مخه یـــې

ونیول شي. ده وویل: ددې او دې ته ورته ناروغیو د مخنیوي په باب ستاسو نظرونه مهم دي، چې ددې لیکنې برخه به شي او له هغو څخه به ګټه پورته شي، نو هیله ده چې هرګروپ په ګډه د خپل ګروپي کار په ترڅ کې موږ ته خپل لیکلي نظرونه راکړي.



ګروپي کار: تر دې بحث وروسته بیا ګروپي کار شروع شو، زه په لومړي ګروپ کې وم، زموږ د ګروپ ځینې مهم وړاندیزونه په دې ډول وو:

- کوم ملک کې چې دا ناروغي پیدا شوه، باید ټولو ګاونډیو هېوادونو ته خبر ورکړي.
- ټول هېوادونه باید د واکسین زېرمه ولري.
- محیط باید وقایه شي، یانې مخکې تر دې چې دا ناروغي هلته خوره شي، حکومت باید ځان پر دې ډاډه کړي چې دا ناروغي دلته نه شته.
- د ګاونډیو هېوادونو د روغتیا وزارتونو ترمنځ باید ددې ناروغۍ پر وړاندې مخکې تر مخکې د همکارۍ پروتوکول موجود وي.

- د هر هېواد په کچه باید د روغتیا وزارتونو تــر چتــر لانــدې کمیسیونونه جوړ شي.
- د اطلاعاتو او کلتور وزارت په ګډون دې ټول اړوند وزارتونه په



دې کمیسیون کې غړیتوب ولري، چې له داســې خطرنــاکو ناروغیو سره عاجله مقابله وکړي.

همدارنګه د ځینو نورو ځانګړو کمیسیونونو وړاندیز وشو. تر دې وروسته د هر ګروپ نظرونه راټول او عمومي غونډې ته وړانــدې شول، د هر ګروپ په استازۍ یو یو تن د خپــل ګــروپ نظریــات واورول. بیا ګروپ مشرانو ( دریو پروفیسورانو) د خپل خپل ګروپ ستاینه وکړه. خو په پای کې دا ټول نظریات ګټور وارزول شول. مازیګر څلور بجې بېرته د هوټل پر لوري وخوځېدو.

# د سیمینار وروستی ورځ

د مارچ شپږمه د جمعې ورځ د سیمینار وروستی ورځ وه، سهار له معمول سره سم نیسا سنټر ته راغلو، څرنګــه چــې دا دســیمینار وروستی ورځ وه او د سندونو د وېشلو ورځ، نو ځکه یې د اړونــدو هېوادونو دپلوماتان هــم دعــوت کــړي وو. پــه واشــنګټن کــې د افغانستان سفارت څخه هم د (فاضل) په نوم یو ښــاغلي تشــریف راوړی و. ښاغلي علي احمد جلالي هم په نننی غونډه کــې ګــډون کاوه. تر دې دمخه موږ (یون، سنجر صیب او انګار صیب) دوه ځله له




جلالي صیب سره د هغه د کار په دفتر کې وکتل، د هغه د کاندیدی په اړه مو وپوښتل، د نورو وختونو په اندول هغه دا ځل ډېر مصمم و،

چې د جمهوري ریاست ټاکنو ته به ځان نوماندوي. دا يې هم وويل چې د خلکو له خوا راباندې زیات فشار دی. خلک خصوصاً محصلین راته خپله کمپاین کوي. جلالي صیب د هغو کاندیدانو له چلند څخه خوا بدی و، چې جمهورریس حامد کرزي ته یې په کانټیننټال هوټل کې د خپل ګډ مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې سپکې سپورې کړې، ده ویل سیاست چې دومره د لارې او کوڅې سطحې ته ټیټ شو، نو بیا خو دا سیاست نه دی. ده وویل: زه په افغانستان کې پر یو ټیم کار کوم، چې که جوړ شي او ټول د یو ټیم په توګه انتخاباتو ته لاړ شو نو دا به یو ګټور کار وي. ما یو څو لنډې خبرې وکړې، ما وویل: جلالي صیب افغانستان کې اوس داسې یو حالت دی، خلک فکر کوي که امریکا د چا تر شا ولاړه وي، اقتصادي امکانات ولري او په زړورتیـا سره د مخالفو ډلو دښمني پر غاړه واخلي او خپله هم په خلکو کې محبوبیت ولري، نو کېدی شي د بریالیتوب چانس یې زیات شي، خو هغه سیاستوال چې د استاد الفت په وینا له ((مضر احتیاطه)) کـار اخلي، په اوسنۍ افغاني ټولنه کې یې د بري چانس ډېر کـم دی. د مضر احتیاط کیسه مې ورته وکړه، ما ویل الفت صیب په خپل یــوه نثر کې لیکلي: (شمی اکا) په کلي کې په ډېر احتیاط مشهور و، هر چا چې به په کلي کې څه کول، نو لــه ده څخــه بــه یــې مشــوره اخیستله، دده د احتیاط یوه نښه دا وه، چې هېڅکله به موټر کې نه سورېده، ځکه ویل یې کېدی شي موټر چپه شي، د مرګ خطر پــه کې دی، تر دې چې پلی لاړ شم ناوخته به ورسېږم، د مرګ له خطره

خو به بچ شم، برق يې هم کور ته نه راوسته، ويل يې: کېدی شي برق شارټ شي او ټول کور اور واخلي، تر هغه خو همدا شيطان څراغ ښه دی، که رڼا يې کمه ده، نو خطر خو يې نه شته. الفت صیب لیکـــي: ((دی له ډېره عقله پیاده وو، نو ځکه یې په کور کې توره تیاره وه)). ما ویل زموږ پر ځینو مشرانو هم هغه د شمي اکـا کانـه شـوې ده. جلالي صیب یوځل مخ راواړوه، ویل یې دا خو ښه مثال نه و دا دې په چا پورې وو ایه! ما ویل دا مې ټولو هغو مشرانو ته اشاره ده، چې سیاست ته یې زړه کېږي، خو له ډاره د کوم جنایتکار نوم نه شـــي اخیستلای، د افغانستان اوسني شرایط داسې نه دي، چـې دا ډول سیاستوال دې په کې وده وکړي. سنجر صیب جلالي صیب ته وویل: تاسو د افغانستان یو عالم شخصیت یې، زموږ ملت در باندې افتخار کوي، د افغانستان اوسني شرایط ستاسو په شان اشخاصو ته اوس مساعد نه دي، زما شخصي مشوره تاسو ته دا ده، چې ځان کاندید نه کړئ، انګار صیب که څه هم غوښتل چې جلالي صیب څه نا څه تشویق کړي، خو د ډېرو خبرو چانس پیدا نه شـو. جلالـي صـیب دروند سړی دی، د کرزي صیب پر وړانـدې یـې د نـورو احتمـالي کاندیدانو سپکې سپورې په ټینګه وغندلې، بیا یې وویل، څو موده وروسته کابل ته درځم، هلته جمهور رییس، تاسو او نورو دوســتانو سره مشوره کوم او بیا خپل تصمیم نیسم. ددې (وروستۍ) ورځې لومړۍ برخه د سیمینار ارزونې ته بېله شوې وه. په پیل کې یې د نن ورځې ټول پروګرام تشریح کړ، د سیمینار برخوالو ته یې د تصدیق

لیکونو د وېشلو سیستم واضح کړ او نن یې د الفبا پـه سیســتم د غونډېږ برخوال تقسیم کړل، څرنګه چې د افغانستان نوم په الف (A) و، نو زموږ نوبت اول و. د پروګرام تر تشریح وروســته بیــا مشــرانو استادانو او پروفیسورانو خبرې وکړې او دا سیمینار یې یو ډېر ښه، موثر او ارزښتمن سیمینار وارزوه، حتی وویل شول تراوسه چې کوم سیمینارونه جوړ شوي دا تر ټولو موثر سیمنار و. بیا جنــرال بــارنو خبرې وکړې او دا سیمینار یې د تجربو د تبادلې په برخه کې ډېــر موثر وګڼه، ورپسې جنرال ډیکمایرس، نړۍ ته د ورپېښو چلېنجونو په باب خبرې وکړې، بیا یې پوښتنو ته وخت ورکړ.

یو تن پوښتنه وکړه، چې د امریکا اردو ته اوس ورپېښ چلېنجونه کوم دي؟

په ځواب کې یې وویل شول: یو چلېنج افراطیت دی ، د ډله ییزې وژنې وسلې دي، بودجه هم یو چلېنج دی، کــه د امریکــا مشــري غواړي، امریکا په نوره نړۍ کې پاتې شي. نو باید خپله بودجه لوړه وساتي، موږ د خپلو تجهیزاتو نوي کولو ته اړتیا لرو.

سنجر صیبپ پوښتنه وکړه: په افغانستان کې باید څه شوي وای، چې ونه شول او څه باید نه وای شوي چې وشول؟

ځواب: موږ چې کله افغانستان ته لاړو، نو دا پلان مو نــه و، چــې هلته دې بیارغونه وکړو، دوی دلته یوازې دا فکر کاوه، چې القاعده له منځه وړو او طالبان له منځه وړو، خو کله چې کابل د طالبانو له لاسه ووت، نو جمهور رییس بوش سره فکر پیدا شو، چې اوس بــه

څه کوو؟ نو بیا د بیارغونې خبره مطرح شــوه او دا بیــا یــوه اوږده پروسه ده، دا یوازې د امریکا مشکل نه دی، دا یو نړیوال مشکل دی، اوس نو که غواړي یو ناکام مملکت پــر ځــای پرېــږدي، نــو بېرتــه افراطیون راځي. په افغانستان کې پرمختګ هم شوی، زموږ ځینې کارونه هلته ښه وو، د افغانستان امنیتي ځواکونه روزل شوي، پــه انتخاباتو کې مو ځان لرې نیولی و. په عراق کې همداسې و، د ایران له خوا د اکثرو کاندیدانو ملاتړ کېده، د نوري المالکي انتخاب هم د امریکا اول انتخاب نه و، خو اوس بریالی دی. موږ نیمګړتیاوې هــم لرلې، یو تعداد کارونو زموږ د هدفونو ښه تمثیل وکړ. موږ که خپــل کارونه سره پرتله کړو، نو کولای شو ووایو چې تر دې مو ښه کارونه هم کولای شول.

د عراق استازی: د عراق د انتخاباتو او چلېنجونو په باب خپل نظر څرګند کړه:

ځواب: په افغانستان او عراق کې هېڅوخت داسې نه وو شــوي، چې خلک دې خپل مشر په خپله وټاکي، پر عراق باندې د وسلې د پېرېدلو هېڅ بندیز نه شته، څوک د تېلو قیمت هم نه انحصــاروي، دلته داسې څوک نه شته، چې دلته دې د پردې تر شا ناست وي او د تېلو قیمت دې کنټرولوي. اوس چې د تېلو قیمت ټیټ دی دا قیمت بېرته پورته کېږي، خبره اصلاً د عرضې او تقاضا ترمنځ رابطه ده.

دنیپال استازی: د جنوبي اسیا په باب د امریکا د عمومي پالیسۍ هدفونه څه دي؟

ځواب: زموږ هیله ده، چې اوباما افغانستان وڅېړي، افغانستان او پاکستان باید په ګډه مطالعه کړي، ان ټوله سیمه وڅېړي، دا د نړۍ امنیت لپاره یوه حساسه منطقه ده، دوی چې هره پالیسي انتخابوي، موږ باید ښې لارې ته بوځي، خو اوس کومه مشخصه پالیسي نـه شته، د مربوطه هېوادونو د بهرنیو چارو او دفاع وزیران اوس کولای شي د امریکا پر پالیسۍ تاثیر وکړي. د امریکا بهرنۍ پالیسي ډېره ژر نه جوړېږي، ډېر وخت غــواړي، د جمهــور ریــیس فکــر اوس پــر افغانستان متمرکز دی، نه یوازې پر نظامي مسایلو فکر کوي، بلکې پر ټولنیزو مسایلو هم فکر کوي، افغانستان ته نــوی ســفیر لېــږل



کېږي، دلته قوي سفیران په کار دي. په پای کې ښښنه غواړم چــې ستاسو پوښتنو ته مې مشخص ځوابونه در نه کړای شول.

کله چې د غونډې دا برخه پای ته ورسېده، نـو بیـا د سـیمینار برخوالو ته تصدیق لیکونه او نښانونه ورکړل شول. په دې پروګـرام کې جنرال بارنو او نورو دولتي چارواکو برخه اخیستې وه.

د ستاینلیکونو او تصدیقلیکونو په دې برخه کـې د افغانسـتان نوبت لومړی و، لومړی سنجر صیب او ورپسې زما او بیا د انګار صیب نوبت و. کله چې دا پروګرام خلاص شو، ټولو یو بل ته مبارکي ورکړه، څو دقیقې نور هم دلته پر خبرو تېرې شوې، ورپسې د نیسا سنټر له خوا هغې غرمنۍ ته دعوت شو، چې همدلته نږدې په یوه بل هال کې جوړه شوې وه. دلته د جلالي صیب په ګډون د نیسـا سـنټر ټـول استادان، د سیمینار برخـوال او همدارنګـه د بهرنیـو هېوادونـو دپلوماتانو ګډون کړی و. د افغانستان له سـفارت څخـه ښـاغلي (فاضل) تشریف راوړی و، سنجر صیب ترې ګیله وکـړه، چـې د ټولو هېوادونـو سـفارتونو د خپلو هېوادونو




د استازو پوښتنه وکړه، خو تاسې هېڅ زموږ تپوس ونه کړ. ښاغلي فاضل بیا ددې په مقابل کې سخت غبرګون وښود او خپلې نورې په لسګونو ګیلې پرې سرباری کړې، په واشنګټن کې یې د افغانستان



په سفارت کې خپلــه دنده پر افغانستان یو احسان وباله، ځکــه چې دده په وینـا ده ته په امریکا کــې تــر دې ډېر ښــه کارونــه پیداکېږي، د ســنجر صـــیب او ښـــاغلي فاضل خبرې نــورې هم ګرمې شوې، خو ما سنجر صـیب لــه لاسه ټینګ کړ، مــا



ویل دی په ګیلو نــه ارزي، له ښاغلي فاضل څخه مې دې ځای ته د راتګ له امله مننـــه وکړه.



د سیمینار له ځینو برخوالو سره مو څــو یادګـــاري عکســـونه واخیستل.

وروسته د موټر پــر لوري روان شو. د نیسا سنټر ټولو خدماتي مامورینو سره مو خدای

پاماني وکړه، هر یو له ډېرې مینې څو څو ځله خدای پاماني وکـــړه. خو یوه دوه مامورینې چې په تېرو څو ورځو کې یـــې د ســـیمینار د برخوالو ډېر عزت کړی و، ان تر موټره مو بدرګه کړو او په همدې وخت کې د یوه بل ګروپ... سره راغلې، تر هغه چـــې موټر حرکت نه و کړی، دوی ولاړې وې؛ د یوې روانې حالت ته چې مې وکتل، نو شونډې یې مرۍ مرۍ شوې، سترګو کې یې اوښـــکې وځلېدې، موټر حرکت وکړ، او دې همداسې لاس خوځوه، په اخـــره کې یې د خپلې لاس ګوتې مچ کړې او نور موږ ترې پناه شو. پنځـــه لس شل دقیقو کې هوټل ته راورسېدو.

# یو بل ماښام له منشي صیب سره

کله چې له نیسا سنټره پر همدې وروستۍ ورځ هوټل ته راغلو او اتاق ته ورسېدم، نو ښه ډېر ستړی وم، دمه مې لا نه وه راسته شوی، چې د انګار صیب ټلېفون راغی، ویل یې منشي صیب درته منتظر دی، لاندې راځه! کله چې لاندې کښته شوم، سنجر صیب هم راغلی و. منشي صیب عبدالقیوم له خپل ځوان او کاري زوی (بري) سره راغلي و، تر ستړي مشي سم لاسي یې وویل: راځئ چې ځو! ما ویل چېرته ځو؟ ده وویل: نن د بري مېلمانه یاستئ، هلته ځو، ما ویل مېلمستیا خو هغه ورځ تېره شوه بیا نو څه؟ منشي صیب وویل: دا د بري مېلمستیا ده او ده ویل دوی به حتماً زما مېلمانه کېږي...

سرف ډوله موټر ته، چې (کندهار) په نامه نمبر پلېټ پرې لګېدلی و، ورپورته شو. هلته د نمبر پلیټ یو نوم ستا په خوښه ټاکل کېدی شي او ترڅنګ یې خپله مسلسله شماره هم وي. مور وویل: مور خو سبا ځو، کورته مو سودا مودا هم نه ده کړې، منشي صیب، بري ته وویل: دوی ښې لویې مغازې ته بوځه، بري ته مې وویل: غواړو درمل واخلو، هغه وویل: داسې ځای ته به دې بوځم، چې ټول شیان په همغه یوه مغازه کې پوره شي، خو درمل دلته په دوه ډوله دي: یو ډول هغه دي، چې د معالج ډاکتر له نسخې پرته یې نه ورکوي او بل هغه ډول دارو درمل دي چې جانبي عوارض نه لري او په دې مغازو

کې خرڅېږي، تر شل دقیقې مزله وروسته مغازې ته ورسېدو، تر مغازې بهر هوا ډېره يخه وه، خو مغازه کې هوا دومره نورماله وه، چا خيال نه کاوه، چې اوړى دى که ژمی. لومړى د درملو څانګې ته لاړو، ډول ډول درملونه په کې وو، بري په کابل کې څو کاله طب پوهنځی هم لوستی و، خو بیا د مهاجرت له امله ترې پاتې شوی، بيا يې نو په امريکا کې د کمپيوټر ساينس پوهنځی ولوست، اوس نو برى هم پوره انجنير دی، خو پاو کم ډاکتر هم دی. بري ته مې خپلې غوښتنې وويلې، د لوړ فشار، د ټيټ فشار، اشتها، د وينې د زياتولو، د سترګو او نورو ناروغيو لپاره مې ورته وويل، هغه يو لاس ګاډی راوړ، ټولې دواګانې مې په لاسي بکسه کې واچولې، سنجر صيب او انګار صيب هم دواګانې واخيستې، خو ډېر درمل ما واخيستل، د مغازې په نورو برخو کې مو د ماشومانو ځينې داسې شيان لکه ډول ډول قلمونه او همدارنګه د لوبو ځينې شيان واخيستل، کله چې د پيسو شمېرنې ځای ته راغلو، نو زموږ درمل يې چې وليدل، د حساب مسوله ماموره حيرانه پاتې شوه، چې دا څه کوئ دومره درمل؟ ما ويل زموږ ټولنه ناروغه او رنځوره ده دا د ځان او د هغو لپاره وروړو، نو ښځه په خندا شوه، ما ورته وويل موږ ټول افغانان يو، سبا ځو، نو ځکه مو دا دومره درمل واخيستل، زما د ټولې سودا بېل څه کم پنځه سوه ډالره شول. کله چې له مغازې رابهر شو، نو ماښام خپلې تيارې خورې کړې وې. له دې ځايه مو د منشي صيب د کور پر لوري حرکت وکړ، په لاره کې داسې واوره وريدله، چې منشي صيب وويل: په دې څو کلونو کې ما

داسې واوره نه ده لیدلې، پر سړک مو په لسګونو څه پــه ســلګونو داسې ګاډي ولیدل چې یا یې ټکر کړی و، یا له سړکه ښویدلي وو او یا هم ویجاړ شوي وو. بري ته مې وویل چې ډېر زیات ټکرونه نه دي؟ هغه وویل: دا خلک له واورې سره چندان بلد نه دي، بل د دوی موټر



اکثره بیمه دي، دوی یې کیسه کې نه دي، ځینې ډرېورانو کېــدی شي الکول هم کارولي وي، نو ځکه دا دومره ټکرونه رامنځته شوي، دلته چې موټر یو ځل ټکر شي، بیا یې څوک نه کاروي. په ترمیم یې هم ډېرې پیسې راځي، ټکر شوي موټر بیا اکثره لیلام ته ځي او بیا نورو هېوادونو ته وړل کېږي.

منشي صیب به هرې څو دقیقې وروسته بري ته ویل چــې ډېــر احتیاط کوه، منشي صیب څرګنده کړه، چې بری مــوټر ډېــر تېــز

**چلوي، خو اوس يې د واورې او زمور لپاره څه ناڅه احتياط کاوه. په لاره کې د ترافيک پوليسو په لسګونو موټر تر سترګو کېدل، چې د لارې د بندښت مخه ونيسي، د موټرو دومره ضايعات ما تراوسه نه وو ليدلي. بري وويل: کله چې واورې وشي دوی اکثــره دولتـــي اداري رخصتوي، په تېره بيا مکتبونه، په همدې خاطر يې رخصتوي، چې زياتې ترافيکي پېښې پېښېږي. تر يو نيم ساعت مزله وروسته به د بري صيب کور ته رسېدلي يو. دا کور د منشي صيب له کوره د يــو يونيم کيلو متر په واټن لرې دی. د بري صيب کور ښه لوکس کور و، وړو اولادونو يې ډېره ښه پښتو ويلې، هلته غټ مشکل همــدا دی، چې اولادونه يې له خپلې ژبې او خپل کلتوره لرې کېږي، خو د بري صيب اولادونه داسې نه وو، لکه په بهر کې چې وي. خپله بری داسې يو ځوان و، چې د خپلې لنډې ږيرې په شــمول يــې ګــڼ افغــاني خصوصيتونه ساتلي وو، د منشي صيب عبدالقيوم کورنۍ که څه هم امريکا کې اوسي، خو خصوصيات يې اوس هم همغــه د کنــدهاريو اعيارانو په شان دي. منشي صيب هم، په خپلې دې ځوانمردۍ دوه ځله د زندان تر تورو دېوالو وررسېدلی، خو دواړه ځله د ده د فکر او جرئت سر چاته نه دی ټيټ شوی. د طالبانو د وخت د زندان کيسې يې چې راته وکړې، نو دده او مرګ ترمنځ د يوې ثانيې تفاوت هم نه و. دی د کندهار په هغه زندان کې بندي و، چې حاجي عبــدالظاهر قدير او تورن اسمعيل خان هم ورسره بندي وو. ده په زندان کې د حاجي ظاهر د زغم، مقاومت او اوسېلې ډېــره ســتاينه وکــړه او د**

اسمعیل خان په باب یې وویل چې د ډار او وېرې روحیه په کې ډېره پیاوړې وه. منشي عبدالقیوم د خپل ځان ستاینه نــه کولــه، خــو انګارصیب چې یې نږدې انډیوال دی، دده ډېرې کیسې ماته کــړې وې، حاجي ظاهر قدیر نه چې مې دده په باب پوښتنه وکړه هغه راته وویل: ((منشي عبدالقیوم د پولادو غوندې کلک انسان دی.)) لــه امریکا څخه منشي صیب ډېر کوښښ وکړ، چې حاجي ظاهر قدیر سره ټلېفوني خبرې وکړي، ځکه د زندان، تحصیل، عسکرۍ او سفر ملګري ډېر خواږه وي، خو ټلېفون روخ نه شو. بــري صــیب ډېــره لوکسه ډوډۍ تیاره کړې وه، د هېڅ شي کمی نه احساسېده، ما نو دومره ډوډۍ وخوړه، چې نور د خوځېدو نه وم، ډول ډول تازه مېوه په کې وه. ما د امریکا د مېوه جاتو په باب وپوښتل: بري صیب وویل: دوی دومره تازه مېوې لري چې نورې نړۍ ته یې صادروي، دوی خپل زراعت دومره عصري کړی، چې کال دولس میاشتې تازه مېوې لري.

تر چای وروسته مو بېرته د هوټل پر لوري حرکت وکړ، که څه هم منشي صیب وویل چې سهار وخته مو زه په خپله رسوم، اوس واوره هم شوې، لاره کې به ستونزې هم وي، خو موږ وویــل: کــه د لارې ستونزې دې پلمه کولای، نو ولې دې له اخــوا راوســتو؟ ددوی لــه ټینګار سره سره راووتو، بری جلو ته کېناست، سنجر صیب مخې ته او موږ درې واړه شاته، واوره ودرېدلې وه، پر سړک لا د وخته مالګه پاشل شوې وه، سړک څه نا څه صفا شوی و، خو بیــا مــو هــم پــه لسګونو موټر ولیدل، چې اخوا دېخوا ښــوییدلي وو، اشــارې یــې

بلېدلې، بری تر پخواني حالت لږ تېز راغی، خو هره شېبه خطر و. څه باندې یو ساعت کې یې هوټل ته راورسولو، بیا موږ دوی ته ټینګ شو او د واورې پلمه مو ورته وکړه، هغوی وویل چې زموږ پلمه مو ونــه منله، نو ستاسې هم نه منو، د خدای پامانۍ پر مهال بري صیب په درېو جلا کڅوړو کې هر یوه ته څه شیان ډالۍ کړي وو، ویل یې دا زما له خوا تاسو ته یوه یوه ناڅیزه تحفه ده. د شپې ۱۲ بجې وې، چې له دوی څخه مو خدای پاماني واخیسته او موږ هر یو د خپل خپل اتاق پر لوري لاړو.

# د مارچ ۷مه نېټه د شنبې ورځ

## (په امریکا کې زموږ وروستۍ ورځ)

د مارچ ۷مه نېټه د شنبې ورځ وه، سهار له معمول سره سم د هوټل لاندیني پوړ ته د چای لپاره کښته شو، دا نو په دې هوټل کې زموږ وروستی سباناری و، د نورو هېوادونو استازي هم راغلل، هغوی سره مو د خدای پامانۍ یادګاري عکسونه واخیستل. سنجر صیب او انګار صیب سره مو مشوره وکړه، هغوی وویل: پـرواز خـو مـازیګر



ناوخته دی، تر هغه پورې به لاړ شو، دا نږدې پلورنځیو ته که څه شی مو خوښ شول، وابه یې خلو، ما ویل، زه هم باید یو بیک واخلم، زما

کالي او سودا په دې بیک کې نه ځایېږي، پنټاګون لوی پلورنځي ته لاړو، ښه په کې وګرځېدو، ما په کې یو لوی بیـــک پـــه (۷۴) ډالـــره راونیو، دلته سودا تر ځینو نورو پلورنځیو ارزانه وه، بېرته هوټل تـــه راغلو ، سنجر صیب ته مې وویل: ته بل بیک مه اخله، کېدی شي زما شیان ټول په همدې بیک کې ځای شي، زما بیک به ته واخلې، ستا شیان به په کې ځای شي، بیا به یې بېرته کابل کې راکړې. کله چې هوټل ته راغلو، نو بیا خپل اتاق ته لاړم، لومړی مې په دې نوي بیک کې خپل ټول شیان ځای پر ځای کړل، ښه تر څوکو ډک شـــو. بـــل بیک وزګار شو، سنجر صیب ته مې زنګ وواهه، بیک مې وروړ، هغه خوشاله شو، د هغه شیان هم ځای پرځای شول، بېرتـــه اتـــاق تـــه راغلم، یوه سترګه خوب مې وکړ. څه کم دوه بجې وې، چې له خوبه راویښ شوم، انګار صیب زنګ وواهه، ویل یې لاندې راکښته شـــه، چې یو دوه اندېوالان لیدو ته راغلي دي. کله چـــې لانـــدې کښـــته کېدلم، نو یوځل بیا مې پر پنټاګون سترګې ولګېدې، کله چې لاندې پوړ ته کښته شوم، دوه ځوانان ولاړ وو، سترې مشـــي مـــو وکـــړل، هملته امریکا کې یې زده کړې کړې وې، د هغه ځای په خوی بـــوی ښه بلد وو، نو موږ ته یې وویل: لږ به مو وګرځوو، بېرته به مو همدلته راولو.

انګار صیب او سنجر صیب ته مو وویل: وخت کم دی، ځوانانو وویل: څو بجې مو پرواز دی؟ موږ ویل شپږ بجې یې هوایي ډګر ته غوښتي یو. هغوی وویل وخت ډېر دی. یو ځوان د کندهار و، چې د انګار صیب د دوستانو له جملې څخه و او دا بل بیا د مزارشریف و، دواړه سره ملګري وو. دوی په موږ د واشنګټن ښار بېلابېلې برخې وکتلې، د سیند غاړې ته یې بوتلو، د سیند غاړې د یوه ښکلي تفریحځای په یو هوټل کې مو ایسکریم وخوړ، سره له دې چې هوا یخه وه، خو دا داسې یو ډول ایسکریم و، چې بد نه لګېده، بیا یې د



افغانستان سفارت ته بوتلو، د افغانستان سفارت د واشنګټن په هغه دپلوماتیکه ساحه کې دی، چې د نړۍ د اکثرو هېوادونو سفارتونه

همله دي، دا سفارت د افغانستان خپل ملکیت دی، چې پر اوسنۍ ودانۍ سربېره نوره ښه شنه ساحه هم لري، د ودانۍ داخل ته موږ لاړ نه شو، خو له بهر څخه یوه درې پوړیزه ودانۍ ښکارېده، د نورو هېوادونو د سفارتونو ودانۍ او



ساحې مې هم له نظره تېرې کړې، ددومره ځمکې قیمت د واشنګټن په داسې ساحه کې تر لسګونو ملیونو ډالرو اوړي. پر سفارت ځوړند د افغانستان تر ملي بیرغ لاندې مو عکسونه واخیستل، بیا هلته څېرمه یو نړیوال اسلامي مرکز ته لاړو، چې هم یو لوی مسجد په کې ودان و او هم یو ستر علمي مرکز په کې جوړ و. د ټولو اسلامي هېوادونو بیرغونه یې مخې ته رپېدل، د خپل هېواد پر ملي بیرغ چې مې سترګې ولګېدې، نو زړه مې وغوړېد، تر مرکزه چې رابهر شو، نو یو ځوان مې مخې ته ودرېد خیرات یې غوښته،مسلمان و، ځان یې د مصر معرفي کړ، یو څو ډالره مې ورته ورکړل، ما ویل ځوان، مسلمان یې کار وکړه، خیرات مه ټولوه، په اشاره مې پوه کړ. له هغه ځایه بېرته د هوټل پر لوري راغلو، پنځه بجې او پنځه لس دقیقې بېرته هوټل ته راغلو.

# له واشنګټنه د دوبۍ پر لوري

کله چې پر پنځه بجې او پنځه لس دقیقې خپل اتاق ته لاړم، نو خپل بیک مې منظم کړ، د سفر کاغذونه، ټکټ او پاسپورټ مې ټول چک کړل، لس پنځه لس دقیقو کې بېرته راکښته شوم، تر راکښته کېدو دمخه مې یو ځل بیا پر پنټاګون سترګې ولګېدې. رسپشن ته مې د خپل اتاق کارت ورکړ، هغوی ماته بل کاغذ راکـړ، چـې څـه حساب یې پر ما نه شته، انګار صیب او سنجر صیب هـم راکښـته شول، هغوی هم خپل حسابونه پاک کړل، کاغذونه یې واخیستل، ما ویل پاسپورټ، ټکټ او نور ضروري شیان مو په جیبونو کې کېږدئ، شپږ بجې یو ډرېور راغی، زموږ نومونه ورسره وو، درې تنه موږ او دوه تنه د سیمینار نور برخوال په موټر کې کېناستو، شپږ بجې مـو لـه هوټله حرکت وکړ، شپږ نیمې بجې هوايي ډګر ته ورسېدو. دخولي دروازې ته مو ځان برابر کړ، ما او انګار صیب سره یو یـو او سـنجر صیب سره دوه بیکونه وو، غوښتل مو چې ټول لاسګاډي کـې بـار کړو، لاسګاډي منظم یو بل سره وصل ولاړ وو، چې لاس مو کړ، بند وو، بیا مو زور کړ، و نه شو. هلته یوې ټلېفوني غرفې ته ورته یـوې غرفې ته مې پام شو، خلکو په کې د پخواني سکه انداز ټلېفون پـه شان پیسې اچولې او بیا به لاسګاډی راخلاصېده، دا وخت نو ما سره اوسپنیزې ماتې روپۍ نه وې، انګارصیب وویل: صبر زما جیب له ماتو

پیسو ډک دی، یوه یوه یې ورواچوله، چې ترنــګ شــو، لاســګاډی خلاص شو، ډېر زیات خوشاله شو، خوند یې وکړ. څلور واړه بیکونه مو په کې کېښودل، د ټکټ اخیستلو مېزونــو تــه لاړو. ټکــټ پــه کمپیوټرایز ډول په ماشین اخیستل کېده، یوه مسوله ماموره هلته ولاړه وه، ما پاسپورټونه او ټکټونه ورکــړل، هغــه راســره ودرېــده، پاسپورټ دې لاس کې ونیو، ماته یې وویل: ته یــې لیکــه، لکــه د کمپیوټر د کیبورډ په شان توري په کــې وو. نــوم، د پــلار نــوم، د پاسپورټ نمبر، هېواد او د ټکټ نمبر او ځینې نور شیان دې باید په کې ورکړي وای، کوم څه چې به غلط وو، بیا دې باید له سره لیکلي وای. یو پاسپورټ مې د هغې په مرسته ثبت کړ، نور ما ورته وویــل: څه زه یې خپله کولای شم، دوه نور ما خپله ثبت کړل، کلــه چــې درېواړه خلاص شول، هغې ته مې وویل: نور څه وکړم، هغې یو کمانډ ورکړ، څه غلطي په کې شوې وه، زموږ بوډینګ کارتونه یې راګوزار نه کړل، ښځې ښښنه وغوښته، یو سوړ اسوېلی یې وکښه، بیا یې وویل: لږ صبر وکړئ. یو بل مامور ته یې زموږ درېواړو پاسپورټونه ورکــړل، هغه هم وویل: لږ صبر وکړئ، بیا به مو کار وکړم. هغه یو څو دقیقې پر یوه بل مېز مصروف شو، بېرتــه راغــی، زمــوږ پاســپورټونه یــې واخیستل، درې څلور دقیقو کې یې بوډینګ کارتونه راکړل، بکسونه یې وتلل، ویل یې دا غــټ دي، ځــان ســره یــې مــه وړئ، یــوازې انګارصیب خپل وړوکی بیک راواخیست، ما او سنجر صیب خپــل بیکونه د چک ماشین ته یوړل، تر هغه مو تېر کړل، هغــوی وویــل:

تاسې نور خلاص یاست، دوبۍ کې به یې واخلئ! کلـه چـې بېرتـه راوګرځېدو، نو هغې ماموري نه مو مننه وکړه، چې مـوږ سـره یـې مرسته کړې وه، هغه ډېره زیاته خوشاله شوه.

بیا په بوډینګ کارت کې د لاربښوونې له مخې، په ټاکلي ترمینـل کې له تالاشۍ تېر شو، تر هغه پورې چې خپل وروسـتي ځـای تـه رسېدلو، نو پنځه لس شل دقیقې راباندې تېرې شوې وې. د ترمینل وروستۍ برخې ته، چې هلته مسافرین کېني او بیا الوتکې تـه لـه ځانګړو لارو پورته کېږي، ورسېدو، دا ځای نو پر لسګونو برخو وېشل شوی و، چې پر یوه وخت په کې په زرګونو کسان ځایېږي، لـه (۱-۲۴) پورې نمبرونه پرې لګېدلي وو، خپله داسې و لکـه یـو لـوی سرپټی بازار، تراوسه چې ما کوم هوایي ډګرونه لیدلي وو، دا راته په کې له ګنې ګونې ډک او ډېر لوی ښکاره شو، ژوند په کې په ډېـره چټکۍ روان و. موږ هم ښه ستړي وو، درېواړه لاړو له یوه کافي شاپ څخه مو چای واخیست، پر څوکیو کېناستو، کله چـې مـو چـای وڅښه، نو تر ډېره حده یې زموږ ستړیا رفع کړه. دا نو د شـپې اتـه بجې دي، لس بجې زموږ الوتنه ده، تر هغې پورې نو په دې ترمینل کې ښه کښته پورته وګرځېدو، د خرڅلاو لپـاره ډېـر او رنګارنـګ شیان په کې ایښي وو، خو قیمتونه یې طبعاً لوړ وو. نهه نیمې بجې به وې، چې د بوډینګ کارت چکول پیل شول، ټول خلک په نوبت ودرېدل، په ډېر منظم ډول په لسو دقیقو کې د ټولو بوډینګ کارتونه چک شول، الوتکې ته پورته شو. لس بجې الوتکه الوتنې ته چمتـو

شوه. ما خپل قلم او کاغذونه راواخیستل، د څوکۍ مخنۍ برخه کې
مې تیار کېښودل، ما ویل څه هم به خوب کوم او هم به څه لیکم، دا
پنځه لس ساعته مزل به پر همدې ډول تېر کړم. څو پانې بــه مــې
ولیکلې، بیا به ستړی شوم، خوب به راباندې راغی، بیا به دا عملیه
تکرار شوه، دوه ځله ډوډۍ هم په حقیقت کې یو ډول تفــریح وه او
هم خوراک و، په بېلابېلو ساعتونو کې مې نږدې شل مخه یادښتونه
بشپړ کړل، ټول واټن نږدې (۷۵۵۰) میله و، چــې پــه پنځــه لــس
ساعتونو کې ووهل شو، د دوبۍ پر سیمه ییز وخــت د ماښــام اووه
بجې او پنځه لس دقیقې وې، چې د دوبۍ نړیوال هوایي ډګــر کــې
کښته شو.

# له دوبۍ څخه د کابل پر لوري

کله چې د دوبۍ هوايي ډګر کې کښته شو، نو لومړۍ اندېښنه چې موږ سره وه، هغه د خپلو بیکونو په اړه وه، ځکه زه یو ځل بل هم ښه ډېر په تکلیف شوی وم، کله چې له جرمني څخه راتلم، نو بیک یې هلته راځخه واخیست، ویل یې دوبۍ کې یې واخله، دوبۍ کې یې بیا دومره په تکلیف کړم، چې زړه مې و بېخي یې ورپرېږدم. دا ځل مې هم اندېښنه وه، چې همغه کانه ونه شي، څه چې زما په زړه کې ګرځېدل، همغسې وشول. کله چې د هوايي ډګر ترمینل ته ننوتو، نو د بیکونو پوښتنه مو وکړه، هغوی ویل د (مرحبا) څانګې ته لاړ شئ، د مرحبا همدې نږدې څانګې ته لاړو، هلته چې لاړو، هغوی ویل، پلانکۍ نمبر ترمینل ته لاړ شئ، هلته چې لاړو، هغوی ویل له ترمینله ووځئ، هغه ځای ته لاړشئ چې بیکونه په کې راوځي، هلته باید یو ځل له هوايي ډګره وتلي وای، دا بل مشکل و، بیا بېرته د مرحبا مرکزي غرفې ته لاړو، هغوی بیا بل ځای ته ولېږلو. دومره یې ستړي کړو، چې نور مو نو له پلي مزله زړه شین شو، دا هر ځل چې له یوه ځایه بل ته تللو، نو یو دوه ځایه تالاشي کېدلو، تالاشي هم ښه ستړي کړي وو. انګار صیب خو مو لا وار دمخه رخصت کړ. موږ ویل: څه ته هغه نړیوال ترمینل کې کېنه، زموږ کار چې هر وخت خلاص شو، موږ درځو. څو واره یې نور هم اخوا دېخوا ولېږلو، په پای کې

داسې شول، چې دا د لارې پولیس او دا نور مامورین ټول موږ سره بلد شول، بیا مجبور شو د مرحبا دفتر ته لاړو، هلته چې لاړو، ماموره پر څوکۍ ناسته وه، ډېره ښایسته هم نه وه، خو ځان یې ډېر مغرور نیولی و، هغې ته مې وویل: څو ځله لاړو، راغلو خو هېڅ کار مو نتیجه ور نه کړه، هغې رانه پاسپورټونه واخیستل، کمپیوټر کې یې ګوتې ووهلې، ویل یې: څو بیکه دي؟ موږ وویل: درې، ویل یې لاړ شئ (۷۵۰) درهمه راوړئ. څنګ ته بانک کې مې ډالر په درهمو بدل کړل، رامې وړل، راته یې ویل هلته کېنه چې نوبت مو ورسېږي، نیم ساعت مو انتظار وکړ، د اروپایانو او نورو بهرنیانو کارونه یې خلاصول، خو موږ ته یې هېڅ نه کتل، سنجر صیب ته مې وویل: زما خو دې ښځې ته دومره خلق په تنګ شو، چې په دې سر یې ورته خوله ولګوم، هغه ویل اوسېله کوه، چې اوس بل جنجال پیدا نه کړې، ورپسې ورپورته شوم، په ښه تونده لهجه مې ورته وویل: ته څنګه د نورو کار خلاصوې او زموږ نه خلاصوې؟ دا هم ډېره په غوسه شوه: نه ګورې چې مصروفه یم، بیا یې زموږ ټکټونه او پاسپورټونه واخیستل، بېرته یې راکړل ویل یې ستاسو کار موږ پورې مربوط نه دی، ځئ لاړ شئ، دا ځل مې نو دومره قهر ورته راغی، چې په موږ دې پیسې هم بدلې کړې او اوس وایې چې زما مربوط نه دی، دا وخت مې کابل کې خپل یو ملګري ته، چې له کام ایر شرکت سره ډېر بلد دی، زنګ وواهه، هغه په دوبۍ کې د کام ایر شرکت مسول مامور ته زنګ وواهه، بېرته یې ماته احوال راکړ، وارخطا کېږه مه، هغه سړی درته

نیم ساعت کې زنګ وهي، که نه وي بیک دې پرېږده، ته ترې راځه بیا يې زه چاره کوم. پر دې وخت مې سنجر صیب ته وویل: راځه یو ځل بیا هغه ځای ته لاړ شو، چې ما په خپل یو پخـواني سـفر کـې ورڅخه خپل بیک اخیستی و. بیا لاړو، نور نو د خوځېدو نه وو، هلته چې لاړو هغوی بېرته د همدغې مرحبا ادرس راکړ، بیا راغلو دا ځل نو چې دې ښځې ولیدو، نو پرته له دې چې یو بل سره خبرې وکړو، خبره انفلاق ته نږدې وه، یوې بلې ښځې ته یې په لاس اشاره وکړه، هغې موږ ته وویل راځئ راپسې. هغه مخکې موږ ورپسې، د مرحبـا یوې بلې غرفې ته یې بوتلو، دا همغه غرفه وه، چې کله موږ ترمینل ته داخل شو، نو لومړی ځل مو همدې غرفې ته مراجعه کړې وه، خو هغه وخت ددې غرفې مامورینو موږ ته دمرحبا ددې بل دفتر ادرس راکړ، هلته چې ورسېدو، ښځې یا پېغلې خپل کمپیوټر چالان کـړ، زموږ پاسپورتونه او ټکټونه یې وکتل، کمپیوټر کې یې ورسول، پیسې یې واخیستې، په پنځه دقیقو کې یې زموږ کار خلاص کړ، د پنځـه دقیقو کار په خاطر موږ نږدې دوه نیم ساعته وګرځېدلو. بیا نړیوال ترمینل ته لاړو، انګارصیب موږ ته منتظر و، کله چې یې موږ ولیدو، نو خوشاله شو، ویل یې زه مو له انتظاره مړ کړم، بیا یو کافي شاپ ته لاړو، ښه ډېر شین چای مو وڅښه، ستړیا مو ووته! بیا په دې ترمینل کې وګرځېدو، لږه سودا مودا مو وکړه، خو کمه، ما دوی ته وویل: دې ترمینل کې شیان قیمته دي، هغه بل اسیایي ترمینـل کـې، چـې افغانستان ته هم له همغه ځایه الوتنې کېږي، هلته شـیان تـر دې

ارزانه دي، هلته چې لاړو بیا به کور ته نور شیان هم واخلو. ډوډۍ مو هم همدلته وخوړه، د شپې تر درې بجو همدلته په ترمینل کې ښه وګرځېدلو، درې بجې د کام ایر شرکت غرفې تــه ورغلــو، هغــوی بوډینګ کارت راکړ. دا مهال مې دوه افغانانې، چې له کاناډا څخــه راغلې وې، هم ولیدلې، ډېرې وارخطا معلومېدلې، پوښتنه مې وکړه، چې ولې وارخطایاست؟ هغوی وویل: بیکونه مو پاتې دي، مــا ویــل هلئ دغلته لاندې د مرحبا همدې لومړۍ غرفې ته ورشئ، بلې ته لاړ نه شئ، هر څومره یې چې درته وویل، ویې نه منئ، تــول کــار لــه همدوی سره دی، دوی هم فکر کوم، څو ځله په تکلیف شوې وې، دوی ژر لاړې، لس پنځه لس دقیقې وروسته بېرته راغلــې، ډېــرې خوشاله وې، دعاګانې یې راته وکړې، ویل یې مور خــو دومــره پــه تکلیف شو، اخر په څومره اسانه یې زمور کارونه خلاص کړل. همدا وخت مو د غزني والي ښاغلی ډاکتر محمدعثمان عثماني، چې همدا مهال له اروپا څخه له یو رسمي سفره راستون شوی و، هم ولید، ګپ شپ مو ورسره ولګاوه، نوره نو ستړیا ووته، فکر مو وکړ، چې په کابل کې ناست یو. سهار څلور بجې له نړیوال ترمینــل څخــه اســیایي ترمینل ته ولېږدول شو. شپږ بجې الوتنه وه، مور باید څه کــم دوه ساعته انتظار ګاللی وای، دوه ساعته همدلته په پلورنځي کې اخوا دېخوا ګرځېدو، ماشومانو ته مې ښه ډېره سودا وکړه، نږدې اوه سوه درهمه شول، دوه لویې پلاستیکي کڅوړې مې ډکې کړې، شپږ بجې الوتکې ته د الوتنې په نیت پورته شو.

ټاکل شوې وه الوتکه ټیک پر شپږو بجو الوتنه وکړي، خو دا مهال په دوبۍ کې داسې یو باد او توپان وو، چې لس مترو کې سـړی نـه معلومېده، په دوبۍ کې چې په هره دقیقه کې الوتنه کېږي، نو که د څو دقیقو لپاره څه مشکل پیدا شو، نو په لسګونو الوتکې له الوتنې او ناستې پاتې کېږي او دا بیا پر نورمال مهالوېش دومره تاثیر کوي، چې په څو ساعتونو کې بېرته خپل عادي حالت ته نه راځـي، نـیم ساعت ټول په الوتکه کې غلي ناست وو. څـو شـېبې وروسـته د الوتکې کپتان اعلان وکړ، چې د هوا د خرابۍ له امله زمـوږ الوتنـه معطل ده، هر کله چې هوا ښه شوه او د هوایي ډګر لارښوونکو موږ ته هدایت راکړ، بیا به الوتنه کوو. دا مهال مې خپل قلم او کاغذونه راواخیستل، د خپلو ځینو پخوانیو یادښتونو پر بشپړاوي مې پیـل وکړ. نږدې نیم ساعت به مې پر لیکنه تېر کړی وي، لږ ستړی شوم. دا وخت ما سره په څوکۍ کې څوک ناست نه وو، دوو تنـو څـوکۍ تشې وې، کله چې مې قلم او کاغذ بېرته کېښودل، نو د شاته سیټ څخه دوو تنو راسره ستړي مشي وکړل، یو ذهین صیب و، د کلیـد ګروپ د مشر (شهیر ذهین صیب ورور) او یو تن بـل ژورنالیسـت ملګری ورسره و، چې له ده سره یو ځای کار کـوي. دواړو سـتړي مشي راسره وکړل، ویل یې ډېر خوشاله شو، چـې ومـې لیـدلې، مخکې مو ځکه درته مزاحمت ونه کړ، چې مصروف وې، هغوی ماته خپل سفر تشریح کړ او ما هغوی ته د خپل سفر په باب معلومـات ورکړل. الوتکه څه نوره هم وځنډېدله، څه کم نهه بجې به وې، چې

پر الوتو شوه، موږ خپل مجلس وغځاوه، ذهین صیب راتــه وویــل: مرکې مو اورم، زموږ د زړه غوټې پرې اوارېږي، داسې د نښې مــنځ ولې، چې مخالف لوري سره هېڅ دلیل پاتې نه شي، نو ځکــه خــو هغوی زیاتره وخت احساساتي کېږي او هم شدید غبرګون ښیي، ما ورته وویل: پر خدای قسم یادوم چې که موږ ملامت یو، زما فکري او قلمي مبارزه د افغانستان  او ددې ولس د ملي منافعو د دښمنانو پر وړاندې ده، دوی په زړه کې دې وطن ته پاک نه دي، نو ځکه خو یې خدای پاک ددې مظلوم ولس په خاطر شرموي هم. دوی نه اسلامي ارزښتونو او نه ملي ویاړونو ته ژمن دي، دوی یوازې خپلې ځاني او تنظیمي ګټې پېژني، نو ځکه خو په جدي ډول د دې خلکو مقابله په کار ده. ذهین صیب ماته وویل: دوی ډېر دي، ته یوازې یــې، رفیــع صیب او څو تنه نور هم ښه تکړه دي، خو بیا هم ډېرو خلکو ته اړتیا ده، چې ددې افغان ضد ډلو ټپلو مقابله وکړي، ډېر احتیاط کوه، چې خدای مه کړه، څه زیان درته متوجه نه کړي. ما ویل مرګ او ژوند د خدای(ج) په لاس کې دی، غیر له هغه هم د ژوند ورځې په شــمار دي، دا ژوند په دومره بې غیرتۍ نه ارزي، چې یو څوک دې د همدې وطن په خوړو رالوی شوی وي او تر ټولو زیات امتیــازات یــې هــم اخیستي وي او بیا دې هم د هېواد هویت او ملي ګټو مخالفت کوي او موږ به ورته لاس تر زنې ناست یو.


د امریکایانو په زور د طالبانو نظام تر سقوط وروسته، چې دا څــو پردیپالې ډلې پر افغانستان واکمنې شوې، نو له دوی څخه بېخــي

ځان ورک شوی، د دوی پر وړاندې انتقاد کول، دوی ته شین کفــر ښکاري، ځان نه یې سپینې پرښتې جوړې کړي، ملي شتمني یې له یو مخې لوټ کړه، میډیا یې هم په اختیار کې ده. ددغســې ملــي خاینینو پر وړاندې مبارزه ماته یو ډېــر ســپېڅلی کــار او تقــدس ښکاري، پر دې هم پوهېږم، چې د دوی پر وړاندې ودرېدل له خپل ژوند سره لوبې کول دي، خو یو څوک باید وي، چې د دوی د وهــم دېو مات کړي، یو ځل چې د دوی وهم مات شو، بیا ته غلی کېنه، نور خلک ورپسې راپاڅېږي، د تېرو کلونو په لومړیو کې تاسو ته ښه پته ده، چې د دوی پر وړاندې چا سوټ هم نه شو کولای، خــو مــوږ او ځینو نورو ملتپالو افغانانو، چې څو پرله پسې مرکې وکړې، د دوی د وهم دېو مات شو، اوس د خدای فضل دی، په لسګونو ځوانان یــې یوازې په رسنیو کې مقابلې ته وتلي دي.

ذهین صیب، لکه څنګه چې یې له نوم څخه څرګنده ده، د پاخه او دقیق ذهن څښتن دی، اوچت ملي شعور لري او پر همدې بنسټ یې د ولسونو په تل کې کار شروع کړی. په جنوبي ولایتونو کې یې د خلکو د پیوستون لپاره شوراګانې جوړې کړي او په تعلیمي ډګر کې یې ډېر خدمتونه ترسره کړي دي.

زموږ مرکه دومره ګرمه وه، چې تر کابله په مزله پوه نه شو، پر ډېرو مسایلو مو بحث وکړ، ذهین صیب د ملتپالو افغانانو پر پیوســتون، همکارۍ او همغږۍ ټینګار وکړ او په دې برخه کې یې ژمنه وکــړه، چې زه د خپلو امکاناتو په حدودو کې هر ډول قرباني،همکــارۍ او

مرستې ته تیار یم. یوولس نیمې بجې کابل هوايي ډګر کې کښېناسته شو، په هوايي ډګر کې د دې ډګر قوماندان جنرال صیب اصف جبارخېل سره مو چای وڅښه، نور ملګري مې هم راغلي وو، ټولو د زړه له اخلاصه غېږه راکړه، په خوند له هوايي ډګره راووتلو، په لاره کې چې مې د افغانستان ګردجن حالت، د واشنګټن له ماڼیو سره پرتله کړ، نو د پېړیو پېړیو توپیر راته په کې څرګند شو، خو کله چې مې د خپل ولس خلاصه غېږ او ورین تندی، مینه، محبت او نور ارزښتونه د هغه ځای د خلکو له چلند او ټولنیزو ارزښتونو سره پرتله کړل، نو بیا مې دلته معکوس حالت ولید، هلته راته نوره هم پته ولګېده، چې لوی خدای(ج) ټولې مزایاوې او ښکلاوې یو چا ته نه دي ورکړي، د ځمکې د ټول مخلوق ترمنځ انډول د هغو د خالق په لاس کې دی، هغوی ته یې یو څه ورکړي او موږ ته یې بل څه، کور ته چې لاړم، نو خپل اولادونه مې غېږې ته راغلل او ټول مې پر اوږو سپاره شول، نو یو ځل بیا یې د مینې په داسې دریاب کې ډوب کړم، چې هم مې دا ټولې پرتلنې له یاده ووتې او هم د سفر ټوله ستړیا.


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
د کرېملین
په زړه کې
(د مسکو یونلیک)
لیکوال: محمد اسمعیل یون
۱۳۸۹ لمریز کال

# د کرېملین په زړه کې

## ( د مسکو یونلیک)

لیکوال

محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د کرېملین په زړه کې |
| لیکوال: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپکال: | ۱۳۸۹ل- ۲۰۱۰م کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۳۴) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۳۴) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیاء |

# دا یونلیک او یو څو خبرې

سفر د ژوند یوه برخه ده، خو داسې برخه چې ډېر کړلېچونه او لوړې ژورې لري. اوسني سفرونه د پخوانو هغو په شان ډېر سخت نه دي؛ تخنیکي امکاناتو د زمانې مزي رالنډ کړي، خو کله چې د یونلیکنې مساله رامنځته کېږي او بیا د پېښو یا سترګو لیدلي حال دقیق ثبت، نو په دې کې بیا د پخوانیو او اوسنیو سفرونو ډېر توپیر نه لیدل کېږي.

دا یونلیک چې اوس یې تاسې لولئ، زما د یوه رسمي سفر مسلسل یادښتونه دي؛ داسې یادښتونه چې د سفر د پېښو پر انعکاس سربېره یو څه پټ پیغامونه هم لېږدوي. زه په دې سفر کې دومره پر لیکنو بوخت وم، چې سر مې له کاغذه او قلم مې له لیکه نه دی پورته کړی. واقعیت دادی چې زه په دې سفر کې د سفر په خوند نه یم پوه شوی، خو زما له ډېرو هڅو سره سره بیا هم د دې یونلیک کره کول پوره کال وخت وغوښت. د یوه کال پرله پسې کار په نتیجه کې دې یونلیک دغه بڼه، چې اوس یې تاسې ګورئ، غوره کړه. د هغو ټولنو، چې یو څوک ورته په لومړي او دویم ځل سفر کوي، پېژندنه او د هغو د ځایونو او اشخاصو د نومونو دقیق ثبت څه اسانه خبره نه ده، په تېره بیا له یو لړ پیغامونو سره د دوو بېلابېلو ټولنو پرتلنه، ورته والی او یا بېلوالی. ددې یونلیک لومړی ابتدایي متن ما د سفر په بهیر کې لیکلی و، خو ډېرې زیاتې نیمګړتیاوې یې لرلې. کله چې کابل ته راغلم د یوې نیمې میاشتې په بهیر کې مې بیا له سره ولیکه، تر هغه وروسته خواږه ملګري ضیاءالرحمن ضیاء کمپوز کړ، څلور پنځه ځله ما له سره ایډېټ کړ، خو بیا یې هم لاسمون ته اړتیا لرله، یوځل مې ښاغلي (عبدالقیوم زاهد

مشواني) ته، چې زه یې پر پښتو ایډېټ پوره ډاډه یم، د کتنې لپاره ورکړ، هغه هم وکوت، د هغه تر سمون وروسته مې مسکو کې ښاغلي (ډاکتر شېرحسن حسن) او ښاغلي (محمدطاهر کانې) ته د بیا سـمون لپـاره ولېږه او ددې ترڅنګ مې ورته ددې کتاب اړتیاوې او نیمګړتیـاوې لـه اصلي متن سره یوځای، په یوه ځانګړي جدول کې ورلېږلـې. ښـاغلي (محمد طاهر کانې) او ښاغلي ډاکتر شېرحسن حسن ددې اړتیـاوو او نیمګړتیاوو یوه برخه د ښاغلي کروپنوف د دفتر د مرسـتیال ښـاغلي (الینور باترېشن)، د هغه همکار ښاغلي (ډاکتر بشر) په مرسته پوره کړې وه، خپل خپل کره معلومات او نظریات یې هم ورسره یوځای کـړي وو، وړاندیزونه هم ورسره مله وو، د نومونو او ځایونو دقیق ثبت هم ورسره و. تر څو میاشتني کاري ځنډ وروسته مې دا اړتیاوې او نیمګړتیاوې پوره کړې.

د کتاب اړوندو تصویرونو کې مې بدلون راوست، دوه ځله مـې بیـا ایډېټ کړ. د لا سمون لپاره مې ښاغلي (سید عبدالله ولیزي) او ښاغلي (وفاالرحمن وفا) ته هم ورکړ، هغو دواړو هم ایډېټ کړ. تر هغه وروسته مې یو ځل بیا په دقت سره وکوت او د وروستي چک لپاره مې یو ځل بیا ښاغلي ډاکتر صیب شېرحسن او ښاغلي طاهر کانې ته هم د سریزو او هم د وروستۍ کتنې لپاره ولېږه، هغوی د دویم ځل لپاره بیا چک کـړ، وروستۍ نیمګړتیاوې یې پوره، خپلې سریزې او د لاسمون په هیله یې خپل وړاندیزونه هم ورسره راولېږل. ما هغه بیا په پام کې ونیول؛ یوځل بیا مې له سره ایډېټ کړ، تر هغه وروسته مې ښاغلي وفاالرحمن وفا ته یو ځل بیا د کتنې لپاره ورکړ، د ښاغلي وفا تر کتنې وروسته مې یوځل بیا وکوت، د وروستي ځل لپاره مې بیا ښاغلي عطاالله حیران ته ورکړ، د هغه تر کتنې وروسته مې یو ځل بیا په خپله وکوت او نور نو د چاپ پـر

لوري لاړ. لکه څنګه چې مې یادونه وکړه؛ دې یونلیک په خپله د سـفر ډېر زیات پړاوونه وهلي، خو بیا هم په زغرده ویلای شم چې لا بـه هـم ډېرې نیمګړتیاوې ولري. انساني عقل بشپړ نه دی، که سړی هر څومره تلاش وکړي، بیا به هم خپلې نیمګړتیاوې پوره له منځه یو نه سي، خـو خیر انسان تر خپله وسه پورې مسولیت لري. دا چې په دې یونلیک کې څه دي؟ اړتیا یې څه وه؟ او د څه لپاره لیکل شوی؟ دې پوښتنو ته بـه خپله دا یونلیک ځواب وایي، خو تر کومه ځایه چې زما مسولیت دی، ما خپل پوره وس کړی او ځان مې پوره ستړی کړی دی. هیلـه لـرم چـې درانه لوستونکي ترې ګټه پورته کړي او راتلونکې کې د تـاریخ د یـوې برخې یوه برخه وګرځي.

قدرمنو دوستانو( ډاکتر شېرحسن حسن، محمد طاهر کاڼي، ډاکتر بشر، الینور باترېشن، ضیاءالرحمن ضیاء، عبدالقیوم زاهـد مشـواڼی، وفاالرحمن وفا، سید عبدالله ولیزي، عطاالله حیران) او نورو څخه چـې ددې اثر په بشپړولو، سمون او کره کولو کې یې خپله ونډه اخیستې، له ټولو څخه مننه کوم او کور ودانی ورته وایم.

یو ځل بیا دې د ټولو کور ودان وي

په مینه

ستاسو ټولو یون

# د یون زیار او نوښت

ستاسې لاس ته تراوسه پورې د ښاغلي محمد اسـمعیل یـون درې عنوانه بېلابېل یونلیکونه در رسېدلي دي، (د کریملېن په زړه کې) یـې څلورم یونلیک دی چې تاسې یې لولئ. دا د مسکو یونلیـک دی چـې ښاغلي یون په ډېر دقت او مهارت لیکلی دی.

د چین په ایوو (yiwu) ښار کې وم ، چې یون صیب په برېښنا لیـک کې دغه کتاب راواستاوه او راته لیکلي یې وو، چې هم یې ولولم، که د روسي نومونو په تلفظ کې کومه خبره وړاندې وروسته یا لاندې بانـدې شوې وي، اصلاح یې کړم او هم وروباندې خپلې خبرې ولیکم. زما دغـه سفر تر دوو میاشتو زیات پسې اوږد شو، او کور ته تر را رسېدو پورې مې راسپارل شوی کار ځکه ترسره نه شو کړای، چې زما سفري کمپیـوټر د (PDF) د لوستلو پروګرام نه درلود، هغه فایل چې یون صیب دغه کتاب وروباندې راستولی و، اوس دادی کور ته را رسېدلی یم او کتاب مې په مزه مزه بې له وقفې ترپایه ولوست .

په کندهار کې زموږ د یو فرهنګي ملګري چې کومه لیکنه یا کوم کار په طبیعت برابر وي، نو بیا وایي: (( یاره، چې رښتیا سي خورا خوند مو پر واخیست)) ، زما له خوا یې هم همداسـې وبـولئ، ځکـه د مسـکو یونلیک د ډېر اړخیزو ښېګڼو په درلودلو خوندور دی.

**په تــاریخي لحــاظ د مســکو یونلیــک د روســیې او افغانســتان د دپلوماتیکو اړیکو په نوي کلن تاریخ کې د یوې داسې جرګې یا مشترکې غونډې مستند ثبت دی، چې نه سوچه سرداري او سرکاري وه او نه د انترناسیونالیستي ملګرتوب په فضا کې د یــو تیــار شــوي پروتوکــول لاسلیک کول وو، بلکې په ربښتیني ډول، هــم د افغانســتان او هــم د روسیې له خوا د خلکو د بېلابېلو قشرونو اســتازو او د نظــر خاونــدانو ګډون په کې کړی و.**

**فقط څو کاله وړاندې ددې خبرې تصور خــورا ګــران کــار و، چــې (عبدالکریم خلیلي) دې له (سلیمان لایق) سره یو ځای په یوه هئیت کې مسکو ته د یوې نادولتي موسسې له خوا راوبلل شي، چې د روسیې او افغانستان د مناسباتو د پرون، نن او سبا په باب خپله فکري شتمني د نورو پر مخ پرانیزي او د نورو افکارو ته په پوره اوسېله غوږ ونیسي. زه به لا نور هغه ټول دولتي او نادولتي ګډونوال نه یادوم، چې د یونلیــک په ګڼ شمېر مخونو کې یې د نومونو او نظرونو یادونه شــوې ده. دغــه کسان د مختلفو فکري خطونو پیروان دي،خو د هېواد د ګټو پر وړاندې د مسؤلیت احساس او د زمانې ضرورت دې ته مجبــور کــړي، چــې د هېوادونو تر منځ په دغسې جرګو کې د نورو پر وړاندې د خبرو د مېــز یوې خواته کېني.**

**یون صیب په دغه یونلیک کې ددغې تاریخي جرګې ټول جریان په ډېر وضاحت او مستند ډول د تاریخ کتابتون ته وسپاره او له ورکېدو یې وژغوره،که نه نو دغه مهمه پېښه به هم د نورو ډېرو مهمو او نامهمو هغو په شان د لنډې مودې په ترڅ کې د کشافاتو صندوق ته ورجارو شوې وه.**

زه د مسکو یونلیک ژورنالیستیک اړخ ځکه ستایم، چې که جرگې ته له راغلي هئیت سره هر څومره تکړه ژورنالیست یا د ژورنالیستانو یوه ډله د خپلو کامرو او د احوال د ثبت له سامانونو سره مسکو ته راغلي وای، نو په دومره جزیاتو به یې د جرگې ټول جریان نه و ثبت کړی او که یې هر څومره په خپل کار کې اخلاصمندي هم کړې وای، نو به یې د ټلویزیون، راډیو یا اخبار لپاره یوازې د څو دقیقو راپور ترتیب کړی و او د رسمي مکلفیت له شامته به یې حتماً د راپورتاژ پیل او پای یوازې د ښاغلي کریم خلیلي په تصویر او ارشاداتو رنگین کړی و.

د یون د یونلیک کمال په دې کې دی، چې د یوې اوونۍ د هرې ورځې، هر ساعت، هر جرو بحث، هر ملاقات، هرې مطبوعاتي مرکې، چکر، ټوکو ټکالو، خوب کولو، ډوډۍ خوړلو، هر دم او قدم مکمل او مفصل راپورتاژ یې دادی د کتاب په بڼه هم د ورځنیو مطبوعاتو او هم د تاریخ حافظې ته وسپاره.

زه چې تر اوسه څومره ملکونو ته تللی یم، هر چېرې مې کوښښ کړی، چې یو ځل د هغه ځای یو غټ کتاب پلورنځي ته سر ورښکاره کړم، هدف مې حتماً د کوم کتاب اخیستل نه وي، زه غواړم وپوهېږم، چې له کتاب سره ددغه یا هغه ځای د خلکو چلند او علاقه یا نه علاقه څنگه ده؟ هلته په کتاب اخیستو کې د نورو څیزونو په شان گڼه گوڼه لیدل کېږي که نه؟ اخیستونکي واړه دي که زاړه او له څه ډول کتابونو سره علاقه لري؟ له تورو او سپینو یا رنگه اخبارونو، مجلو، کوچنیو کتابونو او که د غټو شهکارونو له درنو بنډلونو سره؟

تقریباً په ټولو هېوادونو اوښارونو کې له خپلو ځانگړتیاو سره یوه خبره عامه ده، چې هر ځای توریستي کمپنۍ او موسسات د ارزښتمندو

هېوادونو او ښارونو په باره کې کوچني رنګه معلوماتي کتابګوټي په خورا لوړ تیراژ چاپوي او په ډېر ارزان قیمت یې بازار ته وړاندې کوي، خو ما تر اوسه نه د افغانستان په باب کوم کتاب لیدلی او نه مې په افغانستان کې په پښتو یا دري ژبو د نورو هېوادونو او ښارونو په باره کې کوم معلوماتي کتاب تر سترګو شوی دی.

ما اورېدلي چې یون په خپلو نورو یونلیکونو کې هم د لیدلو سیمو، ښارونو او خلکو په باره کې ګټور معلومات ځای کړي دي او دادی اوس وینم، هغه معلومات چې یون صیب د مسکو او دهغه د شاوخوا محیط په باره کې افغان لوستونکو ته وړاندې کړي، راته ښکاري، چې هغه په خپلو یونلیکونو کې د نورو هېوادونو په باره کې هم دغې لنډې معلوماتي لړۍ ته شعوري لاس اچولی او باور مې دادی، چې پښتني ماحول به د یون ددغه خدمت ډېره قدرداني وکړي.

په پښتني چاپېریال کې خو د یکه زار غږ ډېرو کړی، شعر په کې پوره عام شوی، خوندور چې له بې خوندو سره ګډ شي، نو په شعر کې مـوړ ښه پوره یو، نثر کې هم د کیسې، لنډې کیسې، ناول او داستان په بڼه پامور کار شوی، ژباړې ماړې هم شته او سیاسي خاطرې مـاطرې هـم ښې ډېرې دي، خو یونلیک ډېره عامه خبره نه ده.

یونلیک د لوستونکي لپاره، هم د یو نالیدلي خیالي ماحول هنري کیسه ده او هم په یوه زمانه کې د ځایونو او ولسونو د ژونـد رښـتینی انځور.

د مسکو یونلیک ددې تر څنګ، چې مسکو ته د یو راغلي هئیت د یوې اوونۍ د کار او ناستې پاستې یو مفصل او مستند رپوټ دی، د یون د قلم په هنري ځواک داسې جالب لیکل شوی او اوډل شوی، چې کـه

پیل یې کړې، د شپون صیب خبره " بچک مې نه دی چې تر پایه ځان ځنې خلاص کړي. "

زه ښاغلي یون ته ددغه کامیاب نوښتگر زیار مبارکي وایم او دده د لازیاتو بریالیتوبونو او نوښتونو په هیله یم .

په مینه او اخلاص

ډاکتر شېرحسن حسن

د (۲۰۱۰م) کال د جولای ۲۶مه

# د یون بل یون

څه د پاسه شل کاله ، یانې د (۱۳۶۸) او یا به د (۱۳۶۹ لېږدیز لمریز) کال دوبی و، چې زه د دوبي په رخصتیو کې له اوکراین څخه خپل گران هېواد افغانستان ته تللی وم . هغه مهال ما د پخواني شوروي اتحــاد د اوکراین جمهوریت د لووف ښار په پوهنتون کې لوړې زده کړې کولې. د رخصتیو په یوه میاشت کې به مې د خپلې کورنۍ د غړو په لیدنه کتنه زړه ښاد او سترگې څه ناڅه مړې شوې. سربېره پر دې، ما به ډېره هڅه کوله چې د یوې میاشتې رخصتۍ په بهیر کې ټول دوســتان، یــاران او خواږه ملگري ووینم او هممهال یې د حال پوښتنه وکړم. په تېره بیا به د رحمان بابا لېسې له ځینو هغو ټولگیوالو سره، چې په (۱۳۶۰ - ۱۳۶۳) کلونو کې مو څلور کاله په یوه ټولگي او لیلیه کې تېر کــړي وو، لیــدنو کتنو یو ځانگړی خوند درلود. ددغو لیدنو کتنو په بهیر کې د تېرو، پــه زړه پورې خاطرو یاد زموږ لیدنو کتنو ته یوه ځانگړې رنگینې ورکولــه. داسې هم پېښې شوي چې د کومې لیدنې کتنې په ترځ کې مې له یــوه نوي دوست او ملگري سره پېژندگلوي کړې او تر څو لیدنو کتنو وروسته بیا د اوږدې مودې لپاره سره بېل شوي یو.

هو، زما په یاد دي، د هماغه (۱۳۶۸) او یا به (۱۳۶۹ لمریز) کال دوبی و چې د پلازمېنې کابل په درېیمو مکروریانو کې مــې د امیــر محمــد جلالزي ( چې هغه مهال د ننگرهار طب پوهنځي زده کړیال او اوسمهال ډاکتر دی ) په کور کې له محمد اسمعیل یون سره وپېژندل. امیر محمد

جلالزي، چې ما له پخوا نه پېژاند او تر ما څخه زما د مشر ورور ټولګیوال و، بیا په رحمان بابا لېسه کې څو دورې تر ما مخکې و، موږ یو بــل تــه وروپېژندلو او ویې ویل چې یون صیب لیکوال او شاعر دی. زه یې هــم داسې وروپېژندلم چې کانې هم کله کله شعر لیکي او له سندرو ویلــو سره هم مینه لري. زموږ د پېژندګلوۍ د مجلس په ترڅ کې امیر محمد جلالزي وویل، چې اوسمهال د خوشال فرهنګي ټولنې په نامه یوه ټولنه جوړېږي، د دغې ټولنې د جوړېدو لپاره د خلکو مالي مرستې ته ضرورت دی، نوکه ته هم کومه مرسته په توان کې لرې کولای شــې چــې یــون صیب ته یې ورکړې. ما هغه مهال لس زره افغانۍ په جېب کې درلــودې چې اوس مې هم په یاد دي، ټول سره سره سلګونونه وو. له دغو پیسو نه مې شپږ که اوه زره افغانۍ یون صیب ته له خوشال فرهنګي ټــولنې سره د مرستې په موخه ورکړې. دا زما او یون صیب لومړنۍ پېژندګلوي او لومړنۍ لیدنه کتنه وه. بیا مې لکه چې یو ځل بیا هم سره ولیدل، خو له (۱۳۶۹) یا (۱۳۷۰ ل) کال راهیسې بیا د (۲۰۰۹ ز) کال د مې میاشتې تر (۱۳) نېټې پورې، چې دوی د یوه افغان پلاوي په ترکیب کې روسیې ته راغلل ، نه وو لیدلی.

یون صیب راته له هماغه لومړي سره یو تکړه او پلټند سړی ښکاره شو او لکه څنګه چې یې په اړه ما فکر کړی و، د وخت په تېرېدو ســره راته دا ټول ثابت شول. ده د څو لسیزو په اوږدو کې د خپلو هلو ځلــو، پرله پسې پوهنیز او ادبي کار له برکته په دغه ډګر کې ښه لویه تجربــه خپله کړه او زموږ د هېواد په یو له ډېــرو تکــړه او پرکــاره لیکوالــو او شاعرانو بدل شو.

**سربېره پر دې، یون صیب د سیاست لېوال هم دی او په دغه ډگر کې یې هم گامونه اغېزمن ښکاري. دی لکه زموږ د هېواد داسې شاعران او لیکوال لکه خدای بښلی اجمل ختېک، کبیر ستوری، اسحاق ننگیال او ځینې نور، د قلم او سیاست پر دواړو لارو موازي مخ پـر وړانـدې روان دی.**

**ما د یون صیب له اثارو نه یوازې دده (( په اورونـو کـې سـندرې )) شعري ټولگه، چې ده زموږ د هېواد تکړه ژورنالیسـت او لیکـوال داود جنبش ته په خپل لیک ډالی کړې وه او ماته په تصادفي ډول په مسکو کې د یوه افغان په کور کې لاس ته راغله، لوستې ده. دده بله لیکنه چې ما ولوسته هغه همدا یونلیک دی، چې روسیې ته د سفر په ترڅ کې یې لیکلی دی.**

**د یونلیک لیکنې دود زموږ په هېواد کې دومره پراختیا نه ده موندلې او که ووایو چې همدا اوسنی تاریخي پېر یې په لاره کې لومړني گامونه دي، نو تېروتنه به مو نه وي کړې. زما په اند یونلیک لیکنـه پـه خپلـه تومنه کې یو ډول خپلواک لیکنی ځېل ( ژانر) دی، چې پـر خـاطرو او یادښتونو سربېره، کله کله هنري داستاني اړخونه او د تـاریخ لیکنـې ځینې عناصر هم په خپل ځان کې رانغاړي. له بلې خوا یـې کـه دغـو بېلابېلو اړخونو ته فکر وکړو، داسې ښکاري لکه د بېلابېلو ځېلونو یـو رنگین ترکیب چې وي. زما په اند په یونلیک کې د بل هر اړخ په پرتلـه تاریخي اړخ ډېر برجسته او جوت وي. پر دې بنسټ کېدی شي وویـل شي چې یونلیک د څېړنیزو کارونو په ترڅ کې، په تېره بیا تاریخ لیکنې لپاره د یوې سرچینې او اخځ په توگه چوپړ کولای شي.**

ما د یون صیب یونلیک ولوست، په زړه پورې و. مسکو ته د افغــان جگپوړي پلاوي سفر او په دغه ښار کې يې پاتې کېدنې يوه اوونۍ دوام وکړ. یون صیب ددغه پلاوي یو غړی و. لکه څنگه چې زه له پلاوي سره د ژباړن په توگه ملگری وم، نو ما په پرله پسې توگه لیدل چې یون صیب په څومره لېوالتیا سره پر لیکنه بوخت و او يوه شېبه يې هم بې لیکنې نه تېروله. زموږ عزتمن، زیارکښ لیکوال او شاعر محمد اسمعیل یون په خپله ژبه او هېوادني فرهنگ مین او خپل فرهنگ ته د خدمت د لارې یو نه ستړی کېدونکی لاروی دی . زموږ گڼ شمېر هېــوادوال دوی تــه ډېرې هیلې لري او ددې غوښتونکي دي چـــې د خپــل گــران هېــواد افغانستان ملي گټو ته د درناوي اصل په پام کې نیولو سره به په هــېڅ ډول حالاتو کې له خپل غوره کړي ، ملي او هېوادني دریځ او تگلــوري څخه وا نه وړي . زه دوی ته پولادي هوډ ، اوږد او ښېرازه ژوند غواړم ، د گڼ شمېر پوهنیزو او هنري پنځونو په لاره کې يې د بریالي یون په هیله یم .

په پښتنه او فرهنگي مینه

محمد طاهر کانی

روسیه - وولگینسکي

(۲۰۱۰ ز) کال د مې ۲۴مه

# شالید

زه او زما همزولي د جنګ نسل یو. د جنګ نسل په دې مانا؛ له هغې ورځې چې مورډ ښي او کینې لاس پېژندلی، نو په افغانستان کــې جګــړه پیل شوې ده. د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم، چې د (۱۳۵۷ل) کال پېښه رامنځته شوه، څه موده لا تېره نه وه، چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې جګړه پیل شوه، جګړې ورو ورو زور واخیست، د (۱۳۵۸ل) کال د ثور پر (۲۱) مه نېټه جګړې د پلار له خوږې مینې محروم کړم. دې حــادثې مې پر روح او روان دومره درانه ګوزارونه وکړل، چې تر ننه یې هم سوز او درد احساسوم، ټیک دېرش کاله تېر شول، خو د پلار د مرګ نېټه مې، لکه د همدې پرون ترخه خاطره، همداسې تر اوسه پر ذهــن خــوره ده. همدې ترخې حادثې او د غم بار په حقیقت کې شعر ته وهڅولم، شــعر مې داسې یو مجبوریت او داسې یو ملګری و، چې همېشه به راسره مل و، هر کله چې به مې یو څو کرښې توري کړې، نو د زړه بار به مې اوچت شو. شعر مې په پیل کې د غم ملګری و، خو وروسته وروسته مې ورسره شعور هم یوځای شو، د زمانې څرخ همداسې تاوېده، په هر ګرداو کې یې په سلګونو څه چې په زرګونو سرونه رېبل، د کلیوالي ژوندساحه راباندې راتنګه شوه، ښوونځي د جهالت په لمبو کې لولپه شول، کال دوه په کلي کې پاتې شوم، بې ښوونځي او بې لوسته، کلیوالي چاپېریال دومره تنګ و، چې د راډیو اورېدل په کې هم شین کفر و، د مجاهدینو، حکومت او د هغه د ملاتړو شوروي پوځونو ترمنځ جګړه ورځ پــر ورځ ګرمېــده، لــه

مسکو راډیو سره مې ډېره مینه وه، د شپې به مې په پټــه تــر بړســتن لاندې اورېده، بړستن به مې ښه پرې تاوه کړه، ان چې په کوټې کــې د کورنۍ نورو غړو هم نه شوه اورېدلای، خو په اوړي کې چې خلــک پــه لغمان کې اکثره پر بامونو ویده کېږي، د مسکو، کابل او نورو راډیوګــانو اورېدل راته ډېر مشکل کار و، ځکه چې که مجاهدینو د دې راډیوګانو په اورېدلو څوک ګیر کړي وای، نو سخته ((جهادي سزا)) یې ورکوله. خــو دې سره سره په هر ترتیب د مسکو او کابل راډیو ادبي پروګرامونه مې په اسانۍ نه قضا کول. دې کار ورو ورو له شعر او ادبیاتو سره زما پیوند ښه پسې ټینګ کړ، ځینې قطعې او څلوریزې به مې لیکلې، زما د زړه باد به پرې کېناسته، خو اوس چې ورته ګورم خورا خامې راته ښکاري. هغه وخت موږ د سیاست پر پېچلتیاوو ډېر نه پوهېدو، خو د راډیوګــانو لــه لارې د نړۍ له اکثرو او په تېره بیا د خپل هېواد له پېښو سره اشنا شوي وو، کله چې به ځینو مجاهدینو او د هغو له قومندانانو سره په مجلــس کې د ناستې پاستې زمینه برابره شوه نو له دې ناستو او یا هم په کابل کې د نورو ازادو خلکو له خبرو به مو ډېر څه زده کــول. د (مســکو) او (واشنګټن) نومونه مې همغه وخت په ذهن کې ناست وو، سره لــه دې چې دا یو مې هم نه و لیدلی، خو په ذهن کې مــې د هــر یــو پــه بــاب ځانګړی تصور و، مسکو موږ ته ځکه ډېر مشهور و، چې هره ورځ به څو څو ځله په نېک او بد نامه یادېده. زما په ذهن کې د یو داسې لوی ښار په بڼه ټوکېدلی و، چې لوی لوی سړکونه او جګ جګ تعمیرونه به لري او په سړکونو کې به یې هم زیات موټر تګ راتګ کوي.

**د کلي ساحه راباندې نوره هم راتنګه شوه، پر (۱۳۶۰ل) کال کابل ته راغلو، کال وروسته لومړی د کابل د (ده خدایداد) په لېسې، بيا د کابل د کور جوړولو فابريکې په (ده يحيی لېسې) کې شامل شوم، څه باندې يو کال مې په همدې ښوونځيو کې زده کړه وکړه، بيا پر (۱۳۶۲ل) کال په**




**کابل کې د خوشال خان لېسې په اتم ټولګي کې شامل شوم. کله چــې دې لېسې ته راغلم، نو له ادبياتو سره مې شوق نور هم زيات شو، دا نو بيا هغه مهال و، چې په ټول افغانستان کې د شورويانو - کابل حکومت او مجاهدينو ترمنځ سخته جګړه روانه وه. خوشال خان لېسې ته چــې اکثره په کې ډيورنډ کرښې ته د ورڅېرمــه ولايتونــو او هــم د کــوزې پښتونخوا پښتنو زده کوونکو زده کړه کوله او هم د دولت له خوا ورتــه نسبتاً ښه پاملرنه کېدله، اکثره وخت د دې چانس و، چې زده کوونکي يې شوروي اتحاد ته د لوړو زده کړو لپاره لاړ شي، په خوشال خان لېسه**

کې د زده کړې پر مهال په سلگونو هغه زده کـوونکي چــې یــا زمــوږ همدوره وو او یا هم ټولګیوال، شوروي اتحاد ته لاړل. ماتــه هــم د دې زمینه برابره وه، خو له ادبیاتو سره زما مینې دې ته هڅولم چې همدلته پاتې شم. پر (۱۳۶۴ل) کال زه په خوشال خان لېسه کې د نوي تاسیس شوي ادبي انجمن مسول شوم، دې کار نو له ادبیاتو ســره زمــا مینــه لاپسې زیاته کړه، همدا مهال مې په ځینو چاپي رسنیو کې یو نیم شعر او لیکنه هم خپرېدل، دا نو بیا زما په ادبي ژوندانه کې نه هېرېــدونکې خوږې خاطرې دي. د دوو درېو کلونو په بهیر کې په خوشال خان لېسه کې یو ځوان ادبي غورځنګ په ټوکېدو شو؛ داسې یو ادبي غورځنــګ چې نه یې تر دې دمخه او نه یې هم بیا راوروسته چا په دې لېسه کــې ساری ولید. پر (۱۳۶۶ل) کال له دې لېسې څخه دویم نومره فارغ او پر (۱۳۶۷ل) کال د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شوم. د تحصیل پر لومړي کال راته یو ځل بیا یو بل چانس برابر شو؛ (په مسکو کې د پاتریس لوممبا نړیوال پوهنتون کې زده کړې). په پښتو څانګه کې مې د زده کړې یوه میاشت تېره شوې وه، په ټــولګي کــې ناســت وم، دروازه ټک ټک شوه، ویې ویل: ((محمد اسمعیل څوک دی؟)) ما وویل: ((زه یم))، ویل یې: ((راځه! د پوهنتون ریاست ته یې غوښتی یې.)) لــږ وارخطا شوم، دا وخت مې  په اخبارونو کې ځینــې شــعرونه چاپېــدل، ځینو یې سیاسي رنګ هم لاره او همداسې ځینې لیکنې. ما فکر وکــړ حتماً په دې باب څه ستونزه ده، د پوهنتون د محصلینو معاونیت دفتر ته وردننه شوم. معاون صیب راته وویل: ((محمد اسمعیل ته یې؟)) مــا ویل: ((هو!) پر مېز یې زما د لېسې درې کلنې نومرې ایښې وې. ماته یې وویل: ((خارج ته ځې؟ بورس دی.)) ما وویل: ((کوم ځای ته؟)) ده وویل:

((مسکوته!)) ما وویل: ((زه به مشوره وکـــړم)) ده وویــل: ((وزارت او د ګوند مرکزي کمېټې ستا درې کلنې نومرې کتلي، نو هغوی ته انتخــاب کړی یې، نو که دې خوښه وي اوس لاړ شه د ګوند مرکزي کمېټې تــه، هغوی درته یوه فورمه درکوي.)) معاون زیاته کړه: ((دلتــه هــر وخــت خلک انتقادونه کوي، چې حکومت خارج ته بېسواده خلــک لېــږي او اکثره په واسطو ځي، نو دا دی ته او څو نور ځوانان یې د لوړو نومرو پــر اساس انتخاب کړي یاست.)) پر همغه ورځ د دې پوهنتون بورسونو ته له دوو تنو نورو نوماندانو سره د ګوند مرکزي کمېټې (د خلکو دیموکراتیک ګوند مرکزي کمېټې فرهنګي برخې) ته لاړو. هغوی یوه فورمه راکړه او ویې ویل: ((مونږ غواړو د لیاقت پر اساس خلک ولېږو، نو ځکه مونږ تاسې څوتنه انتخاب کړي یاست. (پاتریس لوممباپوهنتون) په مسکو کې ډېر معتبر نړیوال پوهنتون دی، چې اکثره بهرنیان په کې زده کړې کوي.)) ما وویل: ((زه لږ وخت او مشورې ته ضرورت لرم)) هغــوی وویــل: ((دا فورمه ډکه کړه، که دې زړه وشو، لاړ به شې او که نه بیا به مونږ ته بېرته احوال راکړې، چې مونږ بل څوک ولېږو، هسې نه چې بــورس و ســـېزل شي.))

ما دا فورمه ډکه کړه، صحي معاینات مې بشپړ کړل، ځان سره مې ډېر چورت وواهه، ما وویل چې زما اساسي هدف ټول افغان ولس په تېره بیا پښتو او پښتنو ته خدمت کول دي، که زه د پنځو کلونو لپاره لاړ شــم، روسي ژبه او ادبیات هلته ولولم، نو بیا به پښتو ته څه وکړم؟ زه خــو د خپلې ژبې متخصص کېدلای نه شم، نو ښه به دا وي چــې د لیســانس ډپلوم په خپله ژبه کې واخلم، چې اساس مې پــوخ شــي، بیــا کــه د ماسټرۍ لپاره بل هېواد ته لاړ هم شم اساس به مې پوخ وي. پرځان هم

څه ناڅه بې باوره وم، ما ويل هسې نه چې هلته لاړ شم او بېخي پردی شم؛ اوس چې مې له کابله لغمان ته زړه نه کېږي، بیا به له مسکوه څنګه د کابل راتګ ته زړه ښه کړم، ښه چورت مې وواهه، ما ويل راځه تیـــره درنه پرځای ښه ده، اینده ژوند مې هم یو څه په فکر کې تېر کړ، پنځـــه کاله وروسته به راځې، بیا به دلته له یو چا سره ژوند شریکوې دا هم یوه



ستونزمنه مسئله ده. ربښتیا ربښتیا دي، دې خبرې هم ښه ټکنی کړم، ما ويل راځه په دې څلورو کلونو کې به تحصیل هم وکړې او د خپل ژوند په باب به فکر هم وکړې. زه له سره دې مسئلې ته متوجه وم، چې نالوستې هغې سره ژوند نه شریکوم، نو ځکه خو دا ټول عوامل د دې سبب شول چې د مسکو پـر بـورس غتـه تیـره کېـږدم. د خلکـو دیموکراتیـک ګوندمرکزي کمېټې ته مې احوال ورکړ، چې زه نه شم تللای او بېرته مې خپلو درسونو ته په نورمال ډول دوام ورکړ او پر (۱۳۷۰ل) کال له پښتو


ځانګې ځخه په لومړۍ نومره فارغ شوم او پر همدې کال بېرته د کــدر غړی شوم.

د (۱۳۷۱ل) کال په پیل کې په کابل کې نظام بــدل شــو، دې ســره جنګونه یو ځل بیا ګرم شول، په کابل ښار کې کوڅه په کوڅه جنګ پیل شو، ګڼ شمېر افغانان بیا کډوالۍ ته اړ شول، زما یو شمېر ملګــري پــه تېره بیا فرهنګي ملګري دېته اړ شول، چې خپل هېواد پرېږدي. یو زیات شمېر افغانان دا مهال لومړی پاکستان بیا له هغه ځایــه مســکو او لــه روسیې څخه بیا نورو لویدیزو هېوادونو ته تلل، همدا لاره په اصطلاح یو پُل و.

دا مهال هم ماته زمینه برابره وه، خو بیا مې هم مسکو ته د تګ اراده ځکه ونه کړه، چې لوی هدف مې په کې نه درلود. د طالبانو په واکمنۍ کې هم مسکو ته د تحصیل کړو افغانانو بهیر روان و، خو موږ په پېښور او کابل کې فرهنګي کار ته ترجیح ورکړه، په لنډمهاله او منځمهاله اداره کې په ګڼو سیاسي او ټولنیزو چارو کې مصروف شوم، خو په افغانستان کې پر (۱۳۸۳ل) کال د جمهوري ریاست تر ټاکنو وروسته، څو ځله بیــا بهر ته د تللو چانس برابر شو، خو بیا مې هم مسکو ته د تګ نصیب نه و. د دې ټولو چانسونو د کنسلېدو اساسي علت همدا و، چې هلته په تګ کې راته څه لوی هدف نه ښکارېده، خو تر ډېر ځنډ وروسته د داسې یو سفر زمینه برابره شوه، چې هم هدفمند و او هم ما ورته مناسب وخت درلود، دا نو همدا سفر دی چې همدا یونلیک یې په ترڅ کې راوټوکېده.

# پیلامه

**د (۲۰۰۸م) کال په مني (اکتوبر) کې د روسيې فدراتيف جمهوريـت څخه يو هئيت راغلی و، چې په هغه کې د روسيې فدراتيف جمهوريت د وګړ پوهنې، مهاجرتونو او نفوس شمېرنې انسـتيتيوت ريـيس (يـوري واسيلويچ کروپنوف) او ورسره يې يو افغان ملګری ښاغلی (ډاکتر محمد بشر بشردوست) شامل وو. دلته يې له يو زيات شمېر روښنفکرو افغانانو سره کتلي وو، د دې هئيت يـوه موخـه دا وه، چـې د افغانسـتان لـه واقعيتونو څخه له نږدې خبر شي. دې هئيـت روسـيې تـه تـر بېرتـه**




**ستنېدو وروسته (په افغانستان کې د سولې او پخلاينې لاره) په نامه يوه وړوکې رساله وليکله، دا رساله د (۲۰۰۸م) کال په ډسمبر کې په روسي ژبه بشپړه شوه او يوه مياشت وروسته ښاغلي ډاکتر شېرحسن حسـن**

په پښتو وژباړله او چاپ یې کــړه. لیکــوال پــه دې کتــابګوټي کــې د افغانستان له یو لړ واقعیتونو څخه پرده پورته کړې ده. د (۲۰۰۹م) کال د مارچ میاشتې په پیل کې ښاغلي ډاکتر بشر یو ځــل بیــا لــه مســکوه افغانستان ته سفر وکړ. په دې سفر کې یې یــو ځــل بیــا لــه مطرحــو روښنفکرانو، سیاستپوهانو او سیاستوالو افغانانو سره وکتل، ما سره یې هم په دې سفر کې ولیدل او د راتلونکو میاشتو په بهیر کې یې په مسکو کې د افغانستان او روسیې د اړیکو په باب د جوړېدونکې کنفرانس پــه اړه معلومات راکړل، هیله یې راڅخه وکړه چې په دې کنفرانس یا جرګه کې ګډون وکړم. نه یوازې خپله ګډون وکړم، بلکې ځینې نور شعوري او ملتپال افغانان هم ورته معرفي کړم. بشر صیب زیاته کړه: ((په روسیې کې اوس یو شمېر داسې روسي پوهان پیدا شوي چې هغوی غــواړي د روسیې حکومت په دې قانع کړي، د افغانستان واقعیتونه، لکه څنګــه چې دي همغسې درک کړي؛ د افغانستان لــه اکثریــت ســره تربګنــي پرېږدي او افغانستان د یو څو محدودو ډلو او ډلګیو له لید لوري مطالعه نه کړي.)) بشر صیب څرګنده کړه: ((موږ باید له دې ډول پوهانو ســره مرسته او همکاري وکړو، چې په روسیې کې د افغانستان پــر وړانــدې حاکمه روحیه بدله کړي. دا ډول پوهــان چــې پــه روســیه کــې نــوي راټوکېدلي، طبعاً خپل خپل مخالفین هم لري او پخواني محافظه کاران یې سخت مخالفت کوي، ځکــه د هغــوی ګټــه دې کــې ده، چــې پــه افغانستان کې له خپلو همغو پخوانیو ډلو ټپلو سره اړیکي وساتي.)) ما ورته وویل: ((د هغوی دې ډول تېروتنو خو دواړه ملکونه تباه کړل، نو که بیا هم دوی دې لړۍ ته دوام ورکوي، نتیجه یې د همغــې تبــاهۍ دوام

دی.)) بشر صيب وويل: ((زمونږ هدف هم، همدا دی چې دې لړۍ تــه د پای ټكی كېږدو.))

ما، بشر صيب سره ومنله چې كه تر هغه وخته كومه حادثه پېښه نه شوه، نو انشاءالله چې په دې كنفرانس يا جرګې كې به ګډون وكړم. څو موده وروسته مې هغوی ته د برېښناليک له لارې د خپل پاسپورټ كاپي ولېږله، له دفتر سره مې هم مشوره وكړه، هغوی هم د ګــډون خوښــه راكړه.

د (۲۰۰۹م) كال د مې مياشتې پنځمه نېټه وه چې له مسكوه د بشــر صيب برېښناليک راغی، په هغه كې يې ليكلي وو: ((د روسيې ســفارت ته به لاړ شې، خپل پاسپورټ به وركړې، ستاسو وېزه مو درلېږلې ده.)) پر سبا مې پاسپورټ له خپلو څلورو عكسونو سره د خپل دفتر ملګري (وفاءالرحمن وفا) ته وركړ، هغه د روسيې سفارت ته يوړ او هلته يــې د روسيې سفارت يو كاركوونكي ښاغلي (الكسي) ته چې د همدې سفر د انتظام لپاره موظف شوی و، وركړ، هغه ورته يوه فورمه وركړه چې دا هم ډكه كړم او هم يو نيم سل ډالره (د وېزې قيمــت) ورســره مــل كــړم. وفاالرحمن وفا سره مې فورمه ډكه كړه، د(۱۵۰) ډالرو په باب مې ورتــه وويل: ((موږ رسمي دعوت يو دا پيسې څنګه اخلي؟ هغه راته وويل چې دوی ماته وويل چې دا د دوی اصول دي؛ هر شخص چې روسيې ته ځي دوی پرې دا اصول تطبيقوي)). ما وويل چې داسې ده نو دا پيسې هــم ورته يوسه. پر سبا يې وفا پاسپورټ بېرته راكــړ، د روســيې فــدراتيف جمهوريت وېزه په كې نصب وه.

دا وخت له ځوان ليكوال ښاغلي عبدالغفور لېوال سره هم په تماس كې شوم چې هغه هم د دې سفر ملګری و، هغه ته مې وويل چــې نــور

 څوک دي؟ هغه وویل: ((ډېر زیات کسان دي، د پارلمان ګڼ شمېر غړي، سلیمان لایق صیب، اسد دانش او ځینې نور کسان هم په کــې شــامل دي، ښه لویه ډله ده.)) ما وویل: ((څه هر څومره چې ډېر وي ساعت به مو تېر وي)). د مې میاشتې دا وخت نو هغه شپې ورځې دي، چې ما د خپل شلکلن فرهنګي کار د انسجام پروژه بشپړتیا ته نږدې کړې ده. پر دې پروژې ما له څو کلونو راهیسې په متواتر ډول کار کړی دی، اکثــره کتابونه یې چاپ ته تللي او یوازې یو څو عنوانه کتابونه یې پاتې دي. د مسکو سفر ته مې په دې حالت کې ځکه زړه ښه کړ چې یو خو لنډ و، بل یې اهمیت زیات و، بل مې کارونه داسې منظم کړل چې یو څه کارونه به زه ځان سره واخلم او څه کارونه چې زما دوو نورو ملګرو: (وفــاالرحمن وفا او ضیاءالرحمن ضیاء) منظمول او بیا ما کره کول، هغه به هغوی تــه وسپارم، نو په دې خاطر مې دې یو اوونیز سفر ته زړه ښه کړ.

# د سفر تیاری

د مې لسمه نېټه د یکشنبې ورځ وه، د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو په ریاست کې مې ټکټ او پاسپورټ یو ځل بیا له سره چک کړل، د اریانا افغان الوتکې ټکټ مې درې ورځې دمخه اخیستی و. اریانا افغان هوایي شرکت په اوونۍ کې یو ځل مسکو ته الوتنه درلوده، په دفتر کې نو دا ورځ دومره کارونه وو، چې د چا خبره تر غوږونو په کې ډوب وم. یو کتاب مې چې درې سوه مخه و، دا مې باید پر همدې ورځ ایډېټ کړی وای. زموږ د پلان له مخې دا کتاب باید زما تر وروستي ایډېټ وروسته چاپخونې ته تللای وای. سهار اووه نیمې بجې دفتر ته لاړم، ټلېفون مې ګل کړ، د ماښام ټیک شپږ بجې له دفتره راووتم، د یوې اوونۍ د سفر په ترڅ کې مې دلته د دفتر ملګرو: (وفاالرحمن وفا او (ضیاءالرحمن ضیاء) ته کاري پلان ورکړ، چې زما په نشتوالي کې هغه کارونه تعقیب کړي، کتاب مې هم خلاص کړ. مېرمن ته مې له دفتره ټلېفون وکړ چې سبا ته د سفر لپاره راته ټول لوازم برابر کړي. هغه زما د سفر پر ضرورتونو ښه پوهېږي. ماښام مې یو دوه ملګرو سره هم وکتل، د شپې اته بجې کور ته ورغلم، ښه د مزې سترې وم. مېرمن مې ډوډۍ تیاره کړه، کشر زوی مې (ودان) راته وویل: (( دا ځل زه هم درسره ځم...)) ودان اوس د ښوونځي د صفري ټولګي زده کوونکی دی، خو د کمپیوټر او ټلویزیون له لارې د نړۍ له ډېرو ملکونو سره اشنا شوی دی. ودان راته وویل: ((ته او ممي جان مې ( مور یې) هر وخت وایئ چې بل ځل مو بیایو، بل ځل مو بیایو، بیا مو نه بیایئ)) ما وویل: ((بچو کله چې

دې ښوونځی رخصت شو، بیا دې بیایم.)) ده راته وویل: ((خیر نو چې نه مې بیایې، زه نن شپه تاسره ځملم...)) ما وویل: ((بېخي ســمه ده.)) د ماشوم دې عاطفي غوښتنې او هیلې مې زړه کې یوه لمبه تېره کړه، زړه مې و چې پر سفر یوه غته تیره کېږدم. ودان مــې خپــل چپرکــټ تــه راوست، ماشوم پر معصوم خوب ویده شو. د شپې مې پر هغه بیک بیــا ګوتې ووهلې چې دمخه مــې لا مېرمنــې مــنظم کــړی و، دوه جــوړې دریشي، یوه جوړه جامې، د غاښــونو کــریم او بــورس او د ســفر نــور ضرورتونه یې په کې ټول منظم ایښي وو. د یادښت لپاره مې یوه کتابچه او نور کاغذونه هم ورسره کېښودل، زړه مې و چــې د مســکو د ســفر یادښتونه هم سره ولیکم او همدارنګه وګورم چــې روســیه او د هغــې اوسني مفکرین له نورې نړۍ سره دامهال څه توپیر لري او فکر یې پــر کوم لوري دی. تر یوه وخته د ودان د ماشومانه خوب خرهاري ته چورت یوړم، ورو ورو پر ما هم خوب راغی او د خوب غېږې ته مې پناه یوړه.

# له کوره تر هوايي ډګره

د مې (۱۱) مه د کب (۲۲) مه نېټه د دوشنبې ورځ وه، سهار چې لــه خوبه پاڅېدم، نو د خپل سفر لپاره ټول لوازم مې سره منظم کړل، بیک، پاسپورت، ټکېټ د سفر لګښت او نور ټول مې له سره چک کړل، کمره راسره نه وه، خپل اخښي (د ودان او سمسور ماما) (ډاکتر مروان) ته مې ټلېفون وکړ، هغه وویل: ((کمره راسره په کور کې ده، ما به درته تیــاره ایښي وي، هر څوک چې رالېږې، زه به يې ورکړم.)) سهار شــپږ نیمــې بجې په زړو مکروریانو کې د مروان دوی کور ته لاړم، له هغوی مې خدای پاماني او کمره واخیسته، چې تر هوايي ډګره رسېدلم نو اوه بجې شوې وې. ښاغلي لېوال ته مې لا دمخه ټلېفون کړی و، هغه وویل: ((زه هوايي ډګر ته نږدې یم.)) غوښتل مې له (VIP) لارې لاړشم؛ زه چې کله بهر ته ځم، نو اکثره له (VIP) لارې ځم، دولتي موټر مې تر همغه ځایه د ورتګ اجازه لري. خو دا ځل هلته موظفو پولیسو راته وویل چې نــن د (VIP) لاره بشپړه بنده ده، هغوی وویل: ((نن رییس صــیب (جمهــور ریــیس حامدکرزی) له یوه بهرني سفره راستنېدونکی دی.)) مــا چــې وکتــل رښتیا هم د (VIP) وره مخې ته هېڅوک هم نه ښکارېدل، نو ځکه مــې ځان غلی کړ. هلته د ترمینل خولې ته ډېر کسان په لیکه کــې ولاړ وو، ساعت اوه بجې او لس دقیقې دي، لېوال صیب ته مې بیا زنګ وواهــه، هغه وویل: ((موږ خو د الوتکې پر لوري روان یو.)) پر دې وخــت مــې د هوايي ډګر قومندان (جنرال اصف جبارخېل) ته زنګ وواهه، سکرتر يې وویل: ((هغه په جلسه کې دی.)) دوه درې دقیقې وروسته مې بیا ورته

زنګ وواهه! سکرتر ته مې ځان معرفي کړ، ما ورته وویل: ((یو مســوول پولیس ته دنده ورکړه چې ما سره مرسته وکړي او کاروونه راته ژر خلاص کړي، الوتکه راځخه ځي.)) دا وخت اوه بجې او پنځه لس دقیقــې دي. سکرتر یې وویل: ((زه په مخابره کې پر چا غږ کوم، ستاسو څنګ ته به درشي.)) پر دې وخت یو کس راغی، ویل یې: ((مسکو والا دې عاجــل راشي)) زه په لین کې ونه درېدم، هغه کس پر نورو هم غږ وکړ: ((مسکو والا دې له لینه ووځي)) دا مهال یو عسکر وویل: ((د دوی بکسونه نــه دي تلاشي شوي.)) یو ډګرمن مخابره په لاس د لین مخې ته ولاړ و. پر ما یې سترګې ولګېدې، راته یې وویل: ((راځه راپسې)) زما بیک یې ډېر ژر د چک له ماشینه تېر کړ، همداسې مسلسل مې په څو دقیقو کې کارونه خلاص شول، علت دا و چې اکثرو پولیسو او مسوولینو پېژندلم. تر اوو شل دقیقې تېرې وې چې لېوال صیب زنګ وواهه: ((چېرې یې؟)) مــا وویل: ((له ترمینله ووتم، اوس دا دی په موټر کې کېنم.)) کله چې پــه موټر کې کېناستم، ګورم چې جنرال صیب اصف جبارخېل مې ترڅنګ تېرېږي، پر ما یې سترګې ولګېدې، ویل یې: ((راکښته شه!)) ورکښــته شوم، ژر یې بل وړوکی موټر راوغوښت، چټک یې تر الوتکې ور ورسولم، یو دوه دقیقې اوه نیمو ته پاتې دي چې الوتکې ته پورته شوم.

# له کابله د مسکو پر لوري

کله چې الوتکې ته پورته شوم، نو ګورم چې اکثره بلدي خلک دي، د مشرانو جرګې یو شمېر غړي، د ولسي جرګې ځینې غړي، ازاد لیکوال او کارپوهان ټول په دې ډله کې شامل دي.

د مشرانو جرګې په غړو کې ښاغلی برهان الله شینواری، عبدالخالق حسیني، محمدعالم ایزدیار او نور شامل وو. د ولسي جرګې په غړو کې ښاغلی نادرخان کتوازی، ببرک شینواری، محمد هاشم وطنوال، خدای نظر سرمچار او ځینې نور وو. په ازادو لیکوالو او کارپوهانو کې ښـاغلی سلیمان لایق، احمدسیدي، اسد دانش، عبدالغفور لېوال او ځینې نـور دوستان وو. دا یو لوی افغاني هئیت و، په تېرو لس پنځه لسو کلونو کې دا د کمیت او کیفیت له پلوه ډېر لوی هئیت و چې د ملي شورا، حکومت او مدني ټولنې استازي په کې شامل وو.

د هئیت د غړو ډلبندي په دې ډول شوې وه:

## حکومت:

۱- محمد اسمعیل یون، د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګـي چـارو رییس.

۲- بریالی صابر بریا، په بهرنیو چـارو وزارت کـې د پارلمـاني چـارو مسوول.

۳- عبدالغفور لېوال، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سـیمه ییـزو مطالعاتو د مرکز رییس.

**۴- نسیم ګل توتاخېل، د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي استاد او د سولې ملي جرګې ویاند.**

## مشرانو جرګه:

**۵- ډاکتر برهان الله شینواری، د مشرانو جرګې غړی.**

**۶- عبدالخالق حسینی، د مشرانو جرګې منشي.**

**۷- محمد عالم ایزدیار، د مشرانو جرګې د بهرنیو اړیکو د کمېسیون مشر.**

**۸- قمر خوستۍ، د مشرانو جرګې غړې.**

## ولسي جرګه:

**۹- محمدهاشم وطنوال، د ولسي جرګې غړی.**

**۱۰- نادرخان کتوازی، د ولسي جرګې غړی.**

**۱۱- سیداسحق ګیلاني، د ولسي جرګې غړی.**

**۱۲- ببرک شینواری، د ولسي جرګې غړی.**

**۱۳- شکریه بارکزۍ، د ولسي جرګې غړې.**

**۱۴- خدای نظر سرمچار، د ولسي جرګې غړی.**

**۱۵- شاه سلطان عاکفي، د ولسي جرګې د بشري منابعو عمومي رییس.**

## ملګري ملتونه (یوناما):

**۱۶- محمد زمان امین، د سیاسي چارو کارکوونکی.**

**۱۷- احمد سیدي، د سیاسي چارو کارکوونکی.**

## ازاد:

**۱۸- عبدالعلي سراج**

۱۹- سردار عبدالله رفیق

۲۰- سلیمان لایق

۲۱- فضل کریم فضل، د شمشاد ټلویزیون رییس

۲۲- اسد ساپی، د دانش خپرندویه ټولنې مسئول.

د خپلې څوکۍ په لټه کې شوم، وړاندې هلته اسد دانش او


یون، ډاکتر شېرحسن او نبي شینواری

لېوال صیب ناست وو، خپل ګپ او شپ یې لا دمخه چالان کړی و، د دهلېز د دې بل اړخ څوکۍ کې یې ډاکتر صیب شېرحسن حسن او ښاغلی نبي شینواری ناست وو، د دهلېز څنګ څوکۍ یې تشه وه، ماته یې وویل همدلته کېنه، ما ویل همدلته کېنم، که د بل چا هم وي، خپل ټکېټ به ورسره بدل کړم، ډاکتر صیب وویل: ((نه همدا ستا ده)) پر څوکۍ چې کېناستم، نو تر لږې دمې وروسته مې یو ځل له ټولو پېژاندو دوستانو سره ستړي مشي وکړل، تر څو الوتکې الوتنه کوله، ما هر یو اندېوال یو ځل وکوت، اکثرو وویل: ((کاشکې زموږ ترڅنګ کېنې، تر هغه ځایه به ښه ګپ ولګوو)) ما وویل: ((ما د خپل ګپ ملګري پیداکړي

دی.)) ډاکتر صیب شېرحسن حسن ته ځکه خوشاله وم، چې لـه ده څخه به ډېر معلومات راټول کړم. ډاکتر صیب شېرحسن حسن زمـا د کلونو او سختو شپو او ورځو د ملګري تکړه شاعر (ممتاز ارمـان) ورور دی. بل ورور یې د فکر او نظر خاوند ډاکتر جمشېد (سمون) هم زمـا د کلونو ملګری دی. خپله ډاکتر صیب شېرحسن حسن سره هم له کلونو پېژنم، هر کله چې دلته په کابل او یا نورو سیمو کې پر فرهنګیانو کومه تنګسه راغلې، نو موږ په مسکو کې پر ډاکتر صیب شېرحسن حسن غږ کړی، هغه خپله او د نورو مسکو مېشتو افغان فرهنګیانو او سـوداګرو مالي مرسته رالېږلي او دلته پرې موږ عاجلې فرهنګي ستونزې غوڅې کړې دي. ډاکتر صیب شېرحسن حسن نه یوازې فرهنګپال دی، بلکې خپله هم ښه پوخ فرهنګیال او د قوي قلم خاونـد دی. ډاکتـر صـیب حسن او دده ملګرو نه یوازې په روسیې کې افغـاني فرهنـګ ژونـدی ساتلی، بلکې دلته په هېواد کې دننه د ګڼو کتابونو د چاپ د امکاناتو د برابرولو او نورو فرهنګي هڅو له لارې یې هېـواد تـه نـه هېرېـدونکي خدمتونه کړي دي، ان د بېوزلو مهاجرو او کورنیو کډوالو لاسنیوي ته یې هم ځان رسولای دی. ډاکتر صیب حسن او دده نور ملګري هغه کسان دي، چې په هند و چین کې یې ګټې خو پر خپلو بېوزلو هېوادوالو یـې لګوي. هغه له نږدې شلو کلونو راهیسې په روسیه کې اوسي، د روسیې او افغانستان له روابطو ښه خبر دی او پر دې یې هم ډېر ښه سرخلاص دی، چې دا روابط څنګه ښه کېدی شي او څنګه هغه عناصر چې غواړي د اکثریت پښتنو پر وړاندې د روسیې له ځواکه ناوړه ګټه پورته کـړي، کنټرول شي. نو داسې یو ژوندی او اول لاس اخځ چې مـا غونـدې یـو سړي ته په لاس ورشي، نور نو له خدایه څه غواړي. زه سره له دې چې

له ډاکتر صیب شېرحسن حسن سره ځو ځله ناست یم، خبرې اترې مو کړي، خو دا بحثونه تر یوه ساعت زیات نه وو، خو چې اوس پوره پنځــه ساعته مزل و، د دواړو لپاره یو ښه فرصت و چې د یو بل له نظریاتولا ښه خبر شو.

دوه دقیقې تر اتو تېرې وې چې الوتکه الوتنې ته تیاره شوه. پیلــوټ خپلې معمولې لارښوونې وکړې او ستوارډستانو هغه تمثیل کړې او بیا یې دا هم وویل چې په (باکو) کې یو ستاپ (تمېدنه) لرو. د ډاکتر صیب شېرحسن حسن ترځنګ ښاغلی نبي شینواری هم ناست و، شینواری صیب د خلکو دیموکراتیک ګوند د واکمنۍ په لومړي پړاو کې د کندهار د قبایلو چارو رییس و، د روسانو تر یرغل وروسته سم لاسي بندي شو، پوره لس کاله زندان یې وګاله، د تنظیمواکۍ پر مهال مسکو ته لاړ او له همغه مهاله راهیسې په مسکو کې اوسي، یو څه موده دمخه هېواد تــه راغلی و او اوس بېرته مسکو ته روان و. د شینواري صــیب ترځنــګ او هغه ته مخامخ په الوتکه کې د بېړني حالت لپاره دروازې وې، چې کــه څه پېښه رامنځته شي، له دې دروازو باید ګټه پورته شي، پر دې وخت اسددانش وویل: ((تیار د بېړنیو دروازو ترځنګ ناست یو که څه پېښــه شوه نو لنډه به ترې ګټه واخلو)).

دانش په خندا خندا کې وویل: ((پخې ستې ټولې همدلته دي، که څه پېښه وشوه، رسنیو ته به د یوې میاشتې لپاره مواد پیدا شي.)) ما خپل قلم او کتابچه راواخیستل او ځان مې لیکلو ته تیار کړ. الوتکې به نــیم ساعت مزل کړی وي. په پیل کې لاندې د افغانستان دښــتې او غرونــه ښکارېدل، غرونه له واورو ډک وو او دښتې شــنې ښــکارېدې، داســې ځرګندېدله چې سږنی کال ښه اباد کال دی. تر نیم ساعت مزله وروسته

**الوتکه دومره جګه شوه چې لاندې د ځمکې متن نه ښکارېده، الوتکې د ورېځو له پاسه حرکت کاوه، په اصطلاح نیم اسمان ته ختلې وه. دا وخت یې ماته د خپل ماشومتوب هغه خاطرې رایادې کړې چې له ملایانو څخه مې اورېدلې وې، هغوی به ویل: ((د خدای(ج) له قدرت څخه یوه نښه دا ده چې اسمان یې بې ستنو ودرولی دی.)) ځینو یې یو وخت الوتکه هم نه منله ویل یې داسې یو شی دی چې په هوا کې روان دی، کله یې چې**



عبدالغفور لیوال او اسد دانش

**بیا الوتکه په خپلو سترګو ولیدله نو بیا یې وویل: ((پرنګیه له قدرتو دې جاربږم چې پنځوس منه اوسپنه دې هوا کې روانه کړې ده.)) له ورېځو څخه یې هم خپل خپل تعبیر و، د هغو له پاسه حرکت او تګ یې ناممکن ګاڼه او سپوږمۍ ته ختل یې ښېخي شین کفر. یوه ورځ زموږ د کلي یو ملا په خپل تبلیغ کې اسمان ته د ختلو پر نورو دلایلو سربېره یــوه پښــتو لنډۍ هم د یوه دلیل په توګه راوړه، ملاصیب وفرمایل: ورونو مسلمانانو!**

اسمان ته لار د ختو نه شته

لیلا – مجنون په عاشقۍ ختلي دینه

د ملا دا منطق او د پښتو دا لنډۍ له ماشومتوبه بیا تر دې دمه زما په ذهن کې همغسې ژوندي دي. له ننه اوه کاله دمخه زه اروپا تــه د یــوه رسمي سفر په ترڅ کې روان وم. هلته هم الوتکه د سپینو ورېځو له پاسه روانه وه، ورېځې، لکه د مالوچو پاغوندې ترې لاندې تاوېدلې راوتاوېدلې، هلته بیا ماته د ملاصیب همغه لنډۍ او همغه منطق رایاد شول او دغه لاندې ازاد نظم ګوتې مې په الوتکه کې ولیکه:

## اسمان ته لار د ختو نه شته

زه چې کوچنی وم
نو زموږ د کلي
یوه سور ږیري ملا
به د اختر او د جمعې پر ورځو
د خپل ناصح کلام او وعظ په ژبه
همېشه دا فرمایل:
((اسمان ته لار د ختو نه شته
لیلا – مجنون په عاشقۍ ختلي دینه))
خو اوس چې یوویشت کاله وروسته
زه روان د اروپا په سفر
او الوتکه کې یو ناست موږ په سوونو کسان
تر موږه لاندې دي
د سپینو ورېځو غرونه غرونه

**د ځمکې څرک نه لګي**
**او موږ تر نیم اسمانه لاندې الوتنه کوو**
**نو ماته بیا د خپل ملا کلام رایاد شي**
**چې یې موږ ته کړی**
**زه هم تېروتی ولس هم تېروتی**
**خو اوس پر خپلې ماضي**
**او د ماشومتوب پر شېبو**
**یوه عجیبه شان خندا راځي**
**دا خو لا خیر**
**چې موږ به نور څومره تېرویستي یو د کلي ملا...**

**په دې هوایي سفر کې مې هم کله کله قلم ته ګوتې وروړلې او هم مې شینواري صیب سره خپلې خبرې غځولې. شینواري صیب وویل: ((زه دا څلوېښت ورځې په کلي کې اوسېدم (نازیانو ولسوالۍ کې) خو کله چې خبر شوم په مسکو کې داسې یو مهم علمـــي کنفـــرانس دی او تاســـو غوندې دوستان په کې ګډون کوي، ټکېټ هم تیار راسره و، نو ځکه مې عاجله پرېکړه وکړه.)) شینواري صیب زیاته کړه: ((یون صیب! زه درته ډېر احترام لرم، په غیاب کې مې ډېر پېژندلۍ، ما ویل کله به وي چې له نږدې درسره وګورم، زړه کې چې اخلاص وي، خدای(ج) هر کار برابروي، دا دی د همدې اخلاص په برکت زه او ته پر یوه څوکۍ څنګ په څنـــګ سره ناست یو.)) شینواري صیب وویل: ((تکلف درته نه کوم، یو شعر مې هم په غیاب کې درته لیکلی، په مسکو کې راسره دی، هلته به یې درته درکړم.)) ما شینواري صیب ته وویل: ((اوس زموږ او ستاسو لپاره ډېره مهمه خبره دا ده چې د بېلابېلو پخوانیو ګوندونو او ایډیالوژیو تـــرمنځ**

پخلاینه او ذهني پیوستون رامنځته کړو، ګوندونو ملت سره پاشــلی و، اوس داسې وخت دی چې ټول باید بېرته سره راټول شو، افغانستان لوی هېواد دی، ټول په کې ځایېږي، د ځینو شمېرنو له مخې که موږ یوازې د افغانستان کرنیز سکتور پراخ او عصري کړو، نو (۹۵) ملیونو وګړو ته په کې د ژوند شرایط برابرولای شو.)) شینواري صیب زما د خبرو په تائید او تعقیب نړدې شل دقیقې مفصل بحث وکړ او ویې ویل: ((موږ باید پــه سیاسي چارو کې له خپل نږدې ګاونډي هېواد (پاکستان) څخه، چې له ژونده یې شپېته کاله نه تېرېږي، پند واخلو، وګورئ کله چې د پاکستان ملي ګتې مطرح شي ملا یې په ملایي تائیــدوي، سیاســتوال یــې پــه سیاست او نور یې په نورو لارو چارو؛ په ملي ګټو کې ټول سره یــو دي، خو کله چې یې تنظیمي ګټې مطرح وي، بیا هر یو خپلې تنظیمي ګټې پالي او په پارلمان کې هم یو بل ته بد و رد وایي. هلته چې یو ملا له یــو روښنفکر سره جوړېدی شي، نو دلته ولې دا کــار نــه شــي کېــدی؟)) شینواري صیب زیاته کړه: ((موږ ټولو هر یو اوس پخه تجربه ترلاسه کړې ده، باید له دې هرې تجربې څخه د ولس د پیوستون او یووالي لپاره کار واخلو.))

ساعت لس نیمې بجې وې، چې د الوتکې پیلوټ غږ وکړ: ((اوس موږ له (باکو) څخه (۱۵۰) میله لرې یو. د باکو اسمان شین دی، هوا مثبــت (۱۴) درجې ده. څلوېښت دقیقې وروسته د باکو د (حیــدرعلي یــوف) نړیوال هوایي ډګر کې کښته کېږو، یو ساعت به هلته پاتې کېږو، تر یــو ساعت وروسته به د مسکو پر لوري حرکت کوو.))

دا پورته ټکي چې تاسو ولوستل دا په الوتکه کې پر همدې لس نیمو بجو لیکل شوي دي.

الوتکه یوولس بجې د باکو د نړیوال هوایي ډګر پر سر تاوه راتاوه شوه، لاندې د کسپین بحیره ښکارېده، چې د ایران، روسیې او اذربایجان ترمنځ پرته ده. باکو د کسپین بحیرې پر غاړه پروت دی. د ټپلو غټې زېرمې په همدې بحیره کې دي. روسیه او ایران له اذربایجان سره پر همدې زېرمو ستونزې لري. د دې بحیرې د اوبو پر وېش هم شخړې لري. کله چې الوتکه د هوایي ډګر پر سر تاوېدله، نو له یو سخت فشار سره مخ شوه، ان تر دې حده وګړزېدله، لکه یو زوړ چکله موټر چې په خام سړک کې ګړزېږي، ټولو خپلې مخنۍ څوکۍ ټینګې ونیوې، هر یو پر ځان کلیمې تېرې کړې، پر ټولو یو سخت ډار تېر شو، د خطر درجه رښتیا هم ډېره لوړه شوه.

څو دقیقې  وروسته الوتکه په ډېر شدت سره پر هوایي ډګر راکښته شوه او دې سره یو سخت غورش پیل شو. یو دوه دقیقې وروسته حالات ارام شول او الوتکې ورو ورو د ترمینل ودانۍ ته ځان نږدې کړ. پر دې وخت د الوتکې پیلوټ یو ځل بیا اعلان وکړ: ((د تودوخې درجه مثبت لس ده، زموږ د توقف وخت یو ساعت دی، لطفاً په الوتکه کې پر خپلو ځایونو کېنئ، بهر ته د تللو اجازه نه شته.)) یوولس بجې او لس دقیقې وې چې الوتکه د (حیدرعلي یوف) نړیوال هوایي ډګر د ترمینل مخې ته ودرېده او مسافرینو ته د لږ ارام تنفس زمینه برابره شوه.

د باکو نړیوال هوایي ډګر نسبتاً لوی او ښکلی دی؛ دومره ښکلی نه، لکه د نورو پرمختللو اروپایي هېوادونو د هوایي ډګرونو په شان، خو بیاهم د منځنۍ اسیا د نورو هېوادونو په کچه نسبتاً ښه هوایي ډګر دی، د ترمینلونو ودانۍ یې هم په پخوانۍ بڼه دي. څو دقیقې وروسته د ټپلو مخصوص ګاډی د الوتکې سینې ته راورسېد.

**لس کم دولس بجې الوتکه بېرته الوتنې ته چمتو شوه، د یوه ساعت په واټن کې مې په الوتکه کې په لنډ لنډ ډول له ښاغلي سلیمان لایق، ببرک شینواري، ډاکتر برهان الله شـــینواري، احمدســـیدي، نادرخـــان کتوازي، انجنیر فضل کریم عبدالرحیمزي، محمدهاشم وطنوال او ځینو نورو دوستانو سره وکتل، لنډې لنډې خبرې مو ورسره وکـــړې، اکثـــرو وویل چې ښه دی، ته هم راسره یې چې هلته ښه مجلس وکړو.**

**کله چې الوتنه پیل شوه، نو تر لږ ځنډ وروسته د خوب پرښتو د خوب نړۍ ته یوړم. زما یو عادت دا دی، چې کله ستړی شم، که په موټر کې یم که په دفتر کې، په الوتکه او یا هم په کوم بل ځای کې، نو دخوب ځپـــه راباندې راځي، چې ځینې ورته (شکر خوب) وایي، دا داسې نیمه خوب دی، چې نه په کې ویده یم او نه ویښ، خو کله چې له همدې نیمه خوبه راویښ شم،نو دمه مې راسته شي، په اصطلاح ریچارج او تازه شم، بیـــا دومره انرژي او ځواک راکې پیدا شي، چې تر بلې ستړیا پورې پرې کار کولای شم، نو ځکه خو ډېـــر اوږده ســـفرونه هـــم زمـــا لپـــاره ډېـــر زړه تنگوونکي نه دي. یوه سترگه خوب مې وکړ، له خوبه چې راویښ شوم، نو په الوتکه کې ډوډۍ هم تیاره وه. شل کم دولس بجې یې ډوډۍ راوړه، ډوډۍ مو وخوړه. (د اریانا افغان هوایي شرکت) په خدمتونو کې اوس د پخوا په انډول یو څه ښه والی راغلی دی، خو بیا هم ډېر واټن پاتې دی چې د نړۍ د معتبرو هوایي شرکتونو له خدمتونو سره ســـیالي وکـــړای شي. تر ډوډۍ وروسته مې له ښاغلي ډاکتر صـــیب شېرحســـن حســـن څخه پوښتنه وکړه چې د روسیې او افغانستان د وخت ترمنځ څـــومره توپیر دی؟ هغه وویل: ((په روسیې کې دوی په بېلابېلو موســـمونو کـــې وخت په خپله بدلوي، نو ځکه دا توپیرونه د موسم له مخې فرق کـــوي،**

خو دا اوس چې موږ مسکو ته ځو دا توپیر ډېر زیات نه دی یــانې (نــیم ساعت) دی.))

ډاکتر صیب حسن څخه مې بیا پوښتنه وکړه چــې اوس د روســیې اقتصادي حالت څنګه دی؟ هغه وویل: ((کلــه چــې پــر دوه زرم کــال (پوتین) واک ته ورسېد، نو پر دې وخت د روسیې د پیسو زېرمه (څلور ملیارده ډالره) او روسیه له نړیوال بانک څخه (دولس ملیــارده ډالــره) پوروړې وه. پوتین د څلورو کلونو په بهیر کــې د روســیې ذخیــره یــې بودیجه (یو سلو شپېته ملیاردو ډالرو) ته ورسوله او نړیوال بانک ته یې هم بېرته د پور د ورکړې وړاندیز وکړ. د دې ترڅنګ یې په ټولنــه کــې عامه نظم ټینګ کړ او مافیایي ګروپونــه یــې وځپــل.)) ډاکتــر صــیب شېرحسن زیاته کړه: [پوتین په المان کې د روسیې له استخباراتو سره کار کړی و او د روسیې ملي ګټو ته ډېر وفادار دی. واک ته تــر رســېدو وروسته یې د شــوروي او روســیې پخــواني واکمــن لکــه ګربــاچوف، پریماکوف، بوریس یلتسن او نور راوغوښتل، له هغوی څخه یې وپوښتل چې دخپل نظام د نیمګړتیاوو، همدارنګه د هغوی د حــل لارو چــارو د خپلو کړنو او د دې ترڅنګ له لوېدیځ سره د مناسباتو په اړه چې دوی څه کړي، ددې ټولو په باب یې له دوی څخه هیله وکړه چې دا ټول ورته ووایي؛ له هغو ټولو څخه یې د پخو مشاورینو په توګه کار واخیست. په انتخاباتو کې یې لومړی شعار دا و چې: ((زه خپله دیکتاتور نه یم، خو د قانون دیکتاتوري غواړم)).]

ډاکتر صیب شېرحسن حسن ته مې وویل: ((په افغانستان کې هــم اکثره سیاسي کتونکي په دې نظر دي چې کرزي صــیب بایــد قــانون تطبیق کړی وای، ځینې کسان وایي چې د قانون دیکتــاتوري یــانې د

قانون حکومت اصلاً دیموکراسي ده او هره انارشي د ولسواکۍ مانا نــه لري.))

الوتکې خپل مزل لنډاوه او موږ خپلو خبرو ته دوام ورکاوه، کله چې الوتکه د روسیې خاورې ته ورسېده، نو د افغانستان پر وخت د ورځــې یوه نیمه بجه وه، الوتکه د ورېځو د سپینو پاغوندو له پاسه ګرځېده، په ډېر تکلیف لاندې ځمکه ښکارېده، خو کوم ځایونه چې ښــکارېدل پــه ډېرې سختۍ لیدل کېدل، اکثره شنه بخن برېښېدل. شینواري صــیب راته وویل: ((روسیه ټوله شنه او ځنګل ده، په تېره بیا اروپایي برخه یې، له (مسکو) څخه چې تر (سایبیریا) پورې څوک مــزل کــوي، دا واټــن دومره اوږد دی، چې د الوتکې نږدې (۹) ساعته مزل دی، دا ټولــه لاره چې تاسې ګورئ ان د چین تر پولې دا ټوله په نښترو، ناجو، نمنځــو او نورو ونو پوښل شوې ده. دا ځنګلونه دومره پراخه او لوی دي چې سړی فکر کوي ټوله نړۍ ځنګلونو نیولې ده. دا ځنګلونه چې هر څومره ووهل شي خلاصــی نــه لــري، خــو دوی دا ځنګلونــه پــه ډېــر مســلکي او سیستماتیک ډول وهي او نورو ونو ته په کې زیان نه رسېږي. روسیه له جاپان، فنلنډ او ځینو نورو اروپایي هېوادونو سره د لرګیو تجارت لري، خو د روسیې خاوره داسې زرخېزه ده چې کله ونې ووهي، نــو پــه دوو کلونو کې بېرته همغه ځمکه شین ځنګل وي، ونې په منظم ډول وهــل کېږي، په کرینګ یې پورته کوي او په موټر کې یې باروي او پرځای یــې نوي نیالګي کېنوي.)) شینواري زیاته کړه: ((روسیه اوس هم د نړۍ تــر ټولو لوی هېــواد دی،(۱۷۷۵۲۰۰)کیلــو متــره مربــع مســاحت، ډېــره حاصلخېزه ځمکه او (۱۴۴) ملیونه نفوس لري.))

شینواري صیب وویل: ((د روسیې د جمهور رییس (بوریس یلتسن) د واکمنۍ پر مهال په روسیه کې د لرګیو د تجارت یوه مافیا وه، په ملیونو ټنه لرګي یې له روسیې څخه قاچاق کړل، خو کله چې پوتین واک تــه ورسېد، دا مافیا یې ټوله تس نس کړه.)) ما(یون) او شــینواري صــیب




خپلو خبرو ته دوام ورکاوه، دا مهال دوه بجې او پنځه لس دقیقې وې، د الوتکې کپتان اعلان وکړ: ((کمربندونه وتړئ چې مسکو هوايي ډګر ته ورننوځو شوي یو.)) کله چې الوتکه د ورېځو له سره تېرېدله، نــو پرلــه پسې یې ټکانونه خوړل، تر ورېځو لاندې د مسکو ښار راڅرګنــد شــو، عیناً لکه د اروپا د نورو ښارو په شان شین او شین بخن. دلته لا تراوسه سم پسرلی نه دی رارسېدلی، وخت لا پاتې چې ټول مسکو شین شي، خو بیا هم د نړۍ تر ځینو نورو ښارونو یو څه زیات شین ښکارېده، منځ منځ کې وړې وړې جزیرې او سیندونه هم ښکارېدل، الــوتکې طبعــاً د

**کښته کېدو پر مهال مسافرین وېرول. دا مهال د ژوند او مــرګ تــرمنځ واټن ډېر کم وي. څومره چې الوتکه کښته کېدله، شــینوالی زیاتېــده، لاندې اکثره سرې بخنې ونې ښکارېدې، د افغانستان پر وخت دوه نیمې او د مسکو پر وخت دوه بجې وې، چې الوتکه د مسکو پر هــوایي ډګــر راکوزه شوه. (B) نمبر ترمینل ته له (VIP) لارې داخل شو.**

# د مسکو هوايي ډګر

د مسکو هوايي ډګر د نړۍ له لويو هوايي ډګرونو څخه دی، کله چې موږ د مسکو په دغه نړیوال  هوايي ډګر کې کښته شـو، نـو د رسـمي هئيت په توګه زموږ هرکلی وشو.

پر دخولي وېزې او چک نيم ساعت وخت ولګېد، تر هغـه وروسـته (VIP) هال ته چې په اصطلاح معتبر مېلمانه په کې کېني، لاړو. مسـکو مېشتو افغانانو؛ بشر صيب، بهاند صيب، کاڼي صيب او نورو ګڼو افغانانو



یون د مسکو د هوايي ډګر په ترمينل کې

زموږ هرکلی وکړ. ترنيم ساعت زيات وخت هلته پاتې شو، دا وخت زموږ لپاره مناسب فرصت و، چې د يو بل د حال او احـوال پوښـتنه وکـړو، انډيوالانو سره مو ګپ شپ ولګاوه. همدلته د کنفـرانس يـا جرګـې د موظفې عکاسې (مارينا) له خوا زموږ عکسونه واخيسـتل شـول. پـه

ترمینل کې د ګڼو افغانانو له خوا تود هرکلي د هغــوی د هغــې مینــې



یون له امان اشکرېز او نورو مسکو مېشتو افغانانو سره د سترې مشي پر مهال

څرګندونه کوله چې دوی یې په مسافرۍ کې له خپل هېــواد او خپلــو هېوادوالو سره لري. په ترمینل کې مو ښه چای هم وڅښه او ښه دمه مو هم وکړه. کله چې د ټولو بیکونه او سامانونه راوړل شول، نو له ترمینله راووتو.

# د مېلمستون پر لوري

کله چې له ترمينله راووتو، نو د ټولو لپاره يې يو لوی (۳۰۳) موټر چې خورا لوړ و، نيولی و. موټر خورا جګ و، داسې لکه دوه پوړيز، خو دا يو پوړيز و. د هغه هوټل يا مېلمستون پر لوري رهي شو، چې د افغاني مېلمنو لپاره يې په پام کې نيولی و.




زموږ د ټولو انډيوالانو بيکونه د موټر په سينه کې ځای پر ځای شول، موټر دومره لوی او جګ و چې زموږ ټول انډيوالان په کې نه يوازې دا چې ځای شول، ځينې څوکۍ لا په کې تشې هم پاتې شوې. په موټر کې دا سفر هم زموږ لپاره غنيمت و، ما ويل څه د مسکو سيل به هم کوو او ملګرو سره به ګپ هم لګوو. زموږ د موټر تر سينې لاندې چې نور موټر تېرېدل، نو موږ ته داسې ښکارېدل چې موږ ګنې په دويم پوړ کې ورته

ناست یو. د لومړي ځل لپاره مې مسکو ښار کوت، ډېر لوی او ډېر اباد، د موټرو ګڼه ګوڼه هم په کې خورا زیاته ښکارېده، سړکونه یې هم لوی او پراخ وو، خو د سړکونو شاوخوا ودانیو او شینلیو ته مو چــې کتــل، نــو هغسې صفايي او پاکي یې نه درلودله، لکه ځینــې نــور لــوی اروپــایي ښارونه یې چې لري، ځای ځای په کې د چتلــو اوبــو ویــالې او لیکــې ښکارېدې چې عمومي سړک ته ورځېرمه لس پنځه لس متره لرې واټن یې چتل کړی و، ځای ځای په کې د ځمکې پرمخ د ګازو او اوبو پخوانۍ او اوسنۍ نللیکې هم ښکارېدې. دې حالت د دې څرګندونه کوله، چې د پخواني شوروي د زوړ سیستم نښې نښانې لا تراوسه هم پرځای پاتې دي.




ما به کله کله د سړک شاوخوا سیمه او کله کله لرې لــرې لــرې ســیمې کتلې، د نویو او زړو ودانیو توپیر په کې له ورایــه څرګندېــده، داســې ښکارېده چې د کمونیزم تر فکري سانسور وروسته مسکو په نږدې تېرو دوو لسیزو کې څرګند بدلون کړی دی، خو د دې ترڅنګ به چې کلــه موټر لږ ورو شو او یا به ودرېد، قلم به مې کتابچې ته وروړه، د مــوټروان

**ترڅنګ یو تن افغان ژباړن هم ولاړ و، چې په پښتو او دري ژبه یې موږ ته د مسکو ښار په اړه معلومات راکول. ده په خپلو تشریحاتو کې وویـل: ((مسکو ښار (۱۰۸) کیلو متره حلقه یي سړک لري، مسکو درې داخلي (ښاري) او دوه خارجي (ولایتي) حلقوي سړکونه لري، دا سـړک چـې اوس موږ او تاسې پرې روان یو، د (مرګونې لار) یا د (مرګ) سړک پـه نامه یادېده، دا ځکه چې پر دې سړک ډېره ګڼه ګوڼه وه او ډېر ټکرونه په کې پېښېدل، موږ په دې سړک (۳۵) کیلو متره همداسې وړاندې ځو، له مسکوه بهر وځو او خپل تفرېځي یا مېلمستون ته ځو.)) کله چـې دې ځوان د مسکو په اړه دا معلومات ورکول، نو ځینې وخت بـه پـه کـې ټکنی ټکنی شو، همدې کار یې په معلوماتو کې لږ څه بېخوندي رامنځته کړه. په موټر کې موږ سره یو بل مسکو مېشتی افغان هم ناست و، ډېـر چالاکه ښکارېده، زموږ له نورو ملګرو سره پر خبرو بوخت و، د مسکو په هکله د ده معلومات تر ټولوزیات وو. خبرې یې هم ډېرې زیاتې کـولې، ورو ورو یې د هغه معلوماتي ځوان او ژباړن ځای ونیو چې تر ده دمخــه لګیا و، وروسته بیا ماته پته ولګېده چــې دی د لغمــان دی او عبــدالله نومېږي. د تفرېځي پر لوري مو حرکت ته دوام ورکاوه، د معلوماتو منابع مو په همدې موټر کې زیاتېدلې، په موټر کې راته څرګنده شوه چې لــه مسکو ښار څخه یو طبیعي سیند تېر شوی، خو له دې سینده یې ځینې مصنوعي کانالونه هم تېر کړي او دې کار د ښار ښکلا ډېره زیاته کړې ده.**

**اوس مســکو (۱۰۳۸۲۷۵٤) نفــوس لــري، چــې (٤۹۵۱۸۱۹) نارینــه او (۵۴۳۰۹۳۵) ښځینه وګــړي دي.درې نړیــوال هــوایي ډګرونــه لــري: (شېرېمیتوا، دومدېدوو، ونوکــوو). هغــه چــې مــوږ ورتــه راورســېدو**

شېرېمیتوا (Sheremetevo) نومېږي او له ښاره شل کیلو متره واټن لري.



د مسکو ښار یوه منظره

پر کوم عمومي واټ چې موږ روان یو، خورا لوی سړک دی، پنځه لیکې یې په یوې او پنځه یې په بله خوا کې دي، د موټر سرعت په کې ازاد دی، زموږ مخې ته د ترافیکي پولیسو موټر روان دی، چې موږ ته لاره صافه کړي. موږ له مسکو ښار څخه نږدې (۲۰) کیلو متره لرې د مېلمستون پر لوري روان یو، مسکو اوس ټول (۹۰۰) کیلو متره مربع مساحت لري. د دنیا له قیمتي ښارونو څخه دی، نن په کې د هوا درجه مثبت شل درجې سانتي ګراد ده. کله چې تر مسکوه بهر شې، نو مخې ته دې لومړی د (میتشا) (Metisha) ښارګوټی راځي، تر هغه وروسته کارالیوف(Karaleov) ښارګوټی راځي. (کارلیوف) لومړنی سړی و چې هوایي ببړی یې جوړه کړه او (یوري ګاګارین) په کې هواته پورته شو.

په لاره کې مو ډېر زاړه کورونه ولیدل، چې له لرګیو څخه جوړ وو، دا د روسانو کلیوالي کورونه دي چې دوی اکثره د رخصیتو په ورځو کې ورته راځي، خو دا کورونه د هغو کورونو په شان لوکس او ښکلي نه دي چې په جرمني، ډنمارک، سویډن، فرانسې او نورو اروپايي هېوادونو کې له

لرګیو څخه جوړېږي. په مسکو کې له هوایي ډګر پرته چې لوحې په کې




په روسي او لاندې په انګلیسي ژبه وې، د لارې په اوږدو کې مو یوه لوحه هم له روسي پرته په بله ژبه ونه لیدله، دلته هغه دود هم ښځي نه و، چې یوه لوحه دې لومړی د هغه هېواد په خپله ژبه وي او لانـدې دې تـرې انګلیسي لیکل شوې وي؛ دلته ټولې لوحې یوازې په روسي ژبه وې، له دې څخه دا څرګندېږي، چې روسان له پیله د هویـت او ملـي مسـلې حساسیت ته ډېر متوجه وو او متوجه دي. تر نږدې یوه ساعت ګړنـدي مزله وروسته د یوه ګڼ ځنګله په سینه کې پر ورغلي سړک د لېفکووا (Lefkova) مېلمستون ته ورسېدو. دا مېلمستون له مسکو ښار نه (۲۲) کیلو متره شمال خوا ته د (پوشکینو) په ښـارګوټي کـې واقـع دی. دا مېلمستون د مسکو په ولایتي حکومت پورې اړه لري.

# د مېلمستون لومړۍ ننداره

کله چې مېلمستون ته ورسېدو، نو لومړی مو خپل بیکونه له موټره راکښته کړل، هر چا خپل بیک راخپل کړ. څو دقیقې د مېلمستون په داخلي پارکېنګ کې ودرېدو، چې مسوول اشخاص راشي او هر چاته خپله خونه په ګوته کړي، دا مېلمستون یا استراحتځی په یوه لوی ځنګله کې واقع و، له ښار او بازاره ډېر لرې و، ارام ځای و، د روسیې ډېر



معتبر خلک او زیات بهرني مېلمانه همدلته راځي، خو په لومړۍ ننداره کې زموږ د هئیت پر غړو ښه ونه لګېده، ځینو ویل: ((موږ دلته څه کوو چې د ځنګله منځ ته یې راوستو، موږ ته به یې یو داسې هوټل نیولای و چې د ښار په منځ کې وای، ګڼه ګوڼه په کې وای، که موسیقي په کې

**وای نو لا به ښه وای، دا نو څه استراحتځی دی، نه په کې ترنگ شته نه په کې ترونگ، نه په کې ساز شته نه په کې سرود، هســې یــې پــرې د استراحتځی نوم ایښی دی.)) یوه لا په کې دا هم وویل: ((ملایان وایي په دې دنیا کې تفریح نه شته، انسان باید همداسې سرگردانه وي، کله چې دنیا کې تفریح نه وي، نو استراحتځی بیا له کومه شو؟ چا ویل چې دنیا ځای د ارامگاه دی...؟)) لس دقیقې دلته سره ولاړ وو، گپ شپ مو سره لگاوه، ما د پکتیکا وکیل نادرخان کتوازي صیب ته وویل: ((روسانو بــه داسې فکر کړی وي چې تر کلونو تاوتریخوالي وروسته دا مسکو تــه د**



**افغانستان د ډېر لوړ رتبه هئیت سفر دی، دا یو ډېر درونــد او ســنگین هئیت دی. له ښاٰرونو ئو غاٰلمغاٰله به ډېر ستړي شوي وي، نو ځکه یې له ښاره نږدې شل کیلو متره لرې راوستو، خو دوی خبر نه دي چې مــوږ څومره غمځپلي یو او څومره د ښار ښکلاوو او بــلاوو تــه تــږي یــو.))**

نادرخان کتوازي وویل: ((دوی خو به یو ځـل مـوږ نـه پوښـتنه کـړې



افغاني هئیت د لیفکووا مېلمستون په انګړ کې

وای چې تاسې چېرته خوشاله یاست: په غره کې؟ په ځنګله کې، که په ښار کې...؟))

څو شېبې وروسته سره ووېشل شو. زه (یون) او حاجي صیب فضـل کریم عبدالرحیمزی په (دولسم) بلاک کې شو، زه په (څلورم) او هغه په (دویم) اتاق کې مېشته شو. کله چې اتاق ته داخل شو، ښــه لــوکس او لوی اتاق و، یو نفري خو لوی چپرکټ په کې ایښی و، مخې ته یې الماری وه چې ټلویزیون هم په کې ایښی و، تشناب یې هم ښه پاک او لوکس و، د راحت لپاره ښه اتاق و، په اتاق کې یخچال هم و، خو څه په کې نه وو؛ تش و، پر مېز یو غټ بوتل اوبه ایښې وې، په ټول اتاق کې ټلېفون نه و، دا اتاق سره له دې چې د افغانستان د هوټلونو په اندول لوکس و، خو د امریکا، جرمني، عربي متحده اماراتو او ځینو نورو پرمختللو هېوادونو په تناسب لوکس نه و. البته د چاپېریال له مخې یې موقعیت ښه و. زمــوږ

لیکوال ملګری طاهر کانی او یو بل تن روسی ژباړن ښاغلی (الکساندر) ما سره تر خونې لاړل. د روسي ډېره ښه پښتو زده وه، طــاهر کــانی او الکساندر دواړو په دې کنفرانس کې د ژباړونکو دنده هم لرله. دوی زما خونه وکتله او بیا بېرته د خپلو خونو د تثبیت لپاره لاړل.

ژباړونکو ته یې هم د کنفرانس د نورو برخوالو په شان ځانګړې خونې په پام کې نیولې وې. څو شېبې وروسته مې ټلویزیون چالان کړ، ټول اوه لس اتلس چینلونه یې نیول، اکثره یې په روسي ژبه وو. په یو نیم چینل کې یې د نورو هېوادونو فلمونه هم لیدل کېدل، چې هغه هم په روسي ژبه دوبله شوي وو. د افغانستان پر وخت د مازیګر شپږ بجې وې چې د خوب یوه څپه راباندې راغله.

# د لومړۍ ورځې لومړی ماښامی

د ماښام شل کم اوه بجې وې چې درې تنه افغان ملګري: قومنـــدان ګل محمد، طاهر کانی او عبدالله راغلل، ما په تشناب کې پــرمخ اوبــه تېرې کړې، د خوب مرغۍ مې والوتې، د دې کنفرانس یا جرګې په اړه مو بحث پیل کړ، دې ملګرو وویل: ((په دې کنفرانس کې باید هغه څه وویل شي چې موثر وي.)) د کنفرانس د عمومي اهدافو په باب مو یوه چاشنۍ بحث وکړ، څه نا څه عمومي تصور مو ترلاسه کړ، قومندان صــیب ګــل




محمد وویل: ((دا کنفرانس اصلاً د افغانستان او روسیې د روابطو د (۹۰) یمې کالیزې په مناسبت جوړ شــوی او پــه تېــرو لســیزو کــې د دواړو هېوادونو روابطو ته په کې کتنه کېږي، نــو کــه پــه دې اړه رغــوونکي

وړاندیزونه وي، ښه به وي)). ښاغلي عبدالله وړاندیز وکړ: ((څرنګه چې تر ډېرو کلونو وروسته په روسیه کې یو ځل بیا د افغانستان په اړه لېوالتیا پیدا شوې، نو ځکه خو په کار ده چې په دې کنفرانس کې ډېرې بربنډې نیوکې ونه شي.)) خو د خبرو په ترڅ کې بیا یو نظر دا هم پیدا شو چې: ((واقعیتونه واقعیتونه دي باید وویل شي پر چا ښه لګي که بد.)) مجموعي نظر همدا شو چې په خبرو کې باید احتیاط وشي او رغونیزه برخه یې درنه وي. ما دوی ته وویل: ((زه پوه شوم، کله چې عمومي غونډه پیل شوه، هلته به د غونډې نبض مطالعه کړو، له همغه حالت او ضرورت سره متناسب حالت به غوره کړو.)) کاني صیب وویل: ((ځینو لیکوالو او برخوالو ته مخکې تر مخکې ویل شوي وو، چې مقالې راولېږي، تاسې ته یې نه وو ویلي که څنګه؟ ځکه همدا اوس مورږ د یو شمېر لیکنو پر ژباړه مصروف یو.)) ما وویل: ((اول خو زه مخکې تر مخکې پر لیکنه خبر نه یم، بل که خبر هم وای، تیاره لیکنه مې ځکه نه رالېږله چې کېدی شي د ځینو نورو برخوالو له لیکنو سره ورته والی ولري، کله چې یو څوک په یوه کنفرانس او یا سیمینار کې کومه لیکنه ولولي او بیا د بل چا نوبت وي، هغه هم خپله لیکنه ولولي او بیا دا دواړه سره نږدې وي، نو خلکو ته دومره خوند نه ورکوي.)) ما وویل: ((زه به وګورم چې پر هغه ورځ نور څه وایي؟ کېدی شي ځینو مسایلو بانـدې هملته رڼا واچول شي.)) کاني صیب وویل: ((دا لیکنې باید مخکې تر مخکې وژباړل شي، هلته هرې لیکنې ته وخت په پام کې نیول کېږي، راساً ژباړه، هغه هم په داسې یوه غونډه کې اسانه خبره نه ده.)) ما وویل: ((چې داسې ده نو تر عمومي غونډې دمخه به زه یوه لیکنه برابره کړم، تاسو به یې وژباړئ، خو د کنفرانس په عمومي اجنډا کې یې له

همدا اوسه ځای پر ځای کړه.)) خبره مو پر همدې ځای سره غوټه کړه او د خوړنځي پر لوري وخوځېدو، خوړنځی نږدې سل متره تر دې ځو استوګنځیو لرې و، د خوړنځي دویم پوړ ته پورته شو.




د ډوډۍ لپاره تیاری نیول شوی و، پر مېزونو لږ ترکاري، د پسه غوښه، کباب، چای، د سیلو دوه ډوله ډوډۍ ایښي وو، د یوه اوږده مېز پر شاوخوا ټول راټول شو، د مېز سرته چې مو وکتل، نو د روسیې او نورو اروپایي هېوادونو ترمنځ راته په کې ځرګند توپیر ښکاره شو، موږ ته ښه پته ولګېده، چې روسیه لا اوس هم د کمونیستي مهال د فقر تر سیوري لاندې ژوند تېروي او بدایه روسیه لا تراوسه د خپلې بډاینې اصلي حد ته نه ده رسېدلې. ډوډۍ مو وخوړه خو پر چا هم ښه ونه لګېده، موږ وویل: ((که ټولې ورځې همداسې وي، نو وچ لرګي به راځخه جوړ شي.)) دلته ستونزه دا وه چې په دې نږدې سیمه کې نه بازار و او نه هم چېرته کوم رستورانت، نو په همدې خوړنځي کې چې څه پیداکېدل،




مجبور وو همدا به مو خوړل. تر ډوډۍ وروسته ښاغلي عبدالله ټولو ته یو اعلان واوروه، هغه وویل: ((پوهېږم چې تاسو باندې دا ډوډۍ ښــه ونــه لګېده، دا ځکه چې دا روســي اشــپزانو پخــه کــړې ده، د کنفــرانس منتظمینو موږ ته ویلي چې ستاسو لپاره سر له سبا څخه افغاني اشپزان راولم، څه شی چې تاسې غواړئ، ستاسو په طبع شیان به درته پخوي.)) دې اعلان سره نو ټبرته د ټولو په تندي کې راحت څرګند شو، دې وخت کې لایق صیب او ځینو نورو پخوانیو ((ملګرو)) سره یوه نیمه ټوکه هم چا وکړه،مانا دا چې په ډیموکراســۍ کــې د روســانو دا حــال دی، پــه کمونیستۍ کې به څنګه و؟ په همدې ټوکو ټوکو کې له خوړنځي څخه را بهر شو.

# لومړی ماښام لومړنۍ ناسته

کله چې د ماښام ډوډۍ څخه خلاص شو، نو اعــلان وشــو، چــې د کنفرانس په اړه یوه تعارفي غونډه ده، په دې غونډه کې به د دواړو غاړو نظرونه تبادله کېږي او د کنفرانس په اړه به ضروري او لومړني معلومات وړاندې کېږي. د همدې مېلمستون په یوه ودانۍ کې یوه تالار ته وبلــل شو، چې نږدې سل کسان په کې ځایېدل، تالار د نورو معمولي تالارونو په څېر مخنۍ برخه کې یو ستېج درلود، نن ماښام په کې یوازې یو اوږد


واسیلویچ کروپنوف او د هغه افغان ژباړن شاه محمود نېک د توضیحاتو پرمهال

مېز او یوڅو څوکۍ ایښي وو، چې زموږ کوربه ښاغلی (کروپنوف) د هغه افغان ژباړن ښاغلی (شاه محمود نېک) او یو تن بــل همکــار یــې هــم ترڅنګ ناست وو.

په پیل کې د روسیې د نفوس پوهنې، مهــاجرتونو او ســیمه ییــزې پرمختیا د انستیتیوت رییس، د کنفرانس بلونکي او کوربه ښاغلي یوري واسیلویچ کروپنوف، مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه، ویې ویل: ((خوشاله یم، زموږ پلرني هېواد ته راغلي یاست.)) تر ښه راغلاست وروسته یــې

وویل: [غواړم تاسو ته خپل پروګرام وړاندې کړم؛ د مې (۱۴) مه زموږ د کنفرانس یا جرګې اساسي ورځ ده، د مسکو ښار په مرکز کې د یوه ګرد مېز تر شا راټولېږو، ټاکل شوې ده پر همدې ورځ د افغانستان د جمهور رییس مرستیال ښاغلي کریم خلیلي په مشرۍ د افغانستان یو لوړ رتبه هئیت او همدارنګه د روسیې د حکومت په استازۍ یو هئیت په غونډه کې ګډون وکړي، هدف مو دا دی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ مستقیماً خبرې پیل شي، هیله ده روسیې او افغانستان ته لـه یـو بـل سـره د همکارۍ مستقیمه زمینه برابره شي. تاسو ته پته ده چې زموږ پر روابطو سخت شرایط تېر شوي دي، په روسیه کې ځینې خلک فکر کوي چـې څه پر سر مو درد دی چې بېرته د افغانستان ساحې ته ورداخل شو، زما په نظر دا سم فکر نه دی، د دې لپاره چې خلک معتقد کړو، باید یو بل سره رابطه ولرو او د دوستۍ لاسونه سره ورکړو.

زما نوم یوري کروپنوف دی، د سیمه ییزې پرمختیـا، دېمـوګرافۍ او مهاجرتونو د چارو څېړونکی یم. زه مخکـې افغانسـتان تـه تللـی وم، افغانستان ته زما د سفر رپوټ په انګلیسي، روسي، پښـتو او دري ژبـو چاپ شوی دی. موږ اوس دا کنفرانس جـوړوو، هیلـه ده چـې بریـالی کنفرانس وي. د مې (۱۴) مه زموږ د کنفرانس مهمه ورځ ده، سبا اسانه ورځ ده، تاسې ستړي شوي یاست، موږ غواړو تاسې د روسیې له ځینو برخو سره اشنا شئ، د روسیې د فضایي څېړنو مرکز وګـورئ، لـومړی انسان چې فضا ته یې الوتنه وکړه، هغه روسی و، دا څېړنه او الوتنه پـه هغه ځای کې ترسره شوه چې سبا به یې تاسې وګورئ، وروسـته بـه د افغانستان لوی سفارت ته لاړ شئ، هلته تاسو ته یو دعوت برابر شـوی دی. د افغانستان سفیر موږ ته وویل: ((داسې لوړ رتبه هئیت نـه شـي

کېدی یوازې خپل مصروفیتونه ولري، موږ غواړو دوی خپل سفارت تــه دعوت کړو.)) نو په دې خاطر سبا ماښام سفارت ته دعوت یاست، خو د ورځې په اوږدو کې موږ غواړو تاسو لــه مســکو ســره اشــنا شــئ، تــر




مېلمستیا وروسته هم موږ غواړو تاسې د مسکو ځینې سیمې وګورئ، مسکو زما ډېر خوښېږي، هیله ده ستاسې هم خوښ شي! هم د ورځې له خوا مسکو وګورئ او هم په شپه کې.] کروپېنوف زیاته کړه: ((بل سبا د روسیې پارلمان ته ځو، په روسیه کې هم پارلمان دوه برخې لري؛ مشرانو جرګه او ولسي جرګه، موږ ته مشرانو او ولسي جرګې دواړو بلنه راکړې، خو موږ ګورو چې کومه یوه موږ ته په زړه پورې ده. تر غرمې وروسته د روسیې د مخدره موادو د کنټرول ادارې ته ځو او هلته په غونــډه کــې ګډون کوو.)) کروپېنوف وویل: ((د پروګرام جوړونې په پیل کې موږ فکر کاوه، چې د مخدره موادو د کنټرول ادارې سره د ملاقات اړتیا نه شته، خو وروسته ځینو مسکو مېشتو افغانانو او همدارنګــه ځینــو مېلمنــو افغانانو موږ ته په ډاګه کړه چې د مخدره موادو مسئله یوازې د افغانانو مسئله نه ده، بلکې دا د دواړو هېوادونو مشترکه مسئله ده. وروســته

موږ له (ویکتر ایوانوف) سره چې د مخدره مــوادو د کنتــرول د ادارې رییس دی، دا مسئله شریکه کړه، هغه نه یوازې موافقه وکړه، بلکې ښه پروګرام یې جوړ کړ.

موږ به نه یوازې له هغه سره ملاقات کوو، بلکــې د مخــدره توکــو د کنترول ادارې له غړو سره به غونډه هم کوو. دا یوه کاري جلسه ده ټول په دې نظر وو، چې موږ باید یو بل ته مخامخ خپل نظریات وړاندې کړو او کولای شو یو بل ته ګټور نظرونه ورکړو. که د چهارشنبې ماښام موږ هر څومره ستړي هم شو، پنجشنبه خپله غونډه کوو. زمــوږ غونــډه کــې مشکل دا دی چې د غونډې د برخوالو شمېر زیــات دی او هــر څــوک غواړي په دې غونډه کې ګډون وکړي. ما په کابل کې داسې فکر نه کاوه چې د افغانستان او روسیې د دوستۍ مسئله دومره مهمه ده، خــو دې مسئلې سره اوس دلته زیات مینه وال شته او فکر کوي چې اوس نوې زمانه ده او د نویو مناسباتو وخت دی، تېرې ناخوالې باید هېرې کړو او وړاندې وګورو. زموږ غونډه پر (۱۱) بجو پیلېږي، دوه ساعته دوام کوي. تر غرمې وروسته په سېکشنونو (څانګو) کې کار پیلېــږي. اقتصــادي، کلتوري او امنیتي مسایل د دې غونډې عمومي او غټ بحثونه دي، زما مقصد دادی، چې تاسې یو عمومي مقصد ولرئ، پر دې باندې فکر وکړئ چې په کومو سېکشنونو کې برخه واخلئ، ډېر د افسوس ځای دی چې (جمهور ریس) هوټل کې ځای کم دی. هلته یوازې (۱۵۰) کسانو ته ځای شته، له دې امله موږ زیاتو مینوالو ته وایو چې ځای نه شته، دا د لوړې کچې یوه غونډه ده، د دواړو هئیتونو لوړ پوړي چارواکي په کــې ونــډه لري. موږ او تاسې به اساسي مسایل څېړو، دلته یو لوی ګردی مېز دی، د هئیت غړي به د دې مېز تر شا کېني.

د افغانستان استازي، د روسیې استازي او همدارنګه په روسیه کې د اوسېدونکو افغانانو یوه ډله به هم وي. د جوړښت کار په مورږ او تاسې پورې اړه لري، خو فکر کوم په مسکو کې اکثریت افغانان د لوړو زده کړو خاوندان دي، دوی په روسیه کې ژوند کوي، خو له افغانستان سره هم اړیکي لري، نو ځکه باید په دې غونډه کې ګډون ولري. دا د دې غونډې د جوړوونکو یو نظر دی، خو کېدی شي ځینې نور له دې نظر سره موافقه ونه لري، خو زه حاضر یم له هغو سره دا مسئله وڅېړم، مورږ به دویمه غونډه په افغانستان کې جوړه کړو او ټولو سره به خپلې خبرې جاري وساتو. زه په دې نظر یم چې زمورږ او ستاسې د غونډې په پای کې یوه اعلامیه خپره کړو خو دا د روسیې نظر نه دی، کېدی شي دلته پرې بحث وکړو، فکر کوم زمورږ غونډه باید یوه نتیجه ولري. سبا ماښام باید مورږ یوه اعلامیه جوړه کړو، د یوې مسودې بڼه به ولري، مورږ او تاسې کولای شو په ګډه همکارۍ دا اعلامیه جوړه او خپل نظرونه په کې داخل کړو. د اعلامیې او غونډې اساسي هدف دادی، چې مورږ او تاسې باید یو له بل سره په اقتصادي او کلتوري برخو کې همکاري وکړو. زما وظیفه دا ده، د سترو روسي کمپنیو توجه راجلب کړم، چې هغوی د اقتصادي همکارۍ له لارې افغانستان سره اشنا شي او ورته وښیم، چې په کومه برخه کې همکاري کولای شي.

د مې (۱۵) د جمعې ورځ هم مهمه ورځ ده، خو زمورږ او ستاسې کار به دوام لري، د سهار له خوا به د تشبثاتو په اړه غونډه وي، په دې غونډه کې به د روسیې او افغانستان متشبثین له مشخصو پروژو سره اشنا شي او په دې اړه به بحث وکړي. د جمعې ورځ په دویمه برخه کې به د روسیې مسلمانانو له یو شمېر استازو او روحانیونو سره ملاقات وکړئ،

**په روسیه کې د شنبې او یکشنبې ورځ رخصتي ده، نو ځکه موږ ځینې کارونه جمعې ته را انتقال کړل، موږ هیله لرو چې موږ سم درک کړئ! د شنبې او یکشنبې ورځې ازادې ورځې دي، کارونه دومره نــه شــته، د شنبې ورځ کرېملین ماڼۍ ته ځو، یوه مستحکمه کلا او د روسیې تاریخي ماڼۍ ده، موږ به داسې ځایونو ته لاړ شو، چې هلته هر چاته د تللو اجازه نه شته، په خواشینۍ سره چې د روسیې مفتي د اوونۍ پــه اوږدو کــې ترکیې ته تللی، شنبې ته بېرته راځي، بیا به ورسره ملاقات وکړئ! دا د روسیې لوی مفتي (مفتي اعظم) دی.**

**(حضرت راویل عین الدین) د روسیې د مسلمانو د ټولنې رییس دی، تاسو کولای شئ د روسیې د مسلمانانو په اړه له هغه څخه وپوښتئ. په روسیه کې اکثریت خلک د ارتودوکس مذهب پلویان دي، خــو یــو پــر شپږمه برخه مسلمانان هم دلته ژوند کوي، په روسیه کې له نېکه مرغه د مسلمانانو او ارتودوکسانو ترمنځ کم مشکلات شته، دوی کلونه کلونه**



**سره ګډ ژوند کوي. کولای شئ د روسیې له مسلمانانو پوښتنه وکــړئ، چې هغوی دلته څنګه ژوند کوي؟ روسیې ته ستاسو د هئیت راتګ یوه**

ستره پېښه ده، په تېره بیا مسلمانانو ته! ځکه نــو پــه روســیې کــې د افغانانو ټولنې استازو موږ ته مراجعه وکړه او تاسې ته یې د مېلمســتیا بلنه درکړه، نو هیله ده شنبه یا یکشنبه د هغوی بلنه ومنئ! څرګنــده خبره ده چې مســکو تــه د افغــاني هئیــت پــه راتــګ کــې ښــاغلي (ایلنورباتیرشین) او ښاغلي (بشر) زیاته همکاري وکړه، مــوږ لــه دوی څخه مننه کوو. دا دوه مېلمستیاوې زما په نظــر ډېــرې مهمــې دي. د یکشنبې ورځ ډېره ازاده ورځ ده. کېدی شي ځینــې دوســتان کارونــه ولري، خو موږ غواړو (سرګې پساد) ښار ته چې (اویا کیلو متره) له دې ځایه لرې دی، تاسې ته دولتي دعوت درکړو. شــپږ اووه کالــه مخکــې روسیه په سخت حالت کې وه، حتی د پاتې کېدو تصور یې هم مشکل و. ((سرګې پساد)) ته ټول معنویت نقل شو، دا یو معنوي شخص و، موږ پر دې باور لرو چې دا تاسې ته په زړه پوری دی. د مې اتلســمه وروســتۍ کاري ورځ ده، دوشنبه ازاده ورځ ده، کولای شئ خپل ځان او دوستانو ته تحفې او سوغاتونه واخلئ، موږ همدارنګه وړاندیز کوو، چې افغــاني هئیت زموږ د لوړو زده کړو هغه زده کــوونکي چــې پښــتو او دري زده کوي، له هغوی سره هم ملاقات وکړي، پښتو زده کوونکي کم دي، خــو موږ هیله لرو چې ډېر زده کوونکي پښتو زده کړي، پښتو د افغانســتان دولتي او ملي ژبه ده. زموږ پر غاړه یو ستر مسولیت پروت دی، موږ پــه دې نظر یو چې مستقیماً یو بل سره روابط ټینګ کړو. په روسیه کې یو زیات شمېر خلک د مسایلو ژورتیا ته سم نه متوجه کېږي، خو اوس چې په روسیه کې کوم تمایل شته، اکثریت له افغانستان ســره د دوســتۍ لېوالتیا لري. په پای کې غواړم ووایم چې مشکلات شته، خــو بایــد ژړ سټړي نه شو، موږ باید له خپلې خوا ووایو مشکل باید پــه ښــه وجــه

اصلاح او حل کړو. ما مخکې هم وويل، چې زيات خلک غواړي پــه دې غونډه کې اشتراک وکړي او دا د دې ښکارندويي کــوي، چــې خلــک همکارۍ ته تږي دي. ډېر وخت کېږي چې داسې غونــډه نــه ده جــوړه شوې، ما تاسې ته ځينې غټ مسايل وړاندې کړل، که بيا هم تاسې تــه څه ابهامات پاتې وي، تاسو کولای شئ خپل نظريات وړاندې کړئ!))

***

کله چې ښاغلي يوري واسيلويچ کروپنوف خپلــې خبــرې پــای تــه ورسولې، نو افغانانو ته د خبرو نوبت ورسېد، چې خپل نظريات پــه دې باب وړاندې کړي. افغانانو کې معمول دی چې د پيل خبرو کې څه ناڅه بيړه کوي، تر ټولو دمخه ښاغلي احمد سيدي نوبــت واخيســت، هغــه لومړی ځان معرفي کړ: ((احمد سيدي يم د ملګرو ملتو دفتر په سياسي چارو کې کار کوم.)) بيا يې وويل: ((تاسو چې کوم جدول وړاندې کړ، ډېر ښه و، خو د دې ترڅنګ درې وړانديزونه لرم: موږ ته بايد له اپوزېشن ( د روسيې حکومت له اپوزېشن)، دويم رسنيو او درېــيم د پوهنتــون لــه ځوانانو سره ملاقات برابر شي.))

د ښاغلي سيدي د دې څرګندونو په باب کروپنوف څرګنده کړه:

((زموږ د دې غونډې پر وړاندې مخالفين هم شته، په روسيه کــې د اپوزېشن ګوندونه شته، خو قوي نه دي. زه د (واحدې روسيې) واکمــن ګوند غړی نه يم، زه خپله د اپوزېشن غړی يــم، ځکــه چــې دوه کالــه مخکې يې زما ګوند رسمي غړی و. له رسنيو سره پروګرام شته، همدا نن دوو تنو: ښاغلي علي سراج او ښاغلي عبدالغفورلېوال د اپوزېشــن لــه راډيو سره مرکه لرله، محصلانو سره هم ملاقات شته، په تېره بيا د پښتو

او دري ژبو له زده کوونکو سره ملاقات. د هغوی لپاره هم دا یو ښه وخت دی، چې د افغانستان له شخصیتونو سره اشنا شي.))

ورپسې په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازي ښاغلي ببرک شینواري ته نوبت ورسېد، هغه وویل: ((اعلامیه یوه ډېره جدي کلمه ده، که د دې پرځای پرېکړه لیک راشي، ښــه بــه وي، ځکــه مــوږ دلتــه د حکومت استازیتوب نه شو کولای، چې اعلامیه خپره کړو.))

ښاغلي کروپنوف یې په ځواب کې وویل: ((متن به ترتیب کړو، خپل نظر به ورکړو، البته موږ او تاسې به په ګډه دا نظرونه ورسوو.))

ورپسې په ولسي جرګه کې د نیمروز د خلکو استازي ښاغلي خدای نظر سرمچار وخت واخیست، هغه وویل: ((د افغانستان له لوري په دې غونډه کې د جمهور ریــیس مرســتیال ګــډون کــوي، هغــه د دولــت استازیتوب کوي، خبره داده، پر څه شي چې موږ تراوسه بحث نــه دی کړی، نو څنګه به مخکې تر مخکې نتیجه واخلو، مقصد مې دا دی، چې تر بحثونو وروسته باید یو شی جوړ شي او موافقه پرې وکړو.))

ښاغلي کروپنوف د ښاغلي سرمچار د نظر په باب وویل: ((زه تاســې سره موافق یم، کله چې ما وویل سبا د دې یوه مسوده جوړوو، زما هدف دا و چې تاسې یو ټولیز تصور ولرئ، د دې غونډې نوم (جرګه) ږدو، موږ نه غواړو څه شی پر چا ومنو.))

دې پسې په کابل کې د ملګرو ملتو دفتر د سیاسي چارو کارکوونکي ښاغلي محمد زمان امین ته وار ورسېد، هغه وویل: ((کله چې پر ټولــو مسایلو بحث وشي تر هغه وروسته به بیا پرېکړه لیک جوړ کړو.))




د ښاغلي محمدزمان امین د نظر په اړه کروپنوف په څرګند ډول څه ونه ویل، ځکه چې دا نظر وړاندې هم څرګند شوی و،دې پسې ما (یون) ته نوبت ورسېد، ما خپل نظر داسې څرګند کړ: ((له دواړو خواوو دې یو ګډ سکرتریت جوړ شي او ګډ سکرتریت دې د پرېکړه لیک پر متن کار وکړي.))

کروپنوف یې په ځواب کې وویل: ((د روسیې له خوا خو ماته معلومات شته چې څوک دا کار کولای شي، هیله ده د افغانستان له خوا هم څوک رامعرفي کړئ!))

دې پسې ښاغلي سلیمان لایق نوبت واخیست او خپلې خبرې یې داسې پیل کړې: ((د افغانستان د علومو اکاډمی غړی یم، مخکې هم دلته یو کنفرانس جوړ شوی و، دا کنفرانس تر هغه پراخ دی، هر کنفرانس ځانته خپل اهداف لري، موږ تشویش لرو چې موږ به په تخنیکي مسایلو دومره فوکس وکړو، چې د دې کنفرانس لوی




هدفونه به تر سیوري لاندې راولي.

زه د کومې پارټۍ استازی نه یم، موږ فکر کوو، چې روسیه اوس د افغانستان په چارو کې موثر فعالیت نه کوي، موږ غواړو دوی تشویق کړو، چې له خپل شان سره سم د افغانستان په چارو کې مرسته وکړي. افغانستان اوس ټولې بشري نړۍ ته یو پرابلم دی، لوی هېوادونه مسوولیت لري، چې له دې مشکل سره مسوولانه چلند وکړي، سره له دې چې جهان یو قطبي شوی، خو بیا هم روسیه تر امریکا وروسته دویم مقام لري. روسیه او افغانستان دواړه په دې پرابلم کې ډوب شوي دي. تخنیکي مسایلو باندې دې ډېرې خبرې ونه شي، مطبوعاتو ته باید ډېر رول ورکړای شي چې دا موضوعات پراخ کړي.))

د ښاغلي سلیمان لایق د خبرو په اړه کروپنوف وویل:

((اجازه راکړئ چې زه خپل اعتراض څرګند کړم، ما نه غوښتل چې د چا خبرې رد کړم، روسیه د شلمې پېړۍ په بهیر کې له لوی بحران سره مخامخ شوه، دوه ملیونه خلک یې د لوږې او داخلي مشکلاتو او اووه

ویشت ملیونه خلک یې په نړیوال جنګ کې ووژل شول، روسیه پر دې پوهېږي چې جګړه او ناتار څه مشکلات لري، نو هوښیار روسان دغه ټول نظریات اوس په خپل ځان کې لټوي.

زموږ غونډه ځکه ډېره مهمه ده، چې په دې غونډه کې پوه افغانان ګډون کوي، هیله لرو چې له روسیې څخه هم پوه کسان ګډون وکړي، زما شخصي دریځ دادی، چې افغانستان باید ځان قرباني ونه ګڼي، باید یو پیاوړی قوي مرکزي دولت جوړ شي، موږ او تاسې باید په ګډه یو بل سره همکاري وکړو، نور څوک له بهر څخه ممانعت نه شي پېښولای.))

دې پسې د کابل پوهنتون استاد ښاغلي نسیم ګل توتاخېل نوبت واخیست، هغه وویل: ((زه دا د ډېر قدر وړ بولم، چې افغانان او روسان یو بل سره د همکارۍ په باب خبرې کوي، زه وړاندیز کوم، که د اوسنیو کمېټو ترڅنګ (سیاسي کمېټه) هم په کې زیاته شي ښه به وي.))

کروپنوف: ((زه مخالفت نه لرم، خو په دقیقه توګه باید پوه شو چې څوک په دې کمېټه کې کار وکړي، زموږ او زموږ د رسنیو دریځ دا دی، چې اقتصادي او کلتوري مسایل باید زیات اهمیت ولري، زموږ سوداګر امنیتي مشکلات پلمه کوي، زما په نظر هغه خلک چې کار نه کوي له سیاست څخه د یوې پلمې په توګه کار اخلي.))

تر دې خبرو وروسته د افغانستان په ولسي جرګه کې د بشري منابعو رییس ښاغلي  شاه سلطان عاکفي صیب خپل نظر په دې ډول څرګند کړ:

((دا کار پر وخت او ښه کار دی. دا راپور که تیار وي، ټولو ته دې ورکړای شي، چې ویې لولي او د پنجشنبې ورځې غونډې ته له پوره تیارۍ سره لاړ شي.))

کروپنوف: ((ډېره مننه! تاسې ډېر ستړي شوي یاست، ښاغلي لایق په خبرو کې وویل چې پر ډېرو تخنیکي مسایلو توجه د کنفرانس محتوا ته زیان رسولای شي، د کنفرانس هدف تاسې ته وایم، موږ ډېرې هلې ځلې وکړې چې دې حالت ته ورسېدو، موږ کولای شول له دې ځواک څخه په




نورو برخو کې کار واخلو، زه فکر کوم د افغانستان سوکالي د روسیې لپاره ضروري ده. زه له سیاست سره ځانګړې علاقه لرم، کتابونه مې لیکلي دي. په جهان کې دوه نقطې د روسیې خلک سره پیوندوي: یوه د لرې ختیځ سیمه ده، ډېر خلک په کې ژوند کوي، ساحه یې ډېره زیاته ده، دلته ټول مسایل په روسیې پورې تړلي دي. دویمه مرکزي اسیا هغه سیمه ده چې موږ نه شو کولای په یوازې ځان مسایل حل کړو. موږ باید له ټولو ګاونډیو سره کار وکړو چې افغانستان کې ثبات رامنځته شي. زه په افغانستان کې له غمیزو ځورېږم، خو دا هم څرګنده ده چې زه د خپل هېواد د ګټو په فکر کې یم. زما د جیوپو لیتیک فورمول دادی چې: که افغانستان سره زموږ دوستي وه، نو په منځنۍ اسیا کې سوله ټینګېدی

**شي. له هرې لارې او هر علته چې وي روسیه باید د یوه واحد افغانستان ملاتړ وکړي، یو قوم باید د بل پرضد ونه کاروي، همدارنګه زه په دې نظر یم چې افغانستان ته باید د یو خوار ځواکه ماشوم په توګه ونه کتل شي، درناوی یې وشي، افغانستان باید د یوه اتل هېواد په توګه د تېر په شان څرګند شي.))**

**همدې خبرو سره غونډه پر سیمه ییز وخت (۹) بجې او د افغانستان پر وخت (۹) نیمې بجې پای ته ورسېده.**

# په مېلمستون کې لومړۍ شپه

کله چې د افغانستان پر مهال نهه نیمې بجې له غونډې رابهر شو بیا نو د لیکوالو خپلمنځي خبرې او تبصرې چې هغه هم د ښځو تـر هغــو اوږدو خبرو لنډې نه وي، پیل شوې. د ښځو د خدای پامانۍ خبرې تــر هغه اصلي مجلسه هم اوږدې وي. د مېلمستون په انګړ کې ښه او پاکه هوا وه، ورو ورو پلي ګرځېدلو او ګپ شپ مو هم لګاوه او ټوکې ټکالې مو کولې. ټوکې ټکالې ځینې د چوکاټ په داخل کې وې او ځینې په چوکاټ موکاټ کې نه ځایېدې، ګپ شپ، ټوکې ټکالې، چوکاټ موکاټ، چــای مای، په دې کلمو کې دا دویمه برخه کومه مستقله مانا نــه لــري، پــه اصطلاح ناخپلواک مورفیمونه دي، خو د لومړۍ کلمې مانا او اهنګ ته ګټه رسوي او د وینګ پر وخت د سړي خوله پرې ډکېږي.

په لغمان کې یو چا کوم چا ته ست کړی و چې راځه چای مای راسره وڅښه، هغه ورته ویلي وو: ((چای خو چای دی دا (مای) یې نو څه شی دی؟)) هغه بل ورته په ځواب کې ویلي وو چې: (( (مای) یې (توره ګوړه) ده)) یو وخت په پوهنتون کې یو محصل د ژبپوهنې له استاد څخه همدا پوښتنه وکړه دا دویمه کلمه چې د لومړۍ ترڅنګ راځي دا خو هېڅ مانا نه لري، نو د څه لپاره راځي؟ استاد ورته وویل: ((دا یــوازې د اهنــګ د بشپړاوي، کله کله هم د مانا د تعمیم او کله کله د خوږلنۍ پــه خــاطر راځي او هغه کلمې چې پیل یې په میم شروع کېږي، هغه بیا دا حالت نه لري او که لري یې هم نو بیا په میم نه پیلېږي، نورې اکثره دا ډول کلمې

چې وروستی یې ورپسې غبرګېږي، دویمه کلمه یې ضرور په میم پیلېږي، لکه کباب مباب، قلم ملم، سړی مړی، زرګر مرګر، پنېر منېر، خو هغه کلمه چې په میم پیل شي بیا دا غبرګیز حالت نه لري، مېز، ملا، مېړی، میرزا او داسې نور.))

دلته هم ځینې ټوکې (چوکاټي) وې او ځینې نورې (موکاټي). د مېلمستون په بېلابېلو ځایونو کې وګرځېدو، دا داسې یو استراحتځی و، چې نه ورته نږدې کوم دکان و او نه هم مارکېټ او بازار، داسې لکه د




سیاسي بندیانو لپاره چې وي او یا هم د هغو معتبرو خلکو لپاره چې د ښار له ګڼې ګوڼې سترې شوي وي او دلته د ارام لپاره راځي. زموږ د اکثرو ملګرو خو دا هیله وه چې مسکو د چکرځای دی، موږ ته به داسې یوه هوټل کې ځای ونیسي چې هم د ښار په منځ کې وي، هم په کې موسیقي وي او هم زموږ پښې ازادې وي، چې چېرته ځو او چېرته نه ځو. روسانو به فکر کړی وي، چې راځه دا درانه او معتبره خلک دي، نو تر

ښاره لرې په یوه ارام ځای کې ورته ځای ونیسه. د نظــر او غوښــتنې د دغسې واټن په پای کې دغه ځای زموږ په برخه شو. البته په نننۍ غونډه کې چې د پروګرام پر کوم مهالوېش بحث وشو، د سیل او چکر لپاره هم په کې یو څه وخت شته، خو هغه هم ډېر تنګ دی نور نو ســر پــه ســر میټنګونه او غونډې دي.

تر یو څه ځنډ وروسته چې د مېلمستون اکثره برخې مو ګــز و ګــام کړې، نو له مسکو مېشتو افغان ملګرو څخه یو تن وویل: ((ساعت مو د مسکو په ټایم کړئ چې کارونه مواسانه شــي او تفــاوت لــه منځــه لاړ شي.)) په مسکو کې د یوې راډیو خبریاله هم سبا راتلله، له هغې سره مې وخت فکس کړی و ( د ورځې درې نیمې بجې) دا پروګرام ژونــدی پروګرام و. انډیوالانو وویل: ((هسې نه چې د افغانستان او مسکو په ټایم کې درڅخه وخت غلط شي.)) پرمحلي وخت د ساعت عیارول هم راته د پخوا په شان اسانه نه ښکارېده او دا مې هم د افغاني کلتور یوه برخــه ګڼله. ډېر وختونه چې پاکستان په تېره بیا پــه کــوزه پښــتونخوا کــې اوسېدم، نو هېڅکله مې ساعت د هغه ځای پر ټایم برابر نه کړ، دې کار هلته ماته ډېر مشکلات را پیداکړل، د وخت دې واټن راڅخــه ځینــې کارونه خراب کړل، کله چې به په لاره کې چا ویل ساعت څو بجې دی؟ نو بیا به مې هم خپل ساعت ته کتل او هم به مې د وخت تــوپیر تــرې ایسته، دوه درې دقیقې وخت به یې غوښته، پــر دې وخــت بــه هغــه پوښتونکی حیران شو چې دی پر ساعت نه پوهېږي که څنګه؟ کله کله به مې چورلټ ځواب ورکړ چې ساعت مې خراب دی؟ زموږ یو بل ملګری و، لس کاله یې په ایران کې تېر کړل، خو هېڅکله یې ساعت د ایران پر ټایم برابر نه کړ. موږ افغانان په تېره بیا پښتانه روښنفکران هر وخت له

وخت او زمان سره په ډغره کې یو، داسې یوشي سره چې هېڅوخت یې د مقابلې توان نه وي، له همغه سره مقابله کوو، دا هم زمونږ د سرزورۍ یوه نښه ده. یو شاعر وایي:

مــوږه لــېونو د زمــانې ګرېوان نیولی دی
خلک هوښیاران دي له وختونو سره ځي

خو اوس ما شخصاً د زمانې د مقابلې دا تجربه پرې ایښــې ده، اوس چې زه کله په بهرني سفر ځم، نو خپل ساعت د همغه ځــای پــر ټــایم عیاروم او د خپل هېواد وخت هم په ذهن کې ساتم. کله چې مسکو ته لاړم، نو ساعت مې هم د مسکو پر ټایم برابر کړ. د شپې تر دولسو بجــو پورې په همدې مېلمستون کې وګرځېدلو، نو کله چې ښه ستړی شوم، له نورو ملګرو مې اجازه واخیسته، خپلې خونې ته راغلم، خو تر ویــده کېدو دمخه مې د مېز پر سر د لمانځه د وختونو او نورو پروګرامونو لپاره ترتیب شوی او ایښودل شوی مهالوېش وکوت، بیا مې د عمومي غونډې لپاره د خپلې وینا پر اساسي کرښو کار وکړ، د شپې یوه بجه وه چــې د خوب مرغیو مې پر سترګو خپل وزرونه وغوړول.

# د کنفرانس یا جرګې لومړۍ ورځ

د مې (۱۲) مه نېټه د سې شنبې ورځ وه، په مسکو کې زموږ لـومړۍ شپه تېره شوه او لومړی سهار پیل شو. سهار وخته له خوبــه پاڅېــدم، تشناب کې مې اوبه پرڅان تېرې کړې، تشناب یې ښه لوکس و، خو اوبه یې چندان ګرمې نه وې؛ د یخوالي له امله پر سړي بدې لګېـدې، خـو چاره نه وه، تر تشناب وروسته مې د مېز پر سر له ایښودل شوي ټاکلي مهالوېش سره سم چې د قبلې نښه هم په کې وه، جاینماز اوار او لمونځ




ادا کړ، تر هغه وروسته مې په خونه کې لږ څه سپورت وکړ، سپورت ښه ستړی کړم، لږ وروسته مې په چپرکټ کې لږه دمه وکړه، خپل یادښتونه

مې منظم کړل، دریشي مې وکړه او بیا د سهار چای په نیت له خونې بهر شوم.

پنځه لس کم نهه بجې چای تیار و، چای مو وڅښه، مناسب چای و، نهه بجې له طعام خورۍ څخه راووتو، بیا د مېلمستون په



د لیفکووا مېلمستون یوه برخه

بېلابېلو برخو کې وګرځېدو، ټولو اندیوالانو سره مو بیا ګپ شپ ولګاوه، د ولسي جرګې غړی ښاغلی سیداسحق ګیلاني هم نوی رارسېدلی و، هغه هم له افغاني هئیت سره ملګری شو، لس بجې د حاضرۍ له مخې موټر ته پورته شو. (الکساندر) روسی چې پښتو یې ښه زده وه د ټولو نومونه اخیستل. لس بجې او پنځه لس دقیقې له مېلمستونه رابهر شو.

# د فضايي څېړنو مرکز

د مې (۱۲) مه نېټه د سه شنبې ورځ وه. د نن ورځې په کاري پلان کې د روسيې د فضايي څېړنو د مرکز ليدنه شامله وه. دا مرکز د نړۍ تر ټولو لوی، پرمختللی او لومړنی فضايي مرکز دی. کله چې له مېلمستونه بهر شو، نو د ځنګله په منځ کې پر غځېدلي سړک برابر شو، هوا ډېره پاکه او صافه وه، باران شوی و، ونې او بوټي يې پاک وينځلي وو، مسکو زياتره په ونو کې پټ دی، ودانۍ يې اکثره په ونو کې پټې دي، مسکو سره لـه دې چې ډېر ښايسته دی، خو سړکونه يې هغـومره منظم نه دي، لکه د اروپا او امريکا په شان، خو تر هندوســتانه ښــکلي او منظم دي، موږ په يو لوی (۳۰۲) ته ورته موټر کــې سواره وو، توريستي موټر و، ترمخه او شــاته مــو د ترافيکي پوليسو ګــاډي روان وو، چې موږ ته لاره صافه کړي. په مسکو کې هم د ترافيکو ګڼه ګونـه زياته وي. زموږ مخــې او




د روسيې د فضايي څېړنو يادګاري څلی

شاته ترافیکي پولیسو خپلې اشارې لګولې وې او د اړتیا پر وخت یې غږیزې اشارې هم لګولې، پر سړک د بېلابېلو هېوادونو ساخت موټر لیدل کېدل، د هندوستان په شان نه وو چې یوازې په کې هندي ساخت موټر ښکاري.

شل کم لس بجې د فضایي څېړنو د مرکز پارکېنګ ته ورسېدو. دا د فضایي الوتنو د کنټرول او ثبت مرکز دی، د مرکز مخې ته د روسیې، جاپان، امریکا، اروپایي اتحادیې او ځینو نورو هېوادونو بیرغونه رپېدل. شل دقیقې تر یوولسو تېرې وې چې تر یوې سختې تلاشۍ او چک وروسته ودانۍ ته وردننه شو. دا ودانۍ پر (۱۹۶۱م) کال جوړه شوې وه، خو ډېره درنه، وزمینه او ښکلې ودانۍ وه، چې ښکلا یې سړی ځان ته راکاږه. لومړی په ریسپشن (هرکلي) کې موږ ته هر کلی وویل شو، بیا د دویم پوړ له لارې د مرکز هغه هال ته بوتلل شو، چې د سینما د تالار په شان جوړ شوی و، موږ یې په پاس پوړ کې کېنولو. (الکساندره انوسوا) د دې مرکز مرستیالې په پیل کې موږ ته هر کلی ووایه، دې وویل: ((زه غواړم د دې مرکز په باب تاسې ته معلومات درکړم. شوروي متخصصین له افغانانو سره د کار تجربه لري، عبدالاحد مومند زموږ په مرسته فضا ته تللی و، هیله ده دا همکاري نوره هم زیاته شي، زه تاسې تالار ته دعوتوم، په فضا کې یوازینی نړیوال فضایي ستېشن له همدې ځایه کنټرولېږي.)) له دوو تالارونو څخه یوه ته لاړو. انوسوا وویل: ((مخکې تر دې چې د نړیوال مرکز په باب خبرې وکړم، غواړم د دې مرکز په باب وغږېږم، دا مرکز د (۱۹۶۰م) کال د اکتوبر پر (۳) مه نېټه تاسیس شوی دی، دا په پیل کې یو وړوکی مرکز و، خو په دې (۴۹) کلونو کې پر یو لوی مرکز بدل شوی دی. اوس پر یوه وخت (۳۰) فضایي ستېشنونه

کنټرولولای شي. په (۲۴) ساعتونو کې تر (يو زر) زيات کسان په کې کار کوي. زموږ مصنوعي سپوږمکۍ او توغندي مهم وظايف ترســره کــوي، نړيوال فضايي ستېشنونه دا ډول سپوږمۍ کنټرولوي، زموږ د ســوق او اداري مرکز سوله ييز ماهيت لري، له نظامي موخو څخه لرې يو، په فضا کې د الوتنې سوق او اداره ډېر مشکلات لــري، شــپاړس (۱۶) بېلابېــل هېوادونه زموږ په دې ستېشن کې ګډون لري، امريکا، جاپان، کاناډا او ځينې نور اروپايي هېوادونه، د نړيوال فضايي اژانس غــړي دي. خــو دا نړيوال ستېشن له دوو مرکزونو له همدې (کرومــون) او د امريکــا لــه فضايي ستېشن (ناسا) څخه اداره کېږي. موږ وياړو چــې د (۱۴۱) غــړو هېوادونو دا مرکز د (M.K.S) په نامه يادېږي او دا اساسي مرکز دی، موږ کولای شو دا نور هم پراخ او مهم پرابلمونه حل کړو. مهم سيستم دادی چې د فضانوردانو د ژوندي ساتلو لپاره کــار کــوي، دا روســي ســاخت سيستم دی، مخکې د (مير) په نامه د روسيې يو ستېشــن و، د همغــه ستېشن له ټکنالوژۍ څخه ګټه اخيستل شوې ده. پر همغه وخــت يــو افغان کيهانګرځي فضا ته الوتنه کړې وه، له همغه وخته دا فعاليت پيل شو، په تېرو (۱۵) کلونو کې د (مير) نړيــوال ستېشــن دېــرش(۳۰) زره عمليات اجرا کړي دي، زموږ اساسي وظيفه دا ده، چې په ستېشنونو کې د انسانانو د ژوندي ساتلو لپاره کار وکړو. په (مير) ستېشــن کــې هــم ورڅخه کار اخلو. بيا هم غواړم تکرار کړم، ويــاړ کــوم چــې د روســيي شخصيتونو په مرسته انسان کولای شي، په ډاډ او امنيت سره په فضــا کې کار وکړي، دغه ستېشن اوس د يوه مطمئن لابراتوار حيثيت غــوره کــــړی دی. د دې کيهــــاني ستېشــــن پــــه شــــتوالي، پــــه




د روسي او امریکايي فضايي توغنديو بېلګې

کیمیا، فزیک او بیولوژي کې پرمختګونه رامنځته شوي، په فضا کې وزن نه شته، په دې ستېشن کې د (۱۹) هېوادونو یو نړیوال ګروپ کار کوي، قومندان یې یو روسی دی. له امریکا څخه (بـودیز) لـه جاپـان څخـه (دااوکتاباکس) دلته کار کوي. (۵۹) دقیقې وروسته له فضایي ستېشن

سره تماس ټینګېدی شي، دا وخت غواړي، خو اوس موږ تاسو ته یو فلم ښیو.)) څو دقیقې وروسته یې یو فلم وښود، رښتینی عکــس و، د دې ستېشن وزن (۳۰۰) ټنه دی. (۱۸۰/۱۱۰) متره یې سور دی، له (بایکانور) کیهاني ډګر څخه د الوتنې لپاره تیاری نیول کېږي، دوه توغندي توغول کېږي، په منځ کې کیهانګرځي هواتــه ځــي، دا یــوه عنعنــه ده، چــې کیهانګرځي تر الوتنې دمخه خپل یولاسلیک کوي، (چارســیمون) یــو توریست دی، چې فضا ته ځي، هغه وویل: زه یــو تورســت نــه یــم، زه یوګډونوال یم، چارسیمون اصلاً یو هنګری دی، خو امریکا کې کار کوي، دوه ځله یې فضا ته الوتنه کړې ده، (انــاتولي پیرینــوف) د روســیې د فضايي څېړنو د مرکز رییس دی. چارسیمون پر (۲۰۰۷م) کال حیران و چې په لومړۍ الوتنه کې د (کــارلیوف) د ســوق او اداري د مرکــز لــه کمپیوټري وسایلو څخه څنګه ګټه اخلي. زموږ اجناس ډېر ښه دي، ټوله دنیا یې اخلي، کمپیوټري ویروس یې نه خرابوي، د کمپیــوټري شــبکو مدافعوي سیستم یې په ښه ډول اجراات کوي، څو مخصوصې شــبکې لرو، په یوه ثانیه کې په فضا کې (۴۰۰۰) کیلو متره اداره کوي، په فضا کې د بېرته ګرځولو پروګرام ډېر سخت دی، دې ته خلک ډېر خوشــالېږي، دلته ډېر متخصصین او سیاسي خلک ګډون کوي، تاسې باید پوه شــئ چې هر ستېشن او کیهانګرځی په یوه ثانیه کې اته کیلو متره حرکــت کوي. نن شپه د مسکو پر وخت یو روسی بې پیلوټه توغندی فضا نوردانو ته غذا رسوي، د شپې پر (۱۱) بجو به د (پروګــرس) پــه نامــه نړیــوال ستېشن سره وصل شي.




دا توغندي په متواتر ډول په دوو درېو مياشتو کې يو ځل هغه ستېشن ته غذا رسوي: اوبه، غذايي مواد او نور اضافي تجهيزات او د سون مواد چې نږدې يو نيم ټن وزن لري، هلته انتقالوي، ستېشن بايد لږ څه پورته شي، ارتفاع يې معينه ده، کله چې راکښته کېږي، شعاع يې سړي تـه زيان رسوي لږ تر لږه او ډېر تر ډېره ارتفاع يې (٣٦٨، ٣۴۵) کيلو متره ده. هغه څېړنې چې په فضا کې ترسره کېږي، ډېرې مهمې دي، زموږ د

ځمکې اوسېدونکو ته ډېره ګټه لري. د فضانوردانو کار د (ګرینویچ) پــر وخت پر (۷) بجو پیلېږي، د دې مرکز متخصصین (۲۴) ساعته کار کوي، په دې مرکز کې ژوند او فعالیت د یــوه نظــم تــابع دی. (۴۵) دقیقــې وروسته منظم تماس ټینګېږي. د سوق او ادارې متخصصین د دې امکان پیداکوي، چې په خپلو خونو کې د کار لپاره تیاری ونیسي، موږ کــولای شو انلاین اداره وکړو، له فضا څخه ځمکې ته زېګنال کــوډوو، پــه دوو ثانیو کې یې کوډ خلاصوو، دا کار دا څرګندوي چې دا د سوق او ادارې لپاره ډېر ښه وخت دی. پیلوټان په اسانۍ سره کولای شي د دې مرکز د متخصصینو له تجربو څخه ګټه واخلي. دا پروګرام ډېر په زړه پورې دی، کله چې له نوې ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل کېږي، ځینــې ازمــوینې ترسره کېږي چې د ځمکې په شرایطو کې ممکنې نه دي. کله خو ځینې فلزات په نورو ځایونو کې نور خصوصیات لري، همدارنګه مــوږ یــو لــړ مصنوعي سپوږمکۍ لرو چې په بېلابېلو ډولونو کارونه کوي، نه یوازې د روسیې، بلکې د نړۍ په کچه کار کوي، له ځمکې څخه په یــوه ټــاکلې اندازه لوړوالي کار کوي، د ژوند څارنه کوي، ایکولوژیکه څارنــه کــوي، جیوفزیکه او نوره. یانې زموږ مصنوعي سپوږمکۍ له فضا څخه داســې سم ځواب راکولای شي چې د ځمکې پرمخ دا نباتات څه شی دي؟ غنم دي؟ څه دي؟ د (ریسروس) په نامه مصنوعي سپوږمکۍ کولای شــي د خپلو ګرمو شعاعو په واسطه د ځمکې پرمخ نفت و ګاز، د ځمکــې نــور مشکلات او خواص وڅېړي. ان کولای شو له فضا څخه وګورو چې پــه اوبو کې کبان چېرته حرکت کوي. د کب نیونکو لپاره دا ډېره مهمه ده. زده کوونکي او محصلین کولای شي له دې فضایي څېړنو څخه ښه ګټه پورته کړي. د ټېلیکمونیکشن امکانات او روابط ټینګوي، لنډه دا چــې

ډول ډول دندې ترسره کوي او ډول ډول اطلاعات زمــوږ پــه واک کـــې راکوي.))

مېرمن انوسوا ډېرې تېزې خبرې کولې، ژباړه يې په پيل کې پښتو وه، بيا دري شوه، ما له دري څخه اتومات پښتو ته ژباړله او دلته مې پښتو متن ليکه، سره له دې چې ډېر مهم شيان مې وليکلای شول، خو بيا هم کېدی شي ځينې نومونه مې سم نه وي ثبت کــړي او يــا هــم ځينـــې معلومات هم راڅخه پاتې شوي وي. د مېرمن انوسوا تر دې اوږده لکچر وروسته موږ افغانانو ته نوبت ورسېد، چې له دې څخه پوښتنې وکړو او هغه خپل ځوابونه راکړي. لومړۍ پوښتنه دا مطرح شوه چې انسانان په فضا کې ژوند کولای شي که نه؟

الکساندر انوسوا يې په ځواب کې وويل: ((اوس موږ يو پروګرام لــرو؛ (مريخ ۵۰۰) نومېږي. دا پروګرام افتتاح شــوی دی، خــو دا پروګــرام د (۲۰۳۳) د مريخ او ځمکې د سترې مقابلې ] په نامه دی، هغه وخت دا فاصله د ځمکې او مريخ ترمنځ (۵۰۰) مليونه کيلو متره نــږدې کېــږي، (۵۰۰) شپې او ورځې مزل بايد له ځمکې تر مريخه وشي او بېرته راشي، دا چې ژوند به څنګه ممکن وي؟ موږ اوس (۵۰۰) ورځې ژوند مطالعــه کوو، چې څنګه به په دې موده کې ژوند ممکن شي؟ په يوه کتاب کې دا مسايل ثبت شوي دي. (لولوکف) (۴۵۰) شپې او ورځې په فضا کې ژوند کړی دی. (د ځمکې د اوسېدونکو لپاره سپوږمۍ) يو بل پروګرام دی چې روسيه په کې ګډون کوي، دا هم پــه زړه پــورې پروګــرام دی، تــر دې وروسته معلومېږي چې انسان په کيهان کې له ضرر پرته ژوند کــولای

شي که نه؟ له کیهاني څېړنو څخه (۵۲) کاله تېرېږي، دا کم وخت دی، موږ فکر کوو د ځمکې خلک باید په مشــترک ډول همکــاري وکــړي، نړیواله همکاري په کار ده، دا همکاري کولای شــي یــو زیــات شــمېر مشکلات حل کړي.))

د افغانستان ملي شورا د دارالانشاء د بشري منابعو رییس ښــاغلي عاکفي وپوښتل: ((د یوې الوتنې قیمت به څومره وي؟))

مېرمن انوسوا یې په ځواب کې وویل: ((نرخ یې ډېر قیمتــه دی، پــه نړۍ کې ترټولو لوړ قیمت یانې په یوه شپه کې درې (۳) ملیونــه ډالــره دی. په لسو ورځو کې دېرش (۳۰) ملیونه ډالره دی. تاسې باید پوه شئ چې دا تمام شوی نرخ دی، روسیه په دې کې ګټه نــه کــوي. کــه مــوږ یوګرام سره زر قیمت کړو، نو یوه الوتنه باید له سرو زرو سره وتلو، هره الوتنه دومره وزن او ارزښت پیداکوي، موږ وياړو چې امریکایان د تجارتي الوتنو لپاره زموږ توغندي غوره کوي. خبریالان چې کله وپوښتې هغوی څه وایي؟ توریستان وایي په نړۍ کې تر ټولو مهم توغوندي همدا روسي سیوز (Sauoz) توغوندي دي، خو موږ له توریستانو څخه کومه ګټه نــه کوو، موږ له مصنوعي سپوږمکۍ څخه ګټه کوو. امریکا، چین، یوکراین، هندوستان او نورو سره همکاري لرو.))

تر دې پوښتنې او ځواب وروسته موږ ټول دېته متوجه شو، چې کله له هوا څخه په ځمکه کې د کبانو حرکت څارل کېدی شي، نو ولې پــه افغانستان او یا نورو سیمو کې د اسامه بن لادن ځای ځایګی نــه شــي کشفېدلای؟ دا خبره د ځینو پرشوندډو زمزمه شوه، خو په ولسي جرګه

کې د پکتیکا د خلکو استازي ښاغلي سیداسحق ګیلاني ژر همدا پوښتنه مطرح کړه، ویې ویل:

((تاسې ماهي په اوبو کې کتلای شئ، اسامه بن لادن نه شئ کتلای؟))

انوسوا تر یو څه ځنډ وروسته داسې ځواب ورکړ: ((په دریاب کې یو قسم مواد شته چې له فضا څخه یې څېړنه اسانه ده، د کب د حرکت څېړنه هم اسانه ده، د اسامه خبره زموږ کار نه دی دا د نظامیانو کار دی او زموږ دا مرکز یو علمي مرکز دی.))

په مشرانو جرګه کې د پنجشېر د خلکو استازي ښاغلي محمدعالم ایزدیار وویل: ((یو توغندی په څو تامېږي یانې د یوه توغندي قیمت څو دی؟

ځواب: ((په دقیق ډول نه شم ویلای، ځکه انفلاسیون دی، قیمتونه پورته کېږي او کښته کېږي خو د (سایوس) توغوندي پنځوس (۵۰) ملیونه ډالره تامېږي. د توغوندي اعظمي ارتفاع (۳۶۹) کیلو متره او اصغري یې (۳۴۵) کیلو متره ده.))

ددې خبرو په پای کې انوسوا د دې فضایي مرکز د وېبپاڼې ادرس چې پر سکرین باندې هم ښکارېده موږ ته یاد کړ او ویې ویل چې د زیاتو معلوماتو لپاره له دې وېبپاڼې څخه معلومات اخیستلای شئ. د سایټ پته په دې ډول وه: (www.mcc.rsa.ru).

# د راډیو پر لوري

تر یو څه ځنډ وروسته د روسیې د فضایي څېړنو له دې مرکز څخه راووتو، پر سیمه ییز وخت د غرمې دولس نیمې بجې وې. د هئیت ټول برخوال په لوی موټر کې کېناستل، ما پسې همدا مهال له راډیو څخه د




مرکې لپاره یو موټر راغلی و، له طاهر کاني صیب سره یو ځای په همدې موټر کې کېناستم، دا مهال (امبل خان) ماته د ټلېفون یو سیم کارت راوړ، چې کور او دوستانو سره اړیکي ټینګ کړم، لس کم یوه بجه مو د راډیو پر لوري حرکت وکړ، نږدې یو نیم ساعت نه زیات وخت مو په لاره کې تېر کړ، په لاره کې مې له کاني صیب څخه د پخواني شوروي او اوسنۍ روسیې د ژوند په باب پوښتنې وکړې، کانی صیب چې یو ښه پوخ، کره لیکوال او تکړه ژباړن دی، په پخواني شوروي کې یې لوړې زده کړې کړي او ډېر کلونه (شل کاله) کېږي چې د پخواني شوروي

جمهوریتونو په تېره بیا په یوکراین او روسیه کې ژوند کوي او خپله هم د پاخه سیاسي فکر خاوند دی. ده پخوانی شوروي او اوسنۍ روسیه له هر پلوه سره پرتله کړل، ویې ویل: ((کله چې پخوانی شوروي ړنګ شو، نو روسیه له یوه لوی بحران سره مخامخ شوه، پر ټوله روسیه یوه مافیا واکمنه شوه او دې حالت د روسیې د ژوندانه ټول رګونه ونیول، خــو د ولادیمیر پوتین په مشرۍ د (واحدې روسیې ګوند) څو کلنې واکمنۍ له دې مافیا سره سخته مبارزه وکړه، اوس روسیه ترکنتــرول لانــدې یــو هېواد دی، اقتصاد یې ورځ پر ورځ غوړېږي، خپل پورونه یې ټول خلاص کړل، له خپلو طبیعي منابعو څخه په اعظمي توګه ګټــه اخلــي ان پــر لوېدیزې اروپا باندې هم کله کله د خپلو سرشاره طبیعــي منــابعو پــه واسطه سیاسي فشارونه راوړي، د پخواني شوروي نور غړي هېوادونــه هم ورځ پر ورځ بېرته روسیې ته احتیاجېږي.)) ما کاني صیب ته وویل: [هر چېرته چې د فکر ازادي نه وي، وده او پرمختګ په اساني سره نــه شي رامنځته کېدلای، یو وخت مې له مرحوم استاد محمد صدیق روهي صیب څخه د کمونیزم د شاته پاتېوالي او د شوروي د ړنګېدو په بــاب وپوښتل، هغه وویل: ((په کمونیزم کې غټ مشکل د تجربې تکرار و.)) د هغه نظر دا و؛ یوه تجربه چې څو ځله تکرار شي، نوښت نــه رامنځتــه کوي، بلکې همغه څه چې دي همغه بیا ترلاسه کېږي. روهي صیب خپل دا مفهوم په یوه مثال کې لا ښه واضح کړ. هغه وویل: ((یو روسي انجنیر یو نکلي چایبر جوړاوه، هر کال به یې همدا تجربه تکراروله، معاش به یې هم ثابت و، که لږ څه به یې په ډیزاین کې تغییر راوړ، بیا به یې هم همغه معاش و، نو بنا پر دې، دې نوې تجربې او نوښت د ده په ژوند کې کــوم خاص بدلون نه راوسته، نو ځکه خو د انسان د فطرت له مخې چې لــه

خپلې شخصي ګټې سره یې لري، دی دېته نه هڅېده چې لا نوې تجربه وکړي، خو که په مقابل کې په جاپان کې یو انجنیر یو کال یو ماډل موټر جوړاوه او بل کال یې په هغه کې بدلون راوسته، نو د فابریکې خاوند ته دې بدلون ګټه رسوله او په مقابل کې یې نه یوازې دې انجنیر ته تنخوا زیاتوله، بلکې څو موټر یې هم په تحفه کې ورکول، نو په دې ډول انجنیر تشویقېده، چې بل کال ته تر دې ښه ماډل موټر جوړ کړي، نو ځکه هلته په تجربه کې نویوالی راته او دلته همغه تجربه بیا تکرارېدله، د تجربې همدغه تکرار د کمونیزم او شوروي د پرمختګ مخه ونیوله.))

کاني صیب وویل: ((رښتیا هم فکري سانسور د پرمختګ مخه




نیسي)). هغه زیاته کړه: ((روسیه کې اوس د فکر ازادي شته خو بیا هم لا ډېره ازادي نه ده رامنځته شوې، د اقتصاد په برخه کې ډېر پرمختګ شوی، روسیې د خپلو تېلو او ګازو بیې ډېرې لوړې کړي او له دې لارې ډېر عایدات ترلاسه کوي. همدا راز د منځنۍ اسیا هغه ګاز چې د روسیې له لارې نورو هېوادونو ته انتقالېږي، روسیه له هغو څخه هم ډېر ټکس

اخلي، داسې هم ده چې دوی له منځنۍ اسیا څخه ګاز په ارزانــه بیــه اخلي او پر نورو یې په لوړه بیه خرڅوي.)) کاڼي صیب اکثره هغو ودانیو او ابادیو ته ګوته نیوله چې د همدې تېرو څو کلونو په بهیر کې جــوړې شوي دي. کاڼي صیب وویل: ((سره له دې چې دلته ډېــر شــیان نــوي جوړېږي، خو بیا هم مسکو د نړۍ له هغو ښارونو څخه دی چــې ډېــره قیمتي په کې ده.)) په لاره کې ډېره زیاته ګڼه ګوڼه وه ، نږدې یــو نــیم ساعت مو په لاره کې تېر کړ، موږ سره دا ځل د ترافیکي پولیسو مــوټر هم مل نه و، یوازې یو امنیتي کس راسره و، چې مخکې سېټ کې ناست



یون او محمد طاهر کاڼی

و، یو نیم ساعت وروسته د راډیو مرکز ته ورسېدو.

د مسکو انګازه: دا د هغې راډیو نوم دی چې موږ یې مرکې ته بللي وو. شل دقیقې له دوو څخه تېرې وې چې د (مسکو انګازه) راډیو مخې ته ورسېدو، مرکې ته لا لږ وخت پاتې دی، زما په لاسي کامره کې بېتري

کمزورې وې، نوې بېترۍ مو هملته په یوه دوکان کې پــه (۱۲۲) روبلــه واخیستې، شاوخوا لږ څه پلي وګرځېدو، د (مسکو انګازه) راډیو شاته د انځورګرۍ یوه تاریخي کوڅه ده، چې ډول ډول عکسونه او لاس کښلي انځورونه په کې خرڅېږي،دغه کوڅه د (ستاري اربات) په نامه یادېږي او د مسکو ښار د منځنۍ برخې له ډېرو پخوانیو کوڅــو څخــه ده. هلتــه داسې انځورګر یا رسامان ولاړ وي، چې که څوک وغواړي انځور یې جوړ شي، نو په نږدې یوه ساعت کې یې ښکلی انځور په لاس جوړوي، ډېرې ښې او قیمتې تابلوګانې هم هلته خرڅېږي، په دې کوڅه کې تر ګرځېدو وروسته بېرته د راډیو ستېشن پر لوري وخوځېدو چې د (نووی اربات) کوڅه کې یې موقعیت درلود. دا راډیو لکه په کابل کــې د اف. ام (FM) راډیوګانو په شان وه، چې په مسکو کې زیات اورېدونکي لري، ژوبــدي پروګرامونه یې هم زیات دي، په موټرو کې ډېره ښه اورېدل کېــږي، یــو زیات شمېر اورېدونکي ورته راساً ټلېفونونه کوي، دوی ته نظرونه رالېږي او خپلې پوښتنې ترې کوي. پنځه لس کم درې بجې د راډیو دفتــر تــه پورته شو، د تالاشۍ له نورمالو قواعدو معاف شو، ځکه چې یوه مسئوله ماموره موږ ته په لومړي منزل کې د تالاشۍ محل ته راکښته شوه، پــه لفټ کې پورته شو، دفتر ته لاړو، په دفتر کې پــر یــوې اوږدې څــوکۍ کېناستو، پــه دې  اداره کــې مــې پــر دېوالونــو تــول هغــه ځړېــدلي ستاینلیکونه او مډالونه ولیدل چې دې راډیو ته د بېلابېلو موسســاتو، ارګانونو او اشخاصو له خوا ورکړل شوي وو. همدارنګه د روسیې او نړۍ د ځینو معتبرو شخصیتونو تصویرونه هم ځوړند وو، چې دې راډیو ته پر بېلابېلو وختونو د مرکو لپاره راغلي دي. لږه شېبه وروسته یې یــو یــو ګیلاس چای راوړ، مسوولې مامورې وویل: ستاسو مرکــه پــر (۳) بجــو

پیلېږي، ما کاني صیب ته وویل: ((مرکه ژوندۍ ده؟)) هغه وویل: ((هو ژوندۍ ده.)) ما د راډیو سټوډیو ته ډېره سودا لرله، چې څنګه به وي، ځکه دا زما یو ارمان دی چې موږ هم یو راډیو ټلویزیون او ښکلې سټوډیوګانې ولرو. سټوډیو ته ورننوتو، په سټوډیو کې مې ټول شیان له نظره تېر کړل، د افغانستان تر سټوډیوګانو ښکلې وه، خو بیا هم هغه شان چې ما اټکل کاوه هغومره ښکلې نه وه، ټول وسایل یې په چت کې نصب وو، موږ د یوه ګردي مېز تر شا کېناستو، یوې ښځینه ژورنالیستې او یوه نارینه خبریال له ماڅخه پوښتنې پیل کړې، طاهر کاني د هغوی خبرې ماته او زما یې هغوی ته ژباړلې او راساً خپرېدلې، درې دقیقې دریو څخه تېرې وې چې مستقیمه مرکه پیل شوه. په پیل کې په مسکو کې د جوړ شوي کنفرانس په اړه پوښتنه وشوه او ما د کنفرانس هدفونه او د افغاني هئیت ترکیب ورته تشریح کړل، ورپسې یې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه وپوښتل، دوی وویل دلته داسې فکر کېږي، چې افغانستان کې څندان پرمختګونه نه دي شوي؟ ما ورته د افغانستان پرمختیاوې او حالات پر درېو برخو ووېشل او بیا مې تشریح کړل: مثبت پرمختګونه، منفي پېښې او ځینې هغه کارونه چې باید ترسره شوي وای، خو ترسره نه شول. دوی پوښتنه وکړه، چې په افغانستان کې پر ښځو ډېر ظلمونه کېږي او هېڅ حقوق نه ورکول کېږي، ما ورته په ځواب کې وویل: ((د ښځو د حقوقو په برخه کې یو هغه مشکلات دي چې له پېړیو پېړیو راهیسې پاتې دي، په هغو کې د مذهب په نامه بندیزونه، ټولنیز او کلتوري دودونه هر یو پر خپل ځای خپل تاثیر لري، چې دا ستونزې بیا په څو کلونو کې نه شي اوارېدلای، د دې ډول ستونزو اوارولو ته ډېر وخت په کار دی، خو د افغانستان د اساسي قانون له مخې

ښځې او نر د قانون پر وړاندې مساوي او برابر حقوق لري، له سیاسي پلوه د افغانستان اساسي قانون د ښځو حقوق دومره خوندي کړي، چې ان په ډېرو پرمختللو هېوادونو کې هم د ښځو د سیاسي ژوندانه په برخه کې دومره تضمین نه شته، همدا اوس د افغانستان په پارلمان کې په سلو کې (۲۷) ښځینه استازې دي، چې دا شمېر د روسیې او امریکا په شمول د نړۍ په یوه پرمختللي هېواد کې هم نه شته، همداسې نور پرمختګونه.)) دوی بیا په افغانستان کې د ازادې میډیا په باب وپوښتل او ویې ویل دلته داسې ویل کېږي، چې هلته د میډیا په برخه کې ډېر پرمختګ نه دی شوی، ما ورته په ځواب کې وویل: ((هره هغه ټولنه چې له جنګ او اختناق څخه راووځي ټول مشکلات یې په یوځایي توګه نه حلېږي، طبعاً مشکلات شته، خو د رسنیو په برخه کې پر ډېر کم وخت په افغانستان کې دومره پرمختګ شوی، چې ساری یې د نړۍ په هېڅ هغه هېواد کې نه لیدل کېږي، چې تازه له جګړې څخه راوتلی وي، همدا اوس په افغانستان کې نږدې سل ازادې راډیوګانې فعالیت لري، تر لسو زیات ازاد ټلویزیونونه او تر نږدې یوزر عنوانو پورې بېلابېلې چاپي خپرونې فعالیت لري، دا د افغانستان په شان یوه هېواد لپاره ډېر لوی پرمختګونه دي، ان په ډېرو پرمختللو هېوادونو کې هم رسنیو پر دومره لږ وخت دومره زیات پرمختګ نه دی کړی.)) زموږ د مرکې په ترڅ کې یو شمېر اورېدونکو چې دا راډیو یې اورېدله، په ژوندۍ بڼه ټلیفونونه هم وکړل او د همدې مسایلو په اړه یې پوښتنې وکړې، ما ورته ځوابونه ورکړل، زما لپاره ښه ګرمه او د دوی لپاره یوه معلوماتي مرکه وه، دوی ته هم تازه معلوماتو او ارقامو خوند ورکړ. د بېلګې په توګه ما د پوهنې په برخه کې ورته داسې معلومات ورکړل او ورته ومې ویل چې تر (۵۰۰۰)

پورې نوي ښوونځي جوړ شوي، د مهاجرینو په برخه کې مې وویل چې نږدې دوه نیم ملیونه مهاجر بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي، نـږدې (۳۵۰۰) کیلو متره سړک په اساسـي ډول جـوړ شـوی، د سیاسـي او ټولنیزو پرمختګونو په باب مې هم ورته رڼا واچوله، ځینې نیمګړتیاوې مې هم بیان کړې، ومې ویل چې سیاسي عدالت تامین شـوی نـه دی، جنګسالاران واکمن دي، په ټول هېواد کې امنیت تامین شوی نـه دی، اداري فساد او رشوت زیات شوی، د ملکي تلفاتو شـمېر ورځ پـر ورځ زیاتېږي، ځینې مشخص تنظیمونه او جګړه ماران تر هر چا زیـات واک لري، سره له دې چې د جمهوري ریاست او ملي شورا لپـاره انتخابـات شوي، خو قدرت لا هم په واقعي مانا ولس ته نه دی انتقال شوی. دا ډول معلومات دوی ته په زړه پورې وو، نو ځکـه د روسـي او روسـۍ دواړو خبریالانو لپاره دا جالبه مرکه وه. مرکه چې پایته ورسېده، نو دوی ډېر خوشاله وو زیاته مننه یې وکړه، موږ ترې خدای پاماني واخیسته، یوې ماموري موږ د راډیو تر خروجي دروازې پورې بدرګه کړو او په دې توګه د (مسکو انګازه) راډیو له ودانۍ څخه رابهر شو.

# د مسکو څو یادګاري ځایونه

کله چې له راډیو څخه رابهر شو، نو یو څه وخت مو درلـود، چـې د مسکو ځینې ځایونه وګورو، زموږ بل ملګری (امبل خان) تیار له خپـل موټر سره موږ ته منتظر و، زه (یون)، طاهر کانی صیب او له موږ سره یو کس امنیتي ساتونکی درېواړه د امبل خان په ګاډي کې کېناستو، امبل خان وویل: ((راځئ یو تاریخي ډګر به در باندې وګورو، په دې ډګر کې پر فاشیزم باندې د پخواني شوروي د بري یادګاري ځلی جوړ شـوی،دغه



د روسیې د اتلولۍ یو یادګاري ځلی

ډګر د (پارک پابېدي) په نامه یادېږي. پخوا دې ځای ډېر ارزښت درلود، خو د شوروي تر ړنګېدو وروسته هغه شان ارزښت نه لري او نه په کـې هغه ګڼه ګوڼه وي، خو بیا هم ډېر خلک دلته راځي، ډول ډول ګلان هم

شته لږ به پلي هم وگرځو.)) تر يو څو دقيقو مزله وروسته دې ډگر تــه ورننړدې شو، په لاره کې مو د روسيې د بري هغه دروازه (تاق) وليد چې دوی يې د بري دروازه بولي. شکل او جوړښت يې کټ مټ په پغمان کې د ازادۍ څلي (تاق ظفر) ته ورته و. د تاق ظفر په څېر دا لويــه دروازه د فرانسوي امپراتور ناپليون پر لښــکر د بــري يادگــار دی. نــاپليون پــر (۱۸۱۲م) کال پر روسيې حمله وکړه او پر (۱۸۱٤م) کال يې ماتې وخوړه، د بري دروازه چې پر (۱۸۲۹م) کال يې بنســټ ايښــودل شــوی و، پــر (۱۹۶۶م) کال دې ځای ته انتقال او په اوسنۍ بڼه ودانه شوه. دا څلی د يو داسې لوی واټ په منځ کې جوړ شوی چې د مسکو ښار له مهمــو او لويو واټونو څخه گڼل کېږي او هر پلو ته يې موټر په څلورو پنځو ليکــو کې روان وي، خو له دومره پراخو سړکونو سره سره بيا هم د موټرو گڼه




گوڼه او ترافيکي ځنډ و خنډ په کې له ورايه محسوسېږي. تر څو دقيقو مزله وروسته هغه ډگر ته ورسېدو چې پر فاشيزم باندې د بري يادگاري څلی په کې جوړ شوی و، دا يو لوی او ارت ډگر و، مخکې تر دې چې له موټر څخه کښته شو، امبل خان وويل: ((چترۍ به راواخلم خامخا باران

و نه شي))، مور وخندل ومو ویل: ((نه بابا هوا دومره ترخه نــه ده چــې باران وشي.)) امبل خان وویل: ((د مسکو پر هوا باندې باور نه شــته))، خو ماته هېڅ ممکنه نه ښکارېده، چې ګنې باران دې وشي. په واټ کې مو قدم وهل پیل کړل، هرې خواته سره او ژېړ ګلان وو، سره ګلان یــې کټ مټ لکه په دښتو کې د غاټولو د ګلانو په شان وو، امبل خان وویل: ((دا ګلان ټول یوه اوونۍ عمر لري، یوه اوونۍ وروسته له منځه ځي))، د ګلانو پر دې لنډ عمر ډېر خفه شوم، امبل خان وویل: ((دلته او د مسکو په نورو اکثرو واټونو کې چې دا ګلان ګورې، دا هره اوونۍ نوي ایښودل کېږي، خپل خاص موسم لري.)) په کوم ځای کې چې مور پلي شو دغه ځای د بري یادګاري ځلی او شاته یې پر فاشیزم د بري د یو لوی موزیم او یادګاري کمپلکس ودانۍ ده. دغه ټول کمپلکس په یوه پــارک کــې موقعیت لري، چې د (بري پارک) په نامه یادېږي او د دې ودانۍ شاته نور ډېر پراخ دی. دغه پارک او د بري پارک کمــپلکس پــه (دیــارلس نــیم هکتاره) ځمکه کې پروت دی او د بېلابېلو ادیانو د پیروانو په درناوي په درېو خواوو کې یې یوه عیسوي کلیســا، یــو مســجد او یــوه یهــودي سیناګوګیا جوړ شوي دي. پر فاشیزم د بري ځلی یــو ســل ځلوېښــت اعشاریه اته (۱٤۰،۸) متره جګوالی لري او د جنــګ د (۱٤۱۸) ورځــو او شپو سمبولیکه څرګندونه کوي. پــر (۱۹۵۸ م) کــال د وخــت واکمنــو پرېکړه کړې وه، چې پر دې ځای به دغسې یو پارک جوړېږي، خو د پارک اوسنۍ بڼه او دغه ودانۍ د (۱۹۹۵م) د مې پر نهمه نېټه، پر فاشــیزم د بري د پنځوسمې کالیزې په ویاړ پرانیستل شوه. پخوا شورویان او اوس روسان هر کال د مې پر نهمه نېټه پر فاشیزم د بري پر جشن ډېر ویاړي او د هغه وخت د جنګ د ګډونوالو ډېر قدر کوي، دوی وایــي چــې دا د

دوی لپاره له اوښکو ډک جشن دی، ځکه شل ملیونه شورویان په کې وژل شوي او یا له لوږې مړه شوي دي. دوی په پام کې لري، چې پر




راتلونکي (۲۰۱۰ م) کال پر فاشیزم د بري پینځه شپېتمه کلیزه په ډېر شاندار ډول ونمانځي. په دې لوی ډګر کې شاوخوا وګرځېدو، عکسونه مو واخیستل. نور ګڼ خلک هم ټول پلي ګرځېدل، یادګاري تصویرونه یې اخیستل، د نږدې دوه سوو مترو په واټن پر فاشیزم باندې د بري ځلي پر لوري وخوځېدو، ځلي ته لا نه وو رسېدلي چې تورې وریځې راخرګندې شوې، ورسره سم څاڅکی څاڅکی باران پیل شو، ما فکر کاوه څه زموږ په وطن کې خو وایي: ((توره وېرول کوي، سپینه اورول)) خو دلته خبره سرچپه شوه، له څاڅکي څاڅکي باران سره باران نور هم زور واخیست، موږ په ډېر تکلیف د ځلي ترڅنګ یو څو قطعې عکسونه واخیستل، نور باران لاندې کړو، امبل خان چترۍ زما پر سر نیولې وه،

ماته یې ویل: ((ته خو بلې غونډې ته هم ځې، باید لونډ نه شې او که موږ




لامده هم شو، پروا نه کوي، موږ ورسره بلد یو.)) کانی صیب، امبل خان او زموږ روسي امنیتي مسول خو باران دومره وځپل چې تنې یـې هـم




**ورته وچه پرې نه ښوده، یو څو دقیقې مو څلي ته ورځېرمه د یوه دېوال غاړې ته چې یو څه سرسوری یې درلود، پناه وروړه، خو هلته هم ګنــه ګونه زیاته وه، د ودرېدو ځای نه و، لنډه دا چې باران ښه وشاربلو، که څه هم باران ولاړ نه و، خو زور یې یو څه کېناست، بېرته د ګاډي د پارکېنګ**

پر لوري وخوځېدو، یخ هم ښه وششنولو. دا ځای که څه هم ډېر په زړه پورې و، خو موږ د شړکنده باران په وجه خوند ترې وانه خیست، خوند خو لا څه کړې، چې په راتګ هم پښېمانه وو، تر موټر مو ځانونه ورسول،


د ورښت پر مهال د مسکو یو واټ

ځانونه مو ټکوهل ، په موټر کې چې کېناستو، نو امبـــل خـــان د مـــوټر بخارۍ چالان کړه، ورو ورو یې له موږه د یخنۍ څپې لرې کړې، موټر کې ناستې او راحت ډېر خوند وکړ او د افغانستان د سفارت پر لوري رهـــي شو.

# یوه ماښامنۍ په افغاني سفارت کې

تر نیم ساعت مزله وروسته سفارت ته ورسېدو، په لاره کې پرله پسې باران د مسکو فضا تیاره کړې وه، په مسکو کې د داسې ورښت په حالت کې پلی تګ راتګ اسانه نه وي، ونې او بوټي ټول وینځلي ښکارېدل، کله چې سفارت ته ورسېدو، نو موټر مو د سفارت مخې ته په یوه ځای کې پارک کړ، سفارت ته داخل شو، موږ او نورو مېلمنو ته د سفیر (زلمي عزیز)، کلتوري اتشې ډاکټر لطیف بهاند، د پوځي اتشې مرستیال




عبدالله اندړ او د سفارت نورو کارکوونکو هر کلی ووایه. موږ باران ډېر ځپلي وو، ځو شېبې مو د ښاغلي اندړ صیب په دفتر کې تېرې کړې، یو ګیلاس چای مو وڅښه، ځو نور افغانان (د سفارت کارکوونکي) هم هلته ناست وو، یو بل سره مو تر تعارف وروسته، د هېواد پر حالاتو لنډې

خبرې وکړې. بیا لاندې تلخونې (تکاوې) کې د کلتوري اتشې (بهاند صیب) دفتر ته کښته شوم، هلته ښاغلی اسدالله دانش، عبدالغفور لېوال، خپله بهاند صیب او یوه روسۍ مېرمن سره ناست وو، پر ډوډۍ خوراک مصروف وو، د ملایانو په خبره؛ لذیذ لذیذ طعامونه یې پر دسترخوان هموار وو. ماته یې ټینګ ست وکړ، ما ویل نه زه




به هال ته لاړ شم او له ټولو سره به یوځای ډوډۍ وخورم، له هغوی څخه د سفارت هال ته لاړم. په مسکو کې د افغانستان سفارت د افغانستان خپل ملکیت دی دا هم لکه د افغانستان د ځینو نورو سفارتونو د ودانیو په شان په افغانستان کې د بحران تر پیل دمخه حکومتونو د هڅو برکت دی. دا ودانۍ پر (۱۹۰۴ م) کال د هغه مهال د نومیالي مهندس (کیکوشف) له خوا جوړه شوې ده او پر (۱۹۲۱م) کال د هغه مهال د شوروي حکومت له خوا د امیر امان الله خان حکومت ته ډالۍ شوې ده، چې د مسکو ښار د منځنۍ برخې د (پوورسکایا) په کوڅه کې واقع ده.

دا یوه لویه دوه پوړيزه ودانۍ ده چې د سفارت ټول اداري ضرورتونه په کې پوره کېږي. کله چې د سفارت په لاندیني پوړ کې هال ته لاړو، نــو اکثره برخوال راغلي وو او نور هم د راتګ په حال کې وو. په هال کې د شلو تنو په شاوخوا کې اشخاصو ته څوکۍ او کوچونه ایښي وو، البتــه هال د نورو څوکیو د ځایونې ځای هم درلود. سفیر او نورو کــارکوونکو مېلمنو ته هر کلی وایه او هر یو سره به د لنــډ وخــت لپــاره ودرېــده،



حاجي فضل کریم، نادرخان کتوازی، محمد عالم ایزدیار او سلیمان لایق

مېلمانه هم دوه دوه او درې درې تنه سره یوځای شوي وو او خپل خپل مجلسونه یې کول، په سفارت کې نه سفیر او نه هم کوم بل چا څه وینا وکړه. یوه نارسمي ناسته وه، چې هدف یې یــوازې افغــاني هئیــت تــه مېلمستیا وه. البته په دې مېلمستیا کې د کنفرانس یو شــمېر روســي مامورین هم شامل وو. دې هال ته ورڅېرمه په بله خونه کې ډوډۍ تیاره شوې وه، ښه مکلفه افغاني ډوډۍ وه. په بهر کې خپله ډوډۍ داسې یو نعمت وي، چې هر افغان یې ارمان کوي. ډوډۍ مو په ډېره ارامۍ وخوړه،

خو د خوراک ترڅنـګ مـو خبـرې او مجلسـونه هـم ترسـره کـړل.




د ډوډۍ پر مهال ماته وویل شول، چې ستا په شمول څو تنه نور یو بل مطبوعاتي کنفرانس ته دعوت دي، څو شېبې نور هم په سـفارت کـې پاتې شو، نور ټول په خپل موټر کې لاړل او موږ څو تنه بیا د مطبوعاتي کنفرانس په نیت سفارت ته ورڅېرمه د یـوې بلـې ودانـۍ پـر لـوري وخوځېدو.

# له نیوزویک اوونیزې سره ناسته

د تګ پر مهال زه (یون)، په ولسي جرګه کې د ننګرهـار د خلکـو استازی (ببرک شینواری)، د پکتیکا اســتازی (سیداســحق ګیلانــي)، ښاغلی احمد سیدي او د کابل پوهنتون اســتاد ښــاغلی نســیم ګــل توتاخېل سره ملګري وو. تر یو څو دقیقو مزله وروسته هلته ورسېدو. د یوه هوټل لومړي پوړ ته پورته شو، ډېره تاریخي ودانۍ معلومېده، د لرګي لویې دروازې او په هغو کــې شــوی نقــش د هغــې د تــاریخي هویــت څرګندونه کوله، د هوټل په نورو برخو کې هم زیات لرګي کارېــدلي وو، چې له اوسنیو هوټلونو څخه د دې هوټل څرګند توپیر یې ښکاراوه. موږ یې یوې خونې ته دعوت کړو، هلته یو اوږد مېــز ایښــی و، پــرده پــرې غوړېدلې وه، څلور څوکۍ یې یوه خوا څلور بله خوا، دوه څوکۍ په سر او دوه یې په بر کې ایښودل شوې وې، پر مېــز لــه معمــول ســره ســم د هوټلوالۍ کلتور عملي شوی وو، دسمالونه، ګیلاســونه او قابونــه پــرې ایښي وو، د څښاک او خوراک دواړو ترتیبات نیول شوي وو. په پیل کې خو موږ ته ویل شوي وو چې دلته یو مطبوعاتي کنفرانس دی، خو کلــه چې د مېز دې څرنګوالي ته متوجه شو، نو پته راته ولګېده چې دلته یې یوې ګډې مرکې ته رابللي یو. که موږ هر یو له دې حالت څخه خبر وای، نو کېدی شي چا ورته زړه نه وای ښه کړی، ځکه چې ټول ښه ستړي وو او هر یو غوښتل چې ژر خپل استراحتځي ته لاړ شي او ارام وکړي. کله چې د مېز تر شاکېناستو نو لومړی دوی ځان معرفي کړ: (الیا) او (ایرد) د نیوزویک اوونیزې مسوولین یو. دوی وویل: ((نیوزویک دلته په روسیه

کې هم خپرېږي، له امریکايي نیوزویک سره همکـــاري لـــرو، خـــو مـــوږ مستقل یو، چا سره تعلق نه لرو، خپله کار کوو، خپله ځو، خپله یې لیکو، د روسیې په اخبارونو کې دا یوه مهمه اوونیزه ده.)) تر دې وروسته موږ هر یو خپل ځان معرفي کړ. طاهر شینواری چې په مسکو کې د مېشتو افغانانو له جملې څخه دی، پر روسي ژبه ښه پوهېږي، هغه هـــم زمـــوږ ملګری و او د ژباړې چارې یې سرته رسولې. زمـــوږ د ډلـــې تـــر تعـــارف وروسته هغوی خپله لومړۍ پوښتنه پیل کړه:

پوښتنه: د روسیې او افغانستان د دې صفر روابطو په باب څه نظـــر لرئ، د سفر هدف مو څه دی؟

لومړی اغا صیب (سیداســحق ګیلانـــي) خبـــرې پیـــل کـــړې، د دې پوښتنې په ځواب کې یې وویل: ((روسیه زموږ لپاره ډېر اهمیت لـــري، روسیې افغانستان سره پخوا ښه اړیکي درلودل، موږ هیله لـــرو، چـــې روسیه پخواني اړیکي بېرته ټینګ کړي، زه د افغانســـتان د خلکـــو پـــه استازۍ د روسیې له خلکو غواړم له افغانســـتان ســـره پـــه اقتصـــادي، تجارتي او نورو برخو کې خپلې دروازې بېرته خلاصې کړي، افغانستان په شپږ ویشت کاله جنګ کې ډېر خراب شوی، بیا جوړونې ته ضرورت لري.))

دویمه پوښتنه: له امریکایانو سره مو مناسبات څنګه دي، تاســـې څه فکر کوئ، څه پېښېږي؟

دا پوښتنه له ټولو څخه وه، خو ښاغلي ببرک شینواري لـــر چـــالاکي وکړه، ژر یې داپوښتنه ماته راجع کړه، ویې ویل: ((یون صیب د دولت په

امنیت شورا کې دی، د دولت په نمایندګۍ به دی دې پوښتنې ته ځواب ورکړي.))

ما وویل: ((سمه ده، ځواب به یې ورکړم، خو په خپلې استازۍ، نــه د دولت په استازۍ، ځکه چې دولت کې خــو هــر ډول خلــک دي، زه د هغوی استازي نه شم کولای.

زما نظر خو دادی چې د سپټمبر د یوولسمې نېټې تر پېښې وروسته امریکا ته د دې زمینه برابره شوې، چې افغانستان کې پــوځي حضــور ولري. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پرېکړې له مخې چې روسیه هم په کې شامله وه، امریکایانو افغانستان ته لښکر کشي وکړه او بیا تر هغه وروسته د نړیوالو په مرسته د بن کنفرانس جوړ شو، لومړی موقت، بیــا انتقالي او بیا منتخب حکومت رامنځته شو او د افغانستان حکومت دغه بېلابېلې بنې خپلې کړې، دا چې یو هېواد بل هېواد ته لښکرې لېــږي، طبعاً هغوی د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره دا کار کوي، خو افغانستان ته د امریکا راتګ د ملګرو ملتونو د پرېکړو له مسیره تېر شــوی، د دواړو حکومتونو ترمنځ مناسبات ډېر ښه دي، خو د ملکي تلفاتو او د کورونو د تلاشۍ او ځینو نورو مسایلو پر سر اختلافات شته، دا چــې هلتــه څــه پېښېږي، ټول پرې خبر یو، خصوصاً په امنیتي برخه کې اندېښنې شته، د جګړې پراختیا د زیات تشویش وړ خبره ده.




زما خبرو پسې ښاغلي احمدسیدي خبرې پیل کړې، هغه وویل: ((د افغانستان مشکل یو منطقه یي مشکل دی، باید د منطقې هېوادونه لکه روسیه، د منځنۍ اسیا هېوادونه، ایران، پاکستان، چین او هندوستان د دې مشکل لپاره په ګډه کار وکړي. د دې ترڅنګ په دولت کې اداري فساد، مخدره مواد، ناکامه دولتداري او نور ټول په دې کې شامل دي چې حالات یې خراب کړي دي.))

پوښتنه: امریکایان له معتدلو طالبانو سره مذاکره غواړي؟




سیدي صیب ورته په ځواب کې وویل: ((فکر نه کوم چې دا کارونه کومې نتیجې ته ورسېږي.))

پوښتنه: زلمی خلیلزاد په دوبۍ کې له طالبانو سره خبرې کوي؟

سیدي صیب: ((دا هسې اوازې دي، د شهرت لپاره اوازې خپروي، حتی کرزی هم د زړه له کومي طالبانو سره روغه جوړه نه کوي.))

دې پسې ببرک شینواري د پوښتنې ځواب وغځوه: ((د نن ورځې طالبان له پرونیو طالبانو سره فرق لري. صوبه سرحد کې یې ډېرې سیمې نیولې دي، قبایلي سیمې یې نیولې دي، اوس په ملیونونو خلک

په قبايلي سيمو کې راپورته شوي، پخوا يوازې چيچن، عرب او نــور وو، خو اوس خبره ډېر لوړ حد ته رسېدلې ده. کېدی شي د دوی له يو غټ ګروپ سره خبرې وشي، خو خاصو طالبانو سره خبرې ونه شي. مهمــه خبره دا ده چې خبرې څنګه وشي؟ که د افغانستان پــه بــاب خبــرې وشي، ښه به وي.))




دې پسې ما (يون) ته هم پر پورتــه موضوع د تبصرې بلنه راکړل شوه، ما وويل: ((د طالبانو تر چتر لانــدې څــو ډلې راټاله دي: يو ګروپ خپله القاعده دی چې هغوی چاســره خصوصــاً لــه خپلو مخالفينو سره د خبرو او مفاهمې کومه سابقه نه لري، دويمه هغه ډله ده چې د طالبانو په نامه فعاليت کوي، خو اکثره د پاکستان له استخباراتو سره اړيکې لري او افغانان هم نــه دي، بله ډله هغه افغان طالبان دي چې د امريکايانو له خوا يې واک نســکور شو، افغاني طالبانو سره خبرې ممکنې دي، خــو هغــه وخــت چــې د افغانستان د حکومت په سياسي او امنيتي سکتور کې پراخ اصلاحات راشي، پوځ په واقعي مانا ملي او بې طرفه شي، د مشخصو سياسي ډلو له انحصاره ووځي او هېڅ افغان يې پردی ونه ګڼــي، د دې ترڅنــګ د طالبانو ځينو مخالفو ډلو ته چې په حکومت کې د بهرني فشار په وجه تر حده زيات امتياز ورکړل شوی، دا نامشروع امتياز يې د عدالت حد ته راټيټ شي تر هغه وروسته که خبرې پيل شي او نړيواله ټولنه په ټېره بيا

امریکایان هم د دې خبرو یوه تضمیني برخه وي، کېدی شي خبرې یوې مطلوبې نتیجې ته ورسېږي.

ما چې خپلې خبرې خلاصې کړې نو توتاخېل صیب ته مې چې تر دې وخته یې هېڅ خبرې نه وې کړې او اوسېله یې هم ښه تنګه شوې وه، پام شو، ما وویل: ((موږ ټولو خو خبرې وکړې، اوس نو د توتاخېل صیب نوبت دی څه یې چې زړه غواړي، هغه دې په زور او زېر سره ووایي)) بیا نو توتاخېل صیب خپلې خبرې داسې پیل کړې: ((افغانستان د تاریخ په اوږدو کې له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوی دی: اول د تزارې روسیې او برتانوي هند ترمنځ د لویې لوبې مشکل روان و، بیا د امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ رقابت روان و، درېیم د بن کنفرانس نیمګړتیاوې دي، چې تاثیرات یې تراوسه منفي دي، اوس د انتخاباتو مشکلات دي، د خارجي قواوو شتوالی دی، طالبان بل اړخ دی، په تېرو اوو کلونو کې نړیواله ټولنه او افغان حکومت دواړه ناکام دي، زموږ ورانديز دا دی، چې یوه رښتینې لویه جرګه دې جوړه شي او درې مهم سوالونه دې حل کړي:




دېرش کاله کېږي افغانستان د لویو قوتونو د جګړې ډګر دی، موږ غواړو له طالبانو او وسلوالو مخالفانو سره په رښتیني ډول خبرې وشي، نو ځکه موږ د بارک اوباما وروستی وړانديز تائیدوو، خو د عسکرو د ډېرولو نظر نه تائیدوو. که چېرې اوس ټاکنې وشي، نو دا انتخابات به

تحمیلي شکل ولري، واقعي ټاکنې به نه وي. شــل فیصــده خلــک پــه ښارونو او نور په اطراف کې اوسي، (۲۰-۲۲) ولایتونو کې امن نه شــته، خلکو د انتخاباتو کارتونه نه دي اخیستي او که اخیستي یــې هــم وي مخالفین کولای شي په اسانۍ سره انتخابات اخلال کړي، تاسو نه شئ کولای پر هر صندوق عسکر ودروئ، اوسنۍ وضعه هغه حالت ته ورتــه ده، چې د پخواني شوروي اتحاد پر وخت وه، موږ د تېرو انتخاباتو تجربه لرو، دا ټاکنې به شفافې نه وي، اوس خارجي فکتور ټاکونکی رول لري، که ټول ولس وغواړي یو څوک جمهور رییس شي، خو چې امریکا او ناټو یې ونه غواړي، هغه جمهور رییس کېدلای نه شي، حکومت له تنظیمونو جوړ دی، اداري فساد زیات شوی دی، ملګرو ملتونــو تــه هــم فســاد رسېدلی دی، د خارجي قواوو شتوالی حساس حالت کې دی، روسانو له انګرېزانو او امریکایانو له روسانو عبرت وانه خیست، حل لاره دا ده چې د لویې جرګې له لارې مشکل حل شي.))




د توتاخېل صیب په خبــرو پسې اغا صیب (سیداســحاق ګیلانــي) وروســتۍ خبــرې وکړې، ویې ویل: ((موږ ســولې ته ضرورت لرو، څوک چې پــه دې لاره کې مرسته وکړي، موږ یې هر کلی کــوو، نــور زمــوږ میندې د خپلو ماشومانو مړینه نه شي زغمــلای، دا کــه د ځــانمرګو د بریــدونو او یــا د امریکایــانو د

بمباردمان له امله وي، زموږ لپاره غم دی، موږ سولې ته تږي یو.)) اغــا صیب د ټولو په اســتازۍ د نیوزویــک اوونیــزې لــه دې مســوولینو او خبریالانو څخه مننه وکړه او دې سره مرکه یا مرکې پایته ورسېدې.

تر هغه وروسته د مېلمستون پر لوري وخوځېدو، تر یوه ساعت زیات مزله وروسته هلته ورسېدو، ښه ستړي وو، ما او کاڼي صیب څو شېبې زما د لیکنې پر کمپوز او ژباړې تېرې کړې، خو کمپیوټر کې مشکلات وو، کار ونه شو، کاڼی صیب د خپلې خونې پر لوري وخوځېد او پر ما هــم د خوب ښاپېرۍ خپل وزرونه وغوړول.

# د روسیې د مشرانو جرگې له هئیت سره کتنه

د مې (۱۳) مه نېټه د چهارشنبې ورځ وه، سهار وختـــي لـــه خوبـــه پاڅېدم، پر خپله لیکنه مې یو ځل بیا کار وکړ، تر هغه وروسته مې لیکنه کاني صیب ته د ژباړې لپاره ورکړه، اوه نیمې بجې چای ته لاړو، چای مو وڅښه، ملگرو سره مو گپ شپ ولگاوه، پر پروگرام مو ځان خبر کړ. اته نیمې بجې مو له مېلمستون څخه د خپل پروگرام لپاره ټاکلي ځای تـــه حرکت وکړ. لاره کې ونې بوټي ټول بیـــا بـــاران وینځلـــي وو، ترافیکـــي پولیسو زموږ د سورلۍ موټر ته لاره خلاصوله، ښایسته مزل مـــو وكـــړ، شاوخوا منظرې مې یوه یوه له نظره تېره کړه، د اکثرو افغانانو دا عادت وي، چې کله هم بهر ته لاړ شي، نو چې کومه ښکلې منظره وگوري، زړه یې غواړي چې داسې ځایونه او منظرې یې په خپل وطن کې وي، د ښو افغانانو ښه شیان پر خپل وطن لورېږي. کله کله به د خوب یوه نرۍ څپه هم راباندې راغله، خو زما عادت دی چې کله هم بهر تـــه لاړشـــم، نـــو کتابچه او قلم مې تیار پر ماشه سواره کړي وي، پر همغه وخـــت اکثـــره یادښتونه اخلم او ځینې هم حافظې ته سپارم، لس بجې او پنځه لـــس دقیقې وې چې د روسیې د پارلمان مشرانو جرگې ودانۍ ته ورســـېدو، ټول له موټر کښته شو او د مسوول مامور له خـــوا تـــر معمـــولي چـــک وروسته ودانۍ ته داخل شو، ډېره لویه او ښکلې ودانـــۍ وه، شـــل کـــم یوولس بجې وې چې مشرانو جرگې ته لاړو، هلته په یوه واړه هال کـــې چې نږدې پنځوس کسان په کې ځایېدل، کېناستو. هغه څوک چې تـــر موږ لږ څه دمخه ورغلي وو، هغوی د اوږده مېز ترشا پر تنظـــیم شـــویو

څوکیو کېناستل، نور پاتې کسان شاته پر نورو څوکیو کېناستل، زه هم شاته پر یوې وروستۍ څوکۍ کېناستم، خپل قلم او کتابچه مې د لیک لپاره تیار کړل. کله چې ټول پر خپلو ځایونو کېناستو، نو په پیل کــې د روسي هئیت له خوا افغاني هئیت ته هر کلی وویل شو. ویناوالو وویل: ((د روسیې فدراسیون له خوا تراوسه پورې داسې یو افغاني هئیت تــه هرکلی نه و ویل شوی، فکر کوم زموږ کار به مثمر وي، غواړم د روسیې هئیت غړي دروپېژنم.




زه (تورشین الکساندر پورفیرېوېچ) د روســیې فدراســیون مشــرانو جرګې لومړی معاون او له افغانستان سره د همکارۍ د کمېسیون غړی یم. زموږ دا بل ملګري (پاتیلیېف الېګ ایفګېنېویچ) د مشرانو جرګــې غړی او د افغانستان د کمېسیون معــاون دی، د دارالانشــا غــړي هــم تشریف لري، دا بل ملګری مې د نړیوالو اړیکو د کمېسیون رییس دی.

څرنګه چې اوس په شورا کې غونډه روانه ده، د شورا رییس غونډې ته خپل رپوټ وړاندې کوي، نو ځکه یې په نننۍ غونډه کې ګډون ونه کړای شو، زه غواړم پر دې خبره ټینګار وکړم، چې زموږ او افغانستان ترمنځ مناسبات ښه کېږي. زموږ مناسبات د ودې په حال کې دي، څرګنده خبره ده چې د فدراسیون شورا غواړي دا مناسبات نور هم پیاوړي شي، پخوا موږ له افغانستان سره ښه روابط درلودل، لوړې ژورې په کې تېرې شوې دي، شوروي اتحاد لومړنی هېواد و، چې د افغانستان استقلال یې په رسمیت وپېژنده، غواړو مناسبات مو صعودي حرکت وکړي. دوو ټکو ته غواړم اشاره وکړم:

په لومړي سر کې موږ په هېڅ وجه له دې سره موافق نه یو چې تروریزم له اسلام سره اړیکي لري، دا زموږ رسمي نظر دی، په روسیه کې زیات مسلمانان شته، روسیه هم له اسلامي هېوادونو څخه یو دی، ډېر زیات مسلمانان دلته اوسېږي، دا زموږ لپاره یو عنصر دی چې باید همېشه یې په پام کې ونیسو، زموږ موقف دا دی چې تروریستان کوم نظر لري، دا د هغوی خپل نظر دی.

بل نظر مو دا دی، چې خلک فکر کوي افغانستان له مخدره موادو سره تماس لري، په ځینو برخو کې کېدی شي سم وي، خو په ځینو برخو کې نه، زموږ لپاره افغانستان داسې یو هېواد دی چې موږ ته له څو اړخونو اهمیت لري: افغانستان په دولتمندۍ کې اوږده تجربه لري، د مخدره موادو ترڅنګ کېدی شي پر نورو برخو هم بحث وشي، که اروپا کې تقاضا نه وای، نو په افغانستان کې به کوکنار نه کرل کېدل. د پارلماني چارو په باب کېدی شي، بحث وکړو، تماسونه ورځ په ورځ زیاتېږي، سبا پترزبورګ ته یو بل مشترک هیئت هم راروان دی، په هغه

کې بېلابېل هئیتونه شامل دي. اوس ستاسې له هئیت څخه هیله کوم، چې خپل نظرونه واوروي او هیله لرم چې په مشخصو وړاندیزونو مشخصو نتیجو ته ورسېږو.))



د افغاني هئیت په استازۍ په پیل کې ښاغلي سیداسحق ګیلاني ته نوبت ورسېد، هغه خپلې خبرې داسې پیل کړې:

((زه له تاسې نه تشکر کوم. د خپلو ملګرو په اجازه، د افغانستان د مشرانو جرګې معاون حامدګیلاني باید راغلی وای، خو زه د هغه او خپلو ملګرو په نمایندګۍ خبرې کوم، زه د افغانستان په ولسي جرګه کې د بهرنیو اړیکو د کمېسیون غړی یم، زموږ دا اوسنی هئیت د ولسي جرګې او مشرانو جرګې له غړو او پوهانو څخه جوړ دی، زه ستاسو د خبرو په تائید په لنډیز سره وایم: موږ د روسیې او افغانستان روابط پر درېو برخو وېشو: لومړی پړاو د افغانستان خپلواکي په رسمیت پېژندل دي، دویم پړاو پر افغانستان د شوروي اتحاد حمله وه، دا هم زموږ لپاره یوه نه

هېرېدونکې رابطه ده او بل پړاو اوســنی پــړاو دی. افغانســتان خپلــو پخوانیو دوستانو ته په درنه سترګه ګوري، د هغو د روابطو هر کلی کوو، موږ هیله لرو روسیه د افغانستان د بیا ودانۍ په برخه کې ښــه برخــه واخلي. موږ د تروریزم ښکار شوي یو، د تروریزم مرکزونه په افغانستان کې نه شته، هغوی نه دین لري نه قانون، له تروریزم څخه زموږ هره مور په ژړا ده، موږ سولې ته اړتیا لرو، تروریســتان پایتخــت نــه لــري، کــه افغانستان یوازې پرېښودل شي، نو دا به د تروریزم مرکز شــي او ټــول ګاوندیان به ورسره په تکلیف شي، بل مشکل مخدره مــواد دي، کــرل کېږي په افغانستان کې خو ګټه یې نړیواله مافیا وړي، همدا مافیا ده چې



دا مواد نورې نړۍ ته صادروي، د هیروینو د جوړولو درمل له اروپا څخه افغانستان ته راوړل کېږي، له دې کسانو څخه څوک په دې ملکونو کې نه دي محاکمه شوي، خو تــور همېشــه پــر افغانــانو لګــول کېــږي، د دولتدارۍ په برخه کې یوه اندازه مشکل لرو، د انتخاباتو یــوه دوره مــو

تېره کړې ده، اوس د ټاکنو په درشل کې يو، زه هيله لرم زموږ خلکو ته دا حق ورکړای شي چې خپل برخليک په خپله وټـاکي، د افغانســتان خلک له لاسپوځو نظامونو څخه ستړي شوي، انتخاب د خلکو حق دی، نړيوال بايد د افغانانو دې حق ته قايل شي او دا حق ورته حاصل شي.)) د ګيلاني صيب خبرې همدلته پايته ورســېدلې، د غونــډې چلــوونکي وويل: ((ګيلاني صيب نه مننه. اوس زه هيله کوم چې يو تن له سناتورانو څخه او يو تن له علمي شخصيتونو څخه هم خبرې وکړي)) او دې سره يې زياته کړه: ((موږ ستاسو له تېزس سره موافق يو، موږ ښېخي تيار يــو افغانستان سره مرسته وکړو چې ډيموکراټيک بنستونه يــې پــه پښــو ودرېږي، لکه څنګه چې تاسې وويل، د نړۍ هېڅ هېواد د افغانستان پر خلکو د خپل نظر د تحميل حق نه لري؛ کابل نــه د واشــنګټن او نــه د مسکو لاسپوڅی دی، دا خپله د يوه مستقل هېواد مرکز دی، افغانــان خپله کولای شي پرېکړه وکړي، لومړۍ تجربه بريالۍ وه او دا تجربه بايد وغځول شي. زه د افغانستان د انتخاباتو پر قانون نه پــوهېږم خــو پــه مشترک المنافعو هېوادو کې د انتخاباتو متخصصين شته، کــه چېــرې ضرورت شي د انتخاباتو د شفافيت په باره کې به تاسې ســره مرســته وکړو. له تاسو نه ډېره مننه.)) پر دې وخت د روسيې لوري دې لوړپوړي چارواکي وويل: ((زه اوس د بل افغان هئيت د هرکلي لپاره هوايي ډګر ته ورځم، اوس خپل بل ملګري (پاتيليېف الېګ ايفګېنېويچ) تــه وخــت ورکوم، دی له افغانستان سره د روابطو د کمېسيون معاون دی.)) تر دې وروسته همدې معاون خبرې پيل کړې: ((ښاغلی ګيلانــي او د هئيــت درنو غړو! په روسيه کې په ډېر احترام ســره د روســيې او افغانســتان پخواني مناسبات يادېږي په تېره بيا اقتصادي پروژې، په روسيه کې په

**ادبي برخه کې (سلیمان لایق) او په پوځي برخه کې (احمدشاه مسعود) ته په ډېر قدرګوري، په پنځوسمو کلونو کې چې په غزني، خوست او نورو سیمو کې د لایق اثار د خلکو څومره خوښ دي، دلته هم د خلکو خوښېږي. د پارلمان د یوه غړي په توګه موږ کوښښ وکړ داسې یو ګروپ جوړ کړو چې د افغانستان له پارلمان سره خپل روابط ولري او روابط پراخ کړي. موږ ته د افغانستان دولتمندي او په تېره بیا د لویو جرګو جوړول ډېر په زړه پورې دي.**

**زه د هغه کمېسیون غړی یم چې د روسیې او تاجکستان د پارلمانونو ترمنځ جوړ شوی دی. دغه کمېسیون غواړي د دواړو پارلمانونو د انکشاف په برخه کې نور قوانین جوړ کړي، کېدی شي دا تاسو ته هم درکړو او تاسې ترې ممکنه ګټه واخلئ، تجربو داسې ښودلې ده چې د پارلمانونو ترمنځ د روابطو په نتیجه کې د ولسونو ترمنځ همکاري زیاتېږي او اقتصادي پرمختګ رامنځته کېږي. روسیه کولای شي د انرژۍ او اوبو د تنظیم او منابعو په برخه کې پانګه واچوي او له افغان ولس سره مرسته وکړي، مخکې یې هم په دې برخه کې کار کړی دی. زموږ او د منځنۍ اسیا د ځینو هېوادونو ترمنځ د ډله ییز امنیت یو تړون دی. غواړو په پارلماني برخه کې هم داسې یو تړون ولرو. له تاجکستان، قزاقستان او د منځنۍ اسیا له ځینو نورو هېوادونو سره د تروریزم پر ضد د همکارۍ تړون لرو. افغانستان او پاکستان کله کله په کې د ناظر په توګه ګډون کوي، غواړو د دې هېوادونو د پارلمانونو ترمنځ هم داسې یو تړون ولرو، چې دا هېوادونه یو بل سره همکاري وکړي. تر دې تړون وروسته موږ یو بل سره زیات پوځي تمرینات وکړل، د چین نظامي متخصصین هم حاضر دي چې موږ سره په دې برخه کې مرسته وکړي،**

په دې برخه کې یو بین المللي کمېسیون فعالیت کوي، هدف دا دی په پوځي برخه کې داسې یو نمونه یي قانون جوړ کړو چې یو بــل ســره د عاجلو خطرونو پر وخــت مرســته وکــړي. ســره لــه دې چــې اوس د تاجکستان پر پوله روسي قواوې نه شته، خو هلتــه امنیــت ښــه دی. وروستی وړاندیز دادی، که د دواړو هېوادونو د مشرانو جرګې له خوا یو کمېسیون جوړ شي چې دواړه هېوادونه یو بل سره همکاري وکړي، ګټور کار به وي. مخکې مې له خپل رییس سره خبرې وکړې، تاسو سره یې د خپلې همکارۍ ډاډ راکړ، افغانستان موږ ته ستراتیژیک ارزښت لري او زموږ پخوانی ملګری دی، افغانستان په سیمه کې ډېر اهمیت لري او موږ یې پر وړاندې بې تفاوته نه یو.))

ښاغلي سیداسحق ګیلاني بیا ورځخه مننه وکړه ویې ویل: ((تاســو یادونه وکړه (یون)، (لېوال) او (توتاخېل) هم زموږ مهمې ادبي څېرې دي او زموږ د تاریخ د ځلانده څېرو په توګــه یــادېږي، د یــو تــن نــوم مــو واخیست د دوی یادونه به زه وکړم، اوس یو بل ټکی یادوم: د افغانستان ولسي جرګه هم د پارلماني هئیتونو په ترکیــب کــې بــین الپارلمــاني هئیتونه لري، مشرانو جرګې هم دا کار کړی دی، افغانستان د ترکیې او پاکستان د پارلمانونو د بهرنیو اړیکو له کمیسیونونو سره رابطې ټینګې کړي، هیله لرم له نورو هېوادونو سره هم دا روابط پراخ شي.))

د ښاغلي ګیلاني په خبرو پسې په مشرانو جرګه کــې د پنجشــېر د خلکو استازی ښاغلي محمدعالم ایزدیار ته نوبت ورسېد، هغه د خپلو خبرو په پیل کې وویل: ((زه د افغانستان د مشرانو جرګې منشي صیب ته بلنه ورکوم چې په پیل کې خپلې خبرې وکړي.)) د مشرانو جرګــې منشي وویل: ((زه عبدالخالق حسیني یم، په مشرانو جرګه کې د لغمان

د خلکو منتخب استازی او د دې جرګې منشي. (۹۲) کاله کېږي چې د افغانستان او روسيې ترمنځ د دوستۍ تړون لاسلیک شوی دی. د تاریخ په اوږدو کې ډېرې لوړې ژورې لري، ډېر هئیتونه به تللي او راغلــي وي خو دا هئیت ډېر اهمیت لري، په دې وختونو کې روابط ساړه شوي باید دا روابط بېرته ګرم شي. زما ملګري بــه د تروریــزم، مخــدره مــوادو او پارلماني روابطو په باب نن خبرې وکړي. تروریزم یوه نړیواله پدیــده ده چې روسیه باید د هغې په له منځه وړلو کې مرسته وکړي، تروریستان



مسلمانان نه دي، هېڅ تړاو ورسره نه لري، موږ ډېر علاقه مند وو چې د نړیوالې ټولنې په راتګ سره به په افغانستان کې تروریزم ختم شي، خو ختم نه شو لا زیات شو، موږ له نړیوالې ټولنې څخه په کلکه غوښــتنه کوو، چې د دې پدیدې مخه ونیسي، د مخدره موادو په برخه کې هم د نورې همکارۍ غوښتونکي یو. د پخواني شوروي اتحاد د همکارۍ یــوه ښه بېلګه د ننګرهار لوی کانال او د درونټې بند دی، چې د خلکو لپاره يې اوس هم یو سالم مصروفیت برابر کړی دی.

اوس دا کانال خراب شوی، زه هیله لرم د روسیې د مرستې په نتیجه کې دا کانال بېرته جوړ شي. دغه راز د لویو لارو جوړول، د کابل مرکزي سیلو، پولیتختنیک او نورو برخو کې هم همکارۍ ته اړتیا شته، د کورونو جوړولو فابریکه هم له منځه تللې، دا فابریکه هم باید بیا ورغول شي، د روابطو جوړول او د پارلمانونو نږدې کول پر حکومتونو تاثیر لري، زموږ د هئیتونو تګ راتګ به ملتونه نور هم نږدې کړي، د روسیې هېواد بایــد اخلاقاً زموږ د هېواد په بیا جوړونه کې همکاري وکړي، د کمیسیونونو یا په پارلمانونو کې د دوستۍ د کمېټو ایجادول یو ښه ګام دی، د قوانینو په برخه کې زما وړاندیز دادی، چې د مشرانو جرګې د جوړښت په باب موږ ته یوه یوه کاپي معلومات راکړئ چې موږ ترې ګټه پورته کړو.))

د حسیني صیب خبرې چې دې حد ته ورسېدې نو په مشرانو جرګه کې د پنجشېر د خلکو استازي ښاغلي محمدعالم ایزدیار خپلې خبرې پیل کړې، هغه وویل: ((زه خوښ یم چې دروسیې فــدراتیف د مشــرانو جرګې له هئیت سره راته د خبرو اترو زمینه مســاعده شــوه. مهمــې مسلې حسیني صیب او اغا صیب (ګیلاني صیب) یادې کړې، زه غواړم یو څو ټکو ته اشاره وکړم: لومړی له روسي لوري مننه کوم چې تروریزم یې له اسلام سره ونه تړه او مخدره مواد یې له افغانستان سره ونه تړل، دا چې ادبي شخصیت لایق صیب او ((ملي اتل)) احمدشاه مسعود یې د تروریزم قرباني شوی، یاد کړل، مننه کوم.

د تروریزم پر ضد باید یوه منطقه یــي همــاهنګي رامنځتــه شــي، د پارلمانونو ترمنځ د اړیکو د پراختیا غوښتونکي یــو. مــوږ د روســیې د پارلمان یو لېست ترلاسه کړ، موږ هم یو لېست درلېږلی، خو تراوسه یې درک نه شته، پارلماني روابط ښه دي.))

د ایزدیار صیب خبرې همدلته پای ته ورسېدې، موږ یو څو تنه باید یو بل ځای ته د مطبوعاتي کنفرانس لپاره تللي وای، د اغا صیب او حسیني په خبرو کې مې هڅه کوله چې کومه وقفه پیداکړم او له غونډې اجازه واخلم، خو موقع برابره نه شوه، کله چې ایزدیار صیب خپلو خبـرو تـه ټکی کېښوده، نو په همدې ترخ کې له خپلې څـوکۍ پورتـه شـوم، د غونډې له چلوونکي او برخوالو مې اجازه واخیسته، ما وویل: ((موږ څو تنه یو مطبوعاتي کنفرانس ته روان یو، هغه ته د اجازې ترڅنګ د یو دوه جملو اجازه هم غواړم او هغه دا چې مخکې د غونډې ښاغلي چلوونکي وویل: دا حقیقت موږ ته معلوم دی چې تروریزم له اسلام او مخدره مواد له افغانستان سره هېڅ رابطه نه لـري. دا ښـه خبـره ده چـې دوی دا حقیقت منلی خو یو بل حقیقت هم باید ومني چې طالبان لـه پښـتنو سره هېڅ رابطه نه لري، نه طالبان پښتانه دي او نه پښتانه طالبان، ځکه چې طالبانو پښتنو ته دومره زیانونه اړولي چې شمېر یې نه کېږي، نو یو څوک چې د یو قوم د تباهۍ سبب کېږي، هغه قوم باید هغه سـره پـه رابطه تورن او محکوم نه شي، هیله لرم چې روسي چارواکي دا حقیقت هم ومني!)) زما خبرې د روسیې فدراتیف د مشرانو جرګې د غړي او د دې غونډې پر چلوونکي ډېرې ښې ولګېدې، په شونډو کې موسکی شو، ویې ویل: ((دا هم یو حقیقت دی، رښتیا هم پښتانه طالبان نـه دي، د طالبانو له لاسه پښتانه ډېر کړېدلي دي، پښتانه د زغم او اوسپلې خلک دي.)) د دوی بحث دوام پیدا کړ، خو زه (یون)، نادرخان کتوازی محمد

عالم ایزدیار او ډاکتر برهان شینواری ترې په مطبوعاتي کنفرانس کې د ګډون لپاره راووتو.

کله چې له غونډې راووتو، نو ایزدیار صیب راته په دهلېز کې وویــل: ((بســیار ســوال برجــا و مهــم رامطــرح کــردی، واقعــاً همینطــور




است پشتونها از دست طالبها بسیار رنج دیده.)) خو کله چــې مــوږ د شپې مېلمستون ته لاړو، نو اکثرو دوستانو بیا راته وویل: ((تاسو چــې مطبوعاتي کنفرانس ته لاړئ، نو زموږ په غونډه کې پر دې موضوع ډېــر زیات بحث وشو.))

# له انټرفاكس سره په خبري كنفرانس كې ګډون

كله چې د مشرانو جرګې له غونډې څخه راووتو، نو په يوه ځانګړي كرولا ډوله موټر كې د مطبوعاتي كنفرانس پر لوري وخوځېدو، لس پنځه لس دقيقې وروسته د كنفرانس ځای ته ورسېدو، دا په روسيې كې د يوه مشهور خبري اژانس (انټرفاكس) مركزي دفتر و، درېيم پوړ كې يوه هال ته پورته شو، د روسيې او په روسيه كې د نورو بهرنيو رسنيو ګڼ شمېر خبريالان ورته راغلي وو. هال په تخنيكي وسايلو سمبال و، د شپېتو- اوياوو كسانو د ځايونې وړتيا يې لرله، د ستېج پر سر اوږد مېز ايښودل شوی و، موږ څلور تنه افغانان، د روسيې د وګړپوهنې د انسـتيتيوت مرستيال (سېرافيم مېلېنتېف) چې د دې خبري كنفرانس د جوړولـو چارې يې سمبال كړې وې او همدارنګه له موږ سره مل روسی- پښتو- دري ژباړن ښاغلي الكساندر د مېـز ترشا پر تنظيم شويو څوكيو كېناستو، د هر چا مخې ته د هغه نوم او عنوان ليكل شوی و.



پـه پيـل كـې د دې مطبوعـاتي كنفرانس تنظيمـوونكي (سـېرافيم مېلېنتېف) خبرې وكړې، هغه وويل: ((افغانستان د نړيوالو اعصابو مركـز دی چې په درد يې ټول جهان نارامه دی، ځينې هېوادونه افغانستان ته

زړه کې پاک نه دي. د روسیې او افغانستان ترمنځ باید ډیـالوګ د دوو مستقلو هېوادونو ترمنځ ډیالوګ وي. سبا ته په پرزېډنټ (د جمهـوري ریاست) هوټل کې یوه لویه جرګه افتتاح کېږي، د افغانستان له خوا به د جمهور رییس مرستیال کریم خلیلي او ځینې وزیران ګډون کوي، پـه جرګه کې د مې د یوولسمې نېټې هئیت هم برخه اخلــي، د روســیې د فدراسیون له خوا د صدارت مرستیال، د بهرنیو چارو وزیر، د مشرانو او ولسي جرګو رییسان برخه اخلي. اقتصادي، کلتوري او بشري اړیکي د دې جرګې موضوع ده. د اپوراتیفي او امنیتي مسایلو په بـاب بـه هــم خبرې وي. دې او څو نورو لنډو خبرو پسې یې موږ ته نوبت راکړ چې د افغانستان او روســیې د روابطــو او همدارنګه د خپل سفر په باب لنډه رڼا واچوو: په پیل کې ډاکتر صــیب برهان الله شینواري ته نوبت ورکــړ شو چې خبرې وکړي، هغــه وویــل: ((لومړی خو زه له هغو کسانو څخه مننه کوم چې د دې موقع یې برابره کړه مسکو ته دومره لــوی افغــاني




هئیت راشي، بې له شکه دا ډول هئیتونه د دوو ملتونو ترمنځ روابط ډېر ښه کولای شي. د بېلابېلو دلایلو په وجه د روسیې او افغانستان ترمنځ فاصله زیاته شوې ده، موږ هیله لرو دا فاصله له منځه لاړه شي. موږ یو جګړه ځپلی هېواد یو، روسیه یو لوی هېواد دی، موږ هیله لرو روسیه د افغانستان په بیارغونه کې هر اړخیزه ونډه واخلي.))





ايزديار صيب هم د ځـان تـر معرفـــــیٔ وروســـــته وويـــــل: ((افغانستان اوس په داسې يـو حالت کې دی چې د روسيې په شمول د هر هېواد مرستې تـه اړتيا لري. افغانستان تـه اوس د نړيــوالې ټــولنې زيـات پـام را اوښتی او د همدې توجه له امله افغانستان کې اوس يو لړ پرمختګونه رامنځته شوي، موږ هيله من يو د روسيې او افغانستان مناســبات پيــاوړي شـــي، دا مناســبات د دواړو هېوادونو په ګټه دي.))




ورپسې زما (يون) نوبت ورســېد: ما وويل: ((ځينې شيان د بشر ګـډ ضرورت او ګــډه پانګــه وي. علــم، کلتور او ادبيات د ټــول بشــر ګــډه شـــــــتمني ده، تولســــــــتوی، داستافېســـــــکی، شــــــولوخوف، لرمنتـــوف، ايتمـــاتيف، ګـــورکي، پوشکين، چخوف او نورو داسې پانګه بشر ته وړاندې کړې چې ټول ترې خوند او ګټه اخيستلای شي، دوی د جغرافيايي، مذهبي او قومي پولو له حدودو وتلي دي، دغسې سوله هم د ټول بشريت ضرورت دی، کلونــه کېږي چې زموږ هېواد په جګړه کې راګير دی، د دې جګړې دروند زيان لومړی افغانانو بيا روسانو او بيا نورې نړۍ ته ورسېد. نو اوس که بيا هم

زمونږ په هېواد کې جګړه دوام ومومي، دې کې شک نه شته چې مونږ به ډېر زیانمن شو، خو د نړۍ نور هېوادونه او ولسونه هم له دې زیانــه پــه امن کې پاتې کېدی نه شي، مونږ فکر کوو چې ښه به وي تاریخي بــدې پېښې د تاریخ قضاوت ته وسپارو او له هغو څخه د راتلونکي ســوکالۍ لپاره د عبرت دیوې ښې وسیلې په توګه کار واخلو؛ د نویو او ښو روابطو په فکر کې شو.))

په ماپسې د ښاغلي نادرخان کتوازي نوبت و، هغه وویل: ((زه هــم د خپلو ملګرو خبرې تائیدوم، مونږ تــر هر چا زیاته د جګړې مزه څکلې ده، زمونږ هېواد ټوک ټوک دی، مونږ د هر چا مرستې ته اړتیا لرو، که مــونږ پــه تېــرو خبــرو پســې وګرځــو، د دې پرځای چې دښمني زیاته کړو، نــور څه نه شو ترلاسه کولای، نو ښه به دا وي چې یو بــل درک کــړو، زمــونږ د هئیت د سفر هدف هم دادی چې دواړه هېوادونه او دواړه ملتونه سره نږدې کړو.))




تر دې لومړنیو خبرو وروسته د پوښتنو او ځوابونو وخت راورسېد، تر ټولو دمخه یو ژورنالیست له ښاغلي کتوازي څخه داسې پوښتنه وکړه:

د کوم ولایت یې په قوم څوک یې؟

کتوازي صیب ورتــه وویــل: ((زه د پکتیکــا ولایــت یــم، پــه قــوم سلیمانخېل او د افغانستان په ولسي جرګــه کــې د پکتیکــا د خلکــو استازی یم.))

**ژورنالیست بیا وپوښتل: په پکتیکا ولایت کې مرکزي حکومت څو فیصده واکمن دی؟**

**کتوازي صیب وویل:** ((د پکتیکا په ټولو ولسوالیو کې مرکزي حکومت شته، یوه ولسوالی هم د مخالفینو په لاس کې نه ده، خو دا په دې مانا نه ده چې هلته مخالفین نه شته، ځینې ساحې داسې دي چې هلته نه حکومتي عسکر همېشه وي او نه هم مخالفین، په پکتیکا کې اکثره کارونه په ولسي وندې او جرګه ترسره کېږي، قومي مشران هلته ډېر مهم رول لري.))

**ورپسې په روسیه کې یوې مېشتې افغان ژورنالېستې له ایزدیار صیب څخه پوښتنه وکړه: تاسې څو موده مخکې هم یو کنفرانس ته راغلي وئ، د هغه او دې کنفرانس ترمنځ توپیر څه دی؟ دا به څه موثریت ولري؟**

**ایزدیار صیب:** ((کنفرانسونه او دا ډول غونډې طبعاً د دوو هېوادونو پر اړیکو مثبت تاثیر لري. اوس چې کوم افغاني هئیت راغلی، دا یو لوی هئیت دی، په دې کې د دولت، ملي شورا او مدني ټولنې استازي شامل دي، زه فکر کوم موثریت به یې زیات وي.))

**خبریالې بله پوښتنه وکړه: په کنفرانس کې به کوم توافقات یا پرېکړه لیک لاسلیک شي؟**

**ایزدیار صیب:** ((پر بېلابېلو مسایلو بحث کېږي، کېدی شي په پای کې یو پرېکړه لیک صادر شي.))

**یو بل ژورنالېست له شینواري صیب څخه پوښتنه وکړه: د کوکنارو کښت په سلو کې (۴۰) پورته شوی، څه باید وشي، روسیه په دې برخه کې څه کولای شي؟**

**ډاکتر صیب برهان الله شینواري ځواب ورکړ:** ((په کومه سیمه کې چې امنیت خراب شوی، هلته کوکنار کرل کېږي، د افغانستان په (۲۴)

ولایتونو کې کوکنار صفر شوي دي. روسیه او نور ګاونډي هېوادونه باید د مخدره توکو د انتقال د مخنیوي په برخه کې مرسته وکړي.))

یو ژورنالېست له ما (یون) څخه وپوښتل: روسیه باید په اقتصــادي برخه کې له افغانستان سره څه وکړي؟

ځواب: ((د روسیې او پخواني شوروي اتحاد متخصصینو د پخــواني شوروي اتحاد پرمهال په افغانستان کې (۱۴۲) لویې او متوسطې پروژې جوړې کړې وې چې په مجموعي ډول یې د افغانستان د دولتي اقتصاد په سلو کې (۶۰-۸۰) برخه جوړوله، دا پروژې اکثره د نویمو کلونو په بهیر کې یا په بشپړ ډول او یا په نیمه ډول له کاره وغورځېدلې، لــه روســي متخصصینو پرته دا پروژې نورڅوک نه شي رغولای، نو که چېرې روسیه دا پروژې له سره ورغوي، د افغانستان اقتصاد ته به ډېــره زیاتــه ګټــه ورسوي.))

یو بل روسي ژورنالیست له کتوازي څخه بله پوښتنه وکړه: طالبــانو سره مذاکره یا ډیالوګ په ګټه دی، که په زیان؟

کتوازي صیب وویل: ((په افغانستان کې دا خبره موږ ټولو ته واضح ده چې په جنګ مسایل نه حلېږي، د پخواني شوروي اتحاد د قــواوو پــه شتوالي کې جګړې نتیجه ورنه کړه، اوس هم جګړه نتیجه نه ورکوي، که طالبانو سره خبرې وشي، سولې ته لاره اواره شي، ښه به وي، د ولــس مشران په دې ډول مذاکراتو کې ډېر موثر نقش لوبولای شي.))

همدې سره دا خبري کنفرانس په رسمي ډول پایته ورسېد، کله چې له ستېج څخه راکښته کېدو، نو یو روسي ژورنالېست چې پــه ایرانــۍ لهجه (ایراني فارسي) یې خبرې کولې او غالباً چې ایران کې یــې ډېــر وخت تېر کړی او فارسي ژبه یې هم هلته زده کړې وه، وویل: یــوه بلــه پوښتنه لرم، کتوازي صیب ته یې اشاره وکړه: په افغانستان کې د بهرنیو

ځواکونو شتوالی ایران ته خطر نه دی ایا ستاسو له خاورې به پر ایــران حمله ونه شي، تاسې د دې برید د مخنیوي تضمین کولای شئ؟

ما (یون) ورته په ځواب کې وویل: ((ایا د ایران له خوا افغانستان تــه خطر نه شته! که ایران پر افغانستان حمله وکړي نــو څــوک بــه یــې د مخنیوي تضمین وکړي؟))

ژورنالېست وویل: زه غواړم کتوازی ځواب راکړي. ما ورته وویل: ((زما او د هغه ځواب یو شان دی.)) کتوازي صیب هم په خندا ورتــه وویــل: ((رښتیا وایي زما او دده نظر یــو شــان دی.)) همــدې ســره د خبــري کنفرانس له هاله راووتو.

# یوه غرمنۍ په کباب فیستوال هوټل کې

په مطبوعاتي کنفرانس کې تر ګډون وروسته د مسکو ښار په زړه کې کباب فیستوال هوټل ته دعوت شو، دا د ازبکانو یو هوټل




و، چې هر ډول کبابونه یې پخول. ډوډۍ یې له افغاني غذا سره ډېره نږدې وه. د پوهنې وزارت مرستیال محمدصدیق پتمن، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال غلام نبي فراهي، د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې وزارت وزیر جنرال خدایداد هزاره، هم په دې غرمنۍ کې ګډون درلود، ډوډۍ یې ښه پاکه او زموږ افغانانو پر مزاج برابره وه، د ډوډۍ د پای په شېبو کې وو او ځینې لا نیم ماړه شوي هم نه وو، چې د جمهور رییس د مرستیال ښاغلي کریم خلیلي له خوا احوال راغی؛ هغې غونډې




**ته باید ټول لاړ شو چې د روسیې  د مخدره موادو د کنټرول په اداره کې جوړېدونکې وه. ټول په موټر کې کېناستو او د دې ادارې پر لــوري مــو حرکت وکړ.**

# د مخدره موادو د کنټرول اداره کې غونډه

لس کم درې بجې مو له کباب فیستوال هوټل څخه د روسیې د مخدره موادو د کنټرول ادارې پر لوري حرکت وکړ، په لاره کې د ښار له بېلابېلو واټونو څخه تېر شو، له هر واټ څخه چې




تېرېدلو، نو ښاغلي عبدالله خان راته د هغو ودانیو په باب لنډ لنډ معلومات راکول چې په لاره کې مخې ته راتللې. کله چې کرېملین ماڼۍ ته له ورڅېرمه واټه تېرېدلو، نو د کرېملین پر ماڼیو او د کلا پر لوی دېوال مو سترګې ولګېدې. ښاغلي عبدالله د کرېملین د کلا د دېوال په باب وویل: ((د کرېملین ماڼۍ خښتې له هګیو او ایرو څخه جوړې شوې دي، دا دېوال ډېر اوږد عمر لري ، جمهوري ریاست هم په دې ودانۍ کې دی.)) تر ودانۍ چې تېر شو، هلته لږ څه وړاندې یوه بله دنګه او لوکسه ماڼۍ ښکارېدله، ښاغلي عبدالله وویل: دا د (کې جي بي) ماڼۍ ده، د دې سازمان مرکزي دفتر په همدې ودانۍ کې دی، له دې ودانۍ څخه یې تر کرېملین ماڼۍ پورې تر ځمکې لاندې یو سړک کښلی دی، چې یو موټر

په کې حرکت کولای شي، د( کې جي بي) په ودانۍ کې داسې بېلابېلې لارې شته چې کشفول او پيداکول يې اسانه کار نه دی.))

په همدې ترڅ کې عبدالله وويل: ((بله ورځ که تاسې وخت درلود، بايد د مسکو ميټرو وګورو، د مسکو ميټرو په نړۍ کې ډېر نوم لري، په هــره دقيقه کې يو اورګاډی راځي، په هر ګاډي کې اته واګونونه وي او په هر واګون کې دوه سوه کسان ځايېږي. دا ميټرو په ځينو ځايونو کــې پــه ځمکه کې تر دوو سوو مترو لاندې غځېدلې ده.))

درې بجې او شل دقيقې وې چې د مخــدره مــوادو ادارې د ودانــۍ درېيم پوړ ته پورته شو، سملاسي بحث پيل شو، د افغــاني هئيــت پــه مشرتابه کې د جمهور رييس مرستيال کريم خليلي، د مخدره توکو پــر ضد د مبارزې وزير جنرال خدايداد هزاره، د پــوهنې وزارت مرســتيال محمدصديق پتمن، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستيال ښاغلی غــلام نبي فراهي، سيد انور رحمتي د ښاغلي کريم خليلي د دفتــر ريــيس، ډاکتر حسن جان فضل د ښاغلي خليلي مشاور، احمد بهرام د ښاغلي کريم خليلي سکرتر او همدارنګه د ښاغلي خليلي له دفتر څخه اميــر حسين حسيني او د هغه عکاس محمد هادي احمدي او يو شمېر نورو مخورو افغانانو ګډون درلود. د روسيې له خوا لومړی د مخدره موادو د ادارې مرستيال د نن ورځې د غونډې اجنډا تشريح کړه، ژباړه د روسي ژباړوونکو له خوا ترسره کېدله. ويې ويل: ((د نن ورځې خبــرې پــر دې ډول تقسيم بندي شوي دي: مخدره مــواد او جيوپولتيــک، د مخــدره موادو مشکل زموږ ګډ مشکل دی بايد په ګډه يې خنثی کړو.

دا اداره د مخدره موادو پروړاندې د دولتي چارو همغږۍ لپاره جوړه شوې ده. زموږ فعاليتونه د دې موادو پر وړاندې ورځ پر ورځ زياتېږي.




موږ د مخدره موادو توليداتو ته ځانګړې نښې ورکړې دي، دا سمبولونه چې موږ ټاکلي، ځايونه يې اکثره په افغانستان کې واقع دي، له دې معلوماتو څخه زموږ هدف دادی، چې ځينې دا معلومات امريکا ته هم ولېږو، له دې سيمو څخه ځينې يې د افغاني پوځونو د واک له ساحې څخه بهر دي.

ښاغلی کريم خليلي او ښاغلی جنرال خدايداد صيب! غواړم په اينده کې د مشترک کار له مخې د مخدره موادو په اړه معلومات تاسو سره شريک کړم. موږ او افغانستان دواړه د دې پديدې قربانيان يو، زموږ سوچ دادی چې د مخدره موادو توليدونکي اکثره د امريکايانو د واک تر ساحې لاندې دي. عجيبه خبره داده چې د ناټو د قطعاتو له زياتېدو سره مخدره مواد هم زياتېږي. د روسيې د حکومت رييس تېره يکشنبه جاپاني خپرونو سره په مرکه کې څرګنده کړه، چې د نړيوالو قوتونو شتوالی د مخدره موادو ضد مبارزه کې کم تاثير لري. هم روسيې او هم




افغانستان ته څرګنده ده چې له اقتصادي پیاوړتیا پرته مخدره مواد نه شي کنټرولېدلای، موږ پوره امکانات لرو او د ګډې همکارۍ په واسطه کولای شو دا مواد له منځه یوسو. روسیه له افغانستان سره د همکارۍ تجربه لري. په تېرو کلونو کې (۱۴۲) پروژې په افغانستان کې ابادې شوې دي، دا د روسیې او افغانستان د انجنیرانو له خوا جوړې شوې دي. د جلال اباد کانال، پلخمري، سالنګ، پولیتخنیک، د مزار د سرې فابریکې او نورې پروژې یې ښه مثالونه دي. په روسیه کې (پنځوس زره) افغان متخصصین روزل شوي، چې د افغاني امکاناتو (۶۰) سلنه جوړوي. خو بیا هم دا کفایت نه کوي، د سوداګریزې تبادلې کچه ټیټه ده اوس مشترک کارونه کم دي. هیله ده دا هئیت د راتلونکو مناسباتو په برخه کې ښه رول ادا کړي.))

دې خبرو پسې يې د افغانستان په استازۍ د جمهور رييس مرستيال ښاغلي کريم خليلي ته نوبت ورکړ چې خپلې خبرې وکړي، کريم خليلي د خپلو خبرو په پيل کې وويل:

((وزير صيب، معين صاحبانو، وکيل صاحبانو او د روسيې لــوري لــه قدرمن هئيت څخه ډېره مننه کوم چې زموږ گــرم هرکلــی يــې وکــړ. افغانستان او روسيه اوس د خپلو روابطو نوي (۹۰) کاله پوره کوي، لکه څنگه چې تاسې وفرمايل موږ ډېر اوږده روابط درلودل، طبيعي خبره ده چې لوړې ژورې مو هم درلودې، خو خوښ يو چې يو نوی فصل په کــې پرانيزو، موږ د روسيې حمايتي او کمکي سياســتونه تائيــدوو او مننــه ورڅخه کوو، اوږدې خبرې نه کوم د نن ورځې اجنډا ( مخدره موادو) ته راځم:

موږ به د خپل هېواد ليد هم تاسو تــه در ورســوو، دا پديــده هــم د تروريزم په شان يوه پديده ده چې له بهره د افغانستان پر خلکــو تپــل شوې ده. د مخدره موادو نړيواله مافيا او په خپله تروريزم د افغانستان د خلکو له فقر څخه ناوړه گټه پورته کوي، د افغانستان د بزگرانو تــرمنځ يې دا پديده تر يوه حده دود کړې ده، دا پديده د مخدره موادو د نړيوالې مافيا او نړيوال تروريزم له خوا ملاتړ شوې ده، ډېره گټه ترې هم همــدا نړيوال تروريزم او د مخدره موادو مافيا کوي، خو بدنامي او مشکلات يې زموږ خلکو ته پاتې کېږي. موږ همېشه ويلي چې له دې موادو څخه تــر هېواده دباندې گټه پورته کېږي، نو نړيواله همکاري په کــار ده چــې دا پديده کنټرول شي. اوس بيا وايم چې نړيواله ټولنه او زموږ سيمه ييــز دوستان دې راشي او زموږ له خلکو سره دې په دې برخه کې مرســته وکړي. څرنگه چې د تروريزم پر ضد يوه نړيواله جگړه پيل شوې، دغسې

د دې پدیدې پر ضد هم داسې یوه نړیواله مبارزه په کار ده. د افغانستان د خلکو له فقر څخه ناوړه ګټه پورته کېږي، دلته کرل کېږي، خو ترافیک يې بل ځوک کوي او نړیوالو مارکېټونو ته يې بل ځوک رسوي. موږ لــه ټولې نړۍ، ګاونډیانو، په تېره د روسیې فدراتیف څخه چې په دې برخه کې ډېر نقش لري، هیله کوو له موږ سره همکاري وکړي. موږ له دوست هېواد روسیې څخه مننه کوو چې تراوسه يې موږ سره ښه روابط لرلي دي. افغانستان ته د (۵۰) پولیسو روزل یو ښه ګام و، موږ لــه نړیــوالې ټولنې او سترو هېوادونو څخه د زیاتې مرستې هیله لرله خو تراوسه لا ورته انتظار یو. دولت د خپلو تګلارو له مخې چې تاسې پرې پوهېږئ، د مخدره موادو پر ضد مهم ګامونه پورته کړي دي.

موږ په (۲۲) ولایتونو کې د کوکنارو کښت په بشپړ ډول صفر کــړی دی. د کوکنارو تولید د ټول هېواد په کچه په سلو کې (۲۰-۳۰) راټیــټ شوی دی. هغه ساحې چې زموږ په واک کې دي هلته په بشپړ ډول لــه منځه وړل شوي دي، خو ځینې سیمې دي چې هلته امن نه شــته، نــو ځکه کوکنار په کې کرل کېږي. د تروریزم د تمویل یوه سرچینه مخدره مواد دي، دا یو څرګند حقیقت دی، چې دا د یو بل د بقا متضــمن دي. موږ تاسې ته په صراحت سره وایو چې د دې پدیدې پر ضد زموږ مبارزه ډېره شدیده ده. موږ هیله من یو دوست هېواد روسیه چې په دې برخه کې زیات امکانات لري، موږ سره مرسته وکړي چې دا پدیده له منځــه یوسو. یو ځل بیا ستاسو له هرکلي مننه.))




وړېسې د روسیې د امنیت شورا مرستیال خپلې خبرې پیل کړې، هغه وویل: ((تاسو ته یو ځل بیا هر کلی وایم، زه ډېر خوشاله یم چې د دواړو هېوادونو تاریخي روابطو ته اشاره وشوه، موږ به په اینده کې یو بل سره همکاري کوو، موږ مخکې هم غوښتل یو ښه ګاونډی ولرو، ځکه نو زموږ جمهور رییس او ټول کوښښ کوو چې افغانستان سره مرسته وکړو.

د مارچ پر (۲۷) مه نېټه د شانګهای سازمان له خوا یو کنفرانس جوړ شوی و، په دې کنفرانس کې د مخدره موادو پرضد یوه مشترکه اعلامیه خپره شوه، موږ دا خبرې تائیدوو چې تروریزم او مخدره مواد یو بل سره اړیکي لري، دواړه داسې بدمرغۍ راپیداکوي چې په دې (۲۱) مه پېړۍ کې نړۍ ورسره لاس و ګرېوان ده. څوک چې د مخدره مــوادو کاروبــار کوي، کلني عایدات یې (۴۰۰) ملیونه ډالر دي. اوس دا یوه نړیواله پدیده ده چې سیاسي تاثیرات هم لري، د روسیې او افغانستان پر روابطو هم منفي تاثیر کوي. موږ فکر کوو چې د بهرنیو قطعاتو شتوالی او ځینې نور مسایل له همدې پدیدې سره ارتباط لري، د دې پدیدې پر وړاندې باید د افغانستان له ملي زېرمې څخه کار واخیستل شي. تاسو څرګنده کــړه

چې په دې برخه کې باید د نړیوالو او روسیې مرستې راجلب شي. موږ باید له څو لارو یو بل سره همکاري وکړو: د معلوماتو شریکول، د تجربو تبادله او داسې نور. زه د خپل دفتر په استازۍ تاسو سره لوز کوم چــې موږ به خپلو مرستو ته دوام ورکوو.

د جمهور رییس له لارښوونې سره سم به په راتلونکي کې د امنیــت شورا جلسه دایره شي.)) د روسیې د امنیت شورا د مرستیال تر خبرو وروسته د افغانستان مخدره موادو پر وړاندې د مبــارزې وزارت وزیــر ښاغلي جنرال خدایداد هزاره ته د خبرو بلنه ورکړل شوه، هغه خپلــې خبرې داسې پیل کړې:

((د روسیې د مخدره موادو د کنټرول ادارې د رییسه هئیت او نــورو ټولو برخوالو په اجازه!

زه ډېرې خبرې نه کوم، تر ما مخکې ډېرې عالمانه خبرې وشوې، زه غواړم څو خبرو ته اشاره وکړم: د کوکنــارو کښــت پــه سیاســي ډول رامنځته شوی او له بهره راغلې یوه پدیده ده. د افغانستان دولت د دې پدیدې په له منځه وړلو کې خپله دنده ترسره کړې ده، اوس پــه (۲۲) ولایتونو کې صفر شوي دي. پر (۲۰۰۹ م) کال به په (۲۶) ولایتونو کــې صفر شي، دا د افغانستان د خلکو خپله لاسته راوړنه ده، نړیوالې ټولنې په دې برخه کې لازمه مرسته نه ده کړې.

باید ووایم چې د ګاونډیو هېوادونو او نړیوالې ټولنې له مرستې پرته د دې موادو کنټرول سخت دی. اوس له درېو لارو دا مواد نورې نــړۍ تــه انتقالېږي: د مرکزي اسیا، ایران او پاکستان له لارې. لــه تاجکســتان، ازبکستان او ترکمنستان څخه روسیې ته او بیا له هغه ځایــه ختیــزې

اروپا ته انتقالېږي. موږ هغه وخت کولای شو دا پدیده له منځه یوسو چې یو بل سره همکاري وکړو.))

سره له دې چې جنرال صیب خدایداد هزاره په پیل کې وویـل: ((زه زیاتې خبرې نه کوم))، خو ده او د روسیې د مخدره موادو د کمېټې یو استازي دومره اوږدې خبرې وکړې چې خلک یې د عوامو په اصطلاح تر پوزې راوستل، ما باندې خو څو ځله د خوب څپه راغله، نورو برخوالو ته مې چې کتل، ځینې نور هم د خوب په ټال زنګېدل، زه یو دوه ځلــه د تشناب په پلمه دهلېز ته ووتم چې خوب مې والوزي او یادښت لیکلو ته لږ وس پیداکړم، خو دهلېز کې هم چندان ځای نه و، بېرته چې به راغلم، بیا به هم تکراري خبرې وې، نو ځکه خو مې هېڅ یادښت نه کړې. تــر دې وروسته د افغانستان د مشرانو جرګې غــړي ښــاغلي محمــدعالم ایزدیار صیب ته نوبت ورسېد. هغه نو فکر کوم مخکې له کابله ځان سره یوه اوږده لیکلې مقاله راوړې وه، هغه یې پیل کړه، هغه نو دومره اوږده وه چې له ورایه د غونډې په برخوالو کې د ناراحتۍ احساس څرګند شو. په دې ډول سیمینارونو، غونډو او کنفرانسونو کې ترمخه لیکل شــویو بیانیو او لیکنو یوه ستونزه همدا وي چې اکثره خبرې یې تکراري خبرې او ترده دمخه ویناوال اکثره هغه په خپلو خبرو کې مطرح کړې وي، نو څرنګه چې ویناوال د کاغذ له مخې خپلې خبرې کوي، نو دی نه شــي کولای په اسانۍ سره خپلې خبرې لنډې کړي او تکــراري برخــه تــرې وباسي، په تېره بیا لا دا چې یوه کاپي یې ژباړوونکي ته هم ورکړې وي او هغه مخکې تر مخکې ژباړلې هم وي، نو که په داسې حالت کې ویناوال ځینې برخې حذف هم کړي، ژباړونکي ته اسانه نه وي چې همغې برخې ته ژر لاړ شي، نو په دې ډول د ویناوال او ژباړونکي ترمنځ ډېر واټن پیدا

کېږي. د ایزدیار صیب لیکنه هم متحدالمال معلومات او تشــریحات وو چې ټولو ته ستړي کوونکې تمامه شوه، فکر کوم ایزدیار صیب خپله هم پوه شو نو ژر ژر يې لوستله چې مقصد خلاصه شي، نــه یــوازې خپلــه لیکنه يې اوږده وه، بلکې ژباړه يې هم ستړې کوونکې وه. تــر ایزدیــار صیب  وروسته په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازي ښــاغلي ببرک شینواري نوبت واخیست، که څه هم د شینواري صــیب خبــرې ډېرې بې ربطه نه وې او د کوکنارو د کښت په اړه يې مســلکي دلایــل درلودل خو څرنګه چې خلک ډېر ستړي شوي وو، نو هره اضافي خبره لکه د توپ د مرمۍ په څېر پر خلکو لګېدله. د شینواري صیب له خبرو څخه یوه دا وه: ((زه له هغې سیمې څخــه یــم چــې لــه (۱۵۰) کلونــو راهیسې په کې کوکنار کرل کېږي او له دې سیمې څخه بیا د افغانستان نورو سیمو ته د کوکنارو کښت تللی دی.)) ده غوښتل هغــه لارې پــه ګوته کړي چې څنګه دا پدیده پرې کنټرولېدلای شي، خو ده داسې یوه تاریخي قدامت ته اشاره وکړه چې د ښاغلي خلیلي او جنرال خدایداد خبرو ته يې زیان څکه رساوه چې هغوی ویل: ((دا پدیــده لــه خارجــه راغلې ده او له تروریزم سره اړیکي لري.))، خو شینواري صیب وویــل: ((چې په شینوارو کې یونیم سل کلنه سابقه لري.)) په هر ترتیب نورې خبرې ښې وې که خرابې، پر چا چندان ښې نه لګېدې، خو په پای کې خدای(ج) زموږ دعاقبوله کړه، د غونــډې د پــای شــېبې راورســېدې. ښاغلي خلیلي ته د جلسې  د ارزونې بلنه ورکړل شوه، هغه وویل: ((دا یوه ګټوره او مثبته غونډه وه)) د روسیې د مخدره موادو د کنټــرول د ادارې مشر (ویکتر ایوانوف) او نورو څخه يې مننه وکړه: ((زیاته يې کړه، مخکې دا خبره وه چې نړیوالو تروریزم او مخدره مواد یو بل سره نه تړل،

نړیوال تروریزم یې یوه نړیواله او مخدره مواد یې افغاني پدیده ګڼله، خو تر (۷) کلونو وروسته دې نتیجې ته ورسېدل چې دا دوه پدیدې یو بل سره تړلي دي، چېرته چې تروریزم دی، هلته مخدره مواد هم شته او چېرته چې مخدره مواد دي هلته تروریزم هم شته، نن باید نړی د دې پدیدې له منځه وړلو ته لومړیتوب ورکړي.

پر (۲۰۰۹م)کال مورږ دې پدیدې ته د نړۍ پاملرنه احساسوو. زه یو ځل بیا وایم چې د افغانستان رهبري او دولت په دې برخه کې جدي دي، له روسیې څخه هیله لرو چې د خپلې تجربې له مخې، مورږ سره مرسته



د غونډې وروستۍ برخه

وکړي، له مورږ سره مرسته له دوی سره مرسته ده. په پای کې یو ځل بیا

له روسیې څخه مننه کوم چې په دې برخه کې یې همکاري کړې ده، دا جلسه یې هم یوه بېلګه ده.))

تر دې خبرو وروسته غونډه پایته ورسېده، ښه ستړي وو، ټول راغلو، د ودانۍ مخې ته موټر ولاړ و، نږدې یونیم ساعت په موټر کې ناست پاتې شو، ځکه چې زموږ پاسپورټونه یې د ټاپه کولو لپاره اړوندې ادارې تــه وړي وو، تر هغه وروسته مو د مېلمستون یا تفرېځي پر لــوري حرکــت




وکړ، هلته چې ورسېدو، نو تر دوه‌ دوه‌ خوړلو وروسته هر څـوک د خپــل اتاق پر لوري لاړل، نور نو چا کې د حرکت ځواک نه و، کله چې اتاق تــه ورسېدم، نو د سبا ورځې لپاره مې خپل کاغذونه او لیکنې منظم کړل او بیا د خوب څپو په خپله لمن کې ونیولم.

# عمومي غونډه

د مې (۱۴) مه نېټه د پنجشــنبې ورځ وه، ســهار وختــي لــه خوبــه پاځېدم، اوبه مې پرځان تېرې کړې، لومړی مې لمونځ او بیا سپورت وکړ، سپورت لږ سترړی کړم، بېرته چپرکټ کې دمه شوم، لږ څه خوب راباندې راغی، اوه بجې ډوډۍ، بیا چای څښلو ته لاړو، پنځه لس کم اته بجې مو د موټر پر لوري حرکت وکړ. د لست له مخې یو یو موټر ته پورته شو، کله چې د ټولو د شتون ډاډ حاصل شو، نو موټر حرکت وکړ. د کنفرانس یــو برخوال او همکار عبدالله خان چې تر دې دمه یې موږ سره په ډېرو برخو کې مرسته کړې وه، وویل: ((د مسکو سړکونه هر کال جــوړېږي، ځکــه چې دلته ډېره یخني وي، سړکونه له منځه ځي، که د روسانو پرځای بل څوک وای، ډېره به ورته مشکله وای چې دومره سړکونه هر کال یوځل بیا جوړ کړي.))

عبدالله د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: ((د لسو اروپــایي ماشــومانو لګښت د یوه امریکایي ماشوم له لګښت او د سلو اســیایي ماشــومانو لګښت د یوه امریکایي ماشوم له لګښت سره مساوي دی.))

په لاره کې مو د معمول په څېر د شاوخوا ودانیــو او ګڼــو منظــرو د ننداري ترڅنګ، پر ګڼو سیاسي او ټولنیزو مسایلو بحثونه وکړل، تر یوه ساعت مو زیات مزل وکړ چــې د مســکو ښــار پــه زړه کــې پرزیــډنټ (President Hotel) هوټل ته ورسېدو. دا په مسکو کې له ډېــرو لوکســو

هوټلونو څخه یو دی چې د نړۍ ډېر معتبر مېلمانــه همدلتــه راځـــي او غونډې کوي.




دا ودانۍ رښتيا هم ډېره مجلله او ښکلې ودانۍ وه، دهلېزونه او هالونه يې ډېر ښکلي وو، په تېره قنديلونه يې ډېر ظريف او نازک وو، د غونډو او علمي کنفرانسونو له دود سره سم هر چاته يوه ځانګړې دوسيه چې د کنفرانس اجنډا او نور مواد په کې ايښودل شوي وو او د هر چـا خپـل پېژندکارت ورسره مل و، ورکړل شوه. د دوسيې او کارتونو په وېش کې هغومره انتظام نه و، لکه د جرمني، امريکا او يــا هــم نــورو پرمختللــو هېوادونو په علمي غونډو کې چې وي، خو بيا هم زموږ د هېواد تر علمي غونډو او کنفرانسونو څو ځله منظم و.

يوه هال ته وبلل شو، فکر کوم دا د دې هوټل مرکزي هال و، مېزونه په دايره يي ډول ايښودل شوي وو او شاته تـرې پــه مــنظم ډول څــوکۍ ايښودل شوې وې. د هر چا د څوکۍ مخې ته د مېز پر سر د هغــه نــوم

لیکل شوی و، د دوی په فکر مهمو کسانو ته د مېــزو تــر شــا څــوکۍ ایښودل شوې وې او نومونه یې د مېزونــو پــر ســر پــه نومښــود کــې




لیکل شوي وو. دویمې او درېیمې لیکې څوکۍ هم وې، ځینو هغو کسانو ته چې د لومړۍ لیکې څوکۍ ونه رسېدلې، لږ شان خواشیني ښکارېدل، ما خو په همغه پیل کې څو تنو ته د خپلې څوکۍ ست وکړ، خو چا راسره بدله نه کړه، ما ویل نه چې د چا په زړه کې دا ورتېره شي چې څنگــه دوی په اوله لیکه کې ناست دي او موږ په دویمه او درېیمه لیکه کې. دا اوږد گردی مېز نیم افغاني مېلمنو او نیم هم روسي لوري تــه ځــانگړی شوی و. نږدې پنځوس کسان یې په نیمه خوا کې ځایېدل یانې ټول سل کسان د گردي مېز تر شا په لومړۍ لیکه کې ځایېدل، یو ډېر ارام سالون و. د هر کس مخې ته غوږۍ ایښې وې چې د ژباړې په عصري تخنیکــي وسایلو سمبال وې. ژباړه د درېو ژبو (روسي، پښتو او دري) ترمنځ وه او هرې ژبې ته یو ځانگړی چینل په پام کې نیول شوی و. کله چې د مېز تر

شا کېناستو نو نږدې نیم ساعت مو انتظار وکړ، خو څوک رامعلـوم نـه شول.

پر دې وخت مې د غونډې اجنډا وکتله، په روسي ژبه د هغو کسـانو نومونه په کې لیکل شوي وو چې باید په نننۍ غونډه کې یې خبرې کړې وای. ما روسي ژبه له مخې لوستلای شوه او څه ناڅه یې پر مانـا هـم پوهېدلم، له افغاني او روسي لوري چې کوم کسان په دې لست کې وو، د هغو نومونه او وختونه مې پیداکړل، خو زما نوم په کې نـه و. پـر دې وخت ډاکتر صیب شېرحسن حسن زما څنګ ته راغی، ماته یې وویـل: ((یون صیب دا اجنډا مخکې جوړه شوې وه، ستا مقاله بېګاه ماښـام د کاني صیب له خوا له ژباړې خلاصه شوه، مقصد مې دادی چې تاسو په نننۍ پروګرام کې یاست، ماته کروپنوف وویل چې کله ما پر یون غږ وکړ، نو دی باید تیار وي، هغه وویل چې زه حتماً یون ته وخت پیدا کوم، ځکه د ده خبرې مهمې دي.))

تر نیم ساعت ځنډ وروسته هم، غونډه پیل نه شوه، شکریه بارکزۍ په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو استازې چې د دې کنفرانس برخوالــه وه، هم دې غونډې ته راورسېده. تر ډېر انتظار وروسته ښـاغلی کـریم خلیلي او ورسره افغاني هئیت او همدارنګه روسی هئیت یوځای تالار ته راننوتل، پاوکم دولس بجې غونډه پیل شوه. د غونډې د پیل په یوه برخه کې وویل شول، چې د غونډې د پرېکړه لیک لپاره ډاکتـر شېرحسـن حسن د منتظم په توګه ټاکل شوی، هیله ده د پرېکړه لیک لپاره هغه ته خپل وړاندیزونه ورکړئ! د فوروم یا جرګې د پرېکړه لیک لیکني هئیت له دریو غړو څخه یو ډاکتر شېرحسن حسن و، چې هم په پښتو، دري او روسي ژبو پوهېده او هم یې د پرېکړه لیک د لومړۍ مسودې په ترتیبولو

کې فعاله ونډه درلودله، نو ځکه ښاغلي کروپنوف اعــلان وکــړ چــې د پرېکړه لیک په باب خپل وړاندیزونه ډاکتر شېرحسن حسن ته ورکړي!




د غونډې یوه څنډه

په پیل کې د روسیې فدراسیون په استازۍ د روسیې د وزیرانــو شــورا مرستیال ښاغلي (ایگور ایوانوویچ سېچن) نوبت واخیست، هغه په خپلو خبرو کې وویل: ((زه ډېر خوشاله یم چې په مسکو کې افغاني هئیت ته هرکلی وایم، په دې هئیت کې د محترم شهزاده (علي ســراج) برخــه اخیستل هم دې غونډې ته خاص اهمیت ورکوي. دا غونډه ځکه ډېــره مهمه ده چې د روسیې او افغانستان اړیکي (۹۰) کلونــو تــه رســېږي، روسیې په افغانستان کې (۱۴۲) پروژې جوړې کړي، چې دا د افغانستان اقتصادي بنسټ جوړوي، د روســیې د جمهــور رییــس مېدوېــدېف د لارښووني له مخې له افغانستان سره بشري مرستې شوې دي، (۱۸۰۰۰) ټنه غنم افغانستان ته انتقال شوي، په راتلونکي کال کې به (۷۰۰۰) ټنه غنم نوره مرسته هم وشي، خو موږ باید نور پرمختگ هم وکړو، زموږ د

سـوداګرۍ کچـه ډېـره ټیټـه ده، د تجـارت حقـوقي بنسـټونه




باید پیاوړي کړو او د دوه اړخیزو مناسباتو لپاره باید ګامونه پورته کړو.))
دې خبرو پسې د افغانستان په استازۍ ښاغلي کـریم خلیلـي خپلـې خبرې داسې پیل کړې:
((بسم الله الرحمن الرحیم: قدرمنو برخوالو د خوښۍ ځای دی، چې د افغانستان او روسیې په داسې یوه غونډه کې ګډون کوم او دلته راته د خبرو زمینه برابرېږي. اجازه راکړئ چې تر هر څه دمخه د دې کنفرانس له جوړوونکو څخه مننه وکړم. روسیه او افغانستان پخواني روابط لري، د تیموریانو او احمدشاه دراني پر وخـت یـې هئیتونـه رالېږلـي وو، د افغانستان ازادي یې په رسمیت وپېژندله، افغانستان کې یې ډېرې لویې عمراني او تولیدي پروژې جوړې کړې.))
کریم خلیلي د طالبانو نظام تر سقوط وروسته د افغانستان له موقتې اداري څخه تراوسه پورې له افغانستان څخه د روسیې د ملاتړ یادونـه

وکړه، بيا يې د تروريزم پر ضد د مبارزې يادونه وکړه، ويې ويل: ((مــوږ هيله لرو چې روسيه د نړيوالې ټولنې ترڅنګ د تروريزم پر ضد مبارزه کې زموږ مرسته وکړي.))

خليلي زياته کړه: ((افغانستان يو سوله دوست هېواد دی، ټولو سره سوله غواړو، مخدره مواد بل مشکل دی، چې نــه يــوازې منطقــه يــي مشکل دی، بلکې يو نړيوال مشکل دی. دا پديده نه يــوازې د انســان صحت ته زيان رسوي، بلکې د تروريزم د تغذيې منبع هم ده، د نړيوالې ټولنې په همکارۍ بايد د دې پديدې د توليد، قاچاق او ترافيــک مخــه ونيول شي، تراوسه پورې د هېواد (۲۲) ولايتونه له دې پديــدې څخــه پاک شوي، د هغه کمربند ملاتړ کوو چې د روسيې لــه خــوا د مخــدره موادو پر ضد له منځنۍ اسيا څخه راتاو شوی دی. ســره لــه دې چــې افغانستان په امنيتي لحاظ په دوو بېلابېلو کچو کې قرار لري، خو بيا هم په افغانستان کې جګړه د روسيې پر امنيت تاثير کــوي. فقــر، لــوږه او بدمرغي د تروريزم د ودې لپاره لاره هواروي. په پای کې يوځل بيا د دې کنفرانس له جوړوونکو څخه مننه کوم.))

تر دې وروسته د انانسر له خوا اعلان وشو: اوس د روسيې د امنيــت شورا سکرتر (نيکولای پاتروشيف) خپله وينا اوروي:

هغه خپلې خبرې داسې پيل کړې: ((لومړی افغاني هئيت ته هر کلی وايم، په تېرو (۹۰) کلونو کې مو دا هيله لرله، چې دواړو هېوادونه ټينګه دوه اړخيزه همکاري ولرو، اوس په افغانستان کې د امنيت مسله مطرح ده او دا جدي چيلنجونه لري، د نشه يي موادو توليد ډېرې لوړې مرحلې ته رسېدلی دی، دا لومړی خپله پر افغانستان تاثير کوي، نو ځکه زموږ هېواد د داسې هڅو ملاتړ کوي چې غواړي په افغانستان کې پرمختللې



د غونډې روسی لوری

ټولنه جوړه شي. موږ باور لرو چې د ملي اردو پیاوړتیا لــه ســیمه ییــز امنیت سره مرسته کوي. د افغانستان د ستونزو حل ګډې همکارۍ تــه اړتیا لري، د شانګهای د همکارۍ سازمان په سیمه کې مهم رول لري، دا سازمان د مخدره موادو او د ډله ییزو جنایتونو پر ضد نقش لري، په تېر مارچ کې یې د افغانستان په اړه پراخ سازمان جوړ کړ، موږ غواړو د دې سازمان په عملیاتو کې برخه واخلو، سیمه ییزې راشې درشې او هلــې ځلې په دې مبارزه کې یوځای شي، د قضایي ارګانونو د ټینګښــت پــه برخه کې مرسته وشي، د افغانستان ماهران وروزل شي، نو ځکه د نشه یي موادو ضد مرکز جوړ شو. موږ هڅه کوو د افغانستان او پاکســتان د باور د پیاوړتیا زمینه برابره کړو ، چې د تروریزم ضد جګړه کې مرســته وکړي، د افغانستان د اقتصادي شبکو د بیا جوړولو لپاره چمتــو یــو. د نشه یي موادو پرضد هلې ځلې کوو.

موږ غواړو چې په افغانستان کې د ثبات لپاره پروژې جوړې شـــي، د فساد پرضد د مبارزې ملاتړ کوو، د جمهور رییس کرزي له دریځه ملاتړ کوو، ټول هغه ځواکونه چې اساسي قانون مني، له هغو سره د نړدې کار ملاتړ کوو، له ټولو څخه مننه.))

تر دې وروسته د نشه یي مــوادو د کنټــرول اداري ریــیس (ویکتــر ایوانوف) خپلې خبرې پیل کړې:

((لومړی تاسو ته هرکلی وایم، د روسیې د نشه یي موادو ضد کمېټه د نشه یي توکو پرضد جوړه شوې ده. په دې کمېټه کې د حکومت ټــولې خواوې برخه لري، پرون مو د افغانستان له هئیت ســره ګــډه غونــډه درلوده، تروریزم او نشه یي توکي دواړه یو بل سره اړیکي لري. کله چې نړیوال ځواکونه افغانستان ته ننوتل، نو دا مواد هم ورسره زیات شول. په افغانستان کې نړیوال تروریزم د نشه یي موادو لپاره کــار کــوي. د دې موادو د کنټرول په برخه کې د نړیوالو ځواکونو موثریت کم دی، له دې موادو څخه ترلاسه شوي عواید جګړه مار ترلاسه کوي، د ایساف قوتونه شته، خو د نشه یي موادو پر ضد یې د افغانستان ناتوان دولت یــوازې پرې ایښی دی. اوس باید دا هڅې غښتلې شي، روسیه او افغانستان د همکارۍ ښه امکانات لري، موږ کولای شو په دې برخه کې موثر نتــایج ترلاسه کړو. روسیه کولای شي په افغانستان کــې اقتصــادي شــبکې پیاوړې کړي. روسیه له متحد افغانستان سره مینه لري او هیله لري علم او معارف هلته دود کړي.

تر دې وروسته ښاغلي سردار علي سراج تــه چــې د افغانســتان د هئیت غړی و، نوبت ورسېدو هغه تر هرڅه لومړی له ټولو برخوالو اجازه




واخیسته او خپلې خبرې یې داسې پیل کړې:

((زما لپاره د افتخار ځای دی چې زما د کاکا (غازي امان الله خان) له خوا د روسیې او افغانستان روابط پیل شوي وو او له هغه وختــه دادی (نوي کاله) تېرېږي، زه (د افغانستان د خلکو د تفاهم نهضت) رییس یم، دا یوازینی نهضت دی چې د افغانستان د خلکو فریاد پورته کولای شي، ما دا څو ورځې د مخدره موادو په باب خبرې واورېدې، چا څه وویل او چا څه، هر وخت د افغانستان د خلکو په باب بهر کې جلســې کېــږي، هغوی چې اوس کوکنار کري دېرش کاله مخکې یې غنم کرل، تاسې که غواړئ کوکنار ورک کړئ، له خلکو سره همکاري وکړئ، دا کار په بمبارد نه کېږي، زعفران یې په هرات کې ښه مثال دی، یو کیلو (۲۵۰۰) ډالره دي. پنبه بل ښه بدیل دی، یو بزګر کوکنار ځکه کري چې پیسې پــرې ترلاسه کړي، زموږ خلک غریب دي، بېچاره دي، خو خدای پرست دي،



د افغاني هئیت غړی سراج د خبرو پرمهال

**دوی پوهېږي چې دا کار حرام دی، خو له مجبوریته دا کار کوي، زه پـه پای کې وایم د افغانستان راتلونکی د افغان ملت په لاس کې دی.))**


کروپنوف

**تـــر دې وروســـــته د روســـــیي فدراســـــیون د وګـــــړ پـــــوهنې د انستیتیوټ رییس یوري کروپنـوف خپله لیکنه چې په منظم ډول یــې ترتیب کړې وه (( افغانســتان تــه د ودې صـــــادرونه د روســـــیې او د افغانستان د ستراتیژیکې همکارۍ د بنسټ په توګه)) په نوم واوروله، د وینا متن دادی:**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشر مرستیال ښــاغلی کــریم خلیلي!**

**د روسیې فدراسیون د لومړي وزیر مرستیال ښاغلی ( ایگر ایوانــوویچ سېچین )!**

**د روسیې او افغانستان د گډې جرگې درنو گډونوالو!**

**د روسیې او افغانستان جرگې لپاره چمتووالي موږ ته دا شونتیا راکــړه چې د روسیې او افغانستان تر منځ د همکــارۍ ډېــر لــوی پوتنســیال څرگند او په کار واچوو.**

**څرگنده شوه چې په افغانستان کې روسیه او روسان پېژني، درناوی یې کوي او ورباندې گران دي، همدا راز د دې انتظار کوي چې روسیه د اسیا په زړه کې کارنده او تخلیقي شتون ولري. دا لېوالتیا د افغانستان په ټولو ولسونو، ولایتونو او مهمو ټولنیزو ځواکونو پورې اړه لري.**

**نن ورځ په روسیه کې هم ورو ورو هغه ډېره مهمه او لویه ونډه رایادېږي چې دغه هېواد د افغانستان په وده کې درلودله، هغه ددغه هېواد پــه بېلابېلو ټولنیزو او وټیزو ( اقتصادي ) شبکو کې تر سلو زیاتې پروژې او د لوړو زده کړو په سرته رسولو سره د سلگونو زرو کادرونو روزنه ده.**

**د روسیې فدراسیون مشرتابه په وروستیو کلونو کې، د روسیې د نړیوال سیاست د ډېرو ښو دودونو پر بنسټ د افغانستان لــه مشــرتابه ســره ستراتېژیکي خبرې اترې پیل کړې او د افغان دولت پــه پیاوړتیــا کــې ورسره په جدي ډول مرسته کوي.**

**ددې په څنگ کې، داسې برېښي چې د روسیې د دویمــې او درېیمــې کچې اشخاص لا تر اوسه پورې دومره ځیرکي نه لري، چې د افغانستان نړیوال اهمیت او ارزښت ښه وویني.**

د افغانستان په ملي سرود کې داسې کرښې شته: (( دا هېواد به پر شنه اسمان داسې ځلیږي لکه لمر، دی به د اسیا په سینه کې وي. دا هېواد به تل ددغې وچې زړه وي.))
لکه څنګه چې څرګنده ده په اسلامي نړۍ کې ټول نظـم او شــاعري د رښتیني حالت رښتینې انځورنه کوي، نو ویلای شو چې دا په بشپړ ډول کره خبره ده او د شمېر پوهنې له پلوه هم کره ده.
د اسیا په سینه کې به ددغه زړه له روغتیا پرته، په دغه سیمه کې لــه ټیکاو او یوې پیاوړې سولې پرته هېڅ مهال یوه سوکاله ارواسیا او روسیه شتون ونه لري.
څکه خو هیله لرم، چې په نړۍ او منځنۍ اسیا کې بدلېدونکي حالــت، همدا راز کارنده ناحکومتي ډیپلوماسي، له هغې جملې نه به د روسیې او افغانستان جرګه دا شونتیا برابره کړي چې له افغانستان سره د روسیې د وټیزې، کولتوري او بشري همکارۍ په برخه کې د روسي کارپورېشنونو او نورو مؤسسو کار وهڅول شي او لا کارنده شي.
زه په دې ګروهه یم، چې له روسیې پرته ناشونې ده له هغه بند حالت نه د بن په نامه پروسه وایستل شي، چې پر (۲۰۰۱ م) کال په کــې بنــکېل شوې ده.
خو برعکس باید دا هم وویل شي چې له افغانستان سره د روسیې لــه کارنده همکارۍ پرته، شونې نه ده چې زموږ خپلې ګڼ شــمېر روســۍ ستونزې دې هوارې شي.
نړیوال مخکښ کارپوهان او د دموګرافۍ، مهاجرت او سیمه ییزې ودې انستیتوت شننیزې طرحې د دې شاهدي ورکوي، چې د افغانستان وده

او پرمختګ، ددغه هېواد د کرنې او صنعت له ودې سره تړلی دی. خبرې باید په ماهیت کې د افغانستان د صنعتي کولو د پروګرام په اړه وشي.
خو لکه څنګه چې د صنعتي کولو مسئله د افغانستان لپاره اړینه ده، د روسیې لپاره لومړنۍ نه ده، لکه د ایران، پاکستان او منځنۍ اسیا هېوادو لپاره چې دویمه نه ده، بلکې درېیمه مسئله ده چې د تکنالوژیکي اووم جوړښت ته په وتلو، د بنسټیزو پراکتیکي پوهنو، مخکښ صنعت او په تکنالوژیکي پروسه کې پر نویوالي ( اېنووېشن ) ډډه لګوي، چې نن ورځ ډېر اړین او حیاتي اهمیت لري.
زموږ هېوادونه یوازې په ښکاره او باور وړ خبرو اترو، د یو بل پر وړاندې په درناوي او پاموړ چلند سره کولای شي په بشپړه توګه وده وکړي او د ټولې اروااسیا ټیکاو وټاکي.
په دې برخه کې مهمه مسئله د روسیې او افغانستان د دولتونو پیاوړتیا ده.
د منځنۍ اروااسیا د ستونزو د اواري کیلـــي، د یــوه پیـــاوړي، واحــد او خپلواک افغان دولت په جوړېدو کې ده.
په خواشینۍ سره باید وویل شي چې نن ورځ افغانستان پــه ښــکاره د مباحثو په یوې ناګټورې بڼې بدل شوی او زموږ لپاره یې د یوه بهرنـــي، پردي او ناکارنده څیز انځور خپل کړی، هغه څیز چې له ((نړیوالې ټولنې )) څخه د کومو بشري او یا ان پوځي کارندتیاوو پورې اړه پیداکوي.
خو افغانستان یو خپلواک دولت دی، هغه دولت چې د نړیوال تاریخ په اداڼه کې یې د نایابه قومونو یوه داسې ټولګه په غېږه کې ګډ ژوند کوي، چې تر ټولو ګڼ شمېره یې پښتانه، تاجکان، هزاره او اوزبکان دي.

دا له  عقل نه لرې خبره ده چې د افغانستان پر وړانــدې د داســې یــو موجود په توګه چلند وشي، چې له بهر نه پرې یوازې له زور او ځواک نه کار واخیستل شي.
دا څرګنده ده چې روسیه د خپلو جګپوړو مشرانو په وینــاوو او خپــل عملي سیاست کې د افغانستان پر وړاندې داسې چلند کوي، لکه د یوه برابر او ډېر درناوي وړ ملګري په توګه.
خو پرته له هر ډول شک نه اړینه ده وویل شي، چــې نــن ورځ زمــوږ د ملګرتیا اړیکي باید د ودې صادرونې د نوي پرنسیپ په طرحه کولــو او کارولو سره لا ډېر پیاوړي شي.
پروسږ کال د اکتوبر پر (۳۰) مه د روســیې فدراســیون لــومړي وزیــر (ولادیمیروویچ پوتین ) په (استانه) کې د (شانګهای د همکاری سازمان) غړو هېوادو د حکومتي مشرانو د شورا په غونډه کې، زما له لیــدلوري همدغې موضوع ته پام واړاوه، ویې ویل چې په اوسنی نــړۍ کــې (( د سیالۍ موضوع ارزښتونه او د ودې ماډلونه دي.))
له تاریخي پلوه روسیې تل د خپلو ګاونډیو او د نړۍ د نورو ولسونو لــه سوله ییزې ودې او ټیکاو سره لېوالتیا درلودلې ده. ددغه هېواد مهــم اصل ( دوکترین ) تل له نورو ولسونو سره د برابرو حقوق لرونکو خبــرو اترو او ددغو ولسونو دودونو ته د بشپړ درناوي پر بنســټ د پیــاوړو او سمسورو دولتونو په جوړونه کې د دوه اړخیزې ګټورې مرستې کول دي.
ځکه خو د غه اصل، چې پر پوهنه، ښوونه روزنه او صنعت باندې یې ډډه لګوله، په افغانستان کې هم لــه سېســتماتیک ګړنــدي تکنــالوژیکي پرمختګ سره مرسته وکړه.

نن ورځ موږ ټولې هغه شونتیاوې لرو چې په ګډه د ودې او صنعتي کولو له لارې، د صادرشوې، سپېرې شوې د موکراسۍ د اصل پـر وړانــدې د ودې صادرونه د روسیې ځواب وګرځو او د ودې صــادرونه د وضــعې د ژغورلو مېکانیزم کړو.
نن په اسیا کې د هماغې صادر شوې دموکراسۍ پر بنسټ د ((نورمــالو ټولنو )) د جوړولو یا له سره پیوندولو هڅو خپل بې ګټې توب ډاګیز کړی دی: عراق د کورنۍ جګړې له امله ړنګ شوی. د افغانستان پــه تــړاو د ((بن پروسه )) په داسې حالت کې ښکېل شوې چې د وتو لار یــې نــه شته. داسې ښودل کیږي چې ګواکې د دموکراسۍ په واسطه (( درمــل شوی )) پاکستان د ناورین پر غاړه ولاړ دی. د هغې دموکراسۍ صادرونه، چې له ولسونو څخه یې د ((سمو ملتونو )) جوړونه په پام کې لرله، لــه ناکامۍ سره مخ شوه. څرګندده شــوه چــې د ملــت جوړولــو ( نېشــن بیلډینګ ) تکنالوژي د خپل ماهیت له مخې ورانوونکې او ویجاړوونکې ده. دغه تکنالوژۍ نه شي کولای چې ولسونه سره یو مــوټی کــړي او د ژوند له واقعیت سره سم دولتونه جوړ کړي.
په دې حالت کې روسیه داسې کمپېښنه شونتیاوې تر لاسه کوي چې د افغانستان او ټولې منځنۍ اسیا د وضعې په ښه کولو ،سولې راوستلو او ټیکاو کې خپله ونډه ولري. زموږ له لیدلوري نه، د روسیې لپاره اړینه ده چې د واحد، پیاوړي او خپلواک افغانستان پرنسیپ په لوړ غــږ اعــلان کړي، هغه افغانستان چې په منځنۍ ارواسیا کې به د ټیکاو بنسټ وي. اړینه ده چې روسیه د افغانستان د صنعتي کولو خپله روســۍ پــروژه وړاندیز کړي. دا به سملاسي زموږ هېواد ته دا شونتیا ورکړي، چې نــن

ورځ د ټوټې کېدونکي افغانستان او په ټوله سیمه کې یو لــوی متحــد کوونکی ځواک شي.

د نورو ګڼ شمېر هېوادو په پرتله، روسیه د افغانستان په کورنیو چــارو کې لاسوهنه نه کوي. موږ له افغانستان نه هېڅ شی نه غواړو، یوازې په خپله د همدغه هېواد ګړندی وده او سمسورتیا غواړو. نن ورځ د روسیې مهم ځواک په همدغه بې غرضی او ځان نه غوښتنه کې دی.

زه باور لرم، چې د روســیې او افغانســتان دا جرګــه بــه د روســیې او افغانستان د ستراتېژیکي خبرو اترو او همکاری د ټینګښت په لاره کې یو لوی او مهم ګام شي.

همدا اوس د افغان پلاوي له غړو، په مسکو کې د مېشتو افغانانو ټولنې، او د جرګې روسي ګډونوالو له خوا داسې وړاندیزونه رارســېږي چــې د افغانستان او روسیې ګډې جرګې ته دې پرله پســې او سېســتماتیک بنسټ ورکړل شي. کېدی شي چې په همدې نامه یوه مؤسســه جــوړه شي. زه همدا وړاندیزوم چې نن دې په خبرو اترو کې پرې بحث وشي او د جرګې په وروستی اعلامیه کې دې هم راوړل شي.

ستاسو له پاملرنې نه مننه.))

ښاغلي کروپنوف خپله وینا لیکلې وه او ښاغلي کاني ژباړلې وه، دلته یې د ژباړې همغه بڼه راوړل شوه.

کله چې د کروپنوف خبرې پایته ورسېدې، نو د غونډې انانسر یــوه وقفه اعلان کړه او دې سره د شلو دقیقو لپاره تفریح اعلان شوه.

تر تفریح وروسته غونډه بیا پیل شوه. په پیل کې د روسیې د بهرني اقتصادي بانــک مرســتیال ښــاغلي (فرادکــوف پیــوتر میخــایلویچ)




د غونډې د برخوالو یوه بله برخه

خبرې وکړې، ویې ویل: ((موږ غـواړو افغانسـتان کـې پانګـه واچـوو، افغانستان ډېر زیات امکانات او کانونه لـري، زمـوږ د همکـارۍ ټـول پوتنشیال نه دی کارېدلی، افغانستان او دا سیمه په مجموعي ډول ټول یو بل سره تړلي دي، باید په ګډه انکشاف وکړي، موږ په افغانستان کې د صنعتي پروژو لپاره د سامان الاتو تمویل پر غاړه اخلو، د روسیې لـویې کمپنۍ بهر کې پانګه اچوي. غواړم پر مشخصو ټکو رڼا واچوم: کولای شو په ګډه کار وکړو، د انکشافي بانک پالیسي داده، په هغو هېوادونو کـې چې د روسیې ستراتیژیک دوستان دي، هلته پانګونه کوي،اقتصـادي بانک په دې برخه کې کولای شي کار وکړي، موږ عنعنوي بانکدارۍ ته پام کوو. موږ کولای شو د روسیې د ملګرو هېوادونو له تجربو څخه ګټه پورته کړو، یوازې ستنډرډ او تجارتي بانکونـه نـه شـي کـولای، ټـول مشکلات حل کړي. موږ څه وړاندیزونه لرو، موږ کولای شو هغه صادرات چې روسي کمپنۍ یې افغانستان ته صادروي، هغه تمویل کـړو، مـوږ

پېرودونکو ته هم کرېډټ ورکوو. تجارتي کرېډټونه دي چې په دې بـاب به تړونونه لاسليک کړو، دا هم د ضمانتونو د سـندونو مجموعـه ده، د داوطلبۍ او مزايدې په برخه کې (۲-۷) کلونو پورې کرېډټ ورکوو، پـه تضمين کې برخه اخلو، د مالي تمويل ضمانت کوو. دې ميکـانيزم کـې تجارتي خطرونه په پام کې نيول شوي دي. د افغانستان لپاره بـه هـم قواعد څېړو، داسې قواعد چې افغانستان ته ګټه ورسوي، وسايل شته او لېوالتيا هم شته. زه په پای کې د دې غونډې له جوړوونکو څخه مننه څرګندوم.

د پروګرام چلوونکي کروپنوف ورپسې وويل: ((يو داسې ګروپ بايـد جوړ شي چې دا مسلې وڅېړي، خو دا ګروپ بايد رسمي ګروپ نه وي؛ نا رسمي وي.)) دې سره سم يې د بلخ ولايت د ولايتـي شـورا ريـيس ښاغلي محمدفرهاد اعظمي ته بلنه ورکړه چې هغه خپله وينا واوروي، هغه له بلخه د بلخ د سوداګرو له يو ګروپ سره دې غونډې تـه رابلـل شوی و.

ښاغلي فرهاد خپلې خبرې داسې پيل کړې: ((لومړی د بلخ د خلکو او ولايتي مشرتابه په استازۍ سلامونه وړاندې کوم، غر په غره نه ورځي خو انسان په انسان ورځي، نړۍ اوس ډېره سره نږدې شوې ده، داسـې فکر کېده چې د افغانستان او شوروي همکاري به د افغانستان پرمختګ ته لاره اواره کړي، خو د شوروي مداخلې دواړو هېوادونو تـه تاوانونـه واړول. نننۍ غونډه کولای شي نوې لارې چارې په ګوته کړي. زه دلته پر څو مسايلو خبرې کوم:



د غونډې د ګډونوالو یوه برخه

**۱- اقتصادي مسایل:** په دې برخه کې د پخوانیو پروژو په تعقیب په نورو ډګرونو کې هم پرمختګ کولای شو.

**۲- د تحصیل په برخه کې:** روسیې یا شوروي ډېر افغان کدرونه روزلي، باید افغانستان ته نور تحصیلي بورسونه هم ورکړل شي.

**۳- خطرونه:** هغه خطرونه چې دواړو ته مشکل پیداکوي، لکه تروریزم، مخدره مواد او نور، د هغو مخنیوی دې وشي.

**۴- چاپېریال:** روسیه باید له خپلو تجربو څخه په دې برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي.

ښاغلي فرهاد د پورتنیو څرګندونو ترڅنګ زیات ټینګار پر دې کاوه، چې روسیه باید د افغانستان په شمال او په تېره بیا په بلخ کې پانګونه وکړي، دده په نظر بلخ د روسیې د پانګونې لپاره تر بل هرځای غوره دی. ده د بلخ نوي هوایي ډګر او نورو پروژو ته اشاره وکړه چې د پانګونې لپاره ښه شرایط برابروي، امنیت یې هم یاد کړ. ده وویل چې د

افغانستان شمالي ولایتونه پراخې طبیعي سرچینې، نفت او ګاز لـري، روسیه باید دې سیمې ته زیاته پاملرنه وکړي.

د افغانستان پر شمال د ښاغلي فرهاد دې زیات ټینګار ځینــو نــورو ګډونوالو ته چندان خوند ورنه کړ، ځکه ځینو داسې احساس کړه چې فرهاد صیب د ټول افغانستان په غم کې نه دی، یوازې شــمال او بلــخ یادوي، لازمه وه چې ده د ټول هېواد په کچه د ستونزو یادونه کړې وای. ښاغلي فرهاد پسې د شمشاد ټلویزیون عمومي مشر او د اومر د مــاین




پاکولو موسسې رییس ښاغلي الحاج فضل کریم عبدالرحیمزي ته نوبت ورسېده. ښاغلي فضل کریم عبدالرحیمزي د ټول هېــواد پــه کچــه د روسیې پر همکارۍ ټینګار وکړ. ویې ویل: ((افغانستان د جګړې په بهیر کې ډېر وران شوی او هراړخیزې بیارغونې ته اړتیا لري، روسیه کــولای شي په افغانستان کې د هغو پروژو د بیارغونې ترڅنګ چې دوی پخــوا

هلته جوړې کړي، نوې پروژې جوړې کړي. افغانان به د هــر چــا د بــې غرضه مرستو هرکلی وکړي.)) په حاجي فضل کریم پسې زمــا (یــون) نوبت راورسېد. ما خپله وینا لیکلې وه، چې ورځ مخکــې لا د ښــاغلي طاهر کانې له خوا په روسي ژبه ژباړل شوې وه، همغه مې پیل کــړه. دا وینا په دې ډول ده:

## ((د روسیې او افغانستان ترمنځ څه شوي ؟ څه کېږي ؟ او څه باید وشي؟

زه غواړم په خپلو خبرو کې پورتنیو پوښتنو ته په لنډیز سره ځوابونه ورکړم .

خو لومړی غواړم له هغو اشخاصو او علمي مرکز څخه مننه وکړم، چې دا علمي کنفرانس یې جوړ کړی دی .

لومړۍ پوښتنه : د روسیې او افغانستان تــرمنځ څــه شــوي ؟ دې پوښتنې پورې تړلي مناسبات کېدی شي پر درېو برخو ووېشو:

۱- (۱۹۱۹ - ۱۹۷۸ م) کلونه: په دې بهیر کې د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد یا روسیې مناسبات، چې نږدې شپږ لسیزې زمانه رانغاړي، په دې ټوله موده کې د افغانستان او شوروي مناســباتو عمــودي خــط تعقیباوه یانې د بري پر لوري روان وو .

ددې کلونو په بهیر کې پخواني شوروي یا روسیې په افغانستان کې د نړۍ تر بل هر هېواده زیات موثر او مثبت نقش درلود . د شوروي اتحاد له خوا په افغانستان کې په لسګونو او سلګونو لویې او وړې پروژې ثمر ته ورسېدې ، لکه د ننګرهار کانال ، د درونټې او نغلو برېښنا بندونه ، د کابل-ننګرهار ، هــرات-کنــدهار ســړکونه ، د ســالنګ لویــه لاره ، د

مزارشريف د کيمياوي سرې او د کابل جنګلک فابريکې ، د کابل مرکزي سيلو ، کابل څلورسوه بستريز روغتون ، کابل پوليتخنيـــک او داســـې نورې په لسګونو او سلګونو لويې او وړې پروژې . دې ډول مثمرو پروژو د افغان ولس په زړه کې پر شوروي او روسيې باور زيات کړ او دې هېواد ته يې د پياوړي دوست په سترګه وکتل .

**۲-** (۱۹۷۸ - ۱۹۸۸م) **کلونه : دا هغه خونړي کلونه دي، چې د پخواني شوروي اتحاد د سياسي مشـــرتابه د تېروتنـــو لـــه املـــه دا هېـــواد پـــه افغانستان کې په مستقيم ډول په جګړه کې ډوب شو او وروسته د نړۍ نورو هېوادونو هم په مستقيم او نا مستقيم ډول دا جګړه لا پسې ګرمه کړه . د شوروي اتحاد او د افغانستان د هغه وخت سياســـي واکمنـــو د تېروتنو له امله، دې جګړې نه يوازې د دې وخت سياسي واکمنو ، بلکې دواړو ملتونو ته د يوه چاودېدونکي مين حيثيت غوره کړ . په دې لسيزه کې د دواړو هېوادونو روابطو داسې يوه منکسره کرښه تعقيبوله، چې د دواړو هېوداو د خلکو په وينو سره وه او ډېرې لوړې ژورې يې لرلې .**

**۳-** (۱۹۸۸ - ۲۰۰۸م) **کلونه : د دې کلونو په بهير کې روسيې، هغـــه نقش، چې پخواني شوروي اتحاد په افغانستان کې درلود، له لاسه ورکړ، خو بيا يې هم د (۱۹۹۲ - ۱۹۹۵م) کلونو په بهير کې د کابل د ايتلافـــي حکومت د ځينو تنظيمونو ملاتړ کاوه ، د طالبانو د واکمنۍ په بهير کې يې د هغوی له مخالفو تنظيمونو سره مرسته کوله، د طالبانو تر ســـقوط وروسته له ځينو مشخصو ډلو څخه د روسيې ملاتړ کم شو ، خو بيا هم ويل کيږي، چې روسيه اوس هم د ځينـــو خاصـــو ډلـــو ملاتـــړ کـــوي او خواخوږي ورسره لري. دې تېر بهير ته په کتو سره سره، د وروستيو څو**

کلونو په بهیر کې په افغانستان کې د روسیې د مثبت رول لوبولو لپاره هیلې پیدا شوې دي. زه نه غواړم د تېرو مناسباتو پر کړلېچن بهیر نیوکه وکړم ، ځکه چې تېر وخت د مړي په شان دی ، چې په ژړا او فریاد، ستاینې او غندنې بیا نه راژوندی کېږي، خو کولای شو، چې د راتلونکي لپاره د یوې پخې تجربې په توګه ورڅخه کار واخلو. اوس راځم خپلې دویمې پوښتنې ته :

دویمه پوښتنه : اوس د دواړو هېوادو تر منځ څه کېږي ؟

اوس په افغانستان کې د روسیې نقش ډېر کمرنګ شوی دی . اوس د پخواني شوروي اتحاد ، پخوانیو رقیبانو او د افغانستان ځینو ګاونډیو، د شوروي یا روسیې ځای نیولی دی ، هغوی هم له ګنو ستونزو او تېروتنو سره مخامخ دي . که چېرې حالت همداسې روان وي ، نو دا بحران کېدی شي نور هم وغځېږي، ډېر خطرناک شي، د ګاونډیو هېوادو او ان د روسیې تر لمنو پورې وغځېږي، نو څه باید وشي ؟ غواړم په خپله درېیمه پوښتنه کې دې ته ځواب ورکړم :

درېیمه پوښتنه : څه باید وشي ؟

۱ . دا چې د افغانستان په بحران کې څوک ډېر ملامت دی ، پخوانی شوروي اتحاد یا روسیه ؟ افغانستان ، د افغانستان ګاونډیان یا د نړۍ نور لوی ځواکونه ؟ د دې ملامت او سلامت معلومول زموږ د اوسني بحران له حل سره چنداني مرسته نه کوي او نه په سیاست کې د داسې ملامتیو د معلومولو لپاره کوم فکس فورمول شته ، خو زه دومره ویلای شم، چې پخواني شوروي اتحاد او افغانستان دواړه د بحران په اورنۍ بټۍ کې لولپه شول ، خو یو شمېر نورو هېوادونو بیا له دې بحران څخه ګټه پورته کړه ، دا د دې مانا نه لري چې د افغانستان په جګړه کې

ملامت لوری یا لوري نه شته، خو د داسې مسايلو څېړل اوسمهال گټه نه لري او نه د دې کنفرانس موضوع ده؛ خو له تېرو ترخو تجربو څخه کولای شو، د روښانه راتلونکي لپاره کار واخلو .

۲ . د روسيې او افغانستان د مناسباتو د ښه والي لپاره لــه روســيې څخه هيله من يو ، د تېولو هغو انکشافي پروژو پر بيا رغونه لاس پــورې کړي ، چې د پخواني شوروي اتحاد له خوا، په افغانستان کې ثمــر تــه رسېدلې وې او د جگړې په بهير کې اکثره بېرته له کاره غورځېدلې دي .

۳ . هيله من يو، روسيه په افغانستان کې د افغانستان پــه متوازنــه اقتصادي او عمراني وده کې خپل رول ادا کړي، متوازنه وده د افغانستان له ثبات سره ډېره مرسته کوي .

۴ . روسيه د افغانستان د هغو علمي کدرونو يو لــوی زېرمتــون دی، چې په روسيه او پخواني شوروي اتحاد کې روزل شوي دي، هيله لرو، د روسيې او افغانستان حکومتونه پر داسې يو ميکانېزم کار وکړي، چې له دې کدرونو څخه د افغانستان په بيا رغونه او نوې جوړونه کې گټه پورته شي . دا کدرونه کولای شي د روســيې او افغانســتان د مناســباتو پــه ټينگښت کې ښه رول ادا کړي .

۵ . زموږ په گاونډي هېواد (پاکستان) کې له مذهب نه د ناوړه گټــې اخيستنې او د سياسي مقصدونو لپاره د مذهب کــارونې پــه مقصــد ( ۲۵۰۰۰ ) مدرسې فعالې دي. له دې مدرسو څخه يو گڼ شمېر يــې نــه يوازې له مذهب نه ناسم تعبير اخلي، بلکې په سيمه کــې د افراطيــت مفکوره هم خپروي . که هره مدرسه په کال کې (۱۰۰ ) تنه فارغ کړي، نو د لسو کلونو په بهير کې به لږ تر لږه (۲۵۰۰۰۰۰) کسان شي په دې شمېر کې پاموړ برخه اورپکي دي. دا ډول افراطي کسان د دې وس لري ، چې

لومړی په افغانستان کې حالات بې ثباته کړي ، بیا په منځنۍ اسیا کې او بیا د روسیې دروزاې هم وټکوي . هیله لرو، روسیه او د نړۍ نور مـوثر هېوادونه له دیپلوماتیکو لارو پر پاکستان اغېزناک فشار راوړي، چې د دیني مدرسو تعلیمي نصاب د اسلام له اصلي روح سره عیـار کـړي، د دین او مدرسې له تقدس څخه د سیاست، پراختیا غوښتنې او افراطي چلند لپاره ګټه پورته نه کړي .




۶ . اکثرو افغانانو سره داسې یو تصور، فکر او اندېښـنه شـته، چـې د پخواني شوروي اتحاد د تېروتنـو پـه تعقیـب، روسـیه اوس هـم پـه افغانستان کې ځینې سیاسي ډلې او واړه ایتنیکي ګروپونه تقویه کوي او دا کار په افغانستان کې د مرکـزي حکومـت او قـانون پـر وړانـدې ستونزې پیدا کوي، موږ هیله من یو روسیه د افغانستان د اکثریت خلکو دا تشویشونه په پام کې ونیسي او په افغانستان کې د مرکزي نظام لـه ټینګښت او د قانون له حاکمیت سره مرسته وکړي.

۷ . هیله لرو روسي پانګوال په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کــې پانګونه وکړي، ګډې اقتصادي ګټې، ګډې لېوالتیاوې رامنځته کوي او د ټولنیز ثبات سبب ګرځي .

۸ . روسیه په نړۍ کې یو بااعتباره او موثر هېواد دی، هیله ده له خپل دغه اعتبار څخه مثبته ګټه پورته کړي او د افغانستان پر ځینو ګاونډیو



افغاني او روسي هئیت د خبري کنفرانس پر مهال

هېوادونو دپلوماتیک فشار راوړي، چې د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخله ونه کړي.

۹ . د افغانستان او روسیې ترمنځ باید کلتوري مناسبات پیاوړي شي، افغانستان د نویو کدرونو روزنې ته اړتیا لري او روسیه په دې برخه کې موثره مرسته کولای شي. کلتوري مناسبات سیاسي ابهامات او نــاوړه پوهاوی له منځه وړي .

۱۰ . په پای کې دا وړاندیز لرم، چې روسیه یو ځل بیا افغانســتان لــه سره په هر اړخیز او دقیق ډول؛ له علمي او ټولنیز لید لــوري مطالعــه

کړي، نه د هغو کسانو، ډلو، ډلګیو او ګوندونو له فکري زاویې څخه، چې له پخواني شوروي اتحاده دوی ته په میراث پاتې دي. دوی د پخــواني شوروي او افغانستان د دواړو د تباهۍ عامل شول، موږ هیله لرو، چــې روسیه د افغانستان واقعیتونه یو ځل بیــا پــه ځیــر ســره وڅېــړي. دا کنفرانس په خپل ډول کې یو نوښت دی، یوه ګټوره هڅه ده، چې کولای شي واقعیتونه په ښه ډول وڅلوي، موږ هیله لرو دا ډول کنفرانسونه په افغانستان کې هم جوړ شي، دا غونډې او راشې درشې زیاتې شي، راشه درشه، تګ او راتګ مینه او خلوص زیاتوي، کینې او ابهامات له منځــه وړي او زړونه صفا کوي .یوه پښتو لنډۍ ده :

مینه په تلو راتلو زیاتېږي

کله راځه کله به زه درځم مینه.))

زما تر دې خبرو وروسته په مسکو کې د افغان سوداګرو د ټولنې پــه استازۍ ښاغلي غلام محمد جلالــي لنــډې خبــرې وکــړې او د دواړو هېوادونو پر اقتصادي همکارۍ یې ټینګار وکړ، د همکارۍ لپــاره یــې د افغانستان له لوري چمتوالی وښود او د دې ترڅنګ یې د غونــډې لــه جوړوونکو مننه وکړه.

ورپسې په مشرانو جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازي ښاغلي ډاکتر برهان الله شینواري ته نوبت ورسېد، دی د ننــــۍ غونــډې د ســهارنۍ برخې وروستیویناوال و، ده په خپلو خبرو کې وویل:

((دوه وړاندیزونه لرم: جنګ نتیجه نه ورکوي، روسیه باید د ســولې لپاره کار وکړي. د روسیې هېواد دې د اقتصادي پروژو پــه بیارغونــه او

جوړونه کې مرسته وکړي. که امنیت ټینګ شي موږ یو بل سره هر ډول همکاري کولای شو.))

دې وړاندیزونو پسې د غونډې چلوونکي کروپنوف وویل: ((موږ کولای شو په منځنۍ کچه په کابل کې سره راټول شو او پر دې مسـلې غـور وکړو، کولای شو دا سپارښتنې په پرېکړه لیک کې ځای کړو او هم یـې




سبا په نورو ناستو کې مطرح کړو.)) غونډه پر همدې ځای پایته ورسېده، خو تر هغې دمخه ښاغلي کریم خلیلي له روسي لوري سره د غونـډې تالار ته ورځېرمه په خبري کنفرانس کې ګډون وکـړ، د ژورنالېسـتانو پوښتنو ته یې ځوابونه ورکړل او بیا ډوډۍ ته لاړو.

# یوه غرمه د مسکو په پرزېډنټ هوټل کې

په همدې پرزېډنټ هوټل کې چې دمخه کنفــرانس و، غرمنــۍ هــم برابره شوې وه، په هوټل کې یو سرلوڅی هال و، د هال پــه مــنځ کــې مېزونه ایښــودل شــوي وو، پــر ولاړه بــه دې ډوډۍ خوړلــه، د بــوفې



نبي شینواری، اسد دانش، یون، سید اسحق ګیلاني او سلطان شاه عاکفی په پرېزیډنټ هوټل کې

سیستم و، د چا چې څه خوښېدل، هغه یې را اخیستل، ډوډۍ کې یې ذوق د افغانانو ذوق ته نږدې و، وریجې، څو ډوله کبابونــه او نــوره ډول ډول غذا په کې شامله وه. هر څوک د خپلې طبعې له افغان او روســي وګړو سره د مېز ترشا ودرېدل، زه له دوستانو سره په خبرو خبرو کــې دومره مصروف شوم چې تراخره د ډوډۍ پر خوند پوه نــه شــوم، ټولــو

ډوډۍ وخوړه، مخکې يې اعلان کړی و، چې تر غرمې وروسته به ګروپي کار کوو. د ډوډۍ او لمانځه لپاره پوره وخت په پام کې نيول شــوی و. د ډوډۍ په ترڅ کې ځينې نور افغانان هم پر سياسي خبــرو اوښــتي وو، ځينې نور هم زما په شان د ډوډۍ پر خوند نه وو پوه شــوي. د حــاجي صيب فضل کريم عبدالرحيمزي ترڅنګ يو روسی جنــرال ولاړ و، پــه چکوسلواکيا، افغانستان او نورو سيمو کې يې ډېرې جګړې کړې وې او د باتورۍ ډېر مډالونه يې پر سينه راځوړند وو، حاجي صيب فضل کريم ته يې وويل: ((هر څوک ماته زما د بريو او تورو مبــارکي راکــوي.)) دغــه جنرال د ډاکتر نجيب الله وروستی مشاور (محمود احمدويچ ګارييف) و، اوس په مسکو کې د حربي پوهنتون قومندان او د نظامي مهارتونو پــر لرلو سربېره ښه ليکوال هم دی، يو کتاب يې (افغانستان زما وروســتۍ جګړه) نومېږي، چې ښاغلي محمد طاهر کاني پښتو ته اړولی دی. خبره داسې وه چې ډاکتر شېرحسن د غرمې ډوډۍ پر وخت د ښاغلي حاجي صيب فضل کريم او همدې جنرال سره پر مېز يو ځای شو. حاجي فضل کريم ډاکترصيب شېرحسن ته وويل چې ډيپلوماسي ونه کړې، د هغــه خبرې کټ مټ ورته ترجمه کړه؛ خبره يــې قيچــې نــه کــړې، ډاکتــر شېرحسن حسن همداسې وکړل. حاجي فضل کريم جنرال ته وويل: ((تا خو به دا مډالونه له دې امله اخيستي وي، چې ډېــرې جګــړې بــه دې ګټلې وي او خلک به درته مبارکي هم وايي)) هغه ورته وويــل: ((بلــې همداسې ده!)) حاجي صيب ورته وويل: ((زه هم درته مبارکي وايم چې ته دومره زړور منصبدار يې! خو ته اوس ماته مبارکي ووايه چې موږ تاته په افغانستان کې ماتې درکړې ده!))

هغه جنرال موسکی شانته شو او په ځواب کې یې ورته وویل: ((ته هم پر دې پوهېږې چې زموږ پوځ ته چا ماتې نه ده ورکړې، موږ د خپل




سیاسي مشرتابه په پرېکړه افغانستان ته تللي وو او په همداسې یوه بله فیصله له افغانستان څخه راوتلي یو، دا بله خبره ده چې سیاسي سیستم په مجموع کې بدل شو. ګرباچوف د پخواني مشرتابه پر خلاف د شوروي د بیارغونې او نوي اندود په تعقیب پرېکړه وکړه، چې زموږ پوځونه له افغانستانه راووځي. د سیاسي فیصلې د ماتې او ګرځېدو خبره مطرح کېدی شي، خو زموږ د پوځ د ماتې خبره نادرسته ده.)) دغه جنرال نور هم غوښتل چې خبرو ته دوام ورکړي، خو حاجي صیب فضل کریم تر پایه نورو خبرو سره موافقت ونښود.

# ګروپي کار

ګروپي کار تر غرمې وروسته تقریباً پر درېو بجو پیل شو. کار پر درېو ګروپونو ووېشل شو: امنیتي برخه یا امنیتي ګروپ، کلتــوري برخــه او اقتصادي برخه. د برخوالو وېش په خپله خوښه و، هر چا هر ګروپ کې ځان تنظیمولای شو.




په پیل کې د افغان روســیې د فــوروم یــا جرګــې مرســتیال ښــاغلي (سېرافیم مېلېنتېف) خبرې وکړې او د دې سیمینار یا ورکشاپ طرز یې تشریح کړ، هیله یې وکړه هر برخوال لنډې لنډې خبرې وکړي چې ټولو ته نوبت ورسېږي، ویې ویل: ((دا ورکشاپ او ګروپي کار د افغانستان او نورو د کلکتیفي همکارۍ او امنیت په باب جوړ شوی دی. موږ د اسیایي

**او اروپايي امنيت په باب مشترک تصميمونه نيسو، لومړی درېو تنو او بيا که وخت و، نورو ته هم وخت ورکوو، کله چې څوک وينا کوي پر هغې باندې بايد د بحث وخت هم په پام کې ونيسو.))**




**لومړی يو تن وويل: ((موږ د روسيې فدراتيف د مخدره موادو د کنټرول په رياست کې کار کوو، تاسې ته به په دې باب معلومات درکړو، اوس زموږ په مخکې ډېر نوي کارونه پيدا شوي دي. بايد دا کارونه په ګډه ترسره کړو. اوس په افغانستان کې د تروريزم او مخدره موادو پرضد جګړه روانه ده، مخدره مواد او تروريزم دواړه خطرناک دي. ځينې کسان يوازې د مخدره موادو د قاچاق کاروبار کوي، له کښت سر يې کار نه لري. د مخدره موادو ريښې بايد وباسو، نه دا چې کروندګر يې بنديان کړو. اقتصادي پرمختيا بايد رامنځته شي، د توليد او مبارزې ترمنځ تعادل بايد محاسبه کړو، موږ بايد د مبارزې قوت زيات کړو، اول بايد د هغو موادو مخه ونيسو، چې له منځنۍ اسيا څخه روسيې ته ځي. کله چې دا**

**مواد له منځه یوړل شي، خلک نورو اقتصادي کارونو ته مخه کوي. دا یوه مشترکه مبارزه ده، باید په ګډه یې ترسره کړو. زموږ هیله ده چې تاسو موږ ته معلومات راکړئ. که ګډه همکاري وکړو، نو یوه مشترکه نتیجه ترلاسه کولای شو. تاسې کولای شئ په جلا جلا ډول هم خپل نظرونه ووایئ، موږ یې ولیکو او یا یې هم موږ ته ولیکئ!))**

**دې خبرو پسې سملاسي له افغانستان څخه ښاغلي احمد سیدي خپلې خبرې پیل کړې، هغه وویل: ((درې مسایل ډېر مهم دي:**




**د امنیت مسله، د منطقې امنیت او په هغو کې د روسیې نقش.)) سیدي وویل: ((په افغانستان کې امنیت یوازې په افغانانو پورې اړه نه لري، دا باید موږ په یوه لویه دایره کې مطالعه کړو، د منطقې امنیت ته باید پام وکړو، په سیمه کې یو افراطي او تروریستي حرکت شته، چې ریښې یې په پاکستان او نورو هېوادونو کې دي او افغانستان کې عملیات کوي، بیا له هغه ځایه منځنۍ اسیا او بیا به روسیې ته هم رارسېږي، نو د دې لپاره**

د افغانستان امنیت یوه مجرده پدیــده نــه ده، دا بایــد د منطقــه یــې همکارۍ په چوکاټ کې مطالعه او وڅېړل شي. روسیه باید له افغانستان سره د امنیت په راوستلو کې له بېلابېلو لارو مرسته وکړي.)) د سیدي صیب خبرې ډېرې اوږدې وې، خو د سرغوړ یې همدا و.

ورپسې د کابل پوهنتون استاد نسیم گل توتاخېل ته نوبت ورســېد، هغه وویل: ((زه یوه مفصله مقاله لرم، خو غواړم اصلي مطلب په لنډ ډول بیان کړم.

زه د (۱۷۳) سازمانونو استازی یم، اصلي خبره دا ده چې که سیاست اصلاح شي امنیت خپله ښه کېږي، دا دی تر شلو کلونو وروسته روسان او افغانان پر یو مېز سره کېني او پر مشکلاتو غږېږي، خبره په دې کــې ده چې د افغانستان حکومت بې کفایته دی، هغه د امنیت د راوســتلو توان نه لري، ځینې امنیتي چارواکي په خپله په اداري فساد او د مخدره موادو په قاچاق کې لاس لري، تر هغه پــورې چــې پــه حکومــت کــې اصلاحات رانه شي، د حکومت او خلکو ترمنځ فاصله له منځه لاړه نــه شي، امنیت نه شي راتللای، که نړیوال ځواکونه نور هــم زیــات شــي، امنیت نه شي ټینگېدی، د امنیت راوستل هغه وخت ممکن دي، چــې هلته د خلکو په خوښه یو حکومت رامنځته شي.)) توتاخېل صیب هم ښې اوږدې انتقادي خبرې وکړې، خو د منځ غټ ټکي یې همدا وو.

دې پسې زما (یون) نوبت راورسېد، ما وویل: ((زه خپل نظر پــه څــو لنډو جملو کې وړاندې کوم، ډېر وخت نه نیسم، زما په نظر د نورو عواملو ترڅنگ که دغه لاندې کارونه ترسره شي نو مخدره مواد به کنټرول او امنیت به ورسره ټینگ شي: ۱- فقر له منځه یوړل شي، ۲- د کوکنارو بدیل کښت پیدا شي، ۳- د تاجکستان سرحد ښه وتــړل شــي، ۴- د

**مخدره موادو د عرضې او تقاضې مارکېټ مهار شي، ۵- د جزا قــوانین سخت شي، ۶- امنیتي سکتور پیاوړی شي، ۷- دولتي ارګانونه اصلاح او قوي شي.))**

**له ما څخه ټولو څکه مننه وکړه، چې وخت مې ډېر کم ونیوه، ما پسې ښاغلي نادرخان کټوازي ته نوبــت ورسېد. هغه وویل: ((په افغانستان کې امنیت هغه وخت راتللای شي چې د ولس ملاتړ جلب شي. زمــوږ ولس د خپلو مشکلاتو د حل لپاره خپله تجربه لري، هلتــه متــل دی چې په زور کلي نه کېږي، که نړیوال ځواکونه هر څومره زور وکاروي، خو چې د ولس همکاري راجلب نه شي سوله نه شي راتللای، موږ جرګې او**




**مرکې لرو، د شخړو پر وخت باید له هغو څخه کار واخیستل شي. بله د مخدره موادو موضوع ده چې همېش یې خلک په افغانستان پورې تړي، دا سمه ده چې کوکنار به هلته کرل کېږي، خو دا روسیې ته یې څــوک راوړي او له دې ځایه یې اروپا ته څوک وړي؟ د دې پوښتنه هــم بایــد وشي، دغه نړیوال قاچاقچیان چې کنټرول نه شي او تقاضا له منځه لاړه نه شي د مخدره موادو مشکل نه حلېږي.))**

**دې پسې سیدي صیب یو ځل بیا نوبت واخیســت، ویــې ویــل: ((د افغانستان او مخدره موادو مشکل نړیوال دی، روسیه او امریکا دښمني لري، دوی یو بل سره سمه همکاري نه کوي، نو ځکه په دې برخه کــې**

پرمختګ نه رامنځته کېږي، که دوی صادقانه همکاري وکړي، نو کېدی شي پرمختګ وشي.))




دې پسې په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو استازې شـــکریې بـــارکزۍ نوبـــت واخیست، هغه هم د همدې کمېسیون یا ګروپ غړې وه. هغې وویل: ((روسیه بایـد د افغانســـتان لـــه مرکـــزي حکومـــت ســـره همکـــاري وکړي، نه لـه تیـت و پرکـو ګوندونو او ډلو ټپلو سره. مرکزي حکومـت د قانونیـت او مشـروعیت سرچینه ده دا که هر څوک د دې مرکزي حکومت په راس کې وي، هغه مهمه نه ده. روسیه له امریکا سره تفاهم ته اړتیـا لـري. د افغانســتان مشکل او د مخدره موادو مشکل منطقه یي او نړیوالې ریښې لري. باید د منطقې او نړۍ په کچه ورته وکتل شي. دا مشکل یوازې د افغانستان نه دی او نه یې په یوازې ځان حلولای شي.))

ورپسې د بلخ د ولایتي شورا رییس ښاغلي فرهاد خبرې پیل کـړې، هغه وویل: ((روسیه او امریکا د افغانستان په اړه د نظریاتو اختلاف لري، سره له دې چې د افغانستان د حکومت له خوا څو ځله تقاضا شوې ده، د روسیې، امریکا او افغانستان ترمنځ باید اعتماد رامنځته شي. روسیه باید د تروریزم او مخدره موادو پر ضد د مبارزې په اړه له امریکـا ســره توافــق تــه ورســېږي، افغانســتان څــو ځلــه د مرســتو لپــاره پــر




**روسيې غړ کړی، افغانستان اوس په داسې یو حالت کـې دی چـې لـه هرچا څخه مرستې ته اړتیا لري.))**

**ددې ګروپي کار شکل داسې و، چې په یوه خونه کې یې کتار مېزونه ایښي وو، څلورو خواوو ته مېزونه وو، منځ یې تش و، نږدې پنځه ویشت دېرش کسان یې ځایول، یوې خواته افغانان او بلې خواته روسان ناست وو. کله چې د ښاغلي فرهاد خبرې وروستي حد ته ورسـېدې، نـو لـه روسیې لوري یو تن وویل: ((تر هغه چې افغانستان او روسیه یو ګډ نظر ته ونه رسېږي، کومه مثبته نتیجه منځته نه شي راتللای.))**

**وروسته د افغانستان په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازي ښاغلي ببرک شینواري ته نوبت ورسېد، ده په خپلو خبرو کـې وویـل: ((اوس حالت داسې دی چې ډېر هېوادونه هلته راغلـي دي، دا د یـوه هېواد یا هم د یوې منطقې د هدف لپاره نه دي راغلي، دلته د اهـدافو یوه مجموعه ده، اوس دا جنګ دومره پراخ دی چې یوازې زموږ ملت یې**

بار نه شي پورته کولای. د امنیت د خرابۍ عوامل کورني دي، بهرني دي او نړیوال دي، داخلي فکتور دادی چې نړیوالې ټولنې او زموږ حکومت ونه کړای شو چې قوي مرکزي حکومت جوړ کړي، زموږ امنیتي سکتور د جنګ د کنټرول صلاحیت نه لري، ملت له دولت څخه لرې شوی، قوي دولت همغه دی چې د خلکو ملاتړ ولري، د روسیې په ګډون زموږ ګاونډي هېوادونه یو هم له مرکزي حکومت سره مرسته نه کوي. ایران او پاکستان مستقیماً مداخله کوي، تاجکستان او ازبکستان خپلو پلوي ډلو سره روابط ساتي، نه ټول افغانستان سره، په خواشینۍ سره چې روسیه هم په دې کټه ګورۍ کې راځي. دې انستیتیوت ( د وګړ پوهنې انستیتیوت) یوه مسله مطرح کړې ده چې په روسیه کې درې کټه ګورۍ خلک دي: د افغانستان مرکزي حکومت غواړي، بې تفاوته دي او د افغانستان د یوې برخې له خلکو سره مرسته کول غواړي، خو موږ غواړو چې د روسیې نوی سیاست موږ ته روښانه شي. د نړیوالو قوتونو له خوا ډېر خلک وژل کېږي دا یو ډېر غټ پرابلم دی. د بهرنیو قوتونو تر راتګ وروسته نه عوام، نه حکومت او نه هم زموږ په څېر نور خلک پر دې پوهېږي چې حالت کومې خواته روان دي.

که امریکایان د افغانستان له سرحده اوړي یا راوړي، افغانستان ته نه وايي، د روسیې مشران هم چې کومې بیانیې د افغانستان په اړه ورکوي، اکثره غلطې وي، هیله ده چې دا سیمینار ګټور تمام شي.))

دې پسې د روسیې د کلتوري ستراتیژۍ مرستیال خبرې پیل کړې هغه وویل: ((د تروریزم په پلمه افغانستان ته د ډېرو هېوادونو راتګ نور مشکلات پیداکوي، د دوی په راتګ سره مخدره مواد نور هم زیاتېږي.)) ده زیاته کړه: ((افغانستان کې باید نژادي تفاهم رامنځته شي، هغه

اداري چې پردی رنګ لري باید حذف شي، د طالبانو تر سقوط وروسته د مخدره موادو کښت زیات شوی دی، د نړیوالو قوتونو تــدابیر کمــزوري دي، بهرني قوتونه نه غواړي د دوی عسکر له قاچاقچیانو سره په جګړه کې ووژل شي. روسیه د مخدره موادو پرضد د نړیوالو ځواکونو مبــارزه تائیدوي. د دې لپاره موږ وړاندیز کوو چې په (الماتا) کې د مخدره موادو د کنټرول کمېسیون جوړ شي.))

ما(یون) غوښتل چې د ((نژادي تفاهم)) په اړه د دې ګډونوال نظــر ځواب کړم، خو نادرخان کتوازی چې زما ترڅنګ ناست و، ماته یې وویل چې زه یې ځواب وایم. نادرخان کتوازي وویل: [بهرني قوتونه زموږ یــو تریخ ضرورت دی، که نه نو موږ هېڅکله بهرني ځواکونه نه شو زغملای، تر هغه پورې به دا قوتونه وي چې موږ په خپلو پښو ودرېږو. د ((نــژادي تفاهم)) په اړه باید ووایم چې دا تفاهم هلته شته، خو پخواني شوروي اتحاد دې مسایلو ته لمن ووهله او اوس له روسیې څخه هیله کوو چې دې مسایلو ته لمن ونه وهي.]

دې پســې د روســیې د (کرســنادار) پوهنتــون یــو اســتاد(ارکادي مېلنیک) خبرې پیل کړې، ده وویل: ((زه د افغانستان او ایران متخصص یم، زه غواړم هغه مسله یاده کړم چې چا ورته تر اوسه اشاره نه ده کړې. دا د نړیوالو پیسو مسله ده، چې چا ورته تر اوسه ګوته نه ده نیولې، موږ پوهېږو چې مالي حساب و کتاب نه وي، نظم منځته نه راځي، د روسیې او افغانستان د مخدره موادو د کنټرول د ادارو ترمنځ همکاري شته، خو دا همکاري کمزورې ده، د سرحدي ارګانونو او کورنیو چارو د وزارتونــو ترمنځ هم اړیکي ټینګ دي، موږ غواړو نوي مناسبات پرانیزو او نوې پانه خلاصه کړو. غواړو د افغانستان لپاره یو نوی استازی وټاکل شي. تاریخي

تجربو ښودلې چې په یوه هېواد کې هم، د بهرنیو قواوو موجودیت مثبته نتیجه نه ورکوي. دا د تاسف وړ خبره ده چې په افغانستان کې د بهرنیو قوتونو د وتلو زماني جدول نه په ګوته کېږي. دا کار باید د افغانستان د مرکزي حکومت د استحکام له مخې ترسره، خو د یوه ضرورت په توګه باید په ګوته شي.))

دې پسې د افغانستان نومیالي لیکوال او شاعر ښاغلي سلیمان لایق ته نوبت ورسېد، هغه چې ټولو ته مخامخ د مشرانو مېلمنو په ډله کې



د ګروپي کار یوه بله برخه

ناست و، وویل: ((زه غواړم د هغه سیاست په اړه خبرې وکړم چې د مخدره موادو په اړه دی، دا سیاست یوازې په افغانستان او روسیې پورې اړه نه لري، هغه مخدره مواد چې روسیې ته راځي، ټول په روسیه کې نه جذبېږي، نورې نړۍ ته ځي، د روسیې او نورې نړۍ اتباع وژني، نو باید په دې ارتباط د امریکا او روسیې دواړو ترمنځ خبرې وشي. څو موده دمخه د روسیې د بهرنیو چارو وزیر له امریکایي مقاماتو سره وکتل او

شخصاً يې په دې باب خبرې وکړې. مخدره مــواد د دغــو دوو نړیوالــو ځواکونو د شخړو په نتیجه کې رامنځته شوي دي. زه فکر کوم تر بلــې هرې مسلې د روسیې او امریکا مناسبات ډېر موثر دي. زموږ په هېــواد کې داسې عناصر شته، چې د دې مناسباتو مخالف دي. دا ډلې له خپلو ملي منافعو سره جفا کوي. په تېر وخت کې روسیه زموږ په هېواد کــې وه، امریکایانو روسیه اخلالوله، اوس خبره د دې پــرعکس ده، داســې ښکاري چې روسیه په افغانستان کې د امریکا پر حضور راضي نه ده، له دې مجلس څخه هم پټه ولګېده، له دې اختلاف څخه روسیه، مــوږ او امریکا ټول عذاب ګالو، موږ په دې هیله یو چې مروره روسیه چــې پــه افغانستان کې ډېر وظایف لري، بېرته په خپلو کارونو کې همکاري وکړي، د مخدره موادو په شمول. که موږ غواړو مخدره مواد کنټرول کړو، نو د روسیې او امریکا توافقات په کې ډېر موثر دي. مننه.))

د لایق صیب تر خبرو وروسته توتاخېل صیب او بارکزی صیب دواړو نوبت واخیست، دوی د ((نژادي تفاهم)) په اړه د روسیې لوري د یو تن خبرې رد کړې او د نادرخان کتوازي خبرې یې تائید کړې.

بیا په ولسي جرګه کې د نیمروز د خلکو استازي ښاغلي خدای نظر سرمچار نوبت واخیست، هغه وویل: ((د دواړو هېوادونو دا اوسنی ناسته یوه ښه بېلګه ده، ملي امنیت داسې پروژه نه ده چې په یو نظر مطالعه شي، وخت پر وخت باید وڅېړل شي. یو دولت هغه وخت په امنیت کې پاتې کېدی شي چې خلک یې په امنیت کې وي، که جګړه نه وي، نو یو دولت باید د دې توان ولري چې خپل ملي وظایف ترسره کــړي. زمــوږ امنیت ډېر اړخونه لري. موږ یو مخصوص حالت کې یو:




**ایـــران لـــه امریکـــا ســـره مشـــکل لـــري، پاکســـــتان د افغانســــتان د خپلولو په لټه کې دی، نړیواله ټولنه مشخصـــــــه ستراتیژي نه لري. خبره داده چې زموږ په شان بحراني هېوادونـو کـې قوي رهبرانو ته اړتیا ده، زموږ ځینې رهبران خپله په فساد کـې غـرق دي، خپله په قاچاق کې ډوب دي، د بد امنۍ لاملونه زیات دي، په یـوه غونډه کې ټول نه شي تشریح کېدلای.))**

**تر دې خبرو وروسته د ګروپي کار دا ناسته تقریباً پای ته ورسېده، خو د پرېکړه لیک په اړه بحث ته اړتیا وه، په عمومي غونډه کې وویل شول چې پر پرېکړه لیک یو دري کسیز ګروپ کار کړی؛ یوه (خاکه) یې جوړه کړې خو دا وروستۍ او بشپړه نه ګڼل کېږي، د کره کولو او بشپړولو لپاره تاسې ته درکول کېږي چې د ګروپي کار په ترڅ کې پرې بحث وکړئ او بشپړه یې کړئ.**

**پرېکړه لیک په درېو ژبو: پښتو، دري او روسي لیکل شوی و، شکریې بارکزۍ چې د پرېکړه لیک دري متن ولوسـت نـو قلـم یـې ورپســې راواخیست، پښتو متن یې هم وکوت، ویې ویل: ((دا لـه یـو بـل سـره سمون نه خوري، د پرېکړه لیک بنه نه لري، باید له سره پرې کار وشي.)) شکریې بارکزۍ څو ځله ماته وویل: ((یونه! زه یې درته وایم ته یې لیکه**

همدا به فاینل کړو.)) ما وویل: ((صبر کوه، دلته خو یوازې زه او ته نه یو، دا ټـــول زمـــا او ســـتا پـــه شـــان خپـــل خپـــل نظرونـــه لـــري.




دلته فاینل کېږي نه، د ټولو نظرونه به واخلو، تکراري به ترې وباسو، بیا به یې د یوه پرېکړه لیک چوکاټ ته ورداخـــل کـــړو.)) شـــکریې وویـــل: ((یونه! ته مې چې  مخالفت ونه کړې نور یې هېڅوک نه کوي.)) ما ورته وویل: ((دلته ټول من دي، نیم منی نه شته زه یوازې دومره کولای شم چې د ټولو تر توافق وروسته یې ژبه سمه کړم، پښتو متن به یې کره کړو، بیا به یې روسي او دري ژبو ته هم واړوو.)) په پای کـــې د ټـــول ګـــروپ مشوره او سلا په دې راغله چې افغان لوری دې په خپل منځ کې کېني او خپله طرحه دې وړاندې کړي. دغه راز له نورو ګروپونو سره دې هـــم مشوره وشي او د هغوی نظریات دې هم ورسره یوځای شي. په همـــدې سره ګروپي کار پایته ورسېد.

زموږ د امنیتي ګروپ ترڅنګ په اقتصادي او کلتوري برخو کې هــم تاوده بحثونه شوي وو، خو هلته چا کوم منظم یادښت نه و اخیســتی، اکثره خبرې د هوا څپو خوړلې وې، نو ځکه خو ما د هغو ګروپونو د کړي




کار څه لیکلی متن ترلاسه نه کړای شو، خو په مجموعي ډول په دواړو ګروپونو کې پر کلتوري او اقتصادي همکاریو ټینګار شوی و.

# یوه مابښامنۍ په قفقاز هوټل کې

مخکې تر مخکې د افغاني هئیت غړو ته ویل شوي وو، چې د ښاغلي (الکوزي) شرکت له خوا افغاني هئیت ته مېلمستیا شوې ده. الکوزی شرکت د افغانستان له مهمو شرکتونو څخه دی، چې نه یوازې په هېواد،بلکې تر هېواده بهر په یو شمېر نورو هېوادونو کې هم خپلې استازۍ لري. په مسکو کې هم د دې شرکت استازي شته، چې د همدې



د افغاني هئیت غړي په قفقاز هوټل کې د ډوډۍ پرمهال

نمایندګۍ له خوا دا مېلمستیا ترتیب شوې ده. قفقاز هوټل د مسکو ښار په زړه کې دی، دا د چیچنایانو یو هوټل دی، د هوټل ډېکورېشن (سینګار) داسې جوړ شوی و چې د قفقاز د کلتور څرګندونه یې کوله،

لرګی په کې تر حده زيات کارول شوی و او طبيعي جوړښت ته يې ډېره پاملرنه شوې وه، د هوټل ټول کارکوونکي قفقازيان وو. ډوډۍ يې افغاني ډوډۍ ته ډېره ورته وه، تر ډېره وخت مو ډوډۍ وخوړه، ډوډۍ يې عيناً لکه د شينوارو د مېلمستيا غوندې وه، چې لومړی پتې داني راوړي، بيا نور کباب او بيا وروسته اساسي ډوډۍ. که څوک د شينوارو د سيمه ييز کلتور له دې حالت څخه خبر نه وي، نو په همغه لومړي پړاو کې ځان مړوي، پر ما باندې هم دا کار وشو، ورو ورو يې ډوډۍ راوړله، خو ما پـه پيل کې ځان په ترکارۍ او نورو شيانو موړ کړی و، خو وروسته وروسته بيا نور ډول ډول کبابونه راوړل شول، ډول ډول جوسونه او د عوامو په اصطلاح شربتونه هم وو. چای مو هم دلته وڅښه. په پای کې ښـاغلي


ښاغلي سليمان لايق د خبرو او مننې پر مهال

سليمان لايق د ټولو په استازۍ د الکوزي شرکت له مشرتابه څخه مننه وکړه، چې د دې هئيت ډېره ښه مېلمه پالنه يې وکړه. د شپې څه کـم

(۹) بجې وې چې له هغه ځايه مو د مېلمستون پر لوري حرکت وکړ. کله چې موټر کې کېناستو نو ببرک شينواري صيب يوه ټوکه وکړه، دا ټوکه




داسې وه لکه د خندا درمند ته چې پلته ورته کړې، له همغې ټوکې چې خندا پيل شوه ان تر مېلمستونه پورې، دومره مو وخندلې چې بدوډي مو شنه شول، ځينې ټوکې په کې داسې وې چې يوازې د څو تنو ترمنځ بايد وويل شي، د کاغذ پرمخ يې ليکل شوني نه دي او يا هم مناسب نه برېښي، په موټر کې ناست څو تنه روسان هم موږ ته حيران وو چې دا څه ډول خلک دي، هغوی په ټول عمر کې دومره په کړس خندا نه وه ليدلې، ما طاهر شينواري ته وويل: ((دوی ته ووايه چې تاسې خفه نه شئ که چېرې خبر شئ تاسې به هم له خندا شنه شئ)) طاهر څو ټوکې ورته پټې وژباړلې، هغوی هم خندا ته کش ورکړ، بيا غلي شول، بيا يې طاهر شينواري ته وويل: ((افغان څومره مقاوم ملت دی، له دومره

**سختیو سره سره دوی دومره مست او خوشاله خلک دي چې پر سختیو هېڅ رای نه وهي، که پر مورږ داسې حالت راشـــي، لــه اخ و ټوخــه بــه ولوېږو.))**

**په همدې ټوکو ټوکو کې تر مېلمستونه ورسېدو، پر لاره هېڅ پوه نــه شو، خو ښاغلي ببرک شینواري بیا بلــه ټوکــه ونــه کــړه. کلــه چــې مېلمستون ته ورسېدو، نو ښه د مزې ستړي وو.**

# له سوداګرو سره غونډه

د مې (۱۵) مه نېټه د جمعې ورځ وه، سهار وختي له خوبه پاڅېدم، لږ سپورت مې وکړ، بیا چای ته لاړو. پر اته نیمو بجو مو له مېلمستون څخه د بلې غونډې ( له سوداګرو سره غونډه) پر لوري حرکت وکړ. کاڼي صیب راته په موټر کې وویل: ((روسیه خپله انرژي له اټومي انرژۍ څخه پوره




کوي، نو ځکه دلته د انرژۍ هېڅ کمی نه احساسېږي.)) پوره لس بجې د اقتصادي جلسې لپاره اړوند هال ته ورسېدو. دا هال داسې و لکه د کوم ټلویزیون ستوډیو، ځکه چې د یوې ستوډیو ټول تجهیزات په کې تیار نصب وو، څو دقیقې وروسته د غونډې اکثره برخوال پوره شول. اغلې شکریه بارکزۍ هم راغله. لومړی یې د بېګاه شپې د ټوکو ټکالو پوښتنه وکړه، ما ویل: ((حال د ویلو لایق نه دی.)) غونډه پر لس نیمو بجو پیل

شوه، په غونډه کې افغان او روسـي سـوداګرو دواړو ګـډون کـړی و. پرانسیتونکې وینا ښاغلي سردارعلي سراج واورولـه چـې د شـکریې بارکزی ورته چندان خوښه نه وه. ښاغلي سراج په پیل کې وویل: ((زما لپاره ویاړ دی چې نن دې غونډې ته خبر شوم، تیاری نه لرم خو کوښښ کوم چې ځان ونه شرموم. د بشر پېژندنې انستیتوت څخه مننه کـوم، زموږ پنځه ورځې کېږي چې دلته راغلي یو، د مخدره موادو په باب مـو ډېرې خبرې وکړې، خوشاله یو چې نن پر اقتصادي مسایلو بحث کوو. د افغانستان او روسیې د دوستی (۹۰) کاله کېږي، پر (۱۹۲۱م) کال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو تړون لاسلیک شو، اوس ډېر ښـه وخت دی چې روسیه افغانستان کې پانګه واچوي او اقتصـاد تـه وده ورکړي، د افغانستان په فعلي حالاتو کې چې زه څه ګورم، یو یې چې ډېر مهم دی، زراعت دی، (۳۰) کاله مخکې موږ خودکفا وو او حتی بهر ته مو صادرات درلودل، نساجي صنعت و، خو اوس فعال نه دی. افغانسـتان کې اوس (۱۱۰۰) معدنونه دي، راځئ چې نن پـر هغـو خبـرې وکـړو، د پنجشېر او سروبي خو ډېر مشهور دي، دا په نافني ډول استخراجېږي او په سلو کې اتیا یې له منځه ځي. که سوداګر دلچسپي ولري، نـو بایـد راشي په دې برخه کې پانګه واچوي. یاقوت هم لرو، بیـروج هـم لـرو، خلک همېشه وایي چې افغانستان ډېر خطرناک دی، زه دوه کاله کېږي، افغانستان کې اوسم، تر اوسه لا ژوندی یم. برازیل کې مې څلور کاله تېر کړل، خو هره ورځ وېرېدلم، که تاسو غواړئ افغانستان کې پانګه واچوئ، نو یو دفتر باید په کابل او یو دلته ولرئ. هغه دفتر باید تاسې ته معلومات درکړي. موږ حاضر یو ستاسو پوښتنو ته ځوابونه درکړو.))

ښاغلي سراج پسې په افغانستان کې د روسیې د سوداګرو استازي ښاغلي (یوري ایوایف) خبرې وکړې ویې ویل: ((په دې ورځو کې د افغانستان یو لوړ پوړی هئیت چې د پارلمان، حکومت او مدني ټولنو استازي کوي، دلته دی. افغانستان په نړۍ کې یو کلیدي ارزښت لري، په




تېره بیا مرکزي اسیا کې. افغانستان زیات جیوپولتیک او جیوستراتیژیک ارزښت لري. نه یوازې افغانستان د سیمې هېوادونو، بلکې ټولې نړۍ ته! د انرژۍ او نورو مسایلو له پلوه خورا ارزښت لري. که افغانستان کې ثبات راشي ګاونډي هېوادونه او نوره نړۍ به ترې ګټه واخلي. افغانستان به سیمې او نړۍ ته خطر نه وي. د افغانستان اقتصادي رغونه ډېره مهمه ده، دا شخړه پوځي حل لاره نه لري، له تاسې څخه هیله کوم چې ځینو ټکو ته پام وکړئ! دې ټکو ته په عمومي غونډه او اقتصادي کمېټه کې هم اشاره وشوه. د (۱۴۲) پروژو یادونه وشوه، د (۳۰) نورو جوړونه درول شوې وه. (۱۴۷) نور تاسیسات شته چې د

موثریت له مخې، د هغو د تاسیساتو له مخې پرې کار شوی، هیله ده د پاملرنې وړ وګرځي، د هغو پروژو د بیا جوړونې ترڅنګ چې مخکې یې یادونه وشوه، دا ستراتیژي د دې غوښتنه کوي، چې پر څو برخو ووېشل شي:

لومړی باید د افغانستان اقتصادي پوتنسیال تامین شـي. یـانې تـر (۱۹۹۲م) کال پورې دې تاسیساتو کار کاوه، دا د ګازو او ډېرو سـکرو د استخراج تاسیسات او نور وو، له دوی څخه په نورو صنعتي برخو کـې ګټه اخیستل کېدله او ډېرو کارګرانو ته یې کار پیدا کاوه. که دا کارونه بیا پیل شي، نو د ځینو کشمکشونو مخه به هم ونیسي. په دویمه برخه کې د دولت ملاتړ دی، پخوانو پروژو تـه د روسـیې بېرتـه ګرځېدنـه ده. افغانستان باید د قانوني چارو په برخه کې هڅه وکړي، څنګه چې زموږ او افغانستان ترمنځ قانوني قراردادونه نه شته، روسیه باید خپل ځینې مسایل وپېژني په تېره بیا مالي مسایل. زه غواړم تاسو سره پر مشخصو ټکو بحث وکړم، د پرونیو خبرو په تعقیب باید لېوال اشخاص دعوت کړو، لکه د سمنټو تولید، که یو افغاني شرکت غواړي پانګه ولګوي، نـو یـو روسی شرکت هم کولای شي له هغو سره شریک شي.))

دې پسې مېرمن شکریې بارکزۍ نوبت واخیست ویې ویل: ((لومړی ټولو ته سلامونه! زه د خصوصي سکتور استازي نه کوم، خو د کابـل او مسکو سوداګرو ته باید نوبت ورکړای شي، زه غواړم د پارلمان د یـوې وکیلې په توګه خبرې وکړم، د افغانستان د اساسي قانون لسمه ماده، د افغانستان اقتصاد د بازار اقتصاد ګڼي، د اقتصاد ملاتړ د دولت دنده ګڼي او تشویق یې هم د دولت کار دی. نورو قوانینو د پانګونې لپاره طلایـي شرایط برابر کړي دي. موږ اوس له رهبري شوي اقتصاد څخـه د بـازار

اقتصاد پر لوري ګامونه اخلو. نن خصوصي سکتور ډېره وده کړې ده، اوس موږ په هېڅ ډول خپل خصوصي سکتور ته په نه سترګه نه شو کتلای، د سولې او جګړې پر وخت یې د خلکو لپاره کار کړی دی. څو مشخص وړاندیزونه لرم؛ رییسه هئیت ته: ۱- تجارتي



په سوداګریزې غونډه کې شکریه بارکزۍ د پوښتنې پرمهال

روابط باید له سیاسته لرې وساتل شي، ۲- له سوداګر سره د سوداګر خبرې د مسایلو اساسي کیلي ده، ۳- موږ هیله من یو د افغانستان تاجرانو ته یو ډول سبسایډي وزغمئ!

۴- د وېزې اسانتیاوې باید دواړو خواوو ته برابرې شي.

۵- د افغانستان او روسیې تاجران باید د تجارت د نړیوالو اتاقونو تر چتر لاندې سره یوځای شي او غټ غټ کارونه ترسره کړي.)) د شکریې بارکزۍ تر دې خبرو وروسته د پروګرام چلوونکي وویل: ((په دې پروګرام کې نه یوازې روسي سوداګر، بلکې ډېر نور شخصیتونه هم شته. په تېره (پرونۍ) غونډه کې د دواړو هېوادونو موثر شخصیتونه حاضر وو.))

پر دې وخت له بلخ ولایت څخه یو تن افغان سوداګر پورته شو، ویې ویل: ((د روسیې د پارلمان او سوداګرۍ اتاقونو څخه مننه کوم چې د روسیې او افغانستان ترمنځ یې د نویو روابطو لپاره لاره اواره کړه. موږ په افغانستان کې د کانونو په برخه او په تېره بیا په بلخ کې د روسي سوداګرو پانګونې ته اړتیا لرو. له (۲۰۰۱م) څخه تراوسه پورې په بلخ کې ښه امنیت شته او سوداګرو ته د کار ښه زمینه برابره ده، موږ ورته ډاډ ورکوو چې په ګډه همکارۍ سره هر ډول کارونه ترسره کولای شو. زه د بلخ د سوداګرو او اریانا ګروپ په استازۍ روسي سوداګرو ته وړاندیز کوم چې په بلخ کې پانګونه وکړي.))


فرهاد عظیمي د پوښتنې پرمهال

دې پسې د بلخ د ولایتي شورا رییس وویل: ((زه د بلخ د ولایتي شورا رییس یم او د هغه هئیت مشري کوم چې د بلخ د سوداګرو استازي کوي او دلته د هغوی په استازۍ راغلی دی. د قانوني امکاناتو په باب دوستانو خبرې وکړې، زه غواړم د ناټو د هغې پرېکړې په باب چې د افغانستان له شمالي ګاونډیو څخه به خپل اکمالات کوي، د بلخ ولایت د حساس موقعیت په باب څو خبرې وکړم. نړیوال قوتونه په بلخ ولایت کې د (۱۲۰) ملیونو ډالرو په لګښت تجارتي میدان جوړوي او د حیرتانو د اورګاډي لیکه ترمیموي. پر (۲۰۱۲م) کال به دا پروژه بشپړه شي، هلته برېښنا هم شته، د سوداګرو

لپاره لاره اواره ده. په سرپل، مزارشريف او شبرغان کې د نفت و ګاز د استخراج لپاره ښه زمينه برابره ده. د کود برق او جرقـدوق فابريکــه د پانګونې ښه شرايط او امکانات دي. له روسي سوداګرو څخه هيله لــرو چې په شمال او د هېواد په نورو سيمو کې پانګونه وکړي او امريکايانو ته منتظر نه شي چې هغوی په کومو برخو کــې پانګونــه کــوي او دا ډول پروژې به روسي کمپنيو ته نه ورکوي.))

د ښاغلي فرهاد په دې خبرو پسې د پروګرام منتظم ښاغلي کروپنوف وويل: ((رښتيا هم د افغانستان په شمال کې ډېر تاسيسات شــته، نــه يوازې په شمال، بلکې د افغانستان په نورو سيمو کې هم ډېر تاسيسات شته، مورِ ته مخکې ښاغلی سراج يو سند راکړ، چې په هغو کــې ډېــر معلومات شته.))

کروپنوف زياته کړه: [د افغانســتان او روســيې د جرګــې برخوالــو!




ښه راغلاست! لومړی غواړم له افغاني هئيت څخه مننه وکړم، چې لــه

تنګ پروګرام سره سره یې ډېره اوسېله وکړه. د نن ورځې د وروستۍ برخې په باب خبرې کوم، خو په پیل کې د همکاریو د مفهوم په باب غواړم څه ووایم. د مشکلاتو د حل لپاره له ټولو خواوو څخه په لوړه کچه هیله شوې ده. ستاسو هئیت لوړ رتبه سیاسي او علمي شخصیتونه دي، نو هیله کوم چې د تجارت او نورو مشکلاتو په حل کې برخه واخلي. د بلخ هئیت هم په دې لوړ رتبه هئیت کې شامل دی. زه له هغو څخه چې د بلخ هئیت یې ترتیب کړی، مننه کوم، شمال ولایتونه مهمې منابع لري، بلخ مهم ولایت دی، خو ننګرهار، لغمان، هلمند، کندهار او نور ولایتونه هم ډېر مهم دي، استازي یې باید په نورو غونډو کې ګډون وکړي. د افغانستان پانګه نه سره زر دي، نه زمرد او نه نور، بلکې د دې هېواد خلک د دې هېواد پانګه ده، په اکثرو ګڼ قومیزو هېوادونو، لکه افغانستان او روسیه کې کله کله مشکلات پیداکېږي، خو موږ هیله لرو چې ټول مشکلات په همکارۍ حل کړو. ننګرهار هم په زړه پورې دی، خو دا په دې مانا نه ده چې نور ولایتونه مو نه خوښېږي، د ننګرهار ولایت مشکلات د مرګ او ژوند مسله ده. موږ یوازې د سیاست او نورو لپاره ژوند نه کوو. راځئ مشخص وړاندیز وکړو چې د یو پروګرام بنه ولري. داسې یوه عقیده ده چې روسیه د افغانستان شمال ډېر زیات پېژني، خو نور مسایل هم شته چې نور ولایتونه هم پېژني، په روسیه کې هم داسې ولایتونه شته چې تر نورو زیاته پېژندنه لري. زه لرې ختیځ ډېر پېژنم، البته مسکو او پترزبورګ مې خوښېږي، خو تاجران نظر افغانستان ته برلین، پاریس او نور ډېر خوښوي، موږ غواړو د روسیې ځینې ولایتونه د افغانستان له ځینو ولایتونو سره نږدې کړو. دا کولای

شي په ماشیني وسایلو او نورو کې له افغانستان سره مرسته وکړي. یوه وېره لرم، نه غواړم ډېر وخت ونیسم.

روسیه، ایران، افغانستان او منځنی ختیځ، منځنۍ اسیا، سایبیریا چې منځنۍ اسیا سره هم سرحده ده، موږ ټول د دې توان لرو چې یوه نوې منطقه رامنځته کړو، کولای شو چې ((نوی منځنی ختیځ)) ورته ووایو، هیله لرو چې زموږ په نورو غونډو کې د دې بېلابېلو سیمو استازي ګډون وکړای شي. زه باور لرم چې په دې سیمه کې به یو نوی بازار رامنځته شي. په اروپا کې اوس یو ګډ بازار یا اتحاد شته، ولې موږ په راتلونکو شلو کلونو کې بریالي نه شو چې داسې یو ګډ بازار او اتحاد رامنځته کړو. د اقتصاد له پلوه هر یو پوهېږي چې افغانستان نه یوازې جالب دی، بلکې د منځني ختیځ دروازه ګڼل کېږي. راځئ داسې کار وکړو چې د روسیې لویې کمپنۍ د افغانستان په اقتصادي مسایلو کې ګډون وکړي، چې اوس یو لومړی تصور دی. غواړم یادونه وکړم چې د غونډې تر پایته رسېدو وروسته باید یو اقتصادي ګروپ جوړ شي، د بشر پېژندنې انستیتیوت حاضر دی چې په راتلونکي کې د دې مسلې لپاره یو انکشافي پلان طرح کړي، هرڅوک چې غواړي په دې ګروپ کې کار وکړي، کولای شي.]

تر دې وروسته د جرګې یا کنفرانس برخوال پر څلورو بېلابېلو ګروپونو ووېشل شول، چې په خپل منځ کې ازادانه خبرې اترې وکړي. ګروپونه په دې ډول وو:

- د روسیې او افغانستان د اقتصادي همکارۍ د راجلبولو اداره.
- د انرژۍ او ودانیزو شبکو وده.

- **د نفتو او ګازو پروژې.**
- **کرنیزه وده.**

**په دې ګروپونو کې د اشخاصو وېش مخکې تر مخکې ترتیب شوی نه و، هر چا کولای شول د خپلې خوښې په ګروپ کې کېني، کوم مخالفت او ممانعت نه و. زه په لومړي ګروپ کې کېناستم، په دې ګروپ کې لــه افغانستان څخه د خصوصي سکتور یو شمېر استازو ګډون کــړی، لــه ننګرهار ولایت څخه هم د خصوصي سکتور څو تنه استازي راغلي وو. په پیل کې د روسیې او افغانستان د تجارت پر مشکلاتو بحث وشــو او هغه مسایل په ګوته شول چې په دې برخه کې شته، له هغــې جملــې څخه قوانین چې د دواړو هېوادونو تجارت یې له خنډ سره مخامخ کړی دی. بیمې ته ګوته ونیول شوه، چې دواړه هېوادونــه یــې بایــد خپلــو سوداګرو ته برابره کړي.**

**د مشکلاتو تر شمېرنې وروسته په روسیه کې د افغانستان تجــارتي اتشې ښاغلي (سیدعلي احمد منصوري) خبرې وکــړې، هغــه وویــل: ((افغانستان ته د تېرو کلونو په جګړه کې (۳۰۰) ملیــارده ډالــره زیــان رسېدلی دی. د افغانستان د اقتصاد د بیارغونې لپاره د تجارت پراختیا ته ډېره اړتیا ده، که روسیه غواړي د افغانستان تجارت وغوړوي، نو باید ګمرکي محصولات ورته معاف کړي او یا هم تخفیف په کې راولي، ځینو نورو هېوادونو هم د افغانستان د صــادراتو د پراختیــا لپــاره ګمرکــي محصولات معاف کړي دي. که روسیه د افغانســتان لــه اقتصــاد ســره مرسته کوي، نو هغه اسانتیاوې چې ځینو نورو هېوادونو ته یې ورکړي، باید افغانستان ته یې هم ورکړي.))**

ورپسې د روسیې د تراکتور فابریکې یو تن استازي (ایوانوف والېرې نیکولاېویچ) خبرې وکړې، هغه وویل: ((موږ ډېر ښه تراکتورونه جوړوو، موږ د افغانستان له مارکېټ سره ډېره لېوالتیا لرو، مــوږ غــواړو خپلــه ټکنالوژي هلته صادره کړو. ((هغه د خپلو تراکتورونو بروشورونه هم پر موږه ووېشل، نوموړي وویل: ((زموږ تراکتورونه مخکې هم په افغانستان کې کارول شوي او ښه نتیجه یې ورکړې ده، ان پاکستان ته هم قاچاق شوي دي. وروسته د ننګرهار د خصوصي سکتور په اســتازي یــو تــن خبرې وکړې، د تراکتور د فابریکې د استازي د خبرو په باب یې وویــل: ((اوس افغانستان کې ازاد بازار دی، خلک هغه شی خوښوي چې ارزانه وي، پرزې یې پیدا شي او کیفیت یې هم تر یوه حده ښــه وي، نــو کــه تاسې غواړئ چې خپل تراکتورونه هلته وپلورئ، باید په بازار کې تر نورو تراکتورونو ښه او کم لګښته وي، ستاسو بل مشکل دادی چې تاسو ډېر لرې یاست هر څه چې له دې ځایه افغانستان تــه انتقــالېږي، قیمتــه پرېوزي.))

زما(یون) وړاندیز دا و چې روسي کمپنۍ که په افغانستان کې دفتــر ولري، هغوی له نږدې څخه مارکېټ وارزوي، کېدی شي د بازار د تقاضا مطابق روسي کمپنۍ د بازار ضرورتونه پوره کړي دا به ښه وي.

چین، ترکیه، هند او نور همــدا اوس د افغانســتان پــه بیارغونــه او مارکېټ کې پوره دخیل دي، د دې علت دادی چې دوی عملاً هلته پــه رغونیزو او نورو تجارتي چارو کې دخیل دي، نو که روسیه هم غــواړي، هلته روسي کمپنۍ کار وکړي، باید بازار د خپلو استازو لــه خــوا ښــه وارزوي. زما په نظر اوس افغانستان ته د لوېدیزې نړۍ لــه خــوا ډېــرې پیسې راروانې دي، که هر څوک غواړي د افغانستان په مارکېټ کې ګټه

**وکړي، د ګټې چانس یې شته.)) دا هغه ګروپ و چې زه (یون) هم په کې شامل وم. په نورو ګروپونو کې هم پر اقتصادي مسایلو ژور بحث وشـــو،**



د مسکو ښار یوه څنډه

**خو یو وخت قومندان صیب ګل محمد راغی او زه د ګروپي کار له پاتې بحثونو بې برخې شوم، هغه سره د مسکو ښار د ځینو برخو د کتلو لپاره لاړم. هوا ډېره یخه وه، باران هم ورېده، له موټر کښته کېـدل یـو ډول تکلیف و، خو دې سره سره بیاهم ځینو ځایونو کې وګرځېدو، له موټره مو د مسکو د ځینو ښکلو ځایونو او لویو پـارکونو ننـداره وکـړه، څـه تصویرونه مو واخیستل. بیا قومندان صیب ګل محمد یو (میکډونالـډ) رستورانت ته بوتلم. د میکډونالډ رستورانټ ښه والی په دې کې دی چې غذا یې د هر چا په ذوق برابره وي. د مسلمان او نامسلمان خبره په کې مطرح نه وي. دا هغه نړیواله غذا ده چې په بېلابېلو مذهبونو کـې یـې ممنوعیت نه شته، چرګ غوښه، کب، برګر، چپس، جوس او داسې نور شیان په کې وي. خوندوره غذا وي، په نورو هېوادونو کې له مذهبي او**

**ذوقي پلوه له بهرنۍ غذا سره ځان عیارول اسانه خبره نه وي، نو که دا ډول هوټلونه چېرې پیدا شي، د غذا مشکل تــر ډېــره حــده حلــوي.**




**قومندان صیب ګل محمد دومره شیان راوړل چې خلاصول یې مونږ تــه شوني نه وو. ډوډۍ مو په مړه خېټه وخوړه، بیا قومندان صیب زمــا لــه مخالفت سره سره ماته څه ډالۍ واخیستې او بېرته د مېلمســتون پــر لوري رهي شو. ماښام اوه بجې مېلمستون ته ورسېدو، ښه ســتړی وم، ډوډۍ مې هم ډېره خوړلې وه، د خوب څپه راباندې راغلــه همداســې خوب وړی وم، خو د پرېکړه لیک په اړه مې سودا وه چې وخت کم دی، داسې یو څه باید ترتیب شي چې زمونږ د هېواد پــه ګټــه وي، همــدې چورتونو کې خوب وړی وم.**

# د پرېکړه لیک لومړی متن

د شپې درې بجې وې چې له خوبه پاڅېدم، اندېښنه مې وه، وخت هم کم و، ما ویل داسې نه وي چې پرېکړه لیک په داسې ډول جوړ شي او داسې الفاظ په کې راشي، چې زموږ د هېواد له ملي ګټو سره همغاړي نه وي. ما چې په څو علمي، سیاسي او ملي غونډو کې څه ناڅه د پرېکړه لیک د لیکلو تجربه لرله او همدا راز په تېرو څو ورځنیو غونډو کې مې د جرګې د افغان برخوالو نظرونه هم په دقت سره اورېدلي وو، د هغه ګډ درې کسیز کمېسیون چې د پرېکړه لیک لپاره ټاکل شوی و، د هغوی د ابتدایي پرېکړه لیک مسوده هم راسره وه، سره له دې چې په هغه کمېسیون کې د ښاغلي ډاکتر شېرحسن حسن پر کار ډېر ډاډه وم خو لکه څنګه چې په کاري ګروپونو کې پرې شکریې بارکزۍ بحث وکړ، یو داسې پرېکړه لیک ته اړتیا وه چې ټول په کې خپل نظر وګوري او ټول یې ملاتړ هم وکړي. نو کوښښ مې وکړ چې لومړی د پرېکړه لیک لپاره یو چوکاټ جوړ کړم، لومړی مې د شکل له پلوه ورته چوکاټ جوړ کړ، بیا مې هغه مهم نظرونه چې له افغانانو اورېدلي وو، هغه په کې ځای پرځای کړل، د ابتدایي پرېکړه لیک محتوا مې تر ممکنه حده په کې ځای کړه، تکراري برخې مې ترې وکښلې، خو لنډه دا چې پرېکړه لیک داسې یوحالت ته ورسېد چې که اوس څوک غواړي اصلاحات په کې راولي په اسانۍ سره کولای شي اصلاح یې کړي، د متن ناضروري کلمات او جملې ترې ټول حذف شول. تر ډېر ناوخته مې کار وکړ، بیا تر سهاره پورې خوب رانغی، خو د راتلونکي بشپړ پرېکړه لیک لپاره مې یو متن ترتیب کړای شو.

# د کرېملین پرلوري


د مې (۱۶) مه نېټه وه، د سهار پر اوه نیمو بجو چای ته لاړو، پر اتــه نیمو بجو د موټر تمځي ته لاړو، لس کم نهه بجې موټر حرکــت وکــړ، د پخواني ترتیب شوي پروګرام مطابق نن پروګرام دا و چــې د کــرېملین مانۍ ته لاړ شو، (الکسي) چې په افغانســتان کــې د روســیې ســفارت کارکوونکی دی او دلته له افغاني هئیت سره یوځای مسکو ته راغلی و وویل: ((د کرېملین د ټولو ځایونو لیدل ممکن نه دي، هر چاته اجازه نه شته، خو هلته په امنیت شورا کې زما د کورنۍ یو څوک کار کوي، د هغه په مرسته به ځینې هغه ځایونه چې نور یې نه شي کتلای، موږ او تاسې هغه ځایونه هم وګورو.)) له مېلمستونه تر کرېملینه نږدې نیم ســاعت واټن دی چې هره ورځ به موږ د ترافیکي پولیسو په موټرو بدرګه کېدو، په لاره کې مې د کرېملین د مانۍ تصور طبعاً په ذهن کې ګرځېده، پــه تېره بیا دا چې یو وخت دې ځای کې زموږ د هېواد د سیاسي برخلیک په باب پرېکړې کېدې. د کرېملین مانۍ اکثرو افغانانو چې لیدلې یې ده او که نه، خو یو ډول تصور ترې لري. په لاره کې مو د معمول په څېــر د سړک دواړه غاړې منظرې له نظره تېرولې، هوا ښه پاکه او صافه وه، کله کله به د خوب یوه څپه هم راباندې خوره شوه، خو همدې نیم خــوبیزه حالت کې د کرېملین مانۍ ترڅنګ ورسېدو، لومړی یې موټر په یوه پارک کې ودراوه، ټول ترې منظم کښته شو، اکثرو افغانانو خپل ملــي لبــاس اغوستی و، د رسمي لباس (دریشي) هم کمی نه و. هوا ډېــره یخــه وه، شمال هم لګېده، د کرېملین د دې لویې کلا مخې ته سور ډګر دی، چې

خورا لوی او مشهور دی، د روسیې د جشن ورځــې همدلتــه نمانځــل کېږي. د همدې کلا مخې ته د سره ډګر په یوه څنډه کې یوه لویه کلیسا ده، چې ویل کېږي د (لوی پېتر) پر مهال جوړه شــوې ده. دا د نــړۍ د مشهورو کلیساوو له جملې څخه ده. ویل کېږي چې د روسیې د هغــه




وخت واکمن، چې په کوم معمار د کلیسا دا ډول ودانۍ جوړوله، نو بیــا یې ژوندی نه پرېښوده، ځکه چې هغه نه غوښتل بل ځای کې دې بــل څوک هم د کلیسا داسې شانداره ودانۍ ولري. ورو ورو له همدې کلیسا څخه تېر شو، د دې ځای یو تن لارښود وویل: ((پر (۱۹۱۷ م) کال انقلاب وشو، لومړنۍ قرباني مو ورکړه، (۲۲) تنه انقلابیان مو له لاسه ورکړل، تر هغه وروسته دلته راتګ دود شو. د جنورۍ پر (۲۱) مه لېنین مړ شو، د وخت مشرتابه فیصله وکړه چې د څو ورځو لپاره دې دلته کېښودل شي چې خلک یې د وروستي ځل لپاره لیدو ته راشي. د خلکو ګڼــه ګونــه

دومره زیاته وه چې په ورځو ورځو د خلکو کتارونه نه خلاصېدل، روسیه ډېره پراخه ده، له ډېرو لرې لرې برخو خلک دلته راتلل، ډېر وخت یې



یون او کتهوازی په سره ډګر کې

ونیو، نو ځکه د خلکو او کارګرانو په وړاندیز حکومت دې ته اړ شو چې دلته یې مقبره جوړه کړي. دا مقبره مخکې له لرګي څخه جوړه وه، وروسته د لېنین جسد مومیایي شو او دې هدیرې هم دا بنه غوره کړه. دا شان مجسمې پیاوړو رهبرانو ته جوړې شوي دي، هلته په دېوال کې

**د مهمو شخصیتونو عکسونه ایښودل شوي او همدلته هغوی خښ شوي دي، په دې ساحه کې (۳۰۰) تنــه مهــم شخصــیتونه خښ شــوي دي. ستالین هم په پیل کې مومیایي شوی و، خو وروسته بیــا راوړل شــو او دلته خښ شو. مارشالان او جنرالان هم شاته خښ دي.**





**د لېنین د مقبرې بهرنی جوړښت هر چاته معلوم دی. د پخواني شوروي مشران او د اوسنۍ روسیې مشران د خپلو ورځو او جشنونو په مناسبت د همدې مقبرې له پاسه ولاړ وو او ولاړ وي او پوځي رېژه یې په همدې ځای کې له مخې تېرېږي. د مقبرې بهرنی پوښ په ســرو ډبــرو پوښــل شوی دی. هر چا په ټلویزیون کې د مقبرې دا باندنۍ خوا لیدلې، خو د مقبرې دننه او خپله د ولادمیرایلېچ لېنین مومیایي شوی جسد ډېــرو خلکو نه دی لیدلی.**




**ما چې له کوچنیتوبه له ملایانو څخه د قبر د عذاب وېروونکې کیسې اورېدلې او دا چې له مړي سره پر لومړۍ ورځ څه کېږي، په تېره بیا له ګناهکار سره، نو له کوچنیوالي څخه به چې د قبر ترڅنګ تېرېدلم غوني به مې زیږ ږدل. بیا چې کله لوی شوم، کېنې او ښې لاس مې وپېژنده، نو یوازې د مصر د فرعونیانو د مومیایي شویو جسدونو چې په موزیم کې یې خلک ننداري ته ورځي، نور له لېنین پرته په معاصره نړۍ کې مې د کوم بل چا د مومیایي شوي جسد خبره ډېره نه وه اورېدلې.**

**د لېنین مقبرې داخل ته د ورتګ په اړه یې موږ ته مخکې تر مخکې یو څه لارښوونې وکړې چې کمره وروړل منع دي، سګرټ څوک نه شي وروړلی او همدارنګه په لوړ اواز هلته څوک خبرې نه کوي. زموږ افغاني هئیت داسې یو ترکیب درلود، چې یو شمېر یې پخوا د لېنین د لارې او افکارو دومره سرسخت مخالفین وو، چې حد و برید ورته نه شي ټاکل**

کېدلای او يو شمېر نور يې بيا سرسخت پلويان وو. ځينې په کې داسې




وو چې په افغانستان کې د ايډيولوژيکو جنګونو تر مهال وروسته يې ښي او کينې لاس پېژندلی، هغوی يې بيا نه مخالفين وو او نه موافقين. د مخالفينو او موافقينو له جملې څخه به يوازې د دوو کسانو نومونه واخلم. ښاغلی سيداسحاق ګيلاني د جهادي مشرانو له جملې څخه دی او کلونه کلونه يې د روسانو او په کابل کې د هغوی د کمونيستي رنګه حکومت پر ضد مبارزه کړې، اوس په ولسي جرګه کې د پکتيکا د خلکو استازی دی او موافقينو کې ښاغلی خدای نظر سرمچار دی چې د افغانستان د خلکو ديموکراتيک ګوند د پرچم ډلې يو فعال او کدر غړی ګڼل کېده او د هغه ګوند د واکمنۍ پرمهال يې يو څه شان و شوکت هم درلود.

د لېنین مقبره د تلخونې (تکاوې) په دویم پوړ کې وه. کله چې مقبرې ته ورداخلېدلو، نو ښاغلي سیداسحاق ګیلاني پر ښاغلي سرمچار په ټوکو ټوکو کې غږ وکړ: ((سرمچار صیب بیدار شه، کلمه پرځان ووایه، خپل مشر ته دعا وکړه، همدا دې وخت دی چې درنه خطا نه شي، څومره ارمان به دې کاوه، دا دی اوس ورته راغلی یې)) سرمچار صیب ورته له خندا شین و، ویل یې: ((زه دلته مخکې هم راغلی وم ما ورته دعا کړې، دا ځل ستاسو پیرانو نوبت دی، د پیرانو دعا قبلېږي.)) زموږ مجلس ګرم و خو چا اشاره وکړه چې لږ ورو ورو غږېږئ، د دې ځای اصول دا دي چې دلته باید چوپ اوسئ، لاندې پوړ ته کښته شو، له ښي خوا کیني خواته راوګرځېدو، لږ څه پورته شو، په حقیقت کې بېرته د لومړي او دویم پوړ ترمنځ د کوټې په یوه ګوټ کې یو عسکر او بل کې بل عسکر له وسلې سره ولاړ وو، داسې غلي وو چې سترګې یې هم نه رپولې که مچ یې هم پر پوزه ناست و، نو دوی یې د شړلو جرئت نه کاوه، دوی هم داسې و لکه خپله چې مومیایي شوي وي.

په همدې ځای کې لکه د نورو قبرونو په څېر یو قبر و، خو توپیر یې له نورو سره دا و چې په قبرونو کې خو مړی دننه دفن کېږي، خو دا داسې و لکه د قبر له پاسه چې یوڅوک ملاست وي. د همدې په اصطلاح قبر له پاسه یو ښیښه یي تابوت و چې د لېنین جسد په کې ایښودل شوی و، سر یې لږ څه پورته و، لکه یو څوک چې پر بالښت ډډه ولګوي، نور وجود یې مخ کښته، عیناً لکه یو ناروغ چې په روغتون کې په خپل بستر کې غځېدلی او بالښت ته یې ډډه لګولي وي. د مړي په کتو هر انسان حیرانېږي د لېنین وجود ډېر غټ نه و او یا هم کېدی شي په مومیایي حالت کې څه ناڅه کوچنی شوی وي، خو خیر په هر ترتیب د

مړي په لیدو، هغه هم د اویا کلن مړي په لیدو کې مې ډېر څه په ذهــن کې وګرځېدل راوګرځېدل، انسان مې په ذهن کې ژر راوسته، څــومره لوی او څومره کوچنی، څومره زورور او څومره کمزوری موجــود دی. د رحمان بابا شعر مې ذهن ته راغی:

هــر زنده چې د مرده په قبر ورشي
بس دی دومره نصیحت په دې دنیا

له ځان سره مې هغه شان یو چوپه وینا وکړه چې وروســتي روســي جنرال (باریس ګروموف) له افغانستانه د راوتو پرمهال د وروستي روسي عسکر په توګه د حیرتانو پله په افغاني څنډه کې کړې وه، د زړه وینا به هملته په زړه کې پرېږدم، په همدې چورتونو کې له دې ځایه رابهر شو، کله چې راووتو، ګیلاني صیب یو ځل بیا پر ټولو غږ کړ: ((تاسو خبر شوي یاست که نه، سرمچار صیب څه وویل؟)) موږ وویل: ((نه څه یې وویل؟)) درې ځله یې د شهادت کلمه پر لوړ اواز پر ځان تېره کړه)) ټولو وویــل: ((نه بابا! ((اغا صیب  وویل: ((دغه دی سرمچار صــیب، پوښــتنه تــرې وکړئ؟)) هغه نو له خندا شین شو. په همدې ټوکو ټوکو کې له هغه ځایه وخوځېدو. د لېنین د جسد له لیدو څخه به هر چا خپل خپــل تعبیــر اخیستی وي، خو یو شی چې ماته ترې څرګند شو، هغه دا چــې زمــوږ مظلوم ملت بېلابېلو کینو او بنې افکارو څومره وېشلی و، کله چــې دا افکار کمزوري شول او یا یې د واکمنۍ مزي سست شول نو زموږ ملــت بېرته سره یوځای شو، وګورئ هغو کسانو چې پخوا یې یو بــل ســره د ټوپک په ژبه خبرې کولې او متضاده فاصله یې ترمنځ پیدا شوې وه، نن په ټوکو ټوکو یو بل سره ژوند تېروي او د کینې ځای صــمیمیت نیــولی دی.

له دې خبرو چې راوګرځېدو نو د کرېملين د لويې کلا داخــل تــه د




تلو په تکل کې شو.

د کرېملين د دېوال يا کلا جوړېدنه د تاريخي لاسوندونو له مخــې د مسکو له نامه سره تړاو لري. د مسکو نوم د لومړي ځل لپاره پر (۱۱۴۷م) کال راپيدا شو او همدغه کال د مسکو ښار د بنسټ ايښودو کال ګڼــل کېږي، د مسکو ښار بنسټ ايښودونکی (يوري دلګاروکي) نومېده. لــه همدغه ياني (۱۱۴۷م) کال راهيسې د ښار ودانېدل پيــل شــوي دي، د ښار له جوړېدو سره سم د لومړني کرېملين جوړېدنه هم پيل شوې وه، لومړنی ځکه چې د کرېملين کلا په بېلابېلو وختونو کې څو څــو واره د جګړو له امله ورانه شوې، سوځول شوې او بيا له سره ودانه شــوې ده. تاريخي لاسوندونه وايي چې لومړنی کرېملين له لرګو جوړ شوی او تــر اوسني څو ځله کوچنی و. پر (۱۳۶۷م) کال د کرېملين کلا دېوالونه لــه سپينې ډبرې څخه جوړ شول، پر (۱۴۸۵- ۱۴۹۵م) کلونو د لسو کلونو

په موده کې د کرېملین دېوالونه له څلیو سره له سپینو ډبرو جوړ شول، ددغه پړاو کرېملین دېوالونو څخه یوازې لږ برخه پـاتې ده. پـه (۱۶) او (۱۷) مې پېړۍ کې د کرېملین ځینې نورې برخـې جـوړې شـوې، پـه راوروسته بېلابېلو وختونو کې ان د (۱۹۱۷م) کال اکتوبر تر انقلابه پرې ځینې ځایونه ورزیات شوي، ځینې نوې ودانۍ په کې جوړې شوي او یا هم ترمیم شوي دي. د کرېملین دېوالونه دولس سوه متره اوږدوالی لري، د دېوالونو سور یې له درېو څخه تر شپږو او د ځینو نورو مالومـاتو لـه مخې له درې نیمو څخه تر شپږنیمو مترو پورې دی، خو د کرېملین د کلا اوسنۍ بڼه په (۱۵) پېړۍ کې د ایټالوي معمار (انو)کاردی. دغه اساسي برج چې اوس موږ ورلاندې ولاړ یو، د دې کلا په مهمو ودانیو کې شمېرل کېږي، دا برج (۷۱) متره لوړوالی لري. لومړنی ساعت یې اسماني نیلـي رنګ درلود. دا ساعت په (۱۷) مه پېړۍ کې په کـې ایښـودل شـوی و. (۶)متره عرض یې درلود، پېتر کبیر جوړ کړی و، هالنډ کې یې د جوړېدو فرمایش ورکړی و. د برج په سر کې یو ستوری دی چې (یو نیم ټن) وزن لري. دا ستوری له یوه ګوټ څخه تر بل ګوټ پورې (۶) متره عرض لري. هغه رڼا ګروپونه په کې ایښودل شوي چې پنځه سوه واټه قـوت لـري. ښیښې یې له یاقوتو څخه جوړې شـوې دي. د هغـه وخـت د پاچـا د واکمنۍ پرمهال دلته بازار کېده. په مسکو او د دې ځای په نورو برخـو کې داسې برجونه هم شته چې پاچا به په کې کېناسته، له دې ځایه به یې ښار کاوه، ځینې برجونه پر (۱۴۹۵م) کال جوړ شوي، دا بل برج چې تاسې ګورئ، دا پر (۱٦۸۰م)کال جوړ شوی، د کلا شاته به بازار و، مېلې به وې، د بوکس مسابقې به همدلته کېدلې، پاچا خپله هم تکړه پهلوان و، د ښځو ډېر شوقي و. کله چې بـه ښـځې او مینځـې لـه دې ځایـه





تېرېدلې، ده به له پاس برجه څارلې، کومه یوه به یې چې خوښه شــوه، هغه به یې رانیوله ځان سره به یې بیوله، په ځوانۍ کې ډېر خوشاله او په زړښت کې ډېر قهرجن و.

دننه په کرېملین کې دوه کلیساوې هم وې چې په (۱۶) مه پېړۍ کې جوړې شوې وې، یوه بله کلیساپر (۱۶۲۴م) کال جوړه شوې وه. دلته د عیسوي دین (ارتودوکس) مذهب واکمن و، په دې مذهب کې تر یــوې

ښځې زیاتې جواز نه درلود، خو د هغه وخت واکمن درې یا څلور کــړې وې، نو ځکه یې د ارتودوکس مذهب له ملا یا پادري سره اختلاف پیــدا شو او پر هغه یې برید وکړ.

لږ وروسته د جمهوري ریاست ماڼۍ ته ورداخل شو. دا ماڼۍ پــه (۱۹) مه پېړۍ کې د روسیې پاچاپانو لپاره جوړه شوې ده. (انترویچ وتــن) د دې ماڼۍ معمار و. د (اینلوکپیرو) پاچا معماري یې هم په پام کې نیولې ده. په دې ماڼۍ کې درې داسې ځایونه شته، چــې د تخــت ناســتې او تحلیف مراسم په کې اجراکېږي. د شوروي د واکمنۍ پر مهال دا ځای د کمونیست ګوند د مشرتابه ګارد ځایونه وو. په دې ځایونو یا هالونو کې د کمونست ګوند کنګرې او کنفرانسونه کېدل، د عالي شورا غونډې به هم دلته کېدلې، د لوړې سطحې مذاکرات به هم دلته ترسره کېدل، موږ چې کوم ځای کې ولاړ وو دا یې دخولي دروازه وه، له دې ځایه هغه ســیند ښکاري چې په مسکو ښار کې تېر شوی، دا ودانۍ د نورو تاریخي ودانیو په څېر پر نسبتاً لوړ ځای جوړه شوې ده. په هر سالون کې ښکلې ښکلې تابلوګانې ځوړندې دي، یو سالون چې په لانــدیني پــوړ کــې دی، پــر (۱۹۴۲م) کال جوړ شوی، د (۱۹۴۳م) کال تابلو یې پر دېوال ځړېدلې ده. د (۱۹۱۷م)کال نښانونه هم دلته ځوړند وو، یو هغه نښــان هــم دلتــه ځوړند و چې په (۱۸) مه پېړۍ کې یو جنرال ته ورکــړل شــوی و. نــور بېلابېل نښانونه هم پر دېوالونو ځوړند وو. پر دېوالونــو د ځینــو نــامتو قومندانانو نومونه هم د سرو زرو په اوبو لیکل شوي وو. په یوځای کــې لیکل شوي وو: ((دا د روسیې امپراتورۍ لوی خدمتګاران دي.))

اوس هم د روسیې د دولت ځینې مهمې غونډې دلته کېږي، د نـــورو





هېوادونو مشران چې راځي هم دلته غونډې کوي، دولتي او پوځي شورا په همدې ځای کې جوړېږي، د هال د چت جګوالی اوه نیم متره دی.

تر دې وروسته بل تالار ته لاړو. دا تالار د (الکساندر) په نامه یادېږي. دا هغه تالار دی کله چې د بېلابېلو هېوادونو سفیران معرفي کېږي، نو همدلته یې د روسیې د ولسمشر له خوا باور لیک منل کېږي. د شوروي اتحاد پرمهال د دې هالونو بنې بدلې شوې دي.

په هغه بل هال کې د شوروي د کمونیست ګوند کنګرې دایرېدلې. پر (۱۹۳۲م) کال فیصله وشوه، چې دا هال باید بدل شي، یـــانې لـــوی دې

شي. په دې هال کې (۳۰۰۰) کسان ځایېدل، په پورته برخه کـې یـې د




لېنین مجسمه وه، شپېته کاله دې حالت دوام وکړ. یـانې لـه (۱۹۳۴-۱۹۹۴م) کال پورې، په دې ځای کې د دولت عالي شـورا غونـډې او د کمونیست ګوند د کنګرو جلسې دایرېدلې. (بوریس یلتسن) د خپلـې واکمنۍ پر مهال حکم وکړ چې دا هالونه دې بېرته په همغه پخوانۍ بڼه جوړ شي. دوه نیم کاله پر دې تېر شول چې بېرته پخواني عکسـونه او نقشې پیدا کړي.

تر ډېر دقت او زحمت وروسته دا هالونه بېرته په دې بڼه جوړ شـول. اوس نه یوازې سفیران دلته منل کېـږي، بلکـې د جمهـوري ریاسـت ورځنۍ غونډې هم دلته دایرېږي.

دې پسې یو بل هال ته لاړو چې دروازې، کړکۍ او ستنې یې اکثره د سرو زرو په اوبو رنګ شوي، دا هغه سالون دی چې د روسیې د وروستي


افغاني هئیت د کرېملین په یوه هال کې

پاچا څوکۍ یاتخت په کې ایښودل شوی و. په منځ کـې د پاچـا خپـل تصویر و، ښي خواته د پاچا د مور تصویرونه لیدل کېږي، د دې هـال د


ډاکتر برهان الله شینواری، محمد طاهر شینواری، خدای نظر سرمچال، یون او محمد زمان امین د کرېملین په یوه بل تاریخي هال

کړکیو او دروازو پر رنګ (۱۵) کیلو ګرامه سره زر لګول شوي دي. په دې

**سالون کې جمهور رییس د خپل تحلیف مراسم ترسره کوي. په همدې سالون کې دوه ځله (ولادیمیرپوتین) او یو ځل (مېدوېـدېف) د خپـل تحلیف مراسم ترسره کړي دي.**

**تر دې وروسته بیا بل سالون ته لاړو، دا سالون چې نورو سالونونو ته هم ترې لارې تللې دي د (الکساندرفسکي) سالون په نامه یادېږي، پـه دې هال کې په تسلسل سره د روسیې د پاچایانو، لکه پتېرکبیر او نورو**



ښاغلی نور، صدیق پتمن، جنرال خدایداد هزاره، غلام نبي فراهي او حاجي محمد نوزادي د کرېملین په یو بل تاریخي هال کې

**انځورونه دي، د هر  یو انځور په لاندینۍ برخـه کـې د هغـه نـوم او د واکمنۍ مهال لیکل شوی دی. دا انځورونه په لاس رسم شوي، خو ډېر ښایسته جوړ شوي دي. لوی پتر د روسیې یو سمونپال امپراتور و چې د روسیې امپراتوري یې جوړه کړه. د جمهور رییس کنفرانسونه، ملاقاتونه او د نړۍ له نورو جمهورو رییسانو سره کتنې همدلته تر سره کېږي. زموږ یو افغان ملگري وویل: ((د نورمحمد تره کي او برژنیف ترمنځ کتنه هم همدلته ترسره شوې وه او په دې زینه کې یې یو ګډ یادگـاري عکـس**

اخیستی و.)) یوبل یې بیا خبرې رد کړې، ویې ویل: ((هغه وخت برژنیف دومره سپین ږیری او ضعیفه و چې د کار له ځایه نه شو پورته کېدلای او په دې زینه کې نه کښته کېدلای شو نه پورته کېدلای او نه یې یادګاري عکس اخیستلای شو، دا هسې خبرې دي.))

له همدې ځایه بېرته همغې (دخولي) دروازې ته لاړو چې په پیل کې پرې راغلي وو.

تر دې وروسته هغه ډګر ته لاړو چې تشریفاتي قطعه په کې بدلېدله. د روسیې د پخوانیو پاچایانو پر وخت دا یو دود و چې هره ورځ به تشریفاتي قطعه په کې بدلېدله، یوې قطعې به بلې ته بیرغ او مسوولیت سپاره، دا دود تراوسه پورې دوام لري. ان په کمونیستي پېر کې هم دا دود وپالل شو، خو د شوروي اتحاد پر وخت دا کار د لېنین پر قبر ( د هغه څنګ ته ساحه کې) ترسره کېده. تر (۱۹۹۳ م) کال وروسته بېرته


د کرېملین یو بل تاریخي هال چې د روسیې او شوروي د تاریخي شخصیتونو انځورونه په کې نصب شوي وو.

په همغې پخوانۍ عنعنې یانې همدغه ځای چې په کرېملین کې د

**جمهوري ریاست مانۍ دمخه ډګر دی، ترسره کېږي، دا عنعنه د پخوانیو پاچاپانو شان او شوکت ښیي. د قطعې وړاندې کول او د بېرغ تسلیمول بلې قطعې ته په خاصو مراسمو سره ترسره کېږي، (۹-۱۰) اسونه یــوې خواته په یو رنګ راغلل، تا فکر کاوه لکه زراعتــي چرګــوړي لــه یــوې**



د کرېملین په داخلي ډګر کې د عسکري قطعې د وړاندې کولو نندارچیان

**کارخونې راوتي وي، ټول په یو رنګ او یو کڅ و مېڅ وو. په جم نظــام او**



د قطعې د تسلیمۍ څرنګوالی

**تعلیم ډېر برابر وو، خاص نظامي موزیک وغږول شول، بیرغ د نوې قطعې بولندوی ته ورکړ شو، په ترتیب سره پلیو او سورو شاګرځ وکړ او بېرته له خپلو اسونو سره په منظم ډول ستانه شول. په سلګونو محصــلین، زده کوونکي او نور مېلمانه د دې صحنې ننداري ته راغلي وو.**




**شل کم یوه بجه وه چې له کرېملین ماڼۍ څخه راووتو. په شلو دقیقو کې د مسکو ښار په منځ کې د ازریانو یو هوټل ته لاړو.**

# يوه غرمنۍ په ميش پيش هوټل کې

کله چې په سره ډګر کې موټر ته پورته کېدلو، نو يخـې څپـې ښـه وځپلو، خو کله چې موټر ته پورته شو، نو غوږونه مو ورو ورو ارام شول، په موټر کې يوچا غږ وکړ چې: (ميش پيش هوټل) ته ځو، ما فکر کـاوه چې هسې ګپ لګوي، ماته دا نوم هسې عجيبه شان راښکاره شو (ميش پيش)؟. په جلال اباد کې يو چارواکی دی، د جلال اباد ځينې ليکـوال




ښاغلی صديق پتمن، جنرال خدايداد هزاره او غلام نبي فراهي

ورته (خرش پرش) وايي، ځينې ورته (غرغشتو) وايي، ما ويل دا به هم کوم داسې څه وي. خير په هر ترتيب د مسکو ښار په يوه مهم واټ کې د عمومي سړک پر سر دا هوټل ودان و. د هوټل دويم پوړ ته پورتـه شـو،

دویم پوړ کې ډېر زیات لرګي کارول شوي وو، داخلي ساختمان یې د اذریانو د کلتور انځورنه کوله، هوټل یې که څه هم ډېر ارت نه و، خو ډېر زړه تنګی هم نه و. د بوفې سیستم و، هر چا چې څه خوړل، لومړی مو ترکاري راوغوښته، ترکاري خورا پاکه وه، ډول ډول کبابونه یې درلودل، عیناً لکه د ققفاز هوټل په شان مو پرې د افغاني ډوډۍ تنده ماته شوه، ډوډۍ مو ښه په خوند وخوړه، دومره مو وخوړه چې ځان مو دروند احساس کړ او د خوب د څپې یرغل هم له ورایه محسوسېده. له پلان سره سم باید پر دوو ګروپونو وېشل شوي وای: یو ګروپ باید په مسکو کې اسلامي مرکز ته تللي وای او بل ګروپ د روسیې پوځي موزیم ته چې د جګړې ترخې خاطرې راژوندۍ کوي. ما غوښتل چې اسلامي مرکز ته لاړ شم، چې په مسکو کې لږ تر لږه د مسلمانانو د ژوند یو تصور راپیدا کړم. موږ چې په کوم موټر کې ناست وو، هغه کې څو تنه نور هم داسې وو، چې د موزیم پرځای یې اسلامي مرکز غوره باله او ځینې بیا په هغه بل موټر کې داسې وو چې غوښتل یې موزیم وګوري، خو یو چا غږ کړ چې دواړه موټر یوځای کې ودرېږي بیا که د چا څه خوښه وه، ځای بدلولای شي. نیم ساعت مزل به مو کړی وي، چې د موزیم مخې ته ورسېدو، د هغه بل موټر پوښتنه چې مو وکړه، چا ویل هغه خو اسلامي مرکز ته لاړ ، نو موږ مجبور شو چې موزیم ته کښته شو.

# د روسيې پوځي موزيم

ماسپښين درې بجې شاوخوا کې موزيم ته داخل شو. نوي(۹۰) کاله کېږي، چې د وسلو دا موزيم جوړ شوی. يو ډېر لوی او کم



د روسيې پوځي موزيم

مثاله موزيم دی. يو مليون بېلابېل اثار په کې ننداريې ته وړاندې شوي، چې اکثره يې د دويمې نړيوالې جګړې اړوند شيان يا اثار وو. د موزيم لومړۍ برخه د شلمې پېړۍ (۲۰–۳۰) کلونو کې روسي پوځ ته ځانګړې شوې وه، لومړنی روسی ټانک هم په کې ننداريې ته ايښودل شوی و، چې په ډېره عاجله توګه جوړ شوی و او يوازې (۳) تنه پرسونل يې درلود. يوه تنګه دروازه يې درلودله چې تراوسه پورې له دې ډول ټانکونو څخه يوازې درې ټانکه پاتې دي. بيا د دويمې نړيوالې جګړې وسلې وې چې د

الماني‌انو پرضد کارول شوې وې، د نورو هېوادونو وسلې




هم په یوه برخه کې ایښودل شوې وې. په بل تالار کې هغه وسلې ایښودل شوې وې چې د المانیانو له خوا د شورویانو پرضد استعمال شوې وې. د روسي وسلو په بېلګو کې ( په په شه) چې د افغانستان د جنګ په لومړیو (۵۸-۵۹) هجري کلونو کې مهشوره وه، هم ایښودل شوې وه. د دویمې نړیوالې جګړې په بهیر کې پنځه ملیونه میله (په په شه) تولید شوه. ټانک ضد ماینونه هم په کې شامل وو او ټانک ضد ټولګي هم. (بي ایم ۱۳) توغندي وو چې پر (۱۹۴۱م) کال جوړ شول، جنګ کې یې ډېر مهم رول ولوباوه. داسې ټولګي هم وو کله چې به دښمن محاصره شو ځان ته به یې انفجار ورکاوه. (بي ایم ۱۳) وسله هېڅکله د جرمنیانو لاس ته ورنغله. همدې هال کې د جرمني هغه الوتکه چې مسکو ته په نږدې جګړه کې راغورځول شوې وه، د هغې




اډانه هم ایښودل شوې وه. دې الوتکې سره یو روسي پیلوټ خپله الوتکه په هوا کې ټکر کړه، خو خپله روسي پیلوټ د پراشوټ په واسطه له الوتکې ځان ګوزار کړ او ژوندی پاتې شو، دا پېښه د شپې لـه خوا وشوه. د ټانک ضد اوسپنیزې موانع هم ایښودل شوې وې، چې د مسکو په جګړه کې ترې ګټه پورته شوې وه او د جرمني ټانکونو پر وړاندې یې خندونه جوړ کړي وو. د همدې هال په یوه بل ویترین کې د جرمنیانو له خوا د مسکو په جګړه کې د کارول شویو وسلو نمونې او د هټلـر د عسکرو نښانونه، مډالونه او نور وسایل ایښودل شوي وو، چې مسکو ښار ته په څېرمه جګړو کې ترلاسه شوي وو.

په یو بل ویترین کې (قفقاز) ته د ورڅېرمه جګړو یوه تابلو ایښودل شوې وه، د بحري توپونو یو ماډل یې هم جوړ کړی و، د شوروي د وخت یو دوربین چې هدف اته ځله رانږدې کوي، هم و، نوره ډول ډول وسله او

د هغه وخت موټره وسله هم دلته وه، یو سپی هم مومیایي شوی و، چې ټېپیان یې را انتقالول او د جرمني ټانکونو پر ضد یــې د عملیــاتو لپــاره ورڅخه کار اخیسته.

د (لېنینګراد) ښار د محاصرې پر وخت د ژغورونکي موټر یو ســمپل هم و. په پورتني پوړ کې د (کورسکایا) د جګړې یو تصویر و چې المانیانو په کې لومړی ځل ماته وخوړه، په دې جګړه کې د (پړانــګ) پــه نامــه جرمني ټانکونه په روسي توغندیو ویشــتل شــوي وو، (۵۶) ټنــه وزن لرونکي ټانکونه یې ویشتلي وو.

په بله خونه کې هغه درنې وسلې وې، چې اوکراین یې لــه جرمنــي ځواکونو څخه ژغورلی و. پر (۱۹۴۵م) کال (اوبــوس ۱۲۰ ملــي متــري) توپونه، په کښتۍ کې نصب توپونه چې ټانک ضد توغندي هم په کې وو، لس ټکه، پي بي ایس ماشینګنه، چې منفردې ډزې یې کولې او نــورې ډول ډول وسلې په کې ایښودل شوې وې. یــو بــل هــال د پــارټیزاني (چریکي) جګړې لپاره ځانګړی شوی و او د دې جګړو یو تصویر او یوه تابلو په کې ننداري ته وړاندې شوي وو. د جرمنــي کارتوســونو د بیــا جوړولو یو ماشین یې هم په کې ایښی و او د اورګاډي د انحراف لپاره یوه ځانګړې وسپنیزه اله هم دلته ایښودل شوې وه. بیا یې هغه لس ټکــه (ماشینګنه) راوښوده، چې هم پرې الوتکې او هم پرې ټانکونه ویشــتل کېدل. په یوه بل ځای کې یې بیا د ځینو اروپایي هېوادونو تر ((ازادۍ)) وروسته د هغوی ځینې وسایل ننداري ته وړاندې کړي وو.

تر دې کتنو وروسته د موزیم مرکزي سالون تــه لاړو، دا ســالون ((د بري سالون)) په نامه یادېږي. په دې سالون کــې هغــه بیــرغ پــه یــوه




ښيښه يي ويترين کې ايښې و چې پر (۱۹۴۵ م) کال شوروي لښکرو د لومړي ځل لپاره پر برلين رپولی و. دا بيرغ د همېشه لپاره دلته وي، خو په خاصو ورځو کې را اېستل کېږي. بيرغ سور رنـګ لـري؛ د پخـواني شوروي اتحاد ملي او د کمونيست ګوند ګوندي بيرغ و، چـې د لـور او څټک نښان يې په منځ کې لګېدلی دی.

د موزيم بله لويه برخه ( تر جګړې وروسته موزيم) دی. مانا دا چې تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته، چې کومې نوې او عصري وسلې جوړې شوي، د هغو لپاره ځانګړی شوی دی.

تر جګړې وروسته لومړنۍ وسله چې دلته ايښودل شـوې وه، هغـه کلاشينکوف و او خپله د کلاشينکوف عکس، چې روسـان پـرې ډېـر وياړي. د ځينو نورو عصري وسلو ويترين هم دلته و د پراشوټي عسکرو او ټانکونو تابلوګانې او بېلګې هم دلته وې. بل سالون يې بحري ځواکونو

ته ځانګړې کړې و. هغه بحري تومانچې هم په کې ننداري ته ایښــودل شوې وې چې په لنډه فاصله (۱۱) مترو کې سړی ولي. په یخو سیمو کې کارېدونکې وسله او هم هغه روسۍ وسله چې د عربو او اســرائیلو پــه جګړه کې کارېدلې وه، دلته یې بېلګې ایښې وې. زموږ لپاره جالبه دا وه، چې د افغانستان د جګړې لپاره یې هم یوه ځانګړې کړکۍ یا ویترین په



پام کې نیولي وو. سره له دې چې مــوږ پــه دې کړکــۍ کــې د جګــړې تصویرونه او نمونې ولیدل خو موږ ته یې ځکه تشریح نه کــړل، چــې د دوی په نظر (۳۰) کاله پرې لا نه دي تېر شوي، په ویترین کې د (ډاکتــر نجیب الله) ځینې هغه تصویرونه چې د جګړې انځورنه یې کوله، لیدل کېږي، همدارنګه د روسي چورلکو، زغره والو ټانکونو او نورو جګړه ییزو وسایلو تصویرونه وو، خو موږ وکولای شول د دې ویترین څو عکســونه عکاسي کړو.



د روسيې د پوځي موزيم بهرنۍ برخه

**تر دې وروسته یو بل سالون ته لاړو. دا هغه ســالون دی چــې نــور نــو شوروي اتحاد ړنګ او د روسيې فيډريشن جوړ شوی دی. په دې هــال کې د پخواني شوروي تر ړنګېدو وروسته د اوســنۍ روســيې د دفــاع وزیرانو عکسونه ننداره ته وړاندې شوي دي.**

**په همدې سالون کې د (جنوبي اسيتيا) د جګړې تصويرونه چې پــر (۲۰۰۸م) کال پېښنه شوې وه، هم وو. په دې جګــړه کــې چــې کــومې**

امریکایي وسلې د دوی لاس ته ورغلي وې، د هغو بېلګې یې ایښې وې. وړې وسلې وې.

بل ځای د کلاشینکوف اوسني ډولونه وو، چې ځینې ډولونه یې د ناټو سازمان ځینې غړي هېوادونه هم کاروي. دلته یوه بې غږه تومانچه هم ایښودل شوې وه. هغه چاکو ډوله تومانچه هم ننداریې ته ایښودل شوې وه چې مخکې سړی وهي او شاته ډزه کوي. د ټانک ضــد وســلې، ډول ډول توغندي په کې ایښودل شوي وو، داسې توغندي چې آن (60mm) ډبل ټانک هم له منځه وړي، دا توغندي د نړۍ هر ډول ټانک له منځــه وړلای شي.

تر دې ځایه چې وګرځېدو، ښه ستړي شو، خو د موزیم اکثره برخې مو وکتلې. البته د موزیم تر ودانۍ بهــر چمنونــه او پارکونــه یــې هــم راوښودل چې هلته هم د درنو وسلو عملي بېلګې ایښودل شــوې وې، خو موږ ډېر ستړي وو. نو ځکه مو چای غوره وباله.

کله چې ښه ستړي شو، نو چای ته مو ښه اشتها راغله، زموږ یــو ملګري وویل: ((همدلته لاندې په موزیم کې کانتین دی، ښه چای په کې شته او د خوراک څښاک شیان پــه کــې پرېمانــه دي. هملتــه لاندیني پوړ ته کښته شو، کیک، بسکټ، ډول ډول چاکلیټونه، قهوه، تور او شنه چایونه ټول پیداکېدل. دننه کانتین ډېر لوی نه و، پر یوه وخت یې د شلو پنځه ویشتو کسانو د ځایونې وړتیا درلودله، هملته مو چای راوغوښت، ښه په مړه خېټه مو وڅښه، دمه مو ښه راســته شوه، ستړیا مو ووته، بېرته راتازه شو او بیا د بل پلان د تطبیق په لټه کې شو. له انډیوالانو مو پوښتنه وکړه، چې زموږ هغه بل ګروپ سره به چېرته ګورو؟ هغوی وویل: ((نن ماښام په مســکو کــې د افغــاني سوداګرو ټولنې مېلمستیا کړې، ټول هلته راځي، هلته بېرته ســره یوځای کېږو.)) کله چې له موزیمه راووتو، نو زموږ د ســورلۍ مــوټر

مخې ته يو ښاغلی ولاړ و، چې پر سينه يې ډول ډول مډالونه ځړېدلي وو. هغه وويل: ((ما په دويمه نړيواله جګړه کې ګډون کړی او نـــورې



د پخواني شوروي د جګړو د ډګر يو ((اتل)) د افغاني هئيت له ځينو غړو سره

ډېرې سوبې مې ګټلي، نو ځکه يـــې دا مډالونـــه ماتـــه راکـــړي.)) دا ښاغلی د کمونيستي پېر د حالاتو محصول و، له خبرو يـــې داســـې ښکارېده چې پر سينه ځړېدلي مډالونه يې د ژوند ټوله پانګه ده او د پخواني ژوند ارمان يې ځرګنداوه. ده وويل: ((تاسو سره يو يادګاري عکس اخلم.)) موږ هم ورسره عکس واخيست او بيا په مـــوټر کـــې سواره شو.

# یوه ماښامنۍ له افغان سوداګرو سره

کله چې د وسلو له موزیمه راووتو، نو د افغاني سوداګرو د مرکز پـر لـوري وخوځېـدو، پنځـه بجـې او پنځـه لـس دقیقـې وې چـې




دې مرکز ته ورسېدو. دا سیمه یا مرکز (سېواستوپل) هوټل نومېږي او د مسکو ښار په یوه ارزښتمن اقتصادي ځای کې موقعیت لري. دې غونډې ته نور ګڼ شمېر مسکو مېشتي مطرح افغانان رابلل شوي وو. پـه یـوه سالون کې چې نږدې دوه سوه کسان په کې ځایېدل، ټول کېناسـتو. د دفاع پخوانی وزیر جنرال عبدالقادر، حیات الله زیارمل تر (۱۳۷۱ل) کال دمخه دولت یو زیات شمېر نور لوړ رتبه چارواکي هم راغلي وو. دا غونډه

**نه یوازې یوه مېلمستیا وه، بلکې د موسیقۍ پروګرام هم ورسره مل و او وینااوو ته هم په کې وخت په پام کې نیول شوی و.**

**ښاغلي (امان اشکرېز) چې په افغانستان کې یې یــو زیــات شــمېر**


ښاغلی امان اشکرېز او نور مسکو مېشتي افغانان، مېلمنو ته د هرکلي پر مهال

**خلک له غږ او هنر سره اشنا دي، غونډه په خپل یو لنډ شعر پیل کــړه، ویې ویل: ((د ګرانو مېلمنو اصطلاح چې کاروم، دلته یوه مروجه ژبه ده که نه دلته ټول یو حیثیت لرو، خو یوازې هغه کسان چې نوي او تازه له افغانستانه راغلي، هغوی نظر موږ ته یو څه مېلمانه ښــکاري. دا هوټــل (سېواستوپل) نومېږي، د افغانانو کاري مرکز دی، دلته موږ زیاتو افغان مېلمنو ته هرکلی وایو. په دې ځای کې افغان سوداګر یوځای شوي دي. (۶۰۰۰) افغانان دلته کار کوي او ماښام بېرته خپل کور ته ځي. په (نوید روز) ورځپاڼه کې د مسکو مېشتو افغانانو په باب معلومات راغلــي دي. کله چې زموږ دې قدرمن افغاني هئیت دلته تشریف راوړ، نو موږ ټولــو هیله لرله چې دوی ته یوه ډوډۍ وکړو. ښاغلی غلام محمد جلالي چې د دې مرکز رییس دی، هم دلته تشریف راوړ، تاسې دلته د ټولو مېلمانــه**

یاست. دلته چې کوم افغانان اوسي د روســیې پــر اوړو بــار نــه دي. د افغانانو په دې مرکز کې لومړی کار دا وشو چې دلته یو مسجد جوړ شو، اوس دلته لمونځونه کېږي، فاتحې اخیستل کېږي او نور دیني مراســم اداکېږي. دوه ورځپاڼې (نوید روز) او (هموطن) دلته خپرېږي. دلته ټول (۵۵۶) افغان شرکتونه دي. افغان ټلویزیون دلته کار کوي. دلته مو یــو ښوونځی هم تاسیس کړی، یوه دوره فارغان یې هم ورکړي دي. وړکتون هم لرو، فارغان مو بیا روسي ښوونځیو تــه معرفــي کــړي دي. پــه دې ښوونځي کې پښتو، دري او د دیني علومو زده کړې کېږي. دلته حلاله غذا پیدا کېږي. دا څلورم کال دی چې فرهنګي غونډې جوړوو. د نوروز غونډه مو هم جوړه کړه. د مسکو ښاروال او د پنځو نورو هېوادونو استازو په کې ګډون کړی و. په (۱۴) هېوادونو کې اول شو. ټول په ګډه فرهنګي کار کوو. د فرهنګ د ودې ټولنې له خوا یو وړوکی کنسرت هم په پام کې نیول شوی دی.)) ښاغلي اشکرېز تر دې خبرو وروسته ښــاغلي نبــي شینواري ته د شعر بلنه ورکړه.


(نبي شینواري) خپل شعر ولوست، هغه یو شعر زما په ستاینه کې هم لیکلی و، چې دلته یې ولوست بیا یې په همدې غونډه کې ماته راکړ او مخکې یې په الوتکه کې راته ویلي وو چې یو شعر مې درته لیکلی، تــه مې تر اوسه لیدلی نه وې، خو په غیاب کې مــې دربانــدې ویــاړ کــاوه. وروسته (چاوش صیب) خپل شعر ولوست، بیا (عمر ننګیار صیب) خپل طنز ولوست، تر هغه وروسته ډوډۍ راوړل شوه. څرنګه چې د افغانــانو مېلمستیا وه، نو ځکه خو یې ښه خوندوره افغاني غذا برابره کړې وه، هم ښه وه هم پرېمانه او هم زمــوږ پــر ذوق برابــره. تــر ډوډۍ وروســته د موسیقۍ ډله دعوت شوه، بیا د موسیقۍ یوه نغمه وغږول شوه. تــر دې

وروسته (جنرال صیب خدایداد هزاره) ته چې د افغانستان د مخـدره موادو پرضد دمبارزې وزارت وزیر دی، بلنه ورکړل شـوه چـې خبـرې وکړي. جنرال صیب په خپلـو خبـرو کـې د




جمهور رییس تاوده سلامونه او نېکې هیلـې مسکو مېشتو افغانانو ته ورسول او ویې ویل: ((زه د حکومت په استازی روسـیې مېشـتو افغانانو ته بلنه ورکوم چې د افغانستان په بیا جوړونه کې خپله ونډه واخلي.)) ده په لنډېز سره د مخدره موادو پرضد د دولت پالیسـي هم واضح کړه او په دې لاره کې ترلاسه شوي بریالیتوبونه یې هـم پـه ګوته کړل.

ماته هم په پیل کې دوستانو په ډېر ټینګار وویل چې خبرې وکړه، خو ما ونه غوښتل خبرې وکړم. ورپسې (صدیق پتمن صیب) چـې اوس د پوهنې وزارت اداري مرستیال دی، خبرې وکړې هغه په خپلو خبرو کې وویل: ((تاسو ټول د وطن خاطرې په زړه کې لرئ، ځینې دوسـتان بـه داسې وي، چې ټوله غمیزه یې دلته تېره کړې وي، خو په افغانستان کې




یوه غمیزه داده، چې د سواد کچه ډېره ټیټه ده. اوس (۷) ملیونه زده کوونکي ښوونځي ته ځـي. همـدا اوس (۴۰۰) ښوونځي تـړل شـوي ، تاسـو څخـه غوښتنه کوم، چې ښوونځي جوړ کړئ. موږ (۲۱۰) زره پرسونل لرو، پر تاسو مو سترګې ډکې شوې، سیاست باید موږه

ټول نورو ته پرې نه ږدو. موږ باید خپله یوه ملي طرحه ولرو، تاریخ ثابته کړې ده، چې بهرنیان د ډېرې مودې لپاره نه شي پاتې کېدلی. نو موږ او تاسې باید د خپلو مشکلاتو د حل لپاره خپله حل لاره پیدا کړو.))

پتمن صیب پسې د روسیې د وګړپوهنې انستیتیوت رییس ښاغلي یوري کروپنوف ته نوبت ورسېد، هغه په خپلو خبرو کې وویل: ((اوس به زه تاسې ته دوستان ووایم، ځکه چې موږ تاسې درک کړئ. په روسیې فدراسیون کې ځینې خلک د افغانستان له درک پرته هغه یو غریب هېواد ګڼي او د یوه ماشوم په شان چې څنګه پـر لاره لاړ شي ورته ګوري. زه باید یوه پوښـتنه وکړم، چې افغانستان لرغونی هېواد دی که روسیه؟ ځینې هېوادونه کېدی شـي اوس قوي وي، خو وروسته بیا ضعیفېږي. خـو ځینــې بیـا پخـوانی کلتــور لــري.




افغانستان اوس ضعیف دی، روسیه هم لس کالـه مخکــې ضــعیفه وه. حالات بدلېږي خو ولسونه پاتې کېږي. دا جرګه د دې سبب شوه چــې موږ یو بل درک کړو. ټول هغه شیان چې زموږ په زړه کې وو، هغه وویل شول، دا چې اینده کې به څه کېږي؟ ما ډېر کتابونه لیکلي، غواړم یو بل کتاب هم ولیکم؛ افغانستان څه دی؟ روسیه څه ده؟ دا چې نړیوال لــه افغانستان سره مرسته کوي، ښه داده چې روسیه هم مرسته وکړي.

ځکه نو صنعت، اقتصاد او نور شیان باید پرمخ یوسو او خلکو ته ښه کارونه پیدا کړو. په روسیې او افغانستان کې باید بېکاري له منځه یوسو. مهم شی روح او اروا دي. افغانان او روسان یو بل ښه پېژني، کولای شي

یو پر بل باور وکړي، یو بل په غېږ کې ونیسي، تر څو یو بـل ښـه درک کړي، راځئ، چې د خپلو هېوادونو د راتلونکي لپاره کار وکـړو، ځینـې عادي پروژې که هم په پام کې ونیسو، راتلونکي کې موږ ته ګټه رسوي. په کابل او مسکو کې کلتوري مرکزونه په پام کې ونیسو، څه شی چـې مسکو پورې اړه لري، زه به ډېر کوښښ او مرسته کوم، په کابل کې هم داسې ځمکه شته چې روسیه هغه په اجاره راونیسي، کله چې روسـیه کمزورې شوه، په کابل کې د روسي کلتوري مرکز پر یوه کنډواله بـدل شو، خو موږ غواړو بېرته یې د پخوا په څېر ورغوو، راځئ! چې په ګـډه سره کار وکړو.

که څوک مشخص وړاندیز لري، راځئ! چې بحث پرې وکړو. له کابله راغلي افغانان پوهېږي چې مسکو مېشتي افغانان له موږ سره څه ډول کار کوي. په مسکو کې له افغاني ټولنې څخه مننه څرګندوم. زه وړاندیز کوم چې د روسانو او افغانـانو یوه بله جرګه دې په کابل کې جوړه شي.))




دې خبرو پسې پـه ولسـي جرګه کې د پکتیکـا د خلکـو اسـتازي ښـاغلي نادرخـان کتوازي ته بلنه ورکړل شـوه، چـې خپلـې خبـرې وکـړي. نادرخان کتوازي په پیـل کـې وویل: ((له ټولو افغان او روسي دوستانو مننه کوم. زه خو وایم

چې له دې افغانانو څخه باید موږ په عمل کې ګټه واخلو، دا کدرونــه د دې پرځای چې دلته پر دوکانداری مصروف شي، له دوی څخه بایــد د افغانستان په بیارغونه کې ګټه پورته شي.)) نادرخان کتوازي د ځینــو نورو وړاندیزونو ترڅنګ د حکومت نیمګړتیاوو ته هم ګوته ونیوله او ویې ویل: ((هرڅوک چې دلته بهر ته راشي بیا بهرمېشتو افغانانو ته د ورتګ بلنه او غوړې وعدې ورکوي، خو له دوی څخه چا پوښتلي، هغه کدرونه چې هلته د هېواد په داخل کې دي، د هغو قدر چا کړی که نه؟ چې اوس نورو بهر مېشتو ته بلنه ورکول کېږي.))

د ښاغلي نادرخان په خبرو پسې ښاغلي فاروق فردا د (لېــوني) پــه نامه خپل یو شعر ولوست او بیا (ملاحیات الله) د دې غونډې وروســتۍ



دعا واوروله او په همدې سره غونډه په رسمي ډول پایته ورســېدله. د غونډې په بهیر کې پتمن صیب راته وویل: ((زه او خلیلي صیب، سراج صیب او نور دوستان چې اسلامي مرکز ته لاړو، نو زموږ یې ډېر زیات قدر و عزت وکړ، د دې ځای مسلمانانو زموږ لیدو ته ډېر تږي وو، ان زموږ په لیدو یې په سترګو کې اوښکې راغلې، دا مهال ماته داسې تصور پیــدا

شو؛ یو څوک چې په کوم ځای کې ځان محروم احساسوي، هغو کــې د خپلو همفکرو او همدینو د لیدو تنده او احساس ډېر زیات وي.
نو زموږ په لیدو د روسي مسلمانانو دا ټولنه ډېره زیاته خوشاله شوه، موږ ته یې تحفې هم راکړې. زموږ ورتګ د دوی لپاره یو ښه ډاډ و. دوی پــه کمونیستي واکمنۍ کې ډېر ځپل شوي دي. اوس ورتــه مــذهبي ازادي شته، خو بیا هم پخواني تاثیرات لا تر اوسه پورې پرې څرګندېږي.)) د غونډې ترپایته رسېدو وروسته ځینو نورو دوستانو ســره هــم معرفــي


ببرک شینواری او یون له مسکو مېشتو افغانانو سره

شوم، یادګاري عکسونه مو هم واخیستل، بیا له هغه ځایه د مېلمستون پر لوري رهي شو، نږدې یو نیم ساعت کې مېلمستون ته ورسېدو. پــه موټر کې راسره (عوض خان) هم و. تنکی عوض خان د عبدالله خان زوی دی، لکه څنګه چې په پیل کې یادونه کــړې عبــدالله اصــلاً د لغمــان اوسېدونکی دی، خو تر یوې نیمې لسیزې زیات وخت کېږي چــې پــه مسکو کې اوسېږي، عوض خان اوس (۹) کلن دی، خو د خدای په فضل ډېر لایقه دی، د خپل ټولګي اول نومره دی، نه یوازې په خپل ټولګي کې

اول نومره دی، بلکې په روسي ژبه کې هم دومره تکړه دی، چې د خپل پلار ګرامري تېروتنې هم سموي. نه یوازې په روسي، بلکې په پښتو ژبه کې یې هم د ځینو هغو کسانو ژبنۍ تېروتنې سمولې چې په پښتو یې خبرې کولې او پښتو کې به یې د عربي، دري، روسي او نورو ژبو لغتونه ورګډول، ده به ورته سملاسي پښتو انډول پیدا کاوه.

په دې عمر کې چې څوک داسې استعداد ولري او داسې ملي روحیه، نو د سړي په زړه کې دا هیلې غوړېږي چې نه څوک دا ملت وژلای شي او نه یې دا ژبه. بهر مېشتو افغانانو ته خو زموږ اکثره تشویش په همدې کې وي چې له خپل نوي نسل سره به څه کوي؟ خو څوک چې کله داسې تنکي ګلان وګوري، تشویشونه یې ټول باد یوسي.د شپې یوولس بجې وې چې مېلمستون ته ورسېدو، ښه ستړي وو. له ښاغلي عبدالله، عوض خان، طاهرخان شینواري او نورو انډیوالانو څخه مې خدای پاماني واخیسته او خپلې خونې ته لاړم، چېرکټ ته له تګ سره سم رابانديې د خوب څپه راغله.



# د پرېکړه لیک وروستی متن

د مې (۱۷) مه نېټه د یکشنبې ورځ وه، سهار وختي له خوبه پاڅېدم، تشناب کې مې پرځان اوبه تېرې کړې، لمونځ او سپورت مې وکړ او بیا مې د پرېکړه لیک د وروستي متن پر لیکلو پیل وکړ. پرون شپه ناوخته مې چې کوم پرېکړه لیک د لومړنۍ مسودې پر بنسټ ترتیب کړی و، هغه مې پرون سهار په موټر کې د افغاني لوري برخوالو ته ولوست، په موټر کې مایک تیار ایښی و او ټولو ته غږ په ښه ډول رسېده. دلته افغاني هئیت په څو بېلابېلو اتاقونو او ودانیو کې تیت و، نو تر ټولو ښه ځای همدا موټر و، چې ټول په کې راټول وو. په بل ځای کې د ټولو راټولول ناشوني وو، نو همدا (۳۰۲) موټر تر ټولو ښه ځای و، چې د پرېکړه لیک په هکله پرېکړه وکړو. ما د پخوانۍ مسودې او د څو ورځنیو خبرو پر بنسټ ترتیب شوی متن دوی ته ولوست، په ټولیز ډول دوی دا پرېکړه لیک تائید کړ، خو اوه اته ځایه یې د جزیي تغیراتو غوښتنه وکړه. پرېکړه لیک مې له سره ترتیب کړ، په همدې وخت کې بیا راباندې یوه سترګه خوب راغی.

د پرېکړه لیک وروستی متن مې پر همدې ورځ روسي لوري ته تسلیم کړ، هغوی تر کتنې وروسته ماته وویل: ((ډېر ښه لیکل شوی)) تر کتنې وروسته یې یوازې یو څو ځایه څو جملې په کې بدلې کړې وې او یو څو ځایه یې لږ بدلون په کې راوستی و، خو دا ډېر اساسي بدلون نه و. په پای کې پرېکړه لیک دغه لاندې بڼه خپله کړه:

# د روسیې او افغانستان د مناسباتو په اړه
# د ګډې جرګې پرېکړه لیک

**مســکو - روســیه**

**د (۲۰۰۹ م) کال د مې (۱۴) مه نېټه**

د (۲۰۰۹ میلادي) کال د مې میاشتې پر (۱۴)مه نېټه ، د روسیې او افغانستان د دپلوماتیکو اړیکو د نوي یمــې کــالیزې پــه ویــاړ د دواړو هېوادونو تر منځ د مناسباتو په اړه ګــډه جرګــه ( علمــي او څېړنیــز کنفرانس) د روسیې په پلازمېنه مسکو ښار پــه ( جمهــوري ریاســت هوټل) کې جوړه شوه .

دغه علمي – څېړنیز کنفرانس ( فوروم) د روسیې ( د نفوس پوهنې، مهاجرتونو او سیمه ییزې پرمختیا انســتیتوت )د نــادولتي، مســتقلې علمي موسسې په نوښت او هلو ځلو، د روسیې د بهرنیو چارو وزارت او ملي شورا په همکارۍ جوړ شوی و.

په دې علمي کنفرانس ( جرګه) کې د دواړو هېوادونو یو شمېر لوړ پوړو حکومتي چارواکو، د مدني ټولنو، علمي او ټولنیزو بنسټونو استازو، او د ملي شورا یو شمېر غړو برخه اخیستې وه.

د کنفرانس په پیل کې د روسیې د صــدراعظم مرســتیال ایګــور سېچېن، د افغانستان د جمهور رییس مرستیال کریم خلیلي، د روسیې د امنیت شورا رییس نیکولای پاتروشېف او دمخدره موادو پــر ضــد د

روسیې د دولتي کمېټې رییس ویکتر ایوانوف غونډې تــه د هرکلــي پرانیستونکې ویناوې وکړې.

په کنفرانس کې، په بېلابېلو ډګرونو کــې د افغانســتان او روســیې اړیکي په هر اړخیز ډول وڅېړل شول او د دوه اړخیــزو مناســباتو پــر پراختیا،پرمختیا، ټینګښت او سمون ټینګار وشو.

د کنفرانس برخوالو د خپل کار په پای کې، د نتیجې په توګه، دغــه لاندې پرېکړه لیک تصویب کړ:

## الف – په کلتوري برخه کې :

۱ - د دواړو هېوادونو له حکومتونو څخه هیلــه کېــږي، چــې د دوه اړخیزو کلتوري مناسباتو د پراختیا لپاره، د کلتوري همکاریو یو تــړون لاسلیک کړي .

۲ - یو بل ته د دواړو هېوادو د ولسونو د کلتور د ښه ورپېژندلو لپاره، د دواړو خواوو له دولتي چارواکو څخه هیله کېږي، چې په مسکو کې د افغانستان د یو داسې کلتوري مرکز د جوړېدو چارې سمبال کړي، چې یو ښوونځی، کتابتون، جومات او د غونډو یو منځنی سالون ولري . دغه راز د روسیې له حکومت څخه هیله کېږي، چې پــه کابــل کــې خپــل کلتوري مرکز ( د شوروي اتحاد دعلم او فرهنګ خونه ) له سره ورغوي او فعال یې کړي .

۳ - د روسیې له دولتي مقاماتو څخه هیلــه کېــږي، چــې د افغــان کدرونو د روزنې لپاره، افغانستان ته هر کال په بېلابېلو برخو کې لږ تر لږه (۵۰۰) تحصیلي بورسونه او لس د اسپیرانتورۍ او دکتورا بورسونه ورکړي . د افغانستان له حکومــت څخــه هیلــه کېــږي، هغــو روســي محصلینو ته، چې پښتو او دري ژبې زده کوي، د لنډ مهالو او اوږدمهالو

کورسونو او تحصیلي بورسونو په برخه کې مرستې او اسانتیاوې برابرې کړي .

۴ - د روسیې له دولتي مقاماتوڅخه هیله کېږي، چې په لومړي گام کې د ښه نیت په هیله، د افغانستان په څلورو لویو ولایتونو (کنـــدهار، هرات، ننگرهار او بلخ )کې یوه یوه مسلکي لیســـه لـــه ټولـــو معاصـــرو اسانتیاوو سره فعالې کړي او وروسته د امکاناتو په صورت کې دا لـــړۍ نورو ولایتونو ته هم وغځوي.

۵ - د روسیې له چارواکو څخه هیلـــه کـــوو، چـــې د افغانســـتان د تعلیمي او تحصیلي نصاب د کتابونوپه چاپ، د چاپخونو په جوړونه او د دولتي ټلویزیوني او راډیويي تاسیساتو په بیا رغونه او نوې جوړونه کې د افغانستان له حکومت سره مرسته وکړي .

ب : په اقتصادي برخه کې :

۱– د کنفرانس برخوالو له دواړو حکومتونو څخه وغوښـــتل، چـــې د خوراکي موادو، انرژۍ، صنعتي پرمختیا او کرنې د عصري کولو لپـــاره د خپلمنځي(بین الحکومتي) همکاریو یو تړون لاسلیک کړي .

۲ - په کنفرانس کې ټینگار وشو، روسیه دې په افغانستان کې د هغو (۱۴۲) پروژو پر بیا رغونه لاس پورې کړي، چې د پخواني شوروي اتحاد پر وخت د روسي او شوروي ماهرانو له خوا جوړې شوي او د جگړو پـــر مهال یې اکثره ببرته له کاره غورځېدلې دي . سربېره پر دې له روسیې څخه غوښتنه وشوه، چې په افغانستان کې د نورو نویو او لویو اقتصادي پروژو سربېره پخوانۍ (۳۶) ناتکمیله ودانـــۍ تکمیـــل او د ( ۱۰۰) هغـــو

**پروژو پر عملي تطبيق لاس پورې کړي، چې د عملي کېدو پلان يې جوړ شوی و.**

**۳ - د کنفرانس برخوالو وويل : د روسيې له حکومت څخه هيله کوو، چې په افغانستان کې، د نويو برېښنا بندونو او اوبه خــور سيســتم پــه جوړونه کې د افغانستان له حکومت سره مرسته او همکاري وکړي.**

**۴ - د روسيې او افغانستان له حکومتونو څخه هيله کــوو، چــې د دواړو هېوادونو تر منځ د تجارتي - اقتصادي همکارۍ د بين الحکومتي کميسيون د جوړولو امکانات وڅېړي، او همدارنگه د روسيې،افغانستان او مرکزي اسيا د هېوادونو د اقتصادي همکارۍ لپاره دې د شانگهای د همکارۍ د سازمان ، د ټولگټو(مشترک المنافع) هېوادونو د يوروايشيا اقتصادي همکارۍ ، د گډ امنيت د تړون هېوادونو، پارلمــاني جرگــو او نورو سيمه ييزو سازمانونو امکانات وکاروي.**

**۵ - په کنفرانس کې د روسيې له دولت څخه هيله وشوه، چې پــه افغانستان کې د روسيې تجارتي- اقتصادي نماينده گــۍ د پرانيســتلو امکانات وڅېړي .**

**۶- له روسيې څخه هيله کــوو، چــې د افغانســتان د حکومــت د غوښتنې په حالت کې، د افغانستان اســلامي جمهوريــت تــه د اوږدې مودې دولتي کرېډېټ (پور) ورکړي، او همدارنگه پــر (۱۹۹۱ م) کــال د روسيې په بهرني اقتصادي بانک کې د افغان سوداگرو کنگــل شــوي حسابونه بېرته ازاد کړي . د دې تر څنگ د روسيې له چــارواکو څخــه هيله کوو، چې روسيې ته د افغانستان د توليداتو او پيداوارو د صادرولو په برخه کې په گمرکي محصــولاتو کــې کمــی او اســانتيا راولــي او د افغانستان له حکومت څخه هيله کوو، چې په افغانستان کې د روســي**

توليداتو د صدور او پانگونې په برخه کې له روسي سوداگرو او پانگوالو سره مرسته او همکـاري وکـړي. د دې ترڅنــگ د دواړو هېــوادو لــه حکومتونو څخه هيله څرگنده شوه، چې افغانستان تــه د روســيې او روسيې ته د افغانستان د صادراتو د اسانتياو لپاره د منځنۍ اســيا لــه هېوادونو سره د ترانزيتي او ترانسپورتي لگښتونو د کمولو په باب د بين الحکومتي کميسيون په سطحه خبرې اترې وکړي .

۷ - د دواړو هېوادونو د تجارت د اتــاقونو تــر مــنځ دې د دايمــي همکارۍ زمينه برابره شي .

۸ – د کنفرانس برخــوال د افغانســتان د اســلامي جمهوريــت لــه حکومت څخه هيله کوي، چې په افغانستان کې د روسيې د بانکونو د څانگو د کار او فعاليت لپاره لازمې او ممکنې اسانتياوې برابرې کړي، له دې لارې به په افغانستان کې د پانگونې او تجارتي معاملاتو د تر ســره کولو لپاره د پورونو او کرېډېټونو امکانات اسانه شي .

۹- په کنفرانس کې د روسيې له دولت څخه هيله وشــوه، چــې د کابل او مسکو تر منځ هره ورځ د (ايروفلوټ) د هوايي شرکت د الوتکې پرواز تنظيم کړي، همدا ډول د مسکو او کابل تــر مــنځ د پروازونــو د زياتولو لپاره (د اريانا افغان هوايي شرکت) سره د روسيې توليد يــوې مسافر وړونکې الوتکې د پېرودلو په چاروکې مرسته وکړي.

ج : په امنيتي برخه کې :

۱ – د کنفرانس برخوالو په افغانستان کې د بحــران د حــل لپــاره، يوازې پوځي لار بې گټې وبلله، ټينگار يې وکړ، چې د امنيت د ټينگښت لپاره بايد له نورو سوله ييزو لارو چارو څخه هم کار واخيستل شي. دوی

له روسیې او افغانستان څخه هیله وکړه، چې په امنیتي چاروکې له یو بل سره ناپوځې همکاري وکړي.

۲ - مخدره توکي، تروریزم او نا امني یو له بل سره تړلي دي، د دغو پدیدو پر وړاندې مبارزه، نه یوازې د افغانســتان د حکومــت دنــده ده، بلکې د روسیې په ګډون ټول هېوادونــه بایــد پــه دې مبــارزه کــې د افغانستان د حکومت ملاتړ وکړي، د مخدره توکو د لېږد رالېږد لپــاره خپل سرحدونه او مارکېټونه کنترول کړي، چې د دې توکو تقاضا اصــلاً له منځه لاړه شي .

۳ – د کنفرانس برخوالو له روسیې او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه وکړه، چې له افغان بزګرانو سره د یوې بلې کرنې (بدیل کښت) په باب فکر او مرسته وکړي، دغه راز له بزګرانو ســره دې د هغــوی د کرنیــزو محصولاتو د لوړولو په مقصد د اصلاح شویو تخمونو او کېمیاوي ســرې مرسته وکړي. د کنفرانس برخوالو همدا ډول له روســیې او نړیــوالې ټولنې څخه هیله وکړه، چې د افغانستان د کرنې په عصري کولو کې له افغانستان سره مرسته وکړي. د کرنې عصري کول نه یوازې د زراعتي محصولاتو په لوړولو کې مثبت نقش لري ، بلکې د کوکنارو د کرنې کار وبار هم له منځه وړي او د امنیت له ټینګښت سره هم مرسته کوي .

۴ - له روسیې څخه په ټینګار غوښتنه وشوه، چې په افغانستان کې د یو غښتلي مرکزي حکومت ملاتړ وکړي، یوازې له مرکــزي حکومــت سره خپل روابط وساتي او له هغه سره مرسته وکړي . د مرکزي حکومت استحکام د امنیت په ټینګښت کې تر ټولو ډېر موثر نقش لري .

۵ – د کنفرانس برخوالو تروریزم او مخدره مواد، بشري ضد پدیدې وګڼلې او افغانستان یې تر ټولو زیات د دې پدیدو قرباني شوی هېواد

وگانه، ټینگار یې وکړ، چې د دې نړۍ دښمنه پدیدو د له منځــه وړلــو لپاره، د ټولې نړۍ گډې همکارۍ ته ضرورت دی .

۶- د کنفرانس برخوالو د افغانستان سیاسي - جغرافیایي موقعیت له اقتصادي، بشري او فرهنگي پلوه خورا مهم وارزاوه او دغه هېواد یې د دریو بشري حوزو ( جنوبي اسیا، منځنۍ اسیا او منځني ختیځ ) تــر منځ د وصل کړۍ وبلله، ټینگار یې وکړ، که له افغانستان سره مرسته وشي، چې له خپل دغه موقعیت څخه په تېره بیا د تجارتي ترانزیت په برخه کې کار واخلي، نو نه یوازې دا چې د افغانســتان او ســیمې لــه اقتصادي ودې سره به مرسته وکړي ، بلکې سیمې او نړۍ ته به د ثبات د راوستلو تر څنگ، د ترهگرۍ او مخدره موادو پر وړاندې هڅې گړندۍ کړي .

د روسیې او افغانستان تر منځ د متقابل باور د دایمي او غیر رسمي ډیالوگ لپاره په کار ده، چې د دواړو هېوادونو تر منځ د لومړنۍ گــډې جرگې ( فوروم ) د سازمان ورکوونکو او برخوالــو پــه گــډون د دواړو هېوادو د اړیکو یو دایمي غیر دولتي سازمان ـ دایمي گډه جرگه ( گــډ فوروم ) منځته راشي. د دغې دایمي جرگې په مشرتابه کې به د روسیې او افغانستان استازي او همدارنگه په روسیه کې د مېشــتو افغانــانو د ټولنې استازي گډون ولري .

دغه دایمي سازمان ته وظیفه ورکول کېږي چــې د روان (۲۰۰۹ م) کال په مني کې د روسیې او افغانستان د اړیکو دویمه جرگه په کابل کې جوړه کړي .

تر هغه ځایه، چې په روسیه کې دمېشتو افغانانو علمي، مسلکي او کاري پوتنسیال هم د روسیې او هم د افغانستان په ټولنیزه فرهنگي او

اقتصادي وده کې ټاکلي مثبت نقش او اغېز لري، ښايي په روسیه کې د اوسېدونکو افغانانو رول، د افغانستان په بیا رغونه او د دواړو هېوادونو د اړیکو په ټینګښت کې پیاوړی شي . روسیه میشــتي افغانــان چــې، د دواړو هېوادونو د ولسونو کلتوري او اقتصادي ځانګړتیاوې او امکانــات تر ټولو ښه درک کوي، کولای شي د دواړو هېوادونو امکانات وځېړي او د بشري، کلتوري او اقتصادي همکاریو په برخه کې د عملي اقــداماتو لارې چارې په ګوته کړي .

پر پورتنیو پرېکړو او غوښتنو سربېره د کنفرانس برخوال په خپلــو څو ورځنیو بحثونو کې پر دې موافق شول او غوښتنه یې وکړه، چې د افغانستان او روسیې د پارلماني مناسباتو د ټینګښت په مقصــد دې، د دواړو هېوادونو د پارلمانونو تر منځ د پارلماني دوستۍ کمیسیونونه جوړ شي، دا کار به د دواړو هېوادونو ترمنځ سیاسي تفاهم غښتلی کړي . د دې تر څنګ غوښتنه وشوه، چې د مرکزي اسیا او ټولګټــو (مشــترک المنافع) هېوادو د پارلمانونو تر منځ دې هم ګډ کمیسیونونه جوړ شي .

د پرېکړه لیک پر موادو د کنفرانس ( ګډې جرګې) د دواړو خواو ټولو برخوالو موافقه کړې، متن یې په روسي، پښتو او دري ژبو یو له بل سره کتل شوی، یو ډول دی .

یادښت: د پرېکړه لیک دا وروستی متن، هغه بشپړ متن دی، چې د جرګې د دواړو غاړو د برخوالو په استازۍ د ګډې جرګې د پرېکړه لیک د لیکني هئیت (ډاکتر شېرحسن حسن، سېرافیم مېلېنتیف، عبدالغفور لېوال او د جرګې جوړونکو یوري کروپېنوف او محمد بشر بشردوســت) کره کړی، لاسلیک کړی او تائید کړی دی.

# په مسکو کې یوه پخوانۍ کلیسا

د مې (۱۷) مه نېټه وه، سهار کې پر پرېکړه لیک تر کار وروسته لېږ شان سترړی شوم، تر یوې څېپې خوب وروسته (۹) بجې چای ته لاړو، تر چای وروسته بېرته اتاق ته راغلم، ښاغلی (میرویس ویال) چې په مسکو کې د نړیوالو اړیکو په څانګه کې درس لولي او ورسره ملګری (مشـــتاق احمد واحدزی) چې دی هم هلته د طب پوهنځي محصل دی، دواړه زما لیدو ته راغلي وو. یوه پنجه ورسره اتاق کې کېناستم، د زړه خواله مـــو سره وکړل بیا د پروګرام مطابق د یوې زړې کلیسا د لیدو لپاره له اتـــاق ووتو، څو شېبې وروسته په موټر کې کېناستو، پاوکم یوولس بجې موټر حرکت وکړ. مشتاق احمد په موټر کې راته وویل: (( زه (د خلکو دوستي پوهنتون) کې محصل یـــم. پـــه دې پوهنتـــون کـــې د (۱۰۷) هېوادونـــو محصلین زده کړه کوي. د (۷۰۰) بېلابېلو مذهبونو پیروان په کې دي. د مذهبي او ملي مراسمو لپاره هر یو ته وخت ورکوي. یوه ورځ ما ورته یوه پښتو سندره ( ستا په اننګو کې چې د چا د وینو رنګ دی) اجرا کړه، د ټولو ډېره خوښه شوه. دا خلک په عام ډول پښتانه ډېر خوښـــوي. اوس مورږ په دې پوهنتون کې ټول (۷۰) تنه افغان محصلین یو، (۲۰) تنه یې په امادګۍ پوهنځي کې دي او نور یې په نورو ټولګیو کې. یو افغان چې (سرور) نومېږي، هغه په کې استاد دی، اینده کـــې د نـــورو د اســـتادۍ امکان هم شته، ځینې استادان له افغان او نورو محصلینو سره ښه وضع

نه کوي، یوه استاده ده چې ماته یې هېڅکله لس نومرې رانه کړې، ماته یې یو وخت په امتحان کې وویل: ((افغانان مې بدې راځي.)) یوه ورځ یې رانه امتحان نه اخیست، علت یې دا و چې پخوا یې خپلوان افغانستان کې وژل شوي وو. له همدې کبله بیا بل استاد او نورو استادانو راڅخه ازموینه واخیسته، بیا بل ګروپ ته تبدیل شوم، خو د دې پرعکس نور ډېر مینه ګرکي استادان هم شته.))

مشتاق د خپل پوهنتون د محصلینو په باب وویل: {هغه ورځ چې کریم خلیلي صیب دلته زموږ پوهنتون ته راغلی و، نو کله چې له عمومي کنفرانس څخه راخلاص شو، بیا په دې پوهنتون کې له هزاره محصلینو سره ( دابیتیان) په نوم هوټل ته چې اصلاً د هرات د خلکو دی او پوهنتون ته مخامخ موقعیت لري، لاړ. پرته له هزاره محصلینو څخه یې نور هېڅ بل افغان نه دی خبر کړی. کله چې ما یو هزاره محصل ته وویل چې ولې مو موږ خبر نه کړو. هغه وویل: ((خود خلیلی صاحب همین قسم تقاضا داشت.)) مشتاق ګیله کوله چې که هرڅوک د افغانستان د دولت په استازی دلته راځي هغه هم بیا داسې یو لوړ رتبه هئیت، نو په کار ده چې ټولو افغانانو ته په یوه سترګه وګوري، دلته خپل قومي او سمتي مسایل ونه پالي.} په همدې خبرو خبرو کې وو، چې کلیسا ته ورسېدو وخت پر محلي وخت یوولس بجې او شل دقیقې و. کله چې موټر نه کښته شو نو لومړی یوې مغازې ته لاړو، چې انتیک شیان په کې ایښي وو. اکثره شیان په کې داسې وو چې د روسي کلتور څرګندونه یې کوله، موږ څه وانه خیستل، تر دې کتنې وروسته هلته نږدې یوه چایخونه وه، هلته لاړو. چای مو وڅښنه خوند یې وکړ، لږ ارام

**شو. بیا د کلیسا پر لوري وخوځېدو، دا یوه ډېره لویه کلیسا وه، د کـلا دېوال یې ښه دنګ و، لکه د پخوانیو بالاحصارونو په شان و. دا کلیسا په (۱۷)مه پېړۍ کې جوړه شوې وه. له دې کلیسا څخــه د یــوې دفــاعي**


یون او یو مسکو مېشتی افغان (خالد) په یو چایخونه کې

**مورچې په توګه ګټه پورته شوې ده. روسانو له همــدې کلیســا څخــه پولیندي ځواکونو ته ماتې ورکړې وه. کلیسا ته چې نږدې شو یو سړی پر عبادت لګیا و. دا خلک د عبادت لپاره مخصوص لباس لري. ښځې هم چې دې عبادتځي ته راځي، نو پړوني پر سروي. د کلیسا تر لوی دېواله چې وردننه شې بیا نورې بېلابېلې کلیساوې دي.**

**درې غبرګوني سرګېیف لاورا کلیسا: دا د روسیې معنوي زړه ګڼل کېږي، چې (۶۵۰) کاله دمخه یې د (سرګي) له خوا بنسټ ایښــودل شــوی، (۷۸) کاله یې دلته ژوند کړی دی. هغوی داسې مذهبي کسان وو، چې د (۷۰) داسې نورو کلیساوو بنسټونه یې ایښي دي. دا د مقدسې دروازې په نامه یادېږي. دا ټول عبادتځایونه یو ځل او پر یوه وخت نه دي جــوړ**

شوي، دا وخت پر وخت جوړ شوي دي. په کمونیستي پېر (له ۱۹۲۲څخه تـــر ۱۹۹۲م پـــورې) کـــې دا عبادتځایونـــه ټـــول تړلـــي وو او




خلکو ته اجازه نه وه چې دلته عبادت ته راشـي. پـر مـذهبي خلکـو بندیزونه وو. دلته یو موزیم هم و، پخواني خلک به دلته راتلل. (۵۰) کاله یې دوام وکړ. فعلاً (۳۲۰) کشیشان دلته شته، هلته شاته یوه مدرسه ده چې (۷۰۰) تنه په کې دیني زده کړې کوي. دا یو بل تعمیر (۳۲۰) کالـه دمخه جوړ شوی دی.

وخت پر وخت دې تعمیرونو کې بدلون راغلی دی. تابلوګانې یې پـه اتلسمه پېړۍ کې جوړې شوي. په یوه هال کې د حضرت ادم(ع) او بـي بي هوا تابلوګانې هم پر دېوال ځړېدلې او په ډېر ظریفانـه ډول انځـور شوې وې، د حضرت جبرائیل امین یوه تابلو هم وه چې لاسونو پورې یې وزرونه هم درلودل.

د (ایکون) مجسمه هم وه. دا ودانۍ پر (۱۹۴۸م) کال بیا جوړه شوې، لرګي ته یې د سرو زرو د اوبو رنګ ورکړل شوی و.

هلته وړاندې د خبرونې لپاره یو زنګ و، چې (۸۸) متره لوړ و، دا په نړۍ کې تر ټولو لوړ زنګ و، چې د یوې کلیسا په پورتنۍ برخه کې ځوړند و. (۷،۵) ټنه وزن لري، په اتو تنو ددغې زنګولې د منځ اوسپنه خوځوي




چې زنګ ووهل شي. په دې کلیسا کې هره میاشت دوه ځله زنګ وهل کېږي او عبادت کېږي، خو په ورځ کې (۹) ځله عادي عبــادت کېــږي. لنډه دا چې دننه مو ډېر ځایونه وکتل، تر (۲) بجو پورې په دې کلیســا کې وګرځېدو، بیا ټول راټول شو، د کلیسا مخې ته مو یو عمومي عکس واخیست. بیا خپل موټر ته پورته شو، پنځه لس دقیقې وروسته مــوټر حرکت وکړ. تر څه کم یو ساعت مزله وروسته بېرته د مېلمســتون پــر لوري رهي شو ، خو مخکې تر دې چې مېلمستون ته ورسېږو، ښــاغلي

**عبدالله خپله پرونۍ خبره يو ځل بيا تکرار کړه او هغه دا چې نن غرمــه موږ دده مېلمانه يو، عبدالله لا پرون موږ ته پر نن غرمه د مېلمستيا بلنه راکړې وه، نن يې يوځل بيا په موټر کې ټولــو تــه اعــلان وکــړ، ځينــې دوستان ډېر ستړي وو او غوښتل يې مېلمستون ته ولاړ شــي او دمــه**




**وکړي، خو اکثرو د عبدالله خپګان ونه شو زغملای او له هغــه ســره د غرمنۍ لپاره چې دا وخت په حقيقت کې ماسپښينۍ وه، لاړل. ښاغلي**

**عبدالله ډېره لوکسه او پرېمانه ډوډۍ تیاره کړې وه، چې که ټول افغاني هئیت هم ورغلی وای، بیا به یې هم کمی نه و احساس کړی، ډوډۍ مو ښه په خوند وخوړه، ګپ او شپ مو هم ولګاوه، دا مهال نو د ټولو زړه و چې مېلمستون ته ولاړ شي او دمه وکړي، زه هم ښه ستړی وم، خو طاهر شینواري راته وویل چې یو بل پروګرام هم پاتې دی. هغه دادی چې د روسیې له یو انټرنېټي ټلویزیوني کانال سره باید هم مرکه وکړو، مورِ چې د مزې ستړي وو، نورې مې مرکې هم له لاسه نه کېدې، خو دوی ډېر ټینګار وکړ، نو مجبور کړم مرکې ته لاړو.**

# د روسیې له یو انټرنېټي
# ټلویزیوني چینل سره مرکه

د دې کانال ادرس مو پیدا کړ. تر یو څه سرګردانۍ وروسته هلته ورسېدو. په مرکه یا ګردي مېز کې ما (یون) ، نادرخان کټوازي، ډاکتر برهان الله شینواري او د روسیې په استازۍ ښاغلي کروپنوف ګډون درلود. مرکه د ماښام پر (۷) بجو پیل شوه او په ژوندۍ بڼه خپرېدله. دې مرکې یو ساعت دوام وکړ. انټرنټي ټلویزیوني چینلونه داسې دي چې د انټرنېټ له لارې ویډیویي خپرونې لري. هغه څوک چې انلاین، انټرنېټ ته ناست وي هغه کولای شي، په ژوندۍ بڼه یې تعقیب کړي او هغوی چې انلاین نه وي، هر وخت کولای شي تېرې شوې خپرونې وګوري. په دې مرکه کې ډېرې زیاتې پوښتنې مطرح شوې، د بهرنیو ځواکونو شتوالی، د روسیې بیا راګرځېدنه، په افغانستان او سیمه کې د ثبات لارې چارې او نورې ګنې پوښتنې چې د ټولو راوړل دلته لازم نه برېښي، خو پر یو شي چې ما ټینګار وکړ، هغه دا و چې روسیه باید خپلې تېرې تېروتنې بیا له سره تکرار نه کړي. افغانستان کې هغه وخت طبیعي ثبات راتللای شي، چې نظام یې د خلکو د طبیعي جوړښت، کمیت او کیفیت له مخې برابر شي، یوه محدوده ډله یا اقلیت نه شي کولای، په ټول

هېواد کې طبیعي ثبات وساتي، دا داسې مثال لري لکه موږ چې د ټولې روسیې واک د تاتارستان او یا هم د چیچنیا څو لږکیو ته ورکړو او بیا ترې دا هیله هم وکړو، چې په ټوله روسیه کې امنیت او ثبات په بشپړ

ډول ټینګ کړي. دا خلک که روسیې او د هغې له امنیت سره مینه هم ولري، خو د یوه لوی ملک د واک انحصار د دې سبب کېږي چې په اتومات ډول ثبات له منځه لاړ شي. په افغانستان کې د پخواني شوروي غته تېروتنه همدا وه چې د داسې لړکیو او محدودو ډلو تر شا ودرېده، چې هغوی د ټول هېواد د کنټرول طبیعي ظرفیت نه درلود، نو له دې امله هغه کار شوروي ته په لوړه بیه پرېوت، اوس امریکایان هم همغه




تېروتنه تکراروي. که دوی ژر خپله دا تېروتنه اصلاح نه کړي، نو کېدی شي پر همغه برخلیک اخته شي. مرکه په مجموعي ډول ډېره خوندوره او ګرمه وه، افغاني لوري نادرخان کټوازي او ډاکتر برهان الله شینواري هم ښه ځوابونه ورکړل. زموږ په خبرو کې پوره هماهنګي وه. کروپنوف هم زموږ د ډېرو خبرو تائید وکړ.

له هغه ځایه بېرته د مېلمستون پــر لــوري رهــي شــو. کلــه چــې مېلمستون ته راغلو، ښه ستړي وو. څو شېبې مو ډاکتر صیب شېرحسن




حسن، بشرصیب، کاڼي صیب، برهان الله شینواري او نادرخان کتوازي، عبدالله خان او طاهر شینواري، سره بنډار وکړ او بیا خپلې خونې تــه د تلو په تکل کې شوم.

# د مسکو ښار یوه شپه

کله چې مو له انډیوالانو رخصت واخیست او خـوب تـه مـو ځـان برابراوه، نو طاهر شینواري او عبدالله خان وویل: ((یون صـیب دومـره ملاقاتونه دې وکړل او دومره مصروف وئ، چې د مسکو ښار ښکلا ته مو هېڅ پام نه شو، نن مو اخري شپه ده او سبا روانېږئ. که ډېر ستړی نـه یې، راځئ! چې لاړ شو د مسکو ښار ځینې برخې به وګورو، مسکو پـه شپه کې ډېر ښکلی ښکاري، که وخت و لږه موسیقي به هـم واورو.)) د دوی په ډېر ټینګار زه (یون) (زاهد صیب) (عبـدالله خـان) او (طـاهر




شینواری) څلور واړه د زاهد صیب په موټر کې کېناستو او د مسکو ښار پر لوري وخوځېدو، هغه مزل چې موږ مخکې په یوه یو نیم ساعت کـې واهه، اوس په نیم ساعت کې ترسره شو، ځکه چې ګڼه ګوڼـه نـه وه او

سړکونه ډېر ارام وو. د مسکو ښار واټونه خورا ښکلي ښکارېدل، د ښار دنګې ماڼۍ او ښکلي رنګارنګ ګروپونه  د سړک په منځ کې داسې انځورېدل، لکه د سمندر غاړې ودانۍ او رڼاګانې چې د شپې له خوا د سمندر په تل کې ښکاري. د شپې له خوا چې ګڼه ګوڼه کمه وي، د مسکو ښار د واټونو ننداره کېدلی شي. یوه هوټل ته پورته شو، ګڼه




ګوڼه په کې خورا کمه وه، یا دا چې د شپې ناوخته و، طاهر شینواري د څښاک او خوراک شیان راوغوښتل، وروسته د شرقي موسیقۍ غږ راڅرګند شو. څو نجونو لکه عربي نڅا غوندې نڅا وکړه، لباس یې هم همغسې اغوستی و، موسیقي او د دې ښکلا ننداره بده نه وه، خو څرنګه چې موږ ډېر ستړي وو، نو عبدالله خان او طاهر شینواري ته مې وویل چې که څه هم موسیقي یې خوندوره ده، خو خوب به تر دې ډېر خوندور وي، هغوی راته وویل: ((لکه چې ښه ستړی یې.)) بیا هغوی دواړو لکه په کلیو او باندو کې چې به پخوا سندرغاړو ته مشرانو یا ځوانانو یو موټی پیسې ورکولې، هغوی ته یو موټی پیسې ور ډالۍ کړې او همداسې له

هوټله د مېلمستون پر لوري را رهي شو. کله چې خونې ته ورسېدم، د




دريشۍ تر بدلانه وروسته راباندې د خوب څپــې يرغــل وکــړ او د ارام

غېږې ته لاړم.

# د مسکو نړیوالو اړیکو انستیتیوت


د مې (۱۸) مه نېټه د دوشنبې ورځ وه. پر شل کم لس بجو مو د مسکو نړیوالو اړیکو د انستیتیوت پر لوري حرکت وکړ. په موټر کې مو له ښاغلي (سلیمان لایق) او ښاغلي (حاجي محمد نوزادي) سره څو شېبې



د پښتو او دري ژبې له زده کوونکو سره د افغاني هئیت یو یادګاري عکس

پر ادبیاتو او معیاري ژبې بحث وکړ. ښاغلی حاجي محمد نوزادي او ښاغلی (بشریار) له ډنمارکه دې غونډې ته رابلل شوي وو. نوزادي صیب وویل: ((زیار صیب ماته هر وخت لیکي: (کله چې، کوم چې، کوم څوک چې) او داسې نور اضافي ترکیبونه مه کاروه، دا د اردو او انګلیسي ژبې تاثیرات دي چې پښتو ته راغلي دي؛ په سمه پښتو کې دا نه شته.)) د نوزادي صیب له خبرو داسې څرګندېدله چې هغه د زیار صیب له دې

ټینګار سره موافق نه و، خو ما نوزادي صیب ته وویل: ((که له زیار صیب سره د ځینو سوچه پښتو لغتونو په زیاته او یا کمه کارونه کې اخــتلاف لرې، دا دې خپل کار دی، خو په ګرامر کې ورسره ځکه اختلاف مه کوه، چې ګرامر د ریاضي د فورمول په څېر دی او زیار صیب تر هر چا زیات پر دې فورمولونو پوهېږي، نو بایده دي چې خبرې یې ومنل شي.))




لایق صیب هم د ګرامر په برخه کې د زیار صیب صلاحیت تائید کـړ. مــوږ خپلو خبرو ته دوام ورکاوه، موټر هم په ډېر سرعت حرکت کــاوه. نــږدې یــو ساعت وروسته له مخکني پلان ســره ســـم د مســـکو د نړیوالـــو اړیکـــو انستیتیوت ته ورسېدو. ساعت یوولس نیمې بجې و. د روسیې د نړیوالو اړیکو انستیتیوت کې پنځه تنه د پښتو او پنځه تنه نور د دري ژبې پر زده کړه بوخت دي. کله چې د انستیتوت مخې ته ودرېدو نو روسي ژبــاړونکي ښاغلي الکساندر ماته وویل: ((ته همدلته لږ صبر وکړه! تاسې پسې بل موټر راځي، تاسې باید د اطلاعاتو او کلتور وزارت له معین سره وګورئ. له افغانستان څخه دوه معینان: ښاغلی پتمن صیب ( د پــوهنې وزارت معین) او ښاغلي فراهي صیب ( د اطلاعاتو او کلتور وزارت معین) هم په دې ملاقات کې شامل دي.))

# د روسیې اطلاعاتو او کلتور وزارت له مرستیال سره کتنه

څو دقیقې وروسته موږ پسې یو ځانګړی موټر راغی، زه مـوټر کـې پورته شوم او زموږ نور ټول اندیوالان دې انستیتیوت ته داخـل شـول. عبدالله خان د ژباړونکي او (خالد) چې نوی راغلی و، هم د ژباړونکي په




توګه هلته راسره لاړل. دولس بجې وې، چې هلته ورسېدو. پتمن صیب او فراهي لا دمخه جلسه پیل کړې وه. ښاغلي لطیف بهاند یـې ژبـاړه کوله. د روسیې د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرسـتیال ښـاغلي (پـاول

خروشلوف) وویل: ((د پخواني او نوي ترون له مخې کولای شــو، نــوې همکاري سره وکړو)). فراهي صیب وویل: ((د لرغونو اثارو د رغونې لپاره د کدرونو روزنه موږ ته مهمه ده، نورو هېوادونو هم پــه دې برخــه کــې مرسته کړې ده، ستاسو مرستې ته هم اړتیا ده.))

د روسیې د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال وویل: ((که د موزیمونو په هکله څه لرئ، نو له همدا اوسه درسره مرستې پیلوو. د جولای تــر (۵) پورې موږ ته په کتابتون او هنري برخه کې خلک معرفــي کــولای شئ، چې درته ویې روزو. تیاتر، موسیقي او نورو برخو کې ستاسې زده کوونکي روزلای شو، د سینما په برخه کې هــم امکانــات لــرو، د هنــر پېژندنې په برخه کې هم امکانات لرو، د موزیم د متخصصینو د روزنې په برخه کې هم ونډه اخیستلای شو. موږ ته باید لږ تر لږه (۵) تنه ژر تر ژره رامعرفي کړئ چې موږ یې دلته ژر پر روزنه لاس پورې کړو.))

دې پسې ما (یون) د خبرو نوبت واخیست او خپل نظر مــې داســې څرګند کړ: ((که پر مشخصو وړاندیزونو غور وکړو، ښه به وي، زمــا یــو وړاندیز دادی چې که د ننګرهار د هډې د نامنقول موزیم پــر جوړونــه لاس پورې کړئ، ښه به وي، که په پیل کې لږ تر لږه یوه احاطه ترې راتاوه شي چې د نورو کیندنو مخه ونیسي، هم ښه به وي، دلته د بودیزم مهال نور تاریخي اثار هم شته او همدارنګه په ننګرهار کې نور تاریخي اثار چې باید ساتنه یې وشي. دغه راز د هېواد په نورو ســیمو او ولایتونــو کــې تاریخي اثار خوندیتوب ته اړتیا لري، چې کېــدی شــي د افغانســتان د اطلاعاتو او کلتور وزارت یې د هر یوه په باب مشخص وړاندیز ولري، خو

**ما یې یوازې دا یوه بېلګه یاده کړه.)) دوی ته زما وړاندیز په زړه پورې و. ویې ویل: ((ښه به وي چې په پیل کې یو هئیت دا سیمه وڅېړي.)) د روسیې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له معین سره غونډه ښه پای ته ورسېده. هغوی د بورسونو ژمنه هم وکړه.**

# په مسکو کې وروستۍ غرمنۍ

کله چې د روسیې د اطلاعاتو او کلتور وزارت، مرستیال سره تر کتنې وروسته راووتو، نو بېرته د مسکو د نړیوالو اړیکو د انستیتیوت پر لوري لاړو، ځکه چې له نورو اندېوالانو سره مو هم هملته وعده وه. کله چې هلته ورسېدو، نو بېرته ټول په لوی (۳۰۲) موټر کې سره راټول شو او د



افغاني هئیت د مسکو په یو هوټل کې د غرمنۍ پر مهال

دوډۍ لپاره مو حرکت وکړ، تر څو دقیقو مزله وروسته یې یو هوټل تــه چې د موټرو لپاره یې ښه مناسب پارکینګ درلود، ودرولو.

دې هوټل هم لکه د ققفازیانو د هوټل په شان تاریخي او کلتوري بڼه درلوده، دوډۍ یې هم افغاني دوډۍ ته ورته وه، لــوی هېوادونــه لکــه روسیه، امریکا، هندوستان، جرمني او نور چې د ډېرو بهرنیو هېوادونو د هئیتونو د ورتګ تجربه لري، کوښښ کوي دا هئیتونه همغو هوټلونو ته

بوځي، چې يا ببخي د دوی د کلتور ښکارندوی وي او يا هم ورسره ورته کلتور ولري. په بېلابېلو هېوادونو کې د سفر پر مهال د خپلې خوښې او خپل ذوق غذا پيداکول، هغه ستونزه ده، چې هر څوک ورسره پــه بــل هېواد کې مخامخ وي. د سياسي او رسمي سفرونو پر مهال کله کله غذا د پروتوکول يوه برخه وي، خو موږ چې کله دې هوټل کې کښــته شــو، ډوډۍ راته پردۍ ښکاره نه شوه عيناً لکه افغاني ډوډۍ. مــا تــر ډوډۍ دمخه لږ سوپ راواخيست، سوپ مې لا خلاص کړی نه و چې غږ شــو: ((هغه کسان چې په بهرنيو چارو وزارت کې ملاقات لري، هغه دې خپله ډوډۍ ژر خلاصه کړي، وخت ډېر کم پاتې دی.)) که څه هم ډوډۍ يــې ډېره خوندوره وه خو زه يې پر ډېر خوند پوه نه شوم او همدارنګه زموږ هغه ملګري، چې د بهرنيو چارو وزارت په کتنه کې شامل وو، هغوی يې هم پر خوند پوه نه شول. ژر ژر مو يو څو مړۍ تر خولو کړې او له هوټله رابهر شو.

# په بهرنیو چارو وزارت کې کتنه

کله چې د غرمې ډوډۍ څخه رابهر شو، نـو ټـول ملګـري پـه دوو ځانګړو وړو ګاډو کې کېناستو، د پولیسو ګاډی مو مخې ته و، چې لاره صافه کړي، په مسکو کې هم دا مهال ګڼه ګوڼه خورا زیاته وي. تر شـل پنځه ویشت دقیقو مزله وروسته د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ودانۍ ته ورسېدو. دا ډېره دنګه او لوکسه ودانۍ وه، نږدې پنځوس پوړه لري، دا له هغو ودانیو څخه یوه ده چې (د ستالین خویندې) په نامــه یــادېږي. ستالین د خپلې واکمنۍ پر مهال د مسکو ښار په څو مهمو برخـو کــې ډېرې دنګې او محکمې ودانۍ جوړې کړي او هره یوه یې د خپلې یــوې خور په نامه کړې ده، که څوک دمسکو ښار پر یوه برخه او یا هم د کومې لوړې ودانۍ پر سر ودرېږي، نو د (ستالین خویندې) ټولې ودانۍ لیدلای شي. دا ودانۍ هم د همغو ودانیو له جملې څخه وه چې هــم تــاریخي ښکاري، هم دنګه ده، هم محکمه او هم لوکسه. د دې ودانۍ په دخولي دروازه کې د کمونیستي پېر نښانونه نصب وو. پر درېو بجو مو په همدې وزارت کې د اسیا د دویم ډیپارټمنټ مرستیال ښاغلي (مصطفی بېلین علي میتهادویچ) ســره تعــارف وشــو او بیــا ددغــه وزارت مرســتیال (بارادافکین الکسي نیکولایویچ) سره ملاقات وشو بیا مو د افغانستان د برخې له مسوول کس سره ملاقات پیل شو. هغه د افغانستان له مسایلو ښه خبر و او هم یې په مسکو کې د اوسني افغاني هئیت لــه کتنــو او فعالیت څخه پوره معلومات درلودل. د روسي هئیت مشر په پیل کــې

وویل: ((ډېر خوشاله یم چې تاسو ته ښه راغلاست وایم. تاسو یوه مهمه ناسته کې ګډون درلود. په دې جرګه کې ستاسو د اجرائیه او مقننه قوې استازو برخه اخیستې وه، دا کال ډېر ارزښتمن دی ځکه چې زموږ د دوو ګاونډیو هېوادونو ترمنځ د روابطو (نوي کاله) پوره کېږي. د روسـیې او افغانستان لپاره بیا هم ځکه ډېر مهم دی چې موږ باید یو بل سره ښـه ډیپلوماتیک مناسبات وساتو. زموږ په دوه اړخیزو اړیکـو کـې مختلـف حالات موجود وو، کړکېچن حالات هم وو او له خوشبینۍ ډک حـالات هم وو، خو موږ کوښښ کوو یو بل سره د ښو مناسباتو اړیکـي ولـرو. د روسیې دولت هیله لري، دغسې نېکو او ښو مناسباتو ته وده ورکړي. زه فکر کوم تاسو لس شپې او ورځې دلته مېلمانه وئ، زموږ د ښو اړیکـو احساس به مو کړی وي. کله چې زموږ اسـتازي لاوروف ( د روسـیې د بهرنیو چارو وزیر) ستاسو د هېواد له استازي سره خبرې مطرح کـړي، موږ یې ملاتړ کوو. موږ بیا هم پر دې ټینګار کوو چې لومړی اقتصادي او تجارتي مناسباتو ته وده ورکـړو او لـه دې لارې د زراعـت او صـنعت پرمختګ ته لاره اواره کړو، دا ډول همکاري چې د دوو هېوادونو متقابله ګټه په پام کې ونیسو، لکه د نغلو برېښنا بند چې د برق (۵۰) په سلو کې اړتیا پوره کوي، پر نورو کوچنیو پروژو هم کار روان دی، موږ په خوښۍ سره غواړو چې د سالنګ تونل بیا ورغوو. موږ د کابل پولیتخنیک لپاره دوه ملیونه ډالر او همدارنګه د لوړو زده کړو لپاره نورې پیسې تخصیص کړي دي. موږ کوښښ کوو چې افغانستان ته تر (۹۰) پورې د لـوړو زده کړو بورسونه ورکړو. موږ په دې باور یو، چې ستاسو د پولیسو روزنه هم دلته کېدلای شي. موږ به پر خپلې همکارۍ سربېره بشري مرستې هم وکړو. (۱۷) زره ټنه غنم همدا اوس له افغانستان سره مرسته شوې ده،

**مونږ به د افغانانو نورو هغو غوښتنو ته هم مثبت ځواب ورکړو چې زمونږ له امکاناتو سره سمون ولري، زمونږ نورې ګډې اقتصادي همکارۍ به په افغانستان کې په سولې او ثبات پورې اړه ولري. دا کال به د افغانستان لپاره درووند کال وي، ځکه چې هلته انتخابات راروان دي. د روسیې دولت پر دې باور دی چې هلته په افغانستان کې انتخابات په ډیموکراتیک شکل پرمخ لاړ شي، هیله ده نړیواله ټولنه د ټاکنو په درشل کې سوله او امنیت ټینګ کړي. مونږ ډېر خوشاله یو چې د شانګهای مسله یوه سیمه ییزه مسله ده. د سیمې هېوادونو ته دا امکان ورکړی شوی چې د افغانستان د سولې په ټینګښت کې برخه ولري. مونږ تیار یو چې د تروریزم او مخدره موادو پرضد کار وکړو. مونږ غواړو ووایو چې مونږ د ملګرو ملتو د پرېکړې له مخې په افغانستان کې د شتو قوتونو په باب هم څه ووایو: سمه ده چې اوس د سولې او ثبات ټینګښت نړیوالو قوتونو پورې اړه لري، خو مونږ غواړو دا ټول مسوولیت د افغانستان پوځ ته وسپارل شي. مونږ د افغانستان له مشرتابه سره موافق یو چې د بمباریو په نتیجه کې باید بې ګناه کسان ونه وژل شي او دا بمبارۍ باید ودرول شي. یو ځل بیا غواړم خپلو خبرو ته راشم، هغه دا چې د ملګرو ملتونو قواوې باید د افغانستان په مسله کې له ډېر احتیاط څخه کار واخلي او د ملکي خلکو د وژنې مخنیوی وکړي.**

**غواړم ستاسو پام له افغانستان څخه روسیې ته دمخدره موادو د قاچاق مسلې ته هم راوګرځوم، مونږ د هغو اقداماتو هرکلی کوو چې د افغانستان دولت له خوا په دې برخه کې ترسره شوي دي. په دې خوشاله یو چې په (۲۲) ولایتونو کې د کوکنارو کښت له منځه تللی دی. مونږ د پخوا په شان وینو چې دا مواد قاچاقېږي، مونږ هیله لرو افغانستان**

**خپل اقدامات لاپسې ګړندي کړي، چې دا بهیر ودرول شي. سره له دې چې دا یو درونډ مسوولیت او مشکل کار دی، په داخل کې هم مبـــارزه غواړي، د هیروینو د جوړېدو لپاره خام مواد له بهره راځي، دا ټول یـــو مشکل کار دی، خو بیا هم ستاسو پام ورته رااړوو. د دې موضوع بل اړخ دادی چې بزګران د کوکنارو له کښت څخه لاس واخلي، زموږ نظر دادی چې هغوی ته باید یو بدیل برابر شي. ډېره زیاته مننه! ستاسو د نظریاتو د اورېدو په هیله!))**




**د روسیې د دې هئیت د مشرتابه له لوري چې کله خبرې ختمې شوې، نـــو ښاغلي سیداسحق ګیلانـــي د افغـــاني هئیت په مشرۍ خبرې پیل کړې، خـــو روسي او افغاني هئیت دواړو تر خبـــرو دمخه خپله لنډه لنډه پېژندنه وکړه. په روسي هئیت کې درې تنه شامل وو. په افغاني هئیت کې پنځه تنه او ښاغلي طاهر شینواري دواړو غاړو ته ژباړه کوله.**

**د افغاني هئیت غړي په دې ډول وو.**

**۱- ښاغلی سیداسحق ګیلاني د افغانستان په ولسي جرګـــه کـــې د بهرنیو اړیکو د کمېسیون غړی.**

**۲- ښاغلی نادرخان کټوازی په ولسي جرګه کې د پکتیکا د خلکـــو استازی.**

**۳- ښاغلی بریالی صابر بریـــا د افغانســـتان د بهرنیـــو چـــارو وزارت استازی.**

**۴- ښاغلی عبدالغفور لېوال د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سـیمه ییزو مطالعاتو د مرکز مشر.**

**۵- او زه (محمداسمعیل یون).**

**ښاغلي سیداسحق ګیلاني خپلې خبرې داسې پیل کړې:**

**((له تاسو نه تشکر کوم چې ما او زما ملګرو ته مو د خبرو بلنه راکړه او همدارنګه ډېره مننه چې څو مهمو ټکو ته مو اشاره وکړه. له تاریخي روابطو (۹۰) کالو څخه نیولې، ښو او بدو شرایطو ته تاسو اشاره وکړه، د ورونو په منځ کې کله کله خفګان پیدا کېږي، کله ښه او کله بد وي، خو زموږ توقع دا ده چې زموږ مشران وروڼه پر کشرانو شفقت وکـړي او د دوستۍ لاس ورکړي. زه ستاسو توجه مشخصو نقطو ته راګرځوم:**

**د نغلو بند او د سالنګ تونل جوړول تقدیروو، دا هغه پروژې دي چې تاسو پرې کار کړی، چې تاسې یې جوړې نه کړئ، نور څوک یې نه شي جوړولای. د تحصیل په باب مو خبرې وکړې، اوس حتی ډېر واړه ملکونه موږ ته ډېر بورسونه راکوي، هندوستان په کال کې (۵۰۰) او پاکسـتان (۱۰۰۰) بورسونه منلي، تاسې خو یو لوی ملک یاست، د تاریخي دوست په توګه مو (۹۰) بورسونه په پام کې نیولي، دا ډېر کم دي. په روسیه کې زیات شمېر تحصیل کړي افغانان شته، د پولیتخنیک په انستیتیوت کې که تر دې زیاته مرسته وکړئ، ښه به شي. پولیس چې تاسې تربیه کوئ دا په بحر کې د یوه څاڅکي په توګـه دي، کـه تاسـې د افغانسـتان د پولیسو اکاډمۍ جوړه کړئ، دا به ډېره ښه وي، موږ ستاسو وړاندیزونه د سر په سترګو منو، هر کلی یې کوو. مـوږ غـواړو پـه افغانسـتان کـې ډیموکراتیک انتخابات وشي، خو بـاور دی چـې افغانسـتان کـې بـه ډیموکراتیک انتخابات ونه شي، افغانستان به خپل انتخابات په خپلـه**

ونه کړای شي، دا د افغانستان د خلکو حق دی، خو دا حق تـرې اخیستل شوی دی. له دربو میاشتو راهیسې کوم قانوني اقدام نـه دی شوی، هغه ملکونه چې د ډیموکراسۍ دعوه کوي، دا هسې وعدې دي. د مجاهدینو پر وخت یې موږ وهابیانو او همسایه ګانو ته پرېښودو، خارجي قوتونه په افغانستان کې یو حقیقت دی. ځینې یې په خپل سر او ځینې یې د ملګرو ملتو د پرېکړې له مخې راغلي دي، نه د افغانستان خلک او نه حکومت د دې وس لري چې د دوی د غلطو کارونو مخنیوی وکـړي، دوی چې هرڅومره افغانان وژني، افغانان د دفاع حق نه لري، بندیان د دفاع حق نه لري. موږ په قطعي ډول دا نه منو چې په (۲۲) ولایتونو کې کوکنار صفر شوي دي، موږ د دې فورمول سخت مخالف یو چې کوکنار او مخدرات تروریزم سره اړیکي لري.))




ښاغلي سیداسحاق ګیلاني زیاته کړه: ((کرزی د جوزا تر (۱) نېټـې وروسـته د افغانستان قانوني جمهور رییس نه دی، روسیه باید مرسته وکړي چې کرزی لـه واکه لرې او بیا ټـاکنې ترسـره شـي. د جنګسالارانو په وجود کې سمې ټـاکنې نه شي ترسره کېدلی او کرزی هـم پـه ناقانونه توګه تر دې وروسته خپل واک ته دوام ورکوي.)) ښاغلي ګیلاني صیب ښاغلي کرزي ته وړاندې نورې ستوغې او سپوره خبرې هم حواله کړې او له واکه یې د هغه په لرې کولو کې د روسیې د مرستو هیله وکړه.

ښاغلي ګیلاني پسې زما (یون) نوبت و. زه سره له دې چې د ښاغلي ګیلاني له اکثرو خبرو سره موافق وم، خو د یوه روسـي چـارواکي پـر


وړاندې د کرزي په باب د ځینو ناضروري الفاظو کــارول او یــا دا چــې روسیه دې د هغه د واک په اختتام کې مرسته وکړي، همنظری نه وم او چندان ښې هم راباندې ونه لګېدې، ما وویل: ((پــه افغانســتان کــې د قدرت درې برخې موجودې دي، حکومت دی، ستره محکمه ده او ملي شورا ده. سترې محکمې د مشروعیت بحران د ختمولو لپاره تر انتخاباتو پورې د جمهور رییس د کار موده منلې او د ملي شورا اکثرو غړو هم دا نظر تائید کړی دی. همدا د مشروعیت سرچینې دي، پر دې وخت تر دې بله غوره لاره نه وه.)) دا مهال اغاصیب سید اسحق ګیلاني وویل: ((یون صیب د ملي شورا نمایندګي مه کوه.)) ما وویل: ((زه نــه غــواړم دلتــه ډیالوګ جوړ کړم، خو د ملي شورا اکثرو غړو د سترې محکمې پرېکــړه تائید کړې.)) ما خپلو خبرو ته دوام ورکړ، ومې ویل: ((پر دې وخت تــر دې بله مشروع لاره نه وه، تېر انتخابات نسبتاً شفاف وو او د راتلونکــو انتخاباتو په اړه هم موږ مخکې تر مخکې حکم نه شو صــادرولای چــې شفاف به وي که نه؟ خو موږ د روسیې په ګډون له ټولې نړیوالې ټولنې او میډیا څخه هیله کــوو چــې د انتخابــاتو د مشــروعیت او شــفافیت د رامنځته کولو لپاره له ټولو قانوني لارو څخه هڅه وکړي. د کوکنــارو د کښت په باب باید ووایم چې دا له تروریزم سره ارتباط لري او د هغوی د تغذیې منبع ده، خو داسې هم نه ده چې ترهګر یوازې د مخدره توکــو ګټې ته ناست دي، دا د هغوی د تمویل په سرچینو کې یوه ده، مخدره توکي او تروریزم یوه نړیواله پدیده ده چې ټوله نړۍ باید په ګډه د هغو مخه ونیسي. روسیه باید له افغانستان سره په ټولو ډګرونو کې ناسیاسي مرستې وکړي. اقتصادي پروژې باید له سیاسي هغو څخه لرې وساتي، د افغانستان ثبات د سیمې او روسیې له ثبات سره مرسته کوي.))




**زما په خبرو پسې ښاغلي ګیلاني صیب غوښتل څه نور څه ووايي، خو ښاغلي نادرخان کټوازي نوبت واخیست، هغه وویل: ((افغاني هئیت پر اقتصادي، کلتوري، امنیتي او سیاسي برخو خبرې وکړې، روسیه که په زراعتي برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي دا به د کوکنارو د کښت په مخنیوي کې مهم رول ولوبوي، کوکنار او مخدره مواد رښتیا هم یو بل سره اړیکي لري، دا پدیدې نړیوالې پدیدې دي، باید پر ضد یې نړیواله مبارزه وشي. روسیه باید د افغانستان له مرکزي حکومت سره مرسته وکړي، مورږ هیله لرو چې شفاف انتخابات رامنځته شي، خو په وروسته پاتې ټولنو کې سل په سلو کې شفاف انتخابات شوني نه دي. د انتخاباتو ځنډول د نړیوالو امکاناتو او د انتخاباتو د کمېسیون له خوا د اګست پر (۱۸) مه نېټه اعلان شوي، نړیوالې ټولنې او د ټاکنو کمېسیون خپل معذرت وړاندې کړ، سره له دې چې جمهور رییس پر خپل وخت د ټاکنو د دایرېدلو فرمان صادر کړی و. له نړیوالې ټولنې څخه هیله کوو چې انتخاباتو کې د شفافیت لپاره هلې ځلې وکړي.))**

**دې پسې ښاغلي ګیلاني صیب بیا نوبت واخیست، ویې ویل: ((په مخدره موادو کې ډېر لوړ پوړي چارواکي لاس لري، د هغو ترڅنګ نړیواله مافیا ده چې هغه نورې نړۍ ته انتقالوي. په اینده انتخاباتو کې به بیا جنګسالاران انتخاب شي. په تېرو انتخاباتو کې جمهور رییس (بوش) وویل چې زه د کرزي ملاتړ کوم، نه له اساسي قانون اونه له افغان ولس څخه.))**

په ښاغلي ګیلاني صیب پسې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت یــو استازي بریالي صابر بریا صیب خبرې پیــل کړې، هغه وویل: ((موږ له روسیې څخه مننه کوو چې دا کنفرانس یې جــوړ کــړ او هغــه کنګل چې تر دې وخته موجود و، هغه مات شو، د روسیې له خوا چې کــومې مرســتې شوي او کومې پروژې چې هلته دوی جوړې کړي، له دوی پرته یې نور څــوک نــه شــي جوړولای، د افغانستان دولت هیله لري چې ازاد انتخابات وشي، جمهور رییس یو فرمان صادر کړ چې د هغه له مخې هېڅ دولتي شخص حق نه لري چې په انتخاباتو کې مداخله وکړي. له روسیې څخه هیله لرو چې د افغانستان له بهرنیو چارو وزارت سره د بورسونو او روزنې په برخه کې مرسته وکړي.




موږ هیله لرو چې زموږ روابط سره زیــات شي.))




دې پسې ښاغلي عبدالغفور لېوال خپلې خبرې پیل کړې: ((یوه لنډه یادونه لرم، زه د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز مسول یم. موږ د بهرنیو چارو وزارت کې ناست یو، دا هغه مرکز دی چې دلته باید بهرنۍ پالیسي مطرح کړو، یو وړاندیز لرم هغه دادی چې د روسیې او لویدیزې نړۍ ترمنځ اختلافات وو او اوس هم شته، خو شکلونه یې بدلېږي، له بده مرغه موږ د تاریخ په یوه مقطع کې د دغو اختلافاتو قرباني شو، دې اختلافــاتو افغانســتان،

روسیه او لویدیځ هم وځپل، لکه مخدره مواد او روسیه، زموږ پېشنهاد دادی چې تاسې خپل خارجي سیاستونه داسې اعیار کړئ چې ستاسو اختلافات له غرب سره هر ډول چې وي، هغه دې وي، خو افغانستان کې باید مثبت رقابت وکړئ، روسیه او نور باید افغانستان باثباته کړي چې ټولو ته مشکل پیدا نه کړي. که روسیه دا ډول سیاست غــواړي، بایــد اعلان یې کړي. پیل یې له همدې ځایه څخه وشي چې یوازې له مرکزي حکومت سره خپلې همکارۍ وکړئ، نه له نورو ډلو ټپلو سره.))

همدې خبرو سره د افغاني هئیت خبرې پایته ورسېدې. ورپســې د روسیې هئیت مشر وویل: ((ډېره مننه! موږ به له خپــل طرفــه پــر دې مسایلو یوه دقیقه څېړنه وکړو او بیا به یوه نتیجه ترې راوباسو، مــوږ د روسیې دولت پر دې باندې ټینګار کوو چې کله هلته امن وي، موږ بــه دلته ارام اوسو.

ډېره زیاته مننه!))

وروسته د روســیې د وګړپــوهنې انســتیتیوت مرســتیال ښــاغلی (سېرافیم مېلېنتېف) چې د افغان- روسیې د ګډې جرګې د کمېټې په استازۍ یې خبرې کولې، وویل: ((دا هئیت زموږ په بلنه راغلی دی. زه د انستیتیوت د ټول مشرتابه له خوا له تاسې تشکر کوم چې د دې هئیت لپاره مو د خبرو اترو زمینه برابره کړه، زه غواړم د منني اظهار وکړم، بیا هم مننه کوو چې تاسو د دې زمینه برابره کړه چې له افغانستانه داسې خلک راشي، چې هلته مخور خلک دي، موږ یو ځل بیا له تاسو څخــه هیله کوو، چې موږ د روسیې او افغانستان په باب ګټورو نتیجو ته سره ورسېږو. موږ هیله لرو چې زموږ څېړنې د روسیې او افغانستان لپاره ښې نتیجې ولري. یو ځل بیا مننه!))

کله چې غونډه خلاصه شوه، نو ګیلاني صیب په قهر غونـدې شــو، لاندې دهلېزو کې یې یو ځـل بیــا وویل: ((تېر انتخابات نه شفاف وو، نه عادلانه.)) ما ورته وویل: ((کــه د جمهوري ریاســت تېــر انتخابــات شفاف نه وو، نو بیا خو دا قاعده پر ولسي جرګې هم تطبیقېږي)) هغه خپله لهجه لږه نوره هم سخته کړه: ((په ولسي جرګه کــې چــې کــوم



کسان یوناما راوړي دا ټول جعلي دي.)) مانه غوښتل ګیلاني صیب سره نوره خبره تاوه کړم، ځکه چې ډېره مبارزه یې کړې او زه ورته ډېر احترام لرم، خو دومره مې ورته وویل: ((موږ د یوه مشترک هئیت په توګه راغلي وو، زموږ اختلافات تر کور دننه دي، دلته ضروري نه دي چې موږ روسانو ته خپلې داخلي ستونزې او اختلافونه بیان کړو او خپل ځان سپک کړو، موږ باید له دوی سره پر داسې مسایلو بحث وکړو، چې د دواړو هېوادونو ګټې ورپورې تړلي دي، دا ډول مسایل فکر کوم زموږ په ګټه نه دي او که بیا هم تاسو د کرزي ډېر مخالفت کوئ، کله چې د کابل هوایي ډګر کې کښته شوئ، ټول داخلي ژورنالیستان راوغواړه، بیا چې هغوی ته هر څه وایې موږ یې دفاع نه کوو. خو دلته ماته مناسبه نه برېښــي.)) همـدې سره د روسیې د بهرنیو چارو وزارت له ودانۍ رابهر شو.

# د کابل پر لوري د تګ تياری

کله چې د روسيې د بهرنيو چارو وزارت له ودانۍ راووتو، نو مستقيماً د مېلمستون پر لوري وخوځېدو، اوه نيمې بجې ډوډۍ ته لاړو، دا نــو د مسکو په دې مېلمستون کې زموږ وروستۍ ډوډۍ وه. تر ډوډۍ وروسته بېرته خونو ته راغلو، هر چا خپل بيکونه منظم کړل، (۹) بجې مو خونې تخليه کړې. لس کم لس بجې د هوايي ډګر پر لوري وخوځېدو، تر ميدانه پورې مو په موټر کې ډېرې ټوکې ټکالې وکړې. يوولس بجې هوايي ډګر ته ورسېدو. تر يوې بجې پورې په هوايي ډګر کــې وو. دلتــه پــه (VIP)


د کنفرانس د ټول جريان فوټوګرافره (مارينا)

ترمينل کې اکثره افغانان او زموږ روسي کوربانه زموږ مخه ښې ته راغلي وو. تحفې يې هم ځان سره راوړې وې. هر يو برخوال ته يې د کنفرانس د

تصویرونو یو یو البوم، یو یو فلش او څه نور سوغاتونه ورکړل. د کنفرانس عکاسې (مارینا) چې یوه هڅانده پېغله وه او تل به یې خوله له خنـدا ډکه وه، ان د دې برخې عکسونه هم واخیستل، ټول افغانان چې دلتـه راغلي وو، دې کنفرانس پرې ډېر مثبت تـاثیر کـړی و. ډاکتـر صـیب شېرحسن حسن، کانی صیب، نبي شینواری او یو شمېر نور ملګري په لومړي پړاو کې له موږه رخصت شول، عبـدالله، فـاروق فـردا، طـاهر شینواری، عمر ننګیار او ځینې نور ملګري ترپایه موږ سره حاضر وو، ان تر هغه وخته چې نور نو زموږ له سترګو پناه شول، لس کم یـوه بجـه د (VIP) ترمینل له لارې هوایي ډګر ته ورداخل شو، هلته د (VIP) د یـوه ځانګړي موټر په واسطه د الوتکې تر سینې پورې ورسول شو. یوه بجـه الوتکه کې کېناستو، زموږ اکثره انډیوالان د بزنس کلاس تر شا پر لومړیو څوکیو ځای پرځای شول، خو زما څوکۍ د الوتکې په وروستۍ برخه کې وه (27P) څوکۍ وه. په الوتکه کې اکثره افغانان وو، خو د پخوا په انډول د بهرنیانو شمېر هم په کې ډېر شوی و، تر یوې بجې او لسو دقیقو پـورې اکثره څوکۍ ډکې شوې، داسې ښکارېده چې د الوتکې یوه څوکۍ به هم تشه پاتې نه شي، پنځه لس کم دوه بجې الوتکې ځغاستلیکې ته ځـان برابر کړ. کله چې الوتکه والوته نو تر څو دقیقو وروسته یې ګروپونه مړه شول. زه چې څو ورځني کار ښه ستړی کړی وم، خوب راباندې راغـی، زما عادت دی، چې په الوتکه، موټر او د سفر پـه نـورو وسـایطو کـې راباندې خوب راځي، زموږ یو لیکوال ملګری (وکیل شـینواری) وایـي: ((کاشکې ما هم داسې عادت درلودلای، زه خو په موټر او الوتکـه کـې هېڅ خوب نه شم کولای.)) وکیل شینواری رښتیا وایي، یو وخت زه او دی له پېښوره لاهور ته روان وو. د شپې (۱۱) بجې موټر کې کېناسـتو،

سهار (۸) بجې لاهور ته ورسېدو، ما ټوله شپه په موټر کې خوب وکړ او ده تر سهاره پورې سترګه پټه نه کړه، اوس هم چې کله خوب رابانـدې راغی، نو هغه وخت بېرته ویښ شوم چې د څوکۍ ترڅنګ بل مسـافر چې غالباً روسی به و، وخوځولم. کله چې مې مخې تـه وکتـل نـو پـر غوړېدلي مېز یې راته ډوډۍ ایښې وه. درې بجې او لس دقیقې لومړنۍ ډوډۍ وه چې په الوتکه کې تیاره شوې وه. تر درې نیمو بجو پورې لـه ډوډۍ راخلاص شو او دغه یادښت مې ولیکه، نور نو الوتکې خپل مزله ته دوام ورکاوه.

تر ډوډۍ وروسته رابانديې د خوب بله څپه راغله، یـو وخـت مـې د الوتکې د پیلوټ غږ واورېد، چې د (باکو) نړیـوال هـوایي ډګـر کـې د کېناستو په حال کې و، کله چې الوتکه پر ځمکه کېناستله نو په غورس او جمپونو یې پوه شو، (۴) بجې او شل دقیقې وې، رڼـایي نـه وه، بیـا رابانديې خوب راغی. الوتکه له هوایي ډګره والوته، سترګې مې رڼې کړې، د کسپین بحیرې پر غاړه ودان ښار او ودانۍ مې تر سترګو شول، بیا نو لاندې نور بحر ښکارېده، یو ځل بیا رابانديې خوب غلبه وکړه، د روسیې پر وخت شپږ نیمې بجې یې ډوډۍ راوړه، تر اوه نیمو بجو پورې مو ډوډۍ وخوړه، اوس نو چې د پخواني شوروي اتحاد له خاورې افغانسـتان تـه نږدې کېدو غواړم خپل ساعت هم د افغانستان پر ټایم برابر کړم. دا دی سر له همدې شېبې یې د افغانستان پر وخـت برابـروم، د روسـیې او افغانستان اوسنی ټایم نیم ساعت توپیر لري، خو په روسیه کې وختونه، وخت پر وخت بدلون کوي. پنځه کم اته بجې د بامیانو پر سر وو، پیلوټ اعلان وکړ، چې شل دقیقې وروسته کابل ته رسېږو. اته بجې او پنځـه

لس دقيقې وې، چې الوتکه د کابل نړيوال هوايي ډګر کې د ترمينل مخې ته راورسېده.

د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې د چک او تلاشۍ له معمولو اصولو راتېر شو، خپل بيک او نورې کڅوړې مې په خپل موټر کې کېښودل او تر نيم ساعت څنډ وروسته کور ته ورسېدم. کور کې مو




مېرمن او ماشومان ټول منتظر وو، کله چې کور ته داخل شوم، ټول راباندې وغورېدل، (ودان) او (سوله) مې پر يوه او بله اوږه کېناستل. د خپلو ماشومانو مينې او صميميت د سفر ستړې کوونکې وختونه ټول راڅخه له ياده وايستل او يو ځل بيا مې د خپل هېواد او خپل کور په غېږه کې د ارامۍ احساس وکړ.